بسم اللہ الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

دریم جلد

افادات: محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله
مولانا مفتی **محمد فرید** رحمة الله علیه
جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

تخریج وترتیب: مفتی محمد وهاب منګلوری
مدرس دار العلوم صدیقیه زروبی

ترجمه وکمپوزنګ: **دار الترجمه وکمپوزنګ سنټر**
عبد الغنی پلازه محله جنګی پشاور

زیر سرپرستی: مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی
مهتمم دار العلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی

ناشر: مکتبه رشیدیه اکوړه خټک

تول حقوق په حق د ناشر محفوظ دی

د کتاب نوم فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه دریم جلد

افادات محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا
مفتی محمد فرید مجددی زروبوی رحمة الله علیه
شیخ الحدیث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب و تخریج مولانا مفتی محمد وهاب منګلوری نقشبندی
دارالافتاء دارالعلوم صدیقیه

معاون مولانا مفتی عصمت الله حقانی

ترجمن مولانا محمد منظر مردانی فاضل جامعه امداد العلوم صدر
برهان الدین صدیقی فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
ایم اے پشاور یونیورسٹی (فون ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصحح مولانا لطف الرحمن صاحب مدرس ونګران قاسم العلوم شبقدر

کمپوزنګ دارالترجمه وکمپوزنګ سنټر عبدالغنی پلازه محله جنګی پشاور

ضخامت ۵۸۸ صفحات

رومبی چاپ اکتوبر ۲۰۱۱ء شوال ۱۴۳۲ھ

زیر سرپرستی مولانا حافظ حسن احمد صدیقی نقشبندی
مهتمم دارالعلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی (پاکستان)

ناشر مکتبه رشیدیه سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

رابطه نمبر ۰۳۴۴ ۹۰۸۴۶۹۳

فهرست مضامین

مضمون	صفحه

باب صلاة المسافر

(فصل فی السفر التی تتغیر به الاحکام)

مضمون	صفحه

فصل فی شروط صحة الجمعة

مضمون	صفحه

باب صلاة العیدین

صفحه	مضمون

كتاب احكام الجنائز

باب صلاة الجنائز

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون
	دامام الحیٔ نه د خفکان په وجه دویم امام د پاره
۲۳۷	جنازه کول خلاف سیاست دي
۲۳۸	په خودکشی کونکی باندې د جنازې مونځ جائز بلکه راجح دې
	که په دریاب کښې زوړ او بد بو دار لاش اوموندلې شی
۲۳۹	نو غُسل او جنازه به ئې کولې شي
۲۴۰	په قادیانی باندې جنازه کول حرام دی
۲۴۰	په پلیت ځائې چه ولاړوی نو جنازه به صحیح نه وي
۲۴۱	په جنازه کښې د کټ دځائې پاکیدل شرط نه دي
۲۴۱	په مرزائی باندې د جنازه کونکو د نکاح حکم
۲۴۲	د قبل البلوغ لیونی او بعد البلوغ لیونی په جنازه کښې فرق
۲۴۳	دعا بعد الجنازه صفونو ماتولو نه پس جائز ده
۲۴۴	د کسر الصفوف نه پس دُعا بعد الجنازه باندې بل سوال
۲۴۵	د دعا بعدالجنازه شرعی حیثیت
۲۴۷	المقالة فی الدعاء بعد الجنازة
۲۵۱	د غائبانه جنازې حکم
	د بالغانو او نابالغانو په مشترکه جنازه کښې
۲۵۳	په دواړه دعا گانې لوستلې کیږي
۲۵۳	په قاتل، غل، لاره شوکونکي، مفرور او باغی باندې د جنازې حکم
۲۵۴	د سخت باران په وجه جمات کښې جنآزه کول جائز دي
۲۵۵	د جنازې په درود کښې د درود ابراهیمی نور الفاظ ثابت دی
۲۵۶	د خنثی مشکل د جنازې طریقه

صفحه	مضمون

فصل فی الحمل والغسل والدفن والتعزية

فصل فی زیارة القبور وایصال الثواب وغیرها

فصل فی احکام الشهید

كتاب الزكوٰة

باب وجوب الزكوٰة

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب الزکوٰة فی الاموال

مضمون	صفحه

باب زکوة السوائم

باب زکوة الزروع والثمار (العشر)

صفحه	مضمون

باب صدقة الفطر

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

مسائل شتی

صفحه	مضمون
۵۸۳	په قراءت کښې فحش غلطی کونکې که دوباره صحیح اووائی نو مونځ صحیح دې
۵۸۳	د حرام کتې والا سړی د خوراك په دعوت کښې شرکت
۵۸۴	د فصل نه د عشر جدا کیدو نه بغیر دهغې د خوړلو حکم
۵۸۵	د پیداوار نه د عشر ورکولو په وخت د کرایه مزدورئ څوکیدارئ وغیره د رقم حکم
۵۸۵	د اجارې په صورت کښې د عشر مسئله
۵۸۶	د مزارعت په صورت کښې د عشر مسئله
۵۸۶	د عاریت په صورت کښې د عشر مسئله
۵۸۷	د فصل د خرخولو په صورت کښې د عشر مسئله
۵۸۷	د اهل حرب د پاره معاون او جاسوسی کونکی منافق مسلمانانو حکم
۵۸۸	جهاد مقدس عبادت او انسداد د فساد دې

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (دریم جلد)

الحمدلله رب العالمين والصلوٰة والسلام على اشرف المرسلين سيدنا محمد وآله واصحابه اجمعين..امابعد! د الله تعالى خصوصي عنايات او مهربانئ په وجه د بنده زړه او دماغ حمد وشکر اود خوشحالئ نه ډک دي او مخ سرمې د الله رب العزت مخې ته سربجود دې چه د نهه میاشتو په لړه موده کښې د فتاوی فریدیه دریم جلد منظرعام ته راتلونکې دې په دې جلد کښې دکتاب الصلوة آخرې ابواب اوکتاب الزکوة مکمل شامل دې دغسې ټول دوه زره دوه سوه پنځوس مسئلې تقریباً په اتلس سوه اویا صفحاتو کښې تاسوته در اورسیدل. د فتاوی په ترتیب او تخریج او تهذیب او تزئین کښې چه څومره عرق ریزئ او مکمل محنت سره تعلق راځي دعلم وفضل خاوندان ددې نه ناخبره نه دی. لیکن دا هرڅه د الله تعالى په خاص رحمت، مدد او توفیق نصیب کیدو باندې موقوف دی، د دارالعلوم حقانیه د دیرش کالو غیرمرتب ریکارډ چه دا په سوونو رجسټرونو باندې مشتمل دې دهغې نه ددې خورو ورو مسئلو تخریج او ترتیب په ویخو دماغو سره ددې مسئلو مطالعه اوکړله او بیا دهرمسئلې دپاره د فقهی ذخیرو نه د جزئیاتو استخراج او سره د حوالونه ذکرکول ډیر مشکل او سخت کارو و. لیکن د الله تعالى توفیق اود بزرګانو مهربانه استاذانو او مشائخو اود مورپلار د دعاګانو سره دا عظیم علمی خدمت کامیابئ سره سرته رسیږی. ګنی زما په شان ناکاره او ګناهګار دپاره ددې تصورهم محال وو. اود الله تعالى داهم خصوصي فضل وکرم او مهربانی ده چه سیدی او شیخی اوسندی ومولائی حضرت مفتی صاحب متعنا الله تعالى بطول حیاته وفیوضه د بیمارئ، ضعف او کمزورئ باوجود ددې جلد هم فصل فصل اوپه باب باب باندې نظرثانی اوکړه او دې ته ئې نورهم اسناد او استحکام ورکړو. او چرته چه په بعضو مسئلو کښې د ضروری حواشی اود بحث وتحقیق تعلق دې په دې کښې حتی الوسع هیڅ کوتاهی نه ده شوې. بیا هم انسان د غلطئ خطایئ نه محفوظ نه دې. د اصلاح دپاره اطلاع راکولو باندې به مونږ شکرګذار یو. دلته بنده دخپل نګران او مشفق استاذ حضرت مولانا مفتی سیف الله حقانی رئیس دارالافتاء جامعه حقانیه په خدمت کښې د امتنان او تشکر هدیه پیش کول خپله فریضه ګنړی. چه دوی د اول نه تر اوسه پورې قدم په قدم رهنمائی او حوصله افزائی کړې ده، دحضرت الشیخ مفتی صاحب دامت برکاتهم شاګردانو، مریدانو، اود متعلقینو په خدمت کښې د عقیدت اومحبت هدیه پیش کوم چه ددوی د اخلاص دعاګانو او حوصله راکونکی کلماتو سره دا ټول جدوجهد جاری دې. امید دې چه حضرات علماء کرام اود علوم نبوی طالبان به د استفادې په وخت خپلو دعاګانو کښې بنده حقیر سراپا تقصیر او رفیقان کار حضرت مولانا حافظ حسین احمد صدیقی، مولانا مفتی عصمت الله حقانی، جناب سلطان فریدی او حافظ ولی الرحمن صدیقی او هغه ټول حضرات چه هغوی په دې کار کښې په څه طریقه هم حصه اخستې ده یاد ساتی، الله تعالى دې دا قبول کړی او مونږ ټولو دپاره دې د آخرت توښه او د فلاح دارین ذریعه جوړه کړی. ...آمین

طالب دعا محمد وهاب منګلوری عفی عنه

خادم العلم والافتاء بدارالعلوم صدیقیه زروبی صوابی ١٦ رجب ١٤٢٦ هـ

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب صلوة المسافر



بسم اللہ الرحمن الرحیم

قال اللہ تعالیٰ:

وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِی الْاَرْضِ

فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ صلے ق

(النساء)

بسم الله الرحمن الرحیم

باب صلاة المسافر

(فصل فی السفر التی تتغیر به الاحکام)

د قصرمونځ د پاره په سفرکښې مشقت کیدل ضروری نه دی

سوال: څه فرمائی علمائې کرام ددین شرع متین دې مسئلې باره کښې چه په دې زمانه کښې سفر دټولو سهولیاتو سره کیږی چه په دې کښې هیڅ قسم مشقت نه وی مثلاً د هوائی جهاز په ذریعه په سفرکښې هیڅ مشقت نه وی نوبیا قصر ولې کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغنی شیوه ضلع صوابی.....۱۹۷۸ء|۱۰|۱۸

الجواب: واضحه دې وی چه د قصر دارومدارپه سفرباندې دې په مشقت باندې نه دې ځکه چه سفر دمشقت قائم مقام دې.ویدل علیه مافی شرح التنویر: حتی لو اسرع فوصل فی یومین قصر،فافهم هامش رد المحتارص۷۳۵ جلد۱ (۱) فافهم. وهوالموفق

دائمی سفر یا قیام. شریعت سره متصادم نه دې

سوال: څه فرمائی علماء ددین دې مسئلې باره کښې چه یوډرائیوردې چه هغه همیشه په سفرکښې وی یایوبل سړې مثلاً په سفرکښې وی نوآیا په شریعت کښې د دائمی سفرڅه تصورشته؟ چه همیشه دپاره داسړې دوه رکعته مونځ کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم....

(۱) (الدرالمختارعلی هامش رد المحتار ص۵۸۰ جلد۱ مطلب فی سجدة الشکر

الجواب: ټول عمر مقیم کیدل یا مسافر کیدل نه شریعت سره متصادم دی او نه نفس الامر سره. ﴿۱﴾. وهو الموفق

د بې قراره سړی د اقامت او سفر مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه مونږ په جی ټی ایس یعنی د گورنمنټ ټرانسپورټ سروس ملازمان یو. زمونږ سفر د پېښور نه مختلفو علاقو ته کیږی لاهور، فیصل آباد، سوات وغیره ته، مونږ اوس د نوکرئ په وجه د کرائې په کمرو کښې اوسیږو. مونږ سره بال بچ نشته، نو مونږ به قصر کوو که پوره مونځ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورعلی شاه جی ټی ایس ډرائیور گرمنډی پشاور ۱۷ رمضان ۱۴۰۸هـ

الجواب: تاسو به همیشه مسافر یئ ﴿۲﴾ او قصر به کوئ، د ماسپخین، ماسختن او مازیگر مونځ به دوه دوه رکعته کوئ. البته که تاسو مقیم امام پسې اقتداء او کړئ نو څلور رکعته به کوئ. ﴿۳﴾ او که تاسو ته دا حکم وی چه پنځلس ورځو پورې به ستاسو ډیوټی د ورځې وی او د شپې به پېښور کښې پاتې کیږئ نو تاسو به پېښور کښې اتمام کوئ. ﴿٤﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحصکفی: اولم یکن مستقلا برأیه او دخل بلدة ولم ینوها ای مدة الاقامة بل ترقب السفر غداً او بعده ولو بقی علی ذلک سنین.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۲ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ووطن الاقامة یبطل بوطن الاقامة وبانشاء السفر وبالوطن الاصلی هکذا فی التبیین. (فتاوىٰ عالمگیریة ص ۱۴۲ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

﴿۳﴾ قال العلامة شرنبلالی: وان اقتدیٰ مسافر بمقیم یصلی رباعیة ولو فی التشهد الاخیر فی الوقت صح اقتداؤه واتمها اربعا. (امداد الفتاح شرح نور الایضاح ص ۴۷۱ مطلب فی اقتداء المسافر بالمقیم وعکسه)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن نجیم: کوطن الاقامة یبقی ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر. (البحر الرائق ص ۱۳۶ جلد ۲ باب المسافر)

وطن اصلی ته په مرور سره هم سفر ختمیږی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زه یو ډرائیوریم روزانه پنځوس شپیته میله سفر کوم .زما کور په کروړ (کالام) کښې دې چه دا د مینګوره نه پنځوس میله لرې دې کله چه کورته ځم نو اتمام کوم لیکن د کور نه بهر د مینګورې په لار کښې یا په مینګوره کښې د سفر مونځ کوم .او په مینګوره کښې شپه د کرائې په بیټهك کښې تیروم او خوراك وغیره د هوټل نه کوم .اوس داغرض کوم چه په لار کښې به زما مونځ سفرانه وی یا پوره؟ دویمه خبره داده چه کله کله زما روانګی د مینګورې نه اویا میله لرې فاصلې باندې کیږی اوزما تیریدل په خپل کلی باندې کیږی یعنی د کلی نه شل میله لرې ځم لیکن روانګی د مینګورې نه کیږی آیا په دې مقام کښې به هم قصر کوم؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد افسر کروړ کالام سوات....١٩٧٤ء| ١١| ١٤

الجواب: محترم تاسو به د مینګورې نه د تلو په وخت قصر کوئ یعنی سفرانه مونځ به کوئ او د مینګورې نه هغه مقام پورې کوم چه اویا میله دې او ستا د کور نه شل میله لرې دې هغې ته د تلو په حکم کښې تفصیل دې هغه دا چه کور پورې به قصر کوئ او باقی شل میله به اتمام کوئ دغسې د واپسئ په وخت به کور پورې اتمام او باقی پنځوس میله قصر کوئ او په مینګوره کښې به تاسو مسافر شمارلې کیږئ .ماخوذ ازشامی. عالمګیری ﴿١﴾ وهو الموفق

د ملازمت یاد علم دطلب په سلسله کښې د وطن اقامت اهمه مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه کوم طلباء او استاذان چه په دارالاقامه کښې یواځې په جدا کور کښې او سیږی او د پنځلس شپو ورځو نه کم قیام اوکړی نو هغوی به مقیم شمارلې کیږی یا

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين: والحاصل ان انشاء السفر يبطل وطن الاقامة اذا كان منه اما لو انشا من غيره فان لم يكن فيه مرور على وطن الاقامة او كان ولكن بعد سير ثلاثة ايام فكذلك ولو قبله لم يبطل الوطن بل يبطل السفر لان قيام الوطن مانع من صحته (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص٥٨٦ جلد١ مطلب فى الوطن الاصلى والاقامة)

مسافر . او طالبان دري كاله پوري په تعليم زده كولو كښې پاتې شوي وي . او استاذان كيدې شي چه څو كاله په يو ځائې باندې ملازمت اوكړي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم.... ١٩٨٧ء | ١٠ | ٢٧

الجواب: كه چرې دې طلباؤ يو ځل د پنځلس ورځو داقامت نيت كړې دې نو ددې نه پس به مقيم شمارلې كيږي په دې شرط چه ددوى د اوسيدو ضرورى سامان دوى سره وي. ﴿١﴾ وهو الموفق

د ملازمت ځائې چه كله وطن اقامت جوړشي بيا چه ئې ترڅو پورې پريخودې نه وي اتمام به كولې شي

سوال: څه فرمائى علمائې دين دشرع متين دې مسئلې باره كښې چه يو سړې دځه مودې نه دلته اوسيږي او پنځه ورځې پس وطن اصلى ته واپس كيږي . په وطن اصلى كښې يوه يا دوه ورځې پاتې كيږي او واپس راځى او فاصله تقريباً څلورشپيته ميله ده. سوال دادې چه دا سړې به دلته پوره مونځ كوي يا قصربه كوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوى فضل هادى بغداده مردان

الجواب: كه ددې ملازم دملازمت په دې ځائې كښې د اوسيدلو ضرورى سامان موجود وي نو دا سړې په يو ځل د پنځلس ورځو داقامت په نيت سره په نور ځل كښې به دا ځائې د اقامت ځائې شمارلې كيږي كه دلته پنځلس ورځې پاتې شي او كه پنځه ورځې. بهرحال وطن داقامت په سفر سره هغه وخت باطليږي

﴿١﴾ قال ابن نجيم رحمه الله: كوطن الاقامة يبقى ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر. (البحر الرائق ص١٣٦ جلد٢ باب المسافر)

وقال العلامة علاؤ الدين الحصكفى رحمه الله: ويبطل بمثله اذالم يبقى له بالاول اهل فلو بقى لم يبطل بل يتم فيها. (الدرالمختار على صدر ردالمحتار ص٥٨٦ جلد ١ باب المسافر)

وقال العلامة كاسانى: وينتقض بالسفر ايضا لان توطنه فى هذا المقام ليس للقرار ولكن لحاجة فاذاسافر منه يستدل به على قضاء حاجته فصار معرضا عن الوطن به فصار ناقضاً له دلالة. (بدائع الصنائع ص٢٨٠ جلد ١ الكلام فى الاوطان)

کله چه د دې سړی سامان په دې وطن اقامت کښې نه وی.

يدل عليه مافى البحر ص ١٣٦ جلد٢ كوطن الاقامة يبقى ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر انتهىٰ ﴿١﴾. ويدل عليه كلام البدائع ص ١٠٣ جلد١ على ان قصد عدم الترک كاف فى بقاء الوطن الاولىٰ وغيره بخلاف ما اذا قصد الترک كالمهاجرين رضى الله عنهم ﴿٢﴾. وهوالموفق

د ميلونو په اندازې مسافت سره د قصر اعتبار

سوال: څه فرمائی علمائې دين د شرع متين د دې مسئلې باره کښې چه د قصر د پاره د فاصلې مقدار علمائې ديوبند د ميلونو په اعتبار سره معتبر کړې دې چه دا اته څلويښت ميله دې، آيا د قصر فاصله ميلونو سره معتبر کيدې شي که دې لره اعتبار وی نو د ميلونو په حساب سره د قصر فاصله څومره جوړيږی؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالمحی مردانی.... ١٩٧٢ء|٩|٥

الجواب: د ديوبند علمائې کرامو د قصر فاصله اته څلويښت ميله انګريزی خودلې ده. (كمافى فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند ص ۴۴۴ جلد۴) وجه داده چه په ظاهر الروايت کښې اګرچه د مسافت او ميلونو هيڅ اعتبار نشته (كمافى الهداية و شروحها وجميع كتب الفتاوىٰ) **(٣)** ليکن په موجوده زمانه کښې د پيدل سفر نادر

﴿١﴾ (البحر الرائق ص ١٣٦ جلد٢ باب المسافر)

﴿٢﴾ قال العلامة الكاسانى: واصله ان رسول الله ﷺ والمهاجرين من الصحابة رضى الله عنهم كانوا من اهل مكة، وكان لهم بها اوطان اصلية، ثم لما هاجروا وتوطنوا بالمدينة وجعلوها دارا لانفسهم، انتقض وطنهم الاصلى بمكة حتى كانوا اذا اتوا مكة يصلون صلاة المسافرين حتى قال النبى ﷺ حين صلى بهم اتموا يا اهل مكة صلاتكم فانا قوم سفر ـــ لان توطنه فى هذا المقام ليس للقرار ولكن لحاجة فاذا سافر منه يستدل به على قضاء حاجته فصار معرضا عن الوطن به فصار ناقضا له دلالة. (بدائع الصنائع ص ٢٨٠ جلد١ الكلام فى الاوطان)

﴿٣﴾ قال ابن الهمام: ولا معتبر بالفراسخ هو الصحيح ـــ (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

اونه پیښیدلو په وجه د درې ورځو مسافت معلوم ول او معین کول ډیر مشکل دی. لهذا علمائې کرامو د آسانۍ د پاره حد مقرر کړې دې یعنی اتۀ څلویښت میله ئې مقرر کړې دی او ددې حد مقرر کولو دلیل دادی. چه د درمختار او رد المحتار په باب صلاة المسافر کښې لیکلی دی چه د درې ورځو د مسافت نه مراد دادې چه د کال په وړو ورځو کښې د سحر نه واخله تر زوال پورې په استثناء د استراحات معتاده وغیره مثلاً قضاء حاجت. او دس. مونځ خوراك وغیره معتدل رفتار سره د درې ورځو وی او درې میله د یوې گهنټې په حساب سره روزانه شپاړس میله مزل کولو سره اتۀ څلویښت میله جوړیږی

فی ردالمحتار: ومجموعه ثلثة ایام فی دمشق عشرون ساعة الاثلث ساعة تقریباً لان من الفجر الی الزوال فی اقصر الایام عندنا ست ساعات وثلثی ساعة الا درجة ونصفا﴿۱﴾ انتهیٰ بقدر الحاجة قلت وهذا هو مقدار الیوم عندنا ایضا لاتحاد السمت فلیراجع الی الخریطة (النقشه) والمعتاد المجرب قطع ثلثة امیال فی ساعة واحدة فاذا استثنیٰ لقضاء الحاجة، والطهارة والصلاة والاکل وغیره ساعة وثلث ساعة لانه اقل ما یکفی فبقیت خمس ساعات وثلث فافهم وجرب. فقط

په ملکی سرحد او محاذ باندې کیمپ لگونکی فوجیان سپاهیان په قصر او اتمام کښې د پورته افسرانو تابع دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې پاره کښې چه زه په فوج کښې د امامت فرائض اداکوم او س مونږ په سرحد یعنی محاذ باندې یو. او یوځائې کښې مو کیمپ لگولې دې چه ددې تقریباً درې میاشتې اوشوې. مخکښې خو مونږ قصر مونځ کولو. آیا مونږ دلته د اقامت نیت کولې شو یا نه؟ که مونږ نه

(بقیه حاشیه) احتراز عن قول عامة المشائخ فان عامة المشائخ قدروها بالفراسخ ایضا ثم اختلفوا فیما بینهم بعضهم قالوا احد وعشرون فرسخا وبعضهم قالوا ثمانیة عشر وبعضهم قالوا خمسة عشر والفتوی علی ثمانیة عشر.
(فتح القدیر ص۵ جلد۲ باب صلاة المسافر)
﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۲۹ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

خپل کمانډر حکم راکړی چه دلته به پنځلس ورځې پاتې کیږئ نو آیا مونږ د اقامت مونځ کولې شو؟ لیکن داخبره هم د یاد ساتلو ده چه د فوج کمانډر د بل جرنیل ماتحت وی او دغه جرنیل خپله دیو دریم جرنیل ماتحت وی. اوس مونږ دپاره به د خپل کمانډر خبره کافی وی یا دهغې دویم لوئې جرنیل؟ دغسې ما دهغوی دحکم نه بغیر د اقامت نیت کړې دې ځکه چه زما غالب گمان دی چه مونږ به دلته تقریباً درې میاشتې پاتې کیږو آیا زما دا نیت صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی سمیع الله بریگیډ هیډ کوارټر ایس پی پی او

الجواب: که دا کیمپ په بیابان کښې لگولې شوې وی نو دلته نیت د اقامت صحیح نه دې اگرچه د کمانډر وغیره حکم او اجازت موجود وی. او که په آبادئ کښې وی نو د اقامت نیت د کمانډر د حکم نه پس صحیح دې.

فی الدر المختار ولو نوی غیرهم (اهل الاخبية) الاقامة معهم لم يصح فی الاصح﴿۱﴾ (هامش ردالمحتار ص ۷۴۹ جلد ۱). وفی الهندية ص ۱۴۸ جلد ۱ ونية الاقامة انما تؤثر بخمس شرائط (الی ان قالوا) وصلاحية الموضع حتی لو نوی الاقامة فی بر او بحر او جزيرة لم يصح﴿۲﴾ وفيها ايضا ص ۱۴۹ جلد ۱ و كل من كان تبعاً لغيره يلزمه طاعته يصير مقيما باقامته و مسافراً بنيته وخروجه الی السفر كذافی محيط السرخسی، وفيها ايضاً الاصل ان من يمكنه الاقامة باختياره يصير مقيما بنية نفسه ومن لا يمكنه الاقامة باختياره لا يصير مقيما بنية نفسه حتی ان المرأة اذا كانت مع زوجها فی السفر..... والجندی مع اميره فهؤلاء لا يصيرون مقيمين بنية انفسهم فی ظاهر الرواية كذافی المحيط ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۳ جلد ۱ مطلب سجدة الشكر باب صلاة المسافر)
﴿۲﴾ (فتاوی عالمگیرية ص ۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)
﴿۳﴾ (فتاوی عالمگیرية ص ۱۴۱ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

د ښار یا د ښار د حدودو قیدی به اتمام

اود بیابان اوصحرا قیدی به قصرکوی

سوال: مونږ دجنګی قیدیانو په حیثیت سره هندوستان کښې نظربندیو، مونږ دهند حکومت دټولو مذهبی سهولتونو راکولو سره سره په دې مسئله کښې مبتلا یو چه مونږ ته د هندوستان په کیمپونو کښې کوم مونځ اداکول پکاردی قصرمونځ یا پوره مونځ؟ تاسو حضراتو چه کومه فتوی رالیږلې ده دا دهغې نه مختلف ده کومه چه د کراچۍ جناب مفتی اعظم مفتی محمدشفیع صاحب ورکړې ده. هغوی قصرلیکلې دې مولانا مودودی صاحب هم دقصر رائې لیکلې ده. تاسوچه د رد المحتار په حوالې سره نقل کړی دی آیا مونږ اوس ددې مطابق عمل اوکړو یادهغې اکابر علمائې دین په رائې باندې عمل اوکړو چه دهغوی علمی حیثیت منلې شوې دې، مونږ د یو کیمپ نه بل کیمپ ته نه شو تلې. اونه مونږ ته معلومه ده چه مونږ به کله ازادیږو؟ اوکله به بل ځائې ته ځو؟ په دې حالت کښې مونږ دجمعې مونځ هم نه شو اداکولې، مونږ ته هیڅ پته نشته چه مونږ سره به څه معامله کیږی. جواب نه موخبرکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن جنګی قیدی انډیا

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم: السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چه په تاسو کښې کوم خلق چهاونړئ ښار یاد ښار په حدودو کښې قیددی نوهغوی به اتمام کوی. اود جمعې اواخترونو مونځ به هم باقاعده کوی. اوپه روژه کښې به افطار نه کوی. اوسنت به هم باقاعده کوی؟ کما فی الهندیة ص۱۴۹ جلد۱ فیصیرالجندی مقیما فی الفیافی بنیة اقامة الامیر فی المصر کذا فی الکافی انتهٰی. ﴿۱﴾ اوکوم خلق چه په بیابان اوصحرا کښې قیددی نوهغوی به قصرکوی اوسنت اداکول به بهتروی. اود جمعې اواخترونو مونځ به نه کوی. اوپه رمضان کښې افطارکولې شی لان المفازة لیست من محل الاقامة فلاتصح فیها نیة الاصل والمتبوع فکیف تصح نیة التابع والاسیر. ﴿۲﴾. فافهم وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاوی عالمگیریة ص۱۴۱ جلد۱ الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی: واما المفازة والجزیرة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د جنگی قیدیانو د اقامت اوقصر نیت معتبر نه دي بلکه هغوی د خپلو افسرانو تابع دی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه په بهارت کښې به د پاکستان جنگی قیدیان قصرمونځ کوی یا دمونځ اتمام؟ بعضې حضرات د قصر په ثبوت کښې دقاضی خان جلد ۱ ص۸۱ حواله ورکوی اوبعضې جمهور اهل علم دجواز قائل کیدو اجمالی حواله ورکوی. اودقصر حکم ورکوی خومره چه ماته علم دې په مذکوره صورت کښې ... سیفه په نزد د اتمام حکم صحیح دې. ځکه چه تقریباً ټولو حنفی فقهاؤ قیدیان دهغې خلقوسره شمارلی دی چه دهغوی دخپلې رائې اونیت هیڅ اعتبارنشته. بلکه هغوی په قصر او اتمام کښې د نوروتابع دی مثلاً ښځه. غلام وغیره. که په دې خلقو باندې دقصر حکم د قیدی کیدو په وجه دې نو دا صحیح نه ده بلکه د اتمام حکم صحیح دې.

(فتح القدیر ص۴۰۶جلد ۱ مصری)،(درالمنتقی شرح الملتقیٰ) اوپه مجمع الانهر کی داسے منقول دی: لیس مراد المصنف قصر التبع علی هولاء الثلاثة (المرأة والعبد والجندی) بل هو کل من کان تبعاًله وتلزمه طاعته(ص۱۶۰ جلد ۱)

دغسې په صلوٰة مسعودی کښې هم ددې نه زیات تفصیل دې ص۴۲۴ جلد ۲ مطبع محمدی بمبئ هند.

فتح الله المعین علی شرح الکنز ومن الاتباع الاجیر مع المستاجر والتلمیذ مع استاذه والمکره علی السفر والاسیر آه(فتح الله المعین للعلامة محمدبن المسعود المصری الحنفی ص۳۱۰جلد ۱)

دغسې د نورو مختلف کتابونو شامی وغیره نه هم ثابت دی

د مذکوره تصریحاتو نه معلومیږی چه دحنیفهؒ په نزد دقیدی دنیت هیڅ اعتبارنشته. بلکه هغه دخپل متبوع دحکم تابع دې. په دې وجه دقصرحکم ددې تصریحاتو په رڼا کښې صحیح دې اوددې وخت په قیدی

(بقیه حاشیه) والسفینة فلیست موضع الاقامة حتی لونوی الاقامة فی هذه المواضع خمسة عشر یوما لا یصیر مقیماً.

(بدائع الصنائع ص۲۷۱جلد ۱ بیان مکان الصالح للاقامة)

کښې او دهغه زمانې په قیدی کښې مابه الامتیاز که څۀ وجه د فرق وی نو نشاندهی اوکړئ که دا اوویلې شی چه په مسلح فوجونو کښې چه دهغې تعلق مغربی پاکستان سره دې هغوی په مشرقی حصه کښې دجنګ په وخت مسافرو و. اودا حکم د قید په حالت کښې قائم ساتلې شوې دې نودا بالکل پوهه کښې نه راځی، د شوافعو په نزد په دې صورت کښې دقصر حکم صحیح معلومیږی لکه څنګه چه د نهایة المحتاج ص ۲۵۰ جلد ۲ اود التجوید لنفع العبید ص ۳۹۰ جلد ۱ نه معلومیږی. د حنابله په نزدهم د قیدی اومکره دپاره دقصر حکم دې کما فی الانصاف ص۳۱۵ جلد ۱ البته د مدونة الکبری نه د امام مالك مذهب داتمام معلومیږی. اوګورئ مدونـــة الکـبرٰی ص۱۲۲ جلد۱ قال مالك صلاة الاسیر فی دارالحرب اربع رکعـات الخ، امید دې چه په مذکوره مسئله باندې به کما حقه رڼا اچولو سره مدلل ثابت کړئ او حواله جات به هم رانقل کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدرفیع الله اداره تحقیقات اسلامی اسلام آباد ۲جولائی ۱۹۷۳ء

الجواب: واضحه دې وی چه د اسیر اوقیدی د نیت هیڅ اعتبار نشته بلکه نیت به د قید کونکی افسر معتبروی.

کمافی الدرالمختار والمعتبر نیة المتبوع لا التابع کامرأة وعبد وجندی واجیر واسیر وغریم وتلمیذ الخ بحذف﴿۱﴾ هامش ردالمحتار ص ۷٤٤،۷٤۵جلد ۱ وبمعناه فی جمیع کتب الفقه،

اوواضحه دې وی چه په بیابان او سمندر کښې نیت داقامت صحیح نه دې

کمافی الهندیة ص۱۳۸ جلد ۱ ونیة الاقامة انما تؤثر بخمس شرائط ترک السیر حتی لو نوی الاقامة وهو یسیر لم یصح وصلاحیة الموضع حتی لو نوی الاقامة فی بر او بحر او جزیرة لم یصح انتهی﴿۲﴾ وبمعناه فی سائر کتب الفتاویٰ،

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۸۷جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ص ۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشرفی صلاة المسافر)

پس ددې قواعدو په بنا باندې ددې قیدیانو حکم دادې چه په دوی کښې کوم خلق په یوه آبادئ کښې ګیروی نوهغوی به اتمام کوی

لزيادة مدة اسرهم وحبسهم على مدة القصر كما لا يخفى على من راجع الى تاريخ المذاكرات (بين حكومة الهند والباكستان)

اوکوم خلق چه په بیابانی کیمپونو کښې بندیوان وی او ددوی امیر یعنی هغه افسر کوم چه دحکومت دطرفه د قیدیانو په نقل کولو اود بوتللو مکمل اختیارمند وی دهغوی سره په بیابان کښې وی نودا خلق به قصرکوی لعدم صحة نية المتبوع، اوکه دا میر په یوه آبادئ کښې مقیم وی اود انتظام دپاره باقاعده راځی. نوپه دې صورت کښې به اتمام ضروری وی.

كمافي الهندية ص ١٤٩ جلد ١ فيصير الجندي مقيما في الفيافي بنية اقامة الامير في المصر كذافي الكافي انتهى﴿١﴾ قلت فكذا الاسير بنية الامير،

خلاصه داچه که افسر مقیم وی نودا قیدیان به اتمام کوی وهوالموفق

د یوسړی په دوه وطنونوکښې د جائیداد وغیره کیدلو په صورت کښې د سفر اوقصر مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه یوسړې خپل وطن اصلی یعنی د پلار نیکونو په موروثه جائیداد وغیره کښې دټول اهل وعیال سره مقیم وی. اوددهٔ بل رور یا ترهٔ وغیره په بل نوی وطن کښې خپل اهل وعیال سره مقیم دې. اوپه دواړه وطنونو کښې د مسافت حد اتهٔ څلویښت میله نه زیات دې. اوس وطن اصلی کښې اوسیدونکی نوی وطن ته راځی نوکه دا سړې د پنځلس ورځونه کم اوسیږی نودا به مقیم وی یا مسافر؟ حالانکه دلته ددهٔ رور وغیره موجود دی. کور اوجائیداد اوغیره هم شریک دی اود وطن اصلی والا جائیداد هم شریک دې؟ بینوا توجروا

المستفتی نورسلیم لال ګړهی کوهاټ ۱۹۸۹ء | ۵ | ۲۲

الجواب: هرکله چه دا سړې ددې نوی وطن په زمکه اوکورونو کښې حصه داردې

﴿۱﴾ (فتاوی عالمگیریة ص ۱۴۱ جلد۱، الباب الخامس عشر في صلاة المسافر)

نود قواعدو په رنړا کښې به دا سړې په دې نوی وطن کښې هم اتمام کوی کما يدل عليه مافى الهندية ص ۱۴۲ جلد ۱ ولو انتقل باهله ومتاعه الى بلد وبقى له دور وعقار فى الاول قيل بقى الاول وطناً له واليه اشار محمد فى الكتاب كذا فى الزاهدى ﴿۱﴾. فافهم قلت يؤيده ماوجه به اتمام عثمان فى حجه من اتخاذه عقاراً بالطائف ﴿۲﴾. وهوالموفق

ښځه به د مورپلار کور او د خاوند دکور د سفرپه لارکښې قصرکوی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه د یوې جینئ واده د اتۀ څلویښت میله نه زیات فاصله باندې شوې دې اوس د مورپلار کورته د راتلو په صورت کښې به قصرکوی یا اتمام؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی عظیم شاه ایران منزل ټانک ډی آئی خان

الجواب: دا ښځه به په لارکښې د تلو راتلو په وخت قصرکوی تردې که په لارکښې یو مونځ قضاء شو نوپه کورکښې به ددې قضاء هم قصرکوی. او د مورپلار په کلی اوپه ښارکښې به پوره مونځ اداکوی کما فى رد المختار ص۷۴۲ جلد۱ الوطن الاصلى هو موطن الاصلى ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ص ۱۴۲ جلد ۱ الباب الخامس عشر فى صلاة المسافر)

﴿۲﴾ وفى منهاج السنن ان النبى ﷺ قصر فى غزواته وفى فتح مكة وفى حجة الوداع عند الاقامة وعند عدم المشقة وقيل ان عثمان نوى الاقامة وقيل انه تاهل بمكة وقيل انه اتخذ الاموال بالطائف وفيه انه لو كان الاتمام بناء على هذه الوجوه لما انكر على عثمان الصحابة رضى الله عنهم. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذى ص ۷۹ جلد ۳ ابواب السفر)

﴿۳﴾ قال الحصكفى: الوطن الاصلى هو موطن ولادته او تاهله او توطنه يبطل بمثله اذالم يبق له بالاول اهل فلو بقى لم يبطل بل يتم فيها، قال ابن عابدين: ولو كان له اهل ببلدتين فايتهما دخلها صار مقيما فان ماتت زوجته فى احداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له اذالمعتبر الاهل دون الدار كما لو تاهل ببلدة واستقرت سكناه وليس له فيها دار وقيل تبقى (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۵۸۶ جلد ۱ مطلب فى الوطن الاصلى والاقامة باب المسافر)

د قصرمونځ د پاره د سفر د مسافت مقدار

سوال: څه فرمائی علمائې دين دې مسئلې باره کښې چه حد د سفر درې ورځې دې آيا ددې نه پيدل سفرمراد دې اوکه د ګاډی. جهاز وغيره هم؟ بينوا توجروا

الجواب: اته څلويښت ميله يا اتۀ اويا کلوميټره مسافت معتبردې. ﴿۱﴾ وهوالموفق

کوم ډرائيورچه مستقل په سفرکښې وی د هغه د مونځ حکم

سوال: څه فرمائی علمائې دين دې مسئلې باره کښې چه کوم ډرائيور اکثر په سفرکښې وی اود لاهورنه پيښورته راځی دهغه دمونځ څه حکم دې قصر به کوی يا اتمام؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالودود تيراوی کوهاټ....۱۹۷۶ء | ۵| ۱۳

الجواب: داسې ډرائيور به قصرکوی چه ترڅو پورې وطن داقامت وغيره ته واپس نه وی راغلې. ﴿۲﴾ وهوالموفق

د وطن اقامت نه نورو ځايونو ته د تلو په صورت کښې به سفر دکوم ځائې نه حسابيږی؟

سوال: څه فرمائی علمائې دين دشرع متين دې مسئلې باره کښې چه يوسړې د

﴿۱﴾وفی الهندية: اقل مسافة تتغير فيها الاحكام مسيرة ثلاثة ايام كذافی التبيين ...... والمعتبر السير الوسط وهو سير الابل ومشی الاقدام فی اقصر ايام السنة الخ.

(فتاوىٰ عالمگيرية ص۱۳۸ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

﴿۲﴾قال العلامة المرغينانی رحمه الله ولايزال علی حكم السفر حتی ينوی الاقامة فی بلدة او قرية خمسة عشريوما او اكثر وان نوی اقل من ذالک قصر.

(الهداية علی صدر فتح القدير ص۹ جلد۲ باب صلاة المسافر)

کوئټې او سیدونکې دې او په ګډانی (چه د کراچۍ نه تقریباً څلویښت میله فاصله باندې دې) کښې مقیم دې درې میاشتې ئې هلته د اوسیدلو اراده کړې ده او هغه کراچۍ ته څی راځی نو کراچۍ ته د تللو په صورت کښې به د کوئټې یعنی دوطن اصلی اعتبار وی یا د ګډانی یعنی دوطن اقامت اعتبار به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی حافظ محمد قاسم حقانی کوئټه شهر... ۴ جمادی الثانی ۱۴۰۲هـ

الجواب: دا سړې به د کراچۍ دغسې په نورو هغه ځایونو کښې چه د دې ځائې نه د سفر په مقدار (اته څلویښت میله اته اویا کلو میټره) نه کم لرې وی اتمام به کوی. (شامیه ص ۷۴۳ جلد ۱) ﴿۱﴾.وهو الموفق

د ښځې د مورپلار اود خاوند د خواښې سخر د کور په مینځ کښې دسفر د مسافت مسئله

سوال: څه فرمائی علمائې دین دشرع متین دې مسئلې باره کښې چه یو سړی داسې ځائې کښې نکاح کړې ده چه هغه د سفر په مسافت باندې دې. اوس چه کله دا ښځه دمورپلار کورته پنځه شپې ورځو دپاره څی نو پوره مونځ به اداکوی یا قصربه کوی؟ دغسې خاوند به دخواښې سخر کورته تللو سره اتمام کوی یا قصر؟ بینوا توجروا

المستفتی حافظ عبدالمالك نریاب ضلع هنګو

الجواب: دا خاوند به دخواښې سخر په کلی کښې قصر کوی ځکه ښځه دخاوند سره اوسیږی دمورپلار سره نه اوسیږی. نو دخواښې سخر کورد تا اهل مقام نه دې کما یشیر الیه ماذکره العلامة الشامی عن شرح المنیة ولو کان له اهل ببلدتین فایتهما دخلها صار مقیماً ، فان ماتت زوجته فی

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: والحاصل ان انشاء السفر یبطل وطن الاقامة اذا کان منه اما لو انشاه من غیره فان لم یکن فیه مرور علی وطن الاقامة او کان ولکن بعد سیر ثلاثة ایام فکذلک ولو قبله لم یبطل الوطن بل یبطل السفر لان قیام الوطن مانع من صحته والله اعلم.

(ردالمحتار ص ۵۸۶ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

احداهـما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطناً له اذا المعتبر الاهل دون الدار كما لو تاهل ببلدة واستقرت سكناله، وليس له فيها دار. فافهم﴿۱﴾.

اوښځه به اتمام کوی ځکه چه هغې دا وطن اصلی نه دې پرېخودې .لکه څنګه چه مهاجرینو پرېښې وو. ﴿۲﴾.وهوالموفق

دسرکارحکم د پنځلس ورځونه د زیات پاتې کېدودې اوملازم کم قیام کوی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه یو سړې سرکاری ملازم دې اود ملازمت ځائې اتۀ څلوېښت میل نه زیات دې سرکاری حکم دادې چه داملازم به دخپل ملازمت په ځائې کښې د پنځلس ورځونه زیات قیام کوی .لیکن دکار دکمی په وجه یا هسې ملازم دپنځلس ورځونه کم قیام کوی .په دې ملازمانو کښې بعضې دخپل نیت په اعتبارسره قصرکوی اوبعضې وائی چه زمونږ د نیتونو اعتبارنشته دسرکاردحکم په وجه به مونږ پوره مونځ اداکوو .په دې کښې کوم قول معتبردې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا شیرخان دارالعلوم ایوبیه تجوړی بنوں

الجواب: په مسئوله صورت کښې د ملازمت په دې مقام باندې نه سرکارپه ډیوټئ شته اونه اوچت افسر .نودا معروفه قاعده ﴿۲﴾ په دې صورت کښې جاری کول ناپوهی ده. ﴿٤﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۸۶جلد۱ مطلب في الوطن الاصلی ووطن الاقامة)

﴿۲﴾ قال العلامة الکاسانی: واصله ان رسول اللهﷺ والمهاجرین من الصحابة رضی الله عنهم کانوا من اهل مکة وکان لهم بها اوطان اصلیة ثم لما هاجروا وتوطنوا بالمدینة وجعلوها داراً لانفسهم انتقض وطنهم الاصلی بمکة حتی کانوا اذا اتوا مکة یصلون صلاة المسافرین. (بدائع الصنائع ۲۸۰ جلد۱ الکلام فی الاوطان)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والمعتبر نیة المتبوع لانه الاصل لا التابع کامرأة وفاها مهرها المعجل وعبد غیر مکاتب وجندی اذا کان یرتزق من الامیر او بیت المال واجیر واسیر وغریم وتلمید. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۸۷جلد۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله واجیر) ای مشاهرة... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د ۴۸ میله یا ۷۸ کلومیترنه کم د سفرمسافت کښې به قصرنه کوی

سوال: څه فرمائی علمانې دین دې مسئلې باره کښې چه زهٔ د خپل کلی نه ۴۲ کلومیټره لرې په کالج کښې لیکچرار یم. اوپه هر زیارت کورته واپس راځم بالفرض که دوه هفتې هم هلته قیام اوکړم بیاهم پنځلس ورځې نه پوره کیږی اوس به زهٔ قصرکوم یا پوره مونځ به کوم؟ بینوا توجروا

المستفتی لعل دادخان بابوزئ ضلع مردان.. ۱۹۸۹ء|۱| ۲۹

الجواب: نه په دې کالج کښې مسافرنه یې د قصرد مسافت مقدار اتهٔ څلویښت میله یا اتهٔ اویا کلو میټره دې. (۱) وهوالموفق

په مختلفو ځایونوکښې د کور او مورپلار وغیره د کیدلو په صورت کښې د سفر اواقامت مسئله

سوال: څه فرمائی علمانې دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه شپږ ځایونه دی (۱) دوکی (۲) سنجاوی (۳) لورالائی (۴) پوئی (۵) کچ (۶) جره په دې شپږو ځایونوکښې دهر یو سره زما څه نه څه طریقې سره تعلق دې هغه داچه (۱) دوکی د بنده وطن اقامت دې (۲) په سنجاوی کښې زما دپلار کور دې (۳) پوئی زما وطن ولادت دې اودلته مې څه حصه زمکه هم ده (۴) جره زما د پلار د اوسیدو وطن دې په دې وجه زهٔ جره ته په دوه لاروځم کله په یوه لار چه هغه ۵۹ میله جوړیږی کله په دویمه لار چه هغه ۵۷ میله جوړیږی رومبئ لار د لورالائی سنجاوی اوکچ لاره ده. او دویمه لار د سنجاوی او پوئی په لار جره ته ځی. اوس که زهٔ د دوکی نه سنجاوی ته لاړشم چه هلته مې دمورپلار قلعه ده اود سنجاوی نه پوئی ته ځم چه هلته مې پیدائش شوې دی او دهغه ځائی نه جره ته ځم چه دامې دمورپلار د اوسیدو ځائې دې نوآیا زهٔ به سنجاوی، پوئی

(بقیه حاشیه) او مسافهة کما فی التتارخانیة اما لو کان مباومة بان استاجره کل یوم بکذا فان له فسخها اذا فرغ النهار فالعبرة لنیته (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۵۸۷ قبیل باب الجمعة)

(۱) قال العلامة ابن نجیم (قوله من جاوز بیوت مصره) مریدا سیرا وسطا ثلاثة ایام فی بر او بحر او جبل قصر الفرض الرباعی الخ. (البحر الرائق باب المسافر ص ۱۲۸ جلد ۲)

اوجره دري وارو خايونو کښې قصرکوم يا اتمام؟ او کله چه د دوګی نه جره نه د لورالائی او کچ په لارې ځم نو لورالائی او کچ سره زما هيڅ تعلق نشته نوقصر په کوم يا اتمام؟ بينوا توجروا

المستفتی مولوی بختيارفاضل حقانيه دوکی ضلع لورالائی ١٩جنوری ١٩٨٦ء

الجواب: وبالله التوفيق: چونکه ته د پلار د تبعيت او عيالت نه خارج شوی يې لهٰذا تـه بـه مقام نمبر٢ اومقام نمبر٤ خپل وطن نـه شماريې. اوکـه پـه مقام نمبر٣ کښې ستا اهل وعيال نه وی صرف زمکه دې وی نودا بـه د قـول راجـح په بنا باندې وطن شمارلې شی.

لان هـذا وان كـان فيـه قـولان كـما فی البحر، ص١٣٦ جلد٢ ﴿١﴾ عن المجتبیٰ لاكن يـويـد كـونهـا وطناله ماوجه به اتمام عثمان بن عفان رضی الله عنه انه اتخذ فی الطائف الاموال فافهم ﴿٢﴾.

پس که ته د دريم مقام لورالائی پـه لاره پـلار تـه ورځې نوقصرکوه. پـه دويمه لار باندې د تللو پـه وخت اتمام کوه. ﴿٣﴾ وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم: وفی المحيط ولو كان له اهل بالكوفة واهل بالبصرة فمات اهله بالبصرة وبقی له دور وعقار بالبصرة قيل البصرة لا تبقی وطنا له لانها انما كانت وطنا بالاهل لا بالعقار الا ترى انه لو تاهل ببلدة لم يكن له فيها عقار صارت وطناله وقيل تبقی وطنا له لانها كانت وطناله بالاهل والدار جميعا فبزوال احدهما لا يرتفع الوطن كوطن الاقامة يبقی ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر وفی المجتبیٰ نقل القولين فيما اذا نقل اهله ومتاعه وبقی له دور وعقار الخ. (بحر الرائق ص١٣٦ جلد٢ باب صلاة المسافر)

﴿٢﴾ وفی المنهاج: وروى عن عثمان وعائشة الاتمام كما فی حديث متفق عليه ــــ وقيل ان عثمان رضی الله عنه نوى الاقامة وقيل انه تاهل بمكة وقيل انه اتخذ الاموال بالطائف (منهاج السنن شرح جامع السنن ص٩٧ جلد٣ باب التقصير فی السفر ابواب السفر)

﴿٣﴾ قال فی الهندية: والمعتبر المسافة من ای طريق اخذ فيه ــــ فلذا قصد بلدة والی مقصده طريقان احدهما مسيرة ثلاثة ايام ولياليها والاخر دونها فسلک ــــ (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د ملازمت په ځائې کښې د پنځلس ورځو نه کم قیام والا به قصرکوي

سوال: څه فرمائی علمائې دین د شرع متین دې مسئلې باره کښې چه زه په پاړه چنار کښې ملازم یم. اود بنوں اوسیدونکې یم. اوپه پاړه چنار کښې د پنځلس ورځونه کم پاتې کیږم یعنی هفته په هفته واپس راځم آیا زه به قصرکوم یا اتمام؟ بینوا توجروا

المستفتی: امیرالله لیکچرر ډگری کالج پاړه چنار

الجواب: په ظاهره ته مسافریې پاړه چنار نه ستا وطن اصلی دې اونه دې وطن اقامت دې ته قصرکوه (۱) وهوالموفق

د ملازمت په ځائې کښې یوځل د اقامت کولونه پس تردې ځائې پریخودلو پورې به اتمام کوي

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه زما ملازمت د کلی نه تقریباً شپیته میله فاصله باندې دې اوزه په هره دویمه جمعه کورته ځم چه دا تقریبا دیارلس ورځې جوړیږی نوپه دې حالت کښې به اتمام کوم یا قصر؟ اوکه یوځل پنځلس ورځې پوره کړم ددې نه پس په هره دویمه جمعه ځم نوپه دې صورت کښې به اتمام کوم یا قصر؟ دقرآن اوحدیث اود فقه حنفی په رڼرا کښې تسلی بخش جواب راکړئ عندالله ثواب حاصل کړئ اوعندنا مشکور شئ؟ بینوا توجروا

المستفتی ماسټر معراج الدین خیروخیل لکی مروت. ۱۹۹۰ء|۱۱|۷

(بقیه حاشیه) الطریق الابعد کان مسافرا عندنا ... وان سلک الاقصر یتم کذا فی البحر. (فتاوی عالمگیریة ص۱۳۸ جلد۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

(۱) قال المرغینانی ولا یزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وان نوی اقل من ذلک قصر.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ص۹ جلد۲ باب صلاة المسافر)

الجواب: ته یو ځل دلته مقیم شه نو ددې نه پس به ستا دا وطن اقامت په سفرسره نه باطلیږی بیاچه ترځو پورې ستا ملازمت دلته وی ته به اتمام کوې.(ماخوذ از بحر والبدائع) ﴿١﴾.وهوالموفق

د افغان مهاجرينو په افغانستان کښې د جهاد په دوران کښې د قصر اواتمام مسئله

سوال: محترم مفتی صاحب!عرض میداریم اینکه مایاں مهاجرین به افغانستان از برائے جهاد میرویم ودر آں جامدت چهار ماه بود وباش میکنم درکوه یا درقرئی که سکان آں هجرت کرده است ومایاں ازیں مراکزبردشمن حملها میکنم وامکان داردا گر دشمن بالائی مایاں جدی نماید، مایاں قرار خواهم کردایا مایاں مقیم گردیم ویانه، افغانستان دارحرب است یانه باقی از شما خواهش میکنم که جواب را برائے مایاں وضع نمائید بعیداز لطف تان نخواهد بود۔ بینواتوجروا

المستفتی:عبدالنصیر مهاجرافغانستان دارالعلوم حقانیه......۱۹۸۸ء/۳/۲۲

جواب: چونکه مهاجرین افغانستان اراده ترک مؤبدنه کرده اند، ومثل مهاجرین مکه نه هستند لهذااین مهاجرین درمسکن خویش اتمام خواهند کرد، واگر درمسکن خود داخل نه شده باشند ودرصحاری وکوه باشد قصر خواهد کرد﴿٢﴾

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: كوطن الاقامة يبقى ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر. (البحر الرائق ص ١٣٦ جلد٢ باب صلاة المسافر)

وقال العلامة كاساني: وينتقض بالسفر ايضا لان توطنه فى هذا المقام ليس للقرار ولكن لحاجة فاذا سافر منه يستدل به على قضاء حاجته فصار معرضا عن التوطن به فصار ناقضا له دلالة ، انتهىٰ. (بدائع الصنائع ص ٢٨٠ جلد١ باب صلاة المسافر)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن نجيم: والخلاصة ثم نية الاقامة لا تصح الا فى موضع الاقامة ممن يتمكن من الاقامة وموضع الاقامة العمران والبيوت المتخذة من الحجر والمدر والخشب لاالخيام والاخبية والوبر. (البحر الرائق ص ١٣١ جلد٢ باب المسافر)

اوراگر در قریٔ داخل شده باشند ونیت پانزده روز نه کرده باشند قصر خواهند کرد ﴿۱﴾۔ وهو الموفق

په سفرکښې د درې ورځو مسافت معتبردې فرسخونه معتبرنه دی

سوال: دفقهې په کتابونو کښې لیکلی دی چه د قصر دپاره د فرسخونو اعتبار نشته حالانکه علماء اتۀ څلویښت میله معتبر کوی آیا دا تضادنه دې؟ مدلل جواب راکړئ. واجرکم علی الله

المستفتی: عبدالودود مسجد روډ کوئټه شهر ..... ۳۰ صفر ۱۴۰۲ھ

الجواب: په شامی اوبحر وغیره کښې لیکلی دی چه زمونږ په نزد د فرسخونو اعتبارنه دې اواعتبار د مسافت درې ورځې دی اوهغه درې ورځې، چه د یخنۍ د موسم ورځې وی او لنډې وی. ﴿۲﴾ اوپه دې حساب سره شپاړس میله مسافت ماسپخین پورې روزانه پوره کول متوسط رفتار سره ثابت دی، ۱۶ + ۳ = ۴۸، پس په دې وجه زمونږ علماء په اتۀ څلویښت میله انګریزی باندې فتوی ورکوی وهو الموفق

مسافرچه په کوم لار باندې ځی د هغې مسافت به معتبروی

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه د یو عظیم کلی نه خانخیل کلی شل میله فاصله باندې واقع دې اودویمه لار ۴۵ میله جوړیږی او په دریمه لار باندې ۶۲ میله جوړیږی اوهغه ملازمین چه خانخیل ته ځی

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: ولا یزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وان نوی اقل من ذلک قصر.
(هدایة علی صدر فتح القدیر ص۹ جلد۲ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله. مسیرة ثلاثة ایام ولیالیها من اقصر ایام السنة ولا یشترط سفر کل یوم الی اللیل بل الی الزوال ولا اعتبار بالفراسخ علی المذهب بالسیر الوسط مع الاستراحات المعتادة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۲۷ جلد۱ باب صلاة المسافر)

اوپه قصد باندې په دغه ۲۲میله والا لاره باندې ځی نو آیا دوی به مسافر شمارلې کیږی او قصر به کوي؟ بینوا توجروا
المستفتی: مولوی ولی داد تجوړی لکی مروت ۲۷ ۱رمضان ۱۴۰۵ھ
الجواب: چه کله په عرف کښې دې درې واړو ته د خانخیل لارې وائی نو ۲۲ میله لارې باندې تللو سره به مسافر جوړیږی او قصربه کوی اګرکه په دغه لاره باندې تللو سره ئې څه صحیح مقصد وی یا نه وي؟
كمافي الهندية فاذا قصد بلدة والىٰ مقصده طريقتان واحدهما مسيرة ثلاثة ايام ولياليها والاخر دونها فسلك الطريق الا بعد كان مسافراً عندنا﴿١﴾.
نوټ: ......لان رعاية قواعد الفقه اولىٰ مما سواه بخلاف اذاخرج من موضعه قاصداً موضعاً آخردون مسافة السفر وقصد المشى بالتدويرات فانه يتم لعلم كونها من طريقة . وهوالموفق
د اقامت د پاره عارضی نیت معتبر نه دې
سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو صاحب ۵۴میله سفر اوکړو یو کلی ته ئې د تقریر دپاره تشریف لاړو. مولوی صاحب د ظهر مونځ پخپله باندې څلور رکعتو نه اوکړل. نو هغه صاحب جواب ورکړو چه ما د عارضی اقامت نیت کړې حال دا چه د جلسې دعوت کونکی سره دا وعده شوې وه چه د تقریر نه پس به فوراً واپسی وی او د عصر مونځ ئې هم څلور رکعته اوکړل او تشریف ئې یوړلو او دائې هم اووئیل چه دا مسئله په هدایه کښې موجود ده او حال چه دا په هدایه کښې داسې الفاظ دی
ولايزال على حكم السفر حتى ينوى الاقامة فى بلدة او قرية خمسة عشريوماً او اكثر وان نوىٰ اقل من ذلك قصر.

﴿١﴾ (فتاوی عالمگیریة ص ۱۳۸ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

اوس دتپوس مسئله داده چه آیا زمونږ داقتدا، کونکومونځ شوی دی که نه؟
بینوا توجروا

المستفتی محمدالدین ماهنامه الحق خریداری نمبر ۱۶۳۲... ۱۹۷۳م/۴/۱۰

جواب: چونکه دانیت تحقیقی نه دی صرف تحیلی (دحیله سازئ دپاره) دی لهذا ددی مقتدیانو مونځ به فاسد او واجب الاعاده وی

فی الدرالمختار ولو نوی الاقامة لا لتحقیقها بل لیتم صلوٰة المقمین لم یصر مقیماً وفی ردالمحتار ص ۱۲۰ جلد ۱ (قوله یصر مقیما) فلو اتم المقیمون صلاتهم معه فسدت لانه اقتداء المفترض بالمتنفل (ظهیریه) ای اذا قصد وامتا بعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلا فساد افاده الخیر الرملی ﴿۱﴾. وهوالموفق

که په آبائی وطن کښې صرف جائیداد وی نوپه هغې کښې راجح قصر دی

سوال: محترم مفتی صاحب! گزارش دی چه څما والدین د دیر اوسیدونکی دی او اوس وفات شوی دی البته هلته د هغوی جائیداد هم وو چه د هغې اوس څه مالک یم لیکن څما مستقل اوسیدل په مردان کښې دی په مردان کښې څما اهل وعیال هم دی نو په دې صورت کښې که زه ضلع دیر ته لاړ شم نو آیا هلته به څه قصر کوم یا پوره مونځ به کوم؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی نذر گل بازار شهیدان هوتی مردان... ۱۹۷۲/۱۰/۱۱

الجواب: راجح دا دی چه نه به دیر کښې قصر کوی

فی الدرالمختار مع ردالمحتار ویبطل بمثله اذ لم یبق له بالاول اهل ای وان بقی له فیه عقار النهر ﴿۲﴾ ویؤیده ان النبی ﷺ قال انا قوم سفر ﴿۳﴾ ولم یخص منه احداً من المهاجرین. فقط

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۵۸۳ جلد ۱ قبیل مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۵۸۶ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب الصلاة المسافر)

﴿۳﴾ عن عمران بن حصین قال غزوت مع النبی ﷺ ..... (بقیه حاشیه په راتلونکی صفحه)

په کور او جانداد کښې د مشترکو دوه رونړو په مختلفو ځایونو کښې د اوسیدلو په صورت کښې د اقامت او قصر مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دوه رونړو دی د هغوی دوه وطنو نه دی زمکه یا جائیداد او کورونه وغیره ئې مشترک دی مثلاً یو د اهل وعیال سره په پیښور کښې او بل په لاهور کښې اوسیږی یو چه د بل خواته ځی نو قصر به کوی یا تمام؟ بینوا تو جروا

المستفتی: نامعلوم............ ۲۹\۱\۱۹۹۰

الجواب: چه د یو سړی په دوه ځایونو کښې کور او زمکه موجود وی او په دوارو ځایونو کښې (په ګرمئ یا یخنئ کښې) اوسیږی. نو په دوارو ځایونو کښې به اتمام کوی (بحر) ﴿۱﴾ او چه کله صرف په یو ځائې کښې اوسیږی نو صرف د کور او زمکې په وجه باندې اتمام کول مختلف فیه دی ﴿۲﴾ لاکن تعلیل اتمام

(بقیه حاشیه) وشهدت معه الفتح فاقام بمكة ثمانى عشر قليلة لايصلى الا ركعتين يقول يا اهل البلد صلوا اربعا فانا سفر، رواه ابو داؤد (۱: ۱۸۰) باب متى يتم المسافر. وفى رواية لابى داؤد سبع عشرة وفى اخرىٰ خمس عشرة وعن عمران بن حصين ثمانى عشرة، وفى سنده على بن زيد بن جدعان قال ابن عدى فى الكامل احاديثه صالحة، وقال يعقوب بن شيبة ثقة صالح الحديث وقال العجلى يكتب حديثه، واما هذا الحديث فصححه وحسنه الترمذى لشواهده كما فى التلخيص.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: وفى المجتبىٰ نقل القولين فيما اذا نقل اهله ومتاعه وبقى له دور وعقار ثم قال وهذا جواب واقعة ابتلينا بها وكثير من المسلمين المتوطنين فى البلاد ولهم دور وعقار فى القرى البعيده منها يصيفون بها باهلهم ومتاعهم فلا بد من حفظها انهما وطنان له لا يبطل احدهما بالآخر. (البحر الرائق ص ۱۳۶ جلد ۱ باب المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: وفى المحيط ولو انتقل باهله ومتاعه الى بلد وبقى له دور وعقار فى الاول قيل بقى الاول وطناله واليه اشار محمد رحمه الله فى الكتاب — الا ان ابا يوسف كان يتم بها لكنه يحمل على انه لم يوترك وطنه. (فتح القدير شرح هدايه ص ۱۸ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

عثمان بن عفان رضی الله عنه بشراء العقار بالطائف یؤید الاتمام ﴿١﴾ فافهم. وهوالموفق

مسافر ډرائیور به وطن اصلی یا اقامتی ته د واپس کیدلو نه مخکښې قصر کوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید ګاډې چلوی او روزانه ئې د پیښور نه لاهور ته او د لاهور نه پیښور ته تله را تله وی اوس تپوس دادې چه دا ډرائیور به قصر کوی یا اتمام؟ په حوالې سره اولیکئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: نثار احمد متعلم جامعه حقانیه اکوړه خټک...۳۱۱۵۱۱۹۸۹

جواب: دا ډرائیور یقیناً مسافر دې او وطن اصل یا اقامتی ته د واپس کیدلو نه مخکښې به قصر کوی.

الا اذا اقتدی بمقیم ودلیل اصل المسئله ما فی شرح التنویر حتی لوا سرع فوصل فی یومین قصر ﴿٢﴾. وهوالموفق

د تاهل او تزوج والا ځائې کښې به قصر کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ځما پیدا ئښ د ضلع دیر دې اوس په مردان کښې ما یو کور په کرایه اخستې دې او د څو کالو راسې په لنډ یکوټل کښې کار کووم او د یوې شپې د پاره مردان ته راځم نو اوس څه چرته مقیم یم؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم.........۲۳۱۳۱۰۱۹۷۲

﴿١﴾ وفی منهاج السنن: وروی عن عثمان وعائشة الاتمام کما فی حدیث متفق علیه......وقیل ان عثمان رضی الله عنه نوی الاقامة وقیل انه تاهل بمکة وقیل انه اتخذ الاموال بالطائف. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۷۹ جلد ۳ ابواب السفر باب التقصیر فی السفر)

﴿٢﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۰ جلد ۱ مطلب فی وطن الاصلی والاقامة)

الجواب: ته به په مردان کښې د تاهل او تزوج په وجه اتمام کوئ(۱) او په لنډی کوتل کښې (اوتللو راتللو دوران کښې) به قصر کوئ ځکه چه دا ځائې (لنډی کوتل) نه ستا وطن اصلی دې او نه وطن اقامتی نه تا دلته په یو ځائې د پنځلسو ورځو د قیام نیت کړې او نه دې دلته واده کړې (۲)

د تجارت سامان د پاره ئې کور په کرایه واخستلواو څې په باندو کښې ئې خرڅوی لیکن اقامت نیت ئې نه دې نو قصر به کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه یو سړې د خپل وطن اصلی نه لرې چرته سامان کپړې وغیره د خرڅولو دپاره راوړی او دلته ئې چرته په یو کمره کښې خپل سامان کیخودۀ. اود سامان ایخودلو په وخت ئې هم په دې نیت سره کمره واخستله چه لس ۱۰ پنځلس۱۵ میله لرې ګیر چاپیره باندو کښې به دا سامان خرڅوم بیا به واپس راځم. کله کله دوه درې ورځې بهر وی او د اقامت نیت ئې نه دې کړې په دې کښې میاشت یا ډیرې ورځې تیریږی نو قصر به کوی که اتمام به کوي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمنان متعلم جامعه حقانیه اکوړه خټک

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله او تأهله) ای تزوجه قال فی شرح المنية ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الاقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الاوجه ولو كان له اهل ببلدتين فايتهما دخلها صار مقيما فان ماتت زوجته فی احداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لايبقى وطناً له اذالمعتبر الاهل دون الدار كما لوتأهل ببلدة واستقرت سكنا له وليس له فيها دار وقيل تبقى.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۸۲ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی والاقامة)

﴿۲﴾ وفی الهندية: ولايزال على حكم السفر حتى ينوى الاقامة فی بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر كذافی الهدايه.

(فتاوی عالمگیریة ص ۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

الجواب: دا سړی به قصر کوی لعدم عزمه علی اقامة خمسة عشر یوما﴿۱﴾ وهو الموفق

په بانډو کښې د اقامت نیت صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې په بانډو کښې د اقامت نیت صحیح دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاکم ګل مدرسه مفتاح العلوم ضلع هنګو

الجواب: که دا بانډه صحرا نه وی بلکه د ګټو ختو ابادۍ پکښې موجود وی نو په دې کښې د اقامت نیت صحیح دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

د پنځلسو ورځو نه کم اقامت کولو واله به قصر کوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څه په به دیوالیه ضلع بهکر کښې د (سیکر ټری بلدیه) په طور مقرریم او ځما کور په سرګودها کښې دې چه کله څه کور ته راشم نو ځما یقینی اراده دلته داوسیدلو نه وی یعنی د ورځو تعین نه وی چه څومره ورځې پس به راځم بعضې وختونو کښې د پنځلسو ورځو نه مخکښې او کله د پنځلسو ورځو نه پس کور ته ځم دیوالیه علاقه ځما د کور نه ۱۲۰ میله لرې ده. بیا دلته دیوالیه نه په هره دریمه او څلورمه د بهکر نه کلور کوټ ته تلل وی د دواړو ځایونه د دیوالیه نه تقریباً دیرش یا پنځه دیرش میله فاصلې باندې دې. اوس دا اوښایئ چه څه به

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: ولایزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وان نوی اقل من ذلک قصر.
(فتح القدیر ص ۹ جلد۲ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: والخلاصة ثم نیة الاقامة لا تصح الا فی موضع الاقامة ممن یتمکن من الاقامة وموضع الاقامة العمران والبیوت المتخذة من الحجر والمدر والخشب لا الخیام والاخبیة والوبر. (البحر الرائق ص ۱۳۱ جلد۲ باب المسافر)

په دیوالیه کښې پوره مونځ کوم یا قصر په کوم چه ځما place of Resting دي؟ بینوا توجروا

المستفتی چوهدری مولا بخش ټاؤن کمیټی دیوالیه ضلع بهکر ۱۱/۲/۱۹۸۲

الجواب: که دیوالیه ته راتلو وخت کښې ستا اراده د پنځلسو ورځو د اوسیدلو نه وی بلکه د کمو ورځو وی او یا څه خاص اراده نه وی نو ته به په دیوالیه کښې پوره مونځ نه کوې ﴿۱﴾

نوټ: که ددې ملازمت په ځائې کښې ټول ضروری سامان تا سره وی نو یو ځل د مقیم کیدلو نه پس به په دغه ځائې کښې د تبادلې پورې ته اتمام کوې ﴿۲﴾ وهوالموفق

د اهل وعیال وطن اقامت ته چه متاهل کله راځی نو قصر به کوي

سوال: ان رجلا رحل مع اهله الی وطن فاقام اهله فیه لشهر او شهرین ولم ینو الرجل الاقامة فسافر الی وطن آخر ثم رجع الی اهله لمدة یوم او یومین ایقصر الصلاة ام لا؟ بینوا توجروا جزاکم الله خیر الجزاء

المستفتی: فضل عمر افغانستان ......۱۴/ اگست ۱۹۸۳ء

جواب هذا الرجل یقصر فی هذه القریة لانها لیست وطنا اصلیا له ولاتأهل فیها، لان اهله لم یتخذوها وطنا لایریدون الرحلة عنها، ولا اقام فیها مدة الاقامة ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة المرغینانی: ولا یزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر وان نوی اقل من ذلک قصر.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ص ۹ جلد ۲ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: کوطن الاقامة یبقی ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر.

(البحر الرائق ص ۱۳۶ جلد ۲ باب صلاة المسافر)

﴿۳﴾ قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی: ولاتصح ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د بحری جهاز د ملازمینو قصر او اتمام

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ د بحری جهاز ملازمین په جهاز کښې او سیږو بعضې کسان پوره مونځ کوی او وائې چه جهاز څمونږ د پاره د کورحکم لری او بعضې کسان قصرکوی د مسئلې پوره وضاحت راولیږئ او څمونږ د وهم ازاله اوکړئ. بینوا توجروا

المستفتی:شیرا میر خان...........۱۳رجب ۱۴۰۲ھ

الجواب: که تاسو په یو بندرګاه باندې د پنځلس ورځو د قیام نیت نه وی کړې نو ته به قصر کوې او که نیت دې نه وی کړې او پوره کال هم تیر شی نو ته به قصر کوې.(ماخوذ ازشرح التنویر) ﴿۱﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) نية الاقامة ببلدتين لم يعين المبيت باحديهما لان الاقامة لا يكون فى مكانين اذلو جازت فيها لجازت فى اماكن فيؤدى الى عدم تحقق السفر، واذا عين المبيت باحدى البلدتين كان مقيماً لان اقامة المرء تضاف الى مبيته.

(امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ۴۲۹ مطلب فيما يشترط لصحة نية السفر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الاقامة بل ترقب السفر غدا او بعده ولوبقى على ذلك سنين الا ان يعلم تاخر القافلة نصف شهر كما مر وكذا يصلى ركعتين. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۵۸۲جلد ۱ مطلب فى سجدة الشكر باب صلاة المسافر)

خو په پورټ باندې به داقامت نیت هله صحیح وی چه په بندرګاه کښې څه آباد کورونه موجود وی. په هندیه کښې دی ولا يزال على حكم السفر حتى ينوى الاقامة فى بلدة او قرية خمسة عشر او اكثر (ص۱۳۹جلد۱) اوکوم جهاز وغیره چه په سمندر کښې وی په هغې کښې هم داقامت نیت معتبر نه دې

قال ابن النجيم: وقيد بالبلد والقرية لان نية الاقامة لا تصح فى غيرهما فلا تصح فى مفازة ولا جزيرة ولا بحر ولا سفينة الخ (البحر الرائق ۲: ۱۳۱ صلاة المسافر) وهكذا فى الهندية ۱: ۱۳۹ الباب الخامس عشر)..... (از مرتب)

د سرکاری مدرسو او مدارس عربیه د ملازمینو خپل نیت معتبر دې د متبوع نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه سرکاری ملازمین چه د هغوی تقرری د سرکار د قانون مطابق په یو ښار کښې د درې کالو دپاره په یو ښار کښې کیږی په دغه موده کښې به ملازمین د سفر او قصر په معامله کښې د خپل نیت پابند وی او که د سرکار د مزدور کیدلو په وجه به د دوی خپل نیت معتبر نه وی. او مقیم به وی څلور رکعته به ادا کوی دغه شان د مدارس عربیه مدرسین که د تعلیم په دوران کښې د سفر مطابق مدرسو ته راشی او د پنځلسو ورځو پورې د پاتې کیدلو اراده ئې نه وی نو آیا دې به د مقیم مهتمم تابع وی او بغیر د نیت اقامت نه به پوره مونځ کوی او که نه د خپل نیت په اعتبار سره به قصر کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عطاءالله غفرله مدرس دارالعلوم نعمانیه ډی آئی خان ۱۸ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: د سرکاری مدارسو د ملازمینو او د اسلامی مدرسو د مدرسینو خپل نیت معتبر دې ځکه چه د ډیوټئ دوخت نه علاوه په نورو وختونو کښې حسب العرف او حسب الاصول داخلق هرځائې کښې او سیدلې شی کور ته هم راتللې شی څنګه چه د دوی متبوعینو ته هم دا اختیار حاصل دې.﴿۱﴾ وهو الموفق

دافسربالا یا امیر په حکم باندې د سفر په اندازې نیت کولو والا به قصر کوې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د فوج امیر په هیډ کواټر کښې مقیم دې چه د هغه ما تحت څلور ونګونه وی او د هر ونګ جدا جدا میجر وی لیکن د ټولې کاروایئ دارومدار په کرنل باندې وی حال دا چه کرنل مقیم وی او دا کرنل خپل ماتحت دکشتو د پاره لیږئ کله ۴۵ میله

﴿۱﴾ قال العلامة حسن بن عمار الشرنبلالی: وتعتبر نية الاقامة والسفر من الاصل كالزوج والمولىٰ والامير دون التبع كالمرأة والعبد والجندى ان علم التبع بنية المتبوع فى الاصح فلايلزمه الاتمام بنية الاصل الاقامة حتى يعلم كمافى توجه الخطاب الشرعى الخ.

(امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ۴۶۸ جلد ۱ مطلب فى مايشترط لصحة نية السفر)

کله ۲۰ میله او کله سل میله اوس بعضې مشران وائي چه دا فوجیان چه کله د سرکاري کار د پاره ځي نو اتمام به کوي ځکه چه د دوی امیر مقیم وی او حواله دا ورکوي.

وکل من کان تبعاً لغیره یلزمه طاعته یصیر مقیما باقامته ومسافرا بنیته وخروجه الی السفر(هندیة ص ۱۴۱ جلد ۱)

د مسئلې وضاحت اوکړئ د شکریه موقعه راکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوی قادر بخش خطیب مسجد دالبندین چاغی بلوچستان ۵ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: په صحرا کښې د اقامت نیت صحیح نه دې البته که په دې صحرا کښې د راتلونکو امیر صاحب په آبادئ کښې مقیم وی نو په دې صحرا کښې راتلونکې به مقیم شمارلې کیږی لکه چه په استفتاء کښې حواله ذکر ده. لیکن که ده دغه صحرا والا دامیر په حکم باندې د پنځوس میله تللو نیت اوکړی نو دا خلق بغیر شک شبهې نه مسافر دی ﴿۱﴾ فقهاؤ دا نه دی لیکلې چه امیر مقیم وی نو مامورین به هم خامخا مقیم وی.

وطن اقامت چه نې خوپورې پریخودې نه وی هغې کښې به اتمام کوی

سوال: محترم ومکرم استاد حضرت مفتی صاحب. د امت برکاتکم. مونږ دلته ابوظهبي کښې اوسیږو. چرته چه زمونږ ځائې دې هلته نه مونږ اکثر سفر کوو. بیا په هغه ورځ یا دوه درې ورځې د اقامت ځائې ته واپس راتللو باندې به داخلق قصرکوی که اتمام؟ که په عربئ کښې جواب راکړې نو ډیره مهربانی به وي؟ بینوا توجروا

المستفتي ستاسو شاګرد سالم جان حقاني موسسه ابن نصیب ابوظهبی ۱۹۸۳

﴿۱﴾ قال العلامة شرنبلالی: اقل مدة سفر تتغیر به الاحکام...... مسیرة ثلاثة ایام بسیره ثلاثة ایام من اقصر ایام السنة کمافی الجوهرة والبرهان واشرنا بتقدیره بالایام الی انه لا یقدر بالفراسخ وهو الاصح لقوله ﷺ یمسح المقیم یوماً ولیلة والمسافر ثلاثة ایام ولیالیها الخ. (امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ۴۲۶ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

جواب: من خرج من وطن الاقامة مسافراً غير معرض عن التوطن به فهو يصلي اربعا اذا رجع اليه وبقاء ثقله دليل ظاهر على عدم اعراضه عن التوطن به وهذالم اجده صريحاً لاكنه مأخوذ من كلام البدائع والبحر ، قال صاحب البدائع ص ۱۰۴ جلد ۱ وينتقض بالسفر ايضاً لان توطنه في هذا المقام ليس للقرار ولكن لحاجة فاذا سافر منه يستدل به على قضاء حاجته فصار معرضا عن التوطن به فصار ناقضاً له دلالة انتهىٰ ﴿۱﴾ وفي البحر ص ۱۳۶ جلد ۲ كوطن الاقامة يبقى ببقاء الثقل وان اقام بموضع آخر، انتهىٰ اى لعدم قصد ترك الاول ﴿۲﴾. فافهم، وهو الموفق

وطن ته خنګل نه هره هفته تللو راتللو کښې دقصر او اتمام مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زه په عربستان کښې کار کوم په ښار کښې مې د او سیدلو دپاره یو کور په کرایه اخستې دې او د ښار نه یو سل اویا ۱۷۰ کلومیټره لرې په خنګل کښې شپږ ورځې کارکووم او د جمعې په ورځ ښار ته راځم د کرایه په کور کښې د ژوند ټول ضرویات شته او دغه شان په خنګل کښې هم څمونږ سره ټول ضرویات موجود دی په خنګل کې د لرګو مکانات مونږ جوړ کړی دی په دې کیمپ کښې څلویښت پنځوس کسان موجود وی. نه مونږ په خنګل مستقل طور سره مقیم یو او نه په ښار کښې ددوبئ علماء وائی چه په ښار کښې به قصر کوئ او په خنګل کښې اتمام کوئ بعضې وائی چه په لار کښې به قصر کوې د مسئلې وضاحت او کړئ او مونږ ته ئې را اولیږئ؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی سیدولی شاه ملاخیل هنګو کوهاټ ۱۲۷ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: تاسو به په دغه ښار کښې اتمام کوئ په دې شرط که تاسو د اقامت په

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ص ۲۸۰ جلد ۱ الکلام في الاوطان کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ (البحر الرائق ص ۱۳۶ جلد ۲ باب صلاة المسافر)

نیت دغه ښار کښې پنځلس ورځې متواتر تیرې کړې وی (۱) او دا پنځلس ورځې مو په دغه ښار کښې تیرې کړې هم وی ددینه پس چه کله تاسو د کار دپاره ځنګل ته ځې او شپږ ورځې تیروئ نو ځنګل خو چونکه ستاسو محل اقامت نه دې نو تاسو به په ځنګل کښې قصر کوئ البته که ستاسو مستاجر په یو ښار کښې مقیم وی نو تاسو به هم مقیم شمارلې کیږئ (کمافی الهندیة ۱۴۱ جلد۱)(۲) او چه کله تاسو د جمعې په ورځ ښار ته واپس راشئ نو اتمام کوئ دا ستاسو وطنِ اقامت دې، ددې ښار او سیدل تاسو پریخې نه دی. یدل علیه مافی البحر ص۱۳۲ جلد۱(۳) خصوصاً چه کله مستاجر مقیم وی وهو الموفق

د مهاجرین افغانستان د اقامت نیت

سوال: چه مے فرمایند علماء دین درین مسئله که از افغانستان مهاجرین بسیار آمده است (۱) بعض در آں در کمپ هائے حکومت مسکن گرفته است وحکومت بایشان گندم وغیره میدهد (۲) وبعضے در قریها مقیم است وگندم وروپیه از حکومت میخواند (۳) وبعضے در آن در قریها مقیم است گزاره خود بخود میکند از حکومت چیزے نه خواهد بعض از علماء مهاجر از قسم دوم وثالث در قریها مایان امامت گرفته هست نماز قصر نمیکند بعض از اں علماء بران

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا یزال حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر کذا فی الهدایة.

(عالمگیریه ص ۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: وکل من کان تبعا لغیره یلزمه طاعته یصیر مقیما باقامته ومسافراً بنیته وخروجه الی السفر کذافی محیط السرخسی.

(فتاویٰ عالمگیریة ص ۱۴۱ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: لو جمعت کانت خمسة عشر یوما او اکثر الا اذا نوی ان یقیم باللیل فی احدهما فیصیر مقیما بدخوله فیه لان اقامة المرء تضاف الی مبیته یقال فلان یسکن فی حارة کذا وان کان بالنهار فی الاسواق ثم بالخروج الی الموضع الآخر لا یصیر مسافرا. (البحر الرائق ص ۱۳۲ جلد ۲ باب صلاة المسافر)

فتوٰی دادہ است کہ اقتداء بجنس اماماں در وقت ظہر وعصر وعشاء صحیح نیست از شما مبارک عرض میدارم کہ حکم اقسام ثلاثہ یک باشد یانہ، اگر نہ باشد حکم ہر قسم جدا جدا ارسال بکن؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالرؤف کچلاك سرکلر روڈ کوئٹه

جواب: واضح باد کہ ابن عابدین شامی رحمہ اللہ وغیرہ در بـاب الـمسافر تصریح کردہ اند کہ صحرا مقام اقامت نیست ﴿۱﴾ یعنی نیت اقامت در صحرا درست نیست الا اذا كـان امیر الـجند مقیما فی الـمصر فیصیر الجندی مقیما بتبع الامیر کما فی الهندیة ﴿۲﴾ پس این مہاجرین (ماسوائے مقیم در صحرا و خیمہا) تمام اتمام خواہند کردند زیرا چہ بعد از امادگی مخالفین برائے مذاکرات چند ماہ بر مذاکرات صرف خواہند شد۔ وهو الموفق

که افغان مجاهدینو په آبادۍ کښې د اقامت نیت نه وی کړې نو قصر به کوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه څمونږ مجاهدین په دو قسمه دی. یو هغه چه داخلی وی یعنی په ښار کښې وی لیکن فی الحال په کیمپ کښې اوسیږی. او دویم هغه چه د بهرنه راځی یعنی چه د هغوی ښار سره واسطه نه وی نو هغوی به د سفر مونځ کوی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمجید افغان مهاجر پشاور...۹ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: کومو مجاهدینو چه په آبادۍ کښې د اقامت نیت نه وی کړې نو هغوی

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی رحمه الله: والحاصل ان شروط الاتمام ستة النية والمدة واستقلال الرأی وترک السیر واتحاد الموضع وصلاحيته قهستانی (قوله وصلاحيته) ای صلاحية الموضع للاقامة.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۵۸۳ جلد ۱ مطلب فی سجدة الشكر باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ وفی الهندية فيصير الجندی مقيما فی الفيافی بنيه اقامة الامير فی المصر كذا فی الكافی. (الفتاویٰ عالمگیریة ص ۱۴۱ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

به قصر کوی برابرخبره ده چه داخلی وی او که خارجی وی (شامیه، هندیه) (۱)

د بهشتی زیور د یو عبارت وضاحت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د کور نه دریو منزلونو تللو په ارادې سره اوزی د کورنه وتلو وخت کښې نې نیت دادې چه په منزل مقصود کښې به پنځلس ورځې یا څه زیاتې تیروم اوس چه دا سړې په لاره کښې کوم مونځ ادا کوی نو قصر به کوی که اتمام؟ په بهشتی زیور کښې لیکلی شوی دی (بهشتې زیور دویمه حصه صفحه ۳۵ مسئله نمبر ۱۰ یو زنانه درې منزله تللو اردې سره د کور نه اووتله او د کور نه ئې دا نیت هم دې چه فلانکی کلی کښې به پنځلس ورځې ایساریږم نو مسافره نه شوه په ټوله لاره کښې به پوره مونځ کوی. بیا که کلی ته اورسیده او پوره پنځلس ورځې ایساره نه شوه نو بیا به هم مسافره نه جوړیږی حالانکه په جوهرة النیره ص ۸۲ جلد ۱ کښې دی.

ومن خرج مسافر اصلی رکعتین اذا فارق بیوت المصر ولا یزال علی حکم المسافر حتی ینوی الاقامة فی بلدة خمسة عشر یوم فصاعداً فیلزمه الاتمام فان نوی الاقامة اقل من ذلک لم یتم انتهی.

دا عبارت د قدوری دې پس د مسئلې وضاحت اوکړئ ډیره مهربانی به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی شیر محمد خان محسود جنوبی وزیرستان

الجواب: محترم المقام په دې عبارت کښې هیڅ اشکال نشته او د بهشتې زیور په مسئله کښې ددې کلې نه مراد یو درمیانی (پنځمې) کلې دې چه د تللو د ځائې نه درې منزله کم مقدار باندې واقع وی (کما لا یخفی فافهم. وهو الموفق

(۱) وفی الهندیة: ولایزال علی حکم السفر حتی ینوی الاقامة فی بلدة او قریة خمسة عشر یوما او اکثر کذافی الهدایة.
(فتاوی عالمگیریة ص ۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

فصل فى قصر الصلوٰة

د يو مسافر مقيم امام پسې د نيت کولو مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مسافر به د مقيم امام پسې د سفرانه دوه رکعتونو نيت کوی که د څلورو رکعتونو؟ بينوا توجروا

المستفتی: زاهد حسين نور کلاتهـ هاؤس بټ خيله

الجواب: په دې مسئله کښې توسع ده. بر جندی صرف د فرضو نيت کول ليکلې دې، او په جامع الرموز کښې دی چه دوه رکعتو نيت به کوی (۱) او د تحقيق په رڼړا کښې د څلورو رکعتو نيت کول راجح دی. (۲) وهو الموفق

که مسافر مقتدی په مسافر امام باندې د مقيم خيال اوکړو او د څلورو رکعتو نيت ئې اوکړو نو اوس به څه کوی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) مسافر سړی :

---

(۱) علامه عبدالحئ لکهنوی رحمه الله فرمائی بهتره داده چه د تعين نه بغير دې صرف د فرض نيت اوکړی لکه چه په برجندی کښې دی اوکه نيت کوی نو د دوه رکعتو نيت دې اوکړی په جامع الرموزکښې دی لو اراد نية العدد نوی رکعتين، اوکه د رکعاتو د تعداد نيت کول غواړی نو د دوه رکعتونيت دې اوکړی مجموعة الفتاوى ص۳۱۴ جلد۱ رقم ۱۴۰ كتاب الصلوٰة.

(۲) حضرت شيخ مفتی اعظم محمد فريد دامت برکاتهم په يو مجلس کښې اوفرمائيل چه څلور رکعته نيت کول راجح دی زمونږه شيخ امين الله فی الارض محدث کبير مولانا نصير الدين الغرغشتوی النقشبندی المجددی (المتوفی ۱۳۸۸هـ) به فرمائيل چه څلور رکعته نيت دې اوکړی

لان نية الامامة قبل التكبير التحريمة صحيحة لانه بشرف ان يكون اماما فنية الاربعة ايضا صحيحة لانه بشرف ان تكون صلاته اربعاً. (ارشادات حضرت مفتی اعظم [illegible])

خیال اوکړو چه امام مقیم دې او د څلور رکعتو نیت ئې اوکړو اوس د مقتدی مونځ اوشو یا نه؟ او څلور رکعتو نه به پوره کوی که دوه (۲) او که د امام پته نه وی چه مقیم دې که مسافر نو د مقتدی نیت به څنګه وي؟ بینوا توجروا

المستفتی زاهدحسین نور کلاتهـ هاؤس بټ خیله ملاکندایجنسی ۱۹۸۹ء/۹/۱۳

الجواب: (۱) چه کله د امام حالت د غائب کیدلو نه مخکښې معلوم شی نو د مقتدی مونځ به صحیح وی او په دوه رکعتو به اکتفا کول ضروری وی. ﴿۱﴾ (۲) د وخت د فرضو مطلق نیت به ضروری وی خو بیا هم د رکعتونو په ذکر کولو کښې به کمې زیاتې نقصان والا نه وی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

د مسافر مقتدی مقیم امام پسې د رکعتونو د نیت مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې بـاره کښې څه فرمائی چه امام مقیم دې او مقتدی مسافر دی نو دا مسافر مقتدی به د مقیم امام پسې کوم نیت کوی د دوی رکعتو نیت به کوی یا د څلورو رکعتو. ځکه چه د مسافر د پاره دوه رکعتو نه کول دی او د امام د پاره څلور رکعتونه؟ بینوا توجروا

المستفتی سبزعلی سپاهی باجور ایجنسی.....۲۱\۱ اکتوبر ۱۹۷۵

الجواب: ټولو فقهاؤ لیکلې دی چه د مونځ د صحیح والی د پاره د رکعتونو

﴿۱﴾ قال العلائی: وندب للامام هذا یخالف الخانیة وغیرها ان العلم بحال الامام شرط لکن فی حاشیة الهدایه للهندی الشرط العلم بحاله فی الجملة لا فی حال الابتداء وفی شرح الارشاد ینبغی ان یخبرهم قبل شروعه والا فبعد سلامه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۴ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: دون تعین عدد رکعاته لحصولها ضمنا فلا یضر الخطا فی عددها وینوی المقتدی المتابعة لم یقل ایضا لانه نوی الاقتداء بالامام اوالشروع فی صلاة الامام ولم یعین الصلاة صح فی الاصح وان لم یعلم بها لجعله نفسه تبعاً لصلاة الامام. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۳۰۹ جلد ۱ بحث النیة باب شروط الصلاة)

تعداد ذکر کول ضروری نه دی ﴿۱﴾ لهذا که د ا مسافر څه تعداد ذکر نه کړی نو دیکښې هیڅ خبره نشته او که دا مسافر تعین کول غواړی نو بعضې فقهاؤ د دوه عدد نه راجح وئیلې ﴿۲﴾ او بعضې اکابرینو د څلورو عدد نه راجح وئیلې دی.

وهو الاوجه لان المقتدی جازله نية الاقتداء قبل تحريمة الامام لكونه اماماً فيمايؤل اليه فكذا نية الاربع لان صلاته تصير اربعا فيما يؤل اليه امرا لله ﴿۳﴾ فافهم. وهوالموفق

شرعی مسافر د قصر په نه کولو سره ګنهګاریږی

سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو سړې په شرعی سفر کښې دې او قصر نه کوی بلکه څلور واړه رکعتونه اوکړی نو دهغه څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محبت خان ایران بندر جمهوریه ایران ۱۴۰۱/۲/۲۶ھ

جواب: ګنهګاردې ځکه چه شرعی مسافر باندې په ظهر. عصر او عشاء کښې قصر واجب دې او دوه رکعتونه به ادا کوي. البته که د دوه. رکعتو د قصر نه پس دریم او څلورم رکعت اوکړی نو اعاده پرې فرض نه ده بلکه واجب ده (شامي) ﴿٤﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجيم: لان نية عدد الركعات ليست بشرط فى الفرض والواجب لان قصد التعيين مغن عنه ولو نوى الظهر ثلاثا والفجر اربعاً جاز. (البحر الرائق ص ۲۸۲ جلد ۱ باب شروط الصلوة)(ومثله فى الدرالمختار على صدر ردالمحتار ص ۳۱۸ جلد ۱ باب شروط الصلاة)

﴿۲﴾ علامه عبدالحی لکهنوی فرمائی بهتره داده چه بغیر د تعین د رکعتونو نه صرف د فرض نیت اوکړی لکه چه په برجندی کښې دی او که نیت کوی نو د دوه رکعتونو نیت دې اوکړی په جامع الرموز کښې دی (ولواراد نية العدد نوى ركعتين)

(مجموعة الفتاوى ص ۳۱۳ جلد ۱ كتاب الصلوة رقم مسئله: ۱۳۹)

﴿۳﴾ (من افاضات الشيخ زينة المحدثين مولانا نصير الدين الغرغشتوى رحمه الله)

﴿۴﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: فلو اتم مسافر ان قعد فى القعدة الاولى تم فرضه ولكنه اساء لو عامدا لتاخير السلام وترك واجب القصر.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۵۸۳ جلد ۱ مطلب فى سجدة الشكر باب صلاة المسافر)

په سفر کښې جمع بين الصلاتين صورةً جائز ده.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق وائی چه د سفر په حالت کښې جمع بين الصلاتين يعنی د مغرب او عشاء مونځونه په يو وخت کښې کول جائز دی آيا دا صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی نا معلوم..........

الجواب: د دوه مونځونو په يو وخت کښې ادا کول که صورةً وی (يعنی چه يو روستو کړې په آخر وخت کښې او بل په اولنی وخت کښې کول) نو د ضرورت په وخت کښې جائز دی. د عرفات او مزدلفه نه علاوه د احنافو په نزد جمع بين الصلاتين حقيقتاً جائز نه ده.

مسافر چه د مقيم امام د مونځ په آخره کښې شامل شی نو پوره مونځ به کوی

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو مسافر په مقيم امام

﴿۱﴾ قال العلامة حصكفى رحمه الله: ولاجمع بين فرضين فی وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعی وما رواه محمول على الجمع فعلا لا وقتا فان جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لو عكس ای اخره عنه وان صح بطريق القضاء الا لحاج بعرفة ومزدلفة. قال ابن عابدين رحمه الله: (قوله محمول) ای ماروا‌ه ممايدل على التاخير محمول على الجمع فعلا لا وقتا ای فعل الاولیٰ فی آخر وقتها والثانية فی اول وقتها ويحمل تصريح الراوی بخروج وقت الاولیٰ على التجوز كقوله تعالیٰ فاذ بلغن اجلهن ای قاربن بلوغ الاجل او على انه ظن ذلک ويدل على هذا التاويل ما صح عن ابن عمر انه نزل فی آخر الشفق فصلی المغرب ثم اقام العشاء وقد توارى الشفق ثم قال ان رسول الله ﷺ كان اذا عجل به السير صنع هكذا وفی رواية ثم انتظر حتى غاب الشفق وصلى العشاء.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۲۸۱ جلد ۱ قبيل باب الاذان كتاب الصلاة)

پسې اقتداء اوکړه او دا هله چه امام آخری قعده کښې وو نو آیا د مونځ په آخره کښې هم د اقتداء په صورت کښې به دا مسافر مقتدی اتمام کوي؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم

الجواب: دا مسافر مقتدی چه کله د مقیم امام اقتداء اوکړی نو د اتباع امام په وجه باندې به پوره مونځ کوی. اګر که بالکل په آخره کښې شامل شوې وی کمافی ردالمحتار فیدخل فیه مالو اقتدیٰ به فی القعدة الاخیرة ﴿۱﴾. وهو الموفق

په سفر کښې د سنن رواتب په ادا کولو او نه کولو کښې د فقهاؤ راجح قول

سوال: علمائې کرام و مفتیان عظام په دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په اعلاء السنن کښې د سفر په حالت کښې د رسول الله ﷺ نه د سنتو د اداکولو ثبوت وارد دې. او یو عالم دین اووئیل چه پیغمبر علیه السلام نه د فجر د سنتو اداکول هم د سفر په حالت کښې ثابت نه دی. دا تر کومې پورې صحیح ده. (۲) د صفر په حالت قرار او فرار کښې په کوم کوم حالت کښې د کولو او نه کولو افضلیت دې. بعضې علماء په حالت سفر کښې د سنتو د پریخو دلو په افضلیت کښې د کبیری حواله ورکوی کوم قول راجح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی بدرمنیر مهتمم دارالعلوم مدنیه اماندره بټخیله ملاکنډ ایجنسی ۱۲،۲۰،۱۹۸۹

الجـواب: محتـرم المقـام مولانـا بـدرمنیر صـاحب زادالله معـالیکم السـلام علیکم اما بعد: جوابات په ترتیب د سوالونو سره اوګورئ

(الف) په (ابو داؤدشریف ص۶۳ جلد۱ باب من نام عن صلوٰة او نسیها) کښې مروی دی (قال رسول الله ﷺ من کان منکم یرکع رکعتی الفجر فلیرکعهما

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: فیدخل فیه ما لو اقتدیٰ به فی القعدة الاخیرة انه لا یصح لان تحریمته اشتملت علی نفلیة القعدة الاولیٰ والقراءة بخلاف الامام وهذا معنی قول الشارح لانه لتحریمة المأموم اشتملت علی الفرض لاغیر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۸۵ جلد۱ قبیل مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

فقام من کان یرکعهما ومن لم یکن یرکعهما فرکعهما﴿۱﴾.

دغه شان د ترمذی شریف په ابواب السفر کښې د ابن عمر رضی الله عنه د سنت بعد الظهر اداکول موقوفًا او مرفوعًا مروی دی ﴿۲﴾ د فقهائې کرامو نه په سفر کښې چه روان مسافر د مونځ دپاره اودریږي. نو سنت دې پریږدي او چه کله د هفتې لسو ورځو د پاره چرته ایسار شي نو سنت دې اداکوي وهومختار الامام الحلبی فلیراجع الی ردالمحتار ص ۵۵۵ جلد ۱ باب المسافر﴿۳﴾ وهوالموفق

په سفر کښې د سنتو د پریخودلو او نه پریخو دلو مسئله

سوال: چه مے فرمایند علماء کرام درین مسئله که سنن مؤکده درحالت سفر شرعی کردن درست است یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حسن خان افغانی افغانستان......۷/۱/۱۹۸۸ء

جواب: بر مسافر شرعی درسنت موکده خواندن توسع است البته راجح این ست که دروقت قرار ونزول

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ص ۷۰ جلد ۱ باب من نام عن صلوٰة او نسیها)

﴿۲﴾ عن ابن عمر قال صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم الظهر فی السفر رکعتین وبعدها رکعتین الخ.

عن ابن عمر قال صلیت مع النبی صلی الله علیه وسلم فی الحضر والسفر فصلیت معه فی الحضر الظهر اربعاً وبعدها رکعتین وصلیت معه فی السفر الظهر رکعتین وبعدها رکعتین الخ.

(سنن ترمذی ص ۷۲ جلد ۱ ابواب صلاة السفر باب ماجاء فی کم تقصر الصلاة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (هو المختار) وقیل الافضل الترک ترخیصا وقیل الفعل تقربا وقال الهندوانی الفعل حال النزول والترک حال السیر وقیل یصلی سنة الفجر خاصة وقیل سنة المغرب ایضا بحر قال فی شرح المنیة والاعدل ما قاله الهندوانی قلت والظاهر ان مافی المتن هو هذا وان المراد بالامن والقرار النزول وبالخوف والفرار السیر لکن قدمنا فی فصل القراءة انه عبر عن الفرار بالعجلة لانها فی السفر تکون غالباً من الخوف تامل.

(ردالمحتار ص ۵۸۵ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة)

این را خواند و در وقت سیر و فرار و خوف نه خواند، ردالمحتار ص۵۵۵ جلد ۱ باب المسافر ﴿۱﴾. پس اگر سائر باشد و برائے نماز توقف کند سنن را ترک خواهد کرد، واگر برائے قرار نزول کرده باشد یعنی کم از مقدار اقامت ادا خواهد کرد۔ وهو الموفق

د سفر د بعضې احکاماتو باره کښې تپوس

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) فوجي د خپلې ارادې مالک نه وی بلکه تابع وی د اقامت نیت کولې شی یا نه؟ (۲) کوم فوج چه په هندستان علاقه کښې دې دهغې څه حکم دې؟ او چه کوم په پاکستانی علاقه کښې دې دهغې څه حکم دې؟ (۳) دبانډې یا کلي او ښار حکم او تعریف څه دې او د ځنګل میدانونو او غرونو څه حکم دې (۴) که یقیني طور سره د اقامت موده معلومه وی نو د اقامت نیت صحیح دې؟ (۵) دکومو افسرانو په وئیلو باندې د اقامت نیت صحیح دې؟ (۶) د سفر او حضر تعلق د سهولت سره دې یا نه؟ بعضې خلق وائي چه مونږ ته څه تکلیف دې هر څیز په آسانۍ سره ملاویږي؟ (۷) بانډو او ښارونو ته نزدې چه کوم فوج اوسیږي د هغې حکم د بانډې او ښار او سیدونکو پشان دې؟ (۸) په ماضي کښې چه کوم مجاهدین اسلام د جهاد دپاره په سفر روانیدل هغوی ترڅو پورې دوه رکعته کول په تاریخ کښې که د قصر د مونځ تفصیلی واقعه وی نو اولیکئ؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی عبدالصمد امام مسجد ۱۱۲۷

الفنتری ورکشاپ EME یونټ آرمي ۱۹۷۲ء ۷/۲

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (هو المختار) وقيل الافضل الترك ترخيصا وقيل الفعل تقربا وقال الهندواني الفعل حال النزول والترك حال السير وقيل يصلي سنة الفجر خاصة وقيل سنة المغرب ايضا بحر قال في شرح المنية والاعدل ماقاله الهندواني، قلت والظاهر ان معنى المتن هو هذا وان المراد بالامن والقرار النزول وبالخوف والفرار السير. رد المحتار حاشية الدر المختار ص۵۵۵ جلد ۱ مطلب في الوطن الاصلي ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

الجواب: (الف) واضحه دې وی که تاسو کښې څوک امام یا سپاهی یا افسر د هغه چاونړو نه راغلې دی چه د محاذ او کیمپ نه ۴۸ میله فاصله باندې دی نو هغوی به قصر کوی اوچه کوم کسان د نزدې چاونړو نه راغلې دی نو هغوی به اتمام کوی ﴿۱﴾ په ډزبندئ سره دې حکم باندې هیڅ فرق نه پریوځی
(ب) په ښار او د ښار په فناء کښې جمعه کولې شی.﴿۲﴾ لیکن په ځنګل یا بیابآن وغیره کښې د جمعې مونځ کول صحیح نه دې. ددې نه پس په ترتیب سره جوابونه دادی.(۱) نشی کولې ﴿۳﴾ (۲) هیڅ فرق نشته دې کما مرفی الف(۳) په کوم ځائې کښې چه ډیرجماتونه محلې او بازارونه وی او د بانډو نه د ضروریاتو دپاره دلته خلق راځی نو دا ځائې ښار. او غټ کلې دې په دې کښې دجمعې مونځ صحیح دې ګنې نوصحیح نه دې.(۴)﴿٤﴾ نیت او اراده معتبرده اندازه معتبره نه ده﴿٥﴾. (۵) د پورته افسرانو حکم معتبر دې﴿٦﴾
(۶) په شرعی احکاماتو کښې فطرت او مصلحتِ عامهُ باندې نظر وي، په

﴿۱﴾ وفی الهندیة: اقل مسافة تتغیر فیها الاحکام مسیرة ثلاثة ایام کذافی التبیین .
(فتاویٰ عالمگیریة ص۱۳۸ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)
﴿۲﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویشترط لصحتها سبعة اشیاء الاول المصر (او فناؤه). (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۹۰ ، ۵۹۱ جلد ۱ مطلب فی صحة الجمعة بمسجد المرجة والصالحیة فی دمشق باب الجمعة)
﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: والمعتبر نیة المتبوع لانه الاصل لاالتابع کامرأة وفاها مهرها المعجل وعبد غیر مکاتب وجندی اذا کان یرتزق من الامیر. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۸۷ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)
﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: عن ابی حنیفة انه بلده کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)
﴿۵﴾ قال العلامة شرنبلالی: وقصر ان نوی اقل منه ای من نصف شهر لما قدمناه اولم ینو شیئًا وبقی علی ذلک سنین وهو ینوی انه غداً یخرج او بعده لما روی البیهقی باسناد صحیح ان ابن عمر قال ارتج علینا الثلج ونحن باذر بیجان ستة اشهر فی غزاة فکنا نصلی رکعتین (امداد الفتاح شرح نور الایضاح ص۴۶۹ مطلب فیما یشترط لصحةنیة السفر)
﴿۶﴾قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا بد من علم التابع (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

خصوصیت باندې نه وي﴿۱﴾ (۷) هم دغه شان حکم ئې دې ﴿۲﴾ (۸) چه کله به د خپل ځائې او کلی نه بهر کیدل نو دوه رکعته به ئې کول ﴿۳﴾ فقط

په شرعی سفر کښې مسافر باندې قصر واجب او اتمام ممنوع دې او روژه نیول بهتر دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) په شرعی سفر کښې قصر دې که تکلیف او مشقت نه کیدلو په صورت کښې اتمام اوکړی نو آیا دابه جائز وی (۲) که په شرعی سفر کښې مشقت نه وی په ریل گاډې، جهاز وغیره کښې سفر وی نو روژه نیول اولی دی یا نه نیول؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد عبدالله خوشاب پنجاب.... ۱۲۰ رمضان ۱۴۰۸ھ

(بقیه حاشیه) بنیة المتبوع فلو نوی المتبوع الاقامة ولم یعلم التابع فهو مسافر حتی یعلم علی الاصح وفی الفیض وبه یفتیٰ کما فی المحیط وغیره.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۹۹ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة باب صلاة المسافر)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: حتی لو اسرع فوصل فی یومین قصر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۰ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال الشرنبلالی: ولایزال یقصر حتی یدخل مصره او ینوی اقامته نصف شهر ببلد او قریة. (امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ۳۶۸ باب صلاة المسافر)

﴿۳﴾ عن انس قال خرجنا مع رسول الله ﷺ من المدینة الی مکة فکان یصلی رکعتین رکعتین حتی رجعنا الی المدینة قیل له اقمتم بمکة شیئًا قال اقمنا بها عشراً متفق علیه، وعن ابن عباس قال سافر النبی ﷺ سفراً فاقام تسعة عشر یوماً یصلی رکعتین رکعتین قال ابن عباس فنحن نصلی فیما بیننا وبین مکة تسعة عشر رکعتین رکعتین فاذا اقمنا اکثر من ذلک صلینا اربعاً رواه البخاری.

(مشکواة المصابیح ص ۱۱۸ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

الجواب: د مسافر د پاره قصر کول واجب دی او اتمام ممنوع دي ﴿۱﴾ او د عدم مشقت په وخت کښې افطار جائز دې او روژه نیول بهتر دی ﴿۲﴾ (بحر ص ۲۸۲ و شامي) وهو الموفق

د چا دوه وطنه کیدلو صورت کښې د قصر د مونځ مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید په دوه وطنونو کښې رهائش اختیار کړې دې. یو د یخنۍ د رهائش د پاره او بل د ګرمۍ د پاره اوس د ګرمۍ والا وطن نه یخنۍ والا وطن ته د څه ضرورت د پاره راغې نو آیا دې به مسافر وی یا نه؟ او قصر به کوی یا اتمام؟ بینوا توجروا

سائل: محمود الحسن کوټکی ډی آئی خان

الجواب: دا دواړه وطنو نه به پخپل حالت باندې وي. د سفر په وجه به نه باطلیږی.

کمافی البحر ص ۱۳۶ جلد ۲ وکثیر من المسلمین المتوطنین فی البلاد ولهم دور وعقار فی القریٰ البعیدة منها یصیفون بها بأهلهم ومتاعهم فلا بد من حفظها انهما وطنان له لا یبطل احدهما بالآخر ﴿۳﴾ . وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة حصکفی: صلی الفرض الرباعی رکعتین وجوبا لقول ابن عباس ان الله فرض علی لسان نبیکم صلاة المقیم اربعا والمسافر رکعتین ، قال ابن عابدین (قوله وجوباً فیکره الاتمام عندنا حتی روی عن ابی حنیفة انه قال من اتم الصلاة فقد اساء وخالف السنة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۵۸۰ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: (قوله وللمسافر وصومه احب ان لم یضره) ای جاز للمسافر الفطر لان السفر لا یعری عن المشقة فجعل نفسه عذرا بخلاف المرض لانه قد یخف بالصوم فشرط کونه مفضیا الی الحرج وانما کان الصوم افضل ان لم یضره لقوله تعالیٰ وان تصوموا خیرلکم ولان رمضان افضل الوقتین فکان فیه الاداء اولی ولا یرد علینا القصر فی الصلوٰت فانه واجب حتی یأثم بالاتمام. (بحرالرائق ص ۲۸۲ جلد ۲ فصل فی العوارض)

﴿۳﴾ (البحر الرائق ص ۱۳۶ جلد ۲ باب المسافر)

د مسافر سړی د مونځ په حالت کښې د مقیم کیدو دپاره د نیت مسئله

سوال: جناب مفتی دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک جناب عالي! که د لاندې عبارت پوره مطلب واضحه کړې نو ډیره مهربانی به وی

(الف) که یو مسافر دمونځ په حالت کښې د اقامت نیت اوکړی برابر خبره ده چه په اول کښې وی یا په مینځ کښې یا په آخر کښې لیکن د سجده سهو یا سلام نه مخکښې وی نو هغه د پاره دغه مونځ پوره کول پکار دی قصر پکښې جائز نه دې (بهشتی زیور)

(ب) آؤ که د مونځ وخت تیریدلو نه پس نیت اوکړی یا د لاحق کیدلو په حالت کښې نیت اوکړی نو دهغه د نیت اثر به په دې مونځ کښې نه ښکاره کیږی او که دا مونځ د څلور رکعتو والا وی نو دده دپاره به پکښې قصر واجب وی.

مثال نمبر۱: یو مسافر د ظهر مونځ شروع کړو د یو رکعت کولو نه پس ئې د اقامت نیت او کړو نو دا نیت به په دې مونځ کښې اثر نه کوی او دا مونځ قصر سره کول پکار دی.

مثال نمبر ۲: یو مسافر د بل مسافر مقتدی شو او لاحق شو بیا ئې خپل پاتې شوې رکعتونه اوکړل او د اقامت نیت ئې اوکړو نو ددې نیت اثر به په دې مونځ باندې بالکل نه پریوځی او که دا مونځ د څلورو رکعتونو والا وی نو دا به قصر سره کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید شهر لوئې جنوبی وزیرستان.... ۳۰\۱جنوری ۱۹۷۵

الجواب: دا عبارتونه بالکل واضح دی تاسو یو مقامی عالم ته رجوع اوکړئ وهوالموفق

مسافر به د مقیم په اقتداء کښې څلور رکعته کوی

سوال: څه فرمائی علماء کرام ددین شرع متین په دې مسئلې باره کښې چه مسافر کله دمقیم امام اقتداء اوکړی نو څو رکعته به اداکوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اسماعیل ملاکنډ ایجنسی

جواب: دا مسافر به د مقیم په شان مونځ کوی(۱) د اقتداء په وجه به دده مونځ د دوؤ په ځائې څلور رکعته وی

ونظيره نية الاقتداء قبل التحريمه فافهم﴿۲﴾. وهوالموفق

په هندوستان کښې د قید پاکستانی قیدیانو د مونځ مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ دلته په هندوستان کښې دقید کیدلو د ورځې قصر کوو چه دهغې فتوی مونږ ته د مکتبه دیوبند سهارنپور نه سید احمد صاحب راکړې وه. یو څو ورځې اوشوې چه د پاکستان نه یو مولانا صاحب په خط کښې د پوره مونځ کولو تلقین کړې چه په هغې کښې څه علمی یا عقلی دلیل نشته نو زمونږ په ذهنونو کښې شکونه پیدا شوی دی. او زمونږ پوزیشن دادې چه مونږ د تارونو په مینځ کښې اوسیږو چه په هغې باندې څلور واړو طرفونو ته د وسلې نه ډک فوجیان ولاړ دي. د ورځې مونږ په خپله احاطه کښې ګرزو راګرزو چه تقریباً ۴۰۰ ګزه اوږده او ۱۵۰ ګزه پلنه احاطه ده لیکن د شپې په هر قسم حرکت باندې پابندی ده تر دې چه متیازې وغیره هم مونږ د پارک سره یو مخصوص ځائې کښې کوو. چه هغه صرف د شپې دپاره جوړ کړې شوې دې. ددینه علاوه د خوراک څښاک آزادی ده. د اوسیدلو دپاره خیمې دي، د لامبلو د پاره ښه مزیدار انتظام دې داټول ځیزونه په مخه کښې ساتی او زر تر زره مو د خپلې رائې نه خبر کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالرحیم جنګی قیدی انډیا . اګست ۱۹۷۳

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: واما اقتداء المسافر بالمقیم فیصح فی الوقت ویتم. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۴ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امین: قوله (نية المؤتم) ای الاقتداء بالامام او الاقتداء به فی صلاته او الشروع فیها او الدخول فیها بخلاف نية صلاة الامام وشرط النية ان تکون مقارنة للتحریمة او متقدمة علیها بشرط ان لا یفصل بینها وبین التحریمة فاصل اجنبی. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۴۰۷ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: واضحه دې وی چه تاسو کښې کوم کسان چرته په آبادۍ کښې په جیل کښې وی نو هغوی دې څلور رکعته ادا کوی.

لانهم محبوسون لمدة زائدة على الاسبوعين فى ارادة الهنود كما لا يخفىٰ على من راجع الىٰ تاريخ المذاكرات﴿۱﴾

او چه کوم کسان صحرائی کیمپونو کښې ګیر دی او دهغوی په هغه افسر چه د هندوستانی حکومت د طرفنه دصحرائی قیدیانو په نقل و تحویل باندې مقرر وی چرته په آبادۍ کښې مقیم وی نو بیا به هم څلور رکعته کول ضروری وی. او که افسر ددوی سره په صحرا کښې اوسیږی او مسافروی نو په دې صورت کښې به دوه رکعته کول ضروری وی.

ويدل عليه مافى الهندية ص ۱۳۹ جلد ۱ فيصير الجندى مقيما فى الفيافى بنية اقامة الامير فى المصر كذا فى الكافى﴿۲﴾. وهوالموفق

د وطن اقامت نه د سفر شروع کولو په صورت کښې به قصر کوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یوې لارئې ډرائیور دې دا ډرائیور چه د کوم کلي نه لارئی چلوی. هغه د ډرائیور خپل کلی هم نه دې بلکه د دې لارئی دکلی او د ډرائیور د کلی په مینځ کښې د سفر هومره مزل دې، اوس دا ډرائیور کله کله کلی ته هم راځی نو دا ډرائیور به ددغې لارئ والا په ځائې کښې قصر کوی که اتمام؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالله مدرس مفتاح العلوم هنګو........ ۲۱۱۲۱۱۹۷۳

الجواب: واضحه دې وی چه دا مقام ددې ډرائیور دپاره وطن داقامت دې په دې شرط چه په دې کښې دهٔ داقامت په نیت پنځلس ورځې تیرې کړې وی نو لکه څنګه چه د وطنِ اصلی نه د سفرپه مقدار راتهٔ څلویښت میله، نیت سره سرې

﴿۱﴾ قال العلامة شرنبلالى: ولا تصح نية الاقامة لعسكر نا بدارالحرب ...... ولا تصح نية الاقامة لعسكرنا بدارنا فى حال محاصرة عسكرنا اهل البغى لان حالهم يخالف عزيمتهم للتردد بين القرار و الفرار ...... فافاد مفهومه انه اذا كانت المحاصرة بمصر صحت نية الاقامة. انتهىٰ. (امداد الفتاح شرح نورالايضاح ص ۴۷۰ جلد ۱ قبيل مطلب فى اقتداء المسافر بالمقيم)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ص ۱۴۱ جلد ۱ الباب الخامس عشر فى صلاة المسافر)

مسافر جوړيږي نو دغه شان به د وطن اقامت نه هم د دومره مقدار په نيت سره مسافر ګرځي.

ولايضر قطع المسافة فى اقل من ثلثه ايام فى الهنديه ص۱۳۸ جلد ۱ ولو كانت المسافة بالسير المعتاد فسار اليها على الفرس جريا حثيثا فوصل فى يومين او اقل قصر كذا فى جوهرة النيره﴿ ۱ ﴾. وهوالموفق

په ابادئ کښې به مقيم قيديان اتمام کوي.

سوال: محترم مفتي ! جامعه دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک پاکستان دسلام نه پس ستاسو حضراتو يوه فتوى مونږ ته ملاؤ شوه ليکن اختلاف پکښې راغلې ځکه چه تاسو پکښې د (يا) لفظ لګولې دى. منو په لاندينى حالاتو کښې اوسيږو. تاسو ددې مطابق فتوىٰ ورکړئ. دځپلې رائې يا داخبارى خبرونو وغيره په بنا باندې فتوىٰ مه ورکوئ يعنى ځما مطلب دادې چه شايد تاسو به سوچ اوکړئ چه پته نشته چه د هغوى به څه حال وي؟نو حالت دادې چه مونږ د چا ونئ سره يو ځائې اوسيږو. د رڼړا انتظام موجود دې لکه څنګه چه په اسلام آباد کښې دې يعنې تر سحره پورې مونږ موجود دې لکه څګه چه په اسلام آباد کښې دې. يعنى تر سحره پورې مونږ په ځپله بستره کښې قرآن پاک لوستلې شو. او د اوبو دومره انتظام موجود دې. چه يو سړې د پنځو مونځونو د پاره غسل کولې شى. بازار نه د کينټين په ذريعې سره د ژوند ضروريات د خوراک څښاک نه واخلې تر د قرآن پاک جائې نماز او لوټه وغيره راغوښتلو پورې عام اجازت دې د مونځ په وختونو کښې مونږ سره د چاهيڅ کار نه وى بلکه سحر او ماښام صرف لس منټونو دپاره انډيا والا زمونږ تالاشى اخلى. باقى ټوله ورځ مو د قرآن لوستلو نه بغير بل څه کار نه وى دغه شان ځما پنځلس ورځې هم نشته ځکه چه ځما خلاصې يوه مياشت پس ممکن دې ما په صفا الفاظو کښې تاته حالات اوخودل نو ماته هم په صفا الفاظو کښې اوښايئ چه قصر مونځ کووم يا پوره مونځ دغه شان د روژې يا اختړونو او جمعې وغيره څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتى کلرک محمد نثار جنګى قيدى انډيا ..... ۱۵\۳\۱۹۷۳

﴿۱﴾(فتاوىٰ عالمګيرية ص۱۳۹ جلد ۱ الباب الخامس عشر فى صلاة المسافر)

الجواب: محترم المقام السلام علیکم نه پس دې دا خبره واضحه وی چه نه یعنی هغه قیدی چه د چاونئ سره نژدې اوسیږي څلور رکعتونه به کوی او جمعه او اخترونه به هم کوي، او روژه به هم نیسي به تا باندې به د مقیم احکام جاری کیږی. ﴿۱﴾ فقط سلام

د مسافر امام د مقیمینو د پاره څلور رکعته مونځ کول

سوال: حضرت الشیخ مولانا مفتی محمد فرید صاحب مدظله العالی بنده د دعا ګانو طلب کونکې دې، هغه خاص مسئله کښې هم دعاګانې کوئ د لاندینئ مسئلې متعلق جواب مطلوب دې.

مسئله داده چه مسافر امام د مقیمینوته د څلورو رکعتونو والا مونځ اوکړو او په دوو رکعتونو باندې د سلام په ځائې ئې څلور اوکړل نو سوال دادې چه د مقیمینو مونځ اوشو یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبد المالک نریاب متنی کوهاټ...۱۷ جولائی ۱۹۷۹

الجواب: محترم المقام جناب حافظ عبدالمالک سلمه الرحمٰن السلام علیکم: دا خبره دې واضحه وی چه دعا ګو د الله په فضل سره په خیریت دی الله کریم دې تاسو هم په خیریت سره ساتی. او خاص او نیک اولاد نعمتونه دې الله درکړي. آمین. دمسئلې متعلق جواب دادې که چرته دریم رکعت ته د اودریدلو په وخت کښې دغې مقیمینو د انفراد نیت نه وی کړې نو اعاده پرې واجب ده ﴿۲﴾ وهوالموفق

په مسجدالحرام اومسجد نبوی کښې مقیم امام پسې به پوره مونځ کولې شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ په سعودی عرب

﴿۱﴾ وفی الهندیة: فیصیر الجندی مقیما فی الفیافی بنیة اقامة الامیر فی المصر كذافی الكافی. (فتاوئ عالمګیریة ص ۱۴۱ جلد ۱ الباب الخامس عشر فی صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: (لم یصر مقیماً) فلو اتم المقیمون صلوتهم معه فسدت لانه اقتداء المفترض بالمتنفل ظهیریه ای اذا قصدوا متابعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلافساد افاده الخیر الرملی. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۸۳ جلد ۱ باب صلاة المسافر)

کښې ملازمت کوو. د مکې معظمې او مسجد نبوی نه مونږ د سفر شرعی په مقدار نه ډيرلرې يو مکه مکرمه پنځه سوه کلو ميټره او مدينه منوره زر ميله لرې ده چه کله مونږ عمرې د پاره ځو نو د امام سره پوره مونځ کوو. آيا دا صحيح دي؟ بينوا توجروا

المستفتی افضل خان بيشه سعوديه عربيه....١٩٨٥/١١/٦

الجواب: کہ تاسو مسافرينئ نو د مقيم امام پسې به پوره مونځ کوئ او ځانته مونځ کولو کښې به قصر کوئ (١) وهو الموفق

په جيل کښې به قيديان اتمام کوی که قصر

سوال: محترمی ومکرمی جناب حضرت مفتی صاحب زيد مجد کم دارالعلوم حقانيه اکوړه ختک علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې په جيل کښې قيد بعضې خلق هغه وی چه هغوی ته با قاعده د عدالت د طرفنه د سياسی يا اخلاقی دفعاتو مطابق قيد سزا اوروليې شوې وی. داسې کسانو ته قيديان وئيلې شی او بعضې خلق هغه وی چه هغوی ته حوالاتيان وئيلې شی يعنی د هغوی مقدمات اوريدل شروع وی. (يعنی زير سماعت وي) او بعضې د انتظاميې د طرفه د معينې او غير معينې مودې د پاره نظر بند وی. د سياسی دفعاتو په وجه د نيولې شوو کسانو خلاصيدل يا بل جيل ته د بدلولو دارومدار اکثر په حکومتی پاليسو باندې وی نو چه کوم نيولې شوی کسان د سفر مطابق منزل او کړی او راوستلې شی د هغوی د اقامت نيت به صحيح وی يا نه؟ حال دا چه جيل نه د اقامت د اختيارولو ځائې دې او نه ځانله په جيل کښې د معينې مودې څه اختيار وی نو د شريعت په رنړا کښې به په دې صورت کښې د سفر نيت وی که د اقامت نيت به وي؟ بينوا توجروا

المستفتی صاحبزاده عبدالباری جان ناظم اعلی جې يو آئی سرحد

سنټرجيل هرى پور ايبټ آباد ١٩٨٣/٨/٢

---

(١) قال العلامة مرغينانی: (وان اقتدی المسافر بالمقيم فی الوقت اتم اربعا) لانه يتغير فرضه الی اربع للتبعية کما يتغير بنية الاقامة لاتصال المغير بالسبب وهو الوقت. (هداية علی صدرفتح القدير ص ١٢ جلد ٢ باب صلاة المسافر)

الجواب: دا نیولې شوی کسان د چا متعلق چه استفتاء کړې شوې ده دوی به اتمام کوی ځکه چه د جیل هغه لوئې افسر چه د یو جیل نه بل جیل ته د بدلولو اختیار لری هغه مقیم وی. وقالوا المعتبرنية المتبوع دون التابع كالاسير والغريم(۱) البته که د دغې افسر نیت نا معلومه وی نو د صحیح ترین قول مطابق به دا نیولې شوې کسان قصر کوی

کمافی شرح التنویر علی هامش الشامیة ص ۵۵۸ جلد ۱ ولا بد من علم التابع بنية المتبوع فلو نوى المتبوع الاقامة ولم يعلم التابع فهو مسافر حتى يعلم وهو الاصح وبه يفتی(۲). وهو الموفق

د مونځ په حالت کښې دا قامت د نیت مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) که یو مسافر د مونځ په حالت کښې د اقامت نیت اوکړی خواه هغه په اول کښې وی یا مینځ کښې یا آخر کښې، لیکن سجده سهو یا سلام نه مخکښې نو ده له هغه مونځ پوره کول پکار دی په هغې کښې قصر جائز نه دې؟ (۲) اوکه د مونځ وخت تیریدلو نه پس نیت اوکړی یا د لا حق کیدلو په صورت کښې نیت اوکړی نو د هغه د نیت اثر به په دې مونځ کښې نه ښکاره کیږی او که دا مونځ د څلورو رکعتونو والا وی نو دده دپاره به پکښې قصر واجب وی

مثال نمبر۱: یو مسافر د ظهر مونځ شروع کړو د یو رکعت کولو نه پس وخت تیرشو او د هغې نه پس ده د اقامت نیت اوکړو نو د ا نیت به په دې نهمونځ کښې اثر نه کوی او دا مونځ وړله په قصر سره کول پکار دی

مثال نمبر۲: یو مسافر د بل مسافر مقتدی شو او لاحق شو بیائې خپل شوې رکعتونه اوکړل او د اقامت نیت ئې اوکړو نو ددې نیت اثر به په دې مونځ باندې بالکل نه پریوځی اوکه دا مونځ د څلورو رکعتونو والا وی نو دا به قصر کوی دا مسئلې د بهشتې زیور نه اخستې شوې دی په دې کښې دویم مثال د اولنی مثال سره متعارض معلومیږی نو په دې نقطې باندې مونږ پوهه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالحمید وزیرستانی ۱۹۷۵/۵/۱۹

---

(۱) (الدر المختار ص ۵۸۷ جلد ۱ مطلب فی الوطن الاصلی ووطن الاقامة)

(۲) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۸ جلد ۱ قبیل باب الجمعة)

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم د السلام علیکم نه پس جواباً عرض دي چه تا د بهشتي زیور په عبارت غور نه دي کړي په دې وجه ته په پریشانئ کښې مبتلا ئې په دې عبارت کښې دي چه د مثال نمبر ۲ او نمبر ۱ د هغه مسافر په حق کښې دي چه یو رکعت کولو نه پس نیت اوکړی لیکن د وخت تیریدلو نه پس به دا نیت غیر موثر (بې اثره) وی ځکه چه کله دا سړې د ظهر د آخری لمحو پورې مسافرپاتې شو نو دده فریضه د دوه رکعتو ثابته مستحکمه شوې ده.باقی مونځ کوم چه د عصر په وخت کښې ادا کولې په هغې کښې د اقامت نیت په ماضی کښې مؤثر نه شی ګرزیدلې ﴿۱﴾ وهو الموفق

د حنبلی مسافر اقتداء کښې د حنفی مسافر اتمام کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د عربو تبلیغی جماعت زمونږ ښار ته راغلې وو بیا دوه ورځو دپاره د اهل حدیثو جمات ته لاړلو . اهلِ حدیث والو د اکرام او عزت په طور یو کس امامت ته وړاندې کړو او د مسافر کیدو باوجود ئې اتمام اوکړو آیا زمونږ حنفی مسلک والو باندې قصر واجب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سرور کهلول ډیره غازی خان ۱۹۸۹|۸|۱۲

الجواب: صرف د احنافو په نزد په مسافر باندې قصر واجب دې (لدلائل قد فصلت فی موضعها)﴿۲﴾ اود نورو امامانو په نزد اتمام هم جائزدې لهٰذا په تاسو

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: و اقتداء المسافر بالمقیم یجوز فی الوقت ولا یجوز فی خارج الوقت عندنا لان فرض المسافر قد تقرر رکعتین علی وجه لا یحتمل التغیر بالاقتداء بالمقیم فکانت القعدة الاولیٰ فرضا فی حقه فیکون هذا اقتداء المفترض بالمتنفل فی حق القعدة وانه لا یجوز علی اصل اصحابنا. (بدائع الصنائع ص ۲۰ ۲ جلد ۱ احکام المسافر)

﴿۲﴾ وفی المنهاج : والقصر واجب عندنا وهو روایة عن مالک واحدی روایتی احمد وهو مذهب جمهور الصحابة والتابعین، ویقال له قصر اسقاط وقال ابن القیم انه لم یثبت عنه ﷺ انه اتم الرباعیة فی سفره البتة، انتهیٰ ومارواه الشافعی..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

باندې اعاده ضروری نه ده. وجه داده جه د امذ هبونه د خلفائي راشدینو په زمانه کښې هم موجود وو او په مخالفت کونکی باندې انکار مروی دې لیکن اعاده مروی نه ده.

کما انکروا علی امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضی الله عنه اتمامه ولم یرو عن المنکرین الاعادة ﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) انه علیه السلام اتم ففی سنده طلحة بن عمرو وهو متروک، و کذلک ماروی فی شرح السنة ففی سنده ابراهیم بن یحیٰ وهو لین الحدیث. والقصر والاتمام کلاهما جائزان وهو مذهب مالک وهو قول احمد الاخر وهو مذهب الشافعی والقصر افضل فی مواضع الخ. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۷۹ جلد۳ ابواب السفر)

﴿۱﴾قال العلامة الکاسانی: وروی ان عثمان رضی الله عنه اتم الصلاة بمنی فانکر علیه اصحاب رسول الله ﷺ حتی قال لهم انی تأهلت بمکة وقد سمعت رسول الله ﷺ یقول: من تاهل بقوم فهم منهم، فدل انکار الصحابة واعتذار عثمان ان الفرض ما قلنا اذ لوکان الاربع عزیمة لما انکرت الصحابة علیه ولما اعتذر هو اذ لایلام علی العزائم ولا یعتذر عنها. (بدائع الصنائع ص ۲۵۹ جلد۱ الکلام فی صلاة المسافر)

فتاوى ديوبند پاكستان المعروف به

فتاوى فريديه دريم جلد

باب صلوة الجمعة

بسم اللہ الرحمن الرحیم

قال اللہ تعالٰی

یٰٓاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ

یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ ط

ذٰلِکُمْ خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۞

(النساء)

باب صلاة الجمعة

د جمعې مونځ فرض عین دې او ددې د فرضیت نه منکر کافر دې

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې د جمعې په مونځ کښې اختلاف دې چه آیا د جمعې مونځ فرض دې یا واجب دې؟که فرض وی نو ددې منکر کافر دې یا نه؟اوکه واجب وې نو د واجبو نیت ولې نشی کولې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فیض الله متعلم دارالعلوم حقانیه...... ۱۷\۲\۱۱۹۲۹

الجواب:د جمعې مونځ فرض عین دې ددې دفرضیت نه منکر کافر دې.

فی الدرالمختار: هی فرض عین یکفر جاحدها بالدلیل القطعی کما حققه الکمال﴿۱﴾. وهوالموفق

د جمعې په ورځ د نیکو اعمالو فضلیت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې آیا د جمعې په ورځ د نیکو اعمالو ثواب د نورو ورځو په نسبت سره ډیر وې؟بینوا توجروا

المستفتی عبدالحق ابو سوات ...... رمضان ۱۴۰۹ه

الجواب اجمالی طور دا مسئله مروی ده. ﴿۲﴾ البته تخصیص ﴿۲﴾ بلامخصص مکروه دې.(وکم من فرق...

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۸۹ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾عن اوس بن اوس قال قال رسول الله ﷺ ان من افضل ایاکم یوم الجمعة فیه خلق آدم وفیه قبض وفیه النفخة وفیه الصعقة فاکثروا علی من الصلوة فیه فان صلوتکم معروضة علی قالوا یا رسول الله وکیف تعرض صلاتنا علیک وقدارمت قال یقولون بلیت قال ان الله حرم علی الارض اجساد الانبیاء رواه ابوداؤد والنسائی وابن ماجة والدارمی والبیهقی (مشکواة المصابیح ص ۱۲۰ جلد ۱ باب الجمعة) ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

بين الفضيلة والتخصيص(۱)وهوالموفق

د جمعې په ورځ د بعضې عملونو په کولو کښې د ثواب زیاتوالې او د جمعة الوداع مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) چه آیا د جمعې په ورځ داعمالو ثواب د نورو ورځو نه زیات وی (۲) آیاجمعه الوداع ته په نورو جمعو باندې داسې فضیلت حاصل دې لکه څنګه چه ته د هفتې په نورو ورځو باندې؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالحق ابوها سوات......۱۷\رمضان\۱۳۹۹ هـ

(بقيه حاشيه)وفى المنهاج: اعلم ان الحديث يدل على ان افضل الايام يوم الجمعة وبه قال احمد وبه جزم ابن العربى ،وقيل يوم عرفة افضل لحديث ابن حبان عن جابر قال قال رسول الله ﷺ ما من يوم افضل عند الله من يوم عرفة وبه اخذت الحنفية وهو اصح الوجهين عند الشافعية، وثمرة الاختلاف فى النذر فى افضل الايام والطلاق فيه، وحديثنانص على المرام من حديث الباب، و كذا من حديث عبد الله بن قرط عند ابن حبان ان النبى ﷺ قال افضل الايام عند الله تعالىٰ يوم النحر ، وقد جمع الحافظ العراقى بينها فقال المراد تفضيل الجمعة بالنسبة الى ايام الجمعة، وتفضيل يوم عرفة او يوم النحر بالنسبة الى يام السنة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۰ جلد۳ باب فضل يوم الجمعة)

﴿۱﴾ وفى المنهاج: قال صاحب البحر فى اثناء الرد على من جوز التكبير سرا يوم الفطر، ولان ذكر الله اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف الموضوع، وقال نافلاعن الغاية ولا يكبر فى طريق المصلى عند ابى حنيفة اى حكما للعيد ولكن لو كبر لانه ذكر الله تعالىٰ يجوز ويستحب انتهىٰ، فلا بد من ابداء الفرق بين الاتيان بعبادة فى يوم الجمعة وليلتها حكما لهما وبين الاتيان بها فيهما لا حكما لهما فان مالا يدرك كله لا يترك كله، وائمة مساجد هذا العصر مبتلون بالاولىٰ فالى الله المشتكىٰ.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۴ جلد۳ باب ماجاء فى صوم يوم الجمعة)

الجواب: (۱) بعضې اعمال چه هغه ابن القیم په زاد المعاد کښې ذکر کړی دي، ثواب ئې زیات دې لکه درود شریف وغیره. ﴿۱﴾ (۲) جمعة الوداع یو عوامي نوم دې اسلامي نوم نه دې. ﴿۲﴾ .وهوالموفق

د جمعې دمونځ نه پس جهري ذکر کول بدعت نه دې البته په بعضې صورتونو کښې مکروه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د جمعې دمونځ نه پس د کلمه طیبه ذکر په اوچت آواز سره کول بدعت دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي عزیز قریشي کهوټه......... ۱۶\۱۱\۱۹۷۶

الجواب: واضحه دې وی چه بدعت احداث فی الدین ته وائی یعنی غیردین ته

﴿۱﴾ قال ابو عبد الله ابن القیم الجوزیة: وکان من هدیه ﷺ تعظیم هذا الیوم وتشریفه وتخصیصه بعبادات یختص بها عن غیره...... وکان ﷺ یقرأ فی فجره بسورتی الٓم تنزیل وهل اتی علی الانسان ...... الخاصة الثانیة استحباب کثرة الصلاة فیه علی النبی ﷺ وفی لیلته لقوله ﷺ اکثروا من الصلاة علی یوم الجمعة ولیلة الجمعة ورسول الله ﷺ سید الانام ویوم الجمعة سید الایام فللصلاة علیه فی هذاالیوم مزیة لیست لغیره...... فاعظم کرامة تحصل لهم فانما تحصل یوم الجمعة فان فیه بعثهم الی منازلهم وقصورهم فی الجنة وهو یوم المزید لهم اذا دخلوا الجنة وهو عید لهم فی الدنیا.

(زاد المعاد فی هدی خیر العباد ص ۱۲۶ جلد۱ فصل فی تعظیم یوم الجمعة)

حاشیه نمبر۲ ص۱۰۲: علامه عبدالحیٔ لکهنوی ﷫ فرمائی د خطبه وداع اهتمام کول لکه چه په دې زمانه کښې مروج دي او دا د التزام حد ته رسول د ابتداع نه خالي نه ده. معتمدین علماؤ باندې لازم دی چه ددې طریقې التزام پریږدی چه عوام ددې د مستحب او سنت بلکه ضروری ګڼړلو د عقیدې نه خلاص شی

(مجموعة الفتاوٰی ص ۱۷۹ جلد۲ کتاب الحظر والاباحة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن رجب الحنبلی: والمراد بالبدعة ما احدث مما لا اصل له فی الشریعة یدل علیه واما ما کان له اصل من الشرع یدل فلیس ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دین وئیل. او د جهری ذکر غیر دین کیدل نه مبرهن او نه مسلم بلکه ذکر بالجهر مستحب دی.

کما فی ردالمحتار ص٢١٨ جلد١ وفی حاشیه الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا وخلفا علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم

(بقیه حاشیه)بدعة شرعا وان کان بدعة لغة (جامع العلوم والحکم ص ٢٣٣) وقال القرطبی: کل بدعة صدرت من مخلوق فلا یخلوا ان یکون لها اصل فی الشرع اولا فان کان لها اصل کانت واقعة تحت ما ندب الله الیه وحفن رسوله الیه فهی فی حیزالمدح وان لم یکن مثاله الخ(احکام القرآن للقرطبی ص٨٧ جلد١ بقرة) قال الملاعلی قاری: قال النووی البدعة کل شئ عمل علی غیر مثال سبق وفی الشرع احداث ما لم یکن فی عهد رسول اللهﷺ (مرقاة ص٢١٦ جلد٢) قال الامام الغزالی: اذا لم یرد فیه نهی فلا ینبغی ان یسمی بدعة ومکروها ولکنه ترک الاحب وقال الشافعی ما خالف الکتاب والسنة او الاثر او الاجماع فهو ضلالة وما احدث من الخیر مما لا یخالف شیئاً من ذلک فلیس بمذموم (الاحیاء للعلوم الدین ص ٣٣١ جلد٢) قال العزبن عبد السلام الشافعی: البدعة فعل مالم یعهد فی عصر رسول اللهﷺ وهی منقسمة الی بدعة واجبة وبدعة محرمة وبدعة مندوبة وبدعة مکروهة وبدعة مباحة الخ(قواعد الاحکام ص ١٧٢، ١٧٣ جلد٢) قال الشیخ محمد فرید: اعلم ان البدعة هی اعتقاد ما لیس من الدین دینا وهی قسمان مکفرة ومفسقة (فتح المنعم شرح مقدمه مسلم ص ٢٩) وفی مختار الصحاح: البدعة الحدث فی الدین بعد الاکمال ، وفی عمدة القاری: البدعة فی الاصل احداث امر لم یکن فی زمن رسول اللهﷺ ،وفی شرح المقاصد: ان البدعة المذمومة هو المحدث فی الدین من غیر ان یکون فی عهد الصحابة والتابعین ولا دل علیه دلیل شرعی (ضروری مسائل ص ١١)وقال العلامة ابن حجر العسقلانی: والتحقیق انها ان کانت مما تندرج تحت مستحسن فی الشرع فهی حسنة وان کانت من ما تندرج تحت مستقبح فی الشرع فهی مستقبحة والا فهی من قسم المباح وقد تنقسم الی الاحکام الخمسة(فتح الباری ص ٢١٩ جلد٣) قال العلامة ابن عابدین: بدعة ای محرمة والا فقد تکون واجبة — ومندوبة — وکل احسان لم یکن فی الصدر الاول ومکروهة — ومباحة الخ (ردالمحتار ص ٤١٣ جلد١).

علی نائم او مصل او قارئ «۱» لهذا دیته بدعت وئیل صحیح نه دی البته د ایذا او تکلیف رسولو په وخت کښ مکروه دي. «۲» وهوالموفق

ښځو د پاره جمعې له جماتونو ته تلل مکروه دی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نن صبا ښځې هم د جمعې مونځ کولو د پاره راځی ددې څه حکم دې آیا دا جائز دي؟ بینواتوجروا
المستفتی مولوی کرم الهی عثمانی اسلام پوره سرګودها...۱۲۹رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: زنانه له جماتونو ته د مونځ د پاره تلل مکروه او ممنوع دی. «۳» وهوالموفق

«۱» (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۸۸ جلد۱ مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

«۲» قال العلامة جلال الدین السیوطی: انه لا کراهة فی شیئ من ذلک وقد وردت احادیث تقتضی استحباب الجهر بالذکر، واحادیث تقتضی استحباب الاسرار به، والجمع بینهما ان ذلک یختلف باختلاف الاحوال والاشخاص کما جمع النووی بمثل ذلک بین الاحادیث الواردة باستحباب الجهر بقراءة القرآن والاحادیث الواردة باستحباب الاسرار بها...... بعد ذکر احادیث خمس وعشرون قال: اذا تأملت ما اوردنا من الاحادیث عرفت من مجموعها انه لا کراهة البتة فی الجهر بالذکر بل فیه ما یدل علی استحبابه اما صریحا او التزاما کما اشرنا الیه واما معارضته بحدیث "خیر الذکر الخفی" فهو نظیر معارضة احادیث الجهر بالقرآن بحدیث المسر بالقرآن کالمسر بالصدقة وقد جمع النووی بینهما بان الاخفاء افضل حیث خاف الریاء او تأذی به مصلون او نیام والجهر افضل فی غیر ذلک. (الحاوی للفتاوی ۱:۳۷۵، ۳۷۹ نتیجة الفکر فی الجهر فی الذکر)

(ومثله فی سباحة الفکر فی الجهر بالذکر للشیخ عبد الحیٔ فرنجی محلی لکهنوی)

«۳» قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویکره حضورهن الجماعة ولو جمعة وعید ووعظ مطلقا ولو عجوز الیلا علی المذهب.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۴۱۸ جلد۱ باب الامامة)

د جمعې او اختر مونځ به په یوه ورځ باندې ادا کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې دې کال په انګلینډ کښې او خاص کر زمونږ درهائش په اطرافو کښې عیدالاضحی د جمعې په ورځ اوشو اوس بعضې خلق وائی چه د اختر خطبه او د جمعې خطبه په یوه روځ کول نه دی پکار ځکه چه په دی کښې تنګی او حرج دې چه د قربانئ نه به لاوزګار شوې نه وی چه د جمعې مونځ شروع شی په دې وجه اختر یوه ورځ مخکښې یا روستو کول پکار دی غرض دادې چه ددې مسئلې وضاحت او حقیقت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد اعظم بولټن انګلینډ...۱۹۹۹ء۱۵۱۷

الجواب: زمونږ احنافو په نزد د اخترونو او جمعې مونځو نه به دواړه کولې شی او دا د جمهورو مذهب دې. (خلافاً لعطاء) ځکه چه په کومو دلیلونو سره د اختر د مونځ واجب کیدل او د جمعې د مونځ فرض کیدل ثابت دی په هغې کښې هیڅ قید او تخصیص نشته او کوم احادیث چه د جمعې په پریخودلو باندې دلالت کونکې دی هغه رخصت د باندچیانو خلقو د پاره وه ﴿۱﴾ بقرینة ما رواه ابو داؤد وانا مجمعون وللتفصیل موضع آخر﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: اما مذهبنا فلزوم کل منهما قال فی الهدایة ناقلاعن الجامع الصغیر عیدان اجتمعا فی یوم واحد فالاول سنة والثانی فریضة ولا یترک واحد منهما، قال فی المعراج احترز به عن قول عطاء تجزی صلاة العید عن الجمعة ومثله عن علی وابن الزبیر قال ابن عبد البر سقوط الجمعة بالعید مهجور وعن علی ان ذلک فی اهل البادیة ومن لا تجب علیهم الجمعة. (ردالمحتار ص ۶۱۰ جلد ۱ مطلب فی الفال والطیرة باب العیدین)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: (قوله وربما اجتمعا فی یوم واحد فیقرأبهما) فیه رد لزعم الجهال ان اجتماع الخطبتین یکون منحوسا، وفیه حجة علی من قال بتدا خل صلاة الجمعة صلاة العید وهو عطاء، بدلیل ما رواه ابو داؤد من حدیث زید بن ارقم ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کپړې ویستل او صرف څادر تاوځلو سره د جمعې مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که امام قصداً کپړې لرې کړی او صرف څادر د ځان نه تاؤ کړی او د جمعې امامت اوکړی نو آیا دا جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحق ...... ۲۶\۳\۱۹۷۴

الجواب: که په یو صحیح عرض باندې مبنی نه وی نو تارک السنت دې (۱)

(بقیه حاشیه) ومن حدیث ابی هریرة من الرخصة فی ترک الجمعة لمن صلی صلاة العید، والجواب عنه انه حدیث ضعیف فی اسناد حدیث زید بن ارقم ایاس بن ابی رملة وهو مجهول، وفی اسناد حدیث ابی هریرة بقیة وهو متهم بتدلیس التسویة علاانه مضطرب رفعا وارسالاً، وعلی تقدیر تسلیم الصحة یقال انه علیه السلام رخص لاهل العوالی دون اهل المدینة کما فی روایة البیهقی وکما فی المعراج عن علی ان ذلک فی اهل البادیة ومن لا تجب علیه الجمعة، وکما رواه البخاری فی باب مایؤکل من لحوم الاضاحی وما یتزود منها عن عثمان انه قال فی خطبته یا ایها الناس ان هذا الیوم قد اجتمع لکم فیه عیدان فمن احب ان ینتظر الجمعة من اهل العوالی فلینتظر ومن احب ان یرجع فقد اذنت له وروی مثله الحاکم عن الفاروق الاعظم. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۷ جلد۳ باب القرأة فی العیدین)

(۱) قال العلامة سید احمد الطحطاوی : ویکره فی ازار مع القدرة علیها وکذا یکره ان یصلی فی السراویل وحده لما روی ان النبی ﷺ نهی ان یصلی الرجل فی ثوب لیس علی عاتقه منه شئ کذا فی الشرح وظاهر التعبیر بالنهی ان الکراهة تحریمیة. (حاشیه الطحطاوی علی المراقی ص ۲۱۱ باب شروط الصلاة وارکانها)

وقال الحلبی: المستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترک الاستحباب وروی عن ابی حنیفة انه کان یلبس احسن ثیابه للصلوة. (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ص ۳۳۷ فصل فی مایکره فی الصلاة)

د جمعې په ورځ حرمت بیع وغیره د دویم اذان سره ده که د اولنی سره؟

سوال: چه مے فرمایند علماء دین دریں مسئله که درروز جمعه دواذان مےشود، سوال این است که حل وحرمت خرید وفروخت باذان اول حاصل مےشود یاباذان ثانی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی امیر مقام شیرگڑھ مردان

الجواب: این مسئله مختلف فیه است، بعض وقت نزول ایت رانظر مےکنند وحرمت رابر اذان داخلی ومنبری بنا مےکنند، وبعض حکمت رانظر مےکنند وحرمت رابراذان اجماعی بنا مےکنند تا که سماعت خطبه فوت نه شود، وبعض علماء محققین مےگویند که حرمت برمنبری قطعی است وبراجماعی ظنی است، ومختار صاحب الهدایة القول الثانی ﴿۱﴾. فافهم، وهو الموفق

په بانډو کښې د جمعې او ظهر په مینځ کښې د جمعې کولو اجازت نشته بلکه ظهر کول ضروری دي

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زموږ کلې ښار یا لوئې کلې نه دې بلکه بانډه ده دلته د جمعې مونځ صحیح نه دې لیکن د څه مودې نه دلته همیشه د جمعې مونځ کیږي. او وائی چه د جمعې مونځ دې ترتیب سره اداکوئ چه د جمعې په دولسو رکعتونو کښې د فرضونه مخکښې چه کوم څلور رکعته سنت دی په هغې کښې دې د جمعې نوم واخستلې شی او بیا دې دوه رکعته د جمعې فرض د امام سره اداکړی شی بیا به پوره لس رکعته په دې ترتیب سره اداکولې شی لکه چه همیشه د ظهر مونځ لس رکعته

﴿۱﴾قال العلامة المرغینانی: واذا صعد الامام المنبر جلس واذن المؤذنون بین یدی المنبر بذلک جری التوارث ولم یکن علی عهد رسول الله ﷺ الا هذا الاذان ولهذا قیل هو المعتبر فی وجوب السعی وحرمة البیع والاصح ان المعتبر هو الاول اذا کان بعد الزوال لحصول الاعلام به والله اعلم

(الهدایة علی صدر فتح القدیر ص۳۸ جلد۲ باب صلاة الجمعة)

کولې شي آيا دا طريقه د جمعې دادا کولو د پاره صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتي حبيب الله مندوري خيرآباد پشاور

الجواب په دې خلقو باندې د ظهر مونځ باجماعت ادا کول لازمي دي (۱) او په مذکوره طريقې سره ئې په کمال طور سره ذمه نه فارغيږي لهذا په دې کسانو باندې ضروري ده چه يا بيارته ځي او يا دظهرمونځ جمعې سره ادا کوي فقط

د جمعې په ورځ د وعظ اوريدلو د پاره د خپلې محلې په ځاني د بلې محلې جمات ته تلل

سوال علماءِ دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کوهاله بازار د دريائې جهلم په غاړه واقع دې د درياب په دواړو طرفو نو د پاکستان او آزاد کشمير په علاقو کښې مخامخ دوه جماتونه دي د آزاد کشمير د جامع مسجد خطيب خه ش آوازه واعظ او نسبتاً لوئې عالم دې په دې وجه د اکثرو عوامو ځحان د جمعې په ورځ هغې طرفته وي او باقي مونځونه په خپل جمات کښې ادا کوي، سوال دادې چه آيا پورې غاړه جمات ته تلل او د جمعې مونځ ادا کولو والا ګنهګاريږي؟ بينوا توجروا

المستفتي حکيم ډاکټرمحمود احمد ملک قادري کوهاله راولپنډي ۱۹۷۰/۱/۵/۴

الجواب که دې دويم جامع مسجد ته د زوال نه مخکښې تلل وي نو بيا پکښې هيڅ ګناه نشته او که د زوال نه پس وي نو په هغې کښې تفصيل دې يعنې که په دغه دويم جمات کښې وعظ کيږي نو بيا هم تلل مکروه نه دي او که په دواړو کښې بوشان وعظ کيږي نوبيا تلل مکروه وي (في الدرالمختار وکره تحريما للنهي خروج من لم يصل من مسجد اذن فيه جرى على الغالب والمراد دخول

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وفيما ذكرنا اشارة الى انه لا تجوز في الصغيرة التي ليس فيها قاض ومنبر وخطيب كما في المضمرات والظاهر انه اريد به الكراهة لكراهة النفل بالجماعة الا ترى ان في الجواهر لو صلوا في القرى لزمهم اداء الظهر.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۰ جلد ۱ مطلب في صحة الجمعة)

الوقت اذن فيه اولا الا لمن ينتظم به امر جماعة اخرى اوسماع الـوعظ الخ(۱) دا تفصیل هغه وخت دې چه جمات ته د داخلیدو نه پس خی او که اهل محلـه دویم جمات ته دوخت داخلیدلو نه مخکښې ځی نو بهترئه دی په دې شرط چه وخت داخلیدلو نه پس وی او په دې شرط چه په دویم جمات کښې وعظ نه کیږی (واصل المسئلة فى الهندية) (۲) وهوالموفق

د یو سړی په یو وخت کښې درې ځایونو کښې خطبه او جمعه ورکول ممکن غیر واقع دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو وخت یو انسان په درې ځایونو یا درې ښارونو کښې په یو وخت خطبه او جمعه کولې شی یا نه؟ د بنده خپله دا عقیده ده چه دا محال او ممتنع دی په دې باره کښې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالحئ اکبر پوره نوشهره ۲۲/۷/۱۹۹۰

الجواب: دیو سړی په یو ځائې کښې موجود کیدل ممکن بلکه واقع دی او په متعددو ځایونو کښې ئې موجود کیدل ممکن دی ځکه چه لطائفو او د لطائف لطائف تمثل جائز دې لیکن وقوع ئې ناممکن ده (۳) وهوالموفق

﴿۱﴾(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص۵۲۸ جلد۱ باب ادراک الفريضة)

﴿۲﴾ وفى الهندية: دخل مسجدا قد اذن فيه يكره له ان يخرج حتى يصلى فان كان رجلا مؤذنا او امام مسجد وتتفرق الجماعة بسبب غيبته لا بأس بالخروج.
(فتاوى عالمگيريه ص۱۲۰ جلد۱ الباب العاشر فى ادراک الفريضة)

﴿۳﴾ قال العلامة محمد عبد العزيز الفرهاری: وانكر بعض الفقهاء قطع المسافة البعيدة فى المدة القليلة من الولى وعارضه بعض الفقهاء فقال من انكر ذلک كفر مستدلا بهذه القصة ولكن عندنا فى كونها من قطع المسافة نظر لان الظاهر ان آصف احضر العرش بتصرف باطنى لا بان يذهب ويحمله ومن اللطائف ما ذكره بعض الصوفية القائلين بتجدد الامثال فى الاجسام ان عرشها العدم فى سبا وتجدد عند سليمان (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د جمعو تعدد جائز او توحد افضل دی

سوال: علمائي دي دين مسئلي باره کښي څه فرمائی چه په يو کلی کښي په ديرشو جماتو نو کښي جمعه ادا کولی شی آيادا جائز دی. ځکه چه دلته يو سړي بغير د څه ضرورت نه په متعدو جماتونو کښي جمعي کولو ته مکروه وائی او په کراهت کښي د مفتی کفايت الله صاحب الدهلوی فتوی نقل کوی او ددينه علاوه د تعدد په کراهيت باندي دائمه ثلاثه قول هم نقل کوی (ص ۲۴۲ جلد ۳ کفايت المفتی) ستاسو صاحبانو دي باره کښي څه رائي ده؟ بينوا توجروا

المستفتی حافظ مطيع الله خطيب مرکزی مسجد چمن. ۱۵ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: په خيرالقرون کښي توحد معمول دو تکثر نه وو. کما لا يخفی. نو په دي بنا د توحد په افضليت کښي هيڅ خفا نشته. او خاص طور سره د جمعي د مونځ حکمتونه هم په توحد کښي متحقق دی ﴿۱﴾ نو چه کله حاکمان بي دينه

(بقيه حاشيه) عليه السلام والافضل هو الاستدلال بما تواتر عن الاولياء كما فعله الشارح فی التلويح وقال الشيخ ابو عبد الله اليافعی امام مكة ان الشيخ ركن الدين ابالفتح القرشی الملتانی والشيخ نصير الدين سراج الدهلوی يصليان فی المسجد الحرام وامثاله فی تواريخ المشائخ اكثر من ان يحصیٰ.

(النبراس شرح شرح العقائد ص ۲۹۲ بحث كرامات الاولياء حق)

﴿۱﴾ قال الامام ولی الله الدهلوی: وقد تلقت الامة تلقيا معنويا من غير تلقی لفظ انه يشترط فی الجمعة الجماعة ونوع من التمدن وكان النبی ﷺ وخلفاؤه والائمة المجتهدون يجمعون فی البلدان ولا يؤاخذون اهل البدو بل ولا يقام فی عهدهم فی البدو ففهموا من ذلك قرنا بعد قرن وعصراً بعد عصر انه يشترط لها الجماعة والتمدن اقول وذلك لانه لما كان حقيقة الجمعة اشاعة الدين فی البلد وجب ان ينظر الی تمدن وجماعة.

(حجة الله البالغة ۲ : ۳۰ الجمعة)

شی نه پخپله جمعه کوی او نه د هغې اهتمام کوی نو د هغې په ښائحو کښې د جمعو تکثر هم راپیدا شو او د تعدد په جواز باندې فتوی ورکول شروع شول او توسیع پکښې پیدا شوه تر دې چه د تعداد بلا تقید فتوی ورکړې شوه (دفعًا للحرج فليراجع الى رد المحتار ص۱۴۵ جلد۱﴿۱﴾ وهو الموفق

د جمعې په باره کښې د فقهې نه د ناخبره غیر مقلد عجیبه مسئلې

سوال: مخزنِ علومِ سبحانی جناب شیخ الحدیث (د امت فیوضکم) د سلام نه پس عرض دې چه زمونږ ځائې کښې یو عالم عجیبه مسئلې بیانول شروع کړې دی وائی چه په مستوراتو باندې، مسافر باندې، زمیندار باندې پټی کښې، ړونداو مریض باندې په کور کښې بغیر د خطبې نه جمعه فرض ده. او دوه رکعته به ادا کوی. او بالغرض که د چا نه جمعه او شوه نو بیا به هم د ظهر په ځائې دوه رکعته د جمعې کوی دغه شان دا عالم د فقهې او ائمه مذهب نه منکر دې او ټولې حوالې د ترمذی شریف. بخاری شریف او مسلم شریف ورکوی. مهربانی اوکړئ مونږ زر ددې مسئلو په باره کښې خبرکړئ ځکه چه انتهائی د شر او فساد خطره ده؟ بینوا توجروا

المستفتی مرزاګل صاحب الحق وارړی ریاست دیر ۱۵ ذی قعده ۱۳۸۹ھ

الجواب دا سړې چرته غیرمقلد دې دده په بیان کړی مسئلو باندې تاسو عمل مه کوئ په دې خلقو کښې نه بخپله د تحقیق اهلیت وی او پکښې به نورو علماؤ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: فقد ذكر الامام السرخسي ان الصحيح من مذهب ابي حنيفة جواز اقامتها في مصر واحد في مسجدين واكثر وبه ناخذ لاطلاق لا جمعة الا في مصر شرط المصر فقط وبما ذكرنا اندفع ما في البدائع من ان ظاهر الرواية جوازها في موضعين لا في اكثر وعليه الاعتماد فان المذهب الجواز مطلقا بحر (قوله دفعا للحرج) لان في الزام اتحاد الموضع حرجا بينا لاستدعائه تطويل المسافة على اكثر الحاضرين ولم يوجد دليل عدم جواز التعدد بل قضية الضرورة عدم اشتراطه لا سيما اذا كان مصرا كبيرا كمصرنا كما قاله الكمال.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۵، ۵۹۶ جلد ۱ باب الجمعة)

باندې اعتماد وی دده نه تاسو تپوس اوکړئ چه په حدیث شریف کښې دا حقیقت ثابت دې چه پیغمبر علیه السلام په عرفات کښې د ظهر مونځ ولې اداکړې وو. او د جمعې مونځ ئې نه وو کړې او حال دا چه دغه د جمعې ورځ وه دغه شان پیغمبر علیه السلام فرمائیلی دي. (لاجمعة الافی مصر جامع روی مرفوعًا وموقوفاً وهوالاصح لاکنه فی حکم المرفــوع) ﴿۱﴾ددې حدیث نه ولې اعراض کوئ خلاصه دا که ددوې سره څه دلیل وی نو هغه اولیکئ مونږ ته نې راولیږئ چه مونږ ئې مکمل جوابونه اولیکو.

که د جمعې بندولو په صورت کښې د فتنې او فساد او د خانه جنګئ خطره وی نو جمعه به نشی بندولې

سوال: علمائې دین دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ متعلقه باندو کښې یو ځائ شارکول دی چه د هغې آبادی پنځلس سوه کسانو باندې مشتمل ده. او درې جماتونه دی. جمعه د پخوانه جاری ده. اوس بعضې خلق وائی چه دلته جمعه نه کیږی. نوآیا دلته د جمعې مونځ صحیح دې؟ او د جمعې بندولو کښې د فتنې او فساد او د خانه جنګئ حطره ده نو آیا جمعه به بندولې شي؟بینوا توجروا

المستفتی: مولانا حبیب الرحمان هائی بالا مانسهره. ۱۲۱\شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: په دې شارکول مقام کښې ظاهری طورسره دجمعې مونځ کول صحیح

﴿۱﴾ قال ابن الهمام: رفعه المصنف و انما رواه ابن ابی شیبة موقوفا علی علی رضی الله عنه لا جمعة و لا تشریق و لا ..... صححه ابن حزم ورواه عبد الرزاق من حدیث عبد الرحمن السلمی عن علی رضی الله عنه (فتح القدیر ص ۲۲ جلد ۳) وفی هامش البدائع: اخرجه عبد الرزاق فی مصنفه ص ۱۰۱ جلد ۲ والبیهقی فی السنن الکبریٰ ص ۱۷۹ جلد ۳ (بدائع الصنائع ص ۵۷۷ جلد ۱) وقال العلامة شرنبلالی: ذکره الزیلعی وغیره قال الکمال: وکفی بقول علی رضی الله عنه قدوة ورفعه صاحب الهدایة الی النبی ﷺ وصححه ابن حزم ولم ینقل عن الصحابة رضی الله عنهم انهم حین فتحوا البلاد اشتغلو بنصب المنابر والجمع الا فی الامصار دون القری ولو کان لنقل ولو احادا فلا بد من الاقامة بمصر.
(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ص ۵۵۱ جلد ۱)

نه دی. (لعدم كونه مصرًا ولافنائه ولا قرية كبيرة فيها اسواق) ﴿۱﴾ البته که د جمعې مونځ بندولو کښې فتنه فساد او د خانه جنګئ خطره وی نو جُمعه به نشی بندولې. (ونظيره مافى شرح التنوير من عدم منع العوام من الصلاة وقت الشروق ﴿۲﴾ وهوالموفق

په یوجمات کښې د جُمعې مونځ پریخودونه پس بیا شروع کول مباح دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې زمونږ کلی به مخکښې درې ځایه دجُمعې مونځ کیدلو بیا دجماتونو امامانو خپل مینځ کښې مشوره اوکړه آئنده د پاره ئې یو ځائې کښې د جمعې د مونځ فیصله اوکړه. یو امام خپل قوم ته اووئیل که د جُمعې مونځ یو ځائې کښې اوکړې شی نو ښه ده ګنې نو څه دلته یواځې نه کووم. اوس دوه ځایه کښې دجُمعې مونځ کیږی لیکن دکوم قوم په جمات کښې چه د جُمعې مونځ پریخودې شوې دې دهغه ځائې صرف درې څلورسړی د جمعې مونځ د پاره بل جمات ته ځی باقی کسان جمعه نه کوی اوس د قوم په اصرار باندې په دویم ځل د غه جمات کښې د جُمعې مونځ بحال کول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ظاهر میرانشاه.........ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: که دا ځائې شرعې ښار وی نو په دیکښې د جمعې مونځ جائز دې برابره خبره ده که په یو جمات کښې وی یا ګڼرو کښې وی. (الدرالمختار مع رد المختار) ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال العلامة مرغيناني: لا تصح الجمعة الا في مصر جامع او في مصلى المصر ولا تجوز في القرئ لقوله عليه السلام لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا اضحى الا في مصر الجامع الخ. (هداية على صدر فتح القدير ص ۲۲ جلد ۲ باب الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلائي: مع شروق الا العوام فلايمنعون من فعلها لانهم يتركونها والاداء الجائز عند البعض اولىٰ من الترک كما في القنية.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۲۷۳ جلد ۱ مطلب يشترط العلم بدخول الوقت)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وتؤدى في ---- (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

او چرته په يو جمات کښې د جمعې مونځ کول او بيا په دويم ځل فاتحول نه مطلوب شرعي دی او نه ممنوع شرعي دی او که داخانې شرعي ښار نه وی نو په ټولو جماتونو کښې جمعه بندول ضروري دی (الا عند تحقق الضرورة الشرعية. وهوالموفق

دجمعې د آخرې دوه رکعتونو سنتود تاکيد اوعدم تاکيد او د نيت مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د جمعې آخرنی دوه رکعته سنت مؤکده دی يا غير مؤکده؟ او په نيت کښې به جمعه وايو يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالرؤف نديم متعلم اسلاميات هائی سکول صوابي

الجواب: دا دوه رکعته د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد سنت زائده دي. او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد سنت مؤکده دی (کمافی شرح الکبير ص۳۲۷)﴿۱﴾ پس چه څوک ددې نه مخکښې څلور رکعته د ظهر فرض احتياطا کوی نو هغه دې د سنت الوقت نيت کوی (کمافی ردالمحتار ص۵٤۳ جلد۱)﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقيه حاشيه) مصر واحد بمواضع کثيرة مطلقا على المذهب وعليه الفتوى، وقال ابن عابدين: ان الصحيح من مذهب ابی حنيفة جواز اقامتها فی مصر واحد فی مسجدين او اکثر وبه ناخذ لاطلاق لا جمعة الا فی مصر شرط المصر فقط. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص٥٩٥ جلد١ قبيل مطلب فی نية آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

﴿۱﴾ قال العلامة الحلبی: والسنة قبل الجمعة اربع وبعدها اربع...... وعند ابی يوسف السنة بعد الجمعة ست رکعات وهو مروی عن علی رضی الله عنه والافضل ان يصلی اربعا ثم رکعتين للخروج عن الخلاف. (غنية المستملی ص ۳۷۳ فصل فی النوافل)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ونقل المقدسی عن المحيط کل موضع وقع الشک فی کونه مصرا ينبغی لهم ان يصلوا بعد الجمعة اربعا بنية الظهر احتياطا حتى انه لو لم تقع الجمعة موقعها يخرجون عن عهدة فرض الوقت باداء الظهر.

(ردالمحتار ص٥٩٦ جلد١ مطلب فی نية آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

د جُمعې نه پس څلور رکعته سنت کافي او شپږ رکعته بهتر دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جُمعې په ورځ بعضې کسان څلور رکعته سنت کوي او بعضې شپږ رکعته کوي صحيح څو دواړه دي ليکن اهم کوم دي؟ بينوا توجروا

المستفتي نورالحق باړه قلعه پشاور

الجواب: که د جمعې نه پس صرف څلور رکعته اوکړي نو دا هم کافي دي او که شپږ رکعته اوکړي نو دا بهتر دي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جُمعې د مخکښو سنتو د قضا په باره کښې تفصيلي استفتاء

سوال: محترم جناب حضرت مفتي صاحب زيد مجد کم: د ټولو فرض مونځونو قضا فرض ده د واجباتو قضا واجب ده او د بعضې سنتو قضا سنت ده نو دا کوم سنت دي چه د هغې قضا سنت ده؟

الجواب: که د فجر سنت د فرضو سره قضا شول نو د زوال نه مخکښې هغه هم د فرضو سره قضاء کول پکار دي او که د زوال نه پس ئې کوي نو صرف د فرضو قضا به راوړي او که صرف سنت ترې پاتې شوې وي نو د سنتو قضا نشته د طلوع افتاب نه مخکښې خو ادا کول مکروه دي او د نمر ختلو نه پس کول ئې مکروه خو نه دي ليکن بيا به هغه سنت نه وي بلکه نفل به شي

(تعليم الاسلام حصه چهارم مولفه مولانا کفايت الله صاحب)

وقضى التى قبل الظهر فى وقته قبل شفعه، ليکن بعداز وقت قضانه کند سنت ظهر اما سنتهاے باقى اوقات قضانه کند نه بافرض ونه تنها، چنانچه درظاہر الروايت است، (معيار الحقائق شرح کنز الدقائق ص۵۸)

﴿۱﴾ قال العلامة الحلبى رحمه الله: وعند ابى يوسف رحمه الله السنة بعد الجمعة ست ركعات وهو مروى عن على رضى الله عنه والافضل ان يصلى اربعا ثم ركعتين للخروج عن الخلاف. (غنية المستملى ص ۳۷۳ فصل فى النوافل)

ثم تنزل وامر المؤذن فاذن فصلی هو واصحابه رکعتی السنة ثم صلی مع الجماعة الفرض مع جهر القراءة فعلم من قوله علیه السلام شرعیة القضاء بالجماعة والجهر فیه، والاذان والاقامة للقضاء وان السنة تقضیٰ مع الفریضة لکن لا یلزم من قضاء سنة الفجر ثبوت قضاء غیرها من السنة لان سنة الفجر آکد من غیره حتی قیل بوجوبها لحدیث صلوها وان طرد تکم الخیل اخرجه ابوداؤد وغیره ولم ینقل عنه علیه السلام انه ترکها لاحضراً ولا سفراً ولایلزم من ثبوت قضاء الآکد ثبوت القضاء الادنیٰ وکذا لا تلزم من شرعیة قضائها مع الفرض شرعیة قضائها متفردة لانه کثیرا ما یثبت حکم الشی بالتبع ولا یثبت له استقلالاً، ولا یلزم من ثبوت الاول ثبوت الآخر الا ان یدل دلیل سمعی خاص علی ذلک. (عمدة الرعایة علی هامش مستخلص الحقائق ص ۲۵۱)

وفی کنز الدقائق، مبحث کفارة الظهار، وکفر لکل وهو تحریر رقبة، وفی شرح طحاوی الرقبة عامة من المؤمن والکافر، والامة والصغیر والکبیر انتهیٰ، فان لم یجد ما یعتق صام شهرین متتابعین لیس فیها صوم رمضان وایام منهیة وان وطیها فیها لیلا او نهاراً ناسیا او افطر استانف الطعام، ثم قال فان لم یستطع الصوم، اطعم ستین مسکینا کالفطرة ولایستانف بوطیها فی خلال الاطعام، وفی کفارة القتل شبه العمد الاثم والکفارة ودیة علی العاقلة، والکفارة تحریر الرقبة المؤمنة او صوم شهرین متتابعین، ووجه ذلک کله ان تحریر الرقبة المؤمنة فی کفارة قتل شبه العمد مختص به ولا یقاس علیه کفارة الظهار وکفارة الیمین فیجوز فیهما تحریر رقبة مطلقة لان المطلق یجری علی اطلاقه ،وایضا قبل المسیس مذکور فی تکفیره بالصیام فی کفارة الظهار فلا یقاس علیه قید قبل المسیس فی تکفیر بالاطعام ستین مسکینالما لا یستانف الاطعام بالوطی فی خلالها، لان

المطلق یجری علی اطلاقه والمقید علی تقیده عند الحنفیة.

قلت فبالنظر الی هذه الفرعیات المتفارقة مع کون الحادثة واحدة کیف یکون السنة الجمعة مشابهة سنة الظهر بحیث سنه الظهر تقضی بفواتها فهی ایضا تقضی والحال ان الظهر والجمعة فریضتان علیحدة وان کان وقتهما واحد، فقول بعض الاکابر بقضاء سنة الجمعة کقضاء الظهر لست افهمه؟ بینوا بالوضاحة وتوجروا عند الله

المستفتی: عبدالرحمٰن لاهور.......... ۱۹ نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: واضحه دې وی چه د جُمعې د سنت قبلیه په قضا کولو کښې حدیث نه دې ثابت، ددې وجې نه فقهائې کرام په دې کښې مختلف دی.

قال صاحب البحر وحکم الاربع قبل الجمعة کالاربع قبل الظهر (ص ۷۵ جلد ۲) ﴿۱﴾ وفی منحة الخالق علی هامش تلک الصفحة، لکن فی روضة العلماء سقطت عنه هذه الاربع لما روی عن النبیﷺ قال اذا خرج الامام فلا صلوٰة الا المکتوبة انتهیٰ، قال العلامة الشامی اقول وفی هذا الاستدلال نظر، فانه انما یدل علی انها لا تصل بعد خروجه لا علی انه تسقط بالکلیة والالزم ان لا تقضی سنة الظهر ایضا، نعم قد یقال ان الاصل عدم قضاء ها اذا فاتت عن محلها، واما سنة الظهر فانما قالوا بقضاء ها لحدیث عائشة رضی الله عنها انهﷺ کان اذا فاتته الاربع قبل الظهر قضاهن بعده فتکون سنة الظهر خارجة عن القیاس للحدیث المذکور فلاتقاس علیها سنة الجمعة انتهیٰ بحذف یسیر ﴿۲﴾ قلت والتحقیق ان سنة الجمعة القبلیة شرعت بحدیث مستقل رواه الحافظ العراقی وغیره فلا یکون

﴿۱﴾ (البحر الرائق ص ۷۵ جلد ۲ باب ادراک الفریضة)

﴿۲﴾ (منحة الخالق علی هامش بحرا لرائق ص ۷۵ جلد ۲ باب ادراک الفریضه)

حکمها حکم سنة الظهر ،نعم عدم التاکید لا یستلزم عدم المشروعیة فالاعادة اولیٰ من الترک ﴿۱﴾ . وهوالموفق

د جمعې د څلورو رکعتو سنت قبلیه د قضا حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جُمعې اولنی څلور سنت چرته پاتې شی نو آیا ددې به قضاء کولې شی یانه؟ بینوا تو جروا

المستفتی نامعلوم...

الجواب: د جُمعې د مونځ سنت قبلیه کله د خپل ځائې نه پاتې شول نو ددې په قضا کولو کښې فقها، مختلف دی بعضې وائی چه دماسپخین سنتو پشان ئې قضا راوړی کما فی البحر ص۷۵ جلد ۲

﴿۱﴾ وفی المنهاج: وقال العلی القاری فی المرقاة قال الحافظ العراقی انه علیه السلام کان یصلی قبلها اربعا ، وروی الترمذی عن ابن مسعود کان یصلی قبلها اربعا وبعدها اربعا انتهیٰ وقال بعض مشائخنا الحنفیة ان مشروعیة سنن الجمعة ثبتت بالاحادیث التی تدل علی مشروعیة سنن الظهر فافهم وبالجملة ان عدم علم الخصم لا یستلزم عدم الثبوت فی نفس الامر...... اعلم ان من فاتته الاربع قبل الجمعة فقال الشیخ محمد السراجی الحانوتی انها تقضی کما تقضی سنة الظهر انتهیٰ قلت قضاء سنةالظهر لما رواه الترمذی عن عائشة ان النبیﷺ کان اذا لم یصلی اربعا قبل الظهر صلاهن بعدها ولما رواه ابن ماجه کان رسول اللهﷺ اذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاهن بعد الرکعتین بعد الظهر وفی روضة العلماء انها سقطت عنه لما روی عن النبیﷺ انه قال اذا خرج الامام فلا صلاة الا المکتوبةانتهیٰ، قلت رواه الصحیحان ولکن قالوا وفی هذا الاستدلال نظر فانه یدل علی انها لا تصلی بعد خروجه لا علی انها تسقط بالکلیة نعم قد یقال ان الاصل عدم قضاء ها اذا فاتت عن محلها، واما سنة الظهر فانما قالوا بقضاء ها لحدیث عائشة فتکون سنة الظهر ——— (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

وحكم الاربع قبل الجمعة كالاربع قبل الظهر كما لا يخفىٰ﴿۱﴾ وفى منحة الخالق قال شيخنا الشيخ محمد السراجى الحانوتى واما كونها هل تقضى اولا فعلى ما قالوه فى المتون وغيرها من ان سنة الظهر تقضى يقتضى ان تقضى سنة الجمعة اذ لا فرق﴿۲﴾.

او بعضې وائى چه ددې قضا به نه راوړې كيږي:

كما فى منحة الخالق على هامش البحر ص٧٥ جلد٢ عن روضة العلما وسقطت عنه هذه الاربع﴿۳﴾

او علامه شامى دې طرف ته اشاره كړې د عدم قضا تائيد ئې كړى

حيث قال نعم قديقال ان الاصل عدم قضاء ها اذا فاتت عن محلها واما سنة الظهر فانما قالوا بقضاء ها لحديث عائشة رضى الله عنها انه ﷺ كان اذا فاته الاربع قبل الظهر قضاهن بعده كما قدمه المولف فتكون سنة الظهر خارجة عن القياس للحديث المذكور فلا نقاس عليها سنة الجمعة فتامل انتهىٰ، قلت لا سيما اذاثبتت سنة الجمعة بحديث مستقل سوى حديث سنة الظهر فافهم،

مختصر دا چه قضا مؤكد نه ده لكه چه ممنوع هم نه ده وهو الموفق

د جمعې نه مخكښې چه څلورسنت پاتې شى نو روستولوستل ئې احوط دى

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه كه يو سړې د جمعې

(بقيه حاشيه) خارجة عن القياس فلا تقاس عليها سنة الجمعة هذا ملخص ما ذكر فى منحة الخالق، قلت فمن قال ان مشروعية سنة الجمعة بما ثبت به مشروعية سنة الظهر فتقضى عنده ومن قال انها ثبتت بروايات خاصة فلا تقضى عنده.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذى ص٦٧ جلد٣ باب فى الصلاة قبل الجمعة وبعدها)

﴿۱﴾ (البحر الرائق ص٧٥ جلد٢ باب ادراك الفريضة)

﴿۲﴾ (منحة الخالق على هامش البحر الرائق ص٧٥ جلد٢ باب ادراك الفريضة)

﴿۳﴾ (منحة الخالق على هامش بحرالرائق ص٧٥ جلد٢ باب ادراك الفريضة)

...ه ورځې داسې وخت کښې جمات ته راشي چه جماعت کيږي او س چه کوم سنت قبل الفرض پاتې شوې دی د مونځ نه پس به هغه کوی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: اسلام الدین بابوزی مردان ۱۹۷۹|۷|۲۹

الجواب: دا سنت قبلیه چه کله پاتې شی نو په دې کښې د فقهاؤ دوه قولونه دی. اقوٰی من حیث الدلیل) سقوط دې البته کول ئې ممنوع نه دی بلکه احوط دی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په قریه کبیره او قریه صغیره کښې د احتیاط الظهر هیڅ اصل نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ډیر خلق د جمعې نه پس څلور رکعته د احتیاط الظهر کوی او ددې په پریخو دونکی باندې ملامتیا کوی دغه شان دا د احتیاط مونځ صرف عوام نه بلکه علمائې کرام ئې هم کوی آیا دا جائز دي؟ صفا او مدلل جواب او لیکئ؟ بینوا توجروا.

المستفتی: مولوی اشرف الله مسجد باچاصاحب خویشکی نوشهره ۱۲ محرم ۱۳۹۲ھ

﴿۱﴾ وفی المنهاج: اعلم ان من فاتته الاربع قبل الجمعة فقال الشیخ محمد السراجی الحانوتی انها تقضی کما تقضی سنة الظهر انتهیٰ قلت قضاء سنة الظهر لما رواه الترمذی عن عائشة ان النبی ﷺ کان اذا لم یصلی اربعا قبل الظهر صلاهن بعدها، ولما رواه ابن ماجة کان رسول الله ﷺ اذا فاتته الاربع قبل الظهر صلاهن بعد الرکعتین بعد الظهر، وفی روضة العلماء انها سقطت عنه لما روی عن النبی ﷺ انه قال اذا خرج الامام فلا صلاة الا المکتوبة، انتهیٰ، قلت رواه الصحیحان ولکن قالوا وفی هذا الاستدلال نظر فانه انما یدل علی انها لاتصلی بعد خروجه لاعلی انها تسقط بالکلیة، نعم قد یقال ان الاصل عدم قضاء ها اذا فالت عن محلها، واما سنة الظهر فانما قالوا بقضاء ها لحدیث عائشة فتکون سنة الظهر خارجة عن القیاس فلا تقاس علیها سنة الجمعة هذا ملخص ما ذکر فی منحة الخالق هامش البحر الرائق قلت فمن قال ان مشروعیة سنة الجمعة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: کوم ځائې چه یقینی طور سره ښاروی هلته احتیاطی مونځ کول بې اصله دی او کوم ځائې چه یقینی طورسره ښارنه وی هلته باجماعت ظهرکول ضروری دی. او د جمعې مونځ کول دمذهب خلاف کار دې او کوم ځائې کښې چه شک وی هلته احتیاطًا کول فی نفسه مشروع دی

فی ردالمحتار ص۷۵۲ جلد ا ونقل المقدسی عن المحیط کل موضع وقع الشک فی کونه مصراً، ینبغی لهم ان یصلوا بعد الجمعة اربعا بنیة الظهر احتیاطاً﴿۱﴾

البته که ددې مونځ په کولو کښې څه مفسده موجودوی نوښکاره دې نه کوی

قال العلامة الشامی نعم ان ادی الی مفسدة لا تفعل جهاراً او الکلام عند علمها الخ﴿۲﴾ قلت ومن المفسدة ترک العوام صلوة الجمعة فی المصر. فافهم

په مشکوک مقام کښې د احتیاط الظهر د کولو جواز

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په بعضې کلو کښې بعضې کسان د جمعې نه پس څلور رکعته د احیاط مونځ کوی آیا دا جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم............ ۷۱۲۱۱۹۷۴

الجواب: داسې ځائې کښې (چه د هغې په ښار کیدلو کښې شک وي) احتیاطًا کولې شی چه د څه فساد خطره نه وی

کما فی ردالمحتار ص۷۵۲ جلد ا ونقل المقدسی عن المحیط کل

(بقیه حاشیه)بما ثبت به مشروعیة سنة الظهر فتقضی عنده ومن قال انها ثبتت بروایات خاصة فلا تقضی عنده.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۷ جلد۳ باب فی الصلاة قبل الجمعة وبعدها)

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۲ جلد۱ مطلب فی نیة آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۲ جلد۱ مطلب فی نیة آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

موضع وقع الشک فی کونه مصراً ینبغی لهم ان یصلوا بعد الجمعة اربعا بنیة الظهر احتیاطا﴿۱﴾. وهو الموفق

په کومو خلقو چه جمعه واجب نه ده هغه خلق به د ظهر مونځ با جماعت ادا کوی

سوال: داسې ځائې چه د هغې نه جامع مسجد لس میله لرې دې او لاره هم پیدل ده د واورې په موسم کښې پنځه شپږ ګزه پورې واوره پریوځی علماؤ دا فتوی ورکړې چه دلته جمعه نه کیږی نو ددې پوره علاقې خلق جمعه نه کوی. په دې ځائې کښې د فوج یو یُونټ هم دې لیکن په دغه یونټ کښې د امام او جمات څه خاص انتظام نشته دې په دې یونټ زیات فوجیان اسماعیلیان دی او چه کوم اهلِ سنت دی هغوی هم جُمعه نه کوی ځکه چه هغوی ته د جُمعې د پوره ورځې چهټی نه ملاویږی په دې وجه دومره لرې د جمعې د مونځ دادا کولو دپاره نه شی تللې او ددې علاقې عالمان نه پخپله جمعه کوی او نه ئې بل چا ته ورکوی نو آیا مونږ فوجی کسان پخپله د جمعې انتظام کولې شو؟ اوپه دې ځائې کښې جمعه جاری کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی علی حسن ونګ نمبر ۱۰۱ ... ۱۹۷۵|۱|۱۱

الجواب: تاسو په کیمپ کښې یا په نزدې کلې کښې د ظهر مونځ ادا کوئ دا په تاسو باندې واجب دی او په تاسو باندې جمعه ادا کول یا د جمعې دپاره لس میله لرې تلل واجب نه دی.

لعلم المصر الشرعی وفناء ه وهو ظاهر المتون ورجحه فی المعراج وجزم به قاضی خان وهو اختیار الحلوانی (والتفصیل فی ردالمحتار ص ۷۶۲ جلد ۱) فلیراجع﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتا رهامش الدر المختار ص۵۹۶ جلد ۱ مطلب فی نیة آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قلت وهو ظاهر المتون وفی المعراج انه اصح ما قیل وفی الخانیة المقیم فی موضع من اطراف المصر ان کان ... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د جُمعې د شرطوپه تحقيق كښې د شک په وخت كښې احتياطًا كول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زموږ خائې کښې د پخوا نه استاذان او علماء په جماتونو کښې د جمعې د ورځې شپاړس رکعته کوی چه زموږ د ياد داشت نه بهر دي، او بعضې خاص خاص جماتونو کښې دولس دولس رکعتونه کیږی په دې کښې په تفصیل سره فرق بيان کړئ ډيره مهربانی به وي؟ بینوا توجروا

المستفتی: سلطان روم صوابی... ۱۱۰محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: د احنافو په نزد دا څلور رکعته احتياطًا كول هم جائزدی.چرته چه د جُمعې د شرائطو په تحقق کښې تردد وی.

فی ردالمحتار ص ۷۵۶ جلد۱ ونقل المقدسی عن المحيط كل موضع وقع الشک فی کونه مصراً ينبغی لهم ان يصلوا بعد الجمعة اربعا بنية الظهر احتياطاً ﴿۱﴾. وهوالموفق

د جمعې سنت جمات سره مختص نه دي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائی چه د جمعې سنت په

(بقيه حاشيه) بينه وبين عمران المصر فرجة من مزارع لا جمعة عليه وان بلغه النداء وتقدير البعد بغلوة او ميل ليس بشئ هكذا رواه ابو جعفر عن الامامين وهو اختيار الحلوانی وفی التتارخانية ثم ظاهرر واية اصحابنا لا تجب الاعلى من يسكن المصر او ما يتصل به فلا تجب على اهل السواد ولو قريبا وهذا اصح ما قيل فيه .

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۷۰۲ جلد ۱ مطلب فی شروط الجمعة باب الجمعة)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۲ جلد ۱ مطلب فی نية آخر ظهر بعد صلاة الجمعة باب الجمعة)

جمات کښې کول خاص دی یا د جمات نه بهر هم ادا کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالواحد شیدو... ۲۵ ربیع الاول ۱۴۰۲

الجواب: نمبر (۱) د تحیة المسجد او اعتکاف نه علاوه نور عبادتونه (فرض، سنن د جُمعې وغیره) جمات سره خاص نه دی. وهوالموفق

کتبه محمد فرید عفی عنه

جواب نمبر (۲) دغه شان په حدیث کښې وارد دی.

افضل صلاتکم فی بیوتکم الا المکتوبة (رواه الترمذی) ﴿۱﴾

یعنی د فرض مونځ نه علاوه نورو مونځونه په کور کښې کول بهتر دی. خو که په لاره کښې په دنیاوی مشاغلو کښې د پریوتلو خطره وی یا په کور کښې د کولو په صورت کښې د خشوع کموالې راځی نو بیا به په جمات کښې کول بهتر وي ﴿۲﴾ لیکن ضروری نه دی. ځکه چه مندوب او مباح څیزونه لازم ګنړل بدعت دې (شامیه) ﴿۳﴾ وهوالموفق

(کتبه) رشید احمد عفی عنه نائب مفتی دارالعلوم حقانیه

﴿۱﴾ (سنن ترمذی ص ۶۰ جلد ۱ باب ماجاء فی فضل صلاة التطوع فی البیت)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله والافضل فی النفل) شمل ما بعد الفریضة وما قبلها لحدیث الصحیحین علیکم بالصلاة فی بیوتکم فان خیر صلاة المرء فی بیته الا المکتوبة واخرج ابوداؤد صلاة المرء فی بیته افضل من صلاته فی مسجدی هذا الا المکتوبة وتمامه فی شرح المنیة وحیث کان هذا افضل یراعی مالم یلزم منه خوف شغل عنها لوذهب لبیته او کان فی بیته ما یشغل باله ویقلل خشوعه فیصلیها حینئذ فی المسجد لان اعتبار الخشوع ارجع.

(ردالمحتار ص ۵۰۴ جلد ۱ قبیل مطلب سنة الوضوء باب الوتر والنوافل)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین ان تخصیص الذکر بوقت لم یرد به الشرع غیر مشروع.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۲۱۳ باب العیدین)

فصل فی شروط صحة الجمعة

په هرځائي کښې د جمعې د جواز حکم

د قرآن او حدیث او فقهې نه مخالف دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقه کښې بعضې خلق مذهبونه نه منی او وائی چه مونږ قرآن او حدیث منو په دې وجه جمعه هر ځائې کښې کیږی. که بانډه وی او که ښار وي. دهغوی کلې په پنځو یشتو کورونو بانډې مشتمل دې تاسو اوفرمایئ چه دغې مقام کښې د جمعې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل خالق ټانګوره مسجد چغرزی ضلع سوات ۲۳ شوال ۱۴۵۱ھ

الجواب: هر ځائې کښې د جمعې د مونځ فتویٰ ورکول دقرآن او حدیث او دائمه اربعه و د فقهې نه خلاف دی.

قال الله تعالیٰ : فاسعوا الی ذکر الله وذروا البیع (الایة) ﴿۱﴾ وفیه اشارة الی کون هذا الموضع ذات اسواق . (۲) ولان اهل القریٰ کانوا یتنابون الی المدینة المنورة (رواه البخاری وابوداؤد)﴿۲﴾ والذین تخلفوا فیها لم یجمعوا بدلیل حدیث جواثیٰ ﴿۳﴾. (۳) ولان النبی ﷺ لم یجمع فی قبا عند المهاجرة وکانت الجمعة فرضا قبل

﴿۱﴾ (سورة الجمعة پاره: ۲۸ آیت: ۹ رکوع: ۱۱)

﴿۲﴾ عن عائشة زوج النبی ﷺ قالت کان الناس ینتابون الجمعة من منازلهم والعوالی فیأتون فی الغبار الخ (صحیح البخاری ص ۱۲۳ جلد ۱ باب من این تؤتی الجمعة) (ورواه ابوداؤد ص ۱۵۸ جلد ۱ باب من تجب علیه الجمعة)

﴿۳﴾ وفی المنهاج : وحجتنا ما رواه البخاری من حدیث عائشة وجه الدلالة ان صلاة الجمعة لو کانت واجبة علی اهل العوالی لاتوا کلهم الی المدینة المنورة او لجمع من بقی الجمعة هنا وکلا الامرین منتفیان اما الاول فظاهر واما الثانی فلحدیث جواثی (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص ۵۰ جلد ۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

الهجرة بدليل ان المهاجرين الاولين جمعوا فى المدينة المنورة (رواه ابوداؤد)﴿١﴾. (٣)ولان النبى ﷺ جمع بين الظهر والعصر فى عرفات دون الجمعة والعصر ولم يامر اهل مكة باداء صلاة الجمعة (رواه البخارى)﴿٢﴾. (٥) ولحديث لا جمعة الا فى مصر جامع روى مرفوعاً وموقوفاً وهو الاصح لكنه مرفوع حكما، واما حديث جوائى فليس فيه حجة وهو قول الرسول وفعله وتقريره ولو سلم التقرير فنقول هو تقرير مبيح خاص بخلاف لا جمعة الا فى مصر جامع فانه قول محرم تشريع عام، فافهم ﴿٣﴾. وهو الموفق

﴿١﴾ عن عبد الرحمن بن كعب بن مالك وكان قائد ابيه بعد ما ذهب بصره عن ابيه كعب بن مالك انه كان اذا سمع النداء يوم الجمعة ترحم لا سعد بن زرارة فقلت له اذا سمعت النداء ترحمت لا سعد بن زرارة قال لانه اول من جمع بنا فى هزم النبيت من حرة بنى بياضة فى نقيع يقال له نقيع الخضمات قلت كم انتم يومئذ قال اربعون.

(سنن ابى داؤد ص ١٦٠ جلد ١ باب الجمعة فى القرىٰ)

﴿٢﴾ (صحيح البخارى ص ٢٢٥ جلد ١ باب الجمع بين الصلاتين بعرفة) وللتفصيل: منهاج السنن شرح جامع السنن ص ٤٩ جلد٣ باب ماجاء منكم يؤتى الى الجمعة)

﴿٣﴾ وفى منهاج السنن: ولنا ما رواه عبد الرزاق عن على موقوفا قال لا تشريق ولا جمعة الا فى مصر جامع، قال الحافظ فى الدراية اسناده صحيح قلت والموقوف فيما لا يدرك بالرائى يكون فى حكم المرفوع...... واجيب عن حديث جوائى بان الحجة قول الرسول وفعله وتقريره وهذا الحديث خال عنها...... ولان حديث الانتياب وحديث لا جمعة الا فى مصر جامع ذكر فيهما تشريع عام وضابط كلى بخلاف حديث جوالى فانه ذكر فيه امر جزءى ولان حديث جوالى حديث تقريرى حكما وحديث لا جمعة الا فى مصر جامع حديث قولى حكماً...... قلنا حديث على مرفوع قولى على حسب القواعد كما مر الخ.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ٥١ جلد٣ باب ماجاء منكم يؤتى الى الجمعة)

د جمعې متعلق د شرعی ضرورت په بنا باندې

په مذهب غیر فتوی ورکول صحیح دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جمعې متعلق احناف او دیوبندی علماء هم مختلف راروان دی چه په کلو کښې به د جمعې څه حکم وي؟ او د ضرورت په وخت کښې به د غیر په مذهب باندې دې صورت کښې فتوی ورکول جائز وی یا نه؟ او د ښار د توابعو او فنا حکم جدا دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی عمر دراز قریشی شاهی بازار حیدرآباد ۱۱ ذی قعده ۱۴۰۱ هـ

الجواب: د شرعی ضرورت په وخت کښې په مذهبِ غیر باندی فتوی ورکول صحیح دی او په دې صورت کښې دمذهبِ غیر دټولو شرطونو رعایت ضروری دې. مثل ان لا یکونوا اقل من اربعین ﴿۱﴾ او په توابع مصر او فنا ئې مصر کښې فرق یو اصلاحی امر دې صاحب د بدائع د ټولو نه په توابعو سره تعبیر کوی نعم هذا مما اتفقوا علیه ان الفناء یصح فیه التجمیع مطلقا بخلاف ا التوابع فانها قد لا یصح فیه التجمیع ویجب علیهم حضور المصر والفناء ﴿۲﴾. وهو الموفق

د جمعې د صحیح والی له د امنِ عامه نه کیدل ضرر نه رسوي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې

﴿۱﴾ قال العلامة کاسانی: وقال الشافعی: ان کان فی القریة اقل من اربعین فعلیهم دخول المصر اذا سمعوا النداء، وفی هامش البدائع: ویقصد بالاربعین مع الامام علی الصحیح ممن تنعقد بهم الجمعة بشروطها ان یکونوا رجالاً بالغین عقلاء احراراً مستوطنین للقریة او البلدة التی یصلی فیها الجمعة، انظر کتاب الام ص ۱۹۰ جلد ۱ والمجموع للنووی ص ۳۷۱ جلد ۴ المنهاج ص ۲۱. (بدائع الصنائع ص ۵۸۵ جلد ۱ شرائط الجمعة کتاب الصلاة)

﴿۲﴾ قال الامام علاء الدین: وکذا لا یصح اداء الجمعة الا فی المصر وتوابعه فلا تجب علی اهل القری التی لیست من توابع المصر ولا یصح اداء الجمعة فیها

(بدائع الصنائع ص ۵۸۳ جلد ۱ شرائط الجمعة کتاب الصلاة)

دوه درې قومونه اتفاق سره د جُمعې د مونځ د پاره يو جامع مسجد متعين کوي نو جُمعه ادا کوي. ليکن هلته پوره امن موجود نه دې نو په دې مقام کښې جمعه صحيح ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي مولانا عبدالرشيد خان خطيب مسجد شيخان تيراه کوهاټ۳۱۷۱۱۹۸۲

الجواب: که دا جامع مسجد په داسې ځائې کښې وی چه هلته د جمعې د مونځ شرطونه موجود وي. نو د امنِ عامة نه موجود کيدل د جُمعې د صحيح والی دپاره ديو امام په نزد هم ضرر رسونکې نه دې. البته د جُمعی د مونځ دپاره تلل هم فرض نه دی. ﴿۱﴾ (فليراجع الى الطحطاوی ص۱۷۷) وهوالموفق

چرته چه عام اجازت نه وی هلته د جُمعې څه حکم دې؟

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په دفترونو کښې د جمعې د مونځ څه حکم دې؟ چه د شناختی کارډ اوکيټ پاس نه بغير دعوامو داخله ناممکن ده. حکومت د جمعې په ورځ ځکه دولس نيمې بجې مقرر کړې وی چه خلق کورونو ته لاړ شی او په اطمينان سره جمعه اوکړی. د دفتر نه واپس وتلو کښې اوبيا دوباره واپس تللو کښې دخوکسانو دپاره دپابندئ کيدل د دفتر په قرب و جوار کښې د جماتونو موجوديدل په دې صورت کښې د عام اجازت په کيدلو او نه کيدلو کښې به شرعی فيصله څه وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاری سعيد احمد عفی عنه....... ۲۱۸۱۱۹۷۳

الجواب واضحه دې وی چه د عام اجازت شرط اگر چه په ظاهر الروايت کښې نشته ليکن نادرالروايت کښې موجود دې کماصرح به فی ردالمختار ص ۷۶۱ جلد۱ اوفقهاء کرامو ددې اشتراط دوه وجوهات بيان کړی دی عدم تفويت او اعتدال

﴿۱﴾ قال العلامة سيد احمد الطحطاوی: والخامس الامن من ظالم فلاتجب علي من اختفیٰ من ظالم افاد التعبير بظالم لم انه مظلوم فان کان اختفاء ه لجناية منه توجب حداً مثلاً لا يسقط عنه الوجوب

(الطحطاوی علی المراقی ص۵۰۵ جلد۱ باب الجمعة)

الاول فی ردالمحتار حیث قال لان اشتراط السلطان للتحرز عن تفویتها (ای بالنزاع فی التقدم) وذا لا یحصل الا بالاذن العام (ص ۷۲۲ جلد ۱) والثانی فی المبسوط حیث قال لان اشتراط السلطان لتحرز عن تفویتها علی الناس ولا یحصل ذلک الا بالاذن العام وکما یحتاج العامة الی السلطان فی اقامتها (لرفع النزاع) فالسلطان یحتاج الیهم بان یأذن لهم اذنا عاما بهذا یعتدل النظر من الجانبین (ص ۲۴ جلد ۲)

ددې عبارت نه دا هم معلومه شوه چه د اذان عام شرط لګول متفرع دي. د بادشاه په اشتراط باندې کما لا یخفی دغه شان واضحه دې وی چه اذنِ عام بادشاه پورې خاص نه دي بلکه چه څوک د جمعې د قائمولو مُجاز وی نو دهغه اجازت ورکول به شرط وی. که بادشاه وی یابل څوک،

یدل علیه ما فی ردالمحتار قوله من الامام قید به بالنظر الی المثال الاتی والا فالمراد الاذن من مقیمها کما فی البر جندی من انه لو اغلق جماعته باب الجامع وصلوا فیه الجمعة لا تجوز (ص ۷۶۱ جلد ۱) وهکذا فی الهندیة ص ۱۵۷ جلد ۱،

او دغور کولو نه پس معلومیږی چه اذنِ عام به هغه وخت شرط وی چه یو ځائې کښې جمعه قائم وی او چه کله په متعددو مقاماتو او جوامعو کښې د جمعې مونځ قائمیږی کما هوظاهر المذهب وعلیه الفتوی، نو نه د تفویت خطره شته او نه د عدم اعتدال شبهه کیدیشی. لعدم الاحتیاج من الجانبین، لهذا د جمعې مونځ به د اذنِ عام نه بغیرهم جائز وی.

قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ص ۷۶۲ جلد ۱ قلت ان یکون محل النزاع ما اذا کانت لا تقام الا فی محل واحد اما لو تعددت فلا لانه لا یتحقق التفویت کما افاده التعلیل انتهی،

او دا د جواز حکم مفتی عزیز الرحمان صاحب (دیوبند) هم غوره کړی دی

کما فی فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ص ۱۰۵ جلد ۵ قلت ویرد علیه مافی البدائع ص ۲۶۹ جلد ۱ السلطان اذا صلی فی فهندرة ...... وتکون الصلوٰة فی موضعین ولو لم یأذن للعامة وصلی معه جیشه لا تجوز صلوٰة السلطان وتجوز صلوٰة العامة انتهی، قلت وجه الورود

انهم مع عدم التفويت على الناس حكموا على علم صحة جمعة السلطان، اللهم الا ان يقال ان صحة جمعة الناس للضرورة كما فى الدر المختار ونصب العامة الخطيب غير معتبر مع وجود من ذكر امامع عدمهم فيجوز للضرورة انتهىٰ، وبالجملة ان هذا محمول على ما اذا لا تقيمه السلطان، فافهم، وتدبر

پس دفتر والؤ دپاره جمعه قائمول جائز دی اګر که عام اجازت نه وی او اګر که افسر ددینه منع کوی لیکن د جامع مسجد د پریخودلو په وجهه کراهیت موجود ددې.

(كما فى ردالمحتار ص ۷۶۲ جلد ۱)﴿۱﴾ وهو الموفق وهذا ماعندى ولعل عند غيرى احسن من هذا.

په فنا ئې مصر (ښار) کښې د مسافت اعتبار نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د ښار په فنا کښې به د مسافت رعایت کولې شی یا نه؟ بینوا وتوجروا

المستفتی لعل محمد بلوچستانی.........۲۲\محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: د ښار په فنا کښې به د مسافت رعایت نشی کولې د متعلقه حاجتونو رعایت به ساتلې کیږي (۲) وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله وكره) لانه لم يقض حق المسجد الجامع زيلعى ودرر. (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۷۰۱ جلد ۱ مطلب فى شروط وجوب الجمعة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين: بيانه ان التقدير بغلوة او ميل لا يصح فى مثل مصر لان القرافة والترب التى تلى باب النصر يزيد كل منهما على فرسخ من كل جانب نعم هو ممكن لمثل بولاق فالقول بالتحديد بمسافة يخالف التعريف المتفق على ما صدق عليه بانه المعد لمصالح المصر فقد نص الائمة على ان الفناء ما اعد لدفن الموتى وحوائج المصر كركض الخيل والدواب وجمع العساكر والخروج للرمى وغير ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په هنګامی او وقتی ښار کښې جمعه صحیح ده

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقه کښې یوځائې د اډې په نوم سره مشهور دې تقریباً پنځلس دکانونه دی د بعضې دکاندارانو کورونه هم دلته موجود دی د څو کالو نه دلته جمعه کوی او دګیر چاپیر خلق دلته د جمعې دپاره راځی او ګیر چاپیره ډیرې باندې دی آیا دې ځائې کښې جمعه کول جائز دی.؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحسن شریک دوره حدیث جامعه حقانیه.....۱۵\۱۴\۱۹۸۹

الجواب: که دا اډه د جمعې په ورځ هنګامی شان ښار جوړیږی او تقریباً دوه زره کسان پکښې جمع کیږی نو په دې کښې د جمعې مونځ کول صحیح دی. دا د منی پشان هنګامی او وقتی ښار جوړیږی. کما اشیر الیه فی جمعة الهدایة(۱) وهوالموفق

په جیل کښې د جمعې د عدم جواز هیڅ وجه نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په سنټرل جیل کښې جمعه جائز ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله هزاره..........۱۳\رجب\۱۴۰۱ھ

(بقیه حاشیه) ذلک وای موضع یحد بمسافة یسع عساکر مصر ویصلح میدانا للخیل والفرسان ورمی النبل والبنادق البار ودو اختبار المدافع وهذا یزید علی فراسخ فظهر ان التحدید بحسب الامصار. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۱ جلد ۱ مطلب فی صحة الجمعة بمسجد المرجة فی دمشق)

(۱) قال العلامة برهان الدین المرغینانی: وقال محمد لا جمعة بمنی لانها من القری حتی لا یعید بها ولهما انها تتمصر فی ایام الموسم. (هدایة علی صدرفتح القدیر ص۲۵ جلد۲ باب الجمعة)

الجواب: چه کله مفتیٰ به قول دجواز دجمعې د تعدد دې نو په جیل کښې د جمعې د عدم جواز هیڅ وجه نشته دې. ﴿۱﴾

کما یشیر الیه کلام الشامی فی ردالمحتار ص۵۷۰ جلد۱، قلت وینبغی ان یکون محل النزاع ما اذا کانت لا تقام الافی محل واحد اما لو تعددت فلا الخ ﴿۲﴾. وهوالموفق

په قریه صغیره کښې د حاکم په حکم د جمعې اقامت صحیح دې!

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوکلې صرف په پنځه ویشتوکورونوباندې مشتمل دې، تقریباً سل یونیم سل سړی به پکښې موجود وي. مونږ په دغه کلی کښې جمعه کوو. په دغه کلی کښې دحکومت سرکاری قاضی هم موجود دې امامت هم قاضی پخپله کوی. په دې کلی کښې د جمعې اجازت دسوات ریاست حکمران جناب میاں ګل عبدالودود شاه صاحب ورکړې وو چه مونږ دې دلته جُمعه جاری کړو. اوس د ریاست ختمیدونه پس هم جمعه جاری ده ددې متعلق شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: تنظیم طلباء اهل سنت والجماعة سیدوشریف سوات. ۱۹۹۰/۱۱/۱۱

الجواب: چه کله د بادشاه وخت د طرفه اجازت نامه ملاؤ شوې وی نو په دغه کلی کښې د جُمعې اقامت صحیح دې.

کما فی ردالمختار ص۶۷۹ جلد۱ باب الجمعة عن الفتاویٰ الدیناری اذا بنی مسجداً فی الرستاق بامر الامام فهو امر بالجمعة اتفاقا علی ماقال السرخسی انتهیٰ ﴿۳﴾. قلت والاذن الصریحی فوق الاذن دلالة. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فقد ذکر الامام السرخسی ان الصحیح من مذهب ابی حنیفة جواز اقامتها فی مصر واحد فی مسجدین واکثرو به ناخذ لا طلاق لا جمعة الا فی مصر شرط المصر فقط. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۵ جلد۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار ص۶۰۱ جلد۱ باب الجمعة مطلب فی شروط وجوب الجمعة)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۱ جلد۱ مطلب فی صحة الجمعة بمسجد المرجة والصالحیة باب الجمعة)

په ميلونو سره د ښار د فنا او د ښار شرطونه او په شافعی مسلک باندې د جمعې ورکولو حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې بار کښې څه فرمائی چه (۱) د ښار فنا د موجوده انګريزی ميلونو په لحاظ سره څومره جوړيږی.
(۲) احنافو چه د جُمعې د پاره کوم شرطونه مقرر کړيدي، هغه منصوصی دی يا غير منصوصي؟ (۳) يو سړې حنفی المذهب دې ليکن جُمعه د شافعی مذهب مطابق کوی آيا دا جائز دی؟ (۴) که د فساد لرې کولو د پاره د جُمعې مونځ د شافعی مذهب مطابق اوکړی نو آيا دا مونځ کيږی؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولوی حبيب الله مری خيل کوهاټ. ۱۹۸۴/۵/۲۴

جواب: (۱) د فنائې مصر د پاره هيڅ حد نشته څومره پورې چه د مصر د حاجاتو او مصالحو تعلق دې هغه فِنائې مصر دې. (شامي) ﴿۱﴾ (۲) بعض منصوص دی او بعضې د تعامل نه معلوم دی. ﴿۲﴾ (۳) د متبع هوا مونځ نه فاسِديږی ﴿۳﴾ (۴) جائز دی ليکن واقع نه دی. ﴿٤﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: التعريف المتفق على ماصدق عليه بانه المعد لمصالح المصر فقد نص الائمة على ان الفناء ما اعد لدفن الموتى وحوائج المصر كركض الخيل ولدواب وجمع العساكر والخروج للرمى وغيرذلک.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۱ جلد ۱ مطلب فی صحة الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۷ جلد۳ باب ماجاء منكم يوتى الى الجمعة)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن عابدين: (قوله ارتحل الى مذهب الشافعي يعزر) اى اذا كان ارتحاله لا لغرض محمود شرعاً لما فی التاترخانيه...... ولو ان رجلا برئ من مذهبه باجتهاد وضح له كان محموداً ما جوراً اما انتقال غيره من غير دليل بل لما يرغب من عرض الدنيا وشهوتها فهو المذموم الآثم المستوجب للتاديب والتعزير لارتكابه المنكر فى الدين واستخفافه بدينه ومذهبه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۲۰۹ جلد۳ مطلب فيما اذا ارتحل الى غير مذهبه)

﴿۴﴾ وفى المنهاج: القرئ التى لا يتحقق فيها الشرائط —— (بقيه حاشيه په راتلونكى صفحه)

په باندو كښې اوسيدونكو باندې د جمعې د مونځ د پاره ښار ته راتللو او د جُمعې په فرضيت كښې د امامانو اختلاف

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه په باندو والا باندې (چه هغوى باندې جمعه فرض نه ده) ښارته راتلل مونځ د جمعې اداكول (د ښار د مسلمانانو پشان) فرض دې. آيا داقول صحيح دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: اكرام الحق راولپنډى.

الجواب: كومې باندې چه د فنا د مصرنه بهر وى نو په ظاهر الروايت كښې په هغوى باندې د جُمعې مونځ د پاره ښار ته راتلل واجب نه دى (رد المحتار ص٧٦٣ جلد١) ﴿١﴾ او په غير ظاهر الروايت كښې پرې ښار ته راتلل واجب دى. البته دامام محمد ﷫ په نزد د اذان اوريدل معتبر دى او د صاحب بحر وغيره په نزد ايواء الليل معتبر دى يعنى چه د مونځ نه پس كورته ماښام پورې واپس رسيدلې شى. او د بعضو په نزد يو فرسخ يعنى درې ميله معتبر دى. (ماخوذ از درمختار) ﴿٢﴾ او مفتى به د امام محمد ﷫ قول دې

(بقيه حاشيه) المعتبرة عند الحنفية ويتحقق فيها شرائط الائمة الثلاثة لا ينبغى ان يمنع عن تجميع الجمعة فيها عند ظن الاقتتال و كذا عند ترك الظهر جهلا ونظيره ترک منع العوام عن الصلاة عند الشروق.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ٥٤ جلد٣ باب ماجاء منكم يؤتى الى الجمعة)

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وفى الخانية المقيم فى موضع من اطراف المصر ان كان بينه وبين عمران المصر فرجة من مزارع لا جمعة عليه وان بلغه النداء.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٦٠٢ جلد ١ مطلب فى شروط الجمعة باب الجمعة)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفى رحمه الله: فان كان يسمع النداء تجب عليه عند محمد وبه يفتى كذا فى الملتقى وقد منا من الولوالجية تقديره بفرسخ ورجح فى البحر اعتبار عوده لبيته بلا كلفة.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ٦٠١ جلد ١ مطلب شروط الجمعة باب الجمعة)

به فی الدرالمختار قلت وهو الاوجه لحدیث ابی داؤد الجمعة علی کل من سمع النداء ﴿۱﴾ وکذا هو الماخوذ به عند مالک والشافعی واحمد رحمهم الله تعالیٰ واما حدیث الجمعة علی من اواه اللیل فحدیث ضعیف سنداً وکذا یحتمل الحمل علی المقیم دون المسافر وکذا فیه حرج﴿۲﴾. وهوالموفق

د وعظ او تبلیغ د پاره په ورکوټی کلی کښې جُمعه قائمول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو کلی آبادی چه اخوا دیخوا ټوله جمع کړی نو څلور سوه جوړیږی او په دغه کلی کښې یو ورکوټې شان بازار هم دې آیا دلته د جُمعې مونځ قائمول جائز دي؟ او که د چا دا خواهش وی چه د وعظ تبلیغ دپاره د جُمعې مونځ قائمول غواړم نو آیا دا صحیح دي؟ بینوا توجروا

المستفتی یاقوت خان یونیورسټی پریس پشاور... ۱۹۷۴|۱۰|۱۰

الجواب: چونکه دا مقام قریه صغیره دې لهذا په دې مقام کښې دجُمعې مونځ قائمول صحیح نه دی. ﴿۳﴾ د تبلیغ نور هم ډیر صورتونه دی ددې هډو څه حاجت نشته... وهوالموفق

په فناء د مصر کښې د میلونو هیڅ اعتبار نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې د دره آدم خیل د بازار نه دوه میله فاصلې باندې د جُمعې مونځ اداکیږی یا نه؟ دا په فنا د

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ص۱۵۸ جلد۱ کتاب الصلاة باب من تجب علیه الجمعة)

﴿۲﴾ (والتفصیل فی منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ص۳۸ جلد۳ باب ماجاء منکم یوتی الی الجمعة)

﴿۳﴾قال العلامة المرغینانی رحمه الله: لا تصح الجمعة الا فی مصر جامع او فی مصلی المصر ولا تجوز فی القریٰ لقوله علیه السلام لا جمعة ولا تشریق ولا فطر ولا اضحی الا فی مصر جامع. (هدایة علی صدر فتح القدیر ص۲۲ جلد۲ باب صلاة الجمعة)

مصر کښې داخل دي که نه؟ او فنا د مصر دوه میله ده یه درې میله؟ بینوا توجروا

المستفتي: فضل عزیز دره آدم خیل ...... ۱۰\۱۱\۱۹۷۴

الجواب: که په دې مقام کښې د ښار ضروریات پوره کیږي مثلاً دا ځائې د ښار عیدګاه. مقبره. چهاونړۍ. کار خانه اډه. سټیشن. هسپتال. وغیره نو په دې کښې د جُمعې مونځ صحیح دې ګنې صحیح نه دي. باقی د میلونو هیڅ اعتبار نشته دې (ماخوز از شامي) ﴿۱﴾ وهو الموفق

چه په کوم کلی کښې څو مَحلې او څو جماتونه وی نو هغه د لوئې کلی په حکم کښې دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ کلی تقریباً په اویا اتیا دکانونو باندې مشتمل دې ګیر چاپیره پنځلس شل باندې دی او تقریباً د پنځلس شل زره آبادئ د پاره دا کلی مرکزی مقام او تجارتی مرکز دې هائی سکول. لسو کتونو والا هسپتال. بینک. ډاک خانه. تانړ. رهائشی هوټل، اود اوږومل وغیره بنیادی ضروریاتو باندې دا ځائې آباد دې نو آیا په دې کلی کښې جُمعه کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: احمد صدر نواز آباد مانسهره ...۲۲\۱اپریل ۱۹۷۵

الجواب: که په دې مقام (نواز آباد) کښې څو محلې او څو جماتونه وی نو دا مقام به قریه کبیره وی او په دې کښې به جمعه کول صحیح وی ﴿۲﴾

کما فی رد المحتار ص۷۴۸ جلد۱ وتقع فرضًا فی

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وفی الخانية المقيم فی موضع من اطراف المصر ان كان بينه وبين عمران المصر فرجة من مزارع لا جمعة عليه وان بلغه النداء وتقدير البعد بغلوة او ميل ليس بشیء هكذا رواه ابوجعفر عن الامامين وهو اختيار الحلوانی وفی التتارخانية لم ظاهر رواية اصحابنا لا تجب الا على من يسكن المصر او ما يتصل به. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۶۰۲ جلد۱ مطلب فی شروط الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: وقلت ايضا ان المصر لا يلزم فيها ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

القصبات والقرئ التی فیها اسواق ﴿۱﴾. وهوالموفق

د جمعه فی القرا په باره کښې د عدم جواز قول راجح او مؤید دې

سوال: ما رأیکم یا امناء الامة من علماء الحقانیة فی مسئلة جمعة القرئ من جوازها فیها وعدمه لاننا قوم من اهل البادیة ولسنامن اهل الامصار نؤدیها بامر علمائنا وصلحائنا فیها من قدیم، وقد جوزوها لنا فیها مستدلین بالنصوص العامة المطلقة وبقول الامام اذا صح الحدیث فهو مذهبی قائلین بان حدیث لا جمعة ولا تشریق الحدیث لم یصح، وبفرض صحته لا یصح ناسخا وبان عامل الحدیث الصحیح لا یخرج من تقلید امامه فبهداهم اقتدینا وما انکر علینا احد من علماء العصر فی ذلک ثم جاءنا بعض من لا یبلغ الی مبلغ علمائنا فی العلم والورع فمنعها فی القرئ ونراها باطلة فیها بل یقول بانه من جمع فی القرئ وبخروجه من المذهب وتقلید امامه مستدلا بظاهر اقوال الفقهاء ومتمسکا بفتوئ الدیوبند وفتواکم حیث یقول ان فتواهما بمنعها فیه وقد رأینا الخطوط المختومة نراه کاذبا افترئ علیکم فی ذلک من عنده الا انا قد وقعنا فی شک منه ومن

(بقیه حاشیه) اتصال السکک والدور لما ذکره ابن حزم فی المحلی ان النبی ﷺ اتی المدینة وهی قری صغار متفرقة انتهی، قلت لا بد من ان یراد من القرئ فی کلام ابن حزم خلاف زعمه الدور والمحلات والمنازل المنفصلة ولا یصح ما زعم ابن حزم ان المدینة کانت اسما للوادی المشتمل علی القرئ لانه یاباه تسمیتها بالمدینة علم شخص فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۸ جلد۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

﴿۱﴾ ردالمحتار هامش الدر المختار ص۵۹۰ جلد۱ باب الجمعة)

ملاحظه... وجه داده چه د محلو اوجماتونو د زیاتوالی په صورت کښې آبادئ دوه زره پورې ضرور وی او دوه زره پورې آبادئ والا کلي قریه کبیره وی. او جمعه په هغې کښې صحیح ده (سیف الله حقانی)

فتواه ، فكتبنا اليكم هذا الملفوف لتضح علينا الامر ما هو المحقق عندكم فيها نحن منتظرون جوابكم المفصل المدلل واجركم على الله.

المستفتی: محمد زرین تیراہ پارہ چنار ... ۳/ اپریل ۱۹۷۵ء

جواب: قال صاحب الهداية لا تصح الجمعة الا فى مصر جامع او مصلى المصر ولا تجوز فى القرىٰ لقوله عليه السلام لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا اضحى الا فى مصر جامع (ص۱۴۸) ﴿۱﴾ قلت قال فى الدراية لم اجده وروى عبد الرزاق عن على موقوفا لا تشريق ولا جمعة الا فى مصر جامع واسناده صحيح ورواه ابن ابى شيبة مثله انتهىٰ ما فى الدراية ﴿۲﴾ قلت ويؤيده حديث تنأوب اهل القرىٰ (رواه البخارى) ﴿۳﴾ وجه التائيد ان اهل القرىٰ لم يجمعوا فى قراهم بدليل حديث جوائى وكذا يؤيدنا حديث جوائى(رواه البخارى) ﴿۴﴾ لان التجميع فى جواثا وترک

﴿۱﴾(هداية ص۱۵۰ جلد۱ باب صلوٰة الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: وانما رواه ابن ابى شيبة موقوفا على على رضى الله عنه لا جمعة ولا تشريق ولا صلاة فطر ولااضحى الا فى مصر جامع او فى مدينة عظيمة صححه ابن حزم. (فتح القدير ص۲۲ جلد۲ باب صلاة الجمعة)

﴿۳﴾ عن عائشة زوج النبى ﷺ كان الناس ينتابون الجمعة من منازلهم والعوالى فيأتون فى الغبار يصيبهم الغبار والعرق فيخرج منهم العرق فاتى رسول الله ﷺ انسان منهم وهو عندى فقال النبى ﷺ لو انكم تطهرتم ليومكم هذا.

(الصحيح البخارى ص۱۲۳ جلد۱ باب من اين تؤتى الجمعة وعلى من تجب كتاب الجمعة)

﴿۴﴾ عن ابن عباس قال ان اول جمعة جمعت بعد جمعة فى مسجد رسول الله ﷺ فى مسجد عبد القيس بجوائى من البحرين.

(الصحيح البخارى ص۱۲۲ جلد۱ باب الجمعة فى القرىٰ والمدن كتاب الجمعة)

التجميع فى قرىً كثيرة دليل واضح على عدم الصحة فلا يكون حديث جواثى حجة للمخالف وكيف يكون حجة مع انه موقوف معارض بالمحرم وكذا محتمل لان القرية فى سنة القرآن والحديث تطلق على المصر ايضا فافهم وتدبر﴿۱﴾. وهو الموفق

د جمعې او اخترونو دوا‌ړو د پاره مصر شرعی شرط دې.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کلې کښې د اخترونو مونځ کيږی او د جمعې مونځ نه کيږي. اخترونو کولو والا يو سکول ماسټر دې، مولانا صاحب وائی چه کوم ځائې کښې جمعه نه کيږی هلته ـ اخترونه هم نشی کيدلې شرعی حکم څه دې؟ او کوم صاحب په حقه باندې دې؟ بينوا توجروا

المستفتی. محمد اقبال دهم بی صابر آباد کرک. ۱۷مئ ۱۹۸۳

الجواب: دا دويم مولانا په حقه باندې دې

كما فى شرح التنوير على هامش الشامية ص ۷۷۵ جلد ۱ صلاة العيد فى القرىٰ تكره تحريماً اى لانه اشتغال بما لا يصح لان المصر شرط الصحة﴿۲﴾. وهو الموفق

د سني، شيعه او مرزائی وغيره مشترک کلي کښې د جُمعې د مونځ حکم

سوال: يو کلې چه دهغې د آبادی تناسب تقريباً ۲۵ فيصد سنی، ۲ فيصد شيعه او ۲فيصد مرزايان دي. په کلی کښې د کريانې صرف يو دکان دې. دوه جماتونه دی په هغې کښې مونځ خو څه کوې اذان هم پکښې نه کيږي. په دواړوجماتونو کښې د قرآن کريم د تعليم هيڅ انتظام نشته. د دوه کالونه يو جمات والؤجُمعه کول شروع کړې ده،اوس دويم جمات والوهم جُمعه شروع

﴿۱﴾ (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۲،۵۱ جلد ۳ باب ماجاء منكم يؤتى الى الجمعة)

﴿۲﴾ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۶۱۱ جلد ۱ باب العيدين)

کره حال دا چه په هر جمات کښې درې څلور مونځ گذار وي. اوس سوال دادې چه آیا دلته د جُمعې مونځ کول صحیح دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحکیم راهی راولپنډی

الجواب: که ددې ځائې مردم شماری تر دوه زرو پورې وی نو دا ځائې قریه کبیره ده. په دې کښې د جُمعې قائمول صحیح دی. (فتاوٰی دارالعلوم دیوبند)《۱》 وهوالموفق

په جیل کښې د جمعې مونځ صحیح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې آیا په جیل کښې د جُمعې مونځ کول جائز دي؟ ځکه چه بعضې علماء فرمائی چه د جمعې د پاره یو شرط اذنِ عام هم دې او په جیل کښې پابندی وی اذنِ عام پکښې نه وي؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شریف جامع مسجد گندوال جهلم

الجواب: د مفتٰی بهِ قول په بنا باندې په متعدد مقاماتو کښې د جُمعې مونځ اداکول جائز دی

كما فى شرح التنوير وتؤدى فى مصر واحد بمواضع كثيرة مطلقا على المذهب وعليه الفتوىٰ(هامش ردالمحتار ص٥٥٧ جلد١)《۲》

لهٰذا د اذنِ عام ضرورت په دې تقدیر سره باقی پاتې نه شو.

كما يشير اليه ما فى ردالمحتار ص ٦٢٧ جلد ١ قلت وينبغى ان يكون محل النزاع ما اذا كانت لا تقام الا فى محل واحد اما لو تعددت فلا لانه لا يتحقق التفويت كما افاده التعليل《۳》 فليتامل. وهوالموفق

《۱》 (فتاویٰ دارالعلوم ديوبند ص ٥٦ جلد ٥ الباب الخامس عشر فى صلاة الجمعة)

《۲》 (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ٥٩٥ جلد ١ باب الجمعة)

《۳》 (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ٦٠١ جلد ١ مطلب فى شروط الجمعة)

د جُمعې د اقامت د پاره د قاضي او ګورنر (والي) د اجازت مسئله

سوال علمائې دین دې مسئلې پاره کښې څه فرمائی چه زمونږ کلې په دری نیم سوه یا څلور سوه کورونو باندې مشتمل دې په کلې کښې د دیهی ترقیاتی پروګرام یو ډویژنل دفتر هم دې چه په هغې کښې تقریباً د اتیا محکمو اعلی افسران هر وخت موجود وي. دغه شان هائی سکول موجود دې، د کالج تعمیر هم شروع دې، هر قسم کاریګر هم شته دلته تر اوسه پورې د جمعې مونځ نه دې شروع شوې، اوس دعلاقې بعضې معتمد علمائې کرام زبانی طور سره د جُمعې د مونځ کولو حکم ورکړې دې. آیا په دې کلی کښې د جمعې مونږ اداکیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد امین لکی مروت.....۴/۱۲/۱۹۷۴

الجواب: که په دې مقام کښې څو محلې او بازارونه یا یو لوئې بازار وی نو دا مقام به مصر شرعی اوقریه کبیره وی دې کښې به د جُمعې او اخترونو مونځونه اداکول جائز وی

کما فی البدائع وروی عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال وهو الاصح ص ۲۶۰ جلد ۱ ﴿۱﴾ قلت وجود الوالی قید واقعی لان الصحابة رضی الله عنهم صلوا الجمعة فی المدینة قبل هجرة النبی ﷺ والظاهر انه لم یکن ثمه وال وکذا فی جواثی (اسم قریة) ولم یفتح بعد بل فتحها الصدیق الاکبر ﴿۲﴾ ویدل علیه ایضا ما فی ردالمحتار ص ۷۵۴ جلد ۱ فلو

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ص ۵۸۵ جلد ۱ فصل فی بیان شرائط الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة خلیل احمد السهارنفوری: وروی ابوداؤد بسنده عن کعب بن مالک انه کان اذا سمع النداء یوم الجمعة ترحم لاسعد بن زرارة فقلت له اذا سمعت النداء ترحمت لاسعد بن زرارة قال لانه اول من جمع بنا فی هزم النبیت من حرة بنی بیاضة فی نقیع یقال له نقیع الخضمات قلت کم کنتم یومئذ قال اربعون وفی المعرفة قال الزهری لما بعث النبی ﷺ مصعب بن عمیر الی المدینة لیقرئهم القرآن جمع بهم وهم اثنا عشر رجلا فکان مصعب اول من جمع الجمعة بالمدینة بالمسلمین قبل (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الولاة کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ﴿۱﴾ فافهم ویدل علی اصل المسئلة ما فی القهستانی وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق (ردالمحتار ص۷۴۸ جلد ۱) ﴿۲﴾. وهو الموفق

د جُمعې د مونځ د پاره د جمات کیدل شرط نه دی

سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ د جمات سره یو کور دې د جُمعې دمونځ په وخت د هغې کور په چهت باندې خلق او دریږی د جُمعې مونځ ادا کولې شي، آیا دا صحیح دي؟ دکور په چهت باندې د جمعې مونځ اداکیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد فرید نائب خطیب میډیم رجمنټ ارټلری سیاکوټ کینټ ۲۰ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: د جُمعې او با جماعت مونځ کولو دپاره جمات شرط نه دي ﴿۳﴾ بخلاف الاعتکاف ﴿۴﴾ البته په دې اقدام کښې د ډیرو مصالح شرعیه د فوت کیدلو خطره موجود ده. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) ان یقدمها رسول اللهﷺ، وفی صفحه ۱۲۹ وقال صاحب معجم البلدان جوائی بالضم وبین الالفین ثاء مثلثة یمد ویقصر وهو علم مرتجل حصن لعبد القیس بالبحرین فتحه العلاء بن الحضرمی فی ایام ابی بکر الصدیق رضی الله عنه ۱۲ھ عنوة. (بذل المجهود فی حل ابی داؤد ص ۱۶۹، ۱۷۰ جلد ۲ باب الجمعة فی القریٰ)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۵ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن نجیم رحمه الله: وشرط ادائها المصر...... او مصلاه ای مصلی المصر لانه من توابعه فکان فی حکمه والحکم غیر مقصور علی المصلی بل یجوز فی جمیع افنیة المصر. (البحر الرائق ص ۱۴۰ جلد ۲ باب صلاة الجمعة)

﴿۴﴾ قال العلامة حصکفی: والاعتکاف ...هو... لبث ..... ذکر فی مسجد جماعة ..... او لبث امرأة فی مسجد بیتها. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۳۰ جلد ۲ باب الاعتکاف)

په بانډو کښې د جمعې د اقامت د پاره د مذهب نه اوړېدل غیر مستحسن کار دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د احنافو په نزد په بانډو کښې جُمعه نه کیږي. حال دا چه بعضې نورو امامانو جائز کړې هم ده مولانا مودودی صاحب په خپل کتاب کښې لیکلې دی چه د جمعې د مونځ د پاره د ښار او اسلامی بادشاه ضرورت نشته په دې کتاب کښې ئې دا هم لیکلی دی (صحیح ده چه مونږ مقلدین یو لیکن د جُمعې په مونځ کښې مونږ په هغې شرطونو کښې ترمیم کوو) بهرحال د مودودی صاحب په نظر کښې په بانډو کښې د جُمعې مونځ کول بهتر دی اودا وجه بیانوی چه که مونږ په کلو کښې د جمعې مونځ اونه کړو نو خلق به د وعظ او نصیحت نه محروم پاتې شی. آیا دا صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالله اوبړو کلې... ۱۰\۱۱فروري۱۹۷۵

الجواب: دا خبره دې واضحه وی چه عندالاحناف د جُمعې د صحت د پاره مصر اوفناءمصرشرط دې﴿۱﴾ (صرحوابه فی جمیع کتب الفقه) اودتحقیق هم دا تقاضا ده. لهٰذا بغیر د ضرورت نه د مذهب نه اوړېدل یو غیرمستحسن کار دې.﴿۲﴾ وهوالموفق

د کمیټۍ په حدودو کښې داخلې بانډې په فنا د مصر یا مضافاتو کښې داخلې بانډې دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه دلته څه بانډې د صوابۍ نه دوه میله لرې موجودې وې، ګلو ډهیرئ، ملیانوبانډه شیخ باز بانډه عثمان شاه بانډه، سیرئی بانډه، عبدالله خان بانډه وغیره او ددې

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویشترط لصحتها سبعة اشیاء المصر او فناؤه الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ فی البشری: اعلم انه لا یجوز الحکم والافتاء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الائمة الا فی ثلاثة مواضع الاول عند الضرورة دون التشهی والتلهی فانه حرام الخ (البشری لارباب الفتوی ص ۳۵ الفصل السادس)

د افرادو تعداد د شلو کورونو نه تر سلو کورونو وو او دا بانډې د چونګی نه بهر وې لیکن اوس ټولې د صوابۍ کمیټۍ لاندې داخلې دي، اوس نې آبادی هم تقریباً د سړک په غاړه غاړه رسیدلې ده. چونګې هم بدل شوې دې دا ټولې بانډې په چونګی کښې دننه راغلې. په ګلو ډهیرۍ کښې خو د مخکښې نه د جُمعې او اخترونو مونځ کیدلو او دهغوی دلیل داوؤ چه دا د صوابۍ په مضافاتو کښې ده او په فِنا د مصر کښې داخله د ه. لیکن مونږ به د جُمعې د مونځ په ځائې احتیاطاً د ظهر مونځ کولو صرف په ګلو ډهیرۍ. او شیر باز کورونو کښې به د جُمعه کیدله. اوس دتحقیق دپاره خبره داده چه په کمیټۍ او چونګی کښې د داخلیدلو په وجه به په دې بانډو کښې دجُمعې مونځ جائز وی یا، نه؟ او آیا دا بانډې به په فنا د مصر کښې داخلې وی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغنی صوابی..... ۱۹۹۱\۱۲\۱۹

الجواب: د کمیټۍ په حدودو کښې دننه بانډو کښې د جُمعې اقامت جائز دې ځکه چه دا بانډې د ښار محلې جوړې شوې.

کما یشیر الیه ما فی جمعة عمدة القاری ان التمصیر للامام فای موضع مصر مصر﴿۱﴾
او یا د فِنا داخلی بانډې دی. وهوواضح، وهو الموفق

په دار الحرب کښې جمعه کول صحیح دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا په دار الحرب کښې د جُمعې مونځ کول صحیح دي؟ (علم الفقه) چه د مولانا عبدالشکور صاحب تصنیف دې هغې کښې دی چه د جُمعې دپاره دارالاسلام شرط دې او لیکلې ئې دی چه په دار الحرب کښې جُمعه کول صحیح نه دی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.... ۱۵ د سمبر ۱۹۷۴

﴿۱﴾ وفی المنهاج: والجواب عن اثر عمر ای جمعوا حیث ما کنتم، ان معناه حیث ما کنتم من الامصار الاتری انها لا تجوز فی البراری کما فی عمدة القاری، قلت ولا بد عن هذا التاویل لئلا یعارض بالاحادیث المرفوعة، او یقال ان التمصیر للامام فای موضع مصر مصر (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۲ جلد ۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

الجواب: په دارالحرب کښې د جُمعې مونځ کول صحیح دی ځکه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم مدینه منوره کښې د جمعې مونځ کړې حال داچه هغه وخت کښې پیغمبر علیه السلام نه هجرت کړې وو. او نه ئې څوک والی اوقاضی مقرر کړې وو (واصل الحدیث فی جمعة ابی داؤد ﴿۱﴾ دغه شان په جُواثی مُقام کښې د جُمعې مونځ د پیغمبر علیه السلام په ژوند مبارک کښې مقرر شوې وو. حال داچه د اعلاقه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښې فتحه شوه. (کما فی بذل المجهود) ﴿۲﴾ وهوالموفق

کوم ځائې کښې چه جُمعه جائز وی هلته

ګنړوځایونو کښې جُمعه کول جائز دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو کلی کښې څلور جماتونه دي، او په هر یو جمات کښې ځان له د جمعې مونځ اداکیږي. په یو ځائې کښې ګنړو مقاماتو کښې د جُمعې مونځ ادا کیدیشی چه اکثر په بعضې جماتونو کښې پنځلس سړی وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق پیرسنګ پشاور.....۲۴ ذی القعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: که د ا مقام شرعی ښار یا فِنا د ښار او یا غټ کلې وی نو دهغې په هرجمات کښې دجمعې مونځ ادا کول جائزدی ګنې نوپه یو جمات کښې هم د

﴿۱﴾ عن عبد الرحمن بن كعب بن مالک و کان قائد ابیه بعد ما ذهب بصره عن ابیه کعب بن مالک انه کان اذا سمع النداء یوم الجمعة ترحم لا سعد بن زرارة فقلت له اذا سمعت النداء ترحمت لا سعد بن زرارة قال لانه اول من جمع بنا فی هزم النبیت من حرة بنی بیاضة فی نقیع یقال له نقیع الخضمات قلت کم انتم یومئذ قال اربعون.

(سنن ابی داؤد ص ۱٦۰ جلد ۱ باب الجمعة فی القری)

﴿۲﴾ قال الامام خلیل احمد السهارنفوری: (قوله لجمعة جمعت بجواثی قریة من قری البحرین) وقال صاحب معجم البلدان جواثی بالضم وبین الالفین ثاء مثلثة یمد ویقصر وهو علم مرتجل حصن لعبد القیس بالبحرین فتحه العلاء بن الحضرمی فی ایام ابی بکر الصدیق رضی الله عنه ۱۲ ـه عنوة. (بذل المجهود فی حل ابی داؤد ص ۱٦۹ جلد ۲ باب الجمعة فی القری)

جمعې مونځ جائز نه دي

وتودیٰ فی مصر واحد بمواضع کثیرة مطلقا علی المذهب وعلیه الفتویٰ ﴿۱﴾ (هامش ردالمحتار ص۷۵۵ جلد ۱). وهوالموفق

په بانډه کښې جُمعه جائز نه ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې زمونږ کلی په بانډه کښې دې او د غټې کلی نه کم ازکم دوه ميله فاصلې باندې دې آبادی به ئې اووه اته سوه پورې وی. ددې ځائې ټوله آبادی په زميندارانو باندې مشتمل ده. ورځې شپه په خپلو کارونو کښې مشغول وي. مخکښې به دلته د جُمعې مونځ نه کيدو او درې يا څلور کسان به د جُمعې مونځ دپاره ښار ته تلل. بيا مونږ دلته د کلی په جماتونو کښې د جمعې مونځ شروع کړو او هره جُمعه به تقريباً پنځوسو کسانو پورې حاضر يدل. نو آيا دلته د جمعې مونځ کول صحيح دي؟ بينوا توجروا

المستفتی مولانا فيض محمد... ۹ذی قعده۱۳۹۴ھ

الجواب: د امقام شرعی مصر ښار نه دې. په ديکښې د جمعې مونځ کول صحيح نه دی

لان التعريف و هو التعريف الحقيقی ما فی البدائع ص ۲۶۰ جلد ۱ وروی عن ابی حنيفة انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر وهو الاصح ﴿۲﴾ انتهیٰ، قلت وعلم بعد التحقيق ان وجود الوالی امر استحبابی يدل عليه التجميع فی المدينة المنورة قبل الهجرة ﴿۳﴾ وكذا ما فی ردالمحتار ص ۷۵۴ جلد ۱ فلو الولاة

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۹۵ جلد ۱ مطلب فی جواز استنابة الخطيب باب الجمعة

﴿۲﴾ (بدائع الصنائع ص ۵۸۵ جلد ۱ فصل فی بيان شرائط الجمعة)

﴿۳﴾ (كما فی حديث كعب بن مالک رواه ابوداؤد ص ۱۶۰ جلد ۱ باب الجمعة فی القریٰ)

کفار ایجوز للمسلمین اقامه الجمعة ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین ویجب علیهم ان یلتمسوا والیا مسلماً ﴿۱﴾. فافهم وهوالموفق

په صحرا کښې د جُمعې اقامت صحيح نه دی

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په صحرا کښې د جُمعې اقامت څه حکم دې؟ جائز دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی ماسټر عبدالمطلب

جواب: لا تصح اقامة الجمعة فی الصحراء ﴿۲﴾ ولا نیة الاقامة (فتح القدیر)﴿۳﴾. وهوالموفق

په جیل کښې دننه د قیدیانو یا حوالاتیانو جُمعه او اخترونه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جیل کښې دننه د قیدیانو یا حوالاتیانو د جُمعې او اخترونو مونځ صحیح دې یا نه؟ حال دا چه د جیل امام د بهر سړې دی دهغه مونځ ددوی سره کیږی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی معلم دینیات ډسترکټ جیل ایبټ آباد ...... ۱۹۷۸\۱۱\۱۷

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۵ جلد ۱ مطلب فی نیة آخر ظهر بعد صلاة الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: ان قوله تعالیٰ فاسعوا الی ذکر الله لیس علی اطلاقه اتفاقا بین الامة اذ لا یجوز اقامتها فی البراری اجماعاً ولا فی کل قریة الخ

(فتح القدیر ص ۲۳ جلد ۲ باب الجمعة)

﴿۳﴾ قال ابن الهمام: ومجرد نیة الاقامة لاتتم علافی ثبوت حکم الاقامة کما فی المفازة

(فتح القدیر ص ۱۱ جلد ۲ باب صلاة المسافر)

الجواب: واضحه دې وی چه د عام اجازت شرط د عدم تفویت په مصلحت باندې مبنی دې،

کما یشیر الیه کلام العلامة الشامی فی ردالمحتار ص ۷۶۲ جلد ۱ حیث قال لان اشتراط السلطان للتحرز عن تفویتهما علی الناس وذا لا یحصل الا باذن العام﴿۱﴾،
پس هرکله چه مفتی به قول د تعدد دجوازدې نود اذن عام د اشتراط وجه باقی پاتې نه شوه. اوپه جیل کښې دجمعې دممانعت علامت ختم شو فافهم وهوالموفق

په صحرا او بیابان کښې جُمعه او اخترونه په هیڅ صورت کښې هم صحیح نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پاکستانی فوجیان په اکثرو حالاتو کښې مقیم نه وی که چرته اقامت هم کوی نو د خانه بدوشو پشان خیمې ښخې کړې او څو ورځې یو ځائې کښې کار کوی او څو ورځې پس بل ځائې ته منتقل شی. بهر حال په هغوی باندې د جُمعې او اخترونو مونځو نه فرض واجب دی یا نه؟ مونږ فوجیان په شاهراه ریشم ګلګت باندې کار کوو. آیا مونږ جُمعې او اخترونه ادا کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: امین الرحمان.........۱۹۷۳ء

الجواب: که مسافر چرته د جمعې یا اخترونو مونځ اوکړی نو د پکښې څه ګناه نشته ﴿۲﴾ لیکن که په بیابان او صحرا کښې په زرګونو خیمې لګولې شوې وی خو د جُمعې او اخترونو مونځ کول صحیح نه دی.

صرح به ابن الهمام فی شرح الهدایة﴿۳﴾ ویدل علیه ان النبی ﷺ صلی الظهر فی

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۷۰۱ جلد ۱ مطلب فی شروط الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة مرغینانی: ویجوز للمسافر والمریض ان یؤم فی الجمعة وقال زفر لا یجزئه لانه لا فرض علیه فاشبه الصبی والمرأة ولنا ان هذه رخصة فاذا حضروا یقع فرضا علی ما بیناه. (هدایة علی صدر فتح القدیر ص ۳۳ جلد ۲ باب صلاة الجمعة)

﴿۳﴾ قال العلامه ابن الهمام: ولا جمعة بعرفات فی قولهم جمیعا لانها فضاء. (فتح القدیر ص ۲۵ جلد ۲ باب صلاة الجمعة)

عرفات وکان یوم الجمعة ﴿۱﴾. وهوالموفق

په مستقل کیمپ کښې د مسلمان حاکم په اجازت سره جُمعه قائمول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دنن نه دوه کاله مخکښې محکمه آئل اینډ گیس کارپوریشن، د دکهني، په مقام باندې تیل او گیس د تلاش دپاره تجرباتی کوهی کنستل شروع کړې. وو اوس دویم کوهی کنستلې کیږي. مخکښې مونږ په عارضی کیمپ کښې اوسیدلو اوس د کامیابئ نه پس مو په دغه کیمپ کښې رهائش مستقل شوې دې، په کیمپ کښې ښائسته او کهلاؤ جمات هم جوړکړې شوې دې او مونږ دري سوه کسان په هغې کښې موجود یو، حال دا چه (جهنډ) نومې کلې لس کلو میټره لرې دې هرکله چه اوس په دې کیمپونو کښې جمعه جاری ده نوآیا مونږهم جُمعه جاری کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبدالرحمان اوجی ډی سی جهنډ پنډی گهیپ۱۹۸۴/۱۰/۹

الجواب: دمسلمان حاکم په آرډر او اجازت سره په دې پوخ کیمپ کښې دجمعې مونځ کول جائزدی اوبغیر اجازته هیڅ قسم کیمپ کښې دجمعې مونځ قائمول جائزنه دی. (ماخوذ از رد المختار ص۷۴۹ جلد۱) وهوالموفق

د جمعې د مونځ د پاره اذن عام اود بادشاه شرط کیدل مقاصد نه دی

سوال: څه فرمائی علماء ددین دې مسئلې باره کښې چه د جمعې د مونځ او

﴿۱﴾ قال العلامة الخلیل احمد السهارنفوری: وقد ثبت بروایة مسلم ان رسول الله ﷺ لما وقف بعرفات فی حجة الوداع یوم الجمعة لم یصل الجمعة فیها بل صلی فیها الظهر. (بذل المجهود فی حل ابی داؤد ص ۱۷۰ جلد۲ باب الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وحاصله انه لا تصح اقامتها الالمن اذن له بواسطة او بدونها. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۲ جلد۱ باب الجمعة)

اخترونو صحیح کیدو دپاره اذن عام او بادشاه شرط دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی محمدرحمت الله حقانی تنګی نصرت زی...... ۱۹۷۷ء/۸/۱۰

الجواب: بادشاه او اذنِ عام پخپله مقاصدنه دی. دهغوی اشتراط (شرط کیدل) د تفویت نه د بچاؤ دپاره دی.

کما یشیر الیه ما فی ردالمحتار ص ۵۴۲ جلد ۱ لان اشتراط السلطان للتحرز عن تفویتها علی الناس (ای بالنزاع فی التقدم) وذا (ای التحرز عنه) لا یحصل الا باذن العام انتهیٰ،

او دتفویت خطره د تعدد دعدمِ جواز په تقدیر سره وی دجواز په تقدیر سره نه وی کوم چه ظاهر المذهب دي.

ویشیر الیه ایضا ما فی ردالمحتار: قلت وینبغی ان یکون محل النزاع (فی قصره ومصره) ما اذا کانت لا تقام الا فی محل واحد اما لو تعددت فلا لانه لا یتحقق الفوات کما فی افادة التعلیل تامل ﴿۱﴾ انتهیٰ. هذا ما عندی ولعل عند غیری احسن منه﴿۲﴾. وهوالموفق

د جمعې د اقامت د پاره ښار جماعت او خطبه وغیره ضروری دي.

سوال: علمائې دین او محدثین ومدرسین د دارالعلوم حقانیه دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه زمونږ په علاقه دیر کښې یو عالم وائی چه (۱) د جمعې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۰۱ جلد ۱ مطلب فی شروط وجوب الجمعة باب الجمعة)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: وقلت قید الوالی قید لبیان ما هو الواقع غالباً ولیس قیدا احترازیا بدلیل ان الله تعالیٰ اطلق المصر والمدینة علی المقامات اللتی فی ایدی الکفار ولان المهاجرین الاولین جمعوا فی المدینة المنورة قبل هجرة النبی ﷺ ولم یکن ثم وال ولما فی المبسوط لو الولاة فی بلاد الکفار کانوا کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۷ جلد ۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

په ورځ په ظهر کښې د ځلورو اثبات په خیرالقرون ثلثه کښې نشته بلکه په ظهر کښې رکعتین د حدیث قولی او فعلی نه ثابت دي، لهذا ځلور رکعته د قیاس نه پس غیر معتبر دی ځکه چه دا د نص قطعی او حدیث قولی فعلی سره معارض دي.

وهر چه این حدیث دارقطنی ست، ومن ادرک رکعة من الجمعة فليصل اليها اخرى ومن فاتته رکعتان فلیصل اربعا او قال الظهر رواه دارقطنی، این قول حدیث نیست بلکه قول دارقطنی وفقهاء است چرا که امام جامع ترمذی این را قول فقهاء گفته است باین طریقه که وقالوا من ادرک رکعة من الجمعة. (۲) نیز میگوید که نماز جمعه به همه مسلمانان مرد باشد یا زن، عبد باشد یا حر، مریض باشد یا صحیح، مسجد باشد یا بیرون مسجد صحرا وغیره، مصر باشد یا غیر مصر، بوجه تعمیم نص قرآنی رکعتین فرض است، وهر چه در احادیث استثناء امده است چنانچه دریں حدیث، وعن طارق ابن شهاب قال قال رسول الله ﷺ الجمعة حق واجب على كل مسلم في جماعة الا على اربعة عبد مملوک، اور عورت، صبی اور مریض رواه ابـــو داؤد دریں حدیث ذکر جمعه مع جماعت درحق غیر معذورین ونفی درحق معذورین ثابت ومنقول است چرا که الا استثنائیه قید را متوجه میشود که جماعت است نه مقید را که حدوواه جمعه است، مثل این قول نحاة جاء نی القوم راكبين الا زيداً لهذا بوجه حدیث بالا از معذورین مذکور جماعت که سنت مؤکده است ساقط میشود نه صلاة جمعه که اصلی مکتوبه است چرا که در اسقاط مکتوبات مطلقا خواه جمعه باشد یا دیگر مکتوبات نقل ثابت از نبی علیه السلام وصحابه کرام منقول نیست واسقاط جماعت بوجه اعذار شرعیه از نبی علیه السلام وصحابه کرام منقول است، واما هـذا القول : لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا اضحى الا فـي مـصـر جـامـع مقوله فقهاء است نه که حدیث صحیحه به سند منقوله است، چرا که نووی شارح مسلم این را ضعیف گفته است۔فقط

المستفتی: مولوی شفیع الله مقام واړی ضلع دیر بالا... ۱۳۸۹ھ

الجواب: دا سړي څه باقاعده عالم نه معلومیږی په دې وجه د جواب ورکولو لائق نه دي البته د تپوس کونکی د زړه د پاره مختصراً څه لیکلی کیدی شي. (۱) ددې سړی دا خبره چه په خیرالقرون کښې د جمعې په ورځ د ځلورو

رکعتونو کول ثابت نه دي. ددینه دده نه تلاش ناقص معلومیږي امام بخاري په خپل سند سره دا روایت کړی دی.

قال عمر قد عرفنا ذلک الیوم والمکان الذی نزلت فیه، الیوم اکملت لکم دینکم الایة، علی النبی ﷺ هو قائم بعرفة یوم الجمعة﴿۱﴾ ص ۱۱ جلد ۱،

ددینه معلومه شوه چه په حجة الوداع کښې یوم الجمعة د عرفې ورځ وه. او په دریم روایت کښې دی چه پیغمبر علیه السلام په دغه ورځ دظهر مونځ کړې وو.

لما رواه مسلم ثم اذن بلال ثم اقام فصلی الظهر ثم اقام فصلی العصر﴿۲﴾ مشکواة ص ۲۲۳،

او دظهر او جمعې مونځونه جدا جدا دي. او په دې روایت کښې تصریح کړې شویده چه د اذان نه پس اقامت شوې دې نو که دا جمعه وه ضرور به خطبه وئیلې کیده. (۲) دغه شان دا حدیث مرفوع دې.

من فاتته الرکعتان فلیصل اربعااو قال الظهر﴿۳﴾

اودا دامام شافعي رحمه الله امام مالک رحمه الله اوامام محمد رحمه الله مستدل دې. او دارقطني دا په ډیرو سندونو سره نقل کړې دې. ددې نه انکار کول هسې ځان لوئې ګنړل دي. پیشکه چه ددې په سندونو کښې څه ناڅه ضعف شته لیکن دحدیث کیدلونه انکار د منلونه دې. (۳) د قرآن په نص سره کم نه کم د څلورو کسانو دجماعت ضروری کیدل معلوم دی. الله تعالی فرمائی (فَاسعَوا) چه د جمعې صیغه ده اوکم نه کم درې کسان غواړی او (اِلیٰ ذِکرِ الله) د ذکر او خطیب په وجود باندې دلالت کوی. اوپه دې حدیث کښې که نفی د قید طرفته متوجه شی. نو لازمیږي. چه په (صبی او نابالغه باندې هم د جُمعې مونځ واجب او فرض شی. حال داچه دصحیح حدیث په بنیاد باندې هغه مرفوع القلم دې.

(۴) لا جمعة ولا تشریق، مرفوعاً او موقوفاً دواړه منقول دی. ﴿٤﴾ او موقوف اصح دې لیکن په حقیقت هغه هم مرفوع دې ځکه چه دا حکم په عقل

﴿۱﴾(الصحیح البخاری ص ۱۱ جلد ۱ باب زیادة الایمان ونقصانه کتاب الایمان)

﴿۲﴾(مشکواة المصابیح ص ۲۲۵ جلد ۱ باب قصة حجة الوداع)

﴿۳﴾(مشکواة المصابیح ص ۱۲۳ جلد ۱ باب الخطبة والصلوٰة الفصل الثالث)

﴿۴﴾(هدایة مع فتح القدیر ص ۲۲ جلد ۲ باب الجمعة)

سره نه معلوميږي (۱) (۵) دغه شان د څوارلسمې صدئ دوهابي او غير مقلد قول د خيرالقرون د صحابي د قول په مقابله کښې اخستل نه عقل منې او نه د علم تقاضا ده. فقط

د شرعى ښار په باره کښې د حضرت مفتي صاحب په فتوى باندې اعتراض او د هغې تفصيلى جواب

سوال: يو کلي چه لاندينو کوائفو باندې مشتمل وي. آيا هغه شرعى ښار دې يا نه؟ (۱) آبادى چه شپږ غټ واړه تقريباً درې زره وي. (۲) ګورنمنټ هائى سکول د پوره عملې سره تقريباً دوه سوه کسان (۳) انټر ميډيټ کالج (۴) ديهي مربوطي سنټر (۵) منصوبه آبنوشي. چه د هغې کار کونکى هر وخت موجود وي. (۶) ډاک خانه (۷) دلارو اډو (۸) د علاج معالجې د پاره يو ډاکټر او ورسره دوکان (۹) په غير منظم شکل کښې څو مره دکانونه دې که راجمع شي نو يو ورکوټې بازار به ترينه جوړ شي. (۱۰) د آرې مشين پکښې شته (۱۲) دوه د وړو مشينان (۱۳) د جينکو مډل سکول (۱۴) يو بي ايل بينک سره د عملې نه موجود دې (۱۵) دقيام امن دپاره پوليس چوکئ هم موجود ده. آيا دا مصرشرعى دې؟ آيا دلته دجُمعې مونځ کيدلې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا شير خان غزنى خيل لکى مروت

﴿۱﴾ فى المنهاج: او نقول حديث جوائى معارض بالاقوىٰ لان احاديث المنع محرمة ولان حديث الاثبات وحديث لا جمعة الا فى مصر جامع ذكر فيهما تشريع عام وضابط كلى بخلاف حديث جوائى فانه ذكر فيه امر جزءى، ولان حديث جوائى حديث تقريرى حكماً وحديث لا جمعة الا فى مصر جامع حديث قولى حكماً، فان قال المجوزون حديث على موقوف، وحديث جوائى مرفوع قلنا حاشا وكلا فانه ليس فيه قول الرسول ولا فعله ولا تقريره فان قالوا حديث جوائى حديث مرفوع تقريرى على حسب القواعد، قلنا حديث على مرفوع قولى على حسب القواعد كما مر.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۲ جلد ۳ باب ماجاء منكم يولى الى الجمعة)

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط سره دا مقام شرعی ښار دي لهذا د ...
د جُمعې مونځ او اخترونه مونځ کول صحیح دی

یدل علیه ما فی القهستانی وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق (ماخوذ از ردالمحتار ص۷۳۸ جلد ۱) قلت والحوالیت المتفرقة الکثیرة التی یباع فیها کل ما یحتاج الیه اهل البلد ومن حوله قائمة مقام الاسواق معنی، فافهم، فان حقیقة المصر امر وجدانی والتعریفات المرویة رسوم﴿۱﴾. وهوالموفق

محمدفرید عفی عنه

دحضرت مولانافضل احمدصاحب صدرمدرس دارالعلوم اسلامیه لکی مروت جواب

سائل چه د کوم ځائې دپاره د جُمعې د مونځ د فرضیت استفتاء کړې هغه شرعاً ښار نه دې، او حضرت مفتی محمد فرید، چه کوم عبارت نقل کړې دې د هغې نه هم عدم جواز معلومیږي، ځکه چه هغه ځائې کښې اسواق یعنی بازارونه نشته دې، متفرق دکانونه ته د بازار ونو حکم ورکول د مفتی صاحب خپله رائې ده د یو کتاب حکم نه دې لهذا په داسې مقام کښې د ظهر فرض مونځ پریخودل بالکل صحیح نه دي. والله اعلم.

فضل احمد غفرله
صدر مدرس دارالعلوم
اسلامیه لکی مروت

الظاهران الجواب الثانی صحیح
غلام نبی عفی عنه
۱۹۷۲،۱۰،۱۸،۱

په تعریف د ښار کښې د فقهاؤ اختلاف

﴿۱﴾ دجُمعې د صحیح کیدلو د پاره د احنافو په نزد یو شرط دې ښار کیدل او لوئې کلې هم د ښار په حکم کښې داخل دې لیکن د مصر (ښار) یو خاص تعریف او حد مقرر نه دې، بلکه دا یو عرفی حقیقت دې، چه د زمانې او حالاتو په اړاقې حاشیه په راروانه صفحه

د دارالافتاء جامعه حقانیه د طرفنه

د حضرت مولانا فضل احمد صاحب په جواب باندې اعتراض

بسم الله الرحمان الرحیم

دا خبره خو په حنفي مذهب کښې مصرح او متفق علیه ده چه د جمعې په شرائطو کښې یو ښار دې او دا هم منلې شوې ده، چه ټولو فتاؤو. قصبات او لوئې کلې د ښار په حکم کښې شمار کړې دي. اوس دا چه د ښار قصبه او د لوئې کلې حقیقت څه دې؟ دا علامه شامي په صفحه ۷۴۸ باندې د تحفه په حوالې سره پخپله د صاحب مذهب یعنی امام ابو حنیفه رحمه الله نه داسې نقل کړې دي، (عن ابي حنيفه انه بلدة كبيرة فيها سكك واسواق..الخ) د نورو فقهاؤ نه چه کوم تعریفونه منقول دي ظاهر ده چه هغه د ښار علامات دي او د امام صاحب نه دا روایت شوې تعریف بنیادي حیثیت لري. په دې باندې د غور کولو نه معلومیږي چه په اصل کښې د ښار حقیقت په عرف باندې مبني دي چه په هغې کښې د کوڅو او بازارونو څه تشریح او تحدید نشته. فتاوی دارالعلوم دیوبند ص ۵۱ جلد ۵ هم دا نکته مخې ته کړې او فرمائیلې ئې دي، چه د دې مدار په عُرف باندې دې او

[بقیه حاشیه] اعتبار سره بدلیږی رابدلیږی په دې وجه فقهانې احناف د خپلو خپلو زمانو په اعتبار سره د ښار کیدلو علامات او امارات بیان کړې دي. علامه کاساني فرمائي

اما المصر الجامع فقد اختلف الاقاویل فی تحدیده، ذکر الکرخی ان المصر الجامع ما اقیمت فیه الحدود ونفذت فیه الاحکام وعن ابی یوسف روایات ذکر فی الاملاء کل مصر فیه منبر وقاض ینفذ الاحکام ویقیم الحدود فهو مصر جامع تجب علی اهله الجمعة وفی روایة قال اذا اجتمع فی قریة من لا یسعهم مسجد واحد بنی لهم الامام جامعاً ونصب لهم من یصلی بهم الجمعة، وفی روایة لو کان فی القریة عشرة آلاف او اکثر امرتهم باقامة الجمعة فیها، قال بعض اصحابنا المصر الجامع ما یعیش فیه کل محترف بحرفته من سنة الی سنة من غیر ان یحتاج الی الانتقال الی حرفة اخری، وعن ابی عبد الله البلخی انه قال احسن ماقیل فیه اذا کانوا بحال لو اجتمعوا فی اکبر مساجدهم لم یسعهم ذلک حتی احتاجوا الی بناء مسجد الجمعة فهذا مصر تقام فیه الجمعة، وقال سفیان الثوری المصر الجامع ما یعده الناس مصراً عند ذکر الامصار المطلقة، وسئل ابوالقاسم الصفار عن حد المصر الذی —

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اهل عرف د قریه صغیره او کبیره فرق پیژني. یو کړښه پس په دغه صفحه باندې دي، بیا هم د امدعلیٰ په ص ۵۴ جلد ۵ باندې داسې مصرح ده، چه په عُرف کښې چه کوم ځائې قریه کبیره اوګڼړی هغه قریه کبیره ده او چه کومه قریه صغیره اوګڼړی هغه به قریه صغره وی.

سائل چه د مستفسره مقام کوم کیفیات بیان کړې دي. په هغې کښې اولنې کیفیت د فتاوی دارالعلوم د یوبند ددې نکته نظر سره سمې خورې. دغه شان د سائل د اولنی کیفیت نه ددې قریه کبیره کیدل معلومیږی چه د هغې آبادی تقریباً درې زره پورې بنودلې شوې ده. اوکومه بستی چې ددې مقدار په آبادئ باندې مشتمل وی اکابرو دغې ته د قریه کبیره حکم ورکړې دې. دفتاوی دارالعلوم دیوبند په ص ۲٦ جلد ۵ باندې دا عبارت اوګورئ، (پس مذکوره قریه په ظاهر سره قریه کبیره ده، چه د هغې آبادې درې زره پورې نزدې ده. لهٰذا جُمعه کول په دې کښې واجب دي. دا صحیح ده هم دا فتاوی ص ۱۲۸ جلد ۵ باندې اوګورئ نو هلته ددې نه

(بقیه حاشیه) تجوز فیه الجمعة فقال ان تکون لهم منعة لو جاء هم عدو قدروا علی دفعه، فحینئذ جاز ان یمصر، وتمصره ان ینصب فیه حاکم عدل یجری فیه حکما من الاحکام وهو ان یتقدم الیه خصمان فیحکم بینهما. (بدائع الصنائع ص ۵۸۴، ۵۸۵ جلد ۱ شرائط الجمعة)

بهرحال احنافو فقهاؤ د خپلې خپلې زمانې په اعتبار سره د مصر تعریف او تحدید کړې دې چه زمونږ په کتابونو کښې په مختلفو عبارتونو سره نقل شوې دې. ددغې متداول اقوالونه علاوه نورهم ډیراقوال دي. (کما فی البرجندی شرح مختصرالوقایه والدرالمختار) او علامه کاسانی رحمه الله چه د امام ابوحنیفه رحمه الله نه کوم تعریف نقل کړې دې داسې ئې ذکر کړې.

وروی عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحکمه وعلمه او علم غیره والناس یرجعون الیه فی الحوادث وهو الاصح (بدائع الصنائع ایضا)

اوپه امداد الفتاح کښې دی وهذا هوالاصح کذا فی التتارخانیة (امدادالفتاح ص ۵٦۲)

او په طحطاوی کښې دې.

صرح به فی التحفة عنه (ابی حنیفة) ورواه الحسن عنه فی کتاب الصلاة کذا فی غایة البیان وبه اخذ ابویوسف وهو ظاهر ...

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کم مقدار آبادئ کښې د جُمعې د وجوب صراحت کړې شوې دې. یعنې په کومه قریه کښې چه د جُمعې حکم صادر کړې شوې دې هغه د دوه زره اته سوه آبادئ والا قریه ده، او شپاړس دکانونه دی پکښې

ددې فتاوٰی په ص ۵۲ جلد ۵ باندې دې، دې که دواړه کلی په عُرف کښې یو وی او هم یو ګنړلې کیږي.او ټوله آبادې د دواړو کلو دوه زره کسان دي.او هغه لویه قریه ګنړی کیږی نو جمعه هلته صحیح ده.دې فتاوٰی کښې ص۵۸ کښې اوګورئ نو هلته په دغه قریه کښې د جُمعې دمونځ صحیح کیدلو حکم ورکړې شوې دې.چه په هغې کښې صرف درې دکانونه دی او د آبادې اندازه دوه زره ده،

واقعه داده چه نا قد محترم د آبادئ د تعداد سره اختلاف نه دې کړې او نه ددینه چه د مصریت مدار په عُرف باندې دې بلکه د مفتی صاحب د سوق. د تعبیر سره ئې اختلاف کړې دې.او د مختلفو دکانونو په اسواق سره تعبیر کول ئې د حضرت مفتی صاحب ذاتی رائې ګرځولې.بهرحال دهغه دا دعوی د نظر محل ده.ځکه چه دا سواق دا تشریح چه حضرت مفتی صاحب

(بقیه حاشیه) المذهب کما فی الهدایة واختاره الکرخی والقدوری وفی العنایة هو ظاهر الروایة وعلیه اکثر الفقهاء(طحطاوی علی مراقی الفلاح ص۲ ۵۱)

او علامه سید احمد الطحطاوی په دغه صفحه کښې فرمائي..

ولما کان حد المصر مختلفا فیه علی اقوال کثیرة الفصل فی ذلک ان مکة والمدینة مصر ان تقام بهما الجمعة من زمنه ﷺ الی الیوم فکل موضع کان مثل احدهما فهو مصر وکل تفسیر لا یصدق علی احدهما فهو غیر معتبر کقولهم هو ما لا یسع اهله اکبر مساجده او ما یعیش فیه کل محترف بحرفته او یوجد فیه کل محترف وغیر ذلک انتهی.

نو معلومیږی چه ښاریا لویه آبادی وی چرته چه د ضروریاتو سره متعلق څیزونه ملاویږی پس کومه لویه آبادئ کښې چه څو دکانونه وی او دښار والو د حاجتونو د پاره کفایت کوی نو د اصل غرض په بناء باندې به د بازارونو قائم مقام وي. دغه شان په دې تعریف کښې قید د والی هم د بیان د پاره معلومیږی نه دا چه د احتراز د پاره ځکه چه الله تعالی په هغه علاقه باندې هم د مصر او مدینه اطلاق کړې کومې د کافرانو په قبضه کښې ئې.او دغه شان مهاجرین اولین چه په مدینه منوره کښې جمع شوې وو او پیغمبر ﷺ تر اوسه تشریف نه وو راوړې نو والی موجود نه وو او هغوی (باقی حاشیه په راروانه صفحه)

کړې ده. فتاوی دارالعلوم دیوبند ص ۱۲۸ جلد ۵ نه معلومیږي. څنګه چه په کومه قریه کښې د جمعې د وجوب حکم د ې دهغې په سوال کښې دا صراحت موجود دې چه شپاړس دکانونه خو دې لیکن د بازار په شکل کښې نه دې او دجواب په عبارت سره هم داخبره نوره هم واضحه کیږي اګرچه په مذکور ځائې کښې بازارنه دې مګرد آبادئ په اعتبارسره داملحق بالقصبه کولې شو.

که په بل زاویه نظرسره اوګورې نودمصریت روح خو د ضروریاتو فراهمي ده د بازارونو تنظیم نه دې. لکه په امدادالفتاوی ص ۴۱۹ جلد ۱

جمعه کړې وه. دغه شان د علامه طحطاوی د فیصلې مطابق د مدینې منورې د نقشې نه واضحه کیږي چه په ښار کښې د کوڅو یو ځائې والې او دکورونو یو ځائې والې هم لازمی نه دی ځکه چه علامه ابن حزم په محلی کښې لیکلې دی

ان النبی ﷺ اتی المدینة وهی قریٰ صغار متفرقة،

چونکه مدینه علم شخص دې لهذا ددې عبارت نه دا مطلب نه دې چه مدینه په څو بانډو باندې مشتمل دیوې وادئ نوم دې. بلکه د وړو وړو جدا کلونه مراد کورونه محلې او جدا جدا منزلونه دی اوهم دا تفصیل زمونږ شیخ او مربی حضرت مفتی صاحب دامت بر کاتهم په منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی. کښې داسې ذکرکړې.

قلت الحوانیت المتعددة اللتی تکفی لحوائج اهل هذه البلدة واهل الرساتیق المتعلقة بها تقوم مقام الاسواق فی اصل الغرض وقلت ایضا قید الوالی قید لبیان ما هو الواقع غالبا ولیس قید احترازیا بدلیل ان الله تعالیٰ اطلق المصر والمدینة علی المقامات التی فی ایدی الکفار ولان المهاجرین الاولین جمعوا فی المدینة المنورة قبل هجرة النبی ﷺ ولم یکن ثم وال، ولما فی المبسوط لو الولاة فی (بلاد الکفار) کانوا کفاراً یجوز للمسلمین اقامة الجمعة، وقلت ایضا ان المصر لا یلزم فیها اتصال السکک والدور لما ذکره ابن حزم فی المحلی ان النبی ﷺ اتی المدینة وهی قریٰ صغار متفرقة انتهیٰ، قلت لا بد من ان یراد من القریٰ فی کلام ابن حزم خلاف زعمه الدور والمحلات والمنازل المنفصلة ولا یصح ما زعم ابن حزم ان المدینة المنورة کانت اسما للوادی المشتمل علی القریٰ لانه یاباه تسمیتها ....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

باندې دیو سوال په جواب کښې دا حقیقت واضح کړې شوې دی چه خلاصه داده چه اسواق د مقام په قرینې سره اسم جنس دې چه واحد ته هم شامل دې، او د سوق د شرط کرځولو حاصل دادې چه د هر وخت په ضروری حاجاتو کښې د هغې ځائې اوسیدونکې بل ښار ته محتاج نه وی نو ددې غرض په حاصلولو کښې اتصال او انفصال برابر دې. بیا ئې د بحرالعلوم د والد صاحب رحمه الله قول ددې په تائید کښې نقل کړی دې عربی عبارت دادې

حیث قال وکان مطلع الاسرار ابی قدس سره یفتی بان المصر موضع یندفع حاجة الانسان الضروریة من الاکل بان یکون هناک من یبیع طعاما والکسوة الضروریة وان یکون هناک اهل حرف یحتاج الیهم کثیرا"

ددې عبارت نه صفا معلومیږی چه د مصر د پاره اسواق علی وجه الانتظام ضروری نه دي. هذا ما عندی والله اعلم بالصواب

عبدالحلیم غفرله کلاچوی خادم دارالافتاء جامعه حقانیه

دا تفصیل درست دي

محمد فرید غفرله

(بقیه حاشیه)بالمدینة علم شخص. فافهم

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۷، ۴۸ جلد۳ باب ماجاء منکم یوتی الی الجمعة)

نویس حقیقت دادې چه مصر د هغې اصطلاحاتو نه دې چه دهغې مدار په عرف باندې دې اودا واضحه خبره ده چه د زمانې د بدلون سره په دغه علامتو کښې تبدیلی راځي. په دې وجه چه څومره تعریفونه دي. نول د خپلې خپلې زمانې په اعتبار سره دي. او په دې وجه مولانامفتی محمد ظفیر الدین صاحب د فتاوی دارالعلوم دیوبند مرتب لیکلي دي. فقهاؤ د مردم شمارئ هیڅ تعداد نه دې بیان کړې بلکه صرف دائې خودلې دی چه ښار یا لویه آبادی وی چه هلته د ضروریاتو متعلق څیزونه ملاویږی د آبادئ اندازه رو ښنه لګولې شوې ده، صرف د آبادئ اندازه ئې درې خلور زره لیکلې ده. لکه څنګه چه ددې تنه په مخکښې جواب کښې موجود ده، او چه شهریت هم وی نو دغه وخت کښې آبادی دولس دیارلس سوه هم کافی ده. هامش فتاوی دارالعلوم دیوبند ص۱۲۲ جلد ۵ او شاه اشرف علی تهانوی [illegible] په امداد الفتاوی جلداص ۴۱۵ کښې فرمائي [illegible] حاشیه په راروانه صفحه

د ښار نه څلورسوه میله لرې تجارتی منډۍ کښې جُمعه کول

سوال: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبدالحق صاحب مدظله دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک د السلام علیکم نه پس عرض دادې چه د ښار نه څلور نیم سوه میله لرې یو ځائې دې چه د هغې کښې مختلفو خلقو په مشترکه طور باندې د لرګو د تجارت د پاره یو ځائې اخستې او منډۍ ئې جوړه کړې او په دې منډې کښې څلور پنځه سوه خلق د تجارت کاروبار کوي. او څو دکانونه هم دي، یعنی اوو اته هوټلونه دې. اوددې منډئې خواته وړې وړې باندې دي. اخترونو کښې خلق خپلو کورونو ته ځي، او د منډۍ د حفاظت دپاره څه نوکران پاتې شی او په منډۍ کښې اکثر کار کولو والا مسافران وي، په منډۍ کښې یو ورکوټې شان جمات هم دې نو په دې ځائې کښې جُمعه جائزده یانه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد نظیف وزیرستان

الجواب: دا مقام شرعی ښار نه دې لهذا دلته جُمعه کول د احنافو په نزد جائز نه دي، د شرعي ښار د پاره د څو محلو او څو بازارونو وجود ضروری دې او دا هم ضروری دی چه دغې متعلق باندو والا د خپلو ضروریاتو د پاره دې ځائې ته مراجعت کوی.

یدل علیه ماروی عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولهارساتیق الخ (شامی ص۵۳۸ جلد۱)﴿۱﴾. وهوالموفق کتبه: محمد فرید عفی عنه

[بقیه حاشیه] پخپله د صاحب مذهب نه د ښار د اتعریف منقول دې. (انه بلدة کبیرة الخ) او څومره تعریفونه چه فقهاؤ کړې دی د تولو مرجع او مال هم دادې دا ټول د یو معنون مختلف عنوانات دي، او ددې نه زیات جامع مانع تعریف چه په هغې سره تحدید تام اوشی په امور غیر مقدره فی النص کښې پخپله د امام صاحب د مسلک خلاف دې. (الا زیاده ل الدین) باقی پاتې شو دا درفع نزاع ضرورت نو پښان د نورو غیرمقدره په هغې کښې هم د تردد په وخت کښې د مبتلی به رائې اغلب او د تعارض آراء په وخت کښې په د عدول ثقات قول معتمد او معتبر وي، او چا ته چه نزاع مقصود وی دهغه د پاره جامع مانع تعریف هم کافی نه دې، وهوالموفق (از مرتب)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد۱ باب الجمعة)

په قریه صغیره کښې جُمعه صحیح نه ده لهٰذا په هغې کښې احتیاطی مونځ کول بې احتیاطی ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه زمونږ د کلی آبادی په پنځوس خاندانو باندې مشتمله ده د کريانې څو محدود دکانونه هم دي. په ديکښې د جُمعې څه حکم دې؟ ورسره د څلوز رکعتو احتياطی څه حکم دې؟ دغه شان د بعضې امامانو په نزد په قرىٰ کښې جمعه ثابت ده زمونږ دليل څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: حاجی همشيرخان زروبی مردان. ۱۴جمادی الثاني ۱۴۰۱ھ

الجواب: په دې ځائې کښې نماز ظهر با جماعت کول ضروری دي. او د جمعې مونځ کولو سره احتياطی مونځ کول بې احتياطی ده.

لعدم صحة الجمعة فی القرىٰ لحديث عبد الرزاق لا جمعة ولا تشريق...... الا فی مصر جامع روی مرفوعا وموقوفا وهو الاصح لكنه فی حكم المرفوع صرح به ابن الهمام﴿۱﴾ ولحديث تناوب اهل القرىٰ (رواه البخاری وغيره) ولحديث عدم اقامة الجمعة فی قباء عند الهجرة، واماحديث جواثی فليس فيه قول رسول الله ﷺ ولا فعله ولا تقريره ولو سلم التقرير فلفظ القريةيطلق على المصر ايضا كما فی قوله تعالىٰ: على رجل من القريتين عظيم، وقوله تعالىٰ، واسئل القرية، فالمراد ههنا المعنى الشامل للمصر لان لا يعارض بحديث لا جمعة ولا تشريق الحديث، ولو سلم ان المراد ههنا مقابل المصر فيرجح

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: (قوله لقوله ﷺ لا جمعة) رفعه المصنف وانما رواه ابن ابی شيبة موقوفا على علی رضی الله عنه لا جمعة ولا تشريق ولا صلاة فطر ولا اضحی الا فی مصر جامع او فی مدينة عظيمة صححه ابن حزم ورواه عبد الرزاق من حديث عبد الرحمن السلمی عن علی رضی الله عنه قال لا تشريق ولا جمعةالا فی مصر جامع وكفی بقول علی رضی الله عنهما قدوة.

(فتح القدير ص ۲۲ جلد۲ باب صلاة الجمعة)

حدیثنا لانه تشریع عام وقول محرم بخلاف حدیث جوائا ﴿١﴾. وهو الموفق

په دري سوه افرادو باندې مشتمله آبادي قریه صغیره ده.

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د کوم ځائې آبادي په دري سوه افرادو باندې مشتمله وی او دا ځائي د يو ښار (هنګو) نه شل ميله او د بل ښار (زرګری بازار) نه اته ميله لرې دې. د ضروریاتو نه هم محرومه دې په دې ځائي کښې د جُمعې دمونځ څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی سراج الاسلام جامع مسجد کوچی بازار پشاور ١٩٨٣/١١/٩

الجواب: دا مقام قریه صغیره ده په دې کښې جُمعه صحیح نه ده او د ظهر مونځ جماعت اداکول ضروری دی:

كما فى الهنديه ومن لاتجب عليهم الجمعة من اهل القرىٰ والبوادى لهم ان يصلوا الظهر بجماعة يوم الجمعة باذان واقامة﴿٢﴾. وهو الموفق

په متعددو قرٰی باندې مشتمله علاقه شرعی ښار نه دې

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه آیا د احنافو په نزد داسې ځائې کښې جمعه جائز ده کوم ځائ چه په دیرشو کورونو باندې مشتمل کلې وی او ګیر چاپیره ترې متعدده آبادی وی چه تر سلو کورونو پورې رسې؟ بینوا توجرو

المستفتی محمد خطاب دربند ضلع هزاره

الجواب: دا مقام شرعی ښار نه دې. لهذا دلته د جمعې مونځ کول صحیح نه دی (٣) وهو الموفق

﴿١﴾ (منهاج السنن شرح جامع السنن ص٣٨ جلد٣ باب ماجاء منكم يوتى الى الجمعة)

﴿٢﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ص١٤٥ جلد١ الباب السادس عشر فى صلاة الجمعة)

﴿٣﴾ قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: اى شرط صحتها ان تؤدى فى مصر حتى لا تصح فى قرية ولا مفازة. (البحر الرائق ص١٤٠ جلد٢ باب صلاة الجمعة)

په تقریبا دوه زره کسانو باندې مشتمل قریه کښې د جمعې مونځ صحیح وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې زمونږ د کلی د ټولو نه لوئې جمات کښې چه کله خلق جمع شي. نو په هغې کښې ځائی نه وی جمات ډک شي. آیا په دې کلی کښې ددې شرط پوره کیدو سره د جمعې مونځ کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: شریف محمد پلوسه کرک

الجواب: که دا مقام قریه کبیره وی قری متعدده نه وی نو دیکښې د جمعې مونځ کول مشروع دې. (کما ذکره الشامی من القهستانی﴿۱﴾ اود یو ځائې د قریه کبیره کیدلو یا نه کیدلو دارو مدار په عرف باندې دې. په کوم ځائې کښې چه دوه زره انسانان سړی او زنانه. بالغه او نابالغه مسلمان او کافر اوسیږی نو دا ځائې به قریه کبیره وي. وهو الموفق

په دوه زرو افرادو باندې مشتمل آبادئ کښې د جُمعې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې فرمائی چه د یو کلې آبادی په دوه زره افرادو باندې مشتمل ده او د ضرورت څیزونه پکښې هم ملاویږی آیا دیکښې جُمعه کول صحیح دي؟ بینواتوجرو

المستفتی مولوی حاجی ایوب گلگت ۸ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا ځائې شرعی ښار دې په دیکښې د جمعې مونځ کول صحیح بلکه ضروری دي.

لان المصر علی الصحیح موضع بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق ص ۲۶۱ جلد ا بدائع﴿۲﴾، وفی ردالمحتار ص۵۳۸ جلد ا وعبارة القهستانی وتقع فرضا فی القصبات

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله وفی القهستانی) تقع فرضا فی القصبات والقری الکبیرة التی فیها اسواق. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۵۹۰ جلد ا باب الجمعة)

﴿۲﴾ وقال العلامة الکاسانی رحمه الله: وروی عن ابی حنیفة انه (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق ﴿١﴾ وفی فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ص ٥٨،٥٦ جلد٥ تصریح بصحة الجمعة فی القریة التی یسکن فیها الفان ﴿٢﴾. وهو الموفق

په ١٢٠ کورو نو باندې مشتمل افغان مهاجر کیمپ کښې د جُمعې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د افغان مهاجر. کیمپ کښې ١٢٠ کورونه دی چه په یوه صحرا کښې واقع دې آیا په هغې کښې د جمعې مونځ صحیح دې یا نه؟ که صحیح وی نو تفصیل بیان کړې مهربانی به وي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالکریم افغان مهاجر..... ٢١١١٠١١٩٨٤

الجواب: دا کیمپ نه مصر شرعی دې او نه فِنا د مصر ده نه هنگامی مصر او نه قریه کبیره ده او نه ددې متعلق د حاکم وخت حکم صادر شوې دې لهذا په دې کیمپ کښې جُمعه ناجائز ده. لانه اشغال بمال لا یصح

(بقیه حاشیه) بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحکمه وعلمه او علم غیره والناس یرجعون الیه فی الحوادث، وهو الاصح. (بدائع الصنائع ص٥٨٥ جلد ١ کتاب الصلاة شرائط الجمعة)

﴿١﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ٥٩٠ جلد ١ باب الجمعة)

شیخ عزیزالرحمن رح دیوبندی فرمائی: (١) **الجواب:** که دا دواړه کلی په عرف کښې یو وی او یو گنړلې کیږی او توله آبادی دواړو کلو ددوو زرو کسانو وی او هغه غټ کلې گنړلې کیږی نو هلته جُمعه صحیح ده کمافی الشامی وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الخ.

(٢) **الجواب:** د احنافو مذهب د جمعې په باره کښې دادې چه په قریه صغیره کښې جمعه صحیح نه ده. او په قریه کبیره کښې جمعه واجب ده او اداکیږي. وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق الخ او موضع مذکور فی السوال تقریباً دوه زره آبادی والا په ظاهره قریه کبیره ده هلته به جمعه صحیح کیږی د احتیاط الظهر ضرورت نشته فقط.
(فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ص٥٨،٥٦ جلد٥ مسائل نماز جمعه)

کما فی الدر المختار ﴿۱﴾ وهو الموفق

په څلور زره افرادو باندې مشتمل آبادۍ کښې د جُمعې حکم چه پکښې شپاړس دکانونه وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه په کربلا ضلع پشین کښې ۴۰۰ (څلورزره) کسان اوسیږی هر قسم سهولیات سکول هسپتال ډاک خانه او تقریباً شپاړس دکانونه هم دی آیا دې ځائې کښې جُمعه صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن کربلا ضلع پشین..... ۲۵/۸/۱۹۸۴

الجواب: دا مقام قریه کبیره ده په دې کښې د جُمعې قائمول جائز دی

کما فی ردالمحتار ص۷۴۸ جلد ۱ عن القهستانی ، وعبارة القهستانی وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق انتهیٰ﴿ ۲﴾ قلت والمراد من الاسواق الحوانیت التی تکفی لحوائج هذا المقام ورساتیقها، لا الاسواق المعروفة فی هذا الزمان فانها لم تکن فی الحرمین الشریفین ایضا فی تلک الاعصار﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: لا تجوز فی الصغیرة التی لیس فیها قاض ومنبر وخطیب کما فی المضمرات والظاهر انه ارید به الکراهة لکراهة النفل بالجماعة الاتری ان فی الجواهر لو صلوا فی القریٰ لزمهم اداء الظهر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۳﴾ وفی المنهاج : قلت الحوانیت المتعددة التی تکفی لحوائج اهل هذه البلدة واهل الرساتیق المتعلقة بها تقوم مقام الاسواق فی اصل الفرض.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۳۷ جلد ۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

په قریه صغیره کښې د جمعې د قائمولو اجازت نشته دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ د کلی په دروازو کښې دننه دوه جماتونه جوړ شوې دی یو جمات په بر نئ دروازه باندې دې او دویم جمات په لاندینې دروازه باندې دې. د پورتنې دروازې والا جمات آبادی تقریبا یو نیم سل کورونه دی او لاندینې دروازې والا جمات آبادې اویا کورونه دې. پورتنی جمات لوې دې. د دیرشو کالو نه په هغې کښې باقاعده امام را روان دې په لاندینې جمات کښې تقریبا د اوو میاشتو نه امام راروان دې. په دې درې وارو جماتونو کښې به په کوم جمات کښې د جُمعې مونځ صحیح وی. خلق ډیر اختلاف کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی سعید بکوټ ریاله.. یکم مارچ ۱۹۷۵

الجواب: د جُمعې د صحت د پاره مصر شرعی یا قریه کبیره یا فِنا د مصر شرط دې کما صرح به صاحب الهداية (١) والـدرالمختار والبحـر والهنديـه والبدائع، لهذا په دې دواړو جماتونو کښې د جُمعې مونځ اداکول جائز نه دی په دې کښې داحنافو د پاره صریح حدیث شته او د مخالفینو سره حدیث مرفوع نشته البته موقوفات ورسره شته چه د هغې جوابو نه په خپل ځائې کښې ورکړې شوی دې. (٢) وهوالموفق

---

(١) قال العلامة مرغيناني : لا تصح الجمعةالا فی مصر جامع او فی مصلی المصر ولا تجوز فی القریٰ لقوله علیه السلام لا جمعة ولا تشریق ولا فطر ولا اضحی الا فی مصر جامع. (هداية ص ١٥٠ جلد ١ باب صلاة الجمعة)

(٢) وفی المنهاج : نقول حدیث جوالی معارض بالاقوی لان احادیث المنع محرمة ولان حدیث الانتیاب وحدیث لاجمعة الافی مصر جامع ذکر فیهما تشریع عام وضابط کلی بخلاف حدیث جوالی فانه ذکر فیه امر جزء ی، ولان حدیث جوالی حدیث تقریری حکما وحدیث لا جمعة الا فی مصر جامع حدیث قولی حکما، فان قال المجوزون حدیث علی موقوف وحدیث جوالی حدیث مرفوع قلنا حاشا وکلا فانه لیس فیه قول الرسول ولا فعله ولا تقریره فان قالوا حدیث جوالی حدیث مرفوع تقریری علی (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په متعدد قرٰی باندې مشتمل علاقه کښې د جمعې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقه په پنځه څلویښت کورونو باندې مشتمل ده. او په هغې کښې د بعضې کورونو په مینځ درې سوه یا څلور سوه ګزه فاصله هم ده. مونږ قبائل خلق یو هیڅ حکومت نشته او زمونږ په دې علاقه کښې پنځه جماتونه دی آیا دلته د جمعې مونځ ادا کیدلې شی؟ حال داچې پخوا نو علماؤ جمعه رائج کړې ده آیا د جمعې وجوب شته؟ بینوا توجروا

المستفتی: حلیم خان حقانی وزیرستان ۱۹۷۴|۷|۱۳

الجواب: چونکه دا ځایونه متعدد باندې دی نه دا چه د یو مقام محلې دي، لهذا په دې ځایونو کښې د جُمعې مونځ کول د تحقیق او تقلید دواړو نه خلاف دي. لعدم صحة الجمعة فی القرٰی روایة ودرایـة ﴿۱﴾ البته که دا مقامات (کورونه او کلي) داسې نزدې او متصل وی که کتونکې نه دا اونه ښودلې شی چه د فلانی ځائې نه بل مقام شروع کیږی نو هغه به دواړه یو ځائې او ګڼړې نو داسې ځایونه

بقیه حاشیه) حسب القواعد، قلنا حدیث علی مرفوع قولی علی حسب القواعد کما مر علی ان حدیث علی رضی الله عنه و کذا سائر حججنا صریحة و حدیث جواثی محتمل للمعنی اللذی یؤید کم وللمعنی الذی یؤیدنا.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۱ جلد۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

﴿۱﴾وفی المنهاج: وقلت ایضا ان المصر لا یلزم فیها اتصال السکک والدور لما ذکره ابن حزم فی المحلی ان النبی ﷺ اتی المدینة وهی قریٰ صغار متفرقة انتهی، قلت لا بد من ان یراد من القریٰ فی کلام ابن حزم خلاف زعمه الدور والمحلات والمنازل المنفصلة ولا یصح مازعم ابن حزم ان المدینة المنورة کانت اسماً للوادی المشتمل علی القریٰ لانه یاباه تسمیتها بالمدینة علم شخص فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۸ جلد۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

به یو ځائې شمارلې کیږی او باقاعده مونځ به ادا کولې شی

(والتفصیل فی امداد الفتاویٰ ص ۴۲۵ جلد ۱) ﴿۱﴾ . وهوالموفق

په ۹۰ کورونو باندې مشتمل آبادې کښې په جمعه او حکم جمعه کښې د مسافر وغیره استثناء

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې د یو کلی آبادئ خلق په ۹۰ کورونو باندې سره د باڼو مشتمل ده، دوه د کانونه هم پکښې دي، آیا دا خلق جُمعه کولې شی یا نه؟ دغه شان آیت د (اذا نودې للصلوة من یوم الجمعة(الایة) داحکم عام دې بیا هم په دیکښې زنانه مسافر، قرٰی وغیره مستثنٰی دی، ددې تحصیص څه وجه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم...۱۸جون ۱۹۷۵

الجواب: په دې مقام کښې د جُمعې مونځ کول صحیح نه دي، په دې ځائې کښې د ظهر مونځ باجماعت کول ضروری وي،

قال صاحب الهدایة ص۱۴۸ جلد ۱ لا تصح الجمعة الا فی مصر جامع او فی مصلی المصر ولا تجوز فی القرىٰ لقوله علیه السلام ولا جمعة ولا تشریق ولا فطر ولا اضحیٰ الا فی مصر جامع انتهیٰ ﴿۲﴾ روی مرفوعا وموقوفا والموقوف هو الاصح لکنه فی حکم المرفوع لانه مما لا یدرک بالقیاس، والایة کما خص عنها المرأة والعبد لحدیث ابی داؤد

﴿۱﴾ علامه اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی که یو کلې دومره لوئې نه وی لیکن دهغې سره دویم کلې هم وی چه ددې دواړو مجموعه ددې سابق د یو پشان دې نو کتل پکار دي چه ددې دویم کلې اولنی کلې سره څنګه اتصال دې که داسې اتصال وی چه کتونکی ته دا اونه ښودې شی چې د فلانکی ځائې نه دویم کلې شروع کیږی نو دواړه به یو اوګڼړې، نو داسې اتصال سره به دا دواړه متحد ګڼړلې شی، او په دې مجموعه کښې به هغه اولنی قیدونه کتلې کیږي، او د هغې د تحقق په صورت کښې به جمعه صحیح کیږي، او که داسې اتصال نه وی اګرچه ډیر فصل هم نه وی نو دواړه به جدا جدا ګڼړلې کیږي، او چه کله هر یو کلې وړکوټې دې نو جمعه به په یو کښې هم صحیح نه وی (امدادالفتاویٰ ص ۴۵۳ جلد ۱ باب صلوٰة الجمعة والعیدین)

﴿۲﴾ هدایه ص ۱۵۰ جلد ۱ باب صلوٰة الجمعة)

وغیره فکذلک خص البر والصحراء بدلیل حدیث البخاری وکذا البحر وهذا مما اجمع علیه الائمة الاربعة فکذلک یخص منه القریٰ واما حدیث جواثا فلیس بمرفوع، ولو سلم انه مرفوع حکما فهو مبیح،وکذا هو محتمل لکون القریة بالمعنی العام الشامل للمصر کما فی قوله تعالیٰ علی رجل من القریتین عظم، وبالجمله لم یوجد حدیث الجواز المرفوع صریحا بخلاف عدم الجواز وقد علمت ان المبیح لا یعارض المحرم وکذا المحتمل لا لعارض الصریح فافهم ولا تکن من طالب الجاه والشر ﴿۱﴾. وهو الموفق

چه آبادي نه وي نو صرف د بازار کیدل د جمعې د تحقیق د پاره کافي نه دي

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې زمونږ علاقه کښې یو مرکزی ځائې دې چه په هغې کښې د ضرورت مطابق یو وړوکوټې شان جمات جوړ شوې دې او په دې ځائې کښې تقریباً ۹۰ یا ۱۰۰ دکانونه آباد دي، لیکن دلته یو مکان هم د اوسیدلو دپاره نشته اوګیر چاپیره درې میله فاصلې باندې کلې آباد دي، چه د هغې آبادی درې څلوزره خواؤشاده، او دا باندې هم په غرائیزه علاقه کښې ابادې دي، د ښار په طرز هیڅ آبادی نشته آیا په دې بازار کښې جمعه صحیح ده؟ ځکه چه بعضې کسان دا بازار د مصر فنا تصور کوي، او د جمعې د جواز قائل دی؟ بینوا توجروا

المستفتی غلام نبی قریشی مجهنګی ایبټ آباد

الجواب: د مصر شرعی د تحقق د پاره صرف د بازار موجود کیدل کافی نه دی بلکه دیو څو محلو وجود هم ضروری دې ﴿۲﴾ پس که د ا بازارد یو خاص مقام چه متعلقاتو کښې نه وی نو په هغې کښې د جُمعې نه کول ضروری دی.

﴿۱﴾ (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۷ جلد ۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

﴿۲﴾ قال الکاسانی: وروی عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحکمه ---- (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

اوکه د یو خاص مقام سره دا بازار متعلق وی نو که دغه مقام کښې خو محلې وی بیا هم د جُمعې د جواز د پاره کافی دي. یعنی اگر که بخپله په بازار کښې محلې نه وی.

یدل علیه ما فی ردالمحتار ص۷۴۸ جلد ۱ عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق الخ﴿۱﴾. وهوالموفق

په اتلس سوه آبادۍ کښې د جُمعې اقامت صحیح دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د چسپن کلې آبادی ۱۸۰۰ پورې ده، (د نارینه او زنانه، بالغه، اونابالغه سره) شپږجماتونه. سکول، کمپاوډر، دوږومشین هم دې. د یومیل فاصلې باندې په درې سوه افرادو باندې مشتمل څو کورونه نورهم دي. دلته یو قاری صاحب جُمعه شروع کړې ده. آیادا صحیح ده. حال دا چه دلته بازار وغیره نشته؟ بینوا وتوجروا

المستفتی: مولوی جانباز چسپن ټانګ ډی آئی خان ۱۹۸۸،۱۲،۱۰

الجواب: چه د کوم کلی آبادی د اتلس سوه پورې وی هغه قریه کبیره ده. د قستانی د تصریح مطابق په هغې اقامت د جُمعې صحیح دې

کما فی ردالمحتار ص ۵۶۰ جلد ۱ وتقع فرضا فی القصبات والقریٰ الکبیرة التی فیها اسواق انتهیٰ ﴿۲﴾.

اکابر فرمائی چه دغه اوورو کوټی کلی دارومدار په عرف باندې دې او دلته د اسواق (بازارونو) قید واقعی دې. ﴿۳﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) وعلمه او علم غیره والناس یرجعون الیه فی الحوادث وهو الاصح.
(بدائع الصنائع ص۵۸۵ جلد ۱ باب شرائط الجمعة)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۵۹۰ جلد ۱ باب الجمعة مطلب فی صحة الجمعة)

﴿۳﴾ وفی المنهاج: قلت الحوانیت المتعددة اللتی تکفی لحوائج اهل هذه البلدة واهل الرساتیق المتعلقة بها تقوم مقام الاسواق فی اصل الغرض، وقلت ایضا قید الوالی قید لبیان ما هو الواقع غالبا ولیس قیدا احتراز یا بدلیل ان الله تعالی..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

که یو نیم زر مردم شماری وی نو جمعه صحیح ده

سوال: علمائي دين دې مسئلي باره کې څه فرمائي چه زموږ په جمات کښې جمعه د مخکښې نه جاري ده دلته ټول مونځ گزار شپږ ديرش دي. دکانونه هم دي. ترکاڼ. نائي. لوهار. د سائيکلو مستري. ډاکټر. موچي. د ورو مشين او عام سړک هم دي. خلق بس وغيره اود روی او مونځ کوی نو دې ځائې کښې به د جمعې مونځ صحيح وه يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی اهليان سليم خان اډه چارسده روډ مردان ... ۷۱۱۱۱۹۹۰

الجواب: که ددې ځائي مردم شماری يو نيم زر پورې وی نو دا مقام قريه کبيره ده. په دې کښې د جمعې اقامت صحيح دې گينې صحيح به نه وی (ماخوذ از فتاوی دارالعلوم ديو بند) **(۱)** وهو الموفق

(بقيه حاشيه) اطلق المصر والمدينة على المقامات اللتی فی ايدی الکفار ولان المهاجرين الاولين جمعوا فی المدينة المنورة قبل هجرة النبی ﷺ ولم يکن ثم وال ... وقلت ايضا ان المصر لا يلزم فيه اتصال السکک والدور لما ذکره ابن حزم فی المحلی. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۷ جلد۳ باب ماجاء منکم يؤتی الی الجمعة)

سوال: په فخن پور کښې چه آبادي ئې ديارلس سوه ده جمعه جائز ده يا نه؟

الجواب: په دې ځائي کښې چه هغه دقريه کبيره په حد کښې راځي او دکانونه او بازار پکښې هم شته جمعه کول صحيح معلوميږي فقط (ازمفتی عزيزالرحمن صاحب) فتاوی دارالعلوم ديوبند ص۱۲۶ جلد ۵ رقم مسئله ۲۴۸۹)

ملاحظه: فقهائي کرامو د قريه کبيره حد او تعداد نه دی بيان کړي او مصر هم ددغې اصطلاحاتو نه يو دی چه د هغې څه حد او تعين معلوم نه دی. ځکه چه مدار په عرف باندې دې نه دې وجه فقهائي کرامو د خپلې خپلې زمانې په لحاظ سره د ښار مختلف تعبيرونه او تعريفونه کړی دی کوکب الدری ص۱۹۹ جلد۱ کښې ښار هغه ځائي گرځولي شوی دی چه د هغې آبادي څلور زره وی او حنفيه کوکب ص جامع الرموز ... ۱۰۰۰ ... خودلي ده. لهذا چونه چه د ښهر ... هم وی او د ضرورياتو ټول څيزونه ملاوېږی نو هغه وخت کښې آبادي ... هم کافي ده. (ازمرتب)

په یوه وادئ کښې د مختلفو محلو او کورونو کیدلو په صورت کښې دجمعې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ قوم په قمبر خیل کهجورئ کښې اوسیږی او هر ځائې کښې ځان ځانته آباد دی ده ایا دلته په جُمعه صحیح وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا داؤد شاه کهجوری کوهاټ..۲۹شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا کهجورئ د ټولو علاقې نوم وی او دا ځائې په ځائې کورونه او باندې وی نو ددې علاقې په یو ځائې کښې هم جُمعه قائم کول صحیح نه دي. او که کهجوري، ددې ټولې وادئ نوم وی او دا ځائې مکانونه ددې محلات او کورونه وی نو د مفتی په قول په بنا باندې ددې وادئ په هر جمات کښې د جمعې اقامت صحیح دې، او په ظاهره سره دا دویم شق راجح معلومیږی چه د هجرت په وخت کښې د مدینې منورې دا کیفیت وو. **وهذا محمل ماقال ابن حزم فانما هی (المدینة) ذات قریٰ صغار متفرقة فبنی مسجده فی بنی مالک وجمع فیه فی قریة لیست بکبیرة (ماخوذ از محلی ص۵۷ جلد۳)﴿۱﴾. وهوالموفق**

د فتنې او فساد دوجې نه په باندہ کښې د جمعې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ کلې په یو نیم سل کورونو باندې مشتمل دې شپږ جماتونه پکښې هم دې تقریباً ددوه سوه کالونه دلته جمعه کیږي، د مذهب حنفی مطابق دا ښار نه دې. او دجُمعې

﴿۱﴾ وفی المنهاج: وقلت ایضا ان المصر لا یلزم فیها اتصال السکک والدور لما ذکره ابن حزم فی المحلی ان النبی ﷺ الی المدینة وهی قری صغار متفرقة انتهی، قلت لا بد من ان یراد من القریٰ فی کلام ابن حزم خلاف زعمه الدور والمحلات والمنازل المنفصلة ولا یصح ما زعم ابن حزم ان المدینة المنورة کانت اسماً للوادی المشتمل علی القریٰ لا نه یاباه تسمیتها بالمدینة علم شخص فافهم.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۴۷ جلد۳ باب ماجاء منکم یؤتی الی الجمعة)

مونځ نه کول د فساد فتنې او خانه جنګۍ د خطرې نه خالی نه دي، آیا مونږ دلته د شافعی یا حنبلی مسلک مطابق جمعه کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمد علی شاه حقانی بانډه شر داؤد شاه بنوں ۳۱۸۱۱۹۸۲

الجواب: که ددې کلې مردم شماري (سړي، ښځې، بالغ نابالغه) دوه زرو پورې وی نو دا قریه کبیره ده، په دې کښې عندالاحناف د جمعې اقامت صحیح دې. کما فی فتاوٰی دارالعلوم دیوبند عن القهستانی ﴿۱﴾ او عندالضرورة د نورو امامانو په قول باندې فتوی ورکول جائز دي ﴿۲﴾ مثلاً چه د خانه جنګۍ وغیره خطره وی. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاوٰی دارالعلوم دیوبند ص ۵۶ جلد ۵ باب الجمعة)

﴿۲﴾ وقال فی البشری لارباب الفتوٰی: اعلم انه لا یجوز الحکم والافتاء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الائمة الا فی ثلاثة مواضع الاول عند الضرورة دون التشهی والتلهی فانه حرام کما حرم الحکم الملفق الخارق للاجماع فی عمل واحد...... وذکر عن خزانة الروایات ان العالم الذی یعرف معنی النصوص والاخبار وهو من اهل الدرایة یجوز له ان یعمل علیها وان کان مخالفا لمذهبه...... وفی ردالمحتار عن القهستانی لو افتی به ای بمذهب مالک فی المفقود لا بأس به علی ما اظن...... وقال الزاهدی کان بعض اصحابنا یفتون به للضرورة...... وفی شرح التنویر کره صلوة مطلقا مع شروق الشمس الا العوام فلا یمنعون من فعلها لانهم یترکونها...... قلت واصل هذه المسائل قوله تعالیٰ الا ما اضطررتم وقوله ﷺ یسروا ولا تعسروا بشروا ولا تنفروا، رواه البخاری والمسلم لما کان الافتاء علیه عند الضرورة من اصول الحنفیة کان الحکم المبنی علیه مذهب الحنفیة ایضا لابتناء ه علی قواعدهم کما صرح به العلامة الشامی فی عقود رسم المفتی.

(البشری لارباب الفتوٰی ص ۳۶ الفصل السادس)

﴿۳﴾ وفی المنهاج: القریٰ التی لا یتحقق فیها الشرائط...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په موضع شادی د همیال کښې د جمعې د

مونځ په باره کښې دیارلس تفصیلی مسئلې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه موضع شادی دهمیال موهړه داروغه تحصیل وضلع راولپنډی په لاندینی تعریف سره په سرکاری کاغذونو کښې په لاندینی پنځو ۵ مواضو باندې مشتمل دې (۱) موهړه داروغه بالغ آبادي. ۲،۳۴۴ (۲) موهړه امیر بالغ آبادی ۳،۲۵۲ (۳) بیرولیان بالغ آبادی ۴،۲۵۷ (۴) ډهوک ګولړه بالغ آبادی ۵،۷۲ (۵) ډهوک موچیان بالغ آبادی ۲۲ ددې پنځو مواضو ټوله بالغ آبادي. ۹۵۲ ده.

نوټ: په بالغ آبادۍ کښې ددولس کالو یا زیات عمر سړی اوښځې شامل دی. موضع (۱) او (۲) خپل مینځ کښې بالکل متصل دی. موضع (۳) تقریباً د یو فرلانګ نه څه کم فاصلې باندې واقع دې. او په مینځ کښې ئې څوخالی پټی دی.

(بقیه حاشیه) المعتبرة عند الحنفية ويتحقق فيها شرائط الائمة الثلاثة لا ينبغى ان يمنع عن تجميع الجمعة فيها عن ظن الاقتال و كذا عند ترک الظهر جهلا ونظيره ترک منع العوام عن الصلاة عند الشروق.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۵۴ جلد۳ قبیل باب ماجاء فی وقت الجمعة)

علامه مفتی کفایت الله صاحب دهلوی فرمائی که د ډیر وخت نه هلته د جُمعې مونځ قائم وی بندولو کښې مذهبی او دینی فتنه ده نو په دې وجه اوس موقوف کول صحیح نه دی. بلکه په دې مسئله کښې دامام شافعی یا دامام مالک د قول مطابق عمل کول جائز دی

وفى هامش هذا الجواب واستشهد له بما فى التجنيس عن الحلوانى ان كسالى العوام اذا صلوا الفجر عند طلوع الشمس لا يمنعون لانهم اذا منعوا تركوها اصلا واداء ها مع تجويز اهل الحديث لها اولى من تركها اصلا الخ. (ردالمحتار باب العيدين ص ۱: ۲۱۴ قبيل مطلب تجب طاعة الامام)

(كفايت المفتى ص۲۳۶ جلد۳ كتاب صلوة الجمعة)

موضع نمبر ۲ او نمبر ۵ تقریباً په درې نیم فرلانګه فاصاله باندې دي ددې پنځو مواضعو چه په سرکاری کاغذونو کښې هم یونوم شادی دهمیال دې ددوی قبرستان، کوهیان او د غنمو د غوبل ځایونه جداجدا دي، په دې مواضعو کښې څلور جماتونه بالفعل موجود دی دټولونه لوئې جمات کښې د ۹۵۷ تعداد نشی راځائې کیدلې. ځان ځانته اته دکانونه موجود دي، چه د هغې نه د روزمره ژوند ضروریات په آسانئ سره حاصلیدلې شي، یو د وړو والا مشین د بجلئ والاموجود دې، ۵۷ وړې لوئې کوځې دی. د موضع موهړه داروغه په مینځ کښې یو لوئې سړک او برانچ پوسټ آفس دې، د هلکانو او جینکو دپاره ځان ځانته مډل سکولونه دي، د هلکانو دسکول سره متصل یو پخه عیدګاه ده. دهغې سره یو وړوکې شان جمات دې. چې د پورتنو څلورو جماتونو نه علاوه دي، دحکومت د طرفنه دجاری قانون لاندې د وړو وړو خپل مینځنئ جهګړو ختمولودپاره یو ممبر یونین کونسل هم موجود دې. اګرچه د یونین کونسل دفتربل ځائ کښې دې خودعلاقې د اوسیدونکود ژوند دضروریاتو پوره کولو دپاره د هر قسم کسب کاریګر په ښه طریقې سره موجوددی. مثلاً ډاکټر، چراغ، موچي، درزي، کولال، لوهار، مصري، قصاب وغیره چه په عام طور سره په خپلو کورونو کښې د خلقو کارونه کوی.
دبستی موضع شادی دهمیال دویمې بستئ چه بیرولیان نوم ئې دې دهغې سره بالکل متصل تقریباً شل ګزه فاصلې باندې یوه بله بستی موضع سود ګنګال واقع دې، ددې دوه حصې دي، اود دواړو حصو مجموعی آبادی بالغه ۴۲۵ ده او په دې کښې دوه جماتونو دي، درې دکانونه یو خوا بل خوا واقع دی دوه دوړو مشینونه دی یو دینی مدرسة مدرسه العربیه فیض القران. د څلورو کالونه قائمه ده د موضع شادی دهمیال او دغې متصله بستئې سود ګنګال آبادی ۱۴۲۱ ده، ددې دوه لویو مرکزی بستیانو نه علاوه تقریباً په پاؤ کم میل کښې دتنه دتنه نورې وړې لوئې شپاړس بستیانې واقع دي ددې بستیانو بالغه آبادی مجموعه تعداد ۱۷۵۳ ده په دې وجوهاتو سره آیا دلته د جمعې موبغ کیدلې شي؟

(۲) داسې بستیانې چه دهغې معاشرتي او تمدني معاملات خپل مینځ کښې مشترک وي د جُمعې د جواز دپاره کم نه کم د بالغانو تعداد د وجوب دجمعې په غرض څو مره پکار دې. چه لوئ ځائې ته مرکزي حیثیت ورکړي او د جمعةالمبارک مونځ اداکړې شي. یعنی عندالاحناف د جمعة المبارک د اجازت د پاره دمصر یا قریه کبیره عام فهم تعریف اوښایئ چه عامة المسلمین ددې خَیر کثیر نه محروم نه کړې شي، او خصوصاً ددې الحاد زندقې او بې دینئ په زمانه کښې مسلمانانو ته ددې اسلامی شعائرو په ذریعه زیات نه زیات فائده اورسولې شي؟

(۳) په دې موضع شادی دهمیال کښې تقریباً د شپیته کالو نه او د بعضې روایتونو مطابق د سلو کالو نه جُمعه ادا کیږي، او دا قیام یو جید عالم طرفنه منسوب کولې شی. د بعضې روایتونو مطابق دلته څه مودې دپاره د جمعة المبارک مونځ بند هم شو بیا هم د ډیرې مودې نه شروع شوې دې اوس پکښې علمائې کرام مختلف شوې دی. د مانعین جمعه په نزد مذکوره بستئ باندې دمصر په باره کښې دمشهور تفسیر اطلاق جائز نه وائي. او یوبل ځائې کښې د موضع روات کښې چه ددې بستئ نه تقریباً یو نیم میل فاصله باندې دې هلته د جمعې مونځ ادا کول جائز ګنړي او هلته ئې ادا کوي.

د موضع روات تعریف: روات بستی د راولپنډې نه لاهور طرفته یوولس میله فاصله باندې د جی ټی روډ سره نژدې واقع دې، او دنزدې نزدې علاقې آبادئ ته چه نورو ښارونو کښې د نقل وحمل د پاره بسونه دلته کښې اودریږی لیکن مستقل طور باندې د یو ټرانسپورټ کمیټئ ځائې ده موجود نه ده. دغه ځائې کښې پولیس سټیشن دې د جی ټی روډ نزدې واقع کیدلو په وجه د مانعین په قول دیرش دکانونه شمال او جنوباً او تقریباً دیرش خلویښت دکانونه شرقاً او غرباً دواړو طرفونو ته د بازار په شکل کښې موجود دی. لس دولس دکانونه پنځه شپږ کوڅو کښې ځان ځانته هم موجود دی. دلته نه دژوند ضروریات په آسانئ سره ملاویږی. د نهې (منګل) په ورځ د څارو منډئ هم لګی تقریباً دنیم میل په فاصلې باندې ریډیو پاکستان

او د هغې کالونې هم ده. یو سب پوسټ آفس هم دی. په آثار قدیمه کښې شاهی قلعه. شاهی قبرستان. او شاهی مسجد هم واقع دي. د بالغانو آبادی تقریباً زرو پورې ده. او بعضې دوه زره شپږسوه (۲۶۰۰) وائی او س که د پورتنی حقائقو او تعریف مطابق په موضع شادیٔ دهمیال کښې د جُمعې مونځ جائز نه وي نو آیا آئنده دپاره دا جُمعه بندول پکار دی؟

(۴) که د آئنده دپاره جُمعه بنده شی نو د فوت شوې ظهر مونځونو قضاء واجب ده یا نه؟

(۵) تقریباً سل کاله یا څه کم زیات نه جمعه کولو والا عام مسلمانان او علمائې کرام چه مړه شوې دي. دهغوی د ظهر فوت شوې مونځونو په عوض کښې به فدیه ورکولې شی یا نه؟

(۶) کومو علمائې کرامو چه ددې بستئ حالات او مواضعات ښکاره لیدلي او دجمعې د جواز فتوی ئې ورکړې او بالفعل ئې جمعه کړې ده اوس دجمعې د ناجائز کیدلو په صورت کښې د هغوی دپاره څه حکم دې؟

(۷) که په موضع شادی دهمیال کښې جُمعه ناجائز ده نو کومو مانعینو حه دخپلو دلائلو په موجود ګئ کښې ناجائزه ګرځولې او دې ځائې دمجوزینو تحقیق مطابق جُمعه جائز ګڼړلو او لوستونکو والا ئې بد عتیان ګرځولی. د هغوی دپاره په شرع متین کښې څه حکم دې؟

(۸) په موضع روات کښې چه چرته ما نعین خی او د جُمعې مونځ کوي. د پورتنی بیان او تعریف مطابق دجُمعې مونځ ادا کول څنګه دي؟ او که وی نو آبادئ والا جمات پریخودل د مذهبی اختلافاتو دیوبندي. بریلوی بیش نظره بل ځائې شاهی قبرستان والا شار جمات کښې جمعه کول څنګه دی حالانکه دواړه فریقین حنفی مذهب والا دی

(۹) که په دواړه کلو کښې جمعه جائز ده نو د ما نعینو خپله بستی موضع شادی دهمیال پریخودل او د بلې بستئ موضع روات کښې نو نیم میل تللو او جُمعه کول څنګه وي؟

(۱۰) بستی شادی دهمیال چه په پنځو بستیانو مشتمل ده. آیا په دې

مرکزی ښتی کښې د جمعې د جائز کیدلو په صورت کښې ددې ښتي په دوېمه حصه (بیروالیان) چه داخلی شادی دهمیال دي، کښې د جمعې مونځ اداکول جائز یا نه؟ ځکه چه اوس په دغه ښتي کښې هغه جمعې کېږی کومه چه په شادی دهمیال کښې کیدله

(۱۱) آیا په دې مرکزی ښتي موضع شادی دهمیال کښې د جمعې د جواز په صورت کښې ددې موضع دیوې ښتي نه علاوه په دوېمه ښتي کښې هم ځان له جمعې قائم کیدلې شي یعنی دوه یا درې ځایه جُمعه ادا کړې شي او دې وخت کښې به د ښتي شادی دهمیال پنځه واړو مواضعاتو ته ځان ځانله درجه ورکولې کیدې شي یا نه؟

(۱۲) که په شادی دهمیال کښې جمعه ناجائزه نو موضع رواټ ته یو نیم میل فاصله وهل د جمعې دپاره تلل څنګه دي. یعنی ضروری دی یانه؟

(۱۳) که موضع شادی دهمیال د مذکوره تعریف او حقائقو باوجود حکمی ښار جوړنه شو، نو موجوده بې دینی او الحاد اوګمراهی چه مخې ته کیښودې شی او صرف د تبلیغ په خاطر جُمعه ادا کړې شی او احتیاط الظهر هم اوکړې شی نو ګنجائش به وی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ناظم نشریات مدرسه فیض القرآن سودګنګال

الجواب: واضحه دې وی چه کتاب الله (قران) اګر چه په ظاهره سره د مصر (ښار) د تقید او تخصیص نه خالی دې لیکن په حقیقت کښې مصر سره مقید اومخصوص دې ځکه چه دا آیت عام مخصوص البعض دې اجماعاً.

لان صلاة الجمعة لا تصح فی المفازة والبحر بدلیل ان النبی علیه السلام صلی الظهر یوم الجمعة بعرفات ولم یامر لاحد من اهل مکة وغیرهم ان یصلوا الجمعة قلت والبحر کالمفازة فحکمها واحد.

او مسلمه قاعده ده چه عام مخصوص البعض تخصیص په خبر واحد سره جائز دې او بلا شک وشبهې دلته خبرواحد موجود دې.

وهو ما روی عن علی مرفوعا وموقوفاً لا جمعة ولا تشریق ولا فطر ولا اضحی الا فی مصر جامع، والموقوف اصح وهو فی حکم المرفوع لانه لا یدرک بالرای،

لهذا دجمعې مونځ به صرف په مصر کښې اداکولې شی

یؤید حدیث تناؤب اهل القریٰ وحدیث الاقامة فی قباقدر اسبوعین کما فی روایة ، وحدیث جوائی حیث لم یجمع فی القریٰ التی بین المدینة وجوائا وغیر ذلک ،
باقی پاتې شو دا تحقیق چه مصر کوم ځائې ته وئیلې شی نو په دې کښې فقهائې کرام مختلف دی که ددې ټولو اقوالو متعلق دمعلومولو اراده وی نو بحر ص ۱۴۰ جلد۲ مبسوط امام سرخسی ص ۲۳ جلد۲ ردالمحتار ص ۷۴۸ جلد۱ عینی شرح هدایة ص ۹۸۳ جلد۱ بدائع ص ۲۵۹ جلد۱
ته دې مراجعت اوکړې. خصوصاً آخرالذکر دا ډیر په تفصیل سره ذکر کړې، او په آخر کښې ئې فرمائیلې دې.
وروی عن ابی حنیفة انه بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق وفیها وال یقدر علی انصاف المظلوم من الظالم بحکمه و علمه او علم غیره والناس یرجعون الیه فی الحوادث وهو الاصح، انتهیٰ،
یعنی صاحب دبدائع دا تعریف غوره کړې دې هغه دادې
هو بلدة کبیرة فیها سکک واسواق ولها رساتیق ویخرج الناس الی الوالی فیما وقعت لهم من الحوادث،
لیکن دغور کولو نه پس معلومیږی چه دا اختلاف عنوانی نه دې. دټولو مصداق یو دې. ټولو علماؤ د خپلې خپلې زمانې په اعتبار سره چه کوم علامات په مصر کښې موندلې کیږی ذکر کړې دی که بالفرض دا اختلاف په معنون کښې شی نو اکثر تعریفونه به مطرد او منعکس نه کیږی وللتفصیل موضع آخر، نو بس مصر یو فردی التصور څیز دې او تعریف حقیقی په دې تعریفونو کښې د صاحب تحفه غوره معلومیږی یاهغه تعریف معلومیږی کوم چه بدائع اختیار کړې. لیکن د والی او حاکم وجود او اشتراط په تعریف حقیقی کښې غیر معتبر دې. ځکه چه معنی شرعی هغې معنی ته وئیلې شي. چه کومه شارع معتبر کړې وی. او په قران شریف کښې الله تعالی د مصر او مدینه اطلاق په هغه مقاماتو باندې هم کړې دې چه بالکل دارالحرب وو او د بعضې حاکم او والی تحقیق هم نامعلوم دې. دغه شان صحابه کرامو به په مدینه کښې د جمعې مونځ کولو د هجرت نه مخکښې حال دا چه په مدینه کښې نه حاکم وو او نه والی وو

روی ابو داؤد عن عبد الرحمن بن کعب عن ابیه انه کان اذا سمع النداء ترحم لاسعد بن زرارة قال لانه اول من جمع بنافی هزم النبیت فی موضع فی داخل المدینة ، وفی استیعاب ابن عبد البران اسعد بن زرارة کان اول جمع بالمدینة فی هزمة من حرة (بذل ص ۱۷۱ جلد۲) وفی المعرفة قال الزهری لما بعث رسول الله ﷺ مصعب بن عمیر الی المدینة لیقرء هم القرآن جمع بهم . (بذل ص ۱۷۰ جلد۲).

او د صحیح روایاتونه ثابته شوې ده چه د پیغمبر علیه السلام په ژوند کښې په جواثا کښې د جمعې مونځ قائم شو .حالانکه جواثا د صدیق اکبر رضی الله عنه په دور خلافت کښې فتح شوې دې:

قال صاحب معجم البلدان جواثا بالضم وبین الالفین ثاء مثلثة یمد ویقصر وهو علم مرتجل حصن لعبد القیس بالبحرین فتحه العلاء بن الحضرمی فی ایام ابی بکر الصدیق رضی الله عنه (بذل ص ۱۶۹ جلد ۲)

پس د دې دلیلونو په بناء باندې د مصر شرعی په تعریف حقیقی کښې د والی او حاکم وجود ضروری نه دې. او دا تعریف په موضع روات باندې صادق او په شادی دهمیال باندې صادق نه ده .لهذا په روات کښې د جمعې مونځ کول جائز دی او په شادی دهمیال کښې د مسلک حنفی خلاف دي.باقی پاتې شو دا تحقیق چه که عوام د جمعې د مونځ نه منع شی نو دا یقین یا ظن غالب به وی چه هغوی به نه مصر ته لاړ شی او نه فنا د مصر ته اونه به د ظهر مونځ اوکړی اونه به د وعظ اوریدلو د پاره چرته حاضر شی نو په داسې صورت کښې که په هغه کلو کښې چه چرته د یو امام شرط موجود وی که د جمعې مونځ قائم کړې شی او روستو احتیاطی مونځ ادا کړېشی نو د اعتراض قابل به نه وی،

ونظیره ما فی درالمختار وکره صلاة مع شروق الا العوام فلا یمنعون من فعلها لانهم یترکونها والاداء الجائز عند البعض اولیٰ من الترک، انتهیٰ،

او په کومو کلو کښې چه د ائمه اربعه نه د یو امام هم څه شرط موجود نه وی نو هلته کښې د جمعې مونځ کول به قابل انکار وی د دې تمهید نه پس مختصر جوابونه علی الترتیب لیکلې شی

(۱) ناجائز دی که د عوامو د فتنې خطره نه وی د فتنې نه مراد دا دې چه نه به ښار ته ځی او نه به فنا د مصر ته ځی او نه به د ظهر مونځ کوی

(۲) په صحیح او حقیقي تعریف کښې د بالغانو د شمیرهیڅ دخل نشته او عام فهم تعریف هم معلوم دي، کمامر في التمهید

(۳) که فتنه نه وي نو بند دي کړی

(۴) که احتیاطي مونځ ئې نه وي کړې نو قضاء واجب ده،

قال المقدسي ذكر ابن الشحنة عن جده التصريح بالندب وبحث فيه بانه ينبغي ان يكون عند مجرد التوهم، اما عندقيام الشك والاشتباه الجمعة فالظاهر الوجوب ونقل عن شيخ ابن الهمام ما يفيده. (ردالمحتار ص ۷۵۶ جلد ۱) وقال العلامة الشامي ناقلا عن الجواهر لو صلوا في القرىٰ لزمهم اداء الظهر (۷۴۸ جلد ۱)

(۵) فدیه ورکول بهتر دي، (لعدم الوصیه)

(۶) کله چه د مصر یو تعریف هم په دې مقام باندې صادق وي اګرچه هغه ضعیف وي نو په دغه مقام کښې د جُمعې مونځ کونکو او فتوی ورکونکو خلقو باندې دې اعتراض نه کوی

(۷) اصل حکم دا دې صحیح دې

(۸) د مفتی به قول په بنا د جُمعې تعدد جائز دې (درمختار)

(۹) روات ته تلل ضروری دي (وهكذا حكم القرى القريبة من مصر)

(۱۰) واضح ونیلې شوي دي چه په صحیح قول سره دا مصر نه دې.

(۱۱) په یو کښې هم د جُمعې مونځ ادا کول د مسلک حنفي مراعات نه دی

(۱۲) کله ضروري دی

(۱۳) چه عوام نه جبار نه خي او نه ظهر کوی او په دې مقام کښې دا شبه اربعه نه دي او هم څه شرط موجود وي نو جُمعه کول بشرط ادائي احتیاطي قابل اعتراض نه دي، وهو الموفق

فصل فی الخطبة

د جُمعې او عیدین د خطبې د الفاظو مقدار او حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام د جُمعې او اخترونو په خطبه کښې اول نحمده ونصلی علی رسوله الکریم) تعوذ او تسمیه اویو سورت او لولی او کینی بیا په دویمه خطبه کښې الحمد الله نحمده ونستعینه، الخ او لولی او ختمه ئې کړی. آیا شرعاً دا خطبه صحیح ده؟ بعضې خلق وائی چه دا خُطبه صحیح نه ده. ځکه چه په کومه خطبه کښې د صحابه کرامو نومونه نه راځی هغه خطبه نه وي. آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی غلام حیدر ټیکسلا......۵ نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: په دې قدر خطبې سره فرض او شرط پوره کیږی لهذا د جُمعې مونځ وغیره به صحیح وی البته دا خطبه د سنتو نه خلاف وي.

لان المسنون فی الخطبة الاولیٰ ان تکون مشتملة علی الحمد والصلوٰة والتشهد، والتذکیر والقرآن والثانیة علی الحمد والصلوٰة والتشهد والدعاء والقرآن کما فی البدائع والتجنیس فلیراجع﴿۱﴾. وهوالموفق

د جمعې په ورځ په خطبه کښې یا د خطبې نه مخکښې د وعظ او نصیحت حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جُمعې په ورځ خطبه جُمعه کښې د وعظ اونصیحت څه حکم دې؟ فرض دی یا سنت دی اویا

﴿۱﴾ قال العلامة علاء الدین الکاسانی: ینبغی ان یخطب خطبة خفیفة یفتتح فیها بحمد الله تعالیٰ ویثنی علیه ،ویتشهد ویصلی علی النبی ﷺ ، ویعظ، ویذکر، ویقرأ سورة ثم یجلس جلسة خفیفة ، ثم یقوم فیخطب خطبة اخری یحمد...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مستحب دی؟ ځکه چه په بعضې مقاماتو کښې صرف خطبه لولی او اخری سورتونو سره مونځ ختموی نو آیا وعظ ونصیحت ضروری نه دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عنایت مجیب خټک سب پوسټ ماسټر چترال

الجواب: په اولنۍ خطبه کښې په عربۍ کښې وعظ کول مسنون دی او په نورو ژبه کښې وعظ کول خلاف سنت دي.﴿۱﴾ او د خطبې نه مخکښې په هره ژبه کښې وعظ کول مستحب دي ﴿۲﴾

د جمعې او اخترونو په خطبه کښې د پنجابۍ ژبې شعرونه ونیل خلاف سنت دی

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دجُمعې او اخترونو په

(بقیه حاشیه) الله تعالیٰ، ویثنی علیه ویصلی علی النبی ﷺ ویدعو للمؤمنین و المؤمنات.
(بدائع الصنائع ص ۱ ۵ ۹ جلد ۱ سنن الخطبة)

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحئی اللکهنوی: فانه لا شک فی ان الخطبة بغیر العربیة خلاف السنة المتوارثة من النبی ﷺ والصحابة فیکون مکروه تحریما و کذا قراءة الاشعار الفارسیة والهندیة فیها. (عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة ص ۲۴۲ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ یدل بجواز الوعظ قبل الخطبة حدیث ابی داؤد عن سمرة بن جندب ان نبی الله ﷺ قال احضروا الذکر وادنوا من الامام فان الرجل لا یزال یتباعد حتی یؤخر فی الجنة وان دخلها. (سنن ابی داؤد ص ۱۶۵ جلد ۱ باب الدنو من الامام عند الموعظة)

وهکذا یدل علی الجواز بالوعظ قبل الجمعة اذن عمر لتمیم داری: واخرج ابن عساکر عن حمید بن عبد الرحمن ان تمیما الداری استاذن عمر فی القصص سنین فابی ان یاذن له، فاستاذنه فی یوم واحد فلما اکثر علیه قال له: ماتقول؟ قال: اقرأ علیهم القرآن وامرهم بالخیر وانهاهم عن الشر قال عمر: ذلک الذبح، ثم قال: عظ قبل ان اخرج فی الجمعة فکان یفعل ذلک یوما واحداً فی الجمعة.
(الموضوعات الکبری لملاعلی قاری ص ۳۲ رقم حدیث ۱۲۷ مقدمة)

خطبه كښې د پنجابئ او نورو ژبو شعرونه لوستل جائزدي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوى عبدالرحيم سير ډاک هزاره....۲۴/۱۲/۱۹۲۹ء

الجواب: د عربئ نه علاوه بل لغت لوستل (په خطبه كښې) خلاف سنت دى ځكه چه په خيرالقرون كښې ډير عجمى ملكونه فتح شول او په ډيرو ښارونو كښې جُمعه قائم كړې شوه او سره ددې چه بعضې صحابه كرام په فارسئ وغيره پوهيدل او وئيلې ئې شوه، او مخاطبين په عربئ نه پوهيدل خو خطبه به په عربئ ژبه كښې لوستلې كيدله. ﴿۱﴾

د امام د اجازت نه بغير په جمات كښې وعظ او تقرير كول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه په يو جمات كښې د محلې د امام درضا مندئ نه بغير د جُمعې په ورځ يا بله ورځ باندې څوک غير كس په ممبر باندې وعظ يا تقرير كولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاضى حبيب السلام پير سباق نوشهره....۱۷ محرم ۱۴۱۱

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الحئ اللكهنوى: فى آكام النفائس فى اداء الاذكار بلسان الفارسى: الكراهة انما هى لمخالفة السنة لان النبى ﷺ واصحابه قد خطبوا دائماً بالعربية ولم ينقل عن احد منهم انهم خطبوا خطبة ولو خطبة غير الجمعة بغير العربية (الى ان قال) الخطبة بالفارسية التى احدثوها واعتقدوها وحسنها ليس الباعث اليها الا عدم فهم العجم اللغة العربية وهذا الباعث قد كان موجوداً فى عصر خير البرية وان كان فيه اشتباه فلا اشتباه فى عصر الصحابة والتابعين ومن تبعهم من الائمة المجتهدين حيث فتحت الامصار الشاسعة والديار الواسعة واسلم اكثر الحبش والروم والعجم وغيرهم من الاعجام وحضروا مجالس الجمع والاعياد وغيرها من شعائر الاسلام وقد كان اكثرهم لا يعرفون اللغة العربية ومع ذلك لم يخطب احد منهم بغير العربية ولما ثبت وجود الباعث فى تلك الازمنة وفقدان المانع والتكاسل وهذه معلوم بالقواعد المبرهنة لم يبق الا الكراهة التى هى ادنى درجات الضلالة الخ. (مجموعة الفتاوى ص ۲۸۶،۲۸۷ جلد ۱ كتاب الصلوة)

الجواب: د ا وعظ او تقریر د امام الحیّ او د محلې داهل حل وعقد د اجازت نه بغیر ناجائزدي (۱) البته کله چه امام نه پخپله تقریر کولې شي او نۀ بل واعظ او مقرر ته اجازت ورکوی نو دا امام ضدی او معاند دې. وهو الموفق

د جمعې په خطبه کښې د والسلطان العادل ظل الله فی الارض الخ لوستلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د (والسلطان العادل ظل الله فی الارض من اهان سلطان الله فی الارض اهانه الله) ویل صحیح دی یا نه؟ بینوا اتوجروا

المستفتی برادر مولانا لطیف الله صاحب...... ۱۹۸۲،۱۰،۱۷ ۱۴

الجواب: دا د حدیث الفاظ دي (۲) ددې په خطبه کښې ذکر کول قابل اعتراض

﴿۱﴾ قال الحصکفی: والخیار الی القوم فان اختلفوا اعتبر اکثرهم ولو قدموا غیر الاولیٰ اساؤ بلا اثم واعلم ان صاحب البیت ومثله امام المسجد الراتب اولیٰ بالامامة من غیر مطلقاً، قال ابن عابدین: ای وان کان غیره من الحاضرین من هو اعلم واقرأ منه. (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۴۱۳ جلد ۱ باب الامامة)

فی المنهاج: (قوله فلایومهم) والراجح انه مخصوص بما لم یؤذن له لحدیث مسعود البدری قال قال رسول الله ﷺ لا یؤم الرجل فی بیته ولا فی سلطانه ولا یجلس علی تکرمته الا باذنه رواه ابوداؤد، وروی احمد ومسلم لا یؤمن الرجل الرجل فی سلطانه ولا یقعد فی بیته علی تکرمته الاباذنه ورواه سعید بن منصور ولکن قال فیه لایؤم الرجل الرجل فی سلطانه الا باذنه (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۳۸ جلد ۲ باب من زار قوماً فلا یصل بهم)

﴿۲﴾ عن زیاد بن کسیب العدوی: قال کنت مع ابی بکرة تحت منبر ابن عامر وهو یخطب وعلیه ثیاب رقاق فقال ابو بلال انظروا الی امیرنا یلبس ثیاب الفساق فقال ابوبکرة اسکت سمعت رسول الله ﷺ یقول من اهان سلطان الله فی ... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

نـه دی البتـه د موجـوده زمـانـي سـلاطينو تـه عـادل وئيـل قـا بـل اعـتـراض دي.﴿۱﴾ وهو الموفق

د خطبې دوران کښې د قعدې په شکل کښې کيناستل نه مطلوب دی نه ممنوع دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د خطبې دوران کښې د قعدې په شکل کښې کيناستل سنت دی يا واجب او په حديث کښې ددی متعلق څه راغلي دی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: اختر اسلام نو شهره کينټ..۲۹محرم ۱۴۰۱ھ

الجواب: د خطبې په دوران کښې د قعدې په شکل کښې کيناستل نه مطلوب دی او نه ممنوع دي.

لـمـا فی ابی داؤد: فـاذا جل فی المسجد اصحاب النبیﷺ فرأيتهم محتبين والامام يـخـطـب (ص۱۵۸ جـلـد ۱)﴿۲﴾ وقـال الـطـحـاوی فكان الاولیٰ بنا ان نحملها على الـحبـوة الـمستـانفة فی حال الخطبة لانه مكروه فی الخطبة وتكون الحبوة التی كانوا يـفـعـلـونهـا حبـوة كـانـوا يستعـمـلـونهـا قبـل الـخـطبة فيخطب الامام وهم فيها ﴿۳﴾.وهو الموفق

(بقيـه حاشيه) الارض اهانه الله، رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن غريب وعن ابن عمر ان الـنبیﷺ قال ان السلطان ظل الله فی الارض ياوی اليه كل مظلوم من عباده فاذا عدل كـان لـه الاجر وعلى الرعية الشكر واذا جار كان عليه الاصر وعلى الرعية الصبر، رواه البيهقی فی شعب الايمان. (مشكواة المصابيح ص ۳۲۱،۳۲۳ جلد۲ كتاب الامارة)

﴿۱﴾ قال العلامة حصكفی: ويندب ذكر الخلفاء الراشدين والعمين لا الدعاء للسطان وجوزه القهستانی ويكره تحريما وصفه بما ليس فيه. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۵۹۹ جلد ۱ قبيل مطلب فی قول الخطيب اعوذ بالله من الشيطان الرجيم)

﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ص ۱۶۵ جلد ۱ باب الاحتباء والامام يخطب ابواب الجمعة)

﴿۳﴾وفی المنهاج: وقد ثبت الاحتباء عن كثير من الصحابة والتابعون فی سنن ابی داؤد، وقال ابوداؤد لم يبلغنی ان احداً كرهها الا عبادة بن نسی،...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د جُمعې په ورځې جمات کښې ټيپ شوې تقرير اورول نه مطلوب دی او نه ممنوع دې

سوال: علمائې دن دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جُمعې په ورځ د خطبې او مونځ نه مخکښې د يو عالم ټيپ شوې تقرير په ممبر باندې کيښودل او جمات کښې اورول جائز دی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: متعلم جا معه حقانيه......۲۵\۲\۱۹۷۵

الجواب: ټيپ شوې تقرير په جمات کښې اورول نه ممنوع دی او نه مطلوب دی البته ځانې بجانې اوريدل هر ځائې کښې ممنوع دی.

لان العكس ههنا مماثل الاصل فی الاثر المخصوص فكذا فی الحكم الشرعی كما فی حديث النهی نعت المرءة عند زوجها وفيه كانه ينظر اليها فافهم ﴿۱﴾.

وهو الموفق

د جمعې په خطبه کښې د حضرت امير معاويه رضی الله عنه د نوم اخستلو حکم

سوال: يو خطيب صاحب د جُمعې په خُطبه کښې د خلفائې راشدينو د نومونو سره د حضرت امير معا ويه رضی الله عنه نوم هم اخلی. د مقتديانو د طرفنه دا

(بقيه حاشيه) قالوا التوفيق والله اعلم ان النهی محمول علی استيناف الحبوة فی حال الخطبة لان فی ذلک اشتغالا عن الخطبة بغيرها، والصحابة كانوا يحتبون قبلها فيخطب الامام وهم علی ما كانوا عليه من الاحتباء ففعلهم غير الذی نهی عنه كذا فی المعارف عن مشكل الطحاوی ،اعلم ان مناط النهی هو مخافة النوم لانه يجلب النوم، علی ان الهيئة لا يكون معها تمكن، فربما تفضی الی انتقاض الطهارة فيمنعه الاشتغال بالطهارة عن استماع الخطبة مع ما يتوقع منه من الافتتان فی الصلوٰة لغلبة الحياء ممن يخلو عن علم يسوسه وورع يحجزه كذا قال التوربشتی. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۶۲ جلد ۳ باب ما جاء فی كراهية الاحتباء والامام يخطب)

﴿۱﴾عن عبد الله بن مسعود قال قال النبی صلی الله عليه وسلم لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها كانه ينظر اليها. (الصحيح البخاری ص۷۸۸ جلد ۲ باب لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها)

اعتراض اوشو چه د حضرت معاویه رضی الله عنه نوم هغه ځائې کښې اخستلې کيږي چرته چه شيعه ګان وی دلته شيعه ګان نشته دې لهذا دا نوم دې نه اخستې کيږي نو خطيب صاحب دا جواب ورکړو چه که شيعه وی يا نه وی دا نوم به اخستې کيږی ددې نه پس يو مقتدی اووئيل چه د ټولو صحابه کرامو نومونه په نمبر نمبر اخله ګنی دا به هم پريخودې کيږی، نو جواب راوليږئ؟ بينوا توجروا

المستفتی مولوی ولی الرحمان خطيب جامع مسجد مانسهره ۱۹۷۷.۸.۱۲

الجواب: واضحه دې وی چه په خطبه کښې د خلفائې راشدينو او عمينو ذکر مندوب دی

کما فی شرح التنوير ويندب ذکر الخلفاء الراشدين والعمين(هامش ردالمحتار ص۵۴۴ جلد ۱)﴿۱﴾

او د نورو صحابه کرامو ذکر (بخصوصه) نه مندوب دی او نه ممنوع دې، البته د يو صحابی توهين فسق. ممنوع او ضلالت دې،

کما فی ردالمحتار ص۲۹۳ ، جلد۳ لما فی الاختيار اتفق الائمة علی تضليل اهل البدع اجمع وتخطئتهم وسب احد من الصحابة وبغضه لا يکون کفراً لکن يضلل الخ﴿۲﴾

پس نه اصرار مناسب دې او نه انکار مناسب دې خاص طورسره چه کله د حضرت معاويه رضی الله عنه متعلق ډير خلق د بدګمانئ شکار شوی دی وهو الموفق

د دويم اذان او خطبې په مينځ کښې جمات د پاره چنده کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د دويم اذان نه پس د خطبې په وخت کښې دجمات دپاره چنده کولې شی ايا دا جائزدی؟ بينوا توجروا

المستفتی نامعلوم ۱۹۷۱.۱۰.۲۵

الجواب: مناسب داده چه داذان ثانی نه مخکښې دې چنده جمع کړيشی.

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۵۹۹ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۳۲۱ جلد۳ مطلب مهم فی حکم سب الشيخين باب المرتد)

داذان ثانى او د خطبې د ارادې نه پس چنده كول جائز دي.

يدل عليه ما فى شرح التنوير اذا خرج الامام من الحجرة ان كان والافقيامه للصعود (شرح المجمع) قلت وفى حكمه بقاء المقرر قاعداً عند انتهاء التقرير وقصد الخطبة، قلت واما حديث سليک الغطفانى فقيل مخصوص وقيل لم يشرع فى الخطبة بعد توقف فلا صلاة ولا كلام خلا قضاء فائتة لم يسقط الترتيب بينها وبين الوقتية اه ﴿۱﴾ او توقف عنها، قلت هذان التاويلان ضعيفان اما الاول فلورود الحديث العام واما الثانى فلعدم صحته على مذهب الائمة وقيل منسوخ وهو الراجح عند التحقيق وللتفصيل مقام آخر﴿۲﴾. وهو الموفق

د جمعې په دواړو خطبو كښې تقرير كول د مونځ د پاره نقصان وركونكې نه دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائې چه د جُمعې په دواړو خطبو كښې كه تقرير او كړيشي نو مونځ كښې څه نقصان راځي؟

بينوا توجروا

المستفتى عزيز الرحمان متعلم حقانيه .... ۲۳ مارچ ۱۹۷۵

﴿۱﴾ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص ۲۰۵ جلد ۱ باب الجمعة)

﴿۲﴾ وفى المنهاج: واجيب عن حديث الباب بوجوه الاول ان النبى ﷺ امسک عن الخطبة فارتفع المانع..... والثانى ان ذلک كان قبل شروعه فى الخطبة..... والثالث ان ...انا الحكم مخصوص بسليک، وفيه نظر لان الاختصاص لا يثبت بمجرد الادعاء والرابع انه منسوخ بما ذكرنا كما جنح اليه العينى تبعاً للطحاوى والخامس انه مرجوح لانه معارض بالمحرم الخ.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۰،۵۹ جلد ۳ باب فى الركعتين اذا جاء الرجل والامام يخطب)

الجواب: خطبه خلاف سنت شوه. (۱) په مونځ کښې هیڅ نقصان نشته دي وهو الموفق..

(۱) قال العلامة ابی بکر الحداد الیمنی: یخطب خطبتین یفصل بینهما بقعدة ...... ومقدار الجلوس بینهما عند الطحاوی مقدار ما یحسن موضع جلوسه من المنبر وفی ظاهر الروایة مقدار ثلث آیات کذا فی الفتاویٰ قال فی النهایة وهذه القعدة عندنا للاستراحة ولیست بشرط وعند الشافعی شرط حتی لا یکتفی عنده بالخطبة الواحدة وان طالت.

(الجوهرة النیرة علی مختصر القدوری ص۱۰۷ جلد۱ باب الجمعة)

وقال الحافظ بن حجر العسقلانی: (قوله یخطب خطبتین یقعد بینهما) وصرح به فی روایة خالد بن الحارث قبل ولفظه: کان یخطب قائماً ثم یقعد ثم یقوم وللنسائی والدارقطنی من هذا الوجه کان یخطب خطبتین قائماً یفصل بینهما بجلوس...... ورواه ابوداؤد بلفظ: کان یخطب خطبتین کان یجلس اذا صعد المنبر حتی یفرغ الموذن ثم یقوم فیخطب ثم یجلس فلا یتکلم ثم یقوم فیخطب ، واستفید من هذا ان حال الجلوس بین الخطبتین لا کلام فیه...... واستدل به الشافعی فی ایجاب الجلوس بین الخطبتین لمواظبته ﷺ علی ذلک مع قوله صلوا کما رأیتمونی اصلی ...... وقال صاحب المغنی لم یوجبها اکثر اهل العلم لانها جلسة لیس فیها ذکر مشروع فلم تجب.

(فتح الباری شرح صحیح البخاری ص ۴۴۱ جلد۳ باب القعدة بین الخطبتین یوم الجمعة)

وفی المنهاج: (الجلوس بین الخطبتین) وهو سنة عند الجمهور خلافا للشافعی فانه شرط عنده وهی روایة عن احمد واستدل الشافعی علی مواظبته ﷺ علیه وقال صلوا کما رأیتمونی اصلی، قلنا محض فعل الرسول لا یدل علی الفرضیة والا یلزم ان لا نبغی فی الصلاة سنن واداب، وفی شرح التنویر یجلس بینهما بقدر ثلاث ایات علی المذهب وتارکها مسیئ علی الاصح.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص۵۶ جلد۳ باب ماجاء فی الجلوس بین الخطبتین)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب صلاة العیدین



بسم اللہ الرحمن الرحیم

عن ابن عباس رضی اللہ عنہ

ان النبی صلی اللہ علیہ وسلم

صلی یوم العید رکعتین

لم یصل قبلهما ولا بعدهما.

.....(اخرجه السبعة)...

..

باب صلاۃ العیدین

په ښځو د اختر مونځ واجب نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا په ښځو باندې کورونو کښې یو اځې د اخترونو مونځ واجب دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی خائسته رحمان متعلم حقانیه ...... ۲۳ذی قعده ۱۳۹۴ھ

الجواب: په ښځو باندې د اختر مونځ واجب نه دې لکه څنګه چه جمعه واجب نه ده. ﴿۱﴾

بل یکون علم وجوب صلاۃ العید اولیٰ لان شانها دون شان الجمعة. وهو الموفق

د اخترونو په مانځه کښې د شافعی امام اقتداء صحیح ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه شوافع د اخترمونځ د سنتو په نیت ادا کوی او احناف ئې د واجبو په نیت ادا کوي. آیا سنتو کولو والا پسې د واجب کولو والا اقتداء صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی الحاج عنایت ولی حقانی بنکاک... ۱۹۷۴/۱۱/۳

﴿۱﴾ قال العلامه ابن نجیم: (قوله ولا یحضرن الجماعات) لقوله تعالیٰ وقرن فی بیوتکن وقال ﷺ صلاتها فی قعربیتها افضل من صلاتها فی صحن دارها وصلاتها فی صحن دارها افضل من صلاتها فی مسجدها وبیوتهن خیر لهن ولانه لا یؤمن الفتنة من خروجهن اطلقه فشمل الشابة والعجوز والصلاة النهاریة واللیلیة قال المصنف فی الکافی والفتوی الیوم علی الکراهة فی الصلاة کلها لظهور الفساد. (البحر الرائق ص ۳۵۸ جلد ۱ باب الامامة)

الجواب: محترم الحاج عنایت ولی صاحب! بعداز سلام تا چه د کومې مسئلې متعلق تپوس کړې دهغې جواب دادې چه د اخترو مونځ زمونږ په مذهب کښې هم مختلف فیه دې. د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په نزد واجب دې او د صاحبینو په نزد سنت دې. لهذا دا اقتداء بغیر شک او شبهې نه جائز ده. برابره خبره ده که حنفی د واجبو نیت کوی یا صرف دُاختر دمونځ نیت کوی کما فی الدرالمختار وصح الاقتداء فیه (فی الوتر) ففی غیره اولیٰ ان لم یتحقق منه ما یفسدها فی اعتقاده فی الاصح بشافعی مثلاً لم یفصله بسلام لا ان فصله علی الاصح بهما للاتحاد وان اختلف الاعتقاد ، ولذا ینوی الوتر لا الوتر الواجب،قال الشامی ما معناه انه لا یلزم نیة الوجوب لا انه ممنوع منه، کما فی العیدین للاختلاف (قال العلامة الشامی ای فی الوجوب والسنة وهو علة للعیدین فقط) فلیراجع الی ردالمحتار ص۲۲٦ جلد۱ ﴿۱﴾ . وهوالصواب

د اختر د ورځې د پاره دمخکښې نه جامې تیارول او رقم کیښودل صحیح دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اخترونو د ورځې دپاره د یو څیز تعین کول مثلاً پیسې کیږدی چه دا د اختر د ورځې د خرچ د پاره دي. یا جامې جوړول او کیښودل چه د اختر دپاره دي.آیا دا تعین جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمان کونړ افغانستان

جواب: جاز اجماعاً کالوضوء قبل دخول الوقت ویدل علیه ما روی فی بعض کتب الحدیث سمنوا ضحایاکم فانها علی الصراط مطایاکم﴿۲﴾ . وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ص۲۹۳ جلد۱ مطلب الاقتداء بالشافعی)

﴿۲﴾ (اللطائف المستحسنة بجمع خطب شهور السنة للکهنوی ص۱٤۲ الخطبه لعید الاضحیٰ)

د اخترونو مونځ په صحرا کښې بهتر دې او په مصر کښې متعددو مقاماتو باندې جائز دې

سوال: علمائې کرام دې لاندې مسئلو باره کښې څه فرمائی؟

چه د اخترونو په مونځونو کښې د محلې په جماتونو کښې تقریباً د یو نیم سل کسانو اجتماع اوشی نو آیا دا صحیح دې؟ او که نه شرعاً عظیم اجتماع مطلوب ده؟ او آیا د اختر د مونځ دپاره د عیدگاه د حدودو د ښار نه بهر کیدل مطلوب شرعی دې؟ که وی نو په موجوده صورت حال کښې د ملتان شهر غالباً یوه عیدگاه هم د ښار نه بهر نه ده. ځکه چه ملتان ښار تقریباً د هر طرفنه څلور پنځه میله ښور شوې دې او س به څه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق مدرسه رحیمیه خرم گیټ ملتان شهر

الجواب: (۱) بهتر داده چه د آبادئ نه بهر صحرا ته د اختر د مونځ دپاره اوځی

فی الدرالمختار والخروج الیها ای الجبانة لصلاة العید سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحیح وفیه ایضاً الجبانة وهی المصلی العام قال العلامة الشامی ای فی الصحراء (ص۵۵۷ جلد۱ باب العیدین) ﴿۱﴾.

او د اختر د مونځ دپاره جماعت ضروری دې چه د امام نه علاوه د دریو کسانو نه کم نه وی

فی الدرالمختار واقلها اثنان، وفی ردالمحتار ص ۳۷۲ جلد۱ وهذا فی غیر الجمعة انتهی، اما فی البحر ای فان اقلها فیها ثلثة صالحون لا امامته سوی الامام ومثلها العید لقولهم یشترط لها ما یشترط للجمعة صحة واداء سوی الخطبة ﴿۲﴾. فافهم

(۳) او د اختر مونځ مختلفو ځایونو کښې که په ښار کښې دننه وی او که بهر وی جائز دې

فی الدرالمختار فی باب العیدین تؤدی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقا ﴿۳﴾ فقط

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ص۲۱۲ جلد۱ باب العیدین)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۴۰۹ جلد۱ مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد باب الامامة)
﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۲۱۶ جلد۱ باب العیدین)

د اختر دمونځ د پاره شپیته میله مزل کول د هیچا په نزد واجب نه دي

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یورپ کښې زمونږ د ځائې نه شپیته میله فاصله باند لرې ورکوټي شان جمات دي هلته لږ شان مسلمانان هم دی اوس حه څه هلته د اختر د مونځ دپاره ځم نو فرض مونځ ضرور قضا کیږي. څما دپاره هلته د اخترونو د مونځ د پاره تلل ضروری دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی ګل ضمیر

الجواب: شپیته میله لرې ځائې ته د جُمعې یا اخترونو مونځ د پاره تلل د یو امام په نزد هم واجب نه دی ﴿۱﴾ او خصوصاً چه په دغه تللو کښې د فرض مونځ دقضا کیدلو سخته خطره هم موجود وی فقط

د جُمعې او اختر مونځ کښې تداخل دائمه اربعه مذهب نه دې

سوال: علمائي دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله جُمعه او اختر په یوه ورځ راشی نو آیا د اختر مونځ او خطبه د جُمعې د مونځ او خطبې دپاره کفایت کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی:خائسته رحمان متعلم حقانیه....۸۱۱۲۱۱۹۷۴

الجواب: په ائمه اربعه کښې چا په صلاة عید کښې د تداخل جُمعه قول نه دي کړی ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامة حسن بن عمار: ولا يجب على من كان خارج المصر ولو سمع النداء من المصر سواء كان سواده قريبا من المصر او بعيدا على الاصح فلا يعمل بما قيل بخلافه، قال الطحطاوى: قال فى الشرح تنبيه قد علمت بنص الحديث والاثر والرواية عن المتنا ابى حنيفة وصاحبيه واختيار المحققين من اهل الترجيح انه لا عبرة ببلوغ النداء ولا بالغلوة، والاميال وانه ليس بشئ فلا عليك من مخالفة غيره الخ.

(الطحطاوى مع مراقى الفلاح ص ۵۰۴، ۵۰۵ باب الجمعة)

﴿۲﴾ قال الشامى: اما لمعنا فلزوم كل منهما قال فى الهداية..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

لان النبی ﷺ صلّٰها بلا تداخل، وما روی ان من شاء اجزاه من الجمعة فالمراد منه اهل العوالی لان النبی علیه السلام رخص لهم، نعم فی الایاب بعد صلاة العید وما روی عن ابی الزبیر وابن عباس رضی الله عنهما فمحمول علی التجمیع قبل الزوال او محمول علی فهمهما انه (ترک الجمعة) رخصة وقد کان لاهل العوالی فقط ﴿۱﴾. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) ناقلا عن الجامع الصغیر عیدان اجتمعا فی یوم واحد فالاول سنة والثانی فریضة ولا یترک واحد منهما قال فی المعراج احترز به عن قول عطاء تجزی صلاة العید عن الجمعة ومثله عن علی وابن الزبیر قال ابن عبد البر سقوط الجمعة بالعید مهجور وعن علی ان ذلک فی اهل البادیة ومن لا تجب علیهم الجمعة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۱۰ جلد ۱ باب العیدین)

﴿۱﴾ وفی منهاج السنن: (قوله وربما اجتمعا فی یوم واحد فیقرء بهما) فیه رد لزعم الجهال ان اجتماع الخطبتین یکون منحوساً، وفیه حجة علی من قال بتداخل صلوٰة الجمعة فی صلاة العید وهو عطاء بدلیل ما رواه ابوداؤد من حدیث زید بن ارقم ومن حدیث ابی هریرة من الرخصة فی ترک الجمعة لمن صلیٰ صلاة العید والجواب عنه انه حدیث ضعیف فی اسناد حدیث زید بن ارقم ایاس بن ابی رملة وهو مجهول، وفی اسناد حدیث ابی هریرة بقیة وهو متهم بتدلیس التسویة علا انه مضطرب رفعا وارسالاً، وعلی تقدیر تسلیم الصحة یقال انه علیه الصلاة والسلام رخص لاهل العوالی دون اهل المدینة کما فی روایة البیهقی وکما فی المعراج عن علی ان ذلک فی اهل البادیة ومن لا تجب علیه الجمعة، وکما رواه البخاری فی باب ما یؤکل من لحوم الاضاحی وما یتزود منها عن عثمان انه قال فی خطبته یا ایها الناس ان هذا الیوم قد اجتمع لکم فیه عیدان فمن احب ان ینتظر الجمعة من اهل العوالی فلینتظر، ومن احب ان یرجع فقد اذنت له وروی مثله الحاکم عن الفاروق الاعظم

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۷۳ جلد ۳ باب القراءة فی العیدین)

بغیر د عذر نه عیدګاه کښې مونځ نه کول خلاف سُنت دي او د محلې په جماتونو کښې جائز دي

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بلا عذر په عید ګاه کښې مونځ نه کول او په خپلو خپلو محلو کښې ادا کول څنګه دي؟ آیا ترک السنة نه دي؟ لکه چه په عینی او نورو کتابونو کښې دي؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد خلیل فاضل خیرالمدارس خطیب مسجد کلاں

الجواب: رسول الله ﷺ د باران د وجهې د اخترمونځ په جمات کښې کړی دی **کما فی ابی داؤد ص ۱۶۴ جلد ۱ عن ابی هریرة رضی الله عنه انه اصابهم مطر فی یوم عید فصلی بهم النبی ﷺ صلاة العید فی المسجد﴿۱﴾**

او شمیر ئې نا معلوم دې. او د ګډیانو. شلیانو د پاره جمات کښې د اختر مونځ کول جائز دي او نورو د پاره بلا عذر خلاف سنت دې.

کما فی ردالمحتار ص ۷۷۷ جلد ۱ وفی الخلاصة والخانیة السنة ان یخرج الامام الی الجبانه ویستخلف غیره یصلی فی المصر بالضعفاء ﴿۲﴾.

لیکن چه کله عید ګاه په آبادئ کښې دننه وی یا په مخکښې کیدلو او امامت کولو کښې د جهګړې خطره وی نو بیا په خپلو خپلو جماتونو کښې د اختر مونځ کول او عید ګاه ته نه تلل اهون البلیتین دي. وهو الموفق

په آبادئ کښې دننه عیدګاه او د مسجد حکم یو شان دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که عید ګاه چرته په آبادئ کښې دننه وی او د اختر مونځ په جمات کښې اوکړی شی نو آیا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی انور ایوب ګدون صوابئ ۷۱۶۱۱۹۸۸

الجواب: مسنون طریقه دا ده چه عید ګاه د ښار نه بهر وي. خو که بهر ښا سب

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ص ۱۶۷ جلد ۱ باب یصلی بالناس فی المسجد اذا کان یوم مطر)
﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۱۲ جلد ۱ مطلب یطلق المستحب علی السنة باب العیدین)

خاني نه وي نو د جمات او د دننه عیدگاه یو شان حکم دې ﴿۱﴾ وهو الموفق

د اختر په مونځ کښې د خلقو د کثرت په وجه د سجده سهو پریخودل جائز دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه امام عید په دویم رکعت کښې تکبیرات او نه لوستل او نیغ رکوع ته لاړو د رکوع نه پس ئې بیا تکبیرات ادا کړل او بیائې رکوع اوکړه او سجده سهو ئې اونکړه. آیا دا مونځ صحیح شو یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی محمد رضا دره آدم خیل کوهاټ ۱۹۸۴/۷/۱۲

الجواب: که د اختر په مونځ کښې د خلقو ډیر تعداد شریک وي نو د تکرار فرض په وجه دا واجب شوې سجده سهو پریخودل جائز دی (کما فی رد المحتار ص ۷۰۵ جلد۱ ﴿۲﴾ وهو الموفق

په یو ځائې کښې پرله پسې ځان ځانته د اختر مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په یو ځائې کښې یو وخت باندې چه د اختر خطبه اوروي کیږي نو دویم جمات د اختر د پاره د شریعت په رنړا کښې جائز دې یا نه؟ زمونږ ځائې کښې تنازع او اختلاف دې نو دې دپاره شرعی حکم صادر کړئ او ددې نزاع په ختمولو کښې تعاون اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی سلیمان خان واه فیکټری راولپنډی ۱۹۷۹/۹/۱۲

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: والخروج اليها اى الجبانة لصلاة العيد سنة وان وسعهم المسجد الجامع هو الصحيح قال الشامي اى في الصحراء بحر عن المغرب.
(الدر المختار على هامش رد المحتار ص ۶۱۲ جلد ۱ باب العيدين)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: والسهو في صلاة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتاخرين عدمه في الاولين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر
(الدر المختار على هامش رد المحتار ص ۵۵۶ جلد ۱ باب سجود السهو)

الجواب: د اختر د مونځ د پاره د نورو د مونځونو پشان نه عیدګاه شرط دې او نه جمات، پس مناسب دا ده چه د جهګړو په وخت کښې ځان ځانته ځائې کښې ﴿۱﴾ یا یوځائې کښې پرله پسې دې مونځ ادا کړیشی ﴿۲﴾ وهوالموفق

د عیدینو د خطبې په ضمن کښې یا روستو د خطبې نه په هیئت اجتماعیه سره د دعا حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اخترونو په اولنی خطبه کښې دعا غوښتل جائز دی یا نه؟ او د خطبې نه پس دعا غوښتل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیر محمد تله ګنګ ضلع اټک..... ۲۳شوال۱۴۰۳

الجواب: په خطبه کښې خطیب له په عربی کښې دعا کول پکار دي ﴿۳﴾ او ددې نه علاوه د خطبې په اول کښې یا آخر کښې یا د اختر د مونځ نه پس په هیئت اجتماعی سره دعا غوښتل نه مطلوب دی او نه ممنوع دی﴿٤﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ولو امکنه الذهاب الی امام آخر فعل لانها تودی بمصر واحد بمواضع کثیرة اتفاقاً. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۶۱۸ جلد ۱ باب العیدین)

﴿۲﴾ یوه عید ګاه کښې دویم جمات مکروه دې خود فتنې او فساد خطره که وی نو که د جهګړو د ختمولو د پاره په دغه ځائې کښې دویم جماعت منعقد کړیشی نو جائز دی لیکن امام دویم پکار دې. اولنې امام د دویم جمات امام نشی جوړیدلې. دې صورت کښې به اهون البلیتین معمول جوړول وی از مرتب

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: کما روی عن ابی حنیفة انه قال ینبغی ان یخطب خطبة خفیفة یفتتح بحمد الله ویثنی علیه ویتشهد ویصلی علی النبی ﷺ ویعظ ویذکر ویقرا سورة ثم یجلس جلسة خفیفة ثم یقوم فیخطب خطبة اخری یحمد الله تعالیٰ ویثنی علیه ویتشهد ویصلی علی النبی ﷺ ویدعو للمؤمنین والمؤمنات کما فی البدائع. (البحر الرائق ص۱۴۷ جلد۲ باب صلاة الجمعة)

﴿٤﴾ علامه مفتی کفایت الله دهلوی فرمائی: د اخترونو نه پس دُعا غوښتلو فی الجمله ثبوت خو شته مګر د موقع د تعین سره ثبوت نشته چه د مونځ نه پس یا د خطبې نه پس دوا په موقع [illegible]

د اختر د مونځ یا خطبې نه پس ددعا کولو متعلق قول رسول یا فعل رسول ثابت نه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د احادیثو او فقهې په رنړا کښې د اختر د مونځ یا خطبې نه پس دعا ثابت ده یا نه؟ د صحیح بخاری او مسلم په روایتونو کښې د نبی ﷺ په زمانه د زنانؤ عیدگاه ته تلل او د مسلمانانو په دعا گانو کښې شریک کیدل صراحةً موجود دی. که دا دعا اجتماعی نه ده نو د شرکت څه مطلب دې او که دعا وی نو اجتماعی به وی یا انفرادي؟ بینواتوجروا

المستفتی: مزمل حسن گلشن اقبال کراچی.....۲۲ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: د اخترد مونځ یا خطبې نه پس د دعا کولو یا نه کولو متعلق قولِ رسولِ یا فعل رسول مروی نه دې او په حدیث کښې چه مروی دي. ویشهدن دعوة المسلمین ﴿۱﴾ نو دا لفظ دعا. وعظ او عبادت درې وارو ته وئیلې شی. دا رنګه صلواة استسقاء ته هم وئیلې شی صرف دعا ته نشی وئیلې نو په داسې احتمالا تو سره دلیل نیول خو ډیر ناز ییا دی لکن بیا هم د احتمال په وجه کونکی باندې سخت انکا ر کول هم مناسب نه دي.

[بقیه حاشیه] باندې دعا غوښتلو کښې څه مضائقه نشته دې

(کفایت المفتی ص ۲۹۹ جلد۳ چهٹا باب نماز عیدین)

وقال الامام ولی الله الدهلوی: فاىد لهما بيومين فيهما تنويه بشعائر الملة الحنيفية وضم مع التجمل فيهما ذكر الله وابوابا من الطاعة لئلا يكون اجتماع المسلمين بمحض اللعب ولئلا يخلو اجتماع منهم من اعلاء كلمة الله..... وضم معه مقصداً آخر من مقاصد الشريعة وهو ان كل ملة لا بد لها من عرضة يجتمع اليها اهلها لتظهر شوكتهم وتعلم كثرتهم ولذلك استحب خروج الجميع حتى الصبيان والنساء وذوات الخدور والحيض ويعتزلن المصلى ويشهدن دعوة المسلمين. (حجة الله البالغه ۲: ۳۱ مبحث فی العيدين)

﴿۱﴾ وفی المنهاج: (قوله ويشهدن دعوة المسلمين) وفی رواية ابی داؤد يشهدن الخير ودعوة المسلمين والدعوة تعم الموعظة والذكر وطلب الحاجة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۴۳ جلد۳ باب خروج النساء فی العيدين)

لا سیما اذا هو لفظ روایة البخاری فیکبرن بتکبیرهم ویدعون بدعاء هم ﴿۱﴾. فافهم

د اختر د مونځ یا خطبې نه پس دعا کول عفو او مباح ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دعا د اختر د مونځ نه پس کول پکار دی یا د خطبې نه پس؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانا مفتی زرولی خان مدرسه احسن العلوم گلشن اقبال کراچي ۲۷\۱۲\۱۹۸۳ه

الجواب: د حضور ﷺ نه د اختر د مونځ یا خطبی نه پس د دعا کولو بانه کولو متعلق څه روایت مونږ ته نه دې معلوم البته ظاهری طور سره نه کول راجح معلومیږی والا لنقل الینا. دغه شان د پیغمبر علیه السلام نه د دې د منع متعلق هم څه روایت مروی نه دې. نو د قواعدو په رڼا کښې دا دُعا عفو او مباح ده ﴿۲﴾ البته د خارجی عوارضو التزام وغیره په وجه به ناجائز وی ﴿۳﴾ وهو الموفق

د اختر په ورځ د مصافحې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ څنې کښې علماء د اختر په ورځ د مصافحې نه منع کوی او فرمائی چه د حدیث نبوی ﷺ په رڼا کښې په جمات کښې مصافحه کول حرام دي. آیا صحیح دي؟ حال دا چه د اختر په ورځ مصافحې کولو سره اکثر د شمنئ په دوستئ سره بدلیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی ډاکټر محمد اقبال ملاکنډ ایجنسي

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص ۱۳۲ جلد ۱ باب فضل العمل فی ایام التشریق)

﴿۲﴾ عن سلمان قال سئل رسول الله ﷺ عن السمن والجبن والفراء فقال الحلال ما احل الله فی کتابه والحرام ما حرم الله فی کتابه وما سکت عنه فهو مما عفا عنه.
(سنن الترمذی ص ۲۰۶ جلد ۱ باب فی لبس الفراء ابواب اللباس)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: دیو خاص مونځ نه پس مصافحه کولو کښې اختلاف دې، د امام نووی او شمس حانوتی په نزد. لا باس به، دي، او د صاحب در مختار میلان هم جواز طرفته دې، د ابن حجر او صاحب ملتقط میلان کراهت طرفته دی، او ابن الحاج المالکی دیته بدعت وئیلې. (والروایات کلها مسطورة فی رد المختار ص ۳۳۶ جلد ۵ «۵» فلیراجع، نو احتیاط په پریخودلو کښې دې وهو الاقوی من حیث الدلیل، البته په کونکو باندې دې سخت انکار نه کوی (لوجود الروایة المبیحة. فافهم. وهو الموفق.

دښار نه یونیم میل فاصله باندې په صحرا کښې داختر مونځ اداکول

سوال: څه فرمائی علمائې دین ددې مسئلې باره کښې چه په مری علاقه کښې دښار نه یونیم میل فاصله باندې په غیرآباد ځائې کښې د کلونو راسې د اخترونو مونځ کیږی دلیل داورکوی چه د اختر مونځ به د ښار نه بهر په صحرا

(بقیه حاشیه) به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.

(البحر الرائق ص ۱۵۹ جلد ۲ باب العیدین)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: حیث قال اعلم ان المصافحة مستحبة عند کل لقاء واما ما اعتاده الناس من المصافحة بعد صلاة الصبح والعصر فلا اصل له فی الشرع علی هذا الوجه ولکن لا بأس به فان اصل المصافحة سنة..... ونقل مثله عن الشمس الحانوتی وانه افتی به مستدلا بعموم النصوص الواردة فی مشروعیتها وهو الموافق ونقل فی تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال..... ثم نقل ابن حجر عن الشافعیة انها بدعة مکروهة لا اصل لها فی الشرع..... وقال ابن الحاج من المالکیة فی المدخل انها من البدع وموضع المصافحة فی الشرع انما هو عند لقاء المسلم لاخیه لا فی ادبار الصلوات.

(رد المحتار هامش الدر المختار ص ۲۷۰ جلد ۵ باب الاستبراء وغیره)

کښې کولې شي په ښار کښې نه. او س هلته صرف د اخترونو مونځ کیږی دجمعې نه کیږی، نوآیا دا مونځ صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی خلیل الرحمن مدرسه تجوید القرآن
کوه مری راولپنډی ۱۹۷۲ء/۵/۱۳

الجواب: په ظاهره دغه ځائې کښې دجمعې مونځ کول هم جائزدی کما فی البدائع ص۲۶۰ جلد۱ وهل تجوز صلاة الجمعة خارج المصر منقطعاً عن العمران ام لا ذکر فی الفتاوی روایة عن ابی یوسف ان الامام اذا خرج یوم الجمعة مقدار میل او میلین فحضرته الصلاة فصلی جاز وقال بعضهم لا تجوز الجمعة خارج المصر منقطعا عن العمران وقال بعضهم علی قول ابی حنیفه وابی یوسف یجوز وعلی قول محمد لایجوز کما اختلفوا فی الجمعة﴿۱﴾. وهوالموفق

عید کارډ، عید مبارکی او عید د پاره د نوو جامو د اهتمام حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې، خط یا کارډ د اختر نه مخکښې جائز دی یا نا جائز؟ (۲) د اختر په ورځ مبارکئ ورکولو شرعاً جائز دی یا نه؟ او د مصافحې څه حکم دې؟ (۳) د اختر د پاره څو میاشتې مخکښې جامې جوړول او اهتمام کول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی خان محمد تنګی چارسده..... ۱۵ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: (۱) دعید کارډ یاخط په ذریعې سره مبارکی ورکول نه مطلوب دی او نه ممنوع شرعی دی بلکه مباح دی (۲) د اختر په ورځ چاته مبارکی ورکول مندوب دی. دحدیث نه ثابت دی﴿۲﴾ او د اختر د مونځ نه پس مصافحه کول

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ص۵۸۶ جلد۱ فصل فی بیان شرائط الجمعة)

﴿۲﴾ قال العلامه سید احمد الطحطاوی: والتهنئة بقوله تقبل الله منا ومنکم لا تنکر بل مستحبة لورود الاثر بها کما رواه الحافظ ابن حجر عن..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مختلف فیه دي، لهذا د یکښې سختی کول مناسب نه دي. البته د کولو نه ئې نه کول احوط دی (۳) د نوو جامو اهتمام کول هم نه مطلوب شرعی دی او نه ممنوع....

ملاحظه: ... دبې پردګئ، غیر محارمو سره مصافحه، فضول خرچئ التزام مالایلزم ټول په ټوله شرعی منکرات دي. کوم چه د غم اوښادئ په مو قعو کښې لیدلې کیږی نو مناسب داده چه ددې منکراتو مخ نیوې اوکړې شی نه دا چه د ښادئ وغیره. فافهم وهو الموفق

(بقیه حاشیه) تحفةعید الاضحیٰ لابی القاسم المستملی بسند حسن وکان اصحاب رسول اللهﷺ اذا التقوا یوم العید یقول بعضهم لبعض تقبل الله مناومنکم قال ..... قول الرجل لصاحبه عید مبارک علیک ونحوه ویمکن ان یلحق هذا اللفظ بذلک فی الجواز الحسن واستحبابه لما بینهما من التلازم. (الطحطاوی علی المراقی ص ۵۳۰ باب احکام العیدین) وقال العلامة جلال الدین السیوطی: اخرج الطبرانی فی الکبیر وزاهر بن طاهر فی تحفة عید الاضحیٰ عن حبیب بن عمر الانصاری قال: حدثنی ابی قال: لقیت واثلة رضی الله عنه یوم عید فقلت: تقبل الله منا ومنک، فقال: تقبل الله منا ومنک، واخرج الاصبهانی فی الترغیب عن صفوان بن عمرو السکسکی قال: سمعت عبد الله بن بشر، وعبدالرحمن بن عائذ، وجبیر بن نفیر، وخالد بن معدان یقال لهم فی ایام الاعیاد، تقبل الله منا ومنکم ویقولون ذلک لغیرهم، واخرج الطبرانی فی الدعاء، والبیهقی عن راشد بن سعد ان ابا امامة وواثلة لقیاه فی یوم عید فقالا: تقبل الله منا ومنک، واخرج زاهر بن طاهر فی کتاب تحفة عید الفطر وابواحمد الفرضی فی مشیخته بسند حسن عن جبیر بن نفیر قال: کان اصحاب رسول اللهﷺ اذا التقوا یوم العید یقول بعضهم لبعض، تقبل الله منا ومنکم واخرج زاهر ایضا بسند حسن عن محمد بن زیاد الالهانی قال: رأیت ابا امامة الباهلی یقول فی العید لاصحابه تقبل الله منا ومنکم، واخرج البیهقی من طریق ادهم مولیٰ عمر بن عبد العزیز قال: کنا نقول لعمر بن عبد العزیز فی العیدین، تقبل الله منا ومنک یا امیر المؤمنین فیرد علینا مثله ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د اختر په ورځ د مصافحې او معانقې نه منع کولو کښې سختی صحیح نه ده

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د عيدين نه پس مصافحه کول جائز ده يا نه؟ که ناجائز ده نو عوام الناس ددېنه منع کول ضروری دی يا نه؟ صاحب د احسن الفتاوی جناب مولانا مفتی رشيد احمد لدهيانوی مهتمم اشرف المدارس کراچی د مذکوره فتاوی په صفحه ۱۲۸۰ کښې ددی سوال په جواب کښې د شامی حواله ورکړې لاندينې عبارت ئې نقل کړې

نقل فی تبيين المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال لان الصحابة ما صافحوا بعد اداء الصلوٰة ولانها من سنن الروافض، ثم نقل عن ابن الحجر عن الشافعية انها بدعة مکروهة لا اصل لها فی الشرع وانه ينبه فاعلها اولا ويعذر ثانيا..... وقال ابن الحاج من المالکية فی المدخل انها من البدع وموضع المصافحة فی الشرع انما هو عند لقاء المسلم لاخيه لافی ادبار الصلوات فحيث وضعها الشرع يضعها فينهی عن ذلک ويزجر فاعله لما اتی به من خلاف السنة ثم اطال فی ذلک فراجعه فقط،

(بقيه حاشيه) ولا ينکر ذلک، واخرج الطبرانی فی الدعاء عن شعبة بن الحجاج قال: لقيت يونس بن عبيد فقلت تقبل الله منا ومنک فقال لی مثله واخرج الطبرانی فی الدعاء من طريق حوشب بن عقيل قال: لقيت الحسن البصری فی يوم عيد فقلت: تقبل الله منا ومنک، واخرج ابن حبان فی الثقات عن علی بن ثابت قال: سالت مـ[illegible] ل الناس فی العيد تقبل الله منا ومنک فقال: ما زال الامر عندنا کذلک لکن اخرج ابن عساکر من حديث عبادة بن الصامت قال: سالت رسول الله ﷺ عن قول الناس فی العيدين تقبل الله منا ومنکم فقال: "کذلک فعل اهل الکتابين" وکرهه وفی اسناده عبد الخالق بن خالد بن زيد بن واقد الدمشقی قال فيه البخاری منکر الحديث، وقال ابوحاتم: ضعيف، قال النسائی: ليس بثقه، وقال الدارقطنی: متروک، وقال ابونعيم: لا شئ. (الحاوی للفتاویٰ ۱: ۸۰، ۸۱ مبحث التهنئة بالعيد)

اوس دا تپوس دې (۱) دا مخالفت د کومې درجې دې؟ (۲) دا مخالفت آیا د مونځ کولو نه فوراً پس د پاره دې یا د اختر پوره ورځ په دې کښې داخله ده؟ (۳) آیا معانقه په دې کښې داخله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد رفیق مدرسه رحیمیه مسجد بیری والا ملتان شهر

الجواب: (۱) علامه شامی د رد المحتار په جلد خامس په مذکوره صفحه کښې د امام نووی او شیخ ابوالحسن بکری او شمس حانوتی وغیره نه دا مصافحه (د یو خاص مونځ نه پس) جائز او مباح لیکلې ده. او د صاحب در مختار علامه حصکفی میلان هم جواز طرفته دې لهذا دې مسئله کښې سختی نه دی کول پکار. او بهر حال نه کول افضل دي.

لان عند التعارض یرجح المحرم ولان العوام یعتقدون ان لها خصوصیة زائدة علی غیرها ان ظاهر کلامهم انه لم یفعلها احد من السلف فی هذه المواضع ﴿۱﴾.

(۲) کومو فقهاؤ چه دې مصافحې ته مکروه او بدعت وئیلې ده غوې اقوالو ته د مراجعت کولو نه معلومیږی ﴿۲﴾ چه کله مصافحه داولنی ملاقات په وخت کښې وی او د مصافحې کولو د وختونو متعلق په نسبت سره په نورو وختونو باندې د خصوصیت او زیات ثواب عقیده نه وی نو دې مصافحه کښې څه حرج نشته ځکه چه د تخصیص اعتمادی نه بچ کیدل ضروری دی دتخصیص عمل نه بچ کیدل شرعاً او عقلاً نا ممکن دی (۳) د معانقې متعلق فقهاؤ تصریح نه ده کړې لیکن د جانبینو نه په دیکښې دلائل جاری دی لهذا د مصافحې او معانقې حکم یو شان دې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۲۷۰ جلد ۵ باب الاستبراء وغیره)

﴿۲﴾ مولانا رشید احمد گنگوهی فرمائي. معانقه او مصافحه د تخصیص په وجه (چه په دې ورځې باندې دا د خوشحالۍ او محبت باعث او د نورو ورځو نه زیات ضروری گنړې) بدعت دې او مکروه تحریمی دی او علی الاطلاق هره ورځ مصافحه کول سنت دی او هم په دې شرطونو سره یوم العید ده. او بناء په دې باندې په دې شرائطو سره چه نورې ورځې دې دغه شان یو معانقه ده څه تخصیص د خیل طرفته کول بدعت ضلاله دې. (فتاوی رشیدیه ص ۱۳۸ کتاب البدعات)

ملاحظه عوامو ته د فقهاؤ د اختلاف ښکاره کولو نه دغه شان ددې حقیقت د واضحه کولو چه دې خاص مصافحه کښې د نورو وختونو نه زیات ثواب نشته صرف په دې باندې اکتفاء کولو سره د فتنې هیڅ خطره نشته وهوالموفق

د عیدین په مونځ کښې به مسبوق خپل رکعت د تکبیراتو سره پوره کوی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د اخترونو په مونځ کښې مقتدی په دوئم رکعت کښې شامل شو نو فوت شوې رکعت به څنګه پوره کوي، تکبیرات به وائی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم....

الجواب: د امام د سلام ګرځولو نه پس به مسبوق اودریږی سورت فاتحه او سورت به اووائی او تکبیرات زائده به هم اووائی خپل رکعت به پوره کړي

فی الدرالمختار ولو ادرک المؤتم الامام فی القیام بعد ما کبر کبر فی الحال برأی نفسه لانه مسبوق ولو سبق برکعة یقرأ ثم یکبر لئلا یتوالی التکبیر ﴿۱﴾. وهوالموفق

تکبیرات تشریق د احادیثو نه ثابت دي.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ایامِ التشریق کښې تکبیرات تشریق دکوم ځائې نه ثابت دي؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب الحق حضرو اټک..۱۹۸۲ء

جواب: وتکبیرات التشریق فمرویة عن عائشة وابن مسعود وعلی رضی الله عنهم فلیراجع الی البدائع الصنائع ص۱۹۵ جلد۱ ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص۶۱۲ جلد۱ باب العیدین)

﴿۲﴾ قال العلامة کاسانی: اتفق شیوخ الصحابة نحو عمر وعلی وعبد الله بن مسعود وعائشة رضی الله عنهم علی البدایة بصلاة الفجر من یوم ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

تکبیرات تشریق په منفرد او ښځه دواړو باندې واجب دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه تکبیرات تشریق خو با جماعت مونځ نه پس په سړو باندې واجب دی آیا دا په ځانته مونځ کونکې او ښځو باندې هم واجب دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل مالک سوریزی پایان پشاور... ۱۹۹۴ء

الجواب: د مفتی بهِ قول په بناء تکبیراتِ تشریق په ځانته کس او ښځو باندې هم واجب دي، البته ښځه به جهر نه کوي، ﴿۱﴾ وهوالموفق

د مفتیٰ به قول په بناء تکبیرات تشریق د عرفې د سحر نه تر د ۱۳ ذی الحجة عصر پورې دي.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد تکبیرات تشریق د عرفې د سحر نه د لسمې ذی الحجې د عصر پورې واجب دي، او د صاحبینو په نزد د عرفې د سحر نه ۱۳ ذی لحجې د عصر پورې واجب دي، په دیکښې مفتی بهِ قول کوم یو دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالرحیم قلعه سیف الله... ۱۹۹۰ء|۱۰|۱۰

(بقیه حاشیه)عرفة وبه اخذ علماؤنا، قلت اما روایة ابن مسعود وعلی ذکره محمد بن الحسن فی کتابه الاثار ص۴۲ برقم ۲۰۸ والحاکم فی المستدرک ص۲۹۹ جلد ۱ رقم: ۳۰۰ ، واما روایة عمر فاخرجه الحاکم فی المستدرک ص۲۹۹ جلد ۱ فی کتاب العیدین.

(بدائع الصنائع ص۴۵۸ جلد ۱ فصل فی وجوب التکبیر ایام التشریق)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ووجوبه علی امام مقیم بمصر وعلی مقتد مسافر او قروی او امرأة بالتبعیة لکن المرأة تخافت ویجب علی مقیم اقتدیٰ بمسافر وقالا بوجوبه فور کل فرض مطلقا ولو منفردا او مسافر او امرأة لانه تبع للمکتوبة الی عصر الیوم الخامس آخر ایام التشریق وعلیه الاعتماد والعمل والفتوی فی عامة الامصار.

(الدر المختار علی هامش رد المحتار ص۶۲۰ جلد ۱ باب العیدین)

الجواب: مفتی به مذهب د صاحبینو دې

کما فی الدر المختار ص ۵۸۹ جلد ۱ باب العیدین ﴿۱﴾ وعلیه الاعتماد وعلیه العمل والفتویٰ فی عامة الامصار وکافة الاعصار. وهو الموفق

په تکبیرات تشریق کښې مفتیٰ به قول د صاحبینو دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه په تکبیراتو د ایام تشریق کښې مفتی به قول د صاحبینو دې یاد امام ابو حنیفه رحمه الله؟ بینوا توجروا

المستفتی: لعل محمد بلوچستانی...... ۱۲۲ محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: مفتی به مذهب د صاحبینو دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وقالا بوجوبه فور کل فرض مطلقا ولو منفردا او مسافرا او امرأة لانه تبع للمکتوبة الی عصر الیوم الخامس آخر ایام التشریق وعلیه الاعتماد والعمل والفتویٰ فی عامة الامصار وکافة الاعصار.

(الدر المختار علی هامش رد المحتار ص ۶۲۰ جلد ۱ باب العیدین)

﴿۲﴾ قال العلامة جلال الدین الخوارزمی: بعد تفصیل المسئلة وذکر العلامة نجم الدین الزاهدی فی شرحه للقدوری والفتویٰ والعمل فی عامة الامصار وکافة الاعصار علی قولهما. (الکفایة فی ذیل فتح القدیر ۲: ۴۹ فصل فی تکبیرات التشریق ومثله فی الهندیة ۱: ۱۵۲ والتاتارخانیة ۲: ۱۰۲۱)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

کتاب الجنائز

بسم اللہ الرحمن الرحیم

.....قال اللہ تعالیٰ.....

أَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ۝١ حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ۝٢

(التکاثر)

....

عن ابی ہریرۃ رضی اللہ عنہ قال:

قال رسول اللہ ﷺ

اکثروا ذکر ہاذم اللذات: الموت

(رواہ الترمذی والنسائی وابن حبان والحاکم وابن عدی)

....

كتاب احكام الجنائز

باب صلاة الجنائز

يو مسلمان بې جنازې دفن كولو سره به ټول خبر شوي مسلمانان گناهنگار وي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څۀ فرمائى چه يو مسلمان د جنازې مستحق بغير د جنازې نه دفن كړې شو نو د دې گناه په چا ده؟ بينوا توجروا

المستفتى: مولانا نورجنان صاحب سرائې نورنگ بنون

الجواب: كوم كس چه شرعاً د جنازې مستحق وى دهغه بغير جنازې دفن كولو باندې به ټول خبر شوې خلق گنهگاروي، كه مقامى خلق وى او كه غير مقامى.(لانهم تاركوا الفرض(۱)) وهوالموفق

د جنازې په مونځ كښې عدم تاخير افضل دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه د جنازې مونځ مؤخر كول جائز دى يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: مولوى صالح موسىٰ زئى شريف.....۱۲ ربيع الاول ۱۴۰۲هـ

الجواب: د جنازې په مونځ كښې عدم تاخير افضل دې. لـماقى الهندية ص ۵۴ جلد ۱ لكن

---

(۱) وفى فتاوىٰ الهندية: الصلاة على الجنازة فرض كفاية اذا قام به البعض واحدا كان او جماعة ذكرا كان او انثى سقط عن الباقين واذا ترك الكل اثموا هكذا فى التتار خانية. (فتاوىٰ عالمگيرية ص ۱۶۲ جلد ۱ الفصل الخامس فى الصلاة على الميت)

الافضل فى سجدة التلاوة تاخيرها وفى صلوة الجنازة التاخير مكروه هكذا فى التبيين ﴿۱﴾ وفى شرح التنوير على هامش ردالمحتار ص۳۲۷ جلد ۱ وفى التحفة الافضل ان لا توخر الجنازة﴿۲﴾. وهو الموفق

په جنازه کښې دعوامو د طرفه مقررقاضی په امام الحی باندې مقدم دې

سوال: علماء دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې يو قاضی صاحب د پلار نيکه د وختونه د شرعی فيصلو کولو د پاره هم داسې قاضی راروان دې. او په پلار نيکه به ئې دې خلقو جنازې کولې. اوس قوم هم دا قاضی صاحب د شرعی فيصلو دپاره منتخب کړې دې نو ددې قاضی په موجود ګئ امام الحئ دجنازې د مونځ مجاز دې يا نه ؟ بينوا توجروا.

المستفتى قاضى اشرف خان باره ايجنسى ۲۱۱۵۱۱۹۸۴

جواب: صریح جزئیہ یافتہ نہ شد البتہ مقتضائے نظائر این ست کہ این قاضی مقرر شدہ از جانب عوام مقدم برامام الحی است، ونظيره تقديم الخطيب الذى نصب من العامة على امام الحى﴿۳﴾ والوجه فيه ان الرضاء على تقديمه كالعبارة بخلاف تقدم امام الحى فانه كالرضاء بالدلالة. فافهم. وهو الموفق

﴿۱﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ص۵۲ جلد ۱ الفصل الثالث فى بيان الاوقات التى لا تجوز فيها الصلاة وتكره فيها)

﴿۲﴾ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ص۲۷۵ جلد ۱ كتاب الصلوٰة)

﴿۳﴾ قال الحصكفى: واختلف فى الخطيب المقرر من جهة الامام اعظم او من جهة نائبه هل يملك الاستنابة فى الخطبة فقيل لا مطلقا اى لضرورة اولا الا ان يفوض اليه ذلك وقيل ان لضرورة جاز والا لا وقيل نعم يجوز مطلقا بلا ضرورة لانه على شرف الفوات لتوقة فكان الامر به اذنا بالاستخلاف دلالة ولا كذلك القضاء ......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په جنازه کښې فاتحه لوستل او د احنافو مذهب

سوال: په مړي باندې چه کومه جنازه کولې شي که دا مونځ وى نو دې کښې سورت فاتحه ولې نه لوستلې کيږي. شيخ عبدالحق محدث دهلوى ﷫ په أشعة اللمعات کښې ليکلي دى چه په جنازه کښې دې سورت فاتحه او لوستلې شى نو حنفى مذهب ددې اجازت ولې نه دې ورکړې؟ اوکه دا دعا وى نو د دعا نه پس ددعا څه ضرورت دې؟ اوحال دا چه په کتابونو کښې ئې د جنازې نه پس دعا مستحب ليکلې؟ بينوا توجروا

المستفتى: مولوى عبدالمتين خادم جامع مسجد مياں عمرصاحب
چمکنى پشاور ۱۴ جون ۱۹۸۴ء

الجواب: په بدائع وغيره کښې ليکلې شوى دى چه د احنافو په نزد په جنازه کښې سورت فاتحه د ثنا په طورسره لوستل جائز دي. ﴿۱﴾ او د ابوداؤد شريف حديث (اذا صليتم على الميت فاخلصوا له الدعاء. ﴿۲﴾ په بنا باندې اذکار په جنازې کښې ۲اصل دعا ده اود داخلى دعا نه پس خارجى دعا ممنوع نه ده. ﴿۳﴾ کما فى الصلوات الخمسة....الخ،.وهو الموفق

(بقيه حاشيه)وهو الظاهر من عباراتهم الخ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ص ۵۹۲ جلد ۱ مطلب فى جواز استنابة الخطيب)

وقال الشرنبلالى: وفى التبيين عن جوامع الفقه امام المسجد الجامع اولى من امام الحى انتهىٰ، والصلوٰة فى الاصل حق الاولياء لقربهم الا ان الامام والسلطان يقدمان لعارض الامامة العظمىٰ والسلطنة فان التقدم عليهما فيه ازدراء وفساد امر المسلمين فيتحاشا عن تلک الفساد فيجب تقديم من له حکم عام.

(امداد الفتاح ص ۶۲۲ فصل فى بيان الاحق بالصلوٰة على الجنازة)

﴿۱﴾ قال العلامة الكاسانى: وعندنا لو قرأ الفاتحة على سبيل الدعاء والثناء لم يكره.

(بدائع الصنائع ص ۵۲ جلد ۲ فصل فى بيان كيفية الصلاة على الجنازة)

﴿۲﴾ (سنن ابى داؤد ص ۱۰۰ جلد ۲ باب الدعاء للميت كتاب الجنائز)

﴿۳﴾ وفى المنهاج: قد ثبت الدعاء بعد صلاة الجنازة ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په جنازه کښې د امام څلورو تکبیرونو نه زیات ویل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جنازه کښې څلور تکبیرونه دی که امام په غلطئ سره پنځه تکبیرونه اولولی نو آیا دا جنازه به جائز دي؟ بینو اتوجرو

المستفتی: جان محمد صاحب هاتیان مردان.....۱۲شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: په پنځه تکبیرونو کولو سره جنازه کښې نقصان نه راځی البته په زیاتی تکبیرونو کښې دې مقتدی د امام سره تکبیر نه کوی او په سلام کرځولو کښې به ددغه امام سره شریک کیږی. (ماخوذ از شرح التنویر علی هامش رد المحتار (ص ۵۸۶ جلد ۱) ﴿۱﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) ممن فاتة الجنازة مثل ابن عمرو عبد الله بن سلام، و اما الدعاء ممن صلی علیها فذخیرة الاحادیث ساکتة عنه فمن ادعی انه علیه الصلاة و السلام دعا بعدها او ادعی انه لم یدع بعدها فدخل فی حدیث من کذب علی متعمدا فلیتبوء مقعده من النار ولوقال الخصم لو دعا بعدها لبلغ الینا، لجاز لنا ان نقول لو لم یدع لبلغ الینا کما بلغ الینا انه ما اذن وما اقام لصلاة العید، وبالجملة انه لا بد من الفرق بین علم الروایة وبین روایة العدم. نعم منع عنه الفقهاء واکثرهم لم یذکروا دلیل المنع، والبعض عللوا المنع بالزیادة علی الجنازة، والبعض الآخر عللوه بتکرار الجنازة، وکلتا القبیحتین انما تلزمان اذا دعا قائما فی الصف دون بعد کسر الصف وکذا اکثر الفقهاء یعبرون بلفظ طویل ای لا یقوم بالدعاء ولا یعبرون بلفظ مختصر ای لا یدعو. فیکون الدعاء بعد کسر الصف عفواً ومباحا لحدیث ماسکت عنه فهو عفو رواه ابوداؤد، نعم کم من مباح یصیر ممنوعا لعارض مثل الالتزام وغیره واعلم ان الفقهاء الحنفیة یعللوا هذا المنع بانه لم یوجد فی خیر القرون فانه دلیل سلفی منقوض جمعاً ومنعاً.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ص ۲۱۶ جلد ۳ باب ماجاء فی الصلاة علی القبر)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو کبر امامه خمسا لم یتبع لانه منسوخ فیمکث المؤتم حتی یسلم معه اذا سلم به یفتی. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۳۵ جلد ۱ باب صلاة الجنائز)

د جنازې نه منع کونکی د ې توبه تائب شی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوځو کسان د یو مسلمان د جنازې نه با قی کلې والا منع کوی. چه تاسو به شرکت نه کوئ او ددې رويې نه ګير چاپيره خلق هم متاثره کيږی اود جنازو نه منع کيږي، نو جنازه چه فرض کفایه ده که د کولو دا سلسله ئې دغه شان بنده شي.نو په قلاره قلاره به د فرض عين خاتمه هم اوشي، منع کونکی با اثره خلق دي، د هغوی سره مونږ له څنګه رويه اختيارول پکار دي، او په شريعت کښې ددې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالمنان هزاره... ۲۴نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا مانعين ګنهګاران او مجرمان دی.

قال الله تعالیٰ: ولا تطع كل حلاف مهين هماز مشآء بنميم مناع للخير (الآية)﴿۱﴾
وقال : القيا فی جهنم كل كفار عنيد مناع للخير (الآية) ﴿۲﴾
دهغوې دپاره توبه ضروری ده. وهوالموفق

د جنازې نه پس د دُعا حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د دعا بعد الجنازه څه حکم دې؟ د شريعت په رنړا کښې فتوی صادره کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتی: نائب صدر اصلاحی کميتی نوشهره...۲۳محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: دعابعدالجنازه د صفونوماتولو نه مخکښې په التزام سره کول بدعت دې،اوبغيرد التزام نه بدعت نه دې،البته دعا قبل السلام باندې اکتفاء کول افضل او دسلفو دتعامل په وجه اوفق دې،او بعدالسلام بعد کسر الصفوف بلا

﴿۱﴾(سورة القلم پاره:۲۹ آيت:۱۲ رکوع:۳)
﴿۲﴾(سورة ق پاره:۲۶ آيت:۲۴ رکوع:۱۶)

التزام ممنوع نه دی ﴿۱﴾ وهوالموفق

په جنازه کښې درې صفونه جوړول افضل دی او د کثرت په صورت کښې طاق جوړول انسب دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جنازه کښې صفونه طاق ساتل مستحب دی یا سنت؟ او بعضې خلق وائی چه شرکاء جنازه ډیر وی نو بیا طاق صفونه جوړول مستحب نه پاتې کیږی آیا دا صحیح دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: زاهد حسین پبی نوشهره........۲۱\ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: د جنازې په مونځ کښې درې صفونه جوړول افضل دي. (سنت زائده او مستحب دي)

لحدیث ما من مسلم یموت فیصلی علیه ثلاثة صفوف من المسلمین الا اوجب فکان مالک اذا استقل اهل الجنازة جزأهم ثلثة صفوف وفی روایة فتقال الناس علیها جزاهم ثلاثة اجزاء (مشکوٰة ص ۱۶۲ جلد ۱) ﴿۲﴾ وفی ردالمحتار ص ۸۱۸ جلد ۱ ویستحب ان یصف ثلاثة صفوف ﴿۳﴾

که شرکاء ډیر وی نو د هغې متعلق تصریح ملاؤ نه شوه. البته په (ان الله وتر

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم رحمه الله: وقید بقوله بعد الثالثة لانه لا یدعو بعد التسلیم کما فی الخلاصة وعن الفضلی لا باس به.

(البحر الرائق ص ۱۸۳ جلد ۲ فصل السلطان احق بصلاته، کتاب الجنائز)

وقال الشرنبلالی: ویسلم وجوباً بعد التکبیرة الرابعة من غیر دعاء بعدها فی ظاهر الروایة واستحسن بعض المشائخ ان یقال ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار اور بنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هدیتنا وهب لنا من لدنک رحمة انک انت الوهاب.

(امداد الفتاح ص ۶۲۰ مطلب سنن الجنازة)

﴿۲﴾ (مشکوٰة المصابیح ص ۱۴۷ جلد ۱ باب المشی بالجنازة الفصل الثالث)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ص ۶۴۵ جلد ۱ مطلب هل یسقط فرض الکفایة بفعل الصبی باب صلاة الجنازة)

ویحب الوتر (۱)،، حدیث باندې عمل کول انسب دي. چه کله حرج نه وي.
وهو الموفق

په جنازې کښې د امام په زوره سره دعا لوستل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یوه جنازه کښې پیش امام د آخری تکبیر نه پس دُعا په ښکاره اووئیله. د سلام ګرځولو نه پس نورو علماؤ د جنازې نه کیدلو فتوی ورکړه او په دویم ځل جنازه اوکړې شوه. آیا په دې وجې سره به جنازه په دویم ځل کولې شي؟ بینو اتوجروا

المستفتی: شیخ عطاء محمد

الجواب: واضحه دې وی چه د جنازې ارکان تکبیرات دي. اودعا ګانې وغیره لوستل مسنون دي. اوپه هغې کښې پټوالې کول هم د مونځ پشان مسنون دي(۲) اوپه بعضې وختونو کښې د پیغمبر علیه السلام نه جهرهم ثابت دې(۳) لهذادې خلاف سنت کار په وجه باندې جنازه راګرځول خلاف سنت دي. ولم اجده صریحا مع تتبع بلیغ ولذا اجبت بحسب مااقتضاه القواعدوالاصول. وهوالموفق

﴿۱﴾ (صحیح البخاری ص ۹۴۹ جلد۲ باب لله تعالیٰ ماة اسم غیر واحد قبیل کتاب الرقاق)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویسلم بلا دعاء بعد الرابعة تسلیمتین ناویاً المیت مع القوم ویسر الکل الا التکبیر ذیلعی وغیره لکن فی البدائع العمل فی زماننا علی الجهر بالتسلیم. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۴۴ جلد ۱ باب صلاة الجنازة)

وقال العلامة ابن نجیم: ولا یجهر بما یقرأ عقب کل تکبیرة لانه ذکر والسنة فیه المخافة کذافی البدائع وفیه وهل یرفع صوته بالتسلیم لم یتعرض له فی ظاهر الروایة وذکر الحسن بن زیاد انه لا یرفع لانه للاعلام ولا حاجة له لان التسلیم مشروع عقب التکبیر بلا فصل ولکن العمل فی زماننا علی خلافه. (بحر الرائق ۲: ۱۸۴ فصل السلطان احق بصلاته)

﴿۳﴾ وعن ابن عباس انه صلی علی جنازة فقرأ فیها بفاتحة الکتاب وجهر بها. اخرجه الشافعی فی مسنده ص ۵۷۹ جلد ۱ والبخاری فی صحیحه ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په قبرستان کښې د جنازې د مونځ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق وائی که د جنازې مخې ته مقبره وی یا هسې قبرونه وی نو مونځ او جنازه نه کیږی
لان فیه تشبیه مع اهل الکتاب...... ویکره فی معاطن الابل والمزبله والمجرزه والمغتسل والحمام والمقبرة وعلی سطح الکعبة، وعن ابی مرثد قال قال رسول الله ﷺ لا تجلسوا علی القبور ولا تصلوا الیها لان فیه استخفاف (رواه مسلم) **ولان فیه تعظیماً بلیغاً ،**
دویمه خبره داده چه کومې مسئلې د مونځ دی هغه د جنازې هم دي. نو کوم طرفته چه مونځ نه کیږی جنازه به هم نه کیږي .د قاضی خان په حوالې سره مشکوٰة ص ۱۲۲ منیة المصلی ص ۲۸۱ فتاوی ودودیة وضاحت اوکړئ او اطمینان راکړئ بینوا توجروا

المستفتی: سید مجاب استاد گنڈهیری نوشهره.....۲۷نومبر ۱۹۷۴ء

جواب: اختلف الاکابر فی کراهیة صلوٰة الجنازة عند القبور القریبة بلا حائل ﴿۱﴾ والظاهر عدم الکراهیة لان النبی ﷺ صلی علی بعض

(بقیه حاشیه)فی الجنائز باب قراءة فاتحة الکتاب علی الجنائز برقم: ۱۳۳۵ ، وابوداؤدفی سننه فی الجنائز باب ما یقرأ علی الجنازة والترمذی فی جامعه فی الجنائز والنسائی فی المجتبیٰ من السنن والحاکم فی المستدرک.
(حاشیه بدائع الصنائع ص ۵۲ جلد۲ کیفیت صلاة الجنازة)
﴿۱﴾ بدائع الصنائع کی دی: قال ابوحنیفة ولا ینبغی ان یصلی علی المیت بین القبور وکان علی وابن عباس یکرهان ذلک وان صلوا اجزأهم لما روی انهم صلوا علی عائشة وام سلمة بین مقابر البقیع (ص ۶۵ جلد۲ سنن الدفن)
په فتاوی دارالعلوم دیوبند ص ۳۶۷ جلد ۵ کښې دی کوم ځائې کښې چه څلور طرفونه ته قبرونه وی نو د جنازې مونځ یا فرض مونځ کول مکروه دي. او په امداد الفتاوی ص ۵۰۱ باب الجنائز کښې دی د قبر طرفته چه کوم مونځ مکروه دې نو په دې وجه چه هغه په مړی مشتمل دې چه دعبارت دغیرالله احتمال پکښې دې.او په جنازې کښې خو پخپله مخامخ مړی کیښودې شوې دې نو: قبرمخې ته کیدل خو (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

القبور ﴿۱﴾. ولان التشبیه لا یتأتی بالقیام البحث فافهم ﴿۲﴾ ولم اجده صریحاً. وهو الموفق

د مرتکب کبائر د جنازې حکم

سوال: ما حکمکم دام مجدکم درحق کسے کہ یک مرد گواہی نہ میدہد کہ زید نماز فرض گزارد، یا صوم رمضان داشتہ، نیز مرتکب کبائر باشد چوں بمیرد مسلمانان نماز جنازہ بریں زید مذکور گزارند یا نہ؟ زجراً یا حقیقتاً؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سهیل ضلع کوهاټ....۱۴ نومبر ۱۹۷۴

الجواب: د بعضې قسمونو نه علاوه د ټولو مسلمانانو جنازه کول فرض دي.

قال رسول الله ﷺ صلوا علی کل بر وفاجر رواه ابوداؤد ﴿۳﴾ وفی الدر المختار وهي

[بقیه حاشیه] بدرجه اولی صحیح دي. دا خو تحقیقي جواب دې او سائل چه په خط کښې د بعضې غیر مقلدینو نه نقل کړې دی چه هغوی قبرونو سره نزدې په جنازې باندې د عدمِ جواز حکم لګولې دې که هغوی انصاف والا وی نو د هغوی د جواب د پاره دا حدیث کافی دې کوم چه شیخینو روایت کړې دې.

عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ مر بقبر دفن لیلا فقال متی دفن هذا قالوا البارحة قال افلا اذ نتمونی قالوا دفناه فی ظلمة اللیل فکر هنا ان نوقظک فقام فصففنا خلفه فصلی علیه،

اوګورئ په دې حدیث کښې تصریح ده چه پیغمبر علیه السلام د جنازې مونځ داسې اوکړو چه قبر ئې مخې ته وو اوکه هغوی اعتساف والا وی نو د هغوی سره خطاب بیکاره دې خپله تسلی اوکړه او عمل کول پکار دی انتهي

﴿۱﴾ عن ابن المسیب ان النبی ﷺ صلی علی قبر ام سعد بن عبادة بعد شهر. (جامع ترمذی ص ۱۲۳ جلد ۱ باب ماجاء فی الصلوة علی القبر)

﴿۲﴾ قال الکاسانی: ان صلاة الجنازة لیست بصلاة علی الحقیقة انما هی دعاء واستغفار للمیت الا تری انه لیس فیها الارکان التی تترکب منها الصلاة من الرکوع والسجود الا انها تسمی صلاة لما فیها من الدعاء واشتراط الطهارة واستقبال القبلة فیها لا یدل علی کونها صلاة حقیقة کسجدة التلاوة ولانها لیست بصلاة مطلقة فلا یتناولها مطلق الاسم. (بدائع الصنائع ص ۵۳ جلد ۲ کیفیت صلاة الجنازة)

﴿۳﴾ (سنن ابی داؤد ص ۳۵۰ جلد ۱ باب فی الغزو مع ائمة الجور کتاب الجهاد)

فرض علی کل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طریق الخ ﴿۱﴾ نو لهذا تاسو د دي کتابونو فهرست راولیږئ چه مونږ د جنازې د صحیح والی یا نه صحیح والی حکم ورکړې شو. وهو الموفق

په شیعه د جنازې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه شیعه کله مړ شی نو اهل سنت د هغه جنازه کولې شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم... ۱۹۸۶ء۱۹۱۳

الجواب: کوم شیعه ګان چه د ضروریات دین نه انکاری وي. مثلاً حضرت علی رضی الله عنه پیغمبر مني. د صدیق اکبر رضی الله عنه د صحابی کیدلو نه انکار کوی یا په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې بهتان لګوی امامت ته په نبوت باندې فوقیت ورکوي. یا یو غیر الله ته علم کلی ثابتوي. وغیره نو داسې شیعه باندې جنازه کول حرام دی او داسې شیعه ګان کافران دی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د قرض خواه د طرف، قرض دار باندې د جنازې بندولو هیڅ حق نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه قرض خواه د خپل دولت په غرور کښې د مقروض متوفی د توهین د، اوه امام صاحب د جنازې کولو نه منع کولې شي؟ او جنازه بندولې شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم......

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۴۲ جلد ۱ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين: نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله تعالیٰ عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن. (ردالمحتار ص ۳۲۱ جلد ۳ مطلب فی حکم سب الشیخین)

الجواب: الف: قرض خواه د باره د احق نشته چه د امام وغیره د جنازې نه منع کړې ځکه چه پیغمبر ﷺ به په ابتدا ، کښې په بعضې مقروضینو باندې د جنازې نه کولو اراده لرله نو نورو مسلمانانو نه به ئې حکم اوکړو چه تاسو به دده جنازې اوکړئ (کما فی حدیث متفق علیه والاقال للمسلمین صلوا علی صاحبکم)

(ب) پیغمبر ﷺ دا تعلیظ او تشدید تر آخره پورې جاری اونه سا تلو بلکه اخره کښې ئې بند کړې وو.

یدل علیه کما ورد فی ذلک الحدیث فلما فتح الله علیه الفتوح قام فقال انا اولی بالمؤمنین من انفسهم فمن توفی من المؤمنین فترک دینا فعلی قضآء ه ومن ترک ما لا فهو لورثته ﴿۱﴾.

(ج) د قرض خواه بندول په دې زمانه کښې ثابت نه دی . د فقهائې کرامو په مدیون اودا سې مقروض باندې د جنازې نه کولو استثنا ، نه ده کړې . فلیراجع الی الهندیة ص ۱۷۲ جلد۱ ورد المحتار ص۸۱۴ جلد۱ ﴿۲﴾ وهو الموفق

د منکوحة الغیر سره د نکاح کولو والا د جنازې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یود ښځه د بل سړی نکاح کښې ده. او د هغه سړی په مجود ګئ کښې دا ښځه بل خانې کښې واده اوکړی او ژوند تیروی په دې دوران کښې دا ښځه یا دا دویم خاوند مړ شی نو د هغوی جنازه کیدیشی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی ماصل خان کنی میانه ۸ فروری ۱۹۷۵

﴿۱﴾ (جامع الترمذی ص۱۲۷ جلد۱ باب ماجاء فی المدیون ابواب الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: اقول قد یقال لا دلالة فی الحدیث علی ذلک لانه لیس فیه سوی انه علیه الصلاة والسلام لم یصل علیه فالظاهر انه امتنع زجرا لغیره عن مثل هذا الفعل کما امتنع عن الصلاة علی المدیون ولا یلزم من ذلک عدم صلاة احد علیه من الصحابة (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص۶۲۳ جلد۱ مطلب هل یسقط فرض الکفایة بفعل صبی باب صلاة الجنازة)

الجواب: کومه ښځه چه نه خاوند آزاده کړې وی او نه مسلمان حاکم باقاعده د نکاح تنسیخ کړې وی نو دې ښځې سره نکاح کول قطعی حرام دي. (قال الله تعالیٰ والمحصنٰت من النساء الخ﴿۱﴾ که دا جوړه خپل ځان حرام کار او ګنهګار ګڼړی نو عوام دې جنازه اوکړی خواص نه ﴿۲﴾ اوکه خپل ځان حلال ګڼړی نو دا ښځه خاوند به بغیر جنازې نه کفن دفن کولې شی. ﴿۳﴾ وهوالموفق

د منکوحة الغیر ساتلو والا جنازه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو سړې منکوحة الغیرځان سره ساتی اودهغې نه بچې هم پیداشوی وي،دداسې سړی دجنازې څه حکم دې؟ اود داسې سړی د لور سره نکاح صحیح ده یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اشرف عفی عنه ډاګئ یار حسین صوابي

الجواب: که یو کس حلال ګڼړونکې وی او خپل ځان ګنهګار نه ګڼړی نو د کفر د وجې نه﴿۱﴾

﴿۱﴾(سورة النساء پاره: ۵ آیت :۲۴ رکوع ۱)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: ظاهر حدیث النسائی اما انا فلا اصلی علیه حجة لاحمد، ان الامام لا یصلی علیه، ویصلی علیه غیر الامام لحدیث والصلاة واجبة علی کل مسلم برا کان او فاجراً وان عمل الکبائر رواه ابوداؤد، وعند ابی حنیفة ومالک واحمد یصلی علیه بلا تخصیص وحدیث الباب واقعة عین لا عموم لها، فیحمل علی الزجر کما انه علیه السلام فی اول الامر لا یصلی علی بعض المدیونین زجراً. (منهاج السنن شرح جامع السنن ص۲۳۶ جلد۴ باب ماجاء فی من یقتل نفسه لم یصل علیه)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقال من استحل حراما قد علم فی دین النبی علیه الصلاة والسلام تحریمه کنکاح المحارم فکافر.

(ردالمحتار ص۲۹ جلد۲ مطلب استحلال المعصیة القطعیة کفر باب زکاة الغنم)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقال من استحل حراما قد...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په ده باندې جنازه کول صحیح نه دي ﴿۱﴾ او که دا ښځه هم دا کار حلال ګنړي نو د هغې د لور سره هم قبل الاسلام نکاح صحیح نه ده. ﴿۲﴾ او د هغې شهادت د استحلال په وخت کښې مردود دې. او د عدم استحلال په وخت کښې به ئې د فاسق په شان حکم وي. وهو الموفق

د مړی سر جنوب ته او خپې شمال ته کول او جنازه کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو امام په لاپروهئ کښې جنازه کوله نو د مړی سر ئې جنوب ته او خپې ئې شمال ته کړې او جنازه ئې اوکړه مړې ئې خخ کړو. آیا دا جنازه شوې ده یا نه؟ او په دې کښې ګنهګار مقتدیان دی که امام صاحب؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: په دې صورت کښې جنازه اوشوه اګرچه خلافِ سنت ده او چه کله په دې کار کښې عمد او قصد نه وی نو هیڅ قسم ګناه هم نشته دی ﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) علم فی دین النبی علیه الصلاة والسلام تحریمه کنکاح المحارم فکافر. (ردالمحتار ص ۲۹ جلد ۲ مطلب استحلال المعصیة القطعیة کفر باب زکاة الغنم)

﴿۱﴾ وقال العلامة شرنبلالی: وشرائطها ستة اولها اسلام المیت لقوله تعالیٰ ولا تصل علی احد منهم مات ابداً، یعنی المنافقین وهم الکفرة ولانها شفاعة للمیت اکراما له وطلبا للمغفرة والکافر لا تنفعه شفاعته ولا یستحق الاکرام. (امداد الفتاح ص ۶۱۷ فصل فی صلاة الجنازة)

﴿۲﴾ قال الشرنبلالی: کصبی ای اسر مع احد ابویه من دار الحرب ثم مات لانه تبع له لقوله ﷺ کل مولود یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه الا ان یسلم احدهما. (امداد الفتاح ص ۶۲۸ مطلب ما یفعل بالمستهل)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وصحت لو وضعوا الرأس موضع الرجلین واساؤا ان تعمدوا ولو خطؤا القبلة صحت الخ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۳۱ جلد ۱ باب صلاة الجنازة)

د نیولونه مخکښې چه قطاع الطریق قتل کړې شول نو جنازه به نې نشی کولې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په سړک باندې درې ډاکوان ناست وو چه ناڅاپه پولیس راغلل نو په هغوې کښې یو کس راپا څیدو تهانړه دارنې مړ کړو. او اوتښتیدو او باقی دوه نې اونیول دویم تهانړا دار راغې هغه دواړه ئې مړه کړل اوس به هغوی باندې جنازه کولې شی یا نه؟ ځکه چه دوی قطاع الطریق دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالجلیل... ۱۹۷۴ء۱۳۱۲۴

الجواب: قطاع الطریق چه د نیولو نه مخکښې قتل کړې شی نو دهغوی د جنازې مونځ به نشی کولې. (کما فی ردالمحتار ج۱: ص۸۱۴(۱)) وهوالموفق

د نابالغه د جنازې نیت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه نابالغه هلک یا جینئ مړه شی نو دهغې د جنازې دمونځ نیت مونږ داسی کوو. څلورتکبیرونه د جنازې د مونځ فرض کفایه خاص الله تعالی دپاره او درورود په پیغمبر علیه السلام دعا د پاره ددې حاضرمړی په دې حاضرامام پسې مخ مې دکعبې شریفې په طرف الله اکبر...اوس بعضې خلق وائی چه دعا د خپل ځان دپاره وایئ. ځکه چه ماشوم بخلې شوې دې. نوتاسواووایئ چه کوم یونیت صحیح دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: علی اصغر سیرئی هزاره.... ۴ نومبر ۱۹۷۴

﴿۱﴾ قال ابن عابدین: (قوله اذا قتلوا فی الحرب ولو بعده صلی علیهم) قال الزیلعی واما اذا قتلوا بعد ثبوت ید الامام علیهم فانهم یغسلون ویصلی علیهم وهذا تفصیل حسن اخذ به کبار المشائخ لان قتل قاطع الطریق فی هذه الحالة حد او قصاص ومن قتل بذلک یغسل ویصلی علیه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۴۲ باب صلاة الجنائز)

الجواب: په عالمگیریه په صفحه ۱۷۴ جلد اول کښې د جنازې نیت لیکلې شوې دې. ﴿۱﴾ په هغې کښې دا لفظ چه دعا دپاره د مړی نشته. لهذا که دا پریخودې شی نو هیڅ حرج به پکښې نه وی او که ذکر کړیشی نو صرف د بالغینو په جنازه کښې د ې ذکر شی لیکن د غیر بالغینو په جنازه کښې ذکر کول به هم غلط نه وی کما فی روایة واعذه عذاب القبر ﴿۲﴾ وهو الموفق

که د مړی صرف سره او موندلې شی نو د جنازې څه حکم دې؟

سوال: فقهائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی صرف سر اومندلې شی نو سر باندې به د جنازې څه حکم وي؟ حال دا چه د مړی په باقی حصه باندې یو ځل جنازه شوی ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم..... ۱۷ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: صرف په سره باندې جنازه کول غیر مشروع دی.

لما فی شرح التنویر وجد رأس آدمی او احد شقیه لا یغسل ولا یصلی علیه بل یدفن (هامش ردالمحتار ص ۸۰۴ جلد ۱)﴿۳﴾. وهوالموفق

د دروغژن د امامت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیوې ښځې د جنازې

﴿۱﴾ وفی الهندیة: فالامام والقوم ینوون ویقولون نویت اداء هذه الفریضة عبادة لله تعالیٰ متوجها الی الکعبة مقتدیا بالامام.
(فتاویٰ عالمگیریة ص ۱۶۴ جلد ۱ الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت)

﴿۲﴾ عن سعید بن المسیب قال صلیت وراء ابی هریرة علی صبی لم یعمل خطیئة قط فسمعته یقول اللهم اعذه من عذاب القبر، رواه مالک.
(مشکواة المصابیح ص ۱۴۷ جلد ۱ باب المشی بالجنازة)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ص ۱۳۳ جلد ۱ باب صلاة الجنائز)

مونځ په سنی طریقه باندې شوې وو. او پوره کلي ددې خبرې عینی شاهد دي. مګر جنازې والا سړی په عدالت کښې سرباندې قرآن کینود چه ما د شیعه ګانو په طریقه جنازه کړې ده. حال دا چه هغه پخپله هم سنی دې لهذا دداسې دروغژن امام څه حکم دې؟ او دهغه دامامت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی ملک حیات مرزا اټک ۵ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب واضحه دې وی چه د یو سړی یا ښځې د سُنی یا شیعه کیدلو دارمدار په اعتقاد او اقرار باندې دې نو چه د کومې ښځې متعلق د شیعه کیدلو څه ثبوت نه وی نو په هغې باندې د شیعه ګانو شان جنازه کول ناجائز دي. او په هغې باندې د سنیانو پشان جنازه کولو باوجود غلط بیانی کول ګناه دپاسه د ګناه ده. او که په قوم کښې ددې غلط بیان والا نه دینی حیثیت سره بهتر سړې موجود وی نو هغه پسې اقتداء کول مکروه تحریمی دې. او دا امام واجب العزل دې ګنې په بل صورت کښې به رندو کښې یوې سترګې والا راجه وي. (ماخوذ از بحر ص ۳۴۹ جلد ۱) وهوالموفق

په مړی باندې د ولی ابعد د جنازې کولو نه پس د ولی اقرب په دویم ځل جنازه کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په قطر کښې مړشو او ولی ابعد ئې جنازه اوکړه او س چه میت پاکستان ته راوړسی او خراب شوې نه وی نو آیا په وطن کښې پرې ولی اقرب په دویم ځل جنازه کولې شي؟ احقر په دې باره کښې د شامي. بحر. بدائع وغیره ژوره مطالعه اوکړه. خما رائې داده چه ولی اقرب په مذکوره صورت کښې جنازه کولې شی لیکن په علاقه کښې بعضې علماء د احقر د رائې خلاف کوی نو ستاسو صاحبانو رائې څه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی مفتی معین الدین صاحب دارالافتاء انجمن تعلیم القرآن کوهاټ ۲۴ ستمبر ۱۹۸۴

الجواب کومه جنازه چه د ولی اقرب د اجازت نه بغیر اوکړې شی نو ولی اقرب

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: وینبغی ان یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم والا فلا. (البحر الرائق ص ۳۴۹ جلد ۱ باب الامامة)

دهغې اعاده کولې شی (۱) خو چه په کوم ځائې کښې ولی اقرب موجود نه وی نو دهغه حق به د کوم ځائې نه ثابتوی (۲)

کما فی عقد الا بعد عند غیبوبة الاقرب الا ان الاقرب له حق العقد ثمه (۳) لان النکاح لا یشترط له حضور المولاة بخلاف الجنازة فانها لا تصح علی الغائب فافهم.

په مړی باندې پلیت څادر یا کفن واچولې شی یا د رینبمو په کپړو کښې وی نو د جنازې څه حکم دې؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که مړې چرته په نجس ځائې یا نجس کټ بافرش باندې کېښودې شی یا څادر پرې واچولې شی یا په نجس کفن یا رینبمی کفن وغیره کښې کېښودې شی. آیا په دې باندې جنازه صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: پشم خان

الجواب: په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

فی شرح التنویر عن القنیة الطهارة من النجاسة فی ثوب وبدن ومکان وستر العورة شرط فی حق المیت والامام جمیعاً (۴) انتهیٰ. وفی

---

(۱) قال العلامة ابن الهمام: (قوله فان صلی غیر الولی والسلطان اعاد الولی) هذا اذا کان هذا الغیر غیر مقدم علی الولی فان کان ممن له التقدم علیه کالقاضی ونائبه لم یعد.
(فتح القدیر ص ۸۳ جلد ۲ فصل فی الصلاة علی المیت)

(۲) قال العلامة ابی بکر بن علی الحداد الیمنی: وللاقرب ان یقدم علی الابعد من شاء لانه لا ولایه للابعد معه فان غاب الاقرب فی مکان تفوت الصلاة بحضوره فالابعد اولی وهو ان یکون خارج البلد فان قدم الغائب غیره بکتاب کان للابعد ان یمنعه والمریض فی المصر بمنزلة الصحیح یقدم من شاء ولیس للابعد ان یمنعه.
(الجوهرة النیرة شرح القدوری ص ۱۲۸ جلد ۱ باب الجنائز)

(۳) قال العلامة ابوبکر الحداد الیمنی: (قوله واذا غاب الولی الاقرب غیبة منقطعة جاز لمن هو ابعد منه ان یزوج خلافا لزفر) والاصل ان عندنا ان الولی الابعد اولیٰ من السلطان، الخ. (الجوهرة النیرة ص ۷۶ جلد ۲ کتاب النکاح)

(۴) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ص ۶۳۰ جلد ۱ باب صلاة الجنائز)

ردالمحتار فی التتارخانیة سئل قاضی خان عن طهارة مکان المیت هل تشترط لجواز الصلوٰة علیه قال ان کان المیت علی الجنازة لا شک انه یجوز والا فلا روایة لهٰذا وینبغی الجواز وهکذا اجاب القاضی بدر الدین، قلت وروایة القنیة لا تعارض بروایة قاضی خان...... لان النجاسة ان کان من بدن المیت فلا تضر والا فتمنع الصلوٰة. (ردالمحتار ص ۸۱۲)﴿۱﴾ الحریر لا یمنع صحة الصلوٰة عند احد من الائمة. وهو الموفق

د جنازې د تکرار اجازت نشته

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو مړی جنازه یو ځلې ادا کړې شوې ده اوس بعضې خلقو نه پاتې شوې دي. هغوې اصرار کوی چه جنازه د ې په دویم ځل د بل امام په امامت کښې ادا کړیشی نو دویمه جنازه به ادا کولې شی یا فوراً به دفن کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی غلام جیلانی امام مسجد اندر کوټ بېروټ مری ۲۴\شوال\ ۱۴۰۸ھ

الجواب: د جنازې تکرار مشروع نه دې.

کما فی الهندیة ص ۱۷۳ جلد ۱ ولا یصلی علی میت الامرة واحدة والتنفل بصلاة الجنازة غیر مشروع الخ، وقلت وعلیه تعامل السلف الصالحون﴿۲﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۴۰ جلد ۱ مطلب فی صلاة الجنازة باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ص ۱۶۳ جلد ۱ الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت)

وقال الکاسانی: ولنا ماروی ان النبیﷺ صلی علی جنازة فلما فرغ جاء عمر ومعه قوم فاراد ان یصلی ثانیا فقال له النبیﷺ الصلاة علی الجنازة لا تعادو لکن ادع للمیت واستغفرله وهذا نص فی الباب وروی ان ابن عباس وابن عمر فاتتهما صلاة علی جنازة فلما حضرا ما زادا علی الاستغفار له الخ.

(بدائع الصنائع ۲: ۴۷ کیفیة الصلاة علی الجنازة)

دامام الحئ په موجود ګئ کښې د بل سړی جنازه کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه اسلامی بادشاه يا نائب يا قاضی نه پس د جنازې حق امام الحئ ته دې دهغه نه پس ولی ته دې ليکن که پخپله د امامت اهليت نه لري. آيا بل سړې دامام الحی د رضا نه بغير جنازې د پاره مخکښې کولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتی مولانا فضل احمد بابړه.....۳ جولائی ۱۹۷۵

الجواب: که دا مړې په ژوند کښې ددې امام الحئ پسې د علتِ صحيحه په وجه اقتداء کولو نه ناراضه نه وو نو ددې ولی جنازه کول يعنی امامت کول يا بل سړې امام جوړول (د امام الحئ د اجازت نه بغير) بهتر نه وي.

يدل عليه مافی الدرالمختار ثم امام الحی فيه ايهام وذلک ان تقديم الولاة واجب وتقديم امام الحی مندوب ، فقط بشرط ان يکون افضل من الولی، وفی ردالمحتار ص ۸۲۳ جلد ۱ وانما کان اولی لان الميت رضی بالصلوٰة خلفه فی حال حياته فينبغی ان يصلی عليه بعد وفاته، قال فی شرح المنية فعلی هذا لو علم انه کان غير راض به حال حياته ينبغی ان لا يستحب تقديمه، قلت هذا مسلمٌ ان کان عدم رضاه به لوجه صحيح والا فلا فتامل ﴿۱﴾ انتهیٰ ما فی ردالمحتار، قلت لما کانت الجنازة عبارة عن التکبيرات دون الاذکار فکان اکثرالعوام اهلا لها. وهوالموفق

د مړ پيدا شوی بچې د جنازې حکم

سوال علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د بوې ښځې د اوو

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ص ۶۳۹ جلد ۱ مطلب فی بيان من هو احق بالصلاة علی الميت باب صلاة الجنائز)

میاشتو مړېچې پیدا شو. په هغه باندې د جنازې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالغنی ۳جون ۱۹۷۵

الجواب: کوم بچې چه مړ پیدا شوې وي. په هغه به د جنازې مونځ نه کیږي. اګر که بدن ئې مکمل شوې دې. (رد المحتار) ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جنازې په نیت کښې د فرض په ځائې کفائې وئیل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائیلې دی چه مونږ د جنازې په نیت کښې فرض کفائی وایو اوس یو صاحب وائی چه کفائی وئیل صحیح نه دي، دا غلط دي، بلکه فرض کفایه وئیل پکار دې.آیا دا کفائی وئیل غلط دي؟ بینوا توجروا

المستفتی فضل هادی محکمه تعمیرات ایس ډی او بلډنګ مردان ۲۱۷۱۱۹۶۹

الجواب: عربی لفظ کفایه دې. ﴿۲﴾ او په پښتو کښې کفائی وئیلې کیږی. وهوالموفق

مړې ویستل او بل ځائې ته وړل او په هغه باندې په دویم ځل د جنازې حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دفن کولو نه پس مړې راویستل او بل ځائې ته وړل څنګه دي؟ او په هغه باندې په دویم ځل د جنازې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی عبدالاحد شاهین مارکیټ مردان ۲۱۸۱۰۱۹۸۴ء

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وما لم یتم وفیه خلاف والمختار انه یغسل ویلف فی خرقة ولا یصلی علیه کما فی المعراج والفتح والخانیة والبزازیة والظهیریة شرنبلالیة وذکر فی شرح المجمع لمصنفه ان الخلاف فی الاول وان الثانی لا یغسل اجماعاً.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ص ۶۵۵ جلد ۱ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله وهی فرض کفایة) ای الصلاة ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: دا د مړي ويستل بغير د ضرورت شرعي نه ناجائز دي. ﴿۱﴾ او په دويم ځل جنازه کول په هر حال کښې ممنوع دي. (شامي) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د مرزائي جنازه كول يا ئې د جنازه پسې تلل ناجائز دي.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چې د مرزائي (قادياني) جنازه کول يا ئې د جنازې سره تلل جائز دي يانه؟ او آيا په کونکي باندې ښځه حراميږي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد محمد صغير شاه کيمل پوراټک..... ۱۹۷۰ء/۱/۲۰۱۹

الجواب: په مرزائي باندې د جنازې مونځ کول او د هغه د جنازې سره تلل ناجائز دي ﴿۳﴾ ليکن کفر نه دې. لهٰذا په دې سره په نکاح باندې اثر نه غورځيږي. فقط

د شو ورځونه پس د جنازې مونځ کول

سوال: علمايې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه که ديو مړي جنازه نه

(بقيه حاشيه)عليه للاجماع على افتراضها و كونها على الكفاية. (البحر الرائق ص ۱۷۹ جلد۲ فصل فى السلطان احق بصلاته)

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفى: و لا يخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق آدمى.

(الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار ۱: ۶۶۲ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله لان تكرارها غير مشروع) اى عندنا وعند مالك خلافا للشافعى رحمه الله والادلة فى المطولات.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۵۲ قبيل مطلب فى كراهة صلاة الجنازة فى المسجد)

﴿۳﴾قال العلامة الشرنبلالى: وشرائطها ستة اولها اسلام الميت لقوله تعالى: ولا تصل على احد منهم مات ابداً، يعنى المنافقين وهم الكفرة ولانها شفاعة للميت اكراما له، وطلبا للمغفرة ، والكافر لا تنفعه شفاعته ولا يستحق الاكرام.

(امداد الفتاح :۶۱۷ شرائط صحة الصلاه على الجنازة فصل فى صلاة الجنازة)

وی شوې نو د څو ورځو تیریدلو نه پس د جنازې مونځ کول صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالرشید کوهاټ ... ۱۲صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: چه تر څو پورې مړې تکړې تکړې شوی نه وی او دهغه بدن ټول یا اکثر صحیح روغ رمټ وی نو په هغه باندې د جنازې مونځ کول جائز دی. اګر که د څو میاشتو نه پس وی. (ما خوذ من الشرح الکبیر ومن الدرالمختار ورد المحتار ۱: ۸۰۴، ۸۱۲) ﴿۱﴾ وهوالموفق

جنازه تر څلویښتو قدمونو پورې وړل سنت زائده (مستحب) دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه هر سړې چه جنازه څلویښت قدمونه وړی او باقاعده قدمونه شمارلې کیږي. لکه چه په بعضې کتابونو کښې ددې په اصل سنت او کمال سنت سره تشریح شوې. که څوک انکار اوکړی نو هغه به د انکار کولو والا شمار کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی الطاف الرحمان ماړی شرقی ناګی ضلع هزاره ۱۰محرم ۱۳۹۲

الجواب: مړې څلویښت قدمونه وړل سنت زائده یعنی مستحب دی فلیراجع الی رد المحتار وغیره. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحلبی: ومن دفن ولم يصل عليه صلى على قبره ما لم يغلب على الظن انه تفسخ. (غنية المستملی المعروف بالکبیری ۵۴۲ فصل فی الجنائز)

وقال الحصکفی: وان دفن بغير صلاة صلى على قبره استحسانا مالم يغلب على الظن تفسخه من غير تقدير هو الاصح وظاهره انه لو شک فی تفسخه صلی علیه لکن فی النهر عن محمد لا كانه تقديما للمانع. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۲ باب الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: واذا حمل الجنازة وضع ندبا مقدمها على يمينه عشر خطوات لحديث من حمل جنازة اربعين خطوة كفرت عنه اربعين كبيرة الخ. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۷ باب صلاة الجنائز) ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د والدینو قاتل، قطاع الطریق او د خود کشی کولو والا جنازه.

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه

(۱) کوم کس چه د پلار قاتل وی نود دغه قاتل جنازه شرعاً جائز ده یا نه؟

(۲) کوم کس چه خودکشی اوکړی د دغه خودکشی کونکی جنازه جائز ده یا نه؟

(۳) ډاکو یعنی قطاع الطریق که قتل کړې شونو د هغه جنازه جائز ده یا نه؟

بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمنان.........۱۹۷۵،۱،۵،۲۱

الجواب: وبالله التوفیق ! د والدینو په قاتل باندې به جنازه نشی کولې. کما فی شرح التنویر، ولا یصلی علی قاتل احد ابویه اهانة له(هامش الدر،۱:۸۱۵)﴿۱﴾ دغه شان قطاع الطریق چه کله د ډاکې په دوران کښې قتل کړې شی نو په هغوی به جنازه نه شی کولې. کما فی شرح التنویر وقطاع الطریق فلا یغسلوا ولا یصلی علیهم اذا قتلوا فی الحرب (هامش رد المحتار۱:۸۱٤) ﴿۲﴾ او په خودکشی کونکی باندې جنازه جائز ده. لما فی شرح التنویر من قتل نفسه ولو عمداً یغسل علیه وبه یفتیٰ وان کان اعظم وزراً من قاتل غیره. البته که خواص ترې نه ډډه اوکړی نوګنجائش شته.لحدیث مسلم (هامش الرد ۱ ۸۱۵) ﴿۳﴾

وهوالموفق

بقیه حاشیه)وقال الحلبي: ویستحب ان یحملها من کل جانب عشر خطوات لما روی عنه علیه الصلاة والسلام انه قال من حمل جنازة اربعین خطوة کفرت عنه اربعین کبیرة الخ. (غنیة المستملی شرح منیة المصلی ۵۳۴ کتاب الجنائز فصل فی الحمل)

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۳ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۲ باب صلاة الجنائز)

﴿۳﴾ قال الحصکفی ورجح الکمال قول الثانی بما فی مسلم انه علیه السلام اتی برجل قتل نفسه فلم یصل علیه. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۳ باب صلاة الجنائز)

د بالغه او نابالغ، یوځائي جنازه کښې د نیت او دعا مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو بالغ سړې او یو نابالغه جینئ د اتو کالو مړه شول. ددوی دواړو جنازه په یو نیت سره کول جائز دی یا نه؟ جواب راکړئ.؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد اکرام سرگودها....۱۹۸۹/۱۲/۲

الجواب: ګنړو مړو باندې یو ځائې جنازه کول جائز دي. اګر که بعضې پکښې نابالغه وي. کما فی جنائز شرح التنویر فالافضل الرجل مما یلیه فالصبی فالخنثی﴿۱﴾ واضحه دې وی چه د جنازې د مونځ دارومدار په تکبیرات اربعه دې په اذکارو نه نو چه دریم تکبیر نه پس صرف د بالغانو دعا اولوستلې شی نو ذمه فارغه کیږی ﴿۲﴾ وهو الموفق

په مقبره او سړک باندې د جنازې مونځ کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په قبرستان کښې جنازه ګاه ده. مغرب طرف درې څلور قبرونه هم دي. او د قبرونو او جنازه په مینځ کښې ونې دي. یو مولوی صحاحب وائی چه دا ونه ستره ده. او جنازه صحیح ده. او دویم سړې وائی چه دې ځائې کښې جنازه کول مکروه دی.

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۹ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العبد الرحمن الجزیری: الحنفیة قالوا: الدعاء یکون بعد التکبیرة الثالثة ولا یجب الدعاء بصیغة خاصة بل المطلوب الدعاء بامور الآخرة والاحسن ان یدعو بالماثور فی حدیث عوف بن مالک ..... هذا اذا کان المیت رجلاً فان کان انثی یبدل ضمیر المذکر بضمیر الانثی..... وان کان طفلا یقول: اللهم اجعله لنا فرطا..... فان کان لا یحسن المصلی هذا الدعا دعا بماشاء. (الفقه علی المذاهب الاربعة ۱: ۵۲۳ ارکان صلاة الجنازة)

بلکه د سره کیږي نه .ایا واقعي دا مکروه دي. دغه شان په سړک باندې جنازه کول صحیح دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبیدالرحمان متعلم دارالعلوم حقانیه ۱۳ ذی قعده ۱۴۰۹ھ

الجواب: که دا قبرونه درې څلور ګزه لرې وي یا ددې قبرونو او جنازه کونکو په مینځ کښې حائل موجود وي. نو په دې کښې هیڅ نقصان نشته دې ګني نو صاحب بدائع په بدائع کښې لیکلي دي. چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په مقبره کښې د جنازې مونځ کول بهتر نه دي. په هرحال کښې جائز دي.(۱) او په سړک باندې عندالضرورة د جنازې مونځ کول جائز دی او بلا ضرورت ممنوع دي. (۲) وهوالموفق

دامام الحئ نه د خفګان په وجه دویم امام د پاره جنازه کول خلاف سیاست دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی د مسلمان کیدلو باوجود امام الحیٔ (پیش امام) ته قصداً کنځلې کوی او په دې وجه نړی پیش امام چه ناراضه دې. که ددې سړی جنازه یا نکاح د امام الحئ نه بغیر اجازت د بل بنار څوک امام او کړی نو آیا بل امام د پاره دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عزیز الرحمان امام مسجد هزاره ۱۰۱۱۱۱۹۷۵

---

(۱) قال العلامة الکاسانی: قال ابوحنیفة رحمه الله تعالیٰ ولا ینبغی ان یصلی علی میت بین القبور، وکان علی وابن عباس یکرهان ذلک، وان صلوا اجزأهم لما روی انهم صلوا علی عائشة وام سلمة بین مقابر البقیع والامام ابو هریرة وفیهم ابن عمر. (بدائع الصنائع ۲: ۶۵ سنن النفل)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: ولزم ان لا یصلی فی عمره علی جنازة نعم قد توسع فی بعض المواضع خارج المسجد فی الشارع فیصلی علیها ویلزم منه فسادها من کثیر من المصلین لعموم النجاسة وعدم خلع نعالهم المتنجسة مع انا قدمنا کراهتها فی الشارع واذا کان الامر اتسع فینبغی الافتاء بالقول بکراهة التنزیه الذی هو خلاف الاولیٰ کما اختاره المحقق ابن الهمام واذا کان ما ذکرنا عذرا فلا کراهة اصلا.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۵۴ مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد)

الجواب: بغیر وجې مسلمان نه کنځلې کول خصوصاً چه کله امام هم وی فسق دی قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق(رواه مسلم﴿۱﴾.او د امام الحی د اجازت نه بغیر بل سړې د پاره نکاح او جنازه کول خلاف شریعت نه دی البته خلاف سیاست دي. ﴿۲﴾ وهوالموفق

په خودکشی کونکی باندې د جنازې مونځ جائز بلکه راجح دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دقاتل النفس جنازه کول څنګه دي، په بحر ۲۰۲۱۲ شامي ۹۱۰۱۱طحطاوی علی مراقی الفلاح ۳۳۱۱ کښې په تائید د حدیث پاک په قول دامام ابو یوسف چه په قاتل نفس به زجراً د جنازې مونځ نه کولې کیږي. دغه شان په ابو داود او کشف الغمه کښې حدیث پاک موجود دې او دغه شان په نورالایضاح. قدوري. زاد اللبیب. کبیری جوهره او خطبه تقریر ترمذی کښې د شیخ الهند رح) چه د طرفینو په قول باندې ادا کیږی. عالمگیری لیکلی دی که یو قاضی حکم اوکړی چه د جنازې مونځ په نه کیږی نو دویم قاضی ئې نه شی ادا کولې ددې مسئلې صحیح نوعیت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالحئ مسجد دهوبیان اکبر پوره ۲۹ جنوری ۱۹۷۵

الجواب: واضحه دې وی چه په خودکشئ کونکې باندې جنازه کول جائز بلکه راجح دی کمافی الدرالمختار من قتل نفسه ولو عمداً یغسل ویصلی علیه وبه یفتیٰ﴿۳﴾ انتهٰی.وبمعناه فی اکثر الفتاوٰی.

﴿۱﴾ (الصحیح المسلم ۱: ۵۸ باب بیان قول النبی ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله کفر)

﴿۲﴾ قال العلامه ابن عابدین: (قوله ثم امام الحی) ای الطائفة وهو امام المسجد الخاص بالمحلة وانما کان اولیٰ لان المیت رضی بالصلاة خلفه فی حال حیاته فینبغی ان یصلی علیه بعد وفاته قال فی شرح المنیة فعلی هذا لو علم انه کان غیرراض به حال حیاته ینبغی ان لا یستحب تقدیمه. قلت هذا مسلم ان کان عدم رضاه به لو جه صحیح والا فلا تامل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۳۹ مطلب فی بیان من هو احق بالصلاة علی المیت)

﴿۳﴾ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۳ باب صلاة الجنائز)

او ددې باوجود جنازه نه کونکې د حنفیت نه خارج نه دې.

لان المحقق ابن الهمام رجح ترک الصلوٰة وهو قول ابی یوسف کما فی ردالمحتار ۱:۸۱۵ ﴿۱﴾وکذا اختاره الامام السعدی قلت ویؤیده ظاهر حدیث مسلم لا اصلی علیه لعدم ورود صلوا علی صاحبکم، بخلاف المفلس المدیون والاصل فی افعاله علیه السلام التشریع دون التخصیص ﴿۲﴾

بلکه چه په کومه علاقه کښې دا بد کاز په بې باکئ سره کیږی نو سداً للباب به په ترک الصلوة باندې فتوی ورکول ډیر زیات مناسب وی. وهوالموفق

که په دریاب کښې زوړ او بد بو دار لاش اوموندلې شی نو غُسل او جنازه به نې کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دریاب کښې د یو سړی لاش اوموندلې شي. اوهغه زوړ او بدبویه وی نو آیا د هغې جنازه به کولې کیږی او آیا غسل به ورته هم ورکولې کیږی؟ او دا هم ده چه پته نه لګی چه مسلمان دې یا نه؟ بینواتو جروا

المستفتی خلیل الرحمان ۱۱۹ جمادی الاولی ۱۳۹۳ھ

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ورجح الكمال قول الثانی بما فی مسلم انه علیه السلام الخ) ای قول ابی یوسف انه یغسل ولا یصلی علیه اسمعیل عن خزانة الفتاویٰ وفی القهستانی والکفایة وغیرهما عن الامام السغدی الاصح عندی انه لا یصلی علیه لانه لا توبة له قال فی البحر فقد اختلف التصحیح لکن تأید الثانی بالحدیث. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۴۳ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: (قوله فلم یصل علیه النبی ﷺ) ظاهره حجة لابی یوسف لان النبی ﷺ یقتدی به امته فی افعاله ولکن ظاهر حدیث النسائی اما انا فلا اصلی علیه حجة لاحمد، ان الامام لا یصلی علیه، ویصلی علیه غیر الامام لحدیث والصلاة واجبة علی کل مسلم برا کان او فاجراً وان عمل الکبائر رواه ابوداؤد وعنه ابی حنیفة ومالک واحمد یصلی علیه بلا تخصیص، وحدیث الباب واقعة عین لا عموم. (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: که ټول بدن انساني شکل، يا اکثر باقي وي نو هغه ته غسل ورکول او د جنازې مونځ کول ضروري دي. که د پړ سيدلو او بد بويه کيدلو پورې خبره رسيدلې وي، او که نيم يا د هغې نه کم بدن باقي وي او باقي بدن متغير يا معدوم شوې وي نو هغې ته به غسل نه ورکولې کيږي او د جنازې مونځ به هم نشي کولې او داوطن دار المسلمين دې لهذا په غالب باندې به احکام بناء کيږي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

په قادياني باندې جنازه کول حرام دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه قاديانې د شريعت په رڼړا کښې کافر دې يانه؟ او دهغوى جنازه کول جائز ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد ولي الله..... ۱۹۷۳ء/۱۲/۱۰

الجواب: قاديانيان بغير د شک شبهې نه کافران دي دهغوى جنازه کول حرام دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

په پليت ځائې چه ولاړوى نو جنازه به صحيح نه وي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زمونږ ځائې کښې په يو ميدان کښې د جنازې مونځ کيږي. کله کله کوچيان هلته د ګډو بيزو

(بقيه حاشيه) لها، فيحمل على الزجر، كما انه عليه السلام فى اول الامر لا يصلى على بعض المديونين زجراً، فحمل حديث الباب على الزجر اولى من حمله على تخصيص الامام لان ثبوت الزجر اسهل من ثبوت الخصوصية.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ٣: ٢٣٦ باب من يقتل نفسه لم يصل عليه)

﴿۱﴾ قال الحصكفى: وجد رأس آدمى او احد شقيه لا يغسل ولا يصلى عليه بل يدفن الا ان يوجد اكثر من نصفه ولو بلا رأس..... لو وجد ميت فى الماء فلا بد من غسله ثلاثا لانا امرنا بالغسل فيحركه فى الماء بنية الغسل ثلاثا..... ولو لم يدر أمسلم ام كافر ولا علامة فان فى دارنا غسل وصلى عليه والا لا. (الدر المختار على هامش رد المحتار ١: ٦٣٥ قبيل مطلب فى الكفن)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: اما المرتد فيلقى فى حفرة كالكلب..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

څیلو، کنډک کینوی او هغه ځائې د پڅو نه ډک شی چه او چې وي. نو آیا په هغه ځائې کښې چه او دریږی نو د جنازې مونځ به صحیح دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی فقیرحسین خطیب باباکرم شاه مسجد نوشهره صدر ۴/۱۱/۱۹۸۷

الجواب: سوټې او پڅې پلیتې دی لهٰذا په دې باندې د ولاړو خلقو د جنازې مونځ به صحیح نه وی. په پاک اوصفا ځائې باندې جنازه کوئ. د یو ځائې متعین کول ضروری نه دی ﴿۱﴾ وهو الموفق

په جنازه کښې د کټ دځائې پاکیدل شرط نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه په جنازه کښې د کټ د ځائې پاکیدل هم ضروری دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی فقیر حسین خطیب بابا کرم شاه مسجد نوشهره صدر

الجواب: د کټ د کیښودلو د ځائې پاکیدل مختلف فیه دی،

والمذكور فى المضمرات علم الاشتراط كما فى الهندية ١: ١٧٢ وطهارة مكان الميت ليست بشرط. ﴿٢﴾. وهو الموفق

په مرزائی باندې د جنازه کونکو د نکاح حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مرزائی مړ شو په

(بقيه حاشيه) قال ابن عابدين: ولا يغسل ولا يكفن.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ١: ٦٥٧ مطلب فى حمل الميت باب صلاة الجنائز)

﴿١﴾ وفى الهندية: وكل ما يعتبر شرطا لصحة سائر الصلوات من الطهارة الحقيقية والحكمية واستقبال القبلة وستر العورة والنية يعتبر شرطا لصحة صلاة الجنازة هكذا فى البدائع. (فتاوىٰ عالمگيرية ١: ١٦٤ الفصل الخامس فى الصلاة على الميت)

﴿٢﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ١: ١٦٢ الفصل الخامس فى الصلاة على الميت)

هغه باندې مخکښې مرزایانو جنازه اوکړه بیا پرې اهل اسلام جنازه اوکړه، یو مولوی صاحب فتوی جاری کړه چه کومو مسلمانانو ددې مرزائی جنازه د مسلمان کیدلو په حیثیت کړې وی په هغوی باندې ښځې طلاقې دی.توبه دې اوکړی دوباره ورته نکاح صحیح کول پکار دی. او بل طرفته بعضې خلقو ددې خبرې نه انکار اوکړو نو شرعی حکم څه دې؟بینواتوجروا

المستفتی مولوی محبوب الرحمان رحمانی کامرس کالج
جناح کالونی ایبټ آباد۲۳رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: دیو منسوخ اوحرام کار مستحل حلال ګڼونکې، مسلمان نشی پاتې کیدې لما فی ردالمحتار باب المرتد اما الجاهل فلا یفرق بین الحرام لعینه ولغیره وانما الفرق فی حقه ان ما کان قطعیا کفر به والا فلا﴿۱﴾ انتهی، قلت والنهی عن الصلاة علی الکافر قطعی﴿۲﴾ وامر مجمع علیه فلا مخلص من تجدید النکاح للمستحل﴿۳﴾.
وهوالموفق

د قبل البلوغ لیونی او بعدالبلوغ لیونی په جنازه کښې فرق

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په بالغ لیونی باندې به د ماشومانو پشان جنازه کولې شی یا د بالغانو پشان. ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی مظفر شاه چراټ نوشهره ۱۹۸۲.۱۲.۱۳

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۱۱ مطلب ما یشک فی انه ردة لا یحکم بها باب المرتد)
﴿۲﴾ قال الجلال: ولما صلی النبی ﷺ علی ابن ابی نزل (ولا تصل علی احد منهم مات ابدا ولا تقم علی قبره) لدفن او زیارة (انهم کفروا بالله ورسوله وماتوا وهم فسقون) کافرون. (تفسیر الجلالین ۱: ۲۰۰ سورة التوبة آیت: ۸۴)
﴿۳﴾ قال الملا علی القاری: ان استحلال المعصیة صغیرة کانت او کبیرة کفر اذا ثبت کونها معصیة بدلالة قطعیة.
(شرح فقه الاکبر ۱۵۲ استحلال المعصیة کفر)

الجواب: که لیونې داسې وی چه د بالغ کیدلو نه مخکښې هم لیونې وو نو په هغه باندې به جنازه د نابالغو پشان کولې شي. کما فی الدرالمختار علی هامش (ردالمختار ج۱ ص۶۱۲) ولایستغفر فیها لصبی و مجنون ومعتوه لعدم تکلیفهم﴿۱﴾ او که مجنو ن بعد البلوغ د مخکښې نه عاقل وو روستو لیونې شو نو په ده باندې به د غټو سړو پشان جنازه کوې شی. کما فی الشامیة تحت (قوله ومجنون ومعتوه) هذا الاصل فان الجنون والعته الطارئین بعد البلوغ لا یسقطان الذنوب السابقه کما فی شرح المنیة ﴿۲﴾ وهوالموفق

دعا بعد الجنازه صفونو ماتولو نه پس جائز ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دجنازې نه پس د صفونو ترتیب ختم شی او یو ځل سورت فاتحه او درې ځلې سورة اخلاص اولولی او په اجتماعی حالت سره د ټولو قبرستان والو د پاره د مغفرت دعا اوغواړي، نو په دې کښې اختلاف پیدا شوې دې یو صاحب وائی چه دا بدعت دې دحضور ﷺ او صحابه کرامو نه دا دعا ثابت نه ده او فقهائې کرام هم منع کوي. دویم صاحب وائی چه مذکوره د ثواب او ایصال طریقه نه بدعت دې اونه سنت دې بلکه جائز دې. حضور ﷺ د جنګ موته شهید حضرت جعفر طیار او زید بن حارثه رضی الله عنهم د شهادت نه پس دجنازې مونځ اوکړو او د هغوی دپاره ئې دعا اوغوښتله او صحابه کرامو ته ئې اووئیل چه تاسو هم د دوی دپاره دعائې مغفرت اوکړئ عبارت داسې دې. (فصلی علیه رسول الله ﷺ ودعاله وقاله استغفر واله. (فتح القدیر ۲: ۴۵۶ فصل فی الصلوة علی المیت مطبوعه مصر)د فقهائې احناف بعضې بزرګان دعا بعد السلام نه مکروه وائی او د بعضو په نزد (لاباس به ای بالدعاء بعدالتسلیم کما فی البحر عن الفضلی. که دا مسئله جائزه ده یا بدعت دې نو تفصیلی اولیکئ؟ بینوا توجروا!

المستفتی خالد محمود عثمانی ۲۲ ذی الحجه ۱۳۹۴

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۴۵ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۴۵ باب صلاة الجنائز)

الجواب: که عوام دا ضروری نه ګڼړی نو بدعت به نه وی بلکه سنت به وی

لان السنة لا تنحصر فی فعل الرسول بل تعم القول والفعل والتقریر کما صرحوا به،
او ایصالِ ثواب د احادیثو او فقهې نه ثابت دي که مالی عبادت وی او که بدنی و ی لهٰذا دا کار به مشروع او مسنون وی او دعا بعد الجنازه چه کله بعد کسر الصفوف وی نو په دې کښې هیڅ باك نشته.

لان اکثر الفقهاء قالوا بعدم الجواز ولکن لم یعللوه بعدم الوجود فی خیر القرون کما هو داب الطائفة السلفیة والنجدیة. وهو حجة علیهم فی ترجمة القرآن بالهندیة والسلیمانیة وغیرها، وکذا فی تدوین العلوم بل عللوه بالتشبیه بالزیادة کما قال القاری فی المرقاة ولا یدعو للمیت لانه یشبه الزیادة فی صلوة الجنازة ٦ : ٦٣ ویؤدیه التعبیر بلا یقوم بالدعاء ونظیره کراهة قعود الامام متوجها الی القبلة بعد صلوة الفجر والعصر. فافهم

د کسر الصفوف نه پس دُعا بعد الجنازه باندې بل سوال

سوال: د دعا بعد الجنازه متعلق د جناب د طرفنه جواب ملاؤ شو لیکن اوس هم هغه شکونه لرې نه شول، تاسو لیکلی چه د کسر الصفوف نه پس دعا بعد الجنازه و ی نو دې کښې هیڅ حرج نشته او په بل جز کښې لیکلی شوې دی که عوام دا ضروری نه ګڼړی نو بدعت به نه وي، بلکه سنت به وی مؤدبانه التماس دې چه کله د حضور ﷺ نه د دعا بعد الجنازه ثبوت نشته او د صحابه کرامو معمول نه دې فقهائې کرام ورته مکروه وائی نو بیا دا سنت څنګه شوه؟ بینوا توجروا

المستفتی خالد محمود عثمانی ۳۰/۱ محرم الحرام ۱۳۹۵ھ

الجواب: د السلام علیکم نه پس دې دا خبره واضحه وی چه بدعت د هغه څیز نوم دی چه په خیر القرون کښې نه بنفسه موجود وی او نه بدلیله موجود وی نو حیلې او دعا بعد الصلوٰة والجنازة او په اردو وغیره کښې د قران پاک

ترجمه کول، مدرسې جوړول او تالیف او تصنیف کول به بدعت نه وی (۱) او که بدعت د هغه څیز نوم وی چه په هغه وخت کښې بنفسه موجود نه وی نو بیا به دا ټول کارونه بدعت وي، هم دا ځائې دې چه نجدی خلق پکښې پخپله هم په غلطئ کښې دی او نور مسلمانان هم ګمراه کوي. دغه شان واضحه دې وی چه حِل او حرمت دواړه شرعی امور دی، بغیر د دلیل نه نه حِل ثابتیږی او نه حُرمت ثابت کیدیشی (۲) په نجدیانو باندې تعجب دې چه هغوی د حُرمت د دعوې کولو باوجود هیڅ دلیل نشی پیش کولې، تاسو دا اصول مخې ته کیږدئ ټول نجدیت ختمولې شئ هم دا ددې عبارت تفصیل دې. وهوا موفق

د دعا بعدالجنازه. شرعی حیثیت

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جنازې د مونځ نه پس فوراً د دفن کولو نه مخکښې دعا غوښتل جائز دی یا نه؟ بعضې علماء

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله صاحب بدعة) اى محرمة والا فقد تكون واجبة كنصب الادلة للرد على اهل الفرق الضالة وتعلم النحو المفهم للكتاب والسنة ومندوبة كاحداث نحو رباط ومدرسة وكل احسان لم يكن فى الصدر الاول ومكروهة كزخرفة المساجد ومباحة كالتوسع بلذيذ المآكل والمشارب والثياب كما فى شرح الجامع الصغير للمناوى عن تهذيب النووى ومثله فى الطريقة المحمدية للبر كلى.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۴۱۴ مطلب البدعة خمسة اقسام)

(۲) عن ابن عباس...... فبعث الله نبيه ﷺ وانزل كتابه واحل حلاله وحرم حرامه فما احل فهو حلال وما حرم فهو حرام وما سكت عنه فهو عفو.

(سنن ابى داؤد ۲ :۱۸۳ باب مالم يذكر تحريمه)

وعن سلمان...... وما سكت عنه فهو مما عفى عنه رواه ابن ماجة والترمذى وقال هذا حديث غريب وموقوف على الاصح. (مشكوٰة المصابيح ۲ :۳۶۷ كتاب الاطعمة)

فرمائي چه په مذکوره طریقې سره دعا غوښتل بدعت دې بعضې فرمائی چه صفونه مات شی او منتشر حالت کښې دعا او غواړی نو څه ګناه نه ده. بهر حال په عوام الناس کښې انتشار جوړ شوې دې، ددې مسئلې وضاحت اوکړئ ډیر مشکوربه یو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالخالق مدرسه تعلیم القرآن مری. ۲۳\۱۱\۱۹۷۵

الجواب: د کسر الصفوف نه پس دعا کول جائز دي،

لان الامام الفضلی جوزه کما فی البحر ﴿۱﴾ وسائر الفقهاء وان کرهوه لاکن لا لاجل عدم الوجود فی خیر القرون کما هو داب الفرقة النجدیة السلفیة لانه منقوض بترجمة القرآن فی السلیمانیة والهندیة وتدوین الکتب وتنظیم المدارس وغیره، بل لانه یشبه الزیادة فی صلوة الجنازة کما فی المرقاة ولا یدعو للمیت لانه یشبه الزیادة فی الصلوة الجنازة ۴: ۶۴ مطبوعه ملتان) ولذا عبروا بلا یقوم بالدعاء.

البته دا به هم ضروری او لازم ګنړل بدعت وی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن نجیم: لانه لا یدعو بعد التسلیم کما فی الخلاصه وعن الفضلی لا بأس به.

(البحر الرائق ۲: ۱۸۳ فصل السلطان احق بصلاته کتاب الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.

(البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العیدین)

المقالة فـــی الدعاء بعد الجنازة

د نورو فرعي مسائلو پشان د دعا بعد الجنازه مسئله هم د عوامو او خواصو په مينځ کښې د انا مسئله جوړه شوې ده، او په دې بنياد کفر او شرک او بدعت او تکفير شروع شو دارالافتاء دارالعلوم حقانيه ته هم په ګڼ تعداد کښې دا مسئله راتلل شروع شو حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم په دې مقاله اوليکله او په مقالات کښې ئې شائع کړه. دکتاب الجنائز سره د مناسبت په بناء باندې په فتاوی کښې دعام فائدې دپاره شامل کولې شي (از مرتب)

په دې مقاله کښې د دعا بعد الجنازه مسئله ذکر کولې شي، د جنازې نه پس د کسر الصفوف نه مخکښې دعا کول مکروه دي. او د کسر الصفوف نه پس دعا کول جائز دی البته دعا قبل السلام باندې اکتفاء کول د سلفو د تعامل سره موافق دي.

د پيغمبر ﷺ او سلف صالحين نه ددې دعا کولو يا نه کولو متعلق د احاديثو ذخيره چپ ده. په هغې کښې نه ددعا کولو روايت موجود دې او نه دنه کولو متعلق. که څوک د دا دعوی اوکړی چه پيغمبر ﷺ او سلف صالحينو دا دعا نه ده کړې نو دا په پيغمبر ﷺ باندې دروغ تړل دي. بهر حال دعا پخپله عبادت او د عبادت مغز دي. ليکن دا خاص دعا نه مطلوب ده او نه ممنوع بلکه مباح ده ځکه چه اصل په اشياؤ کښې اباحت دې. كما صرح به ابن الهمام وغيره ويؤيده ما رواه ابو داؤد ان ماسكت عنه فهو عفو. (سنن ابي داؤد ۲: ۱۸۳ باب مالم يذكر تحريمه)

او ددې دعا په اذان د صلوة عيد باندې قياس کول غلط قياس دې ځکه چه ددې دعا متعلق عدم ذکر عدم روايت او سکوت ثابت دي او اذان د خروجو د مينځ باره کښې ذکر عدم ثابت دي. وهوما رواه ابوداؤد ان رسول الله ﷺ صلى العيد بلا اذان ولا اقامة وابابكر وعمر رضي الله عنهما (۱: ۱۶۹) دعدم ذکر

نه عدم جوړول د سلفيانو او دهغوی دمتبعينو عادت دې

کـه څوك دا اعتـراض اوکـړی چـه د پيغمبـرﷺ اوبعـضې صـحابه کرامو رضي الله عنهم نه دا دعا ثابته ده چه پيغمبرﷺ فرمائی

اذا صليتم على الميت فاخلصوا له الدعاء (رواه ابو داؤد ۲:۱۰۰)

اوامام کاسانیؒ فرمائی چه د حضرت عمر رضي الله عنه نه يوځل جنازه اوشوه نو دوباره ئې د جنازې کولو اراده اوکړه نو نبیﷺ ورتـه اوفرمائيل (الـصلاة على الجنازة لا تعاد ولكن ادع للميت واستغفرله) (بـدائع ۱: ۳۱۱) او دغه شان امام کاسانی د ابن عباس ابن عمر او عبدالله بن سلام رضی الله عنهم اجمعين نه روايت کړې دې چه کله به ددوی نه جنازه اوشوه نو په دعا به ئې اكتفاء كوله (بدائع ۱:۳۱۱)﴿۱﴾

ددې اعتـراض جـواب دادې چـه ټولـو محـدثينو او فقهاؤ حديث د ابوداؤد په د عا قبل السلام باندې حمل کړې دې. او ددې نورو روايتونو نه جواب دادې چه د چانه جنازه اوشی او دعـا اوکړی نـو دا محـل د نـزاع نـه ده. محل د نزاع د جنازې کونکو دعا ده.

[فائده] د ډيرو مفسرينو اوفقهاؤ دکلام نه ددې دعا منع معلوميږي. او اکثرو پکښې څه دليـل نـه دې ذکرکړې او بعضو دليـل ذکرکړې دې مثلاًصاحب د بزازيه فرمائی (لا يقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة لانه دعاء مـرة لان اكثرهـا دعاء(هامش هندية) ٤: ۸۰)يعنی جنازه دعا ده او كه د هغې نه پس دعا اوکړې شی نود جنازې تکرار به لازم شي، د بزازيه ددې عبادت نه دا مراد نه دې چه

﴿۱﴾ قال الكاسانى: ولنا ماروى ان النبىﷺ صلى على جنازة فلما فرغ جاء عمر ومعه قوم فاراد ان يصلى ثانيا فقال له النبىﷺ الصلاة على الجنازة لا تعاد ولكن ادع للميت واستغفرله وهذا نص فى الباب وروى ان ابن عباس وابن عمر رضى الله عنهم فاتتهما صلاة على جنازة فلما حضرا ما زادا على الاستغفار له، وروى عن عبد الله بن سلام انه فاتته الصلاة على جنازة عمر رضى الله عنه فلما حضر قال ان سبقتمونى بالصلاة عليه فلا تسبقونى بالدعاء له. (بدائع الصنائع ۲: ۳۸ كيفية الصلاة على الجنازة)

که د سلام نه مخکښې يو ځل دعا اوشی او بيا د سلام نه پس په دوئم ځل دعا اوشی نو تکرار د دعا به لازم شی. که ددې عبارت نه هم دا مراد واخستلې شی نو د هر مونځ نه پس به ددعا منع لازم شي. ځکه چه د سلام نه مخکښې يو ځل مسنون دعا شته يا لکه څنګه چه صاحب مرقاة ملا علی قاری رحمه الله فرمائی (لانه يشبه الزيادة فی صلاة الجنازة(٤ : ٦٤)الفصل الثالث باب المشی با لجنازة) او تکرار د جنازې او په هغې باندې زياتوالې هغه وخت لازميږی چه په صفونو کښې ولاړ وي. او دعا کوي. او چه کله صفونه مات شی نو بيا دا توهمات نه لازميږی او دې نکتې ته هغې فقهائې کرامو اشاره کړې ده کوم چه د لايقوم بالدعاء نه طويل تعبير کوی او د لايدعو نه په مختصر تعبير نه کوي، او هم دا حکمت دې دفرائضو پسې متصل د فرضو په ځائې کښې د سنتو د منع کولو،

کوم خلق چه ددې د کراهيت ثابتولو د پاره دا دليل پيش کوی چه دا دعا پيغمبر عليه السلام او سلفو صالحينو نه ده کړې نو دا حنفی دليل نه دې بلکه سلفی دليل دې. او دا دليل د دريو وجوهاتو په بنا باندې غلط دې

(۱) دا په پيغمبر عليه السلام او سلفو صالحينو باندې دروغ تړل دي. د هغوی نه ددې دعا متعلق هيڅ روايت موجود نه دې او د عدم ذکر او د ذکرِعدم په مينځ کښې فرق نه کول غباوت يا غوايت دې. (۱)

(۲) د عدمِ فعل نه عدم جواز نه ثابتيږي. ځکه چه حديث صرف فعل ته نه وئيلې کيږی بلکه قول، فعل او تقرير درې واړو ته وئيلې کيږی(۲) او فقهائي

---

(۱) مفتی کفايت الله ادهلوی فرمائی چه د يو څيز د نه ذکر کيدلو سره د هغې عدم نه لازميږی (فان عدم الثبوت لا يستلزم ثبوت العدم وهذا ظاهر جدا(کفايت المفتی ۳ ۳٤۸ فصل سوم د فرائض نه بعد د دعا مقدار)

(۲)قال السيد شريف الجرجانی: المرفوع هو ما اضيف الی النبی صلی الله عليه وسلم خاصة من قول او فعل او تقرير سواء کان متصلا او منقطعا.
(الرسالة فی فن اصول الحديث الملحقه بالجامع الترمذی ص ۲)

کرام او مشایخ کله دا تعبیر کوی نو دیکښې اختصار کیږی د هغوی مراد داوی چه نه ئې کړې دې نه ئې وئیلې دی او نه ئې قرار گرځولی دی(فلراجع الی التعلیق الممجد علی ها مش موطاءالامام محمد ۱٤٤)

(۳) دا دلیل جمعاً او منعاً منقوض دې، پیغمبر علیه السلام په اردو او پښتو کښې د قرآن ترجمه نه ده کړې او د محققینو په نزد اذان ئې هم نه دې کړې او د صحیح روایاتو مطابق ئې پرتوګ نه دې اغوستې او دغه شان د رکوع په وخت کښې ئې رفع الیدین کړې او په مونځ کښې ئې خبرې کړې دې. فافهم

که څوک اعتراض اوکړی چه دعبادت دپاره دخپل طرفنه څه وخت مقررکول مکروه دی لکه چه صاحب د بحرالرائق د یو تعلیل په ضمن کښې فرمائیلې دی:

ولان ذکر الله اذا قصدبه التخصیص بوقت دون وقت او بشيئ دون شيئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع (۲:۱۵۹)

نو ددې جواب دادې چه شرع او وحې ددې دعا متعلق ساکت دی نو د ابوداؤد دحدیث په بنا، چه (وما سکت عنه فهو عفو (۱)) دا دعا به عفو او مباح وی او مشروع نه یعنی فرض. واجب به نه وی او مکروه به هله وی چه د جنازې د لواحقاتو او مکملاتو په طور باندې اوکړې شی گنې مکروه به نه وی لکه چه صاحب بحر ورته اشاره کړې ده.

حیث قال فی البحر ۲:۱۵۹ ولا یکبر فی طریق المصلی عند ابی حنیفة ای حکما للعید ولکن لو کبر لانه ذکر الله تعالیٰ یجوز ویستحب (۲) انتهیٰ (۳).

---

(۱) (سنن ابی داؤد ۲:۱۸۳ باب مالم یذکر تحریمه)

(۲) (البحر الرائق ۲:۱۵۹ باب العیدین)

(۳) وفی منهاج السنن: قد ثبت الدعاء بعد صلاة الجنازة ممن فاتته الجنازة مثل ابن عمر وعبد الله بن سلام، واما الدعاء ممن صلیٰ علیها فذخیرة الاحادیث ساکتة عنه فمن ادعیٰ انه علیه الصلاة والسلام دعا بعدها او ادعیٰ انه لم یدع بعدها فدخل فی حدیث من کذب علی متعمداً فلیتبؤ مقعده من النار ولو قال الخصم لو دعا بعدها لبلغ الینالجاز لنا ان نقول لو لم یدع لبلغ الینا کما بلغ الینا انه ما اذن وما اقام لصلاة العید، ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د غائبانه جنازې حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د مړي په عدم موجود ګئ کښې جنازه کيديشى يا نه؟ يعنى غائبانه د جنازې مونځ لکه څنګه چه د شاه فيصل بادشاه په مرګ باندې ډيرو ملکونو کښې شوې وه؟ بينوا توجروا

المستفتى: خليل الله تهائى لينډ..... ۲۰/۱ اپريل ۱۹۷۵

الجواب: محترم المقام محمد خليل الله صاحب سلامت اوسيږي

د السلام عليکم نه پس دې واضحه وى چه د احنافو او موالکو په نزد جنازه على الغائب مشروع نه ده. او د شوافعو او حنابله په نزد مشروع ده. هغوى وائي چه پيغمبر عليه السلام په نجاشى باندې غائبانه جنازه کړې ده. (متفق عليه) (۱) او حقيقت دادې چه پيغمبر عليه السلام نجاشى نه علاوه چرته په بل غائب باندې د جنازې مونځ نه دې کړې. حال دا چه پيغمبر عليه السلام ته په بعضې وختونو کښې په وخت خبر شوې دې، لکه چه امام بخارى رحمه الله روايت کړې چه زيد، جعفر او ابن رواحه رضي الله عنهم چه په غزوه موته کښې شهيدان شوى وو.....

(بقيه حاشيه) وبالجملة انه لا بد من الفرق بين عدم الرواية وبين رواية العدم نعم منع عنه الفقهاء، واكثرهم لم يذكروا دليل المنع، والبعض عللوا المنع بالزيادة على الجنازة والبعض الآخر عللوه بتكرار الجنازة، وكلتا القبيحتين انما تلزمان اذا ادعا قائما فى الصف دون بعد كسر الصف، وكذا اكثر الفقهاء يعبرون بلفظ طويل اى لا يقوم بالدعاء، ولا يعبرون بلفظ مختصر اى لا يدعو، فيكون الدعاء بعد كسر الصف عفو او مباحا لحديث ما سكت عنه فهو عفو رواه ابوداؤد. نعم كم من مباح يصير ممنوعا لعارض مثل الالتزام وغيره واعلم ان الفقهاء الحنفية لم يعللوا هذا المنع بانه لم يوجد فى خير القرون فانه دليل سلفى منقوض جمعاً ومنعاً. (منهاج السنن شرح جامع السنن ۳: ۲۱۶ باب ما جاء فى الصلاة على القبر)

(۱) عن ابى هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نعى النجاشى فى ... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د هغوی د مرګ خبر پیغمبر ﷺ ته شوی وو. (رواه البخاری) ﴿۱﴾ لهذا دا خاص فعل خوبه یا په دې حمل کړې شی چه د نجاشی بدن او جسد حاضر کړې شوې وو. او د منځ نه حجاب لرې کړې شوې وو. لکه څنګه چه امام واقدی په ابن عباس رضی الله عنه باندې حواله ورکړې ده ﴿۲﴾ اویا به دا دنجاشی په خصوصیت باندې حمل کولې شی. وهو الظاهر ﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الیوم الذی مات فیه وخرج الی المصلیٰ فصف بهم وکبر اربعا. (صحیح البخاری ۱: ۱۶۷ باب الرجل ینعیٰ الی اهل المیت بنفسه)

﴿۱﴾ عن انس بن مالک قال قال النبی ﷺ اخذالرایة زید فاصیب ثم اخذها جعفر فاصیب ثم اخذها عبد الله بن رواحة فاصیب وان عینی رسول الله ﷺ لتذرفان ثم اخذها خالد بن الولید من غیر امرة ففتح له. (صحیح البخاری ۱:۱۶۷ باب الرجل ینعیٰ الیٰ اهل المیت بنفسه)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: والجواب عن حدیث الصلاة علی النجاشی انه رفع الحجاب کما ذکره الواقدی عن ابن عباس ورواه ابوعوانة وابن حبان فی صحیحه عن عمران بن حصین فان قیل یعارضه ما اخرجه الطبرانی من حدیث مجمع بن جاریة قال فصففنا خلفه صفین وما نری شیأ قلنا لعلها کشفت لبعض دون بعض، او نقول کشفت للنبی ﷺ دون الصحابة وهو کاف لصحة صلاة المقتدین.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۴:۲۱۷ باب صلاة النبی ﷺ علی النجاشی)

﴿۳﴾ قال الحصکفی: وشرطها ایضا حضوره ووضعه امام المصلی فلاتصح علی غائب ...... وصلاة النبی ﷺ علی النجاشی لغویة او خصوصیة قال ابن عابدین: (قوله لغویة) ای المراد بها مجرد الدعا وهو بعید (قوله او خصوصیة) او لانه رفع سریره حتیٰ رآه علیه الصلاة والسلام بحضرته فتکون صلاة من خلفه علی میت یراه الامام وبحضرته دون المامومین وهذا غیر مانع من الاقتداء ... من جملة ذلک انه توفی خلق کثیر من اصحابه ﷺ من اعزهم علیه القراء ولم ینقل عنه انه صلی علیهم مع حرصه علی ذلک.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱: ۶۴۱ باب صلاة الجنائز)

د بالغانو او نابالغانو په مشترکه جنازه کښې به دواړه دعا ګانې لوستلې کیږي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د څلورو کسانو په یو ځائې جنازه بهتر ده. (چه دوه زنانه بالغې او دوه بچې وي) او که نه جدا جدا؟ او د بالغ او نابالغ د پاره چه کومې دعا ګانې دی کومې به لوستلې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی صادق صوابی مردان........ ۱۳\۲\۱۹۷۲

الجواب: په دې صورت کښې یوه جنازه کول صحیح دی

یشیر الیه ما فی الهندیة (۱:۱۷۵) فیصف الرجال الی جهة الامام ثم الصبیان ثم الخناثیٰ ثم النساء ثم المراهقات ولو کان الکل رجالاً روی الحسن الخ ﴿۱﴾ وبمعناه فی الدرالمختار والشرح الکبیر وغیره

لیکن بهتر داده چه ځان ځانته مونځ پرې او کړی شی.

ﻯ الدرالمختار ۱:۸۲۱ اجتمعت الجنائز فافراد الصلاة علی کل واحدة اولیٰ من الجمع ﴿۲﴾ (هامش ردالمحتار ۱:۸۲۱)

لیکن د دریم تکبیرنه پس به اللهم اغفرلحینا الخ،، او اللهم اجعله لنا الخ دواړه دعا ګانې جمع کولې شی.

(فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ۵:۳۶۳)﴿۳﴾ قلت هو مقتضی القواعد ایضا فافهم. وهو الموفق

په قاتل، غل، لاره شوکونکي، مفرور او باغی باندې د جنازې حکم

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه یو کس اجرتی قاتل،

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۶۵ الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت)
﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۸۳ باب الجنائز)
﴿۳﴾ (فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ۵:۳۶۳ فصل خامس نماز جنازه)
وقال الشرنبلالی: بقی ما اذا کان فیهم مکلفون وصغار والظاهر انه یاتی بدعاء الصغار بعد دعاء المکلفین کما مر. (حاشیة الطحطاوی ۵۹۳ باب احکام الجنائز)

غل داکو، لاره شوکونکې مفرور او باغي وي او بیا په داکه یا غلا کښې مړ شی آیا د داسې کس جنازه او هغه ته غسل ورکول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم ۱۲|۱|۱۹۸۶

الجواب په داسې کس دې خلوږ پنځه کسان جنازه اوکړي د جماعتونو په امامانو او علماؤ باندې دا ضروري نه ده چه په داسې کس باندې جنازه اوکړي ځکه چه جنازه فرض کفایه ده. او سړې د اکرام او عزت قابل نه دې ﴿۱﴾ وهو الموفق

د سخت باران په وجه جمات کښې جنازه کول جائز دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله مسلسل باران وی د جنازې د مونځ د پاره به د کوم ځائې منتخب کول موزون وي؟ که د باران په وجه جمات کښې جنازه ادا کړې شی نو دې صورت کښې د مړی مخ لیدل مناسب دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد یعقوب قریشی ایبټ اباد مانسهره ۲۳\۸\۱۹۷۳

الجواب: د باران وغیره په وجه جمات کښې د جنازې مونځ کول جائز دي.

کما فی ردالمحتار ۱: ۸۲۹ انما تکره فی المسجد بلاعذر فان کان فلا ومن الاعذار المطر کما فی الخانیة والاعتکاف کما فی المبسوط﴿۲﴾

او د مړی مخ کتل اګرچه جائز دي.

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: واذا ثبت الحکم فی البغاة ثبت فی قطاع الطریق، لانهم فی معناهم انهم یسعون فی الارض بالفساد کالبغاة فکانوا فی استحقاق الاهانة مثلهم — وقال ابویوسف یصلی علیه وکذلک من یقتل علی متاع یاخذه والمکابرون فی المصر بالسلاح لانهم یسعون فی الارض بالفساد فیلحقون بالبغاة والله اعلم

(بدائع الصنائع ۲: ۳۹ قبیل فصل فی کیفیة الصلاة علی الجنازة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۵۲ مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد)

کما فی الهندية ۵:۳۸۷ولا باس بان یرفع ستر المیت لیریٰ وجهه وانما یکره ذلک بعد الدفن ﴿۱﴾

لیکن مړې د جنازې نه پس په جمات کښې ایسارول مکروه دی ﴿۲﴾ وهوالموفق

د جنازې په درود کښې د درود ابراهیمی نور الفاظ ثابت دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جنازه کښې درود ابراهیمی لوستلې کیږی لیکن بعضې خلق پکښې نور الفاظ هم شاملوی لکه (وسلمت وبارکت ورحمت وترحمت الخ د بنده خیال دې چه دا بدعت دې دا آخری الفاظ خلقو د ځان نه جوړ کړې دی شرعاً څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ عبدالرزاق غزبی مسجد حضرواټک.....۱۹۸۹ء۱۷۱ ۲۹

الجواب: ټولو فقهائې کرامو لیکلی دی چه په جنازه کښې به دا د مونځ والا درود ابراهیمی لوستلې کیږی ﴿۳﴾ او دا نور الفاظ هم په غیر مشهور روایاتو کښې ثابت دي. ﴿۴﴾ کما لا یخفی علی من راجع

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۵۱ الباب السادس عشر فی زیارة القبور وقرأة القرآن)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: وهذا الاطلاق فی الکراهة بناء علی ان المسجد انما بنی للصلاة المکتوبة وتوابعها من النوافل والذکر وتدریس العلم وقیل لا یکره اذا کان المیت خارج المسجد وهو مبنی علی ان الکراهة لاحتمال تلویث المسجد. (البحر الرائق ۲:۱۸۷ فصل السلطان احق بصلاته)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله کما فی التشهد) ای المراد الصلاة الابراهیمیة التی یاتی بها المصلی فی قعدة التشهد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۴۴ مطلب هل یسقط فرض الکفایه بفعل الصبی باب الجنائز)

﴿۴﴾ عن کعب بن عجرة قال قلت یارسول الله هذا السلام علیک قد علمناه فکیف الصلاة علیک؟ قال: قولوا اللهم صل علی محمد وعلیٰ آل (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

الی شروح دلائـل الخـيرات، لهذا دا زيادت بدعت ګرځول بخپله بدعت دي﴿١﴾ وهوالموفق

د خنثیٰ مشکل د جنازې طريقه

سوال علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د خنثی مشکل جنازه به د ښځو پشان کولې شی یا د سړو پشان. په دې مسئله کې د امامانو راجح قول بيان کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتی: شهزادګل شيوه مردان..... ٢٤١٨١١٩٧٥

(بقيه حاشيه)محمد كما صليت على ابراهيم وعلىٰ آل ابراهيم وبارک على محمد وعلىٰ آل محمد كما باركت على ابراهيم وعلىٰ آل ابراهيم انک حميد مجيد. قال: ابو محمد عبد الرحمن كوثر البرنی فی تعليقه: فی اسناد المصنف يزيدبن ابی زياد وهو ضعيف كان شيعيا، انظر التقريب (رقم ٢: ٣٦٥)ومن طريقه اخرجه احمد فی مسنده (٤: ٢٤٣) لكن اصل الحديث ثابت صحيح من حديث الصحيحين ففی صحيح البخاری عن عبد الرحمن بن ابی ليلىٰ قال: لقينی كعب ابن عجرة فقال: الا اهدی لک هدية سمعتها من النبیﷺ فقلت: بلی فاهدها لی، فقال: سألنارسول اللهﷺ فقلنا: يار سول الله كيف الصلوٰة عليكم اهل البيت، فان الله قد علمنا كيف نسلم عليک، قال: قولوا" اللهم صل علىٰ محمد وعلىٰ آل محمد كما صليت على ابراهيم وعلىٰ آل ابراهيم انک حميد مجيد، اللهم بارک علىٰ محمد وعلىٰ آل محمد كما باركت علىٰ ابراهيم وعلى آل آبراهم انک حميد مجيد،اخرجه البخاری فی الانبياء (رقم: ٣١٩٠) واخرجه مسلم(١: ١٧٥) الا انه لم يقل (وعلىٰ آل ابراهيم)واخرجاه من حديث ابی حميد الساعدی رضی الله عنه ايضا ببعض اختلاف فی اللفظ.

واخرجه مسلم من حديث ابی مسعود الانصاری رضی الله عنه ايضا وفی آخره: كما باركت علىٰ آل ابراهيم فی العالمين انک حميد مجيد.

(عمل اليوم والليلة لابن السنی ٨٥ باب كيف الصلاة على النبیﷺ)

وهكذا جمع الشيخ المحدث مولانا محمد ذكريا الكاندهلوی عدة صيغ الصلاة الابراهيمية فی رسالته "فضائل درود شريف" فليراجع . (ازمرتب)

﴿١﴾ وفی المنهاج: اعلم انه لم يرد فی هذه الرواية اجتماع ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

جواب: لم اجده صریحا فالاحوط ان یرجع الیه ضمیر المذکر بتاویل الشخص او ضمیر المونث بتاویل النفس فافهم فانه لا اشکال بعد البلوغ ﴿۱﴾. وهوالموفق

د مسلمانې مور یا مور پلار د متابعت د وجې نه به په بچې باندې جنازه کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوماشوم مړشو. نو مولوی دجنازې کولو نه انکار اوکړو اوهغوی وئیل چه د بچی د مور پوره حال معلوم نه دې. چه د فلانکی کس نه د حمل جوړیدلو نه مخکښې ئې نکاح کړې ده یا روستو خاوند او ښځه دواړ وائی چه مونږ په فلانکی مولوی صاحب باندې چه د پیښور او سیدونکې دې نکاح تړلې ده. نو دلته د پښتون ګرئ نه هغه مولوی له لاړلو پیښور ته لیکن هغه عالم سره ملاؤ نه شو. دلته وارثانو

(بقیه حاشیه) ابراهیم وآل ابراهیم وخلت اکثر طرق حدیث کعب بن عجرة عن اجتماعهما فادعی ابن تیمیة وصاحبه ابن القیم عدم صحة اجتماعهما وعدم ثبوتهما فی روایه صحیحة وهذه غفلة وعجلة فقد ثبت ذلک فی حدیث کعب بن عجرة فی صحیح البخاری فی کتاب الانبیاء ۱: ۴۷۷ وکذا فی الشطر الثانی من حدیث ابی سعید الخدری فی الصحیح من الدعوات ۲: ۹۴۰ وفی التفسیر ۲: ۲۰۸ کذا فی معارف السنن.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۳: ۳۵ باب صفه الصلوٰة علی النبی ﷺ)

(۱) چه کله خُنثی مشکل بالغ وی نو بیا خو هیڅ اشکال نشته ځکه چه د بالغانو ښځو سړو یوشان جنازه کولې کیږی په هغې کښې ددعا په وخت کښې د ضمیر فرق نه وی البته چه نا بالغه وی نو د بالغینو دعا ځانته ده چه په هغې کښې د مذکر او د مؤنث د ضمیر فرق موجود دې

حیث قال العلامة شرنبلالی: اما اذا کان صغیراً او مجنونا فلیقل اللهم اجعله لنا فرطاً واجعله لنا ذخراً واجعله لنا شافعا ومشفعاً (الجوهرة النیرة ۱: ۱۳۰)

پس په خنثی مشکل کښې دواړه طرفونه موجود دی لهذا چه هر یو ضمیر ورته راجع کړي نو جائزدی. وهکذافی فتاوی دارالعلوم دیوبند ۵: ۳۵۰ قال الشیخ عزیزالرحمن اللهم اجعله لنافرطا بضمیرمذکر اووائی ځکه چه دامؤنث طرفته هم په تاویل دشخص راجع کیدېشي، او دمونث په ضمیر سره هم صحیح دی په تاویل دنفس سره. فقط (مرتب)

هغه مړی دفن کړو بغیر د جنازې نه. اوس چه دا مولوی صاحب د پیښور نه واپس راغلې نو په قبر ئې جنازه اوکړه نو آیا دا سې کول صحیح دي؟ بینوا توجروا

المستفتی میان زرین مدرسه تعلیم القران پشون ګړهی نوښهره ۱۹۲۹.۱۱.۱۱ ۲۰

الجواب: چونکه دا ماشوم د والدینو یا صرف د مور د متابعت په وجه مسلمان دې. ﴿۱﴾ او فقهائې کرام په ده باندې د جنازې کولو نه منع نه کوی لهذا په ده باندې جنازه نه کول غلطی ده او په قبر باندې جنازه کول د ریزه ریزه کیدلو نه مخکښې، جائز او صحیح ده فلیراجع الی الشرح الکبیر والدر المختار وغیرهما ﴿۲﴾ وهوالموفق

د حرامی په غوږ ونو کښې د اذان او جنازې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ولد الحرام یعنی ولد الزنا چه د چا پلار معلوم نه وی د هغه په غوږ کښې به د شریعت مطابق اذان او اقامت وئیلې کیږی یا نه؟ دغه شان که دا بچې مړشو نو په ده باندې د جنازې کولو شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل کریم خطیب راجګان کهوټه راولپنډې

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ای فان الصبی یصیر مسلما لان الولد یتبع خیر الابوین دینا.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۵۶ مطلب فی حمل المیت باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: فیصلی علی قبره ما لم یتمزق وان دفن واهیل علیه التراب بغیر صلاة او بها بلا غسل او ممن لا ولایة له صلی علی قبره استحسانا مالم یغلب علی الظن تفسخه من غیر تقدیر هو الاصح وظاهره انه لو شک فی تفسخه صلی علیه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۲ باب صلاة الجنائز)
(وهکذا فی الغنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۴۲ الرابع فی الصلاة فصل فی الجنائز)

الجواب: دا هلک به صرف مور طرفته منسوب کیږی زاني زنا کار طرفته به که مور ئې مسلمانه وه نو دا هلک به هم مسلمان وي. لان الولد يتبع خير الابوين، والمحقق هنا الحصر فی الام(۱) او په دې باندې جنازه کول جائز دی ځکه چه دا هلک د مور د متابعت د وجې نه مسلمان دې. دغه شان په زاني او زانيه هم جنازه کول جائز دی. لحديث رواه ابوداؤد صلوا على كل بر وفاجر(۲) نو ولد الزناچه مجرم هم نه دې په هغه به په طريق اولى سره جنازه کولې کیږی او کوم مړي چه د جنازې نه مستثنی کړې شوې دې دا دهغوی نه خارج دې فليراجع الى الدرالمختار باب الجنائز (۳) نو په دې به د مسلمانانو ماشومانو احکامات جاری کیږی. وهوالموفق

که په اوقات مکروه کښې جنازه حاضره شی نو جنازه مکروه نه ده

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که جنازه عند الطلوع، عند الزوال، اويا عند الغروب تیاره شی نوآیا به دې اوقاتو کښې د جنازې مونځ کول جائز دي؟ که جائز نه وی نو شامی جلد اول عالمگیری جلد اول ولې فتوی ورکړې چه سجده تلاوت مؤخر کړئ او د جنازې په حاضریدلو باندې تاخیر مه کوئ ځکه چه دا مکروه دي. د جنازې مونځ فوراً ادا کړئ. او د حدیث نه هم دا واضح دی چه حضور ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته فرمایلي وو

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: قال فی شرحه او اسلم احد ابويه يجعل مسلما تبعا سواء كان الصغير عاقلا اولم يكن لان الولد يتبع خير الابوين دينا.
(ردالمحتار ۱:۶۵۵ مطلب فی حمل الميت باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ۱:۳۵۰ باب فی الغز ومع ائمة الجور كتاب الجهاد)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفی. وهی فرض على كل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طريق فلا يغسلوا ولا يصلى عليهم اذا قتلوا فی الحرب وكذا اهل عصبة ومكابر فی مصر بسلاح وخناق خنق غير مرة فحكمهم كالبغاة.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱:۶۴۲ باب صلاة الجنائز)

چه په څلور ځیزونو کښې ناوخته کوه مه. په هغې کښې یوه جنازه هم ده، او هغه شامی او شرح الیاس هم نقل کړی دي. د جواز او عدم جواز په صورت کښې چه کومه فیصله وی د هغې نه مونږ خبر کړئ؟بینواتوجروا

المستفتی میر ولی الله بټل مانسهره.....۱۳\۵\۱۹۷۲

الجواب: جنازه چه کله په دې وختونو کښې حاضره شی نو جنازه کول په مکروه نه وی، لما ذکر المستفق لکن معرفة الحضور امر مهم(۱) وهوالموفق

د جنازې په نیت کښې د بعضې الفاظو پرېخودل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ په کلی کښې یو سړې مړ شوې وو. د جنازې کولو والا مولوی صاحب خلقو ته د جنازې نیت په اوچت آوازداسې اوښودلو، څلور تکبیرونه د جنازې مونځ کوم فرض کفایه. ثنا خاص د الله تعالی د پاره. دعا دپاره ددې حاضر مړی په دې حاضر امام پسې مخ مې د کعبې شریفې په لور که الله اکبر. په دې نیت کښې ئې د درود شریف تذکره نه ده کړې ددینه پس یوه بله جنازه کول وو د جنازې شروع کولو

(۱)قال العلامة ابن عابدین: (قوله فلو وجبتا فیها) ای بان تلیت الآیة فی تلک الاوقات او حضرت فیها الجنازة...... قوله ای تحریما فانه اذا کان الافضل عدم التاخیر فی الجنازة فلا کراهة اصلا وما فی التحفة اقره فی البحر والنهر والفتح والمعراج لحدیث ثلاث لا یؤخرن منها الجنازة اذا حضرت وقال فی شرح المنیة والفرق بینها وبین سجدة التلاوة ظاهر لان التعجیل فیها مطلوب مطلقا الا لمانع وحضورها فی وقت مباح مانع من الصلاة علیها فی وقت مکروه بخلاف حضورها فی وقت مکروه وبخلاف سجدة التلاوة لان التعجیل لا یستحب فیها مطلقا ای بل یستحب فی وقت مباح فقط فثبت کراهة التنزیه فی سجدة التلاوة دون صلاة الجنازة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۲۷۵ مطلب فی تکرار الجماعة والاقتداء بالمخالف)

نه مخکښې يو سړي د جنازې د نيت اورولو متعلق امام صاحب ته او وئيل امام په دويم ځل نيت اونه وئيلو نو په هغې کښې امام صاحب ته او وئيلې شو چه درود د پيغمبر ﷺ د پاره ولې نه ښائې؟ امام صاحب ورته جواب ورکړو چه درود په مينځ کښې راځي ددينه پس خلق ډير فساد ته نزدې شول چه امام صاحب د پيغمبر ﷺ سره دشمني او بخل نه کار واخستلو. په دغه وخت کښې څومره خلق موجود وو کنځلې ئې کولې او لاړل. ددې متعلق او فرمايئ چه دا جنازه اوشوه يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي غلام حسين کيملپور ٢٠١٥١١٩٦٩

الجواب: په جنازه کښې د جنازې نيت کول ضروري نه دي او صرف اراده کافي ده. ﴿١﴾ او باقي دا الفاظ چه درود شريف واسطې پيغمبر ﷺ ددې وئيل او نه وئيل برابر دي. لهذا امام صاحب په حقه دي او خلق د بې علمئ په وجه په غلطئ دي. وهو الموفق

په قبرستان کښې د جنازې مونځ او د مړي منتقل کولو په وجه د دويمې جنازې حکم

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (١) د پخوانئ زمانې نه يو قبرستان دې او س پکښې نه قبرشته او نه د قبرنښه وغيره بلکه يو صفا ميدان پاتې شوې دې، آيا په دې د جنازې مونځ کول جائز دی؟ (٢) يو مړي چه جنازه، غسل کفن دفن ئې شوې دې، دوه ورځې پس که دا مړی بل ځائې ته منتقل کړي او دفن کوي ئې نو آيا دې مړی د پاره په دويم ځل غسل کفن يا

﴿١﴾وفي الهندية: فالامام و القوم ينوون ويقولون نويت اداء هذه الفريضة عبادة الله تعالى متوجها الى الكعبة مقتديا بالامام ولو تفكر الامام بالقلب انه يؤدي صلاة الجنازة يصح ولو قال المقتدي اقتديت بالامام يجوز كذا في المضمرات.

(فتاوئ عالمگيرية ١: ١٦٣ الفصل الخامس في الصلاة على الميت)

جنازه کول صحیح دی؟ مدلل جواب باندې حکم صادر کړئ. واجرکم علی الله

المستفتی ایم عبدالغفور گهمبیری مری هزاره　۱۳،۱،۱۹۶۹

الجواب: (۱) دجنازې مونځ په قبرستان کښې کول جائز دی تو په هوار میدان کښې به په طریقه اولی جائز وی.

والدلیل علیه جواز صلاة الجنازة عند محاذاة المیت اجماعا ولان الفقهاء صرحوا بجواز صلاة الجنازة علی القبر فی بعض الصور، فی الدرالمختار: وان دفن بغیر صلاة صلی علی قبره ﴿۱﴾ ولان النبی ﷺ صلی علی القبر ﴿۲﴾.

(۲) که دا جنازه د بادشاه او قاضی په اجازت سره شوې وی نو اعاده ئې نشته کنې اعاده ئې جائز ده او د غسل اعاده پرې نشته.

قال فی الهندیة ۱: ۱۶۴ رجل مات فی غیر بلده ثم جاء اهله فحملوه الی منزله ان کانت الصلاة باذن السلطان او القاضی لا تعاد کذا فی فتاویٰ قاضی خان ﴿۳﴾. وهوالموفق

د ټول عمر بیلمانځه سړی د جنازې حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې ډیر کمزورې او مرګ ته نزدې دې ټول عمرئې په دې کلی کښې د تیرولو باوجود هم یو سړې دده متعلق د مونځ کولو شهادت نه شی ورکولې. آیا ددې بیلمانځه جنازه کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی عبداللطیف بټل مانسهره... ۶ شعبان ۱۳۹۲ھ

الجواب که دا سړی د اسلام دعوی کوی او مونځ نه کول ګناه ګڼړی نو ده باندې

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۲ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ عن ابن المسیب ان النبی ﷺ صلی علی قبر ام سعد بن عبادة بعد شهر.
(جامع ترمذی ۱: ۱۲۳ باب ماجاء فی الصلوة علی القبر)

﴿۳﴾ (فتاوی عالمگیریة ۱: ۱۶۴ الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت)

به د جنازې مونځ کولې شي. لکو نه مسلما مجرما ﴿۱﴾ وهو الموفق

د اغوا په دوران کښې په اغوا کننده مقتول باندې به جنازه نه شي کولې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زمونږ علاقه قبائلو ته نژدې دی. په هغوی کښې يو مخصوص قوم دې چه د پيسو د پاره تښتول کوی او س که دا سړې قتل کړيشي نو ددې شرعاً څه حکم دې؟ او په ده د جنازې څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم.... ۲۱۹۱۱۹۸۷

الجواب: د تښتونکی قتل جائز دې. عام خلق ئې ددې گناه په وخت کښې قتل کولې شي. او حکومت ئې هم هر وخت قتل کولې شي او چه کله دا سړې د اغوا په وخت کښې قتل شي نو په ده به جنازه نه شي کولې. (فليراجع الى جنائز رد المحتار ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفى الهندية: ويصلى على كل مسلم مات بعد الولادة صغيراً كان او كبيرا ذكرا كان اوانثى الا البغاة وقطاع الطريق الخ.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱ :۱٦۳ الفصل الخامس فى الصلاة على الميت)

﴿۲﴾ قال العلامه الحصكفى: وهى فرض على كل مسلم مات خلا اربعة بغاة وقطاع طريق فلا يغسلوا ولا يصلى عليهم اذا قتلوا فى الحرب ولو بعده صلى عليهم لانه حد او قصاص وكذا اهل عصبة ومكابر فى مصر ليلا بسلاح وخناق خنق غير مرة فحكمهم كالبغاة.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱ :٦٤۲ باب صلاة الجنائز)

...

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

فصل فی الحمل والغسل والدفن والتعزیة

بسم الله الرحمن الرحيم

عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من شهد الجنازة حتى يصلى عليها فله قيراط، ومن شهد ها حتى تدفن فله قيراطان قيل: وما القيراطان؟ قال: مثل الجبلين العظيمين.

......(متفق عليه)......

....

فصل فی الحمل والغسل والدفن والتعزية

چرته چه مرګ شوی وی دهغې ځائې په مقبره کښې دفن کول مستحب دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو خاندان د وطن نه دولس سوه ميله لرې اوسيږى او چه کله د هغوى نه څوک مړ شى نو هغوى ئې وطن ته راوړې. اوهلته ئې دفن کوى آيا دا دمړى نقل کول جائزدي؟ بينوا توجروا

المستفتى: مولوى غوث الرحمٰن پټهان کوټ حيدرآباد..١٢١٢١٠١٩٦٩

الجواب: بهتر داده چه سړى کوم ځائې کښې مړ شى نو د هغه ځائې په مقبره کښې دې دفن کړيشى ليکن د دفن کولو نه مخکښې ئې نقل کول هم جائزدى.

فى الهندية ويستحب فى القتيل والميت دفنه فى المكان الذى مات فى مقابر اولئك القوم ولو مات فى غيربلده يستحب تركه فان نقل الى مصر آخر لا بأس به(١ :١٦٧)

﴿١﴾. وهوالموفق

د مړى د پاره صندوق جوړول او دفن کول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه زمونږ علاقه کښې مړې په قبر کښې کيښودلو په ځائې باندې په يو جوړ شوى صندوق کښې کيښو دلې کيږى آيا دا صندوق جائز دې؟ بينوا توجروا

المستفتى حاجى محمد حسن ټل کوهاټ ٤١٨١٠١٩٨٤

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ١ :١٦٧ ؛ الفصل السادس فى القبر والدفن والنقل من مكان الى آخر)

الجواب: د زنانه د پاره تابوت په هر حالت کښې جائز دي او د سړو د پاره په وخت د حاجت جائز دي مثلاً چه زمکه نرمه، شګلنه او خوړې والا وی كمافي ردالمحتار ۱: ۸۳۶ قوله لاباس باتخاذ تابوت، ای يرخص ذلک عند الحاجة والا كره كما قدمناه آنفا وفي المحيط واستحسن مشائخنا اتخاذ التابوت للنساء يعني ولو لم تكن الارض رخوة فانه اقرب الى الستر والتحرز عن مسها عند الوضع في القبر ﴿۱﴾. وهوالموفق

مړی ته په دويم ځل غسل ورکول يا کنډ لې شوې قميص پر توګ وراچول د (تعامل امت) نه خلاف دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) زمونږ په علاقه کښې مړې ته په دويم ځل د لامبولو رواج جوړشوې دې. يو فوراً د مړکيدلو نه پس او يو د خلقو خبرولو باندې يعنی د فن کولو ته نزدې وخت کښې (۲) د مسنون کفن نه علاوه اوس ګنډلې قميص پرتوګ وغيره هم وراغوندوی د شرعی حکم نه موخبر کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام سرور ګهوټی راولپنډي

الجواب: (۱) په دويم ځل غسل ورکول د امت د تعامل نه خلاف دی ﴿۲﴾ او په دې کښې د مړی دوه ځلې بې پردې کول هم دي. نودا لازم الترک او قبيح دې خصوصاً داچه په ديکښې د اولنی غسل د عدم کفايت وهم موجود دې (۲) دا رسم هم د تعامل امت نه خلاف دي په دې کښې اسراف او تبذير دې بلکه په دې کښې د مړی د تعذيب خطره هم شته دی (لکونه راضيا به حال حيوته). وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۰ مطلب في دفن الميت)

﴿۲﴾ وفي الهندية: والواجب هو الغسل مرة واحدة..... فان خرج منه شي غسله ولا يعيد غسله ولا وضوءه لم ينشفه بثوب كيلا تبتل اكفانه. (فتاوی عالمګيرية ۱: ۱۵۸ الفصل الثاني في الغسل)

﴿۳﴾ قال الحصكفي: ويسن في الكفن ازار وقميص ولفافة، وقال ابن عابدين: وفي صحيح مسلم عنه ﷺ اذا كفن احدكم اخاه فليحسن كفنه وروى ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

بعدالغسل او د جنازې وړلو وخت کښې به د مړي سر او ښپې کوم طرفته وي؟ او خلقو لره د دفن نه مخکښې د کنلو وغیره مسئله

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه؟ (۱) بعدالغسل به د مړي سر او ښپې کوم طرف ته وی؟ (۲) د جنازې وړلو وخت کښې به ښپې کوم طرفته وي؟ (۳) د جنازې نه پس خلق د خاورې اچولو کښې مدد کولو نه بغیر ځی آیا دا صحیح دی؟ (۴) قبر به څومره اوچت وي؟ (۵) د قبر د تیارئ نه پس د قبر سر ښپوته او دریدل او څه وئیل څنګه دي؟ (۶) مړې د جمعې په ورځ د فن کولو نه پس به دریمه ورځ چنړې راوړل او هغه دم کول او خوړل څه حکم لري؟ بینو اتوجرو

المستفتی حافظ رمزاحمد تالهی تهر پارکر سندهـ ۳۱\۱۲\۱۹۷۵

الجواب (۱) په دې حکم کښې تنګی نشته بلکه کومه چه آسانه وی هغه دې اوکړی (کما فی العالمگیریه (۱:۱٦۷) والاصح انه یوضع کما تیسر(۱))

(۲) ښپې به شاته اوچتولو والا طرفته کولې شی (کما فی الهندیة ۱:۱۷٦ وفی حالة المشی بالجنازه یقدم الراس کذا فی المضمرات (۲))

(بقیه حاشیه) ابوداؤد عنهﷺ لا تغالوا فی الکفن فانه یسلب سلبا سریعا وجمع بین الحدیثین بان المراد بتحسینه بیاضه ونظافته لا کونه ثمیناً حلیة وهو فی معنی ما مر عن النهر. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱: ٦۳۷ مطلب فی الکفن) وقال الشرنبلالی: ولا یجعل لقمیصه کم لانه یکون لحاجة الحی ولا دخریص لانه یفعل للحی لیتسع الاسفل للمشی فیه ولا جیب وهو الشق النازل علی الصدر لانه لحاجة الحی ولو کفن فی قمیص حی قطع جیبه ولبنته کذا فی التبیین ولا تلف اطرافه لعدم الحاجة الیه. (امدادالفتاح شرح نور الایضاح ٦۱۴ مطلب فی التکفین)

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۵۸ الفصل الثانی فی الغسل)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱٦۲ الفصل الرابع فی حمل الجنازة)

(۳) جائز دي البته افضل دادی چه د دفن کولو پورې انتظار او کړی

قال رسول الله ﷺ من اتبع جنازة مسلم ايمانا واحتسابا و كان معه حتى يصلى عليها ويفرغ من دفنها فانه يرجع من الاجر بقيراطين كل قيراط مثل احد ومن صلى عليها ثم رجع قبل ان تدفن فانه يرجع بقيراط ﴿۱﴾ متفق عليه (مشكواة ۱۵۸).

(۴) يوه لويشت او چتوالي پکار دي (كما فى الهنديه ۱: ۱۷۶ ويسنم القبر قدر الشبر ﴿۲﴾ (۵) سنت دی:

كما فى ردالمحتار ۱: ۸۳۸ وكان ابن عمر يستحب ان يقرء على القبر بعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها ﴿۳﴾.

﴿۱﴾ (مشكواة المصابيح ۱: ۱۴۴ باب المشى بالجنازة الفصل الاول)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ۱: ۱۶۶ الفصل السادس فى القبر والدفن والنقل من مكان الى آخر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: فقد ثبت انه عليه الصلاة والسلام قرأ اول سورة البقرة عند راس ميت وآخرها عند رجليه. (ردالمحتار ۱: ۶۶۵ مطلب فى زيارة القبور باب صلاة الجنائز)

وقال ابن قيم الجوزية: وقد ذكر عن جماعة من السلف انهم اوصوا ان يقرأ عند قبورهم وقت الدفن قال عبد الحق: يروى ان عبد الله بن عمر امر ان يقرأ عند قبره سورة البقرة وممن راى ذلك المعلى بن عبد الرحمن وكان الامام احمد ينكر ذلك اولا حيث لم يبلغه فيه اثر ثم رجع عن ذلك وقال الخلال فى الجامع القراءة عند القبور: اخبرنا العباس بن محمد الدورى حدثنا يحى بن معين ...... قال ابى: اذا انا مت فضعنى فى اللحد وقل بسم الله وعلى سنة رسول الله وسن على التراب سنا، واقرأ عند راسى بفاتحة البقرة فانى سمعت عبد الله بن عمر يقول ذلك (اخرجه البيهقى فى السنن الكبرىٰ باب ما ورد فى قراءة القرآن عند القبر)

قال عباس الدورى: سألت احمد بن حنبل قلت: تحفظ فى القراءة على القبر شيأ؟ فقال لا وسالت يحىٰ بن معين فحدثنى بهذا الحديث. وقال الخلال: واخبرنى الحسن بن احمد الوراق وحدثنى على بن موسىٰ الحداد وكان صدوقا، قال: كنت مع احمد بن حنبل ومحمد بن قدامة الجوهرى فى جنازة، فلما دفن الميت جلس رجل ضرير يقرأ ---- (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

(۳) جائز دي البته افضل دادی چه د دفن کولو پورې انتظار اوکړی

قال رسول الله ﷺ من اتبع جنازة مسلم ايمانا واحتسابا و كان معه حتى يصلى عليها ويفرغ من دفنها فانه يرجع من الاجر بقيراطين كل قيراط مثل احد ومن صلى عليها ثم رجع قبل ان تدفن فانه يرجع بقيراط ﴿۱﴾ متفق عليه (مشكواة ۱۵۸).

(۴) يوه لويشت اوچتوالې پکاردې (كما فى الهنديه ۱: ۱۷۶ ويسنم القبر قدر الشبر ﴿۲﴾ (۵) سنت دی:

كما فى ردالمحتار ۱: ۸۳۸ وكان ابن عمر يستحب ان يقرء على القبر بعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها ﴿۳﴾.

﴿۱﴾ (مشكواة المصابيح ۱: ۱۴۴ باب المشى بالجنازة الفصل الاول)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۱۶۶ الفصل السادس فى القبر والدفن والنقل من مكان الى آخر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: فقد ثبت انه عليه الصلاة والسلام قرأ اول سورة البقرة عند راس ميت وآخرها عند رجليه. (ردالمحتار ۱: ۶۶۵ مطلب فى زيارة القبور باب صلاة الجنائز)

وقال ابن قيم الجوزية: وقد ذكر عن جماعة من السلف انهم اوصوا ان يقرأ عند قبورهم وقت الدفن قال عبد الحق: يروى ان عبد الله بن عمر امر ان يقرأ عند قبره سورة البقرة وممن رأى ذلك المعلى بن عبد الرحمن وكان الامام احمد ينكر ذلك اولا حيث لم يبلغه فيه اثر ثم رجع عن ذلك وقال الخلال فى الجامع القراءة عند القبور: اخبرنا العباس بن محمد الدورى حدثنا يحيى بن معين...... قال ابى: اذا انامت فضعنى فى اللحد وقل بسم الله وعلى سنة رسول الله وسن على التراب سنا، واقرأ عند رأسى بفاتحة البقرة فانى سمعت عبد الله بن عمر يقول ذلك (اخرجه البيهقى فى السنن الكبرىٰ باب ما ورد فى قراءة القرآن عند القبر)

قال عباس الدورى: سألت احمد بن حنبل قلت: تحفظ فى القراءة على القبر شيأ؟ فقال لا وسألت يحيىٰ بن معين فحدثنى بهذا الحديث. وقال الخلال: واخبرنى الحسن بن احمد الوراق وحدثنى على بن موسىٰ الحداد وكان صدوقا، قال: كنت مع احمد بن حنبل ومحمد بن قدامة الجوهرى فى جنازة، فلما دفن الميت جلس رجل ضرير يقرأ ... (بقيه حاشيه اگلے صفحه پر)

(۶) د دې چنړو خوړل د ثواب په نیت سره بدعت دي. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د دفن کولو نه پس د تعزیت وخت شروع کیږي

سوال: علمائی دین د دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په دریاب کښې ډوب شو او لاش ئې ورک شو. بیا څو ورځې پس ئې لاش ملاؤ شو. اوس به تعزیت د کوم وخت نه شروع کیږي. د ډوبیدلو د وخت نه یا د دفن کولو نه پس؟ بینوا توجروا

المستفتی فضل مولی جلبئ صوابی...۱۹۸۳،۱۸۱،۱۶

الجواب: د قواعدو په رڼا کښې د دفن کولو نه پس د تعزیت وخت شروع کیږي. (کما فی رد المحتار ۱: ۲۳۰ ﴿۲﴾، وهوالموفق

(بقیه حاشیه) عند القبر، فقال له احمد: یاهذا ان القراءة عند القبر بدعة، فلما خرجنا من المقابر قال محمد بن قدامة لاحمد بن حنبل: یاابا عبد الله ما تقول فی مبشر الحلبی؛ قال: ثقة، قال: کتبت عنه شیأ؟ قال: نعم، فاخبرنی مبشر عن عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج، عن ابیه انه اوصیٰ اذا دفن یقرأ عند رأسه بفاتحة البقرة وخاتمتها، وقال سمعت ابن عمر یوصی بذلک فقال له احمد: فارجع وقل للرجل یقرأ (اخرجه الطبرانی فی المعجم الکبیر ۴: ۱۵۴) وقال الحسن بن الصباح الزعفرانی: سألت الشافعی عن القراءة عند القبر فقال: لا بأس بها.

(کتاب الروح لابن القیم ۱۸ المسئلة الاولیٰ)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به.

(البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العیدین)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وهی بعد الدفن افضل منها قبله لان اهل المیت مشغولون قبل الدفن بتجهیزه ولان وحشتهم بعد الدفن لفراقه وهذا اذا لم یر منهم جزع شدید والاقدمت لتسکینهم جوهرة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۵ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنائز)

د ښځې خاوند یوبل د غسل او دفن وغیره حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) چه خاوند مړشي نو ښځه د مړ خاوند په کټ کیناستلې شي یا نه؟ (۲) که ښځه مړه شي نو خاوند د ښځې کټ د جنازې په وخت کښې اوچتولې شي یا نه؟ د غه غیر محرم ئې په قبر کښې کوزولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي ملک کرم بخش نمبردار کیمپلور ۱۷مارچ ۱۹۷۵ء

الجواب: کیناستلې شي غسل هم ورکولی شي. (شامی وغیره) **(۱)** (۲) کټ خو پردی خلق هم اوچتولی شي البته په قبر کښې به ئې محارم کوزوی که محارم نه وی یا ناکافی وی نود نورو رشته دار انو نه خاوند مقدم او حقدار دې او د ضرورت په وخت کښې ئې پردی خلق هم کوزولې شي (هندیه) (۲) وهو الموفق

د خاوند د پاره مړې ښځې ته په غسل ورکولو کښې د تجرید البخاری حدیث نه استدلال صحیح نه دې

سوال: علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه په تجرید البخاری کښې دی چه حضرت فاطمه ﷺ ته حضرت علی ﷺ غسل ورکړې وو، ددې مسئلې باره کښې تحقیق څه دې؟ آیا یو سړې خپلې ښځې ته غسل ورکولې شي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی قضی نورالبصر مقام جلوزی پشاور ۱۹۱۴۱۱۹۶۹

(۱) قال العلامة الحصکفی: وهی لا تمنع من ذلک، قال ابن عابدین: (تحت قوله وهی لا تمنع من ذلک) ای من تغسیل زوجها دخل بها اولا.

(ردالمحتار ۱: ۶۳۳ مطلب فی حدیث کل سبب ونسب منقطع الاسبی ونسبی صلاة الجنائز)

(۲) وفی الهندیة: ذوالرحم المحرم اولی بادخال المراة من غیرهم کذا فی الجوهرة النیرة وکذا ذوالرحم غیر المحرم اولی من الاجنبی فان لم یکن فلا بأس للاجانب وضعها کذا فی البحر الرائق.

(فتاوی عالمگیریة ۱: ۱۶۶ الفصل السادس فی القبر والدفن)

الجواب: اول خو دا ثابت نه دي، دويم دا په خصوصيت باندې محمول دي، لهذا بل څوک خپلې ښځې ته غسل نشی ورکولې؛

في الدرالمختار: ويمنع زوجها من غسلها ومسها لامن النظر اليها على الاصح وقالت الائمة الثلاثة يجوز لان عليا غسل فاطمة رضى الله عنها قلنا هذا محمول على بقاء الزوجية لقوله عليه السلام كل سبب ونسب ينقطع بالموت الا سببي ونسبي مع ان بعض الصحابة انكر عليه ﴿۱﴾ (وفي ردالمحتار ۱:۸۰۳). قال في شرح المجمع لمصنفه فاطمة رضى الله عنها غسلتها ام ايمن حاضنته ﷺ ورضى عنها فتحمل رواية الغسل لعلى رضى الله تعالىٰ عنه على معنى التهيئة والقيام التام باسبابه ولان ثبتت الرواية فهو مختص به الا ترى ان ابن مسعود رضى الله عنه لما اعترض عليه بذلك اجابه بقوله اما علمت ان رسول الله ﷺ قال ان فاطمة زوجتک في الدنيا والاخرة فادعاء الخصوصية دليل على ان المذهب عندهم عدم الجواز انتهىٰ. وهوالموفق

د مړی په غوړونو کښې د اذان کولو هیڅ څه ثبوت نشته

سوال: علمائې دين دې مسئلې کښې څه فرمائی ﴿۱﴾ مړی ته اذان کول چه په بعضې علاقوکښې مروج دې ددې څه دليل شته؟ ﴿۲﴾ آيا دارشتيادی چه عشره مبشره کښې د يوصاحب دوفات نه پس پيغمبر عليه السلام دهغه په غوړونو کښې اذان کړې ووکه رشتيا وی نوبيا دامستحب دی که سنت؟ بينواتوجروا

المستفتی: نورالهادی اسماعيله مردان.....۸جون ۱۹۷۵ء

الجواب: ﴿۱﴾ خلاف سنت دي. ﴿۲﴾

﴿۱﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱:۶۳۳ مطلب في حديث كل سبب ونسب باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: في الاقتصار على ما ذكر من الوارد اشارة الى انه لا يسن الاذان عند ادخال الميت في قبره كما هو المعتاد الآن وقد..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

(۲) دا حدیث ثابت نه دی (۱) دا ټول بناء الفاسد علی الفاسد دي. هو الموفق

په قبر دا اذان حکم

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اذان علی القبر شرعی حقيقت څه دې؟ سنت دی یا بدعت دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: اول شیر ايډوکيټ یا رحسين مردان..... ۲۴/۷/۱۹۸۴

الجواب: د بعضې شوافعو په نزد قبر کښې اذان کول مستحب دی. لیکن محققینو شوافع ددې تردید کړې (کما فی رد المحتار ۱: ۳۵۸ قيل انزال الميت القبر قياسًا على اول خروجه للدنيا لكن رده ابن حجر فی شرح اللعاب (۲)

(بقیه حاشیه) صرح ابن حجر فی فتاویه بانه بدعة وقال ومن ظن انه سنة قياسا على ندبهما للمولود الحاقا لخاتمة الامر بابتدائه فلم يصب.

(ردالمحتار ۱: ۲۶۰ مطلب فی دفن الميت باب صلاة الجنائز)

(۱) امام ربانی رشید احمد گنگوهی فرمائی. د دفن نه پس قبر باندې اذان کول بدعت دې چرته په قرون ثلثه کښې ددې ثبوت نشته لکه علامه شامی په رد المحتار کښې لیکلي دي. (تنبيه: فی الاقتصار علی ما ذكر من الوارد اشارة الى انه لايسن الاذان عند ادخال الميت، او علامه خیرالدین رملی په حاشیه بحرالرائق کښې لیکلی دی.

قیل وعند انزال الميت القبر قياسا على اول خروجه من الدنيا لكن رده ابن حجر فی شرح العباب انتهی.

او په درالبحار کښې ئې لیکلې دی.

من البدع التی شاعت فی بلاد الهند الاذان على القبر بعد الدفن انتهی

او په تو شیح شرح تنقیح محمود البلخی کښې مذکور دی

ما فی الاثور من الاذان على القبر وليس بشئ انتهی کذا فی الفهم المسائل

(فتاوی رشیدیه ۱: ۱۳۶ قبر پر اذان دینا)

(۲) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱: ۲۸۳ مطلب فی المواضع التی يندب لها الاذان فی غير الصلاة)

او د احنافو مشائخو ددې اذان په باره کښې هیڅ تذکره نه ده کړې. البته بعضې محققینو یعنی علامه شامی په رد المحتار ۱: ۸۳۷ کښې په دې باره کښې کراهیت طرف ته اشاره کړې ده. ﴿۱﴾ وهوالموفق

مړ پیدا شوې بچې به په قبرستان کښې دفن کولې شي؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مړ پیدا شوې بچې به په قبرستان کښې دفن کولې شی یاچرته یوخاص ځائې کښې؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګلزمان کورنګی روډ کراچی نمبر ۴.... ۱۰ صفر ۱۳۹۷ھ

الجواب: د کافی تلاش باوجود صریح جزیه ملاؤ نه شوه د قواعدونه داسې معلومیږی چه په عام قبرستان کښې به دفن کولې شی. (لان فیه اکرامًا کما فی الغسل والتسمیة، قال صاحب الدرالمختار والا یستهل غسل وسمي﴿۲﴾ وهوالموفق

په قبر کښې دمړی سره تولانې وغیره کیښودل خلافِ سنت دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی سره د کفن نه علاوه نور څیزونه لکه تولائی وغیره کیښودل جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالقیوم کوه مری راولپنډي

الجواب: د کفن نه علاوه نور څیزونه په قبر کښې کیښودل خلافِ سنت دي. (شامی ۱: ۸۳۶)، ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الشامی: فی الاقتصار علی ما ذکر من الوارد اشارة الی انه لا یسن الاذان عند ادخال المیت فی قبره کما هو المعتاد الآن وقد صرح ابن حجر فی فتاویه بانه بدعة.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۰ مطلب فی دفن المیت)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۲۵۵ باب صلاة الجنازة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ویحسن الکفن) بان یکفن..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د كفن په وخت كه قبر او غورزيږى نو بيا دې سم كړې شي

سوال: علمائى دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چې د دفن په وخت كښې يو قبر او غور زيږى حال دا چه مړې په لحد كښې كيښودلې شوې وو نو په داسې موقع كښې كوم كار بهتردې نوې قبر جوړكړې شي، يا دا صحيح كړيشى او مړې پكښې دفن كړيشي؟ بيواتوجروا

المستفتى گل قدم لنډيوا بنوں........ ۱۷\۸\۱۹۷۷

الجواب: ددې قبر اصلاح كول پكار دى فقهائې كرامو چه د كومو وجوهاتو په بناء باندې د مړې راويستل جائز گرځولې دى په هغې كښې ئې د قبر غورزيدل نه دى شماركړې. (كما فى شرح التنوير ولا يخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق آدمى الخ ﴿۱﴾ وهوالموفق

د قبر سرخپو ته د سورة بقرې اول آخرلوستل اود تلقين بعد الممات حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه بعدالدفن د قبر سر خپو طرفته د سورة البقرې اول آخر لوستل جائز دى يا نه؟ دغه شان د تلقين بعدالممات څه حكم دې؟ بينواتوجروا

المستفتى: بانډه سيدان ضلع مانسهره ۲۲ذى الحجه۱۳۹۲ھ

الجواب: واضحه دې وى چه د سورة البقره اول اوآخر ،دقبر سر اوخپوته، لوستل مسنون دي. (لحديث ورد بذلک رواه البيهقى عن ابن عمر كما فى المشكوة (۱: ۱٦٤) ﴿۲﴾

(بقيه حاشيه) بكفن مثله وهو ان ينظر الى ثيابه فى حياته للجمعة والعيدين وفى المرأة ما تلبسه لزيارة ابويها كذا فى المعراج فقول الحدادى وتكره المغالاة فى الكفن يعنى زيادة على كفن المثل نهر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ٦٣٦ مطلب فى الكفن باب صلاة الجنازة)

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱: ٦٦٢ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ عن عبد الله بن عمر قال سمعت النبى ﷺ يقول ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

لیکن د تلقین بعد الممات باره کښې د ..نه اېن کارمې کنم ونه انکارمې کنم.. طرزعمل معمول سائل پکاردی

کما فی شرح التنویر ولا یلقن بعد تلحیده وان فعل لا ینهی عنه (هامش ردالمحتار ۱:۷۹۷)﴿۱﴾. وهوالموفق

د دفن نه پس د مړی خپو ته د سورة البقره اول او آخر لوستل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې دمړی د دفن کولو نه پس بعضې علماء د قبر سر او خپو طرفته اودریږی د سورة البقره آول او آخر لولی او بیا دُعا کوی. آیا دا جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد مدرس خان بنوں کرکله........۱۰ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: د قبر سر او خپوطرفته اودریدل اود سورة البقره ابتدائی او آخری ایتونه لوستل جائز اومشروع دی ﴿۲﴾

کما رواه البیهقی مرفوعا ولیقرء عندراسه فاتحة البقرة

(بقیه حاشیه) اذا مات احدکم فلا تحبسوه واسرعوا به الی قبره ولیقرأ عند رأسه فاتحة البقرة وعند رجلیه بخاتمة البقرة رواه البیهقی فی شعب الایمان.

(مشکواة المصابیح ۱: ۱۴۹ باب دفن المیت الفصل الثالث)

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۲۸ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾قال الامام جلال الدین السیوطی: واخرج الطبرانی والبیهقی فی الشعب عن ابن عمر رضی الله عنهما قال سمعت رسول الله ﷺ یقول اذا مات احدکم فلا تحبسوه واسرعوا به الی قبره ولیقرأ عند رأسه فاتحة الکتاب ولفظ البیهقی فاتحة البقرة وعند رجلیه بخاتمة سورة البقرة فی قبره. واخرج الطبرانی عن عبد الرحمن بن العلاء بن الجلاج قال قال لی ابی یابنی اذا او ضعتنی فی لحدی فقل بسم الله وعلی ملة رسول الله ثم سن علی التراب سنا ثم اقرأ عند رأسی بفاتحة البقرة و خاتمتها فانی سمعت رسول ﷺ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

وعـنـد رجليه بـخـاتمة البقرة وقال البيهقی والصحيح انه موقوف علی عبد الله بن عمر ﴿۱﴾، قـلـت لكنه مما لا يدرک بالرائ فافهم، فی ردالمحتار ۱: ۸۴۳ فقد ثبت انه عليه السلام قرء اول سورة البقرة عند رأس الميت وآخرها عند رجليه ﴿۲﴾. وهو الموفق

د دفن نه پس د میراث مسئله بیانول نه مطلوب دی او نه ممنوع

سوال: علمائې دین دې مسئلې بارکښې څه فرمائی چه په قبر بعد الدفن د میراث مسئله بیانول ضروری دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سمیع الحق پشاور.... ۱۹۷۲\۱۱\۲۶

الجواب: د قبرسره د دفن نه پس نه د میراث مسئله بیانول ضروری دی او نه څه

(بـقـيـه حـاشـيـه) الله ﷺ يقول ذلک. (شرح الصدور بشرح حال الموتی والقبور ۴۳ باب مايقال عند الدفن والتلقين)

قـال ابـن الـقـيـم الـجوزية: قال عباس الدوری: سألت احمد بنْ حنبل قلت تحفظ فی القراءة علـی القبر شيأً؟ فقال : لا ، وسألت يحی بن معين فحدثنی بهذا الحديث، قال الخلال: كنت مـع احمد بن حنبل ومحمد بن قدامة الجوهری فی جنازة فلما دفن الميت جلس رجل ضرير يـقـرأ عند القبر فقال له احمد: يا هذا ان القراءة عند القبر بدعة، فلما خرجنا من المقابر قال مـحـمـد بـن قـدامة لاحـمد بن حنبل يا أبا عبد الله ما تقول فی مبشر الحلبی؟ قال: ثقة، قال: كتبت عنه شيأً؟ قال: نعم، فاخبرنی مبشر عن عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج، عن ابيه انه اوصی اذا دفن يقرأ عند رأسه بفاتحة البقرة وخاتمتها، وقال سمعت ابن عمر يوصی بذلک، فقال له احمد: فارجع وقل للرجل يقرأ.

(كتاب الروح لابن القيم۱۸ هل تعرف الاموات زيارة الاحياء)

﴿۱﴾ (مشكواة المصابيح ۱ ۱۴۹ باب دفن الميت الفصل الثالث)

بل بیان کول ضروري دي، البته قران لوستل او د تثبیت دپاره ورته دعا کول مسنون دي (کما فی ردالمحتار ۱:۸۴۳ المطلوب هناک القراءة والدعاء للمیت با لتثبیت ﴿۱﴾ او د میراث مسئله نه مطلوب ده او نه ممنوع ده وهوالموفق

د غسل نه پس که په مړي یوه شپه تیره شي نو د غسل اعاده نشته.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مړی ته که د شپې په وخت کښې غسل ورکړیشی او بیا د کفن دفن انتظام او نه شی بلکه د سحر پورې مړې داسې پا تې شی نو آیا سحر ورته بیا غسل ورکول ضرور دي؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالحمید چمکنی پشاور

الجواب: د غسل اعاده نشته که هر څومره وخت پرې تیر شی او که ګندګی اوځی نوصرف هغه ځائې به وینځلې کیږي ﴿۲﴾ هکذا فی جمیع معتبرات الفقه، هوالموفق

د مړی سره بطور تبرک د حدیثو او وظیفو کتابونه دفن کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی د خپل مرګ نه مخکښې وصیت کړې وو چه ځما د وظیفو کتاب او د قرآن نسخه چرته پرهیزګار سړی ته ورکړئ. یا ئې ځما سره دفن کړئ. چا ته د ورکولو په ځائې هغه کتابونه د مړی سره بطور تبرک دفن کړې شول ددې واقعې نه پس زمونږ په علاقه باند د عذاب اثار نازلیدل شروع شول فتنې او فسادونه ورځ

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۶۶۵ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: ولا یعاد غسله ولا وضوءه بالخارج منه لان غسله ما وجب لرفع الحدث لبقائه بالموت بل لتنجسه بالموت کسائر الحیوانات الدمویة الا ان المسلم یطهر بالغسل کرامة له وقد حصل. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۳۳ باب صلاة الجنائز)

په ورځ زیا تیرېږی باران هم بند شوي دي. آیا دې باره کښې څه روایت شته چه دا کار جائز دي یا نا جائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا نذیر احمد مسجد سنگریړی هزاره..... ۱۲\۹\۱۹۷۰ء

الجواب: دمړی سره په لحد کښې دفن کول ناجائز دی او په مستقل ځائي کښې (چه د قبر په خواکښې جوړ شوې وی او بیا بند شوې وي) دفن کول جائز دي، یدل علیه ما فی ردالمحتار وقد منا عن الفتح انه تکره کتابة القرآن واسماء الله تعالیٰ علی الدراهم والمحاریب والجدران وما یفرش وماذلک الا لاحترامه وخشیة وطئه ونحوه مما فیه اهانة فالمنع هنا (عند الکتابة علی الکفن) بالاولیٰ ما لم یثبت عن المجتهد او ینقل فیه حدیث (۱:۸۴۷)﴿۱﴾ وفی الهندیة (۵:۳۵۸) المصحف اذا صار خلقا لا یقرء منه ویخاف ان یضیع یجعل فی خرقة طاهرة ویدفن ودفنه اولیٰ من الخ﴿۲﴾،

ددې روایتونو نه ددفن کولو جواز معلومیږی چه د نجاست نه لرې وی او ددې متعلق صریح جزئیه ملاؤ نه شوه.

خنثیٰ مشکل ته د غسل ورکولو مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائیلې دی چه خنثی مشکل ته به غسل څوک ورکوي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مدرسه ریاض القران دته خیل شمالی وزیرستان. ۲۳\۱\۱۹۸۸ء

الجواب: خنثیٰ مشکل چه مړشی نو هغه ته به باقاعده تیمم ورکولی شي، او یا

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۹ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت قبیل باب الشهید)

﴿۲﴾ (فتاوی عالمگیریة ۵:۳۲۳ الباب الخامس فی اداب المسجد والقبلة والمصحف)

شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمه الله فرمائی شجره نسب د مړی سره په کفن کښې یا کفن د پاسه کیښودلو لره فقها منع کوی په دې سره د بزرگانو د نومونو په باره کښې بې ادبی کیږي، البته د مړی سر طرفته دې په قبر کښې یو ورکوټی تاخچه جوړه کړي او په هغې کښې دې د شجره نسب کاغذ کیږدی. ماخوذ از رساله فیض عام، فتاوی عزیزی ۲۰۴ باب التصوف.

﴿۳﴾ وفی الهندیة والخنثی المشکل المراهق لا یغسل رجلا ولا امرأة ولو یغسله رجل ولا امرأة ویتیمم وراء ثوب کذا فی الزاهدی. (فتاوی عالمگیریة ۱:۱۶۰ الفصل الثانی فی الغسل)

بهورته په حوض یادریاب کښې غوپه ورکولې شی (فلیراجع الی الهندیة (۱)) وهو الموفق

په تعزیت کښې دعا، د جنازې نه پس دعا
او په حیله اسقاط کښې د قران د دور حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی:

(۱) زمونږ علاقه کښې د تعزیت طریقه دا ده چه د دفن نه پس خلق راځی چه دعا اوکړئ ټول یوځائې دعا کوی دغه شان دا سلسله جاری وي. بیا دعا هم مقرره نه وي. څوک سورت فاتحه وائی څوک د جنازې دعا وغیره. صحیح طریقه څه ده؟ (۲) د جنازې نه پس په صفونو کښې ناسته باندې یا چه صفونه مات کړې او اجتماعی دعا کوی بعضې خلق دې دعا ته سنت وائی چه حضور ﷺ د حضرت جعفر رضی الله عنه د مرګ په خبر باندې په مدینه منوره کښې جنازه اوکړه او دعا ئې اوکړه. بحواله فتح القدیر، نصب الرایه کبیری. او بعضې علماء دا دعا منع کوی اوس اوس په ۲۳ جنورې د حضرت مولا نصیرالدین صاحب شیخ الدیث غور غشتوی په جنازه کښې دا دعا نه ده شوې. هلته کښې غالباً حضرت مولانا عبدالحق صاحب هم موجود وو. دا خبر بنده په رساله تعلیم القران میاشت جنوری کښې لوستلې دې. (۳) ایا حضرت عمر رضی الله عنه د حبیبه بنت عرید زوجه قلاب په جنازه کښې د حیله اسقاط په دروان کښې دور د قرآن کړې؟ آیا دا روایت واقعې ابو اللیث سمرقندی ذکر کړې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاضی نور عالم رانیکا راولپنډی...... ۱۹۶۹،۱۲،۲۳

---

(۱) قال العلامة شرنبلالی: وكذا الخنثیٰ المشكل يتيمم فی ظاهر الرواية وقيل يجعل فی كوارة فيغسل. (امداد الفتاح شرح نور الایضاح ۶۱۱ مطلب فی تغسیل من لا یتمکن من غسله)

ملاحظه: که خنثی مشکل وړکوټې ماشوم وو نو هغه ته به غسل ورکولې کیږی که سړې ورته غسل ورکوی یا زنانه او که دا خنثی مشکل غټ یعنی بالغ وو یا د شهوت حد ته رسیدلې وو نو هغه ته به تیمم ورکولې شی غسل نه

قال العلامة الشیخ الشبلی: ولو كان الميت خنثى مشكلا فانه ينظر ان كان صغيراً غسل على كل حال سواء كان الغاسل رجلاً او امرأة وان كان بلغ حد الشهوة لا يغسل للتعذر بل ييمم ثم ان كان المتيمم ذارحم منه يتممه بغير خرقة وان كان غير محرم فبخرقة ويعرض عن ذراعيه (هامش تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ۱ ۲۳۵ باب الجنائز) (ازمرتب)

الجواب (۱) مړی دپاره مغفرت غوښتل هم تعزیت دې:

یدل علیه ما فی الهندیة ۱:۱۶۷ ویستحب ان یقال لصاحب التعزیة غفر الله لمیتک الخ﴿۱﴾ وفی ردالمحتار ۱:۸۴۱ قوله وبتعزیة اهله ای تصبیرهم والدعاء لهم به ﴿۲﴾.

(۲) خواصو دپاره نه کول بهتر دی او عوام دې د کسرالصفوف نه پس دعا کولو نه نهٔ منع کوی (۳) (۳) مونږ سره داکتاب نشته. لهذا د تحقیق کولو نه مونږ معذوره یو. وهو الموفق

په قبر باندې سیمټی ګټې کینودل او خاورې اچول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ د ملک زمکه ډیر سخته ده نو مونږ نیغ قبر جوړکړو د هغې دواړو طرفونو ته یونیم ګز اوږدې پنځه شپږ ګټې ږدو چه هغې ته (سنګ لحد) (یعنی د لحد ګټې) وائي. اوس دا مسئله پیدا شوه چه اوږدې اوږدې سنګ لحد نه ملاویږی نو عوامو مشوره اوکړه چه د سیمټو او اوسپنې نه به سنګ لحد جوړوې کړو اوږدو به ئې پکښې. په قبرونو باندې سیمنټ لګول او پخول خو منع دی آیا د سنګ لحد دپاره د سیمټو او اوسپنې نه جوړشوی کانړی او تختې جوړول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی سلطان ټانک

الجواب: په دې زیر تجویز سنګ لحد کښې اورته استعمالیږی لهذا ددې استعمال جائز دې خصوصاً چه کله قدرتی سنګ لحد نه ملاویږی

ونظیره التابوت من حدید ووجه عدم الکراهة الحاجة ولان هذا التابوت لا یعمل الا بالنار بخلاف هذه الحجارة

﴿۱﴾ (فتاوی عالمگیریة ۱:۱۶۷ ومما یتصل بذلک مسائل التعزیة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۸۴۱ مطلب فی الثواب علی المصیبة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: وعن الفضلی لا بأس به.

(البحر الرائق ۲:۱۸۳ فصل السلطان احق بصلاته کتاب الجنائز)

المصنوعة (هذا ما اخذه من كلام ردالمحتار ۱: ۸۳۶ فليراجع)﴿۱﴾. وهوالموفق

بعد الدفن د تلقين ميت حكم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مړی ته بعدالدفن تلقین څنګه دې؟ زمونږ ځائې کښې دا طریقه رائج ده چه کله دفن کولې شی نو یوکس قبر ته مخ کړی او وائی اې فلانکیه که هیرشوې وی درنه نو یاد کړه که منکر نکیر درنه تپوس اوکړی نوورته وایه چه څه مسلمان مړ شوې یم. زه د حضور ﷺ امتی یم ویریږه مه. ددې تلقین شرعی حیثیت څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی محمود شاه کرک کوهاټ. ۲۵صفر ۱۴۰۲

الجواب: تلقين بعدالدفن نه مطلوب دی او نه ممنوع. نه این کار میکنم ونه انکار میکنم﴿۱﴾

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۲۰ مطلب فی دفن المیت باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ ☆...... قال الشامی: (قوله ولا يلقن بعد تلحيده وان فعل لا ينهىٰ عنه) ذكر فی المعراج انه ظاهر الرواية ثم قال وفی الخبازية والكافی عن الشيخ الزاهد الصفار ان هذا علی قول المعتزلة لان الاحياء بعد الموت عندهم مستحيل اما عند اهل السنة فالحديث ای لقنوا موتاكم لا اله الا الله محمول علی حقيقته لان الله تعالیٰ يحييه علی ماجاء ت به الآثار وقد روی عنه عليه السلام انه امر بالتلقين بعد الدفن الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۲۹ مطلب فی التلقين بعد الموت)

☆......قال العلامة ابن الهمام: واما التلقين بعد الموت وهو فی القبر فقيل يفعل لحقيقة ما روينا ونسب الی اهل السنة والجماعة وخلافه الی المعتزلة وقيل لايؤمر به ولا ينهیٰ عنه.

(فتح القدير ۲: ۶۸ باب الجنائز)

☆......قال العلامة ابراهيم الحلبی: واما التلقين بعد الدفن فقيل يفعل لحقيقةما رويناه وقيل لا يؤمر به ولا ينهیٰ عنه...... وانما لا ينهی عنه التلقين بعد الدفن لانه لا ضرر فيه بل فيه نفع فان الميت يستانس بالذكر علی ما ورد فی الآثار ففی...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

(قاله فی شرح التنویر ولا یلقن بعد تلحیده وان فعل لا ینهی عنه﴿۱﴾ (هامش رد المختار ۱:۷۹۷)، وهو الموفق

د مړی بل وطن ته منتقل کولو او مسلمان لره د اهل کتابو په مقبره کښې دفن کولو مسئله

سوال: مایقول العلماء الکبار فی المسائل الاتیة: (۱) هل یجوز نقل المیت من بلد الی بلد وحالة المیت تتغیر بسبب تغییر فی الجو ومضی المدة علیه وما هی طریقة السلف الصالح فی هذا؟ (۲) هل یجوز دفن المیت المسلم فی مقبرة تکون واقعة علیحدة ولکن فی سور واحد مع مقابر اهل الکتاب وهل فیه هناک حدیث النبی ﷺ یمنع هذا؟

المستفتی: دارالاصلاح والدعوة بنوری منزل یوکے... ۲۴ ا رمضان ۱۴۰۵ھ

جواب: (۱) ما فی الهندیة ۱:۱۶۷ ویستحب فی القتیل والمیت دفنه فی المکان الذی مات فی مقابر اولئک القوم (خلاصه)﴿۲﴾ وکذا لو مات فی غیر بلده

(بقیه حاشیه) صحیح مسلم عن عمر وبن العاص قال اذا دفنتمونی اقیموا عند قبری قدر ما ینحر جزور ویقسم لحمها حتی استأنس بکم وانظر ما اذا اراجع رسل ربی.

(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۲۹ فصل فی الجنائز)

☆......وقال الشیخ محمد فرید دامت برکاتهم: (قوله تلقین المریض عند الموت والدعاء له) اشار الیٰ ان المراد من المیت هو قریب الموت لا المیت الحقیقی فانه لا یلقن وهو ظاهر الروایة. (منهاج السنن ۳:۱۸۹ باب ماجاء فی تلقین المریض عند الموت)

☆...... وفی اعلاء السنن: ولکن الآن صار شعاراً لروافض وترکه اهل السنة ففیه خوف التهمة فلا یلقن. (اعلاء السنن ۸:۲۷۳ ابواب الجنائز باب ما یلقن المحتضر)

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱:۲۲۸ مطلب فی التلقین بعد الموت)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۶۷ الفصل السادس فی القبر والدفن والنقل من مکان الی آخر

يستحب تركه (قاضيخان)﴿۱﴾ وفى شرح التنوير ولا بأس بنقله قبل دفنه ﴿۲﴾. قلت والاصل فيه ما رواه الترمذى من نقل عبد الرحمن بن ابى بكر من الحبشى الى مكة﴿۳﴾ وما روى ان يعقوب ويوسف عليهما السلام نقلا بعد الدفن فقال ابن الهمام فى الفتح القدير هو شرع من قبلنا ﴿۴﴾ ولا يبعد ان يقال ان اجساد الانبياء عليهم السلام لا تأكله الارض فلا يقاس عليهم غير الانبياء. (۲) انى لم اجده ما حضر عندى من الكتب، نعم كلام الفقهاء كالحلبى يدل على التعامل بكون مقابر المسلمين منفردة من مقابر المشركين (فليراجع الى الشرح الكبير ۵۵۹) ﴿۵﴾. وهو الموفق

د دفن نه مخکښې لاش بل ځائې ته وړل

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه د زيد انتقال په لاهور کښې اوشو اوس دده لاش ددفن کولو د پاره پيښور ته وړل څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتى ګل محمد خان کوټ ادو مظفر ګړه ۲۳\۴\۱۹۸۵

الجواب: ددفن کولو نه مخکښې مړې خپل وطن ته وړل قابلِ اعتراض نه دى علامه شامى يو روايت دغه شان هم ذکر کړې دى(٦) وهو الموفق

﴿۱﴾(فتاوى خانية على هامش الهنديه ۳: ۱۹۵ بيان ان النقل من بلد الى بلد مكروه)

﴿۲﴾(الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱: ۲٦۳ باب صلاة الجنائز)

﴿۳﴾(سنن ترمذى ۱: ۱۲۵ باب ماجاء فى الزيارة القبور للنساء)

﴿۴﴾(فتح القدير ۲: ۱۰۱ فصل فى الدفن باب الجنائز)

﴿۵﴾ قال العلامة الحلبى: واما الدفن فقيل يدفنون فى مقابر المسلمين وقيل فى مقابر المشركين وقيل لتخذلهم مقابر على حدة وتسوى قبورهم ولا تسنهم وهو قول ابى جعفر الهندوانى (غنية المستملى المعروف بالشرح الكبير ۵۵۸ فصل فى الجنائز)

﴿٦﴾ قال العلامة ابن عابدين (قوله ولا بأس بنقله قبل دفنه) (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د پیداشوی مړ بچی نوم کیښودل جائز دي

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه مړ بچي پيدا شو ددي نوزائيده بچی نوم کيښودل جائزدی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی غلام عزيز حاجی شاه موړ اټک ... ۱۳ذی الحجه ۱۳۹۴ھ

الجواب: دنوزائيده مړی نوم کيښودل جائز دی (کما فی الدرالمختار والايستهل غسل وسمی عندالثانی وهوالاصح فيفتی به(۱)وهوالموفق

مړی ته د غسل ورکولو حقدار او په اجرت باندې د غسل ورکولو مسئله

سوال: علمائي دين دي مسئلي باره کښي څه فرمائي چه په اجرت باندي مړی ته غسل ورکول څنګه دي؟ او دغسل ورکولو ډير حقدار څوک دي؟

بينوا توجروا

المستفتی حافظ نور محمد نوشهره............ ۱۷صفر۱۳۸۹ھ

الجواب: په غسل ميت باندي اجرت اخستل جائز دي. اګر که نورخلق موجود وي. صرح به فی الهندية ۱:۱۶۹ (۲) او دغسل حقداراقرب دی (کذا فی الهنديه والکبيري.

(بقيه حاشيه)قيل مطلقا وقيل الی مادون مدة السفر وقيده محمد بقدر ميل او ميلين لان المقابر البلد ربما بلغت هذه المسافة فيکره فيما زاد قال فی النهر عن عقد الفرائد وهو الظاهر (ردالمحتار ۱:۶۶۳ مطلب فی الثواب علی المصيبة باب صلاة الجنائز)

(۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۵۵ باب الجنائز)

(۲) وفی الفتاوی الهندية: والافضل ان يغسل الميت مجانا وان ابتغی الغاسل الاجر فان کان هناک غيره يجوز اخذالاجر والا لم يجز هکذافی الظهيرية.

(فتاوی عالمگيرية ۱:۱۵۹ الفصل الثانی فی الغسل الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)

خوټې، نوسې، نیکه، ورور، وراره، تره، وغیره (۱) وهوالموفق

د یو لویشت نه اوچت قبر جوړول او په هغې باندې د یوې ونې څانګه خښول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د لویشت نه اوچت قبر جوړول او په هغې باندې دونې شنه څانګه خښول څه حکم لري؟

بینوا توجروا

المستفتی شاه محمد فیض العلوم پشین ۲۲\۱جولائي\۱۹۸۴

الجواب: د یولویشت نه لړاوچت قبر جوړول ممنوع نه دی (۲) دغه شان په قبرباندې دکهجورې وغیره څانګه کیښودل هم ممنوع نه دی (۳) وهوالموفق

د غسل په وخت کښې د مړی خپې قبلې طرفته کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د غسل په وخت کښې د مړی خپې ولې قبلې طرفته کولې شی حال دا چه قبلې ته خپې یا شا کول منع دي؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد ابراهیم واه کینټ راولپنډی ۱۲\۱ستمبر\۱۹۷۹

الجواب: مړی ته دغسل ورکولو وخت کښې دهغه خپې قبلې طرفته کول ضروری

---

(۱) وفی الفتاویٰ الهندیة: ویستحب للغاسل ان یکون اقرب الناس الی المیت فان لم یعلم الغسل فاهل الامانة والورع کذافی الزاهدی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۵۹ الفصل الثانی فی الغسل الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: فتحمل الکراهة علی الزیادة الفاحشة وعدمها علی القلیلة المبلغة له مقدار شبراً وما فوقه قلیلا. (ردالمحتار ۱:۶۶۲ مطلب فی دفن المیت باب صلاة الجنائز)

(۳) قال العلامة ابن عابدین: وقد ذکر البخاری فی صحیحه ان بریدة بن الخصیب رضی الله عنه اوصی بان یجعل فی قبره جریدتان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۸ مطلب فی وضع الجرید باب صلاة الجنائز)

نه دي. په دې کښې توسع ده. (شامي کتاب الجنائز) د معذور مريض د موضع په طريقې باندې د قياس کولو تقاضا هم داده. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د مړی په دریمه ورځ د مړی جامې وغیره وینځل رسم دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه عموماً دا رواج دې چه د مړی د دفن په دریمه ورځ لازماً د مړی د استعمال جامې وینځلې کیږي. دا صفائی جائز ده یا ناجائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالحمید ایس وی معلم مډل سکول درازنده ډی آئی خان ۱۹۷۲/۱۱/۲۶

الجواب: دا ټول رسومات دی ددې نه بچ کیدل ضروری دي. وهو الموفق

جنُبْ مړی ته دوه ځلې غسل ورکول د هیڅ مذهب نه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو کس د ښځې سره جماع اوکړی او بیا مړ شی آیا ده ته به دوه ځلې غسل ورکولې کیږي؟ یا هغه اولنې غسل کافی دې؟ بینوا توجروا

المستفتی حافظ حجاج ولی نائب خطیب دوسلی کیمپ بنون ۱۳ جمادی الثاني ۱۴۰۸ھ

الجواب: په جنابت وغیره کښې وفات شوې کسانو ته دوه ځلې غسل ورکول د هیڅ مذهب هم نه دي. ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ويوضع كما تيسر في الاصح) وقيل يوضع الى القبلة طولا وقيل عرضا كما في القبر افاده في البحر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۳۱ باب صلاة الجنائز مطلب في القراة عند الميت)

﴿۲﴾ قال العلامة محمد امين ابن عابدين: (قوله بلا مضمضة واستنشاق) هذا لو كان طاهراً اما لو كان جنبا او حائضا او نفساء فعلا تعميما للطهارة كما في الامداد عن شرح المقدسي وفي حاشية الرملي اطلاق المتون والشروح يشمل من مات جنباً و كذلك اطلاق الفتاوى والعلة تقتضيه ولم ار من صرح به لكن الاطلاق يدخله، وفي حاشية مسكين انهما لا يفعلان وعزاه الى الزيلعي. (منحة الخالق هامش البحر الرائق ۲: ۱۷۲ كتاب الجنائز)

وقال الشرنبلالية: وعلى القول بانه بلا مضمضة　　(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د قبرونه ګیر چاپیره څلور طرفونو ته د ګټو تختي لګول او په مینځ کښې خاورې اچول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د قبرونه ګیر چاپیر څلورواړو طرفونو ته لوئې لوئې تور کاڼړي یعنی د سنګ مرمر تختې چه د ټانبې وغیره په ذریعې سره یو ځائې کړې شوې وی او په مینځ کښې قبر کچه دې یعنی دخاورو وي. بعضې خلق دیته جائزوائی آیا دا جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتي معتصم بالله متعلم حقانیه...... ۱۲۲جنوری ۱۹۷۵

الجواب: په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې ئې دیته ناجائز وئیلی دي. فلیراجع الیها (۵\۳۷۷، ۵\۳۹۵، ۵، ۴۰۶) ﴿۱﴾ وهوالموفق

چه قبر تیاروی او جنازه هم شوې وی نو دچا د زیارت د انتظار د پاره مړې کینودل بهتر نه دي

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه قبر تیاروی او جنازه هم شوې وي. بیا ئې هم دچا د راتلو د پاره مړې داسې ایښې دې چه هغه راځی زیارت به کوي. آیا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي محب الله شیرانی مدرسه اشرف العلوم باغبان پوره ګجرانواله ۱۷\۱۱\۱۹۹۰

(بقیه حاشیه)واستنشاق مخصوص بغیر الجنب فلذا قال الا ان یکون جنباً فیتکلف لفعلهما تتمیما لطهارته کما فی شرح العلامة المقدسی قلت و کذا الحائض والنفساء للاشتراک فی افتراض المضمضة والاستنشاق فیما بینهم. (امداد الفتاح ۶۰۹ مطلب فیما یفعل بالمیت)

﴿۱﴾ فتاویٰ دارالعلوم دیوبند ۵: ۳۷۷، ۳۹۵، ۴۰۶ فصل سادس قبر دفن)

وقال المفتی اعظم کفایت الله: دقبرنه ګیر چاپیر ګټو لګولو سره په دې شرط چه قبر پوخ نه وی صرف دا مقصود کیدی شي چه د قبر نخښې ختمې نشي په دې صورت کښې ښکلې او بد رنګې دواړه ګټې سو کار ورکوي، او که دا خیال وی چه خلق ورته اوګوري نو خوشحاله به شي یا ریا او شهرت بکښې مقصود وي، نو په دې صورت کښې ښکلې خوځه کوي بد رنګي ګټې لګول به هم حرام وي. په ۴\۴۹ او ۴\۴۲، کښې دی **سوال**: د قبر پرنې حصه یعنی پوره تعویذ چه کچه پریښو دې شي لکه د چار دیوارۍ دوه فټه اوچت د خښتو و غیره قبر ته د نقصان رسولو د وجې نه داسې جوړول جائز یا نه؟ **جواب**: دا صورت بهتر نه دي. (کفایت المفتي ۴\۴۲، ۴۹ فصل چهارم قبر و دفن)

الجواب: بهتر نه دي. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د نوازائیده مړ بچي کفن دفن کولو دپاره د خلقو جمع کیدل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله مړ بچې پیدا شی نو د هغې د دفن کولو دپاره د خلقو د جمع کولو اهتمام او کفن ورکول بدعت مقبوحه دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ثنا ءالله............۷۱۴۱۱۹۷۴

الجواب: د مړ پیدا شوی بچی دفن کول او په یو کپړه کښې کفن ورکول مشروع دي ﴿۲﴾ لهٰذا ددې د پاره جمع کیدلو کښې هیڅ خبره نشته دې، وهو الموفق

د جنازې مونځ نه پس سمدستی جنازه اوچتول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په بعضې ځایونو کښې داسې کیږی چه د جنازې د مونځ نه پس فوراً جنازه اوچتوی او بعضې خلق ددې مخالف جوړیږی ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نعمت الله بډهٔ بیر پشاور...۱۸ا مئ ۱۹۸۸ء

﴿۱﴾ قال العلامة حسن ابن عمار الشرنبلالی: ویستحب الاسراع بها لقوله ﷺ اسرعوا بالجنازة ای مادون الخبب کما فی روایة ابن مسعود: فان تک صالحة فخیر تقدمونها الیه وان تک غیر ذلک فشر تضعونه عن رقابکم و کذا یستحب الاسراع بتجهیزه کله. قال الطحطاوی: ای من حین موته فلو جهز المیت صبیحة یوم الجمعة یکره تاخیر الصلاة علیه لیصلی علیه الجمع العظیم بعد صلاة الجمعة ولو خافوا فوت الجمعة بسبب دفنه یؤخر الدفن. (الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۳۰۲ فصل فی حملها ودفنها)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وادرج فی خرقة ودفن ولم یصل علیه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۵ باب صلاة الجنائز)

الجواب: داد رائي اختلاف دي چه مذ موم نه دي، البته تشدد مذموم او قبيح دي، صرح به النووی فی شرح المسلم ﴿۱﴾ وهوالموفق

د دفن نه مخکښې د مړی د مخ نه کفن لرې کول چه خلق ئې زیارت اوکړي

سوال: علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د جنازې نه مخکښې تول خلق د مړی مخ کتلو د پاره جمع کيږی او د مړی د مخ نه کفن لری کړی چه ټول ئې زيارت اوکړی د شريعت په رنړا کښې دا کار جائز دې يا نا جائز دې؟ بينوا توجروا

المستفتی:غلام عزيرحاجی شاه مور کيمپلور............۱۸دسمبر ۱۹۷۴

الجواب: د مړی مخ کتلو کښې هيڅ ګناه نشته دې. (كما فى الهندية ۵:۳۸۷)ولا باس بان يرفع ستر الميت ليرى وجهه وانما يكره ذلك بعد الدفن كذا فى القنية ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال يحیٰ بن شرف النواوی:(قوله اسرعوا بالجنازة) فيه الامر بالاسراع للحكمة التى ذكرهاصلى الله عليه وسلم قال اصحابنا وغيرهم يستحب الاسراع بالمشى بها ما لم ينته الى حد يخاف انفجارها او نحوه وانما يستحب بشرط ان لا يخاف من شدته انفجارها او نحوه وحمل الجنازة فرض كفاية قال اصحابنا ولا يجوز حملها على الهيئة المزرية ولا هيئة يخاف معها سقوطها قالوا ولا يحملها الا الرجال وان كانت الميتة امرأة لانهم اقوى لذلك والنساء ضعيفات وربما انكشف من الحامل بعض بدنه وهذا الذى ذكرناه من استحباب الاسراع بالمشى بها وانه مراد الحديث هو الصواب الذى عليه جماهير العلماء ونقل القاضى عن بعضهم ان المراد الاسراع بتجهيزها اذا تحقق موتها وهذاقول باطل مردود بقولهﷺ فشرتضعونه عن رقابكم وجاء عن بعض السلف كراهة الاسراع وهو محمول على الاسراع المفرط الذى يخاف معه انفجارها وخروج شئ منها.

(شرح النو وى تحت الصحيح لمسلم ۱:۳۰۶ فصل فى الاسراع بالجنازة)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ۵: ۳۵۱ الباب السادس عشر فى زيارة القبور وقراة القرآن فى المقابر)

د تکفین نه پس د مړی مخ کتل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې مړې د تکفین نه پس کتل څنګه دي؟ د ابن ماجه په صفحه ۱۰۷ باندې روایت دې.

عن انس بن مالک لما قبض ابراهیم بن رسول الله ﷺ قال لهم النبی ﷺ لا تدرجوه فی اکفانه حتی انظر الیه فاتاه فانکب علیه وبکی،

په حدیث مذکور کښې د حتی انظر د قید نه بعد از تکفین مما نعت نه معلو میږي؟ بینوا توجروا

المستفتی:شفیع الله شید ونو شهره.... ۳۱۸۱۱۹۸۶

الجواب: بعد از تکفین مړی ته کتل جائز دی،

لهٰذا الحدیث﴿۱﴾ولما فی الهندیة ۵ : ۳۸۷ ولا بأس بان یرفع ستر المیت لیریٰ وجهه وانما یکره ذلک بعد الدفن کذا فی القنیة ﴿۲﴾. وهوالموفق

ملاحظه: هر امر مشروع امر مطلوب ګرځول د منکراتو نه دی **(۳)**

د مړی په اولنۍ شپه د قبر نه ګیر چاپیره اور بلول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی په اولنۍ شپه د قبرنه ګیر چاپیره زمونږ علاقه کښې اور بلولې کیږي. آیا دا جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: رحیم الله. . ۱۱۵۱۱۹۷۴

﴿۱﴾(سنن ابن ماجة ۱ :۱۰۷ باب ماجاء فی النظر الی المیت اذا ادرج فی اکفانه)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمګیریة ۵ : ۳۵۱ الباب السادس عشر فی زیارة القبور وقراة القرآن فی المقابر)

﴿۳﴾ قال الحصکفی: لان الجهلة یعتقدونها سنة او واجبة وکل مباح یودی الیه فمکروه، قال ابن عابدین الظاهر انها تحریمیة لانه یدخل فی الدین ما لیس منه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱ : ۵۷۷ مطلب فی سجدة الشکر)

الجواب: که دا اور بلول د یو موذی ښاور نه د بچاؤ د پاره وی نو جائز دی او که دین ئې ګڼړی او د اعتقاد ئې وی نو بدعت دې ﴿۱﴾وهوالموفق

د کفن نه مخکښې او روستو دواړو حالتونو کښې تعزیت جائز دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د تعزیت دعا د کفن دفن نه مخکښې جائز دی یا نه او که نه صرف د دفن نه روستو به تعزیت کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم......۳۱۴۱۱۹۷۴

الجواب: واضحه دې وی چه د مړی والا خوا ته تلل او دعا کول د تعزیت په طور سره هر وخت جائز دی. که د غسل نه مخکښې وی او که روستو وی. **لحدیث الترمذی و ابن ماجة من عزی مصابا فله مثل اجره﴿۲﴾ وفی روایة ما من مؤمن یعزی اخاه بمصیبة الا کساه الله من حلل الکرامة یوم القیٰمة (رواه ابن ماجه)﴿۳﴾ وفی ردالمحتار والتعزیة ان یقول اعظم الله اجرک واحسن عزاءک وغفر لمیتک (۱:۸۴۱) ﴿۴﴾. وفی الهندیة (۱:۱۷۷) ووقتها من حین یموت الی ثلثة ایام (الی ان قالوا) وهی بعدا لدفن اولیٰ منها قبله وهذا اذا لم یرمنهم جزع شدید فان رؤی ذلک قدمت التعزیة ﴿۵﴾. وهوالموفق**

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وایقاد النار علی القبور فمن رسوم الجاهلیة والباطل والغرور کذا فی المضمرات. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۶۷ قبیل الفصل السابع فی الشهید)

﴿۲﴾ اخرجه الترمذی باب ماجاء فی اجر من عزی مصابا (۱:۱۲۷) وابن ماجة باب ماجاء فی ثواب من عزی مصابا(۱:۱۱۶)

﴿۳﴾ (ابن ماجة ۱:۱۱۶ باب ماجاء فی ثواب من عزی مصابا)

﴿۴﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۲۶۳ مطلب فی الثواب علی المصیبة باب صلاة الجنائز)

﴿۵﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۶۷ ومما یتصل بذلک مسائل التعزیة)

د جُنبی مړی حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو سړی د خپلې ښځې سره صحبت اوکړو ليکن نه ئې تيمم اوکړو اونه ئې غسل اوکړو او په دې حالت کښې مړ شو دده شرعی حکم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد نثار محمد کوثر پړانګ چارسده......٥١٥١١٩٦٩

الجواب: جنابت نه د اسلام سره منافات لری او نه د تقوی سره لهذا دې سړی ته به د نورو مړو پشان غسل ورکولې کيږی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جمات په نسبت حجره کښې د تعزيت دپاره کيناستل بهتر دی.

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کلی کښې د محلې مشترکه حجره د غم ښادې د پاره موجود وی ليکن بعضې وختونو کښې هلته لوبې ټوقې او تماشې وغيره وی نو آيا په داسې حجره کښې د تعزيت دعا منعقد کول پکار دی يا په جمات کښې؟ بينوا توجروا

المستفتی: باچا استاد زيده صوابی.........۲۳١١٢١١٩٩٠

الجواب: دا دعا د جمات په نسبت سره يو قومی حجره کښې بهتره ده. د عوامو مکان او زمان هم جامع وی. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ويوضأ من يؤمر بالصلاة بلا مضمضة واستنشاق للحرج وقيل يفعلان بخرقة وعليه العمل اليوم ولو كان جنبا او حائضا او نفساء فعلا اتفاقا تتميما للطهارة كما فی امداد الفتاح . قال ابن عابدين: (قوله ولو كان جنبا) نقل ابو السعود عن شرح الكنز للشبلی ان ما ذكره الخلخالی ای فی شرح القدوری من ان الجنب يمضمض ويستنشق غريب مخالف لعامة الكتب. (الدر المختار مع هامش ردالمحتار ١: ٦٣٢ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ وفی الفتاوىٰ الهندية ولا بأس لاهل المصيبة ان يجلسوا فی البيت او فی مسجد ثلاثة ايام والناس يأتونهم ويعزونهم. (فتاوی عالمگيرية١ :١٦٧ ومما يتصل بذلك مسائل التعزية)

په دویم ځل جنازه او د غسل میت نه مخکښې د تعزیتی دعا حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی:

(۱) چه دلته آزاد کشمیر والا خلق دوه جنازې کوی یوه خپل وطن کښې او دویمه چه کوم ځائې مړی اوشی یعنی په دویم ملک کښې ددې څه حکم دې.

(۱) آیا د غسل نه مخکښې یا دجنازې نه مخکښې د تعزیت دعا مکروه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانافخرالدین بر منګهم انګلینډ ۱۵/۸/۱۹۷۲

الجواب: (۱) که اولنۍ جنازه د ولی (خوئ، پلار، روز وغیره) یا مسلمان بادشاه یا دقاضی په اجازت سره شوې وی نو په وطن کښې به ئې اعاده نه کیږی ګنی نو اعاده به ئې کیږی. (عالمګیری) ﴿۱﴾ (۲) تعزیت جائزدې ﴿۲﴾ اود دعا التزام کول ناجا ئز دی. ﴿۳﴾ وهوالموفق

په کفن باندې سیاهۍ یا خاورې سره مبارک کلمات لیکل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی په کفن باندې په سیاهۍ یا خاورې سره مبارک کلمات مثلاً کلمه طیبه، بسم الله او کلمه شهادت وغیره لیکل څنګه دي؟ دفقه حنفی په رڼرا کښې وضاحت مطلوب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ربانی جهنګ هزاره ... یکم جولائی ۱۹۷۵ء

﴿۱﴾ وفی الفتاویٰ الهندیة: ولو صلی علیه الولی وللمیت اولیاء اخر بمنزلته لیس لهم ان یعیدوا کذا فی الجوهرة النیرة. (فتاویٰ عالمګیریة ۱:۱۶۳ الفصل الخامس فی الصلاة علی المیت)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ووقتها (ای التعزیة) من حین یموت الی ثلاثة ایام ویکره بعدها.

(فتاویٰ عالمګیریة ۱:۱٦٧ قبیل الفصل السابع فی الشهید)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشئ دو شئ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.

(البحر الرائق ۲:۱۵۹ باب العیدین)

الجواب: صرف په گوته لیکل جائز دي.

کما فی ردالمختار ۱: ۸۴۷ نقل بعض المحشین عن فوائد الشرجی ان مما یکتب علی جبهة المیت بغیر مداد بالاصبع المسبحة بسم الله الخ﴿۱﴾

او په سیاهۍ سره لیکل جائز نه دی. په دې کښې بې احترامی او بې عزتی موجود ده البته که په خاورې سره اولیکلې شی او هغه خط وران شی نو په دیکښې هم څه حرج نشته. وهو الموفق

برزخی ژوند د ښځې دواده او میراث وغیره سره منافی نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو بنده کله د دنیا نه رخصت شی نو د عدت تیریدلو نه روستو ښځې ته اجازت دې چه دویم واده اوکړی لیکن څما دا عقیده ده المؤمنون لایموتون بل ینقلون من دارالفناء الی دارالبقاء او په قران که دی: ولا تقولوا لمن یقتل فی سبیل الله اموات.. الایة، نو که دوی ژوندې دې نو ښځو ته ئې د نکاح اجازت ولې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالمتین چمکنی میاں عمرصاحب پشاور. ۱۴۱۲۱۱۹۸۴

الجواب: د دُنیوی مرگ نه پس هر مړی ته برزخی ژوند ورکولې کیږی چه هغه د ښځې د واده او میراث وړلو سره منافی نه دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

غورزیدلې قبر په دویم ځل جوړول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که یو قبر غورزیدلې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱: ۶۶۹ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت)

﴿۲﴾ بخلاف الانبیاء لان حیاتهم البرزخیة حیاة قویة حتی لا یجوز نکاح ازواجه المطهرات باتحاد الامة وهذا السر البحر الزاقویة وکونها امهات المؤمنین وجه آخر لحرمة نکاحهن کما فی الاحزاب: ۲ وایضاً قال الله تعالیٰ ولا ان تنکحوا ازواجه من بعده ابدا (الاحزاب) (ازمرتب)

دې بیا د هغې په دویم ځل جوړول څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل منان

الجواب: جائز دي،

كما يشير اليه جواز التطين قال العلامة الشامى فى ردالمحتار ١: ٨٣٩ ذكر فى تجريد ابى الفضل ان تطين القبور مكروه والمختار انه لا يكره انتهى ﴿١﴾ قلت حديث اعلم بها قبر اخى الخ ﴿٢﴾ ايضا يقتضى جوازه كما يقتضى جواز الكتابة لاتحاد المقصد. وهوالموفق

مرزایان او شیعه ګان به د مسلمانانو په قبرستان کښې نشی دفن کولی

سوال: علمائي دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه (۱) یو مرزائی دمسلمانانو په قبرستان کښې دفن کړې شو. لس ورځې پس مسلمانانو احتجاج اوکړو چه دهغې په وجه مرزائی راویستلې شو اوپه دویم ځائې کښې دفن کړې شو آیا دا عمل صحیح دې؟ (۲) که واقعی مرزائیان مرتد او اقلیت دی نو په صحابه کرامو او خلفائي راشدینو کښې درې نه منل او کنځلو والا خلق مسلمانان دی یا کافران؟ او هغوی د مسلمانانو په قبرستان کښې دفن کول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملک سجاد احمد سکهر ...... ۲۷ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: مرزایان او شیعه ګان دضروریات دین نه د انکار په وجه کافران دی

﴿١﴾ (ردالمحتار ١: ٦٦٢ مطلب فى دفن الميت باب صلاة الجنائز)

﴿٢﴾ عن المطلب قال لما مات عثمان بن مظعون اخرج بجنازته فدفن فامر النبى ﷺ رجلاً ان يأتيه بحجر فلم يستطع حمله فقام اليها رسول الله ﷺ وحسر عن ذراعيه قال ... ثم حملها فوضعها عند رأسه وقال اعلم بها قبر اخى وادفن اليه من مات من اهلى.

(سنن ابى داؤد ٢: ١٠١ باب جمع الموتى فى قبر والقبر يعلم)

دوی به د مسلمانانو په قبرستان کښې نشی دفن کولې (هـا خوذاز عالمګیری ۱ ۱۵۹ ﴿۱﴾ وهو الموفق

د نا معلومه قاتل مقتول ته به غسل ورکولې کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی

(۱) چه یو سړې د خپل کور مخې ته مړکړې شو او قاتل ئې اوتښتیدلو د هغه پیژندګلو او نه شوه. ایا دې مقتول ته به غسل ورکولې کیږی. (۲) یو سړې به خپله بستره باندې مړ او موندلې شو چه اوکتلې شو هغه په تو پک مړ کړې شوې وو. اوس د قاتل پته نه لګی نو ایا دې مقتول ته به غسل ورکولې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی مولوی سید محمود شاه ګیلانی سخاکوټ ملاکنډ ایجنسي ۱۹ رجب ۱۴۰۳هـ

الجواب: ددې دواړو صورتونو کښې به غسل ورکولې کیږی

كما في شرح التنوير ويغسل من وجد قتيلا في مصر او قرية اى في موضع تجب فيه الدية ولم يعلم قاتله الخ (هامش ردالمحتار ۱ : ۸۵۱) ﴿۲﴾. وهو الموفق

په مړی باندې د آیة الکرسی او نورو آیاتونو نه د منقش څادر اچولو حکم

سوال علمائې کرام دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په بعضې څادرونو باندې آیة الکرسی وغیره قرانی کلمات لیکلې شوی وی او دجنازې د کټ دپاسه اچولې کیږی آیا دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی نورباد شاه خټک شکردره کوهاټ ۲۳ رمضان ۱۴۰۳

الجواب دکافی تلاش باوجود څه جزئیه ملاؤنه شوه البته د قواعدو په اعتبار

---

(۱) وفي الفتاوى الهندية: واختلف المشائخ في دفنهم قال بعضهم في مقابر المشركين وقال بعضهم في مقابر المسلمين وقال بعضهم يتخذلهم مقبرة على حدة كذا في المضمرات (فتاوى عالمگيريه ۱: ۱۵۹ الفصل الثاني في غسل الميت)

(۲) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱: ۶۷۱ باب الشهيد)

سره دا استعمال جائز دې. ځکه چه دیکښې څه توهین نشته. ﴿۱﴾

بخلاف ما اذا کتب القرآن علی الکفن او البساط فانهم صرحوا بعدم الجواز کما فی آخر الجنائز ردالمحتار وقبیل میاه ردالمحتار ﴿۲﴾. وهوالموفق

مړې لس لس قدمونه وړل او درې خلې کیښودل او اوچتول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق مړې د کورنه اوچت کړی او په لس لس قدمونو باندې ئې ږدی او بیا ئې اوچتوي، ددې طریقې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی غلام نبی کوهاټ..... ۲۱\۱ شعبان ۱۴۰۳ھ

﴿۱﴾ زمونږ په دې علاقو کښې عام طور سره د مړو دپاره مخصوص کټ استعمالیږی چه د هغې د پاسه د اوسپنې یا لرګی پنجره وی چه د هغې په وجې سره دا څادر د مړی د بدن نه اوچت وی که د مړی نه څه نا پاکه نرم رطوبت وغیره اوځی نو ددې مخصوص کټ په وجه د څادر د ګنده کیدلو خطره نه وي. دغه شان عوام د تبرک په طور سره او په حفاظت سره د مړی د پاسه اچوی د توهین په طور نه. بیا هم که د توهین ګمان چرته غالب وی یا خالص د مړی په بدن باندې بغیر د څه فاصلې نه کیښودلې شی او د ګنده کیدلو خطره ئې وی نو بیا به ددې نجاست او اهانت د ګمان په وجه اچول جائز نه وی.

قال العلامة ابن عابدین: وقد افتی ابن الصلاح بانه لا یجوز ان یکتب علی الکفن یٰسٓ والکهف ونحوهما خوفا من صدید المیت...... فالاسماء المعظمة باقیة علی حالها فلا یجوز تعریضها للنجاسة...... وما ذاک الا لاحترامه وخشیة وطئه ونحوه مما فیه اهانة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۹ قبیل باب الشهید) ......(ازمرتب)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: بساط او غیره کتب علیه الملک لله یکره بسطه واستعماله لا تعلیقه للزینة...... قلت وظاهره انتفاء الکراهة بمجرد تعظیمه وحفظه علق او لا زین به اولا.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۱۳۱ قبیل باب المیاه)

قال ابن عابدین: وقد افتی ابن الصلاح بانه لا یجوز ان یکتب علی الکفن یٰسٓ والکهف ونحوهما.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۸ مطلب فیما یکتب علی کفن المیت قبیل باب الشهید)

الجواب: مړي د څلورو طرفونو نه لس لس قدمونه وړل مستحب دی ﴿۱﴾ ليکن دا هيئت مذکوره (المسطورة فی الاستفتاء) ثابت نه دي. وهو الموفق

د څلويښتمې د رسم حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د څلويښتمې څه حکم دې؟ آيا دا رسم جائز دې؟ بيوا توجروا

المستفتی: احمد خان ګډوال راولپنډی....... ۱۹۱۱۲۱۱۹۸۳

الجواب: د څلويښتمې وغيره تخصيص احداث فی الدين او ممنوع دي. اګر چه صرف خيرات بهترين عبادت دې. ﴿۲﴾ وهو الموفق

مړی پسې د ختم کولو حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دريمه ورځ د مړی د

﴿۱﴾ قال العلامه الحصکفی: واذا حمل الجنازة وضع ندبا مقدمها علی يمينه عشر خطوات لحديث من حمل جنازة اربعين خطوة کفرت عنه اربعين کبيرة ثم وضع مؤخرها علی يمينه کذلک ثم مقدمها علی يساره ثم مؤخرها.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۵۷ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشئ دون شئ لم يکن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع.

(البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العيدين)

وقال ابن البزاز: ويکره اتخاذ الطعام فی اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعياد ونقل الطعام الی القبر فی المواسم الخ.

(فتاویٰ بزازية علی هامش الهندية ۴: ۸۱ قبيل حکم المسجد)

ایصال ثواب دپاره د قران شریف ختم کول او لوستل ددې شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجرو

المستفتی: حاجی احمد تونسه ډیره غازی خان

الجواب: ایصال ثواب حق دې خو دا رسم نا حق دې ﴿۱﴾ وهوالموفق

د عالم د پاره مړو ته غسل ورکول بطور پیشه مکروه دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د عالم دپاره مړو ته غسل ورکول جائز دی یا نا جائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ګل محمد لکی چشمه کوټته..... ۲۰شوال۱۴۰۴ھ

الجواب: دعالم دپاره مړو ته غسل ورکول مشروع دي ﴿۲﴾ البته دا بطور پیشه او ذریعه معاش جوړول مکروه دي ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن البزاز: ویکره اتخاذ الطلعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعیاد ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة بقراء ة القرآن وجمع الصلحاء والمقراء للختم او لقراء ة سورة الانعام او الاخلاص فالحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراء ة القرآن لاجل الاکل یکره. (فتاویٰ البزازیة علی هامش الهندیة ۴:۸۱ قبیل حکم المسجد)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: غسلُ المیت حق واجب علی الاحیاء بالسنة واجماع الامة کذا فی النهایة ولکن اذا قام به البعض سقط عن الباقین کذا فی الکافی.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۵۸ الفصل الثانی فی الغسل)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: والافضل ان یغسل المیت مجانا فان ابتغی الغاسل الاجر جاز ان کان ثمه غیره والا لا لتعینه علیه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۳ باب صلاة الجنازة) وقال العلامة ابن عابدین: انه ینبغی جریان هذا القید فی العبد والاعرابی (بقیه حاشیه په راروان مخ)

د مکې مکرمې نه راوړې شوې څادر مړی باندې خوروَل

سوال: علمائې کرام دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی د مکې معظمې نه راوړلې شوې څادر په مړی باندې اچولې کیږی لکه چه بعضې علاقو کښې ددې رواج دې آیا دا جائز دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: علی الرحمان مهمندی......یکم اپریل۱۹۷۵ء

الجواب: دا عوامی تبرک دې اسلامی تبرک نه دې. البته دا جذبه ښه جذبه ده. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) وولد الزنا ونازعه فی النهر بانه فی الهدایة علل الکراهة بغلبة الجهل فیهم وبان فی تقدیمهم تنفیر الجماعة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۴۱۴ قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام باب الامامة)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

فصل فی زیارة القبور وایصال الثواب وغیرها

بسم الله الرحمن الرحيم

عن النبي ﷺ: كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها فانها ترق القلب وتدمع العين وتذكر بالآخرة فزوروها ولا تقولوا هجرًا

....رواه البيهقي....

....

فصل فی زیارة القبور وایصال الثواب وغیرها

د روضه مطهره د زیارت او د زیارت القبور آداب او مستحبات

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اولیائې کرامو او نورو صالحینو مزارونو ته حاضر یدلو وخت کښې د کومو آدابو خیال ساتل پکار وی. دغه شان مزار باندې حاضری کولو وخت کښې ایصال ثواب دپاره مخ په قبله اود ریدل بهتر دی یا مخ قبر ته کول او اودریدل؟ خصوصاً سید نا محمد ﷺ په روضه اقدس باندې حاضری او سلام دعا لوستلو وخت کښې قبر شریف ته مخ کول ناسته یا ولاړه کومه طریقه اختیارول پکار دی؟ بینوا توجروا
المستفتی: عبدالعزیز چمکنی مسجد کلان میاں عمرصاحب ۱۴۱۳۱۱۹۲۹

الجواب: (۱) زیارت القبور د جمعې په ورځ د طلوع شمس نه مخکښې د طهارت په حالت کښې مستحب دې. اودا هم مستحب دی چه اول سلام او بیا ایصال ثواب اوکړي. دغه شان دا هم مستحب دی چه د خپو طرف نه مړی ته مخامخ دقیام په حالت کښې زیارت اوکړې. اوکیناستل هم جائزدی. اوداهم ضروری ده چه د سجدې، ښکلولو، طواف، لاسونو اوګوتو کیښودلو اوپه شا شا تللو نه اجتناب اوکړي

فی ردالمحتار ۱: ۸۴۳ بعد تفصیل ما "فتحصل ان یوم الجمعة افضل" وفیه ایضا بعد اسطر قال فی الفتح والسنة زیارتها قائماً والدعاء عندها قائما وفی شرح اللباب ثم من اداب الزیارة ما قالوا من انه یأتی الزائر من قبل رجلی المتوفی لا من قبل رأسه لانه اتعب لبصر المیت ومن ادابها ان یسلم بلفظ السلام علیکم ثم یدعو قائما وان جلس یجلس بعیداً او قریبا بحسب مرتبته فی حال حیاته انتهیٰ باختصار یسیر ﴿۱﴾ (وفی الطحطاوی ۲: ۳۷۶) قال

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۲۶۵ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنائز)

فی الاحیاء والمستحب فی زیارة القبور ان یقف مستدبر القبلة مستقبلا وجه المیت وان یسلم ولا یمسح القبر ولا یقبله ولا یمسه ،قال فی شرح المشکوٰة بعد کلام وحدیث فیه دلالة علی ان المستحب فی حال السلام علی المیت ان یکون لوجهه وان یستمر کذلک فی الدعاء ایضا وعلیه عمل عامة المسلمین انتهیٰ باختصار یسیر ﴿۱﴾ قلت (وما فی شرح الکبیر ۵۱۱) ویدعو قائما مستقبل القبلة ﴿۲﴾ فهذا معمول بعض المسلمین و کذا یرده ما سیاتی فی الفتح.

(۲) د پیغمبر علیه السلام روضه مطهره سره هم مخ په قبر او دریدل بهتر دي.

قال ابن الهمام فی الفتح ۳:۵۹ ثم یأتی القبر الشریف فیستقبل جداره ویستدبر القبلة وما عن ابی اللیث انه یقف مستقبل القبلة مردود بما روی ابو حنیفة فی مسنده عن ابن عمر رضی الله عنه قال من السنة ان تاتی قبر النبی صلی الله علیه وسلم من قبل القبلة وتجعل ظهرک الی القبلة وتستقبل القبر بوجهک ثم تقول السلام علیک ﴿۳﴾ (باختصار یسیر). وهو الموفق

په قبرستان کښې ددعا او سلام طریقه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې په قبرستان کښې یا د یو قبر خواته لاړ شی نو د سلام زیارت او دعا شرعی طریقه څه ده؟ او د دعا په وخت کښې لاس اوچتول ثابت دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: منصور احمد خان شیر شاه کالونی کراچی... ۲۵ جولائی ۱۹۸۹ء

الجواب: قبرستان ته چه لاړشې نو السلام علیکم یا اهل القبور الخ وئیل پکار دي. ﴿٤﴾ او د مړی نه مغرب طرف ته شه چه مړی ته دې مخ شی او قبلې ته دې

﴿۱﴾ (الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۶۲۱ فصل فی زیارة القبور)

﴿۲﴾ (غنیة المستملی ۵۲۰ فصل فی الجنائز الثامن فی مسائل متفرقة من الجنائز)

﴿۳﴾ (فتح القدیر شرح الهدایة ۳:۹۵ مسائل منثوره)

﴿۴﴾ قال الشرنبلالی: والسنة زیارتها قائما والدعاء عندها (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

شا شي. لاس اوچتول هم جائز دی. ؛قال فی شرح شرعة الا سلام قال فی الاحياء والمستحب فی زيارة القبور ان يقف مستدبر القبلة مستقبلا وجه الميت ۵۸۰﴿۱﴾

وهوالموفق

په مقبره کښې ايصال ثواب مسنون دې او تخصيص د سورت او شمار د التزام په وجه بدعت دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جنازې دمونځ نه پس امام صاحب خلقو ته اووائی چه اول آخر درود شريف او يوولس ځلې سورت اخلاص اولوئی او د مړی روح ته ئې ثواب اوبخښئ او دعا اوکړئ. آيا دا جائز دي؟بينواتوجرو

المستفتی: عبدالحميد کلاچی ډی آئی خان.....۱۲جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: که مقبره کښې دا تلاوت اوکړيشی او ټولو مړو ته ئې ايصال ثواب اوکړيشی نو مسنون دی.

لما فی الدرالمختار وفی الحديث من قرء الاخلاص احد عشر مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطی من الاجر بعد دالاموات انتهیٰ ﴿۲﴾ رواه العينی فی شرح البخاری

(بقيه حاشيه) قائما كما كان يفعل رسول الله ﷺ فی الخروج الی البقيع ويقول السلام عليكم دار قوم مؤمنين وانا ان شاء الله بكم لاحقون اسأل الله لی ولكم العافيه كذا فی الفتح. (امداد الفتاح شرح نور الايضاح ۶۴۳ فصل فی زيارة القبور)

وعن ابن عباس قال مر النبی ﷺ بقبور بالمدينة فاقبل عليهم بوجهه فقال السلام عليكم يا اهل القبور يغفر الله لنا ولكم انتم سلفنا ونحن بالاثر رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن غريب. (مشكوٰة المصابيح ۱:۱۵۴ باب زيارة القبور)

﴿۱﴾ (الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۶۲۱ فصل فی زيارة القبور)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۶۰ باب صلاة الجنائز)

من غیر نکیر ﴿۱﴾ او که مقبره نه وی نو ایصال ثواب اګرچه جائزدي لیکن تخصیص (د سورت او شمار) بلا دلیل دي. لهذا دالتزام په وجې سره به بدعت او ناجائز وی.

لما فی البحر ۲:۱۵۹ ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشیٔ دون شیٔ لم یکن مشروعاً حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع﴿۲﴾. وهوالموفق

مړی پسې د مختلفو خیراتونو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې بارهٔ کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې د مړی کیدلو په راتلونکی جمعرات (زیارت) باندې فقراؤ او مساکینو له دعوت کیږی چه د هغې نومْ کچه دعا ده بیا په څلویښتمه او کاِل باندې خیرات کوی اګر که د هغې د کولو دپاره زمکه او جائیداد ګانړه کول وی یا قرض اخستل وی ګنې نو د مړی وارثانو ته خلق کنجوس او مطعون وائی. په دې باره کښې د مړی د وصیت اعتبار نه کوی او نه د کونډو او یتیمانانو خیال ساتلې کیږي، په دې باره کښې شرعی حکم څه دې؟بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحمید امامْ مسجد سکنه کرني

الجواب: د مړی والو د طرفنه تصدق علی المساکین والطلبه هر وخت جائز دی. خو چه کله په مال کښې دغائب کس او یتیم شرکت نه وی یا مال د وصیت وي ﴿۳﴾....

﴿۱﴾ وفی مراقی الفلاح: وعن علی رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال من مر علی المقابر فقرء قل هو الله احد احدی عشرة مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطیٰ من الاجر بعدد الاموات رواه الدار قطنی (طحطاوی ۲۶۶) وایضاً اخرج ابو محمد السمرقندی فی فضائل قل هو الله احد عن علی مرفوعاً. (شرح الصدور للسیوطی ۱۳۰)

﴿۲﴾ (البحر الرائق ۲:۱۵۹ باب العیدین)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: بجواز تبرع الوارث باخراجها وعلیه فلا باس بادارة الولی للترکة لم ینبغی بعد تمام ذلک کله ان یتصدق علی (بقیه حاشیه په بله صفحه)

او میلمستیا او دعوتونه ورکول درې ورځو پورې ناجائزدي. ﴿۱﴾ او د رسم ورواج پابندی هروخت کښې ناجائزدی. (والتفصیل فی رد المحتار ۱ | ۸٤۲﴿۲﴾ والهندیة ۵: ۳۸۰ ﴿۳﴾ او په مسئوله صورت کښې مذکور امور په دریم قسم کښې دا خل دی لهذا ددینه اجتناب ضروری دې، وهو الموفق

د مړی د ایصال ثواب د پاره د جمعې د شپې او د څلویښتمې د خیرات حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی دایصال ثواب د پاره د جمعې د شپې خیرات کول او د څلو یښتمې وغیره څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: بسم الله شاه پشاور.....۱۲۷محرم ۱۴۰۱ھ

(بقیه حاشیه) الفقراء بشیئ من ذلک المال او بما اوصی به المیت ان کان اوصی. (ردالمحتار ۱: ۵۴۳ مطلب فی بطلان الوصیة بالختمات والتهالیل باب قضاء الفوائت)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثانی والثالث. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۶۳ باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی البزازیة ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الاخلاص والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لاجل الاکل یکره وفیها من کتاب الاستحسان وان اتخذ طعام للفقراء کان حسنا او اطال فی ذلک فی المعراج وقال وهذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لا یریدون بها وجه الله تعالیٰ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۳ مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت باب صلاة الجنازة)

﴿۳﴾ وفی فتاویٰ الهندیة: ولا یباح اتخاذ الضیافة ثلاثة ایام فی ایام المصیبة واذا اتخذ لا بأس بالاکل منه وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ذلک من الترکة کذا فی التتارخانیة. (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۴۴ الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات)

الجواب: تصدق (خيرات) او ايصال ثواب بذاتِ خود مشروع دي البته د خپل طرفنه د وخت او قسم وغيره تعين كول مكروه دي.

كما يدل عليه ما فى البحر ۲: ۱۵۹ ولان ذكر الله اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشيئ دون شيئ لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به ﴿۱﴾ وفى البزازية على هامش الهندية ۴: ۹۱ ويكره الطعام فى اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع الخ ﴿۲﴾.

خلاصه داچه خيرات په مسكينانو هر وخت جائز او د رسم رواج پابندى هر وخت ممنوع ده وهو الموفق

پنځه كسانو د پاره په ختم القرآن كښې بې ترتيبى كول په ثواب كښې مُخل نه ده

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه كه يو نابينا حافظ

﴿۱﴾ (البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العيدين)

﴿۲﴾ (البزازية على هامش الهندية ۴: ۸۱ قبيل باب فى حكم المسجد)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفى البزازية ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الى القبر فى المواسم واتخاذ الدعوة لقرأة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقرأة سورة الانعام او الاخلاص والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة القرآن لاجل الاكل يكره وفيها من كتاب الاستحسان وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا واطال فى ذلك فى المعراج وقال وهذه الافعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لانهم لا يريدون بها وجه الله تعالى. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۳ مطلب فى كراهة الضيافة من اهل الميت باب صلاة الجنازة)

﴿۴﴾ وفى فتاوى الهندية ولا يباح اتخاذ الضيافة ثلاثة ايام فى ايام المصيبة واذا اتخذ لابأس بالاكل منه وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا اذا كانت الورثة بالغين فان كان فى الورثة صغير لم يتخذوا ذلك من التركة كذا فى التتار خانية.

(فتاوى عالمگيرية ۵: ۳۴۴ الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات)

قرآن پنځه سرو دپاره ختم قرآن شروع کړی د یو کس دپاره ۲۶ سپارې پورې دویم دپاره اولنۍ نه تر ۲۷ پورې دریم او څلورم د پاره اول نه ۲۸ پورې پنځم دپاره ۲۹ سپارې پورې او لوستلو بیا د یو دپاره ختم مکمل کړی آیا ددې ترتیب په سقوط سره ثواب کښې څه نقصان راځی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: خلیل..۱۹ جمادی الاولی ۱۳۹۳هـ

الجواب: دا بې تر تیبی په ختم کښې خلل نه راولي. وهو الموفق.

د دفن کولو په وخت کښې کاڼړو باندې تبارک الذی وئیل او قبر ته غورزول او د جنازې نه مخکښې جانې نمازونه تقسیمول

سوال: علمائې دین دې مسئلو باره کښې څه فرمائی (۱) د مړی د فن کولو وخت کښې امامان حضرات په کاڼړو یا لوټو خاورو باندې تبارک الذی لولی او قبر کښې ئې غور زوی ددې څه اصل شته یا نه؟ (۲) د جنازې د مونځ نه مخکښې چه په علماؤ کښې کوم جائې نمازونه تقسیمولې شی اګرچه هغه خیرات کښې شامل کړی لیکن بیا هم ددې څه اصل شته یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم....

الجواب: (۱) هیڅ اصل نه لری (۱) بعضې علماء د عمل په طور سره بغیر د

---

(۱) د سورت ملک فضائل په احادیثو راغلی دی بالخصوص دهغې دلوستونکی د پاره د عذاب قبر د کموالی او ددې سورت شفاعت کونکی کیدل ثابت دی لیکن دا ثبوت د قاری دپاره دې دا نه چه څوک یې اولولی په خاوره ئې دم کړی او قبر کښې ئې او غورزوی که د عمل په طور سره اوکړشی او سنت ئې نه ګڼری او نه ئې لازم ګڼری نو نفس دا عمل به جائز وی او د سنت او التزام په صورت کښې به بدعت وی

قال العلامة عماد الدین فی فضائل سورة الملک: (۱) عن عباس الجشمی عن ابی هریرة عن رسول اللهﷺ قال ان سورة فی القرآن ثلاثین آیة شفعت لصاحبها حتی غفرله، تبارک الذی بیده الملک. (۲) عن انس قال قال رسول اللهﷺ سورة فی القرآن خاصمت عن صاحبها حتی ادخلته الجنة تبارک الذی بیده الملک. (۳) عن ابن عباس قال ضرب بعض اصحاب النبیﷺ خباله علی قبر وهو لا یحسب —— (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

سورتونه ذکر کړي دي چه فلانکي آيت اولولئ په جنازه ئې دم کړئ او قبر
کښې غوررول د عذاب کموالي باعث دې (۱) (۲)، که د علماؤ او امامانو
تعظيم مقصود وي نو د ثواب کار دې او که د رسم پابندي ئې مقصود وي نو
مال ضائع کول دي وهو الموفق

مړي د جمعې د پاره کور کښې کېښودل، مړي پسې
خيرات کول، دعا بعد الجنازه، دائره اسقاط وغيره

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه: (۱) مړې د جمعې د پاره
کور کښې کېښودل (۲) د مرګ نه پس درېم ورځو کښې دتنه دتنه خيرات نه
کول (۳) د مړي د جنازې نه پس دعا نه کول (۴) د جنازې نه پس دائره نه چوړول
(۵) د يو ولسمې خيرات نه کول (۶) اولياء الله پخپله بې بسه دي (۷) په ختم
قرآن باندې خوراک نه خوړل (۸) د سنت مونځ نه پس دعا نه کول؟ بينوا توجروا
المستفتي واحد ګل، توري خان نيو ګرين مارکيټ پشاور. ۱۱/۴/۱۹۷۲

الجواب: (۱) که د جمعې د مونځ نه مخکښې ئې کفن دفن کيديشي نو تاخير
ئې ګناه ده (۲) (۲) تصدق على المساكين په هروخت کښې ائزدې او رسم و
رواج يعنې د خپل عزت باقي ساتلو او شرم لرې کولو د پاره هر وخت مکروه

(بقيه حاشيه) الى قبر، فاذا قبر انسان يقرأ سورة الملك تبارك حتى ختمها فقال رسول الله ﷺ هي المانعة هي المنجية تنجيه من عذاب القبر. (۳) عن ابن عباس انه قال لرجل: الا اتحفك بحديث تفرح به؟ قال: بلى، قال اقرأ تبارك الذى بيده الملك وعلمها اهلك وجميع ولدك وصبيان بيتك وجيرانك، فانها المنجية والمجادلة تجادل او تخاصم يوم القيامة عند ربها لقارئها، وتطلب له ان ينجيه من عذاب النار وينجى بها صاحبها من عذاب القبر، قال رسول الله ﷺ لوددت انها فى قلب كل انسان من امتى. (تفسير ابن كثير ۴: ۵۰۷ تفسير سورة الملك)

(۱) قال العلامة السيد احمد الطحطاوى: وفى كتاب النورين من اخذ من تراب القبر بيده وقرأ عليه سورة القدر سبعاً وتركه فى القبر لم يعذب صاحب القبر ذكره السيد (حاشية الطحطاوى على المراقى ۳۳۵ فصل فى حملها ودفنها)

(۲) قال العلامة الحصكفى: وكره تاخير صلاته ودفنه ليصلى عليه جمع عظيم بعد صلاة الجمعة. (الدر المختار على هامش رد المحتار ۱: ۶۵۷ باب صلاة الجنائز)

دې او میلستیا درې ورځو پورې ناجائز ده ﴿۱﴾ شامي (۳) د کسر الصفوف نه پس دعا کولو کښې هیڅ حرج نشته البته نه کول بهتر دي. ﴿۲﴾ (خلاصة الجزئيات) (۴) دائره کول جائزدی خوچه د شرطونو خیال ساتلې شوې وی کنې نو د اسقاط د ذمې د پاره بې سوده دی (خلاصة الجزئيات) ﴿۵﴾ یوولسمه شریف بدعت دې (۲) کرامت بعد الممات حق دې ﴿٤﴾ لیکن الله (ج) چاته د حاجت پوره کولو منصب نه دې حواله کړې.

(۷) اعزازی طورسره جائزدی دغه شان دخیرات اوښه سلوک په طریقې سره هم

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفى البزازية ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الى القبر فى المواسم واتخاذ الدعوة لقرأة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقرأة سورة الانعام او الاخلاص والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قرأة لاجل الاكل يكره وفيها من كتاب الاستحسان وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۴ مطلب فى كراهة الضيافة من اهل الميت)

﴿۲﴾ قال ابن نجيم: وعن الفضلى لا بأس به.

(البحر الرائق ۲: ۱۸۳ فصل السلطان احق بصلاته كتاب الجنائز)

﴿۳﴾ قال ابن نجيم: ولان ذكر الله تعالىٰ اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشيئ دون شيئ لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع.

(البحر الرائق صٓ ۲:۱۵۹ باب العيدين).

﴿۴﴾ اما مذهب اهل الحق انه تبقى الكرامة بعد الموت كما ان النبوة لا تنقطع بالموت وكما ان ايمان المومن لا ينقطع بالموت ، قال الشيخ عبد الغنى النابلسى فى حاشية الحديقة الندية على الطريقة المحمديه ۱:۲۹۲ كرامة الولى لا تنقطع بالموت، وفى سنن ابى داؤد ۱:۳۳۹ باب مايرى من النور عند قبر الشهيد عن عائشة كنا نتحدث انه لا يزال نور عند قبر النجاشى (هذا ليس الا كرامة بعد الموت، وقال الآلوسى فى تفسير النازعات ۲۸:۱۰۸ ان الله قد يكرم من شاء من اوليائه بعد الموت كما يكرمه قبل الموت بما شاء، وايضا ذكر فى المشكوٰة فى باب فضائل القرآن تلاوة سورة الملك من قبر وسماع صحابى فافهم (از مرتب)

جائز دی البته د اجرت په طور پکښې اختلاف دې (۱) (۸) په هیئت اجتماعی سره دعا کول د پیغمبر ﷺ معمول نه وو نه د فرضو نه روستو او نه د سنتو نه پس البته د حدیث قولی نه د دواړو جواز معلومیږی او د جمهورو احنافو په نزد بهتر دادې چه د سنتو نه پس اوکړیشي. د بعضې احنافو (امام بقالي) په نزد بهتر دادی چه فرضو پسې متصل اوکړیشی والامر اوسع.وهو الموفق

د اولیاء په قبروتنو باندې گنبد او چا ر دیواری جوړول

سوال: علما ئې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د اولیاء الله په قبروتو باندې چار دیواری یا گنبد جوړول ثواب دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل مست خان سرحد ټکسټائل ملز پشاور

الجواب: گنبد جوړول د-حدیث اوفقهې د تصریح مطابق ناجائز دې. (۲، ۳) او چاردیواری د حفاظت د ضرورت په وخت کښې جائز ده. (٤)گنې فضول خرچی او ناجائز ده. وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: قال تاج الشريعة فى شرح الهداية ان القرآن بالاجرة لا يستحق الثواب لا للميت ولا للقارى وقال العينى فى شرح الهداية ويمنع القارى للدنيا والآخذ والمعطى آثمان فالحاصل ان ماشاع فى زماننا من قرأة الاجزاء بالاجرة لا يجوز...... فاذا لم يكن للقارى ثواب لعدم النية الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجر . (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٥: ٣٩ مطلب تحرير مهم فى عدم جواز الاستيجار على التلاوة كتاب الاجارة)

(۲) وعن جابر قال نهىٰ رسول الله ﷺ ان يجصص القبر وان يبنىٰ عليه وان يقعد عليه رواه مسلم. (مشكواة المصابيح ١: ١٤٨ باب دفن الميت)

(۳) وفى فتاوىٰ الهندية : ويكره ان يبنى على القبر مسجد او غيره كذا فى السراج الوهاج. (فتاوىٰ عالمگيرية ١: ١٦٦ الفصل السادس فى القبر والدفن)

(٤) قال الشرنبلالى: وكره وضع الآجر...... والخشب...... لان......(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مړی سره قبل الدفن تلاوت کول او په قرانی ایتونو باندې منقش څادر په کټ خورول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه : (۱) قبل الدفن د مړی په خوا کښې یعنی کټ سره نزدې دقرآن تلاوت جائزدې یانه؟(۲) نن صبا د سړوپه دجنازې په کټ باندې داسې څادر اچولې شوې وی چه په هغې آیة الکرسی او نور ایتونه لیکلې شوې وی.نود مړی په جنازه باندې دا څادر اچول مستحب دی یا مکروه یا صرف جوازدې؟دچا نه مې دا هم اوریدلې دی چه په مجموعة الفتاوی کښې ددې اجازت ورکړې شوې دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:نورالهادی مردان....۱۲۲شوال ۱۳۹۹ھ

الجواب: (۱) د قولِ راجح په بنیاد سره مړې بې اودسه دې پلیت نه دې لهذا د هغه په خواکښې د قرآن تلاوت هر حالت کښې جائز دې. ﴿۱﴾ (والتفصیل فی رد المحتار (۱\۷۹۹) (۲) د قواعدو په رڼړا کښې جائز دې. ﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) الکراهة لکونهما للاحکام والزینة ولذا قال بعض مشایخنا انما یکره الآجر اذا ارید به الزینة اما اذا ارید به دفع اذی السباع او شیئ آخر لا یکره.
(مراقی الفلاح شرح نور الایضاح ۶۱۰ فصل فی حملها ودفنها)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: تکره القراة عنده حتی یغسل ...... لتجنسه بالموت قیل نجاسة خبث وقیل حدث وعلیه فینبغی جوازها کقراء ة المحدث، قال ابن عابدین: فانه اذاجاز للمحدث حدثا اصغر القراء ة فجوازها عند المیت المحدث بالاولیٰ.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱:۶۳۰ مطلب فی القراء ة عند المیت)

(۲) دا څادر د تبرک په طورسره مړی باندې جنګلې وغیره د پاسه اچولې شی چه په هغې کښې د اهانت هیڅ صورت هم په نظر نه راځی

بخلاف ما اذا کتب القرآن علی الکفن او البساط فانهم صرحوا بعدم الجواز کما فی آخر الجنائز وقبیل باب المیاه قال الحصکفی: قلت وظاهره انتفاء الکراهة بمجرد تعظیمه وحفظه (الدرالمختار ۱:۱۲۰)

او که د نجاست او اهانت څه ګمان موجود وی د بې ادبۍ ... باقي حاشیه په راتلونکې صفحه

د غسل نه مخکښې د مړی په څوا کښې تلاوت
او د هغه په حق کښې دعا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق دلته وائی چه د غسل نه مخکښې د مړی خواکښې تلاوت قران صحیح نه دې او دهغه دپاره دعا هم صحیح نه ده برائې مهربانی بنده د پاره وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانا فخر الدین ابن شیخ الحدیث حضرت مولانا نصیرالدین غورغشتوی رحمه الله بر منګهم انګلینډ ۱۹۹۰،۱۳۱۱۰۱

الجواب: دفقهائې کرامو دیکښې اختلاف دې چه دمړی په خوا کښې مخکښې د غسل نه دقران پاک لوستل جائز دی یا نه؟ لیکن تحقیق پکښې د جواز دې، لان سبب الغسل ان الموت حدث(۱) او دعا قبل الغسل هیڅ یو فقیه نه ده منع کړې، وهو الموفق

[بقیه حاشیه]..او د مړی نه په وتونکی ګند ګئ سره د ګنده کیدلو خطره وی نو بیا ترې نه احتراز لازمی دې.

قال ابن عابدین: وتكره كتابة القرآن...... على الدراهم والمحاريب...... وقال ما ذاك الا لاحترامه وخشية وطئه ونحوه مما فيه اهانة. (ردالمحتار ١: ٢٠٧) (ازمرتب)

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قول وقيل حدث) يويده ما ذكره في البحر من كتاب الطهارة ان الاصح كون غسالته مستعملة وان محمداً اطلق نجاستها لانها لا تخلو من النجاسة غالباً قلت لكن ينافيه ما مر من الفروع الا ان يقال ببنائها على قول العامة قال في فتح القدير وقد روى في حديث ابي هريرة سبحان الله ان المؤمن لا ينجس حيا ولا ميتا فان صحت وجب ترجيح انه للحدث، وقال في الحلية وقد اخرج الحاكم عن ابن عباس رضى الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ لا تنجسوا موتاكم فان المسلم لا ينجس حيا ولا ميتا وقال صحيح على شرط البخاري ومسلم فيترجح القول بانه حدث.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ١: ٦٣٠ مطلب في القرأة عند الميت)

د چهارشنبې یا زیارت په ورځ دفن شوې

قبر باندې جمعې پورې د پهرې ورکولو رسم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې چه کله څوک مړې د بدهـ یا جمعرات یاد زیارت په ورځ دفن کړیشی نود جمعې د ماښام پورې هغې باندې د دوه کسانو پهره مقرر کړیشی په دې غرض چه ددې مړی نه په قبر تپوس اونکړیشی آیادا واقعی او ثابته خبره ده چه د جمعې په ورځ دمړې نه تپوسونه نه کیږی اوکه بالفرض دا صحیح وی نو د بدهـ یاجمعرات مړې جمعې پورې دفن کولو کښې څه فائده شته یانه؟ بښیو اتوجروا

المستفتی: رحیم الله چنګلئې بونیر سوات.......... ۱۷\۱۲\۱۹۸۵

الجواب: د عوامو دا عقیده چه د خلقو په موجودګئ کښې سوال جواب نه کیږی غلطه عقیده ده او د ابوداؤد د حدیث نه مخالف ده.

وهو ما نصه کان رسول الله ﷺ اذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال استغفروا لاخيكم واسالوا له بالتثبيت فانه الآن يسئل ﴿۱﴾ انتهیٰ قلت وحديث وانه ليسمع قرع النعال اتاه ملكان ﴿۲﴾ محمول على ما ذا رجعوا بعد الدفن فوراً ﴿۳﴾.

دغه شان د عوامو دا عقیده چه د جمعرات پورې دفن کولو کښې تاخیر کول د تخفیف باعث دی په حدیث کښې دا صفت دهغه چا دپاره دې چه جمعرات یا جمعې ته مړشی ﴿٤﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (سنن ابی داؤد ۲: ۱۰۳ باب الاستغفار عند القبر للميت فی وقت الانصراف)

﴿۲﴾ (صحيح البخاری ۱: ۱۷۸ باپ الميت يسمع خفق النعال كتاب الجنائز)

﴿۳﴾ قال الملا علی قاری: (قوله اذا وضع فی قبره وتولی) ای ادبروا عرض عنه اصحابه ای عن قبره والعبرة بالاكثر او عن وضعه ... اتاه ملكان ای قبل ان يمضی زمان طويل الخ (مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ۱: ۳۳۹ باب اثبات عذاب القبر)

﴿۴﴾ عن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله ﷺ ما من مسلم يموت يوم الجمعة او ليلة الجمعة الاوقاه الله فتنة القبر رواه احمد والترمذی وقال هذا ... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مړی ځاته په خوب کښې د قبر بدلولو حکم کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه یو دیندار سړې مړشوې ددفن کولو نه یوه میاشت پس د هغه خوئې او یو بل سړې په خوب کښې اولیده چه هغه وائې چه څه کوم ځائې کښې دفن کړې شوې یم دلته څه خوشحاله نه یم دلته نه مې اوباسئ بل ځائې کښې مې دفن کړئ آیا دا حکم منل جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی غلام جبیب نواب کلی مهمند ایجنسی...... ۲۵رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: د شرالقرون خوبونه د خیرالقرون په خوبونو باندې قیاس کول امر منکر دې. ﴿۱﴾ ددې خوبونو په وجه دا مړې ویستل ممنوع دې. فقهائې کرامو چه د کومو وجوهاتو په بناء باندې ویستل جائز وئیلې دی نو په دې صورت کښې دهغې وجوهاتو نه یوه وجه هم موجود نه ده. بلکه په دې کښې د مړی توهین موجود دې. ﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) حدیث غریب ولیس اسناده بمتصل، وفی المنهاج لکن له شواهد اخرجه ابو یعلی والبیهقی وغیره.

(منهاج السنن شرح سنن ترمذی ۴: ۲۴۰ باب ماجاء فی من یموت یوم الجمعة)

﴿۱﴾ وفی هدایة القاری: ما یسمعه الراء ی لا یکون حجة لاحتمال الاختلاط من الشیطان بصوته ولان النوم حالة الغفلة ولانه لیس بارفع من الکشف فی حالة الیقظة.

(هدایة القاری شرح صحیح البخاری ۱: ۱۹۶ باب اثم من کذب علی النبی ﷺ)

﴿۲﴾ قال العلامة شرنبلالی: ولا یجوز ای المیت نقله بعد دفنه بان اهیل علیه التراب واما قبله فیخرج بالاجماع ای باجماع ائمتنا طالت مدة دفنه او قصرت للنهی عن نبشه والنبش حرام حقا لله تعالیٰ الا ان تکون الارض مغصوبة...... او اخذت بالشفعة...... وینبش القبر لمتاع کثوب ودرهم سقط فیه وقیل لا ینبش بل یحفر من جهة المتاع...... ولا ینبش بوضعه لغیر القبلة او علی یساره او جعل رأسه موضع رجلیه.

(امداد الفتاح شرح نورالایضاح ۱ ۶۴ فصل فی حملها ودفنها)

د يو قبر نه بل ته شعله اوچتيدل

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه اکثر دا وينو چه د يو قبر نه بل قبر ته يو شعله شان اوچتيږي او په بل قبر باندې غائبه شي، ددې متعلق شرعي حکم څه دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: شهاب الدين اکوړوی نوشهره... ۱۶/۹/۱۹۸۹

الجواب: دا کله روح وی او کله نيک عمل وي، وهو الموفق

دنابالغه بچو نه د نکير منکر سوال او جواب

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه کوم نابالغه ماشومان مړه شي او په هغوی باندې جنازه اوکړې شي او کفن دفن کړې شي نو آيا دهغوې نه نکير منکير سوال کوی او دوی ته راځي؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاسم شاه کيران اټک ۴/۷/۱۹۸۵

﴿۱﴾ واخرج ابن منده وابو احمد والحاكم فى الكنى بسند ضعيف على طلحة بن عبيد الله قال اردت مالى بالغابة فادركنى الليل فاويت الى قبر عبد الله بن عمرو بن حزام فسمعت قراءة من القبر ما سمعت احسن منها فجئت الى رسول الله ﷺ فذكرت ذلک له فقال ذلک عبد الله الم تعلم ان الله قبض ارواحهم فجعلها فى قناديل من زبرجد وياقوت ثم علقها وسط الجنة فاذا كان الليل ردت اليهم ارواحهم فلا تزال كذلک حتى اذا طلع الفجر ردت ارواحهم الىٰ مكانها الذى كانت فيه انتهىٰ، ففى هذا الحديث بيان سرعة انتقال ارواحهم من العرش الى الثرىٰ ثم انتقالها من الثرى الى مكانها ولهذا قال مالک وغيره من الائمة ان الروح مرسلة تذهب حيث شاءت وما يراه الناس من ارواح الموتىٰ ومجيئهم اليهم من المكان البعيد امر يعلمه عامة الناس ولا يشكون فيه.

(كتاب الروح لابن القيم ۱۳۵ المسألة الخامسة عشر ومثله فى شرح الصدور ۹۰م)

وعن عائشة رضى الله عنها قالت لما مات النجاشى كنا نتحدث انه لا يزال يرى على قبره نور. (سنن ابى داؤد ۱: ۳۳۹ باب فى النور يرى عند قبر الشهيد)

الجواب د نابالغه ماشومانو نه د منکر نکیر سوال او جواب کښې اختلاف دې بعضې ئې ثابتوی او بعضې ئې نفی کوی

والوجه فيه عدم النص فمن نظر الى عموم الحديث قال بسوال الصبيان ومن نظر الى عدم كونه مكلف الكر عليه والتفصيل فى ردالمحتار ١:٦٩٧ فليراجع ﴿١﴾. وهوالموفق

دقبر خاوره تبرکا یا علاجاً خوړل یو منکر کاردې

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه بعضې خلق د مزارونو د قبرونو نه خاورې راوړی پخپله ئې هم خوری او په نورو ئې هم بطور تبرک خوروي، بعضې خلق خو چه څوک مړ شی او د په مرګ څوک ډیر زیات خفه وی نو هغه باندې دهغه مړی د قبرخاوره خوړلې کیږی چه زړه ئې صبرشی آیا

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ومن لا يسئل) اشار الى ان سوال القبر لا يكون لكل احد ويخالفه ما فى السراج كل ذى روح من بنى آدم يسئل فى القبر باجماع اهل السنة لكن يلقن الرضيع الملك وقيل لا بل يلهمه الله تعالىٰ كما الهم عيسى فى المهد، لكن فى حكاية الاجماع نظر فقد ذكر الحافظ ابن عبد البر ان الآثار دلت على انه لا يكون الا لمؤمن او منافق ممن كان منسوبا الى اهل القبلة بظاهر الشهادة دون الكافر الجاحد وتعقبه ابن القيم لكن رد عليه الحافظ السيوطى وقال ما قاله ابن عبد البر هو الارجح ولا اقول سواه ونقل العلقمى فى شرحه على الجامع الصغير ان الراجح ايضا اختصاص السوال بهذه الامة خلافا لما استظهره ابن القيم ونقل ايضا عن الحافظ ابن حجر العسقلانى ان الذى يظهر اختصاص السؤال بالمكلف وقال وتبعه عليه شيخنا يعنى الحافظ السيوطى ثم ذكر ان من لا يسئل ثمانية الشهيد والمرابط والمطعون والميت زمن الطاعون بغيره اذا كان صابرا محتسبا والصديق والاطفال والميت يوم الجمعة او ليلتها والقارئ كل ليلة تبارك الملك وبعضهم ضم اليها السجدة والقارئ فى مرض موته قل هو الله احد، واشار الشارح الى انه يزاد الانبياء عليهم الصلاة والسلام لانهم اولى من الصديقين.

(ردالمحتار ١: ٦٢٩ مطلب ثمانية لا يسئلون فى قبورهم باب صلاة الجنائز)

دا دواړه طریقې شرعاً صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالله مرید حسن راولپنډی..... ۲۴\۳\۱۹۷۰

الجواب: واضحه دې وی چه د حدیثی روایتونو نه د تبرک باثارالصالحین جواز د رنړا ورځ پشان ثابت دې لیکن په دې تبرکاتو کښې په ددې خبرې خیال ساتلې کیږی چه په خیرالقرون کښې ددې څه نظیر بلا نکیر ثابت دې یا د شر القرون عوامو په خپل خواهش سره دا جوړکړې دې نو. اولنې صورت به مشروع وی او دویم به غیر مشروع وی او خاوره خوړل اګر چه پخپله هم مکروه دی

لما فی الهندیة ۵ :۳۷۷ اکل الطین مکروه هکذا ذکر فی فتاویٰ ابی اللیث ﴿۲﴾

لیکن دا تبرکاً خوړل یا علاجًا خوړل په خیرالقرون کښې غیر ثابت دې، لهذا دا تبرک او علاج یو امرِمنکر دې، دا په حکمت سره بندول په هر مسلمان باندې ضروری دي. فقط. وهوالموفق.

د ښځو د پاره د خارجی مصلحتونو په بنا زیارة القبور ممنوع دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د ښځو د پاره د زیارة القبور څه حکم دې؟ او په مقبره کښې ددغې زیارتونو په خوا کښې ددعا څه حکم دې؟ شرعی حکم راته اوښایئ؟ بینوا توجروا

المستفتی منصف شاه ګدر مردان..... ۱۵رجب ۱۴۰۱ھ

الجواب: په اصل مذهب کښې زیارة القبور د ښځو د پاره مسنون دي لحدیث الا فزوروها ﴿۳﴾...

﴿۱﴾ وعن اسماء بنت ابی بکر انها اخرجت جبة طیالسة کسر والیة لها لبنة دیباج وفرجیها مکفوفین بالدیباج وقالت هذه جبة رسول الله ﷺ کانت عند عائشة فلما قبضت قبضتها وکان النبی ﷺ یلبسها فنحن نغسلها نستشفی بها رواه مسلم.
(مشکواة المصابیح ۱: ۳۷۴ کتاب اللباس)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۴۰ الباب الحادی عشر فی الکراهة فی الاکل وما یتصل به)

﴿۳﴾ عن بریدة قال قال رسول الله ﷺ نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها ..... رواه مسلم،
وعن ابن مسعود ان رسول الله ﷺ قال کنت نهیتکم عن ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

البته د خارجی مصلحتونو په بنا ممنوع دي ونظیره حضورهن المساجد(۱) واضحه دي وی اهل القبور حاجت رواه او مشکل کشا منل شرک دي او د هغوی په توسل سره دعا غوښتل جائز دی. (۲) وهوالموفق

په مزارونو باندې د بعضې عوامی کارونو شرعی وضاحت.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمانی چې زمونږ خانې کښې یو مزار دې په هغې باندې بعضې خلق اعتراض کوی چه تاسو کومه شکرانه اخلئ

اود ښځو دپاره مفتی به قول مطابق ممنوع دي﴿۱﴾ (۲) داولیاء الله د قبرونو نه حاجتونه غوښتل شرکیاتو کښې دی او توسل بالصالحین (چه یا الله خما دا حاجت ددې ولی په حرمت او طفیل سره پوره کړې) جائزدې ﴿۲﴾ ددینه منکرین سلفیان او وهابیان دی (۳) زیارت ته راتلونکی د مول جائزدی لیکن په هغوی باندې جارو وهل خودساخته عوامی تبرک دې ﴿۳﴾ (۴) منجورانو ته د اعزازیا تعاون په ارادې سره شکرانه ورکرول منع نه دی البته د اولیاء په نوم نذر او منختې کول او دهغوی د خوشحالئ او نزدیکت دپاره ځه ورکول شرکیات دی ﴿٤﴾

(بقیه حاشیه) کما فی البحر عن المجتبی فکان ینبغی التصریح به للامر بها فی الحدیث المذکور کما فی الامداد وتزار فی کل اسبوع کما فی مختارات النوازل قال فی شرح لباب المناسک الا ان الافضل یوم الجمعة والسبت والاثنین والخمیس فقد قال محمد بن واسع الموتی یعلمون بزوارهم یوم الجمعة ویوماً قبله ویوم بعده فتحصل ان یوم الجمعة افضل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :٦٦٥ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنازة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقیل تحرم علیهن والاصح ان الرخصة ثابتة لهن بحر وجزم فی شرح المنیة بالکراهة لما مر فی اتباعهن الجنازة وقال الخیر الرملی ان کان ذلک لتجدید الحزن والبکاء والندب علی ما جرت به عادتهن فلا تجوز وعلیه حمل الحدیث لعن الله زائرات القبور وان کان للاعتبار والترحم من غیر بکاء.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :٦٦٥ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنازة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقال السبکی یحسن التوسل بالنبی الی ربه ولم ینکره احد من السلف ولا الخلف الا ابن تیمیة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٥: ۲۸۱ فصل فی البیع)

﴿۳﴾ عن انس قال رخص رسول الله ﷺ فی الرقیة من العین والحمة والنملة رواه مسلم وعن عوف بن مالک الاشجعی قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یا رسول الله کیف تری فی ذلک فقال اعرضوا علی رقاکم لاباس بالرقی ما لم یکن فیه شرک رواه مسلم

(مشکوٰة المصابیح ۲: ۳۸۸ کتاب الطب والرقی)

﴿٤﴾ قال العلامة الحصکفی: واعلم ان النذر الذی یقع (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

۵ کومه شکرانه چه په قبر کینبودې شی هغه دمالک د ملکیت نه نه اوځی او چه کومه شکرانه د صندوق یا څادر په ذریعې یا لاس په لاس ملاؤ شی هغه د مالک د ملکیت نه اوځی (۲) نمبر خرڅول یا ګانړه کول وغیره باطل او کالعدم کارونه دی (لان استحقاق الهدایا لیس بمال ولا بحق واجب فلایجری فیه البیع ولا الرهن ولا النزول عن الحق بعوض. وهوالموفق

د اصحاب کهف سپې ته ایصال ثواب

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې خلق د اصحاب کهف د سپی د ایصال ثواب دپاره صدقه او خیرات کوی آیا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالرحمن شهاب خیل لکی مروت

الجواب سپو ته ایصال ثواب کول بې وقوفانه او جاهلانه کار دې (لعدم احتیاج الکلب الی الثواب. وهوالموفق

د دریاب وړلو په وجه د قبرونو منتقل کول

سوال علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په یو قبر باندې څلور کاله تیر شوی دي. او دا په داسې ځائې کښې دې چه د دریاب وړلو سخته خطره ده نو داهل قرابت په خواهش ایا دا قبر کهلاؤ کولې او دا ډانچه محفوظ ځائې ته منتقل کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی میجر محمد اسلم پشاور کینټ ... ۲۱۱۱۱۹۷۵

(بقیه حاشیه) للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع الزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام (قوله باطل وحرام) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۳۹ مطلب فی النذر الذی یقع للاموات قبیل باب الاعتکاف)

الجواب: که ددریاب ورلو یقین یا غالب گمان وی نو د هغې منتقل کول به ناجائز نه وی.

یدل علیه ما فی شرح الصدور ۱۳۲ اخرج مالک ان عمروبن الجموح وعبد الله بن عمرو الانصاریین حفر قبرهما لیغیرا من مکانهما لان السیل حفر قبرهما واخرج البیهقی ان معاویة لما اراد ان یجری کظامة نادیٰ من کان له قتیل باحد فلیشهد فخرج الناس الی قتلاهم فوجدوهم رطابا، واخرج ابن ابی شیبة فی المصنف لما صرف معاویة عینه التی تمر علی قبور الشهداء فاجریت علیهما یعنی علی قبر عبد الله بن عمروبن حرام وعمروبن الجموح فاخرجناهما الخ﴿۱﴾ قلت فلعل مراد الفقهاء من کراهیة الاخراج هو فی غیر محل الضرورة هذا ما عندی ولعل عند غیری احسن منه. وهو الموفق

د بدعاتو او رسوماتو په وجه قبرونه ورانول جائز نه دی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د جمات سره متصل درې سوه کاله پخوانې دیو ولی قبر دې په هغې باندې سړی او ښځې نذر او منخې ږدی اودا عقیده ساتی چه باران کیدل اوږلئ اودریدل هم ددې قبرو جه ده د بهر خلق هم ددې قبر په وجه ددې کلی والو احترام کوی. اوس په محله کښې څو کسانو دا مشوره کړې چه دا قبر دې هوار کړیشی چه دا بدعات او رسومات ختم شی او ددې ځائې دې په جمات شامل کړې شی چه طالبانو له پکښې کمره جوړه کړی شی. آیا داسې کول جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحق هزاره............۱۲\۱۱جولائی ۱۹۷۵

الجواب: واضحه دې وی چه د کومو څیزونو اهانت ممنوع نه وی مثلاً بت، اونه، گټه نو د فتنې ختمولو د پاره به د هغې ختمول جائز بلکه واجب وی. او دکومو څیزونو اهانت چه ممنوع وی مثلاً قبر. جمات نو د بدعاتو او شرکیاتو د ختمولو او بندولو دپاره دهغې ورانول او ختمول به نا جائز او خلاف تعامل وی. خلافا للطائفة السلفیة النجدیة. وهوالموفق

﴿۱﴾ (شرح الصدور بشرح حال الموتی والقبور للامام السیوطی ۱۳۳ باب نتن المیت وبلاء جسده)

قبر او تعزیه ښکلول، د قبر د کاڼړي په بدن باندې د مړلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) چه قبرونه ښکلول، تعزیه ښکلول تبرکاً جائز دی یا نه؟ (۲) په قبرونو باندې پرانه کاڼړی بدن باندې مړل جائز دی یا نه؟ (۳) یو قبر یا پیر ته سجده کول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم ۹۱۱۱۱۰۱۹۷۵

الجواب: (۱) د قبر ښکلول مکروه دی

کما فی الهندیة ۵:۳۸۷ ولا یمسح القبر ولا یقبله ﴿۱﴾ قلت فالتعزیة لا تقبل بطریق الاولی لانها لیست من الاشیاء العظمة وکذا هو من شعائر الروافض ﴿۲﴾.

(۲) تبرک مشروع دې. **(۳)** لیکن مونږ ددې ذمه دار نه یو چه د عوام کالا نعام خود ساخته تبرکاتو د مشروعیت په غم کښې شو (۳) سجده او رکوع

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۵: ۳۵۱ الباب السادس عشر فی زیارة القبور وقرأة القرآن فی المقابر)

(۲) علامه شاه عبدالعزیز محدث دهلوی صاحب رحمه الله فرمائي. تعزیه کول چه په عشره محرم الحرام کښې معمول وی او درګاهونه او د قبرونو صورتونه جوړول صحیح نه دي، په دې وجه چه د تعزیه داریٔ نه مراد دادې چه ترک لذت او ترک زینت اوکړی. او خپل صورت د غمګین او مخزون پشان جوړ کړی یعنی د غمژنې ښځې پشان کینی حال داچه د سړی د پاره دا په یو حالت کښې هم شرعاً نه ثابتیږی. او تعزیه داری بدعت دې او دغه شان درګاهونه او د قبرونو صورتونه جوړول او جهنډې لګول وغیره یعنی دا ټول بدعات دي، او ظاهره ده چه دا بدعت سیئه دې او د بدعت سیئه حال دا دې چه حدیث کښې راغلې دی (شر الامور محدثاتها وکل محدثه بدعة وکل بدعة ضلالة رواه مسلم. دې مجلس کښې د زیارت او ژړا په نیت سره هم حاضری کول نا جائز دی په دې وجه چه دلته هیڅ زیارت نشته چه د زیارت د پاره لاړ شی او هلته څه لرګی دی چه د تعزیه داریٔ د پاره جوړ کړی شوی وی هغه د زیارت قابل نه دی بلکه د ورانولو قابل دی (فتاویٰ عزیزی ۱۸۴۱۱ باب التصوف.

﴿۳﴾ عن انس بن مالک قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی ...... **(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)**

کول چه بطور عبادت وی نو شرک دې او که د غیرالله تعظیم دپاره وی نو حرام ده. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جنازې په وخت کښې غریبانو کښې د جامو تقسیم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چې د جنازې په وخت کښې غریبانانو او مسکینانو کښې د کپړو تقسیم جائزدې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی نا معلوم.......... ۱۰۱۱۱۰۱۹۷۲

الجواب: دا یو عُرفی اعزاز دې نه مطلوب دې او نه ممنوع دی. وهوالموفق

د مړی یا قبر په خواکښې د قران مجید د تلاوت حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې د مړی سره قبل از دفن کور کښې یا روستو د دفن نه په قبر باندې د قران د تلاوت څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا رحیم الله باچا اضاخیل بالا.... ...۲۵۱۹۱۱۹۷۵

الجواب: دمړی خواکښې قران لوستل مطلقا جائزدی. چه په ښکاره باندې وي،

(بقیه حاشیه) الغداة جاء خدم المدینة بآنیتهم فیها الماء فما یؤتی باناء الاغمس یده فیه وربما جاء ه فی الغداة الباردة فیغمس یده فیها، عن انس قال لقد رأیت رسول الله ﷺ والحلاق یحلقه واطاف به اصحابه فما یریدون ان تقع شعرة الا فی ید رجل. (رواهما مسلم) وقال النووی وفیه التبرک بآثار الصالحین وبیان ما کانت الصحابة علیه من التبرک واکرامهم ایاه ان یقع شیئ منه الا فی ید رجل سبق الیه.

(الصحیح مسلم مع شرح النو وی ۲: ۲۵۶ باب قربه ﷺ من الناس وتبرکهم به)

﴿۱﴾ وفی فتاویٰ الهندیة: من سجد للسلطان علی وجه التحیة او قبل الارض بین یدیه لا یکفر ولکن یأثم لارتکابه الکبیرة هو المختار قال الفقیه ابو جعفر رحمه الله تعالیٰ وان سجد للسلطان بنیة العبادة او لم تحضره النیّة فقد کفر کذا فی جواهر الاخلاطی.

(فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۶۸ الباب الثامن والعشرون فی ملاقاة الملوک والتواضع لهم الخ)

يا د لرې نه وی او يا مړې پټ وی البته د نږدې نه وی او قرآت په ښکاره كولې شی نو بعد الغسل اتفاقاً جائز دې. او قبل الغسل پكښې اختلاف دې احتياط په نه كولو كښې دې (والتفصيل فی رد المحتار ۱\۵۷۳ ﴿۱﴾)

او د قبر خوا كښې قران لوستل جائز دی.

كما فی الهندية ۱:۱۷۷ قرأة القرآن عند القبور عند محمد رحمه الله لا تكره ومشائخنا اخذوا بقوله﴿۲﴾. وهو الموفق

خاوره د مول په قبركښې كيښودل اود اچولو حكم

سوال: علمائې دين دې دې مسئلې باره كښې څه فرمائی: (۱) د مړی د دفن كولو وخت كښې څو كسان خاورې دم كړی او د مړی سره ئې دفن كوی دا جائز دی يا نه دې؟ د قبر تياريدلو نه پس متی خاوره واخلی او منها خلقنٰكم... الخ، ايت پرې اولولی او په قبر كښې ئې خخه كړی آيا دا بدعت دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبدالحق.................. ۲۶\۳\۱۹۷۴ء

الجواب: (۱) بې اصله كار دې. ﴿۳﴾ فقهاؤ ورته جائز وئيلې دی. (كما فی الهندية ۱: ۱۷۶).﴿٤﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ويقرأ عنده القرآن الی ان يرفع الی الغسل. قال ابن عابدين: كرهوا القرأة بعد موته حتی يغسل. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۶۳۰ مطلب فی القرأة عند الميت)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ۱:۱۶۶ الفصل فی القبر والدفن والنقل من مكان الی آخر)

(۳) په طحطاوی علی المراقی كښې دی.
وفی كتاب النورين من اخذ من تراب القبر وقرء عليه سورة القدر سبعاً وتركه فی القبر لم يعذب صاحب القبر ذكره السيد (۵۰۴)
دغه شان په نورو عملياتو كتابونو او د سورتونو په فضائلو كښې ئې مختلف اعمال ليكلي دی چه بغير د حوالې نه د عمل په طور مذكور دی لهذا د احكام شرع سره د متصادم او منهی عنه نه كيدلو په وجه نه مطلوب دی او نه ممنوع بلكه مباح دی لان الاصل فی الاشياء الاباحة ولحديث ابی داؤد: وما سكت عنه فهو عفو، البته التزام د ما لا يلزم بدعت دے...... (از مرتب)

﴿٤﴾ فی الهندية: ويستحب لمن شهد دفن الميت ان ......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په قبرونو باندې شنه څانګه کېښودل جائز دی او پکښې کېښودل ابداع دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړې مړ شی نو دهغه په قبر باندې شنه څانګه لګوی. چه په ده باندې د قبر عذاب آسان شی آیا دا جائز دي؟ او په قبر د څانګې کېښودلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سعید راولپنډی...۲۷جولائی۱۹۷۵ء

الجواب: په قبر باندې شنه څانګه کېښودل جائز دی.

كما ورد فی حديث صحيح وروى البخاری فی صحيحه ان بريدة بن الخصيب اوصى بان يجعل على قبره جريدتان (فليراجع الى ردالمحتار ۱:۸۴۶)﴿۱﴾

لیکن په قبر کښې دننه د څانګې کېښودل په قران، حدیث او فقه کښې صراحت سره نشته بلکه ابداع دی. وهو الموفق

د قبر پخولو او هغې باندې د غلاف اچولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه! (۱) چه د قبر پخول

(بقيه حاشيه) يحثو فی قبره ثلاث حثيات من التراب بيديه جميعاً ويكون من قبل رأس الميت ويقول فی الحثية الاولىٰ منها خلقناكم وفی الثانية وفيها نعيدكم وفی الثالثة ومنها نخرجكم تارة اخرىٰ كذا فی الجوهرة النيرة.(الهندية ۱:۱۶۶ الفصل السادس فی القبر والدفن والنقل من مكان الى آخر)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: ويؤخذ من ذلك ومن الحديث ندب وضع ذلك للاتباع ويقاس عليه ما اعتيد فی زماننا من وضع اغصان الآس ونحوه وصرح بذلك ايضا جماعة من الشافعية وهذا اولى مما قاله بعض المالكية من ان التخفيف عن القبرين انما حصل ببركة يده الشريفة ﷺ او دعائه لهما فلا يقاس عليه غيره وقد ذكر البخاری فی صحيحه ان بريدة بن الخصيب رضی الله عنه اوصىٰ بان يجعل فی قبره جريدتان والله تعالىٰ اعلم.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۸ قبيل باب الشهيد مطلب فی وضع الجريد)

جائز دی یا نه؟ (۲) د یو بزرګ عالم یا ولی قبر باندې څادر او غلاف وغیره کیښودل جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی میر احمد کوهاله راولپنډی ۱۴۱۴۱۱۹۷۰

الجواب: (۱) نا جائز دي لقول الفقهاء ولا يُجصص، خو د سيلاب د خطرې د رجې نه ګير چاپيره پوخ ديوال جوړ کړېشی نو څه خبره نه ده. ﴿۱﴾ (۲) ددې متعلق جواز او کراهيت دواړه مروی دی لهذا نه کول بهتر دی او دليل هم ددې طرف مضبوط دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مړی سره قران کیښودل او دامام د جائې نماز مسئله

سوال علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱) د مړی سره قران کيښودل څنګه دی؟برابره خبره ده چه حيله اسقاط وی يا نه؟ بعضې خلق د مړی د کټ سره قران ږدی او جنازه وړی لا على التعين، که دا قران د مړی

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفى شرح المنية عن منية المفتى المختار انه لا يكره التطيين وعن ابى حنيفة يكره ان يبنى عليه بناء من بيت او قبة او نحو ذلك لما روى جابر نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن تجصيص القبور وان يكتب عليها وان يبنى عليها رواه مسلم وغيره، نعم فى الامداد عن الكبرىٰ واليوم اعتادوا التسنيم باللبن صيانة للقبر عن النبش ورأوا ذلك حسنا وقال صلى الله عليه وسلم ما راه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ : ۶۶۲ مطلب فى دفن الميت باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾ قال ابن عابدين: كره بعض الفقهاء وضع الستور والعمائم والثياب على قبور الصالحين والاولياء قال فى فتاوىٰ الحجة وتكره الستور على القبور ولكن نحن نقول الآن اذا قصد به التعظيم فى عيون العامة حتىٰ لا يحتقروا صاحب القبر ولجلب الخشوع والادب للغافلين الزائرين فهو جائز لان الاعمال بالنيات وان كان بدعة فهو كقولهم بعد طواف الوداع يرجع القهقرى حتى يخرج من المسجد اجلالاً للبيت حتى قال فى منهاج السالكين انه ليس فيه سنة مروية ولا اثر محكى وقد فعله اصحابنا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵ : ۲۵۶ قبيل فصل فى النظر والمس)

خپل وی یا د بل چا وی او یا دا قران چرته د جمات وقف قران وی یا د چا د کور نه ئې راخستلې وی. (۲) د جنازې د امام دپاره جائې نماز څه څیز دې؟ دا د کفن جزدې یا څه خیراتی څیز دې؟ یا په دیکښې شرعاً څه تبرک شته؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ نور محمد پیش امام مصری بانډه... ۱۹۲۹ء۵۱۵۱۰

الجواب: (۱) توسل بالقران نا جائز نه دې لیکن ددې توسل اختراع عبث او خطرناک ضرور دې. (۲) جائې نماز څه ضروری څیز نه دې په کیښودلو یا نه کیښودلو کښې څه ګناه یا ثواب نشته. که د عالم او امام تعظیم مقصود وی نو د ثواب کار دې. وهو الموفق

د مړی دفن کولو نه پس درې خلې دعا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مړی دفن کولو نه پس لاس اوچتول اویو ځل یا درې خلې دعاغوښتل جائزدی یاناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی غلام نبی چورنګی کوهاټ........ ۲۱\شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: د زیارت القبور په وخت کښې لاس اوچتول او درې ځلې دعا کولو روایت په صحیح مسلم کښې مسطور دې. ﴿۱﴾ او ددفن کولو نه پس ددعا په مشروعیت کښې هیڅ شک نشته (لحدیث واسئلوا له بالتثبیت فانه الآن یسئل اوکما قال علیه السلام ﴿۲﴾ لیکن په دې دعا کښې لاس اوچتول نه مطلوب دی او نه ممنوع دی. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ عن عائشه الا احدثکم عنی وعن رسول الله صلی الله علیه وسلم...... حتی جاء البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات ثم انحرف فانحرفت فاسرع فاسرعت الخ.
(الصحیح مسلم ۱: ۳۱۳ باب التسلیم علی اهل القبور والدعاء والاستغفار لهم)

﴿۲﴾ (سنن ابی داؤد ۲: ۱۰۳ باب الاستغفار عند القبر للمیت فی وقت الانصراف)

(۳) د قبر سره په ناسته لاس اوچتولو سره یا بغیر د لاس اوچتولو نه او بل طرفته په هره طریقه سره دعا جائز اومباح ده. اوپه دعا کښې لاس اچتول دآداب دعانه دی لهذا دبعض الناس په دې دعاکښې دلاس اوچتولو اباقی حاشیه په راروانه صفحه

په میډیکل کالجونو کښې د مړی په بدن باندې تجربات کول

سوال: علمائې دین دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په میډیکل کالجونو کښې په انسانی لاشونو باندې مختلف تجربې کولې شی او تر آخره پورې هغه ټکړې ټکړې کوی نو دفن ئې نه کوی آیا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتی:فضل ربی دوکاندار ټوپی......۱۹مارچ ۱۹۷۵

الجواب:دانسان ابتذال اوپه ده تجربې کول ناجائزدی اګرکه یو ویښته ولې نه وی. **قال الله تعالیٰ ولقد کرمنا بنی آدم ﴿۱﴾ وفی الهدایة ولا یجوز بیع شعور الانسان ولا الانتفاع بها لان الآدمی مکرم لا مبتذل فلا یجوز ان یکون شیئ من اجزائه مهانا مبتذلا(۳:۵۵) ﴿۲﴾ وبمعناه فی جمیع کتب الفتاویٰ ،**

لهذا د انسان په بدن باندې به تجربې کول حرام وی تجربې د ربړ یا پلاسټک وغیره نه جوړ شوی اندامونو باندې هم کیدې شي. وهوالموفق

[بقیه حاشیه].. نه مطلقِ منع څه معنی نه لری. په دې کښې یوحدیث د مسلم دې جاء البقیع فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات،ددې حدیث په ذیل کښې امام نووی فرمائی:

فیه استحباب اطالة الدعاء وتکریره ورفع الیدین وفیه ان دعاء القائم اعلیٰ من دعاء الجالس فی القبور (نووی شرح مسلم ۱:۳۱۳)

په فتح الباری شرح صحیح البخاری کښې دی.

عن ابن مسعود رأیت رسول اللهﷺ فی قبر عبد الله بن ذی البجادین الحدیث وفیه فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة رافعا یدیه اخرجه ابوعوانة فی صحیحه (۱۱:۱۲۲ باب الدعاء مستقبل القبلة).

او بهتر دا ده چه قبلې ته مخ کړې او قبر ته مخ هم جائز دې.

قال العلامة الحلبی: ویستحب زیارة القبور للرجال وتکره للنساء ویدعو قائما مستقبل القبلة وقیل یستقبل وجه المیت وهو قول الشافعی.(غنیة المستملی ۵۲۰ مسائل شتیٰ کتاب الجنازة).....(ازمرتب)

﴿۱﴾ (سورة بنی اسرائیل پاره:۱۵ رکوع:۷ آیت:۷۰)

﴿۲﴾ (الهدایة علی صدر فتح القدیر ۶:۶۳ باب البیع الفاسد)

په قبر باندې د ایتونو، حدیثونو، تاریخ وفات او نوم وغیره لیکلو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په قبر باندې د قرآن ایتونه، احادیث، تاریخ وفات اود نوم لیکلو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: رحیم الله باچا خیل نوشهره...... ۲۳\ذی القعده۱۴۰۱ھ

الجواب: د نوم او تاریخ وفات نه علاوه دا نور کارونه خلاف سنت دی (۱) وهوالموفق

د اولیاء الله او صلحاؤ په قبرونو جهنډې لګول او غلاف اچول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي (۱) آیا د یو شهید، ولي، او نیک سړی په قبر باندې غلاف اچول او جهنډې لګول جائز دي؟ (۲) آیا د رسول الله ﷺ په قبر مبارک باندې څه غلاف یا جهنډه شته؟ (۳) د یو شهید وغیره په قبر باندې غلاف یا جهنډه کیښودلو نه منع کونکې په حق دې یا د څه سزا مستحق دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: لقمان شاه......... ۲۳مارچ۱۹۷۵

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله لا بأس بالكتابة) لان النهى عنها وان صح فقد وجد الاجماع العملى بها فقد اخرج الحاكم النهى عنها من طرق ثم قال هذه الاسانيد صحيحة وليس العمل عليها فان ائمة المسلمين من المشرق الى المغرب مكتوب على قبورهم وهو عمل اخذ به الخلف عن السلف، ويقوى بما اخرجه ابوداؤد باسناد جيد ان رسول الله ﷺ حمل حجر فوضعها عند رأس عثمان بن مظعون وقال اتعلم بها قبر اخى وادفن اليه من مات من اهلى فان الكتابة طريق الى تعرف القبر بها نعم يظهر ان محل هذا الاجماع العملى على الرخصة فيها ما اذا كانت الحاجة داعية اليه فى الجملة كما اشار اليه فى المحيط بقوله وان احتيج الى الكتابة حتى لا يذهب الاثر ولا يمتهن فلا بأس به فاما الكتابة بغير عذر فلا حتى انه يكره كتابة شئ عليه من القرآن او الشعر او اطراء مدح له.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۲ مطلب فى دفن الميت باب صلاة الجنائز)

الجواب: (۱) په قرآن او حدیث اود امام ابوحنیفه رحمه الله په اقوالو کښې ددې غلاف اوجهنډې متعلق هیڅ ذکرنشته دې چه تاته دهغې نه جواب درکړې شی، **نعم جاز ان یستبط هذا الحکم من الحدیث المسطور (ما امرنا ان نکسر الحجارة الحدیث) لکن هذا الاستنباط لیس من مطلوبکم لانه رأی المستنبط وقوله.** (۲) د پیغمبر علیه السلام دقبر متعلق تپوس کول لا یعنی خبره ده ځکه چه هلته کنبې د یو کار کیدل دلیل نه دې. (۳) د غلاف متعلق فقهائې کرامو کراهیت هم نقل کړې دې. او بعضې فقهائې کرامو نه جواز هم مروی دې **کما فی ردالمحتار ۵: ۳۱۹ کره بعض الفقهاء وضع الستور والعمائم والثیاب علی قبور الصالحین والاولیاء قال فی فتاویٰ الحجة وتکره الستور علی القبور ولکن نحن نقول الان اذا قصد به التعظیم فی عیون العامة حتیٰ لا یحتقروا صاحب القبر ولجلب الخشوع والادب للغافلین الزائرین فهو جائز الیٰ آخر ما ذکر فی کشف النور﴿۱﴾** ﴿۱﴾ نو د قاعدې مطابق محرم نه په ترجیح ورکولې کیږی لیکن مخالفینو باندې سختی نه دې پکار. وهوالموفق

په قبرستان باندې تیریدلو وخت کښې لاس اوچتول دعا کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په قبرستان باندې تیریدلو وخت کښې د اهل قبور د مغفرت د پاره لاس اوچتول او دعا غوښتل پکار دی یا څه سورت اولولی او بغیر د لاس اوچتولو نه په زړه کښې دعا اوغوښتلې شی؟ بینو اتوجرو

المستفتی: خواجه عبدالسلام از ارندر چترال.........۲۰۱۵۱۱۹۸۴

الجواب: لاس اوچتول هم جائز دی. (مسلم شریف) ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۵: ۲۵۶ فصل فی اللبس کتاب الحظر والاباحة)

﴿۲﴾ جاء النبی صلی الله علیه وسلم البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مرات ثم انحرف.

(الصحیح مسلم ۱: ۳۱۳ فصل فی التسلیم علی اهل القبور والدعاء والاستغفار لهم)

د جنازې شریکانو د پاره د مړی په کور کښې خوراک کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی د مړی د تدفین نه پس اعلان کول چه په جنازه کښې شریک خلق دمړی به کور کښې ډوډئ اوخوری څه حکم لري. حال دا چه اوس دا عام رواج جوړ سوې دي؟ بینوا توجروا

المستفتی اهالیان کنډی هری پور ۱۱۸ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د اهلِ میت د طرف نه تصدق علي المساکین هر وخت جائزدي او د رسم ورواج پابندی (فخر اوریا) هر وخت ناجائز دی (۱) او دعوت او ضیافت دري ورځو پورې ناجائز دی پس دا دعوت مسئوله نا جائز دې (۲)

(ماخوذ از شامی ۸۴۲:۱ وهندیه ۳۸۲:۵) وهوالموفق

د مړی په باره کښې مختلفې مسئلې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱) هره جمعه باندې قبرستان ته تللو سره دانسان گناه معاف کیږی یانه؟ (۲) مړې خپل قبرته راتللو والا پیژني یا نه؟ (۳) مړې د ژوندی مدد کولې شی یا نه؟ (۴) ژوندی لره د

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: بجواز تبرع الوارث باخراجها وعليه فلا بأس بادارة الولى للزكلة ثم ينبغى بعد تمام ذلك كله ان يتصدق على الفقراء بشئ من ذلك المال او بما اوصى به الميت ان كان اوصى.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۵۴۳ مطلب فى بطلان الوصية بالختمات والتهاليل)

(۲) قال العلامة الحصكفى: ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول والثانى والثالث.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱:۲۶۴ باب صلاة الجنائز) وفى الهندية: ولا يباح اتخاذ الضيافة ثلاثة ايام فى ايام المصيبة واذا اتخذ لا بأس بالاكل منه كذا فى خزانة المفتين.

(الفتاوىٰ عالمگيرية ۵:۳۴۴ الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات)

مړی نه مدد غوښتل جائز دی یا نه؟ (۵) قبرونو ته ګډې چیلۍ او روژې ورل او خوړل جائز دی یا نه؟ (۶) مړی په خپل قبر باندې ناستې مرغې کښېنږ او ښځه پیژندلې شی یانه؟ (۷) مړې غسل ورکولو والا د کټ سره تللو والا کفن دفن کولو والا پیژنی یا نه؟ (۸)مړی ته شرقاً غسل ورکول چه خپې قبلې ته وی د امام اعظم د مذهب نه خلاف دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی شاه محمد خان عبدالقاسم خان اټک...۲۰۱۷۱۱۹۷۸

الجواب: علی ترتیب السوالات: (۱) د جمعې په ورځ زیارت القبور سنتِ رسول ﷺ دي﴿۱﴾ (۲) پیژني ﴿۲﴾ (۳) باذنه تعالٰی کولې شی(۴) توسل بالصالحین جائز دې چه دهغې نه په استمداد با لغیر سره تعبیر جائز دې البته استمداد من الغیر مافوق الاسباب شرک دې. ﴿۳﴾

﴿۱﴾ قال ابن عابدین:وتزار فی کل اسبوع کما فی مختارات النوازل قال فی شرح الباب المناسک الا ان الافضل یوم الجمعة والسبت والاثنین والخمیس فقد قال محمد بن واسع الموتی یعلمون بزوارهم یوم الجمعة ویوما قبله ویوما بعده فتحصل ان یوم الجمعه افضل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :٦٦٥ مطلب فی زیارة القبور باب صلاة الجنائز)

﴿۲﴾قال الملا علی القاری: واخرج ابن عبد البر فی الاستذکار والتمهید عن ابن عباس قال قال رسول الله ﷺ ما من احد یمر بقبر اخیه المؤمن کان یعرفه فی الدنیافیسلم علیه الاعرفه ورد علیه السلام صححه عبد الحق واخرج ابن ابی الدنیا والبیهقی فی الشعب عن ابی هریرة قال اذا مر الرجل بقبر یعرفه فسلم علیه ردعلیه السلام وعرفه واذا مر بقبر لا یعرفه فسلم علیه رد علیه السلام ای ولم یعرفه.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۴ :۱۱٦ باب زیارة القبور الفصل الثالث)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: ومنها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالیٰ واعتقاده ذلک کفر اللهم الا ان قال یا الله انی نذرت لک ان شفیت مریضی او رددت غائبی او قضیت حاجتی ان اطعم الفقراء الذین بباب السیدة......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۵) دا اعمال شرک دی (چه کله د نذر بغیر الله د قبیلې نه وي) (۲) ممکن دي (۷) د قواعدو په رنړا کښې پیژندل اقرب معلومیږي ﴿۱﴾ (۸) په دې کښې توسع ده ﴿۲﴾ وهو الموفق

په قبرستان کښې د خوراک کولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په قبرستان کښې خوراک خوړل جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: از جنا کوړ خانی خیل غازی شاه...۹ جمادی الاول ۱۳۹۷ھ

الجواب: په قبرستان کښې خوراک کول مکروه نه دی البته التزام د ما لا یلزم او تخصیص بلا مُخصِصٌ بد عتِ سیئه دې ﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) نفیسة او الامام الشافعی او الامام اللیث او اشتری حصر المساجدهم او زیتا لو قودها او دراهم لمن یقوم بشعائرها الی غیر ذلک مما یکون فیه نفع للفقراء والنذر لله عزوجل وذکر الشیخ انما هو محل لصرف النذر لمستحقیه القاطنین برباطه او مسجده فیجوز بهذا الاعتبار. (ردالمحتار ۲: ۱۳۹ قبیل باب الاعتکاف مطلب فی النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام)

﴿۱﴾ قال الملا علی القاری: وقد اخرج احمد والطبرانی وابن ابی الدنیا والمروزی وابن منده عن ابی سعید الخدری ان النبی ﷺ قال ان المیت یعرف من یغسله ومن یحمله ومن یکفنه ومن یدلیه فی حفرته. (مرقاة المفاتیح ۴: ۴۲ باب المشی بالجنازة والصلاة علیها)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویوضع کما مات کما تیسر فی الاصح.
(قوله فی الاصح) وقیل یوضع الی القبلة طولا وقیل عرضا کما فی القبر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۳۱ باب صلاة الجنائز)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: ولان ذکر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشیئ دون شیئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع.
(البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العیدین)

زیارة القبور جائز او عبادة القبور ناجائز دي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کرامت الاولياء بعدالموت حق دي يا نه؟ او د زيارة القبور څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: صاحبزاده گل ظريف خان بټگرام...... ۵/۲/۱۹۸۹

الجواب: کرامت د اولياء الله حق دي په ژوند کښې هم او بعد الموت هم. البته په الوهيت او ولايت کښې فرق کول ضروری دی ﴿۱﴾ او د سړو ښځو دپاره زيارة القبور جائز دې ﴿۲﴾ البته عبادة القبور د نارينو او زنانو دواړو دپاره ناجائز دې وهوالموفق

قبر ته تيارشی دننه پکښې سورت يٰس لوستل په خاوره دمول او په قبر کښې خورول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې دوه کسانو جنازه اوکړه د مړی ښخولو نه مخکښې په قبر کښې دننه يو سړته يو بل خپو ته اودريدو او سورت يٰسين ئې تلاوت کړو په خاوره ئې دم کړو او خاوره ئې د لاش لاندې خوره کړه آيا دا طريقه شرعی لحاظ سره صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: نا معلوم......... ۱۱/۲/۱۹۷۴

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: وعبارة النسفی فی عقائده وكرامات الاولياء حق فتظهر الكرامة على طريق نقض العادة للولی من قطع المسافة البعيدة فی المدة القليلة وظهور الطعام والشراب واللباس عند الحاجة والمشی على الماء والهواء وكلام الجماد والعجماء واندفاع المتوجه من البلاء وكفاية المهم من الاعداء وغير ذلک من الاشياء.

(ردالمحتار ۲: ۲۸۳ مطلب فی ثبوت كرامات الاولياء والاستخدامات فصل فی ثبوت النسب)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: وان كان للاعتبار والترحم من غير بكاء والتبرک بزيارة القبور الصالحين فلا بأس اذا كن عجائز. (ردالمحتار ۱: ۶۶۵ مطلب فی زيارة القبور باب صلاة الجنائز)

الجواب: په مقبره کښې سورت یسین لوستل جائز دی (۱) لیکن په دې باندې خاوره دمول او په قبر کښې اچول بدعت دې (۲) نه د قران او حدیث نه ثابت دي، نه په خیرالقرون کښې چرته وئیلې شوې دي. او نه دائمه دین او فقهائي کرامو نه مروی دی. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: من دخل المقابر فقرء سورة يٰس خفف الله عنهم يومئذ وكان له بعدد من فيها حسنات بحر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۶۲ مطلب فی القرأة للميت واهداء ثوابها له باب صلاة الجنائز)

وقال الجلال السيوطی: اخرج عبد العزيز صاحب الخلال بسنده عن انس ان رسول الله ﷺ قال من دخل المقابر فقرأ سورة يٰس خفف الله عنهم وكان له بعدد دفن فيها حسنات وقال القرطبی فی حديث اقرء واعلی موتاكم يٰس هذا يحتمل ان تكون هذه القراءة عند الميت فی حال موته ويحتمل ان تكون عند قبره قلت وبالاول قال الجمهور كما تقدم فی اول الكتاب وبالثانی قال ابن عبد الواحد المقدسی فی الجزء الذی تقدمت الاشارة اليه وبالتعميم فی الحالين قال المحب الطبری من متاخری اصحابنا وفی الاحياء للغزالی والعاقبة لعبد الحق عند احمد بن حنبل قال اذا دخلتم المقابر فاقرءوا بفاتحة الكتاب والمعوذتين وقل هو الله احد واجعلوا ذلک لاهل المقابر فانه يصل اليهم قال القرطبی وقد قيل ان ثواب القراءة للقاری وللميت ثواب الاستماع ولذلک تلحقه الرحمة قال الله تعالیٰ واذا قرئ القران فاستمعوا له وانصتوا لعلكم ترحمون، قال ولا يبعد فی كرم الله تعالیٰ ان يلحقه ثواب القراءة والاستماع معا ويلحقه ثواب ما يهدی اليه من القراءة وان لم يسمع كالصدقة والدعاء وفی فتاویٰ قاضی خان من الحنفية من قرأ القرآن عند القبور فان نویٰ بذلک ان يؤنسهم صوت القرآن فانه يقرأ وان لم يقصد ذلک فالله يسمع القراءة حيث كانت. (شرح الصدور ۱۳۰ باب قراءة القرآن للميت او علی القبر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: ولان ذكر الله تعالیٰ اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت او بشیئ دون شيئ لم يكن مشروعا حيث لم يرد الشرع به لانه خلاف المشروع. (البحر الرائق ۲: ۱۵۹ فصل فی العيدين)

د بعضې ځناورو جنت ته تلل

سوال: آيا چرته په يو روايت کښې شته چه سپى به جنت ځي؟ بينوا توجروا
المستفتى سميع الرحمان محمودآبادګړهى کپوره مردان ٢٣شوال ١٤٠١ھ

الجواب: حموى په شرح اشباه کښې صفحه ٣٩٩ باندې د مقاتل نه د لسو ځناورو متعلق روايت کړې چه جنت ته به ځى. وعد منها كلب (اصحاب الكهف). ﴿١﴾ وهوالموفق

﴿١﴾قال العلامة سيد احمد بن محمد الحموى: وفى شرح شرعة الاسلام قال مقاتل عشرة من الحيوانات تدخل الجنة ناقة محمد ﷺ وناقة صالح عليه السلام وعجل ابراهيم عليه السلام وكبش اسماعيل عليه السلام وبقرة موسىٰ عليه السلام وحوت يونس عليه السلام وحمار عزير عليه السلام ونملة سليمان عليه السلام وهد هد بلقيس عليه السلام وكلب اهل الكهف كلهم يحشرون كذا فى مشكاة الانوار. (غمزعيون البصائر على الاشباه والنظائر ١:٢٦١ الفن الثالث فائدة يدخل فى الجنة خمس حيوان)

قال العلامة آلوسى: وجاء فى شان كلبهم انه يدخل الجنة يوم القيامة فعن خالد بن معدان: ليس فى الجنة من الدواب الاكلب اصحاب الكهف وحمار بلعم ورأيت فى بعض الكتب ان ناقة صالح وكبش اسماعيل ايضا فى الجنة، ورأيت ايضا ان سائر الحيوانات المستحسنة فى الدنيا كالظباء والطوا وليس وما ينتفع به المؤمن كالغنم تدخل الجنة على كيفية تليق بذلك المكان وتلك النشأه ويس وما ينتفع به المؤمن كالغنم تدخل الجنة على كيفية تليق بذلك المكان وتلك النشأة ويس فيما ذكر خبر يعول عليه فيما اعلم، نعم فى الجنة حيوانات مخلوقة فيها، وفى خبر يفهم من كلام الترمذى صحته التصريح بالخيل منها، والله تعالىٰ اعلم وقد اشتهر القول بدخول هذا الكلب الجنة.

(تفسير روح المعانى ٩:٢٢٧ سورة كهف آيت:١٨)

مسئله اطعام من اهل المیت

د مړی د طرف نه د خوراک ورکولو مسئلې د عوامی غلو او افراط او تفریط په وجې سره یو متنازعه شکل اختیار کړې وو. تر دې چه تکفیر او ابداع پورې دا سلسله اورسیدله. حضرت مفتی صاحب دامت کاتهم په مقالات کښې د نور مسئلو پشان د فقهی حوالو سره د افراط او تفریط نه پاکه امت ته پیش کړه د عام فائدې د پاره په فتاوی کښې شامل کولې شی......از مرتب

داهل میت د طرفنه تصدق علی المساکین هر وخت جائزدې چه کله په وارثانو کښې نا بالغه او غائبین نه وی. (کما فی الهندیة ٥: ٣٤٤ وان اتخذ طعامًا للفقراء کان حسنا اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ذلک من الترکة کذا فی التتارخانیة،او د اهلِ میت د طرفنه د رسم او رواج پابندی هر وخت نا جائزه ده.

کما فی البزازیة علی هامش الهندیة ٤: ٨١ ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعیاد وفی جنائز ردالمحتار عن المعراج، قال هذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لا یریدون بها وجه الله تعالیٰ.

اوداهلِ میت دطرفنه ضیافت او دعوت درې ورځو پورې ممنوع دې یعنی دا کار منع دې خوراک منع نه دې.(کما فی الهندیة ٥: ٣٤٤ ولا یباح اتخاذالضیافة ثلاثة ایام فی ایام المصیبة واذا اتخذ لا باس بالاکل منه.کذا فی خزانة المفتین،البته خواص به خپل ځان د خوړلونه بچ کوی که خواص د خوراک نه بچ کیږی نۀ.نو عوام بۀ د پخولونه منع نشی.اود اهلِ میت دطرفه دحاجت اوضرورت طعام جائزدې مثلاًداهلِ میت متعلقین نه وی یابې مروته وی اودطعام د اخستلو خرڅولو څه انتظام نه وی اوهم دامحمل دې د اثر د ابوذر رضی الله عنه چه هغه وصیت کړې وو چه ځما میلمنو د پاره به یو ګډ ذبح کړې(کما فی البدایة والنهایة ٧: ١٢٥)

بعضې فقهاء فرمائی چه د اهل میت د طرفنه دعوت او ضیافت جائز دې او د هغې دپاره دلیل د ابوداؤد شریف حدیث دې (فلما رجع ﷺ استقبله داعی امرءته فجاء، فجیئ بالطعام فوضع یده الی اخر الحدیث، چه پیغمبر علیه السلام د اهلِ میت د طرفه دعوت قبول کړو او د خوراک اراده ئې اوکړه لیکن معلومه شوه. ورته چه دا گډ د مالک د اجازت نه بغیر ذبح شوې ده نو بیا ئې اونه خوړله.

(رواه ابوداؤد فی باب اجتناب الشبهات من کتاب البیوع)

لیکن نورو فقهاؤ ددې سره موافقت نه دې کړې ځکه چه په حدیث کښې دوه نسخې دی یوه نسخه د داعی امراة بغیر د اضافت نه او دا نسخه صحیح ده. او په دې نسخه باندې دهغې بعضې فقهاؤ استدلال صحیح نه دې او دویمه نسخه ده داعی امراته. په اضافت سره یعنی د مړی ښځه. بیا استدلال صحیح کیږی دا حدیث معارض دې حدیث د ابن ماجه او حدیث د مسند امام احمد سره. چه دوی د جریر رضی الله عنه نه روایت کړې (کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم من النیاحة، او دا حدیث قولی دې او محرم دې او تشریع عام دې نو دا حدیث عام دې نو دا حدیث به دابوداؤد نه راجح وی ځکه چه هغه فعل دې او مبیح دې او جزوی واقعه ده او یا حدیث د ابوداؤد به په طعام دحاجت باندې حمل کړې شی او دغه شان دعائشه رضی الله عنها حدیث دې انها کانت اذا مات المیت من اهلها فاجتمع لذلک النساء ثم تفرقن الا اهلها وخاصتها امرت ببرمة من تلبینة فطبخت ثم صنع ثرید فصبت التلبینة علیها قالت کلن منها، فانی سمعت رسول الله ﷺ یقول التلبینة مجمة لفواد المریض تذهب ببعض الحزن (رواه البخاری ۲:۵ ۸۱)

دا په طعام دحاجت باندې محمول دې چه د کور خلق ئې او خوری او طبیعت نه ئې بوج سپک شی

په زوړ قبر کښې فلش ګټر (Gutter) جوړول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ په خپل کور کښې فلش ګټر جوړولو نو د قبر تختې پکښې راوختلې او بیا د مړی د بدن ډیره خاوره هم راوختله مخکښې دا ځائې د فصل زمکه وه او دلسو کالو نه دلته ځمونږ کور جوړ دې او د مړی زړه خاوره څلور فټه باندې راختلې ده او فلش ګټر به لسو فُټو پورې ژور جوړول وي. نو آیا دې ځائې کښې به ګټر جوړول جائز وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی ظهور احمد .... ۳۱\۱۱\۱۹۹۰

الجواب: د مړی بدن او اعضاء واجب الاحترام وی ﴿۱﴾ د انقلاب نه پس احکامات بد لیږی خو بیا هم دا مخصوصه خاوره پاک ځائې کښې کیښودل مناسب وي ﴿۲﴾ وهو الموفق

د ماشوم بچی د مړ کیدلو نه پس چیلئ ذبحه کول او هډوکی د قبر څوا کښې د دفن کولو رسم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ځمونږ ځائې کښې چه ماشوم مړشی نود چیلئ بچې ذبحه کړی په دې خیال سره چه دقیامت په ورځ به دې په براق باندې سوریږی چه مور پلار په آسانئ سره جنت ته اورسوي.

﴿۱﴾ قال ابن نجیم: واما الآدمی فقد قال بعضهم ان جلده لا یحتمل الدباغة حتی لو قبلها طهر لانه لیس بنجس العین لکن لا یجوز الانتفاع به ولا یجوز دبغه احتراما له وعلیه اجماع المسلمین کما نقله ابن حزم وقال بعضهم ان جلده لا یطهر بالدباغة اصلا احتراما له فالقول بعدم طهارة جلده تعظیم له حتی لا یتجرأ احد علی سلخه ودبغه واستعماله.
(البحر الرائق ۱:۱۰۱ الا جلد الخنزیر والآدمی کتاب الطهارة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ویکره ان یبنی علی القبر او یقعد او ینام علیه او یوطأ علیه او یقضی حاجة الانسان من بول او غائط کذا فی التبیین.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۱٦٦ الفصل السادس فی القبر والدفن)

او هغه د چیلئ د بچی هډوکی د قبر په خوا کښې دفن کولې شي. آیا دې سلسله کښې څه شرعی حکم شته؟ بینوا توجروا

المستفتی: جناب نعیم گل صاحب خرم ضلع کرک......... ٧١٥١١٩٧٣

الجواب: دا یو قبیح رسم دې ﴿۱﴾ هر مسلمان دپاره ضروری دی چه ددې نه بچ شی. دا کارونه صرف په وحی سره معلومیږی او په دیکښې کښې هیڅ وحی ثابته نه ده، ومن ادعی فعلیه البیان او دغه شان یو معمر او معتمد عالم هم ددې حکم نه دې ورکړې ﴿۲﴾ قال رسول الله ﷺ من احدث فی امرنا هذا ما لیس منه فهو رد او کما قال ﴿۳﴾. وهوالموفق

په قبر کښې سورت یسین لوستل، د جنازې دوران کښې ذکر کول او د ناخوانده جنازه کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مړی قبر طرفته وړلو وخت کښې جنازه د قبر سره متصل بهر کیږدی دجمات امامان قبر ته کوزشی سورت یسین لولی. بیا مړی قبرته کوزوی او داطریقه فرض اولازمی

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: ویکره...... کل ما لم یعهد من السنة والمعهود منها لیس الا زیارتها والدعأ عندها قائما.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ٦٦٧ مطلب فی وضع الجرید والآس علی القبور)

﴿۲﴾ قال العلامة شرنبلالی: (قوله بدعة) ای قبیحة كالمسمی بالكفارة ذكر ابن الحاج فی المدخل فی الجزء الثانی ان من البدع القبيحة ما يحمل امام الجنازة من الخبز والخرفان ويسمون ذلک عشاء القبر فاذا او صلوا اليه ذبحوا ذلک بعد الدفن وفرقوه مع الخبز وذكر مثله المناوی فی شرح الاربعين فی حديث من احدث فی امرنا هذا ما ليس منه فهو رد، قال: ويسمون ذلک بالكفارة فانه بدعة مذمومة قال ابن امير حاج : ولو تصدق بذلک فی البيت سراً لكان عملاً صالحاً. (الطحطاوی ۲۰۲ فصل فی حملها ودفنها)

﴿۳﴾ (مشكواة المصابيح ۱: ۲۷ باب الاعتصام بالكتاب والسنة)

گڼرلې کیږي، آیا دا فعل ثابت دي؟ که نه وی نو دددې خلقو څه حکم دې؟ بعضې خلق په قبرستان کښې دنیاوی خبرې کوی او بعضې ذکر بالجهر آیا دا صحیح دي؟ او چه کله خلق خبرې کوی نو دې وخت کښې دا قران خوانی کول جائز دي؟ دیوعالم اومتقی خطیب په موجودګئ کښې یو ناپوهه سړې دجنازې مونځ ورکړی نوآیا دا جنازه صحیح کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی:مقبول الرحمان مولیا کوهاله مري

الجواب:(۱) دا طریقه د تخصیص بلامخصص کیدلو په وجه بدعت ده،

قال صاحب البحر ۲: ۱۵۹ ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت او بشیئ دون شیئ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به انتهیٰ﴿۱﴾. قلت نعم ورد الشرع بقرأته علی الموتی والمراد منهم الذی قربوا الموت او المقبورون فافهم﴿۲﴾.

(۲) دغه شان که دا امر مستحب که څوک فرض اوګڼړی نو مبتدع به وي،

(لان التزام ما یلزم بدعة کما هو مبر هن فی

﴿۱﴾(البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العیدین)

﴿۲﴾عن معقل بن یسار قال قال رسول اللهﷺ اقرؤا سورة یٰسٓ علی موتاکم رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة، وقال السیوطی ورواه ابن ابی شیبة والنسائی والحاکم وابن حبان واخرج ابن ابی الدنیا والدیلمی عن ابی الدرداء عن النبیﷺ قال ما من میت یقرأ عند رأسه سورة یٰسٓ الا هون الله علیه، وفی روایة صحیحة ایضا یٰسٓ قلب القرآن لا یقرؤها عبد یرید الدار الآخرة الاغفر الله له ما تقدم من ذنبه فاقرؤها علی موتاکم، قال ابن حبان المراد به من حضره الموت ویؤیده ما اخرجه ابن ابی الدنیا وابن مردویه ما من میت یقرأ عنده یٰسٓ الاهون الله علیه وخالفه بعض محققی المتأخرین فأخذ بظاهر الخبر فقال بل یقرأ علیه بعد موته وهو مسجی وذهب بعض الی انه یقرأ علیه عند القبر ویؤیده خبر ابن عدی وغیره من زار قبروالدیه او احدهما فی کل جمعة فقرأ عندهما یٰسٓ غفرله بعدد کل حرف منها.

(مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۳: ۱٦۰ باب مایقال عند من حضره الموت)

موضعه(۱) (۳) ذکر چه کله په جهر سره وی نو بهتر نه دی لیکن جائز دی (۲) (۴) په قران خوان باندې هیڅ وبال نشته وبال په خبرو کولو والا باندې دي، (۵) که نا خواندہ د محلې امام وی نو صحیح ده. وهو الموفق

﴿۱﴾قال العلامة الحصكفى: لان الجهلة (اذا) يعتقدون (المباحة) سنة او واجبة و كل مباح يؤدى اليه فمكروه.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۷۷ ۵ قبيل باب صلاة المسافر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: وينبغى لمن تبع جنازة ان يطيل الصمت ويكره رفع الصوت بالذكر وقرأة القرآن وغيرهما فى الجنازة والكراهة فيها كراهة تحريم فى فتاوئ العصر وعند مجد الائمة التركمانى وقال علاء الدين الناصرى ترک الاولیٰ.

(البحر الرائق ۲:۱۹۲ فصل السلطان احق بصلاته)

فصل فی احکام الشهید

د ټوپک په ذریعې سره ظلماً مقتول شهید دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱) یو سړې په ظلم سره په ټوپک باندې بل سړې مړ کړو د ټولو شرطونو موجود کیدلو باندې به دې مقتول ته شهید وئیلې کیږی یا نه؟ او په ټوپک باندې د آله جارحه اطلاق کیدیشی یا نه؟ (۲) که دا معلومه نه وی چه مقتول ظلماً قتل کړې شوې دې او مقتول څو ځلې د قتل اقدام هم کړې نو په ده باندې د شهید احکام جاری کیږی یا نه؟ (۳) یو سړې بل سړې قتل کړو بیا ددې دویم سړی وارثانو دا قاتل قتل کړو ددې څه حکم دې؟ شهید دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: هدایت الله کړی صوابی... ۱۹۸۵/۱۰/۱۲

الجواب: (۱) په ټوپک سره قتل موجب قصاص دې لهذا په دې سره قتل شوې شخص شهید دې. او ټوپک د وقذ او (جرح) آله ده. لیکن د ذبحې آله نه ده. (۱) (۲) د ثبوت نه بغیر حکم با لشهادت یا بعدم الشهادت کول بې قاعدې امر دې (۳) تر څو چه مونږ د قتل نوعیت معلوم نه وی نو مونږ د فتوی ورکولو نه عاجز یو. وهو الموفق

د شهید د شهادت اخروی دارومدار په نیت دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مشرقی پاکستان کښې کوم بنګالیان د خپلو حقوقو او عزت او ناموس په خاطر د مغربی پاکستان د فوجونو دلاسو نه مړه شول هغوی اخروی شهیدان دی یا نه؟

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: هو کل مکلف مسلم طاهر قتل ظلما بغیر حق بجارحة ای بما یوجب القصاص یکون شهیدا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار ۱: ۲۷۰ باب الشهید)

او د شهید عندالله کیدلو په صورت کښې څه دلیل دې؟ د جنازې د مونځ نه کیدل او د هغوی وینه بې تاوانه کیدل د سیاسی مصلحت په بناء ده یا څه بل څه وجه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: ننګ اسلاف مولوی محمد صادق.....۲۹ رجب المرجب

الجواب: داخلق د وطن شهیدان دی ځکه چه د هغوی قربانیانې د وطن د آزادئ په خاطر وې، مونږ دوی نه په اُخروی شهیدانو کښې داخلوو او نه ئې تر نه اوباسو ځکه چه ددې دارو مدار په نیت دې ﴿۱﴾ او د صحیح نیت توقع د دواړو طرفونو نه نه وه. کما لا یخفی. وهوالموفق

شهید ته به د انزال او جنابت په وجه غسل ورکولې کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړې ظلماً قتل کړې شي، او د هغه انزال شوې وی نو آیا د انزال په وجه به هغه ته غسل ورکولې شی. ځکه چه شهید خو په وینو لت پت جامو کښې بغیر غسل نه دفن کولې شی نو آیا د جُنب شهید به هم دا حکم وې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ولی الله.........۱۰۱۲۱۱۹۷۳

الجواب: شهید ته د شهادت په وجه غسل نشی ورکولې نه دا چه د انزال او جنابت په وجه﴿۲﴾ په روایاتو کښې ددې خبرې هیڅ ثبوت نشته او شهید دپاره خپله وینه پاکه ده ا مسئله د واضحاتو او اجماعیاتو نه ده فقهائې کرامو په دې باندې تصریح کړې ده. ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ عن عمر بن الخطاب قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ ما نوى الخ متفق عليه. (مشکواة المصابيح ۱ : ۱۱ قبيل كتاب الايمان)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدين: فاذا استشهد الجنب يغسل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ : ۶۶۹ باب الشهيد)

﴿۳﴾ قال العلامة شرنبلالی: وكان المقتول مسلماً بالغاً خاليا عن حيض ونفاس و جنابة ولم يرتث ای حمل من المعركة رثيثا ای جريحا وبه رمق كذا ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د شهیدانو ژوند د قران او حدیث نه ثابت دي

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څمونږ سره يو وها بی او نجدی سړې او سيړی چه عجيبه عجيبه خبرې کوی او د شهيدانو باره کښې وائی چه دوی مړه کيږي، د هغوی د ژوند هيڅ ثبوت نشته آيا دا صحيح ده؟ او دهغه سره څما يو ځائې اوسيدل او خوراک کول جائز دي؟

بينواتوجروا

المستفتی: فتح خان........ ۱۲\۹\۱۹۷۴

الجواب: د شهداء فی سبيل الله ژوند د قران او احاديثو نه ثابت دي (۱) دد ينه انکار کول جهالت او ضلالت دي، تـه دې سړی سره اجتماعی ژوند تيرولې شی البته په دې مسئلو کښې د بحث کولو نه ځان ساته. وهو الموفق

په ثوابی او عُرفی شهيد کښې فرق او مړی ته د تيمم کولو مسئله

سوال: علمائي دين دې مسئلو باره کښې څه فرمائی (۱) په درياب کښې

(بقيه حاشيه) فی الصحاح والمراد هنا ما هو اعم مما يصيره خلفا فی الشهادة بالارتثات بعد انقضاء الحرب فيکفن بدمه ای مع دمه من غير تغسيل لقوله ﷺ زملوهم بدمائهم فانه ليس کلمه تکلم فی سبيل الله الا تأتی يوم القيامة تدمی لونه لون الدم والريح ريح المسک.

(امداد الفتاح شرح نورالايضاح ٦٢٦ مايصنع مع الشهيد)

﴿۱﴾ قال الله تعالیٰ: ولا تقولوا لمن يقتل فی سبيل الله اموات بل احياء ولکن لا تشعرون.

(سورة البقرة پاره: ۲ رکوع: ۳ آيت: ۱۵۴)

وقال الله تعالیٰ: ولا تحسبن الذين قتلوا فی سبيل الله امواتا. (سورة آل عمران آيت ۱۶۹)

عن ابن کعب بن مالک عن ابيه ان رسول الله ﷺ قال ان ارواح الشهداء فی طير خضر تعلق من ثمر الجنة او شجر الجنة هذا حديث حسن صحيح.

(جامع الترمذی ۱: ۱۹۷ باب ماجاء فی ثواب الشهداء)

ډوبيدونكې. اور كښې سوزيدونكې. د ګاډي يا ريل لاندې راتلونكې. مړ كيدلو والا شهيد دې يا نه؟ هغه ته د غسل ضرورت شته يا نه؟ (۲) كوم كس چه د تيز رفتاره ګاډي يا درونډ بوج لاندې راشي او مړشي او لاش ټكړې ټكړې شي نو كه د غسل په ځائې تيمم وركړې شي جائز دى كه نه؟ (۳) په كومو كومو حالتونو كښې مړى ته غسل نشى وركولې؟ (۴) تيمم د مړى دپاره په كوم حالت كښې جواز لرى؟ بينوا توجروا

المستفتى: سميع الرحمان ګمبت مردان. ۲۶\۸\۱۹۷۵

الجواب: (۱) داكسان ثوابى شهيدان دى لحديث ورد بذلك﴿۱﴾عُرفى شهيدان نه دى. (لانه الشهيدالعرفى وهو الكامل هو كل مكلف مسلم طاهر قتل ظلمابجارحة ولم يجب بنفس القتل مال ولم يرتث.﴿۲﴾ (ماخوذ از درمختار) لهذا غُسل به ورته وركولې شى. (۲) كه ټول يا اكثر بدن ئې باقى وى ګنې كه بعضې بدن يعنى غير اكثر موندلې شى نو په هغې به جنازه نشى كولې كما فى رد المحتار ﴿۳﴾ والشرح الكبير﴿۴﴾ نو غسل ضرورت به هم پاتې نشي. باقى مړى ته به د

﴿۱﴾ عن ابى هريرة قال: قال رسول الله ﷺ ما تعدون الشهداء فيكم؟ قالوا: يا رسول الله من قتل فى سبيل الله فهو شهيد، قال: ان شهداء امتى اذاً لقليل ، قالوا: فمن يا رسول الله؟ قال: من قتل فى سبيل الله فهو شهيد، ومن مات فى سبيل الله فهو شهيد،ومن مات فى الطاعون فهو شهيد، ومن مات فى البطن فهو شهيد، والغريق شهيدٌ . (رواه مسلم رقم :۱۹۱۵) وعنه قال: قال رسول الله ﷺ : الشهداء خمسة: المطعون، والمبطون، والغريق، وصاحب الهدم والشهيد فى سبيل الله متفق عليه.

(رياض الصالحين ۴۰۳ رقم حديث ۱۳۵۴،۱۳۴۳ باب الشهداء)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱: ۶۶۹ باب الشهيد)

﴿۳﴾ قال العلامةابن عابدين وكذا يغسل لو وجد النصف مع الرأس. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۲۳۴ مطلب فى حديث كل سبب ونسب منقطع باب صلاة الجنائز)

﴿۴﴾ قال الحلبى: عن ابن المنذر فى الاشراف لم يصح ذلك ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

اوبو نه موجودکېږي په وجه مړې یا ښځې دپاره د لامبونکې ښځې د نشتوالی په وجه تیمم ورکولې شي﴿۱﴾ د زخم په وجه د تیمم ورکولو هیڅ وجه نشته (۳) عُرفی شهید. باغیان. قطاع الطریق اود خپل ظالم قوم سره د عصبیت په بنیاد مدافعت کولو والا ته به غُسل نه شی ورکولې (رد المحتار) ﴿۲﴾ (۴) مر سابقًا .وهوالموفق

د شهید قسمونه او د کفن دفن مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د شهید تعریف په لاندې صورتونو کښې صحیح دې یا نه؟ (۱) که چرته یو وارث پخپله په بدله

(بقیه حاشیه) عنها و اذا لم یرد اثر بالصلوٰة علی العضو لا یصلی علیه اذا کان فی حکم الکل بان وجد اکثره او النصف ومعه الرأس اذ للاکثر حکم الکل و کذا النصف مع الرأس لاشتماله علی اکثر الاعضاء الرئیسة بخلاف ما لو وجد نصفه مشقوقا طولا فانه لا یصلی علیه لئلا یؤدی الی تکرار الصلوة علی میت واحد فانه غیر مشروع.

(غنیة المستملی شرح منیة المصلی ۵۴۲ کتاب الجنازة باب الصلوٰة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی الفتح ولو لم یوجد ماء فتیمم المیت وصلوا علیه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۶۳۶ مطلب فی الکفن باب صلاة الجنائز)

قال العلامة کاسانی: اما المرأة فنقول اذا ماتت امرأة فی سفرفان کان معها نساء غسلنها ولیس لزوجها ان یغسلها عندنا...... ولنا ما روی عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ سئل عن امرأة تموت بین رجال فقال تیمم بالصعید.

(بدائع الصنائع ۲ :۳۵ فصل فی بیان من یغسل صلاة الجنازة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: والمکابرون فی المصر لیلا بمنزلة قطاع الطریق کما فی البحر عن شرح المجمع فمن قتلوه ولو بغیر محدد فهو شهید کما لو قتله القطاع و کذا من قتله اللصوص لیلا کما سیأتی وذکر فی البحر انه زاد فی المحیط سببا رابعا وهو من قتل مدافعا ولو عن ذمی فانه شهید بای الة قتل.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱ :۶۷۰ مطلب فی تعداد الشهداء باب الشهید)

کښې اقدام اوکړی او قاتل قتل کړي، آیا په دې اقدام سر به موجود سړې قاتل او ګنهګار ګڼړلې کیږی یا وارث اوصاحبِ حق به ګڼړلې کیږی او عندالله به بری الزمه وی او څوک چه فی الحال مقتول شو ده ته به شهید وئیلې کیږی که په قصاص کښې به ګڼړلې کیږی (۲) که یو کس بل مسلمان په ناحقه قتل کړو نو دامقتول به شهید بللې کیږی که صرف مقتول. یعنی د غسل او کفن و غیره به څه حکم وي؟ (۳) څمونږ په صوبه سرحد کښې اکثر واقعات ددې قسم کیږی چه اکثرې ګناه یاپه داسې خبرو سړې مړکړې شی چه دهغې هډوشرعی جوازنه وی. په داسې مقتولینو به د مظلوم او شهید احکام جاری کیږی یا نه؟ بینواتوجروا المستفتی:فضل مولی ګورنمنټ مډل سکول بابوزئ مردان۱۸۱۱۱۱۹۲۹

الجواب: (۱) د شهید درې قسمونه دي، اول هغه چه په دنیوی احکاماتو کښې شهیدوی یعنی هغه ته غسل نشی ورکولې او خاص کفنُ به ورته نه اچولې کیږی نوددې تعریف دادې چه کل مکلف مسلم طاهر قتل ظلماً بجارحة ولم یجب بنفس القتل مال ولم یرتث(تنویرالابصار)﴿۱﴾ اودویم هغه چه په اخروی احکاماتو کښې شهیدوی مثلاً .مطعون، مبطون غریق وغیرهم(کما فی حدیث صحیح)﴿۲﴾ او دریم چه ددنیا او آخرت دواړو په احکاماتو کښې شهید وی هغه مقتول فی سبیل الله دې چه نیت او اراده ئې صحیح وی ﴿۳﴾ (وللتفصیل موضع آخر) ﴿٤﴾

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:٦٦۹ باب الشهید)

﴿۲﴾ وعن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ما تعدون الشهید فیکم قالوا یا رسول الله من قتل فی سبیل الله فهو شهید قال ان شهداء امتی اذاالقلیل من قتل فی سبیل الله فهو شهید ومن مات فی الطاعون فهو شهید ومن مات فی البطن فهو شهید رواه مسلم. (مشکواة المصابیح ۱:۳۳۱ کتاب الجهاد)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: والمراد بشهید الآخرة من قتل مظلوما او قاتل لا علاء کلمة الله تعالیٰ حتی قتل فلو قاتل لغرض دنیوی فهو شهید دنیا فقط. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:٦٧٢ مطلب فی تعداد الشهداء باب الشهید)

﴿٤﴾ وفی المنهاج: الشهداء ثلاثة انواع الاول: من یکون...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

(۲)کله چه دا قتل به معا ئنې سره معلوم وی او دا هم معلومه وی چه قاتل عمداً قتل کړې نو په دې صورت کښې د وارث د پاره قصاص اخستل جائز دی. یعنی عند الله به مجرم نه وی.

فی الدرالمختار وبه علم ان القضاء لیس بشرط لاستیفاء القصاص والاموال وفی ردالمحتار فلو قتل الولی القاتل قبل القضاء لم یضمن وفیه ایضا ۵: ۲۶۴ قال فی الهندیة: واذا قتل الرجل عمداً وله ولی واحد فله ان یقتله قصاصا قضی القاضی به او لم یقض انتهیٰ﴿۱﴾لکن فی الاشباه وشرحه ص ۱۰۱ السابعة الحدود سوی حد القذف لایتوقف علی الدعویٰ بخلاف القصاص لا بد فیه من الدعویٰ انتهی﴿۲﴾ فالظاهر ان بعد الدعویٰ لا یشترط القضاء فافهم.

(۳،۴)که دا سړې مظلوم وی او مقتول په قتل عمد سره وی او ده خوراک او غلاج نه وی کړې نوپه دنیوی احکاماتو کښې به شهید وی. ﴿۳﴾ وهو الموفق

(بقیه حاشیه) شهیدا فی احکام الدنیا کترک الغسل واحکام الآخرة کالصون من العذاب وتغیر البدن فی القبر، وهو من قتل فی سبیل الله محتسباً، والثانی: من یکون شهیداً فی احکام الدنیا دون الآخرة وهو من قتل فی سبیل الله غیر محتسب، والثالث: من یکون شهیداً فی احکام الآخرة دون الدنیا کالمطعون والمبطون.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴: ۲۳۴ باب فی الشهداء منهم)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵: ۳۹۰ قبیل باب القود فیما دون النفس)

﴿۲﴾ (غمز عیون البصائر شرح الاشباه والنظائر ۲: ۱۱۸ کتاب الجنایات)

﴿۳﴾قال العلامة ابن عابدین: وکذا فی الهدایة والبدائع معللا بانه ما نال شیأ من راحة الدنیا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۷۲ مطلب فی تعداد الشهداء باب الشهید).

(وهکذافی غنیة المستملی ۵۵۳ فی احکام الشهید)

په بم دهماکو کښې مړه شوی کسان شهیدان دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پېښور کښې بم اوچاودلو دا بمونه عام طور سره د (را) ایجنټان یا روسیان کافران لګوی په دې دهماکه کښې پنځه کسان مړهٔ شول آیا دا شهیدان دي؟ او دوی ته به غسل ورکولې کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی نامعلوم...... ۲۴شوال۱۴۰۱ھ

الجواب: دا مقتولین شهیدان دی او دویته به غسل نشی ورکولې ځکه چه کافران دا بمونه د قتل په ارادې سره ږدي، (کما یشیر الیه ما فی البحر (۲:۱۹۶) لان ما قصد به القتل فهو تسبیب وما لا فلا،(۱) انتهٰی، فافهم

د نامعلوم سړی په ډزو سره مړ شوې سړې شهید دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید د خپل کور په کهلاؤ صحن (غولي) کښې د ماسخوتن وخت کښې د نامعلوم سړی په فائرنګ (ډزو) سره قتل شو آیا دې شهید دې؟ بینوا توجروا

المستفتی محمّد اقبال سنګوې ضلع دیر ۲۳شعبان۱۴۰۲ھ

الجواب: ظاهری طور سره دا سړې شهید دې (کما فی الشامیة ۲:۲٤۹ طبع المصطفیٰ البابي والمکابرون فی المصر لیلا مثلاً بمنزلة قطاع الطریق (۲) فافهم

چه په صحرا کښې مړې اومندلې شی نو غسل به ورته ورکولې کیږی یا نه؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د شپې په

---

(۱) (البحر الرائق ۲:۱۹٦ باب الشهید)

(۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:٦٧٠ باب الشهید)

وخت کښې په صحرا کښې قصداً قتل کړې شوې د ښار نه لرې لرې بیابان کښې اوموندلې شو. آیا دا سړې شرعاً شهید دې یا نه؟ او غسل وغیره پرې لازم دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی بهرام الدین ډیره اسماعیل خان یکم فروری ۱۹۷۵

الجواب: که دا مقتول قطاع الطریق او ډاکوانو (غلګرو) قتل کړې وی نو غسل به ورته نه ورکولې کیږی او که قاتل ئې معلوم نه وی نو غسل به ورته ورکولې کیږی.

قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ۱: ۸۵۱ وخرج مالو وجد فی مفازة لیس بقربها عمران فانه لا تجب فیه قسامة ولا دیة فلا یغسل وفیه ایضا وکذا من قتله قطاع الطریق خارج المصر بسلاح او غیره فانه شهید﴿۱﴾. فافهم

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۶۷۱ مطلب فی تعداد الشهداء باب الشهید)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

کتاب الزکوٰة

(باب وجوب الزکوٰة)

قال اللہ تعالی

وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ
لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾

(المعارج)

....

كتاب الزكوٰة

باب وجوب الزكوٰة

په انما الصدقات للفقراء والمساكين (الاية) كښې د صدقې نه مراد زكوة دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې د مړود ايصال ثواب دپاره خلق خوراک پخوی او مالداران غريبانان ئې بغير دڅه فرق کينی خوری. اوس يو سړې وائی چه د خيرات وغيره دپاره د فقيرانو مسکينانو خلقو موجودکيدل شرط دې او په دليل کښې انما الصدقات للفقراء والمساكين (الايــة) د قران آيت پيش کوی. براه کرم ددې مسئلې وضاحت تفصيل او دلائلو سره راوليږئ او ثواب دارين حاصل کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتی: قاری عبدالرحمان حقانی واړی ضلع دير... يكم جولائی ۱۹۸۲ء

الجواب: دا آيت په زكوٰة باندې محمول دې په نفلی صدقاتو باندې نه. كما صرح به باب التفسير ﴿۱﴾ او غنی ته نفلی صدقه ورکول جائز دی. ﴿۲﴾ البته د صاحب هدايه په نزد به دا صدقه صدقه وی او د بعضو په نزد په حقيقت کښې دا هبه ده. (فليراجع الیٰ رد المحتار ٤: ٥٢٣ ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال السيوطی: انما الصدقات ای الزكوات مصروفة.

(تفسير جلالين سورة التوبه پاره: ۱۰ آيت: ۲۰ ركوع: ۷)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: لا تحل صدقة لغنی خرج النفل منها لان الصدقة على الغنی هبة كذافی البدائع. (البحر الرائق ۲: ۲۴۵ باب المصرف)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله صدقة) والصدقة كالهبة وفی المضمرات ولو قال وهبت منكما هذه الدار والموهوب لهما فقيران صحت...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په مالک نصاب باندې زکوة فرض دې اګر که حاجات اصلیه لکه سورلی وغیره ورته حاصل نه وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د نصاب مالک دې لیکن حاجات اصلیه مثلاً وسله، سورلۍ، خادم وغیره ورسره نشته، اوس که دا سړې دا مال په دې څیزونو باندې خرچ کړی نو بیا د نصاب مالک نه پاتې کیږي، آیا دې سړې (مالک نصاب) باندې زکوة فرض دې؟ او آیا ددې څیزونو د ضرورت نه کید لو په صورت کښې دا سړې زکوة اخستلې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی:نامعلوم ۱۹۷۵ء۱۰۱۳۱

الجواب: که دا سړې مقروض نه وی نو ده باندې زکوة ورکول فرض دی او زکوة اخستل ورله حرام دی. (والتفصیل فی رد المحتار ۲:۸) وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الهبة بالاجماع تاترخانية لکن قال بعده وفی الاصل هبة الدار من رجلین لا تجوز وکذا الصدقة فیحتمل ان قوله وکذا الصدقة ای علی غنیین والاظهر ان فی المسئلة روایتین قال فی البحر وصحح فی الهداية ما ذکره من الفرق (قوله کالغنیین) هذا قوله وقال یجوز وفی الاصل ان الهبة لا تجوز وکذا الصدقة عنده ففی الصدقة عنه روایتان خانية . (ردالمحتارهامش الدرالمختار ۴:۵۷۴ قبیل باب الرجوع فی الهبة)

وقال العلامة مرغینانی: وفی الجامع الصغیر اذا تصدق علی محتاجین بعشرة دراهم او وهبها لهما جاز ولو تصدق بها علی غنیین او وهبها لهما لم یجز وقالا یجوز للغنیین ایضا جعل کل واحد منهما مجازا عن الآخر والصلاحية ثابتة لان کل واحد منهما تملیک بغیر بدل وفرق بین الصدقة والهبة فی الحکم وفی الاصل سوی بینهما فقال وکذلک الصدقة لان الشیوع مانع فی الفصلین لتوقفهما علی القبض ووجه الفرق علی هذه الروایة ان الصدقة یراد بها وجه الله تعالیٰ وهو واحد والهبة یراد بها وجه الغنی وهما اثنان وقیل هذا هو الصحیح . (هداية علی صدر فتح القدیر ۷:۴۹۷ کتاب الهبة)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: اذا امسکه لینفق منه کل...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په نابالغ او مجنون باندې زکوة واجب نه دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زيد يو بالغ ورور مجنون يعنې پاګل دې او دوه رونړه ئې نا بالغه دی د دوی مشترکه مال دې آيا ټول مشترکه مال باندې زکوة واجب دې يا صرف د زيد په حصې باندې؟ بينوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.....۳جمادی الاول۲ ۱۴۰ھ

الجواب: دې صورت کښې په مجنون او نابالغو باندې زکوة واجب نه دې صرف د زيد په خپلې حصې باندې زکوة واجب دې.

كما فى الهندية ١ : ١٨٢ ومنها العقل والبلوغ فليس الزكوٰة على صبى ومجنون اذا وجد منه الجنون فى السنة كلها هكذا فى الجوهرة النيرة﴿١﴾. وهوالموفق

که د صدقې په لفظ سره د زکوة په نيت څه څيز ورکړيش نو زکوٰة ادا کيږي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زيد بکر ته لس روپئ ورکړې او وئيل ئې چه دا لس روپې صدقه د الله په نوم قبولې کړه ليکن دهغه نيت د زکوٰة وو او دهغه په ذمه د زکوة لس روپې وې نو دا زکوة ادا شو يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولوی فضل وهاب امجد آباد رستم مردان.......۱۹۷۳ء۲۰۱۲۱

الجواب: چونکه زکوٰة هم په صدقاتو کښې داخل دې قـال الله تعـالى: انمـا الـصدقات للفقـراء..الخ(الآيـه) لهٰذا ددې سرې زکوة ادا شوې دې ﴿٢﴾ وهوالموفق

(بقيه حاشيه) ما يحتاجه فحال الحول وقد بقى معه منه نصاب فانه يزكى ذلك الباقى.

(ردالمحتار ٢: ٧ مطلب فى زكاة ثمن المبيع وفاء كتاب الزكاة)

﴿١﴾ (فتاوىٰ عالمگيرية ١ : ١٧٢ كتاب الزكاة)

﴿٢﴾ وفى الهندية: ومن اعطى مسكينا دراهم وسماها ..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د نصابِ شرعی نه کم مال کښې وجوب د زکوٰة نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی سره پوره کال پنځوس روپئ وې دیکښې به زکوٰة واجب وی یا نه؟ که زکوٰة واجب دې نو بیا د دبهشتی زیور دا مسئله دې واضحه کړیشی. مسئله دا ده چه که چاسره دوه سوه روپې موجود وی او یو نیم سل روپې پرې قرض دې نو د قرض ادا کولو نه پس پنځوس روپې پاتې شوې او په پنځوس کښې زکوٰة واجب نه دې. اوس مطلب په آخری فقره کښې دې چه په پنځوس کښې زکوة واجب نه دې، حال دا چه دا پنځوس په دوه سوو کښې ټول کال موجودې وې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم..........

الجواب: ما سره بهشتی زیور نشته فی الحال دا توجیه لیکلې شی چه په بهشتی زیور کښې دوه سوه شرعی روپې مراد دي. او ددینه کم نصاب نشته لهذا په پنځوس روپو کښې د زکوة وجوب نشته ﴿۱﴾

مال که د نصاب په اندازې نه وی نو زکوٰة به واجب نه وي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو کور کښې څلور رونړه اوسیږی دهر یو د ښځې پنځه تولې مهر دې انفرادی طور باندې دهرې یو مهر د نصاب نه کم دې البته اجتماعی طور باندې د نصاب نه زیات جوړیږی آیا ددینه به زکوة ادا کولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: امین الله زنړو بانړه پشاور

(بقیه حاشیه)هبة او قرضا ونوی الزکاة فانها تجزیه وهو الاصح هکذا فی البحر الرائق.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۱ کتاب الزکاة)

﴿۱﴾ دا د هغې زکات حکم دې چه کله به روپئ د سپینو زرو یا د سرو زرو وه او دې زمانه کښې د کاغذ کرنسی رائجه ده. نو اوس دا حکم دې چه د کوم کس سره دومره روپئ یا نوټونه موجود وی چه د هغې قیمت د بازار د نرخ مطابق دوه پنځوس نیمې سپینو زرو ته رسیږی نو زکوة به واجب وی کنی نه (از مرتب)

الجواب په ظاهره خو دوی باندې زکوة فرض نه دي ځکه چه د هر يو انفرادي ملکيت د نصاب نه کم دې. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د سروزرو او سپينو زرو د خلط او انفراد په صورت کښې د زکوة حکم

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما سره څلور تولې د سروزرو کالې دی او سپين زر يا نقد رقم نشته نو ديکښې د زکوة څه طريقه ده؟ او نورې ماسره درې تولې د سروزو کالې او پنځويشت تولې د سپينو زرو کالې دي. ددې د زکوة څه طريقه ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد رفيق پشاور............ ۱۰/۸/۱۹۷۷

الجواب: (۱) که تاسره صرف څلور تولې سره زر وی سپين زر او نقد نوټ وغيره درسره نه وی نه مالدار نه ئې. تا باندې زکوة واجب نه دې ځکه د سروزرو نصاب اوونيمې تولې دې. ﴿۲﴾ (۲) که تاسو سره درې تولې سره زر او پنځويشت تولې سپين زر دی نو دې باندې زکوة واجب دې دواړو د قيمت څليريشتمه حصه به ورکول وی. د ضم او اختلاط په صورت کښې به د انفع للفقراء رعايت کولې شی

كما فی ردالمحتار ۲: ۳٦ ولكن يجب ان يكون التقديم بما هو انفع للفقراء رواجاً ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله وسببه ملك نصاب حولی)...... ذكر فی البدائع من الشروط الملك المطلق قال وهو الملك يدا او رقبة وقال ان السبب هو المال الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴ مطلب الفرق بين السبب والشرط والعلة) وفی الهندية: ومنها كون المال نصابا فلا تجب فی اقل منه. (عالمگيرية ۱: ۱۷۲ كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: نصاب الذهب عشرون مثقالا، قال ابن عابدين: (قوله عشرون مثقالا) فما دون ذلك لا زكاة فيه. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۱ باب زكاة المال)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۷ باب زكاة المال)

د حرمانِ زکوٰة نصاب

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د حِرمانِ زکوة نصاب څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عمر علی وزیرستانی متعلم حقانیه

الجواب: کوم کس چه د حوائج اصلیه نه علاوه اوونیمې تولې سره زر یا ۵۲ نیمې تولې سپین زر یا پنځلس روپئ فی توله په حساب سره ۷۸۸ روپې تقریباً یاددې مقدار پیسو مال دتجارت (یا نور اشیاء که نامی وی یا غیرنامی نه وي) وغیره لری نو هغه غنی دې زکوة نشی اخستلې ﴿۱﴾ وهوالموفق

د زکوٰة د فرضیت د پاره بلوغ شرط دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې کونډو ته چه د خاوندانو مرحومینو نه کومه ورثه ملاویږي، هغوی دا رقم د خپلو یتیمانانو بچوپه نوم جمع کوي، او فی الوقت دامسئله ډیره عامه جوړه شوې ده نو ددې نابالغه بچو جمع شوی رقم باندې به زکوة واجب شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نورالهی کهوله جهلم

الجواب: واضحه دې وی که دا پیسې ددی نا بالغه بچو ملکیت وی نو په دیکښې زکوٰة واجب نه دې.

قال رسول الله ﷺ رفع القلم من ثلث وعن الصبی حتی یبلغ ﴿۲﴾ وفی الدرالمختار

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: لا بأس ان یعطی من الزکاة من له مسکن وما یتأثث به فی منزله وخادم وفرس وسلاح وثیاب البدن وکتب العلم ان کان من اهله فان کان له فضل عن ذلک تبلغ قیمته مائتی درهم حرم علیه اخذ الصدقة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۰ مطلب فی الحوائج الاصلیة باب المصرف)

﴿۲﴾ رواه الترمذی وابوداؤد ورواه الدارمی عن عائشة وابن ماجة عنهما

(مشکواة المصابیح ۲: ۲۸۴ باب الخلع والطلاق الفصل الثانی)

وشرط افتراضها عقل و بلوغ (٢: ٣) ﴿١﴾ وهوالموفق

په نقدو روپو کښې هر کال باقاعده زکوة واجب دي.

سوال علمائي دين دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چې زيد دلرې واقع کيدلو په وجه زمکه د شل زرو روپو په عوض کښې خرڅه کړه او رقم ئې د خان سره کيښودلو عرض ئې دا وو چه چرته نزدې زمکه ملاؤ شی نو وابه خلم. دې دوران کښې د يو کال زما نه تيره شوه ليکن مطلوب او د خوښې زمکه ملاؤ نه شوه اوس سوال دادې چه آيا دې رقم کښې زکوة واجب دې او آيا هر کال به چه تر څو پورې دا رقم په بل څه خرچ نکړې نو زکوة به فرض وی؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد خورشيد خيبر ټو بيکو مردان

الجواب: ددې رقم نه به باقاعده هر کال زکوة ورکولې کيږی. (کما فی رد المحتار ٢:٨ ان الزکاة تجب فی النقد کيفما امسکه للنماء او للنفقة وکذا فی البدائع... الخ ﴿٢﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣ کتاب الزکاة)

وقال الکاسانی: ولنا انه لا سبيل الی الايجاب علی الصبی لانه مرفوع القلم بالحديث ولان ايجاب الزکوٰة ايجاب الفعل وايجاب الفعل علی العاجز عن الفعل تکليف ماليس فی الوسع ولا سبيل الی الايجاب علی الولی ليؤدی من مال الصبی لان الولی منهی عن قربان مال اليتيم الا علی وجه الاحسن بنص الکتاب واداء الزکاة من ماله قربان ماله لا علی وجه الاحسن لما ذکرنا فی الخلافيات الخ.

(بدائع الصنائع ٢: ٨١ شرائط فرضية الزکاة)

وفی الهندية: ومنها العقل والبلوغ فليس الزکاة علی صبی ومجنون الخ.

(فتاوی عالمگيرية ١: ١٧٢ کتاب الزکاة)

﴿٢﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ٢: ٧ مطلب فی زکاة ثمن المبيع کتاب الزکاة)

د زکوة د نصاب په اوزانو کښې د حضرت تهانوی او محقق لکهنوی اختلاف

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله د تخریج مطابق د سروزو نصاب، اونیمې تولې او د سپینو زرو نصاب ۵۲ نیمې تولې دې. او د مولانا عبد الحئ لکهنوی رحمه الله مطابق د سروزرو نصاب پنځه تولې او دوه نیمې ماسې دې او د چاندئ نصاب ۳٦ توله او پنځه نیمې ماسې دی. په دیکښې به د تطبیق او تصحیح څه صورت وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ضیاءالدین هنګو کوهاټ.... ۱۳۰رجب ۱۳۹۹ھ

الجواب:د حضرت تهانوی رحمه الله حساب صحیح دې، او مولانا عبدالحئ رحمه الله د لویو تولو مطابق اندازا لګولې ده، هغه اوس رائج نه دی. (۱) وهو الموفق

(۱) په سرو او سپینو زرو کښې احکام او او زان د قدیم عربی اوزانو مطابق دی.اوس پخپله په عربی ملکونو کښې هم قدیم اوزان رائج نه دې. دغه شان په پاک وهند کښې نور اوزان او پیمانې رائج دې،بلکه په عالمی سطحه باندې بین المللی اوزان رائج دی. په دې وجه ددې اختلاف په وجه د پخوا نه علماؤپه مستقل رسالو اومتفرقه فتاؤو کښې مفصل مطول او مختصر بحثونه کړی دی.د مولانا عبدالحئ لکهنوی رحمه الله یو مستقل کتاب د اوزان شرعیه په موضوع باندې دې.او د مذکوره نصاب تخریج ئې کړېدې.او بل طرفته مولانا مفتی محمد شفیع او حضرت تهانوی رحمه الله ده دویم نصاب مقرر کړې ده حضرت مفتی محمد شفیع صاحب فرمائی.اختلاف دلته نه پیدا شو چه مولانه عبدالحئ صاحب اویا اوربشې چه مقدار ددرهم دې هغه ئې دوه ماشې یوه نیمه رتئ اوګرخوله او د هند جمهور علماؤ درې ماشې یو رتئ او درتئ پنځمه حصه ګرځولې ده احقر اویا اوربشې ځان له او سل اوبشې ځان ځان له احتیاط سره وزن کړې او د فقهاؤ د تصریح مطابق اوربشې هم متوسط وې چه تولې بغیرلکئ والا وې او سپینې شوې نه وې بیا مې پخپله هم څوځلې وزن کړې او په متعدد صرافیانو مې وزن کړې اول په رائج الوقت ماشې سره وزن کړې نو اویا اوربشې درې ماشې پنځه رتئ شوې او سل وربشې پنځه ماشې دوه رتئ شوې لیکن رائج الوقت تله اوماشه داصلی تولې او ماشې نه لږ شان کمه ده څکه دې وخت (باقی حاشیه په راروانه صفحه)

انکم ټیکس د زکوة متبادل نشی کیدې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پخوا زمانه کښې حکو مت زکوة اخستلو لیکن اوس زمانه کښې حکومت ټیکس وصول کوی آیا دا انکم ټکس د زکوة متبادل کیدې شي؟ یا هغه رقم د شرعی زکوة د رقم نه منها کولې شی یا نه؟ مثلاً د زید په ذمه باندې په یو کال کښې دوه زره روپې زکوة دې او دې کال کښې حکو مت د زید نه شپږ سوه روپې انکم ټکس وصول کړو. اوس چه زید مبلغ څوارلس سوه روپئ اداکړې نو د زکوة د ادائیګئ نه به فارغ شی یا نه؟بینوا توجروا

المستفتی:عبدالرحمان مشین محله۲ جهلم شهر

الجواب:د حکومت انکم ټکس وصول کول یو غیر اسلامی عمل دې یعنی نه په دې کښې د زکوة د شرطونو لحاظ ساتلې شی او نه په شرعی مصارفو کښې خرچ کیږي، لهذا دا ټیکس د زکوة نه ګرځول صحیح نه دی. او بعضې فقهاؤ لیکلې دی. چه داسې رقم د زکوة په نیت سره ورکولو سره ذمه فارغه کیږی لیکن دا معامله خلاف احتیاط ده. ﴿۱﴾ وهو الموفق

[بقیه حاشیه]... کښې د سکې انګریزې روپې یوه توله ګر ځولې شوې ده. چه حقیقت ۱۱ نیمې ماشې ده. او د اصل تولې نه څلور رتې کمه ده. الخ (اوزان شرعیه ۱۰) پس د هر زمانې په تولو او رتو کښې فرق وي. او دغه شان ډیره نزدې زمانه کښې مختلف سیرونه رائج وو. مثلاً اکبری سیر ۲۵نیم تولې. شاه جهانی سیر اویا تولې. عالمګیرې سیر اوه اویا تولې. فرخ شاهی سیر ۸۴ تولې. انګریزی سیر ۸۰ تولې. قبائلې سیر ۱۰۸ تولې وغیره. نوځکه اوس د علماؤ رجحان دې وزن طرف ته دې کوم چه د اکابرین دیوبند تحقیق دې او په دې وجه فتوی هم دې باندې ده. (ازمرتب)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی التجنیس والولوالجیة السلطان الجائر اذا اخذ الصدقات قیل ان نوی بادائها الیه الصدقة علیه لا یؤمر بالاداء ثانیا لانه فقیر حقیقة ومنهم من قال الاحوط ان یفتی بالاداء ثانیا کما لو لم ینو لانعدام الاختیار الصحیح واذا لم ینو منهم من قال یؤمر بالاداء ثانیا وقال ابو جعفر لا لکون السلطان له ولایة الاخذ فیسقط عن ارباب الصدقة فان لم یضعها موضعها لا یبطل اخذه.....(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ریډیو. ټی وی په حاجت اصلیه کښې داخل دی یا نه؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ریډیو ټی وي. ټیپ ریکارډ په حاجات اصلیه کښې داخل دی یا نه؟ په دې زکوة واجب دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ۱۹۸۵.۱۰.۱۹

الجواب: د لهو او عیاشئ آلات په اصل حاجاتو کښې داخل نه دی البته ددې په قیمت کښې زکوة فرض نه دې. صرف موجب د غنادی ﴿۱﴾ او کوم خلق چه په حکومت یاسیاست کښې حصه اخلی هغوی دپاره به دا څیزونه په حاجات

(بقیه حاشیه) وبه یفتی، وهذا فی صدقات الاموال الظاهرة اما لو اخذ منه السلطان اموالا مصادرة ونوی اداء الزکاة الیه فعلی قول المشائخ المتاخرین یجوز والصحیح انه لا یجوز وبه یفتی لانه لیس للظالم ولایة اخذ الزکاة من الاموال الباطنة..... قلت وشمل ذلک مایاخذه المکاس لانه وان کان فی الاصل هو العاشر الذی ینصبه الامام لکن الیوم لا ینصب لاخذ الصدقات بل لسلب اموال الناس ظلما بدون حمایة فلا تسقط الزکاة باخذه کما صرح به فی البزازیة فاذا نوی التصدق علیه کان علی الخلاف المذکور.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲٦ مطلب فیما لو صادر السلطان رجلا فنوی بذلک اداء الزکاة الیه باب زکاة المال)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: وفسرها (ای الحاجة الاصلیة) فی شرح المجمع لابن الملک بما یدفع الهلاک عن الانسان تحقیقا او تقدیرا فالثانی کالدین والاول کالنفقة ودور السکنیٰ وآلات الحرب والثیاب المحتاج الیها لدفع الحر او البرد وکالآلات الحرفة وآثاث المنزل ودواب الرکوب وکتب العلم لاهلها..... وشرط ان یکون النصاب نامیا والنماء..... فی الشرع هو نوعان حقیقی وتقدیری فالحقیقی الزیادة بالتوالد والتناسل والتجارات والتقدیری تمکنه من الزیادة بکون المال فی یده او ید نائبه فلا زکوة علی من لم یتمکن منها فی ماله کمال الضمار الخ. (البحر الرائق ۲: ۲۰٦ کتاب الزکاة)

اصلیه کښې شمار کیږی. ﴿۱﴾ وهوالموفق

د سوارۍ د پاره موټر. قالین. ریډیو.

د دُکان فرنیچروغیره کښې زکوة نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی سره د ژوند د ضرورت څیزونه مثلاً سورلئ دپاره موټر، کور کښې قالین، ریډیو او د دکان فرنیچر وغیره دی دې څیزونو کښې زکوة واجب دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب الله اینډ کو کمیسټ پشاور ۱۵۱۸۱۱۹۷۴

الجواب: دې څیزونو کښې زکوة نشته دې څکه چه دا مالو نه نامیه نه دی چه کله تجارت دپاره نه وی.

کما فی الهندیة: ۱: ۱۸۳ ومنها فراغ المال عن حاجته الاصلیة فلیس فی دور السکنیٰ وثیاب البدن واثاث المنازل ودواب الرکوب وعبید الخدمة وسلاح الاستعمال زکوٰة﴿۲﴾ انتهیٰ، وصرحوا ان المال النامی هو مال التجارة والسوائم والنقدان ﴿۳﴾. فافهم، وهوالموفق

﴿۱﴾ قال ابن نجیم: فغیر مفید لان کلامهم فی بیان ما هو من الحوائج الاصلیة ولا شک ان الکتب لغیر الاهل لیست منها وهو تقیید مفید کما لا یخفیٰ قال ابن عابدین فی المنح: قوله وهو تقیید مفید کما لا یخفیٰ قال فی النهر هذا غیر سدید اذالکلام فی شرائط وجوب الزکاة التی منها الفراغ عن الحوائج الاصلیة ومقتضی القید وجوبها علی غیر الاهل لما انها لیست من الحوائج الاصلیة فی حقهم الخ. (منحة الخالق علی هامش البحر الرائق ۲: ۲۰۶ کتاب الزکوٰة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۲ کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ قال الشامی: (نام ولو تقدیراً) ...... وفی الشرع هو نوعان حقیقی وتقدیری فالحقیقی الزیادة بالتوالد والتناسل والتجارات والتقدیری تمکنه من الزیادة بکون المال فی یده او ید نائبه بحر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷ کتاب الزکاة)

په زکوٰة کښې تاخیر مکروه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو کال زکوة بل کال ته باقی پاتې شی او بیا بل کال ادا کړیشی نو شرعاً دیکښې څه حرج شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی نظیر بادشاه تهل کوهاټ ... ۱۲صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: د زکوة په ادا کولو کښې تاخیر کول مکروه دی. (۱) البته په تاخیر سره ادا کولو نه قضا نشی وئیلې کیدې بلکه ادا به وي. وهو الموفق

د زکوٰة په ادا کولو کښې تعجیل افضل دې تاخیر بهتر نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په رمضان کښې د فرض ادا کولو ثواب او یا چنده کیږی او بعضې خلق د رجب میاشت کښې د زکوة ورکولو او اخستلو کوشش کوی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی عبدالغفار منګوره سوات ۴شعبان ۱۳۹۲ھ

الجواب: په رمضان کښې د زکوة ادا کولو سره او یا چنده ثواب حاصلیږی (۲)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن الهمام: ما ذکر الفقیه ابو جعفر عن ابی حنیفة انه یکره ان یؤخرها من غیر عذر. (فتح القدیر ۲: ۱۱۴ کتاب الزکاة)

وفی الهندیة: وتجب علی الفور عند تمام الحول حتی یأثم بتاخیره من غیر عذر وفی روایة الرازی علی التراخی حتی یأثم عند الموت والاول اصح کذا فی التهذیب. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۰ کتاب الزکاة الباب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة علی بن سلطان القاری: ومن ادی فریضة فیه بدنیة او مالیة کان کمن ادی سبعین فریضة فیما سواه ای من الاشهر وهذا فیما سوی الحرم اذ حسناته عن مأة الف فی غیره. (مرقاة المفاتیح شرح المشکواة ۷: ۲۳۷ کتاب الصوم الفصل الثالث)

البته په زکوة کښې تعجیل افضل دې قصداً عمداً تاخیر کول بهتر نه دي.﴿۱﴾ نو په چا چه زکوة په رجب ۱۳۹۷ هـ کښې واجب الاداء کیدو والا وی که دا سړې په رمضان ۱۳۹۶ هـ کښې زکوة ورکړی نو ددې ثواب موندونکې به وی. وهوالموفق

د صاحبِ مال زکوة پڅپله د هغه په ذمه دې د بل چا په ذمه نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه عمر زید ته د کاروبار دپاره پیسې ورکړې دکال تیریدلو نه پس زید د خپلو مالو نو زکوة اداکوی لیکن عمر زکوة نه ورکوی حال دا چه هغه هم صاحب نصاب دې دې صورت کښې د عمر د مال زکوة د زید په ذمه دې یا صرف د خپل مال زکوة به ادا کوي؟ بینوا توجروا

المستفتی:حاجی رئیس خان عادل مارکیټ بنوں... ۱۲\رمضان۱۴۰۲ھ

الجواب: که عمر زید ته دا رقم د قرض په طور سره ورکړې وی نو د قرض په مقدار زکوة په عمر باندې واجب دې. ﴿۲﴾ او د هغې نه د زیاتې آمدنئ زکوة په دزید په ذمه واجب دې، او که عمر دا رقم زید ته د مضاربت یا شرکت په طور سره ورکړې وی نو د هغې حکم دا دې چه عمر باندې ددې رقم په حصه آمدنئ باندې زکوة واجب دې. ﴿۳﴾ (ماخوذ از رد المحتار والهندیة)...وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله فیاثم بتاخیرها) ظاهره الاثم بالتأخیر ولو قل کیوم او یومین لانهم فسروا الفور باول اوقات الامکان وقد یقال المراد ان لا یؤخر الی العام القابل لما فی البدائع عن المنتقیٰ بالنون اذا لم یؤد حتی مضی حولان فقد اساء واثم. فتامل.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۴ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: اعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعین درهما یلزمه درهم.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۸ باب زکاة المال)

﴿۳﴾قال الحصکفی: وان تعدد النصاب تجب اجماعا......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د غنی جوړیدلو وخت نه په قمری کال تیریدلو باندې زکوة واجبیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د رجب یعنی د زکوة په میاشت کښې ملازم شوم اوهره میاشته تر نه یو زر روپې بچت کیږي. په کال تیریدلو باندې ما سره دولس زره روپې جمع شوې اوس د زکوة څه مسئله ده؟بینواتوجروا

المستفتی:عبدالرشید یو. اې. ای......۲۸شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: ته چه دکوم تاریخ نه غنی جوړ شوې ئې نو په هغه تاریخ باندې قمری کال تیریدو سره به ته زکوة ادا کوې که د کال په میځ کښې نور رقم حاصل شوې وی یا نه ﴿۱﴾ وهوالموفق

د پلار په مالونو کښې د بچو د پاره د اباحت او اجازتِ عامه په صورت کښې د زکوة وغیره مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی درې څلور بچی دی او دهغه په مال کښې عام طور سره تصرف کوي. تر دې چه هغه ځانته سائیکل او موټر سائیکل هم آخلی او پلار ته پته نه وی او نه پلار ته د مال حساب کتاب معلوم دې. او پلار هغوی ته دا هم وائی چه دا ستاسو مال دې ځکه چه مو خو ښه وی تصرف پکښې کوئ. آیا په هغوی باندې ددې به وجې سره د فریضه حج، قربانئ. زکوة احکام لازمیږئ یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی:نخبة الله بلوچستان....۱۲۲گست ۱۹۷۵

(بقیه حاشیه)ویتراجعان بالحصص وبیانه فی الحاوی فان بلغ نصیب احدهما نصابا زکاه دون الآخر. قال الشامی: صورته ان یکون لهما ماة وثلاث وعشرون شاة لا حدهما الثلثان وللآخر الثلث فالواجب شاتان فیأخذ من کل منهما شاة فیرجع صاحب الثلثین بالثلثین من الشاة التی دفعها صاحب الثلث ویرجع صاحب الثلث بالثلث من شاة دفعها صاحب الثلثین الخ. (اللرالمختار مع ردالمحتار ۲ :۳۸ قبیل مطلب فی وجوب الزکاة فی دین المرصد)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومنها حولان الحول علی المال العبرة فی الزکاة للحول القمری کذافی القنیة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱ :۱۷۵ کتاب الزکاة)

الجواب: محترم المقام د امت برکاتکم السلام علیکم. واضحه دې وی چه په صورت مسئوله کښې د والد صاحب د طرفه اباحت او اجازت عامه موجود دې تملیک نشته ﴿۱﴾ لعدم الـهبة وغیرهـا من اسباب الملـک. لهذا ددې اولاد دپاره حج کول او تصدق (خیرات) کول صحیح دی البته په دوی باندې فریضه نه لازمیږی لعدم ملک الزاد ولعدم ملک النصاب. وهوالموفق

د نصاب نه کم سره زر او څه رقم او د مهر مؤجل په صورت کښې خاوند باندې د زکوٰة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱) د زید سره پنځه تولو سروزرو زیوراتو او دوه سوه روپو نه زیات رقم دې آیا هغه به د کال تیریدلو نه پس د سروزرو او رقم دواړو نه زکوٰة ورکوی او که نه صرف د رقم نه؟ او سره زر کوم چه د نصاب نه کم دی ددې د زکوٰة څه حکم دې؟ (۲) په زید باندې د مهر حق باقی دې. په کال تیریدلو باندې به خاوند زکوٰة ادکوی یا ښځه؟ په دې صورت کښې خاوند د ښځې مقروض دې او د ښځې په قبضه کښې مال دې د هغې په باقاعدګۍ سره زکوٰة ادا کوی؟ بنیو اتوجروا

المستفتی: حاجی محمد مغل آباد راولپنډی صدر........ ۲۰۱۱۰۱۱۹۲۹

الجواب: (۱) افضل دادی چه د سرو زرو قیمت او نقد دواړو د حاصل جمع نه زکوٰة اداکړې. ﴿۲﴾ (۲) حق مهر په دینِ ضعیفه کښې داخل دې لهذا په ښځه

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: واطلق الملک فانصرف الی الکامل وهو المملوک رقبة ویداً.
(بحر الرائق ۲: ۲۰۳ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو ضم احد النصابین الی الاخر حتی یؤدی کله من الذهب او من الفضة لاباس به لـکـن یـجب ان یکون التقویم بما هو انفع للفقراء قدرا ورواجا والافیؤدی من کل واحد ربع عشر کذافی محیط السرخسی.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۹ الفصل الاول فی زکاة الذهب والفضة)

باندې د حق مهر زکوة نشته یعنی د وصول کولو نه مخکښې (۱) او په خاوند باندې خو قرضه ده نو هغه به د مهر په مقدار باندې زکوة نه ورکوی د مقدار مهر نه زیاتی که چرته نصاب ته رسیدلو نو زکوة به واجبیږی ګنې نه (۲) وهو الموفق

که په پلارباندې د بچوقرضه وی نودې قرض زکوة په چا واجب کیږی؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په پلار باندې د بچو قرضه ده لیکن د پلار طاقت نه وی چه هغه ئې ادا کړی او فارغ شی او دا بالغ بچې هم مطالبه نشی کولې یا پې د مطالبې خیال نه وی اوس به ددې رقم زکوة په بچو واجب وی یا په پلار؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الله (ر) کمانډر ایف سی خیر آباد پشاور ۲۰۱۹۱۱۹۲۹

الجواب: که ځامنو دا قرضه پلار ته معاف کړې وی او د مطالبې خیال ئې نه وی نو ددې زکوة په چا هم نشته او که معاف کړې ئې نه وی نو د ځامنو په ذمه به ددې زکوة واجب وی (۳) وهو الموفق

په یوولس تولو سروزرو کښې شریک پلار او بچو باندې د زکوة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی څلور بچی دی او ټول واده کړی دی او یو ځائې اوسیږی د هغوی سره یوولس تولې سره

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: واما المرأة فلان مهرها على الزوج دين ضعيف وقد استحق الزوج نصفه قبل القبض فلا زكاة عليها مالم يمض حول جديد بعد القبض للباقي تامل. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۴۱ قبیل باب العاشر)

(۲) قال العلامة الحصكفي: فلا زكاة على مكاتب ومديون للعبد بقدر دينه فيزكي الزائدان بلغ نصابا. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۸،۷ كتاب الزكاة)

(۳) قال العلامة الحصكفي: ولو كان الدين على مقرمليء او ... فوصل الى ملكه لزم زكاة مامضى. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۱۰ كتاب الزكاة)

زردی لیکن د شلو زرو مقروض هم دی. د دوی متعلق به د زکوة څه حکم وي؟ بینوا توجروا

المستفتی حبیب الرحمان سیرگله مری ۱۴۰۰۱۸۱۱۲ھ

الجواب: که پلار او ځوې ددې سرو زرو په مشترکه طور سره مالکان وی نوپه دې کښې زکوة فرض نه دې لعدم السبب﴿۱﴾ اوکه ددې یواځې پلار مالك وی اوقرض په پښځه واړوباندې وی نوپه پلار باندې زکوة فرض دې﴿۲﴾ وهوالموفق

د ځوئې په صاحب نصاب کیدلو سره پلار نه غنی کیږی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه پلار فقیر او ځوئې غنی دې د بچې په غنی کیدلو سره پلار غنی کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبیدالله ورانه ضلع کرك. ۱۴ صفر۱۴۰۳ھ

الجواب: د ځوئې په مالدارئ سره پلار نهٔ غنی نه کیږی ﴿۳﴾ په دې مسئله کښې د چا هم اختلاف نشته که یو ځائې اوسیږی او که یواځې. وهوالموفق

د زکوة د رقم ورکیدلو صورت کښې په دویم ځل د ادائیګئ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوسړی دخپلې سرمائې نه دکال تیریدل نه پس د زکوة پیسې جدا کړې اومستحقینو ته د ورکولو

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: ولان سبب وجوب الزکاة ملك النصاب.

(بدائع الصنائع ۲: ۸۳ شرائط فرضیة الزکاة کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: الزکاة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك نصابا ملکا تاما وحال علیه الحول. (فتح القدیر ۲: ۱۱۲ کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ویجوز صرفها الی الاب المعسر وان کان ابنه موسرا کذا فی شرح الطحاوی. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

دپاره ئې په جیب کښې کیښودې دې دوران کښې ترې نه چا جیب اووهلو او ده ته پته هم اونه لګیدله اوس به دا سړې په دویم ځل زکوة اداکوی او که نه دوجوب زکوة نه فارغ شو؟ بینوا توجروا

المستفتی فیض الوهاب اضاخیل نوشهره ۲۷۱۹۱۱۹۸۸

الجواب: دمالک نه د هلاکت په صورت کښې دا زکوة په خپل حالت واپس شو ﴿۱﴾ البته که د عامل (د زکوة چیټرمین) نه ورک شي. یا هلاک شی نو د مالکانو ذمې فارغ دی (هندیه). ﴿۲﴾ وهوالموفق:

د زکوة وکیل نه غلا کیدلو صورت کښې مالک د پاره په دویم ځل د زکوة اداکولو مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې بآره کښې څه فرمائی چه یو سړی چا ته د زکوة مال ورکړو چه دا په فقیرانو کښې تقسیم کړه هغه د زکوة مال ددې سړی نه غلا شو یا ترې نه جیب تراش اووهلو نو آیا په مالک باندې دا زکوة دوباره ورکول لازمی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام احمد عفی عنه

الجواب: او! په مالک باندې ددې زکوة دوباره ادا کول لازمی دی ځکه چه د زکوة په اداکولو کښې اګر چه نیابت جائزدې (لما فی الدر المختار: العبادة المالیة

﴿۱﴾ قال العلامة الطاهر بن عبد الرشید البخاری: رجل عزل زکوة ماله ووضعها فی ناحیة بیته فسرقها سارق لا یقطع یده للشبهة وعلیه ان یزکیها.

(خلاصه الفتاویٰ ۱: ۲۳۸ قبل الفصل السادس کتاب الزکاة)

وقال ابن عابدین: فلو ضاعت لا تسقط عنه الزکاة ولو مات کان میراثاعنه بخلاف ما اذا ضاعت فی یدالساعی لان یده کید الفقراء. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۲ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو هلک المال فی ید العامل او ضاع سقط حقه واجزأ عن الزکاة عن المؤدین. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

كزكوٰة وكفارة تقبل النيابة عن المكلف مطلقا عند القدرة والعجز(كتاب الحج) ﴿۱﴾ ليكن د ذمې فراغت په نيت سره اداكولو باندې حاصليږی. برابره خبره ده چه اصالة وی يا وكالة وی چه هغه دلته اونه موندلې شو.

بخلاف ما اذا هلک عند الساعی والعامل لانه وكيل الفقراء دون الملاک، فی الدرالمختار او مقارنته بعزل ما وجب كله اوبعضه ولا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء الى الفقراء. قال الشامی: قوله لا يخرج عن العهدة بالعزل فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكوٰة ولومات كان ميراثا عنه بخلاف ما اذا ضاعت فی يد الساعی لان يده كيد الفقراء (ردالمحتار ۲: ۱۵) ﴿۲﴾ قلت ويد الوكيل يد الموكل فافترقتا. وهو الموفق

د زكوة په اداكولو كښې به د موجوده ښار قيمت معتبر وی.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره څه فرمائې چه يو تا جر د پيښور نه په دوه سوه روپې د ګوړې بوجې راوړی او دلته په كوهاټ كښې ئې په ۲۷۰ روپې خرڅوي، اوس د رجب مياشت راغله ليكن بوجئ لا خر څه شوې نه ده. نو زكوة به د دوه سوو روپو په حساب سره وركوی يا د دوه سوه اويا روپو (۲۷۰) په حساب سره؟ بينوا توجروا

المستفتی. شاه جهان ملنګ كرک ضلع كوهاټ.....۱۲رجب ۱۳۹۷ هـ

الجواب:د زكوة په مسئله كښې به د هغه ښار قيمت معتبر وی په كوم كښې چه دا مال موجود وی.(كما فی شرح التنوير ۲: ۳۰ ويقوم فی البلد الذی المال فيه ﴿۳﴾ وهوالموفق

د تكميل نصاب وخت نه به حولان حول معتبر وي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائې چه د يوې ښځې سره

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۲۵۷ باب الحج عن الغير)

﴿۲﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۲ كتاب الزكاة)

﴿۳﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۳ باب زكاة الغنم)

تقریباً اووه۷ تولې سره زر دواده په وخت کښې موجود وو، د یو کال تیریدلو نه درې څلور میاشتې پس ورته د دوه تولو یو کالې بل ملاؤ شو اوس د زکوة ادا کولو دپاره به د واده نه حولانِ حول معتبر وی او که نه د آخرنی کالی ملاویدلو نه پس به معتبر وي؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: که ددې ښځې سره ددې سروزرو نه علاوه سپین زر او روپې نه وی نو حولانِ حول به د اخرنی کالې ملاویدلو د وخت نه معتبر وی «لتحقق الغنا عندها لا قبلها(۱)» وهوالموفق

حاجاتِ اصلیه کښې په نه لګولې شوې رقم باندې به باقانده زکوة واجب وي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو مهاجر سره په پاکستان کښې دوه لاکهه روپئ موجود دی که دا سړې په دې باندې زمکه واخلی کور پرې جوړکړی نو دا دوه لاکهه روپې په هغې باندې خرچ کیږی لیکن هغه تر اوسه پورې کور نه دې جوړ کړې، که په دې روپو باندې پوره کال تیرشی نو دیکښې به زکوة واجب وی. یا نه؟بینوا توجروا

المستفتی:عبدالله وزیر مارکیټ میران شاه.........۱۸شعبان ۱۴۰۹هـ

الجواب:داکثر و فقهاؤ په نزد به دې سړی باندې زکوة واجب کیږي. «ویؤیده ما قالوازائدعن الحوائج الاصلیة ولم یقولوا زائد عن قیمة الحوائج الاصلیة وهوالموفق

د زکوة پیسې د مقروض په قرضه کښې د ورکولو مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی ته د قرضې

(۱) قال العلامة ابن عابدین: قوله لحولانه علیه ای لان حولان الحول علی النصاب شرط لکونه سببا وهذا علة للنسبة وسمی الحول حولا لان الاحوال تتحول فیه او لانه یتحول من فصل الی فصل من فصوله الاربع.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵ مطلب الفرق بین السبب والشرط والعلة)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: فی المعراج فی فصل زکاة.... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ضرورت وو. ما د یو بل کس په نوم خط ورکړو د هغه نه ئې قرضه واخستله. بیا ورستو ئې کاروبار هم خراب شو. اوس ورسره د قرضې اداکولو د پاره رقم هم نشته اوس که څه دزکوة پیسې ددې مقروض په قرضه کښې ادا کړم نو آیا زکوة به ادا شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: میاں سراج الدین نوشهره صدر ۱۱۳ رجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: ته ددې مقروض (دیوالیه) قرض دهغه د حکم نه پس د مال زکوة نه ادا کولې شې یعنې ستا زکوة به هم ادا شی او دهغه به د قرضې نه ذمه هم فارغ شی. کما فی رد المحتار ۱:۲۰۲ ولو قضٰی دین الفقیر بزکوٰة ماله ان کان بامره یجوز وان کان بغیر امره لا یجوز وسقط الدین ﴿۱﴾ وهو الموفق

په مقروض باندې د قرضې زکوة واجب نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مثلاً زید د کور جوړولو د پاره د حکومت نه قرضه حاصله کړه. او په څه وجې سره ئې تعمیر شروع نه کړو. اوس په دې قرضه باندې کال تیر شو. آیا ددې قرض په پیسو باندې زکوة ادا کول واجب دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد صوبائی اسمبلی صوبه سرحد .... ۱۹۹۱\۵\۲۱

الجواب: ته چه په کوم تاریخ باندې باقاعده زکوة ادا کوې نو هغه وخت کښې

(بقیه حاشیه) العروض ان الزکاة تجب فی النقد کیفما امسکه للنماء او للنفقة وکذا فی البدائع فی بحث النماء التقدیری.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷ مطلب فی زکاة ثمن المبیع کتاب الزکاة)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۸ باب المصرف وهکذا فی فتاوئ عالمگیریة ۱: ۱۹۰ الباب السابع فی المصارف)

دا قرضه او نورې قرضې د زکوة نه مستثنا کړه **﴿۱﴾** وهو الموفق

د قرض زکوة په مقروض نشته قرض ورکونکې باندې دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی (۱) که یو سړې د چا نه قرضه واخلی او دا پیسې ورسره ټول کار پرتې وی او د واپس کولو طاقت ئې هم لری لیکن هغه په دې باندې کاروبار کوی او س به زکوة په چا واجب وي؟ (۲) دوه رونړه په کاروبار کښې شریک او د تقسیم نه پس غټ رور باندې ورکوټی رور ته شل زره روپې ادا کول پریو تل لیکن په پوره کال کښې ئې دا پیسې ادا نکړې او په هغې ئې کاروبار کولو نو او س به زکوة په چا واجب وي؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد انور صوابی ۱۰\۱۱ذی القعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: (۱) دقرض په مقدار زکوة د قرض اخستونکی نه ساقط دې. **﴿۲﴾** او په قرض ورکونکی باندې فرض دی (شامی، بحر، هندیه) (۲) په صورت مسئوله کښې به ددې رقم زکوة په دې ورکوټی رور باندې فرض وی په غټ رور باندې نه. (شامي، بحر، هندیه) **﴿۳﴾**وهوالموفق

مقروض ته په زکوة کښې قرضه پریخودلو سره زکوة نه ادا کیږي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که په یو سړی باندې

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: فلازکاة علی مکاتب ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الزائدان بلغ نصابا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷،۸ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الزائدان بلغ نصابا (قوله بقدر دینه) متعلق بقوله فلا زکاة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۸ مطلب فی زکاة ثمن المبیع وفاء کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: ولوکان الدین علی مقر ملئ ..... فوصل الی ملکه لزم زکاة ما مضی.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۰ مطلب فی زکاة ثمن المبیع وفاء کتاب الزکاة)

څما قرضه وی او د اداکولو طاقت ئې نه لری او د شرم نه دا هم نشي وئیلې چه قرض راته په زکوة کښې پریږده. لهذا که څه ورته پخپله باندې قرضه په زکوة کښې پریږدم نو دا زکوة به ادا شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی نظیر باد شاه کوهاټ... ۲ صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: په قرضه پریخودلو سره زکوة نه ادا کیږي، لهذا د قارض دپاره ضروری ده چه مخکښې مقروض ته زکوة ورکړی او د قبض کولو نه پس ئې ترې نه په خپله قرضه کښې وصول کړی ﴿۱﴾وهوالموفق

د بینک په زکوة فنډ کښې د نفع نقصان په بنیاد باندې د زیاتی حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په آزاد کشمیر کښې هم دپاکستان پشان زکوة وصول کیږی او تقسیم کیږی چه کله داپیسې بینکونو کښې د نفع نقصان په بنیاد باندې جمع کیږی نو په هغې باندې نفع راځی نو اوس دا نفع د زکوة حصه ده که د مالکانو ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سردارمحمد ابراهیم خان

چیف ایډمنسټریټر زکوة مظفر آباد کشمیر ۹\۶\۱۹۷۲

الجواب: دا حقیقت دې چه په بینکونو کښې د ارباب الاموال مالونه مخلوط کیښودلې کیږی. مسلم. غیرمسلم. باسود. بلا سود. زکوة او غیر زکوة هیڅ فرق نه وی البته په هغې کښې کاغذی او اعتباری فرق وی نوچه په کاغذانو کښې کله د زکوة متعلق کاروائی کیږی نو د هغه وخت نه دا زکوة ګویا حکومت جدا کړو او وصول ئې کړو. د هغې نه پس چه پکښې کوم زیاتې

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: واعلم ان اداء الدين عن الدين والعين عن العين وعن الدين يجوز واداء الدين عن العين وعن دين سيقبض لا يجوز وحيلة الجواز ان يعطى مديونه الفقير زكاته ثم يأخذها عن دينه قال في الشامية (قوله واعلم) الثانية اداء دين عن دين سيقبض كما تقدم عن البحر وهو مالو ابرأ الفقير عن بعض النصاب ناويا به الاداء عن الباقي. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۳ كتاب الزكاة)

کیږی هغه به د بیت المال او فقیرانو په حق کښې وی نه دا چه د ارباب الاموال په حق کښې (ونظیره ابل الزکوة والاضحیة اذ ولدت(۱) فافهم، وهو الموفق

د بینک د زکوة اخستلو طریقه د نه صحیح کیدلو په صورت کښې پخپله د ادائیګئ طریقه

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زيد په بينک کښې رقم جمع کړو بينک والؤ د سود پيسې په هغې کښې شاملې کړې بينک د هغې رقم نه يو کال پس زکوة هم لرې کړو او زيد وائی چه څه به زکوة پخپله دوباره ادا کوم ځکه چه حکومت د زکوة رقم په صحيح مقصد کښې ئې نه خرچ کوی اوس به ددې دويم ځل زکوة ادا کولو څه طريقه اختيارولې شي؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد شفيع راولپنډی..... ۱۲ ربيع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: بينک کښې د جمع شوی رقم نه حکومت په زور باندې زکوة جدا کوی او دهغوی عمله د بې علمئ يا بې دينئ په وجې سره دا زکوه باقاعده په مصارفو باندې خرچ کولو نه قاصره ده نو افضل داده چه مالکان باقاعده زکوة ادا کړی. (۲) او کټوتی په سودی رقم کښې شمار

(۱) مطلب دادې چه کله حکومت د بينک نه دزکوة رقم په کهاته کښې اوليکو نو چه اوس پرې کومه اضافه او نفع راځی هغه به په فقيرانو کښې تقسيميږی ځکه چه په بينک کښې د جدا کيدلو په صورت کښې د مالک د ملکيت نه دا پيسې وتلې وې مثلاً عامل چه په زکوة کښې اوښان وغيره وصول کړی نو د شاهی خزانې په مد زکوة کښې به جمع کيږی دې زمانه کښې که د هغې بچې پيدا شو نو هغه به د صدقې حسابيږی هم دغه شان دا هم دی مثلاً د قربانئ دپاره ئې څاروې واخستلو او د ذبحه کولو نه مخکښې ئې بچې پيدا شو نو د قربانئ د تعين په وجه سره به د هغې بچې هم ذبحه کولې شی يا به صدقه کولې شی قال الحصکفی: ولدت الاضحية ولداً قبل الذبح يذبح الولد معها وعند بعضهم يتصدق به بلا ذبح. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۵:۲۲۷ باب الاضحية)

(۲) قال العلامة الکاسانی: واما سلاطين زماننا الذين اذا اخذوا الصدقات والعشور والخراج لا يضعونها مواضعها فهل تسقط هذه الحقوق عن اربابها؟ اختلف المشائخ فيه ذکر الفقيه ابو جعفر الهندوانی: انه يسقط ذلک کله وان.....

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

کړئ مثلاً که مالک نو ته اووه نیمې روپې په سلو پسې ملاویږي نو دا
او کنړئ چه هغوی ته پینځه روپې سود ملاؤ شوې دې او دوه نیمې روپئ
حکومت کټوی کړې ده وهو الموفق

تر اوسه د حکومت نظام زکوة صحیح اوباقاعده دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دینی مدرسو ته د
حکومت د طرفنه کوم زکوة ملاویږی د هغې اخستل شرعاً څنګه دي؟ چه کله
نظام د شرعی اصولو مطابق نه دې نو آیا دا زکوة اخستل به د دغه غلط نظام
تائید نه وي؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانا نثار الله باچا اضاخیل بالا نوشهره....... ۹۱۱۱۱۱۹۷۵

الجواب: تر اوسه پورې د حکومت د لیک او عمل مطابق نظامِ زکوة صحیح
دې دې ته نظامِ زکوة وئیل غلط نه دی د منیجرانو او کار کونکو د معاملاتو
په وجې سره دا غیر اسلامی ګرځول بې قاعدې کار دې. وهو الموفق

په بینکونو کښې جمع رقمونه سرکاری طور
سره د زکوة وصولی او د تقسیم کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه تیر کال نه په بینکونو
کښې سرکاری طور سره د زکوة د وصول کولو قانون نافذ دې چه د هغې مطابق
حکومت په سیونګ بینکونو کښې د جمع شوی رقمونو زکوة په یو خاص تاریخ
باندې کټ کوی د بعضې حضراتو خیال دې چه په دې طریقې سره زکوة نه
اداکیږی هغوی ددې یو څو وجوهات بیانوی (۱) چه ترڅو حکومت غیر اسلامی
کارونه ختم نکړی او د غیرشرعی کارونو سرپرستی پرېږدي نه ترهغې پورې
حکومت ته د زکوة وصولولو حق نه حاصلیږی پس په دې حالاتو

(بقیه حاشیه) کانوا لا یضعونها فی اهلها لان حق الاخذ لهم فیسقط عنا باخذهم ثم انهما ان
لم یضعوها مواضعها فالوبال علیهم.
(بدائع الصنائع ۲: ۱۲۷ فصل واما شرط ولایة الاخذ کتاب الزکاة)

کښې د حکومت زکوة کټ کول صحيح نه دی (۲) د زکوة انتظاميه چه کومه تشکيل کړې شوې ده په هغې کښې مسلمانان او غيرمسلمه ټول شامل دي. لهذا داسې انتظاميه د زکوة وصول کولو مجاز نه ده. (۳) شرعا په بچو او ليونو باندې زکوة نشته دغسې څوک چه قرضدار وی او د قرض لرې کولو نه پس چه د نصاب په اندازه باندې پيسې نه باقی کيږی په هغې هم زکوة نشته او حکومت بغير امتيازه د ټولو د کهاتې نه زکوة کټ کوی (۴) اسلامی حکومت ته صرف د اموال ظاهره د زکوة اخستلو حق دې الغرض د دې مسئلې په باره کښې ستاسو صاحبانو رائې څه ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولانا سليم الله خان صاحب

ناظم اعلی وفاق المدارس العربيه (کراچي) ۱۴۰۱\۲\۱۳

الجواب: واضحه دې وی چه زمونږ په نزد دا مخالفين په حقه دی ځکه چه دا معهود رقم په اموال ظاهره کښې داخليدلې شي (۱) او د مقروض د طرفه اجازت او توکيل هم حاصليدلې شی ليکن د ارباب حکومت د بې علمئ او بې دينئ او علماؤ باندې د بې اعتمادئ په وجې سره د هغوی نه دا توقع نشته چه د شريعت مطابق اخستل او خرچ کول د زکوة اوکړي. پس حکومت ته د وصول زکوة فتوی ورکول په اضاعت زکوة کښې ناجائز معاونت دې وهوالموفق

د پاکستانی حکومت په مروجه نظام زکوة باندې اعتراض او دا د شرک مترادف ګرځولو حکم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ۱۳ جولائی کراچی کښې د پاکستان چټائی کانفرنس کنوينر مختار علی د زکوة په مروجه نظام حکومت باندې صفا اعتراض اوکړو وئيل ئې (۱) چه مروجه نظام کميټی برائې زکوة نه د زکوة تقسيمولو حقدار ده او نه د وصول کولو حقدار ده دا حقوق الله په حقوق العباد کښې د بدلولو مترادف دی (۲) دا عمل شرک يا مترادف د شرک دې (۳) او موجود حکومت په صحيح معنو کښې اسلامی

(۱) قال العلامة ابن عابدين: والاموال الظاهرة هی التی ياخذ زکاتها الامام وهی السوائم وما فيه العشر والخراج وما يمر به علی العاشر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶ مطلب فيما لو صادر السلطان رجلا فنوی بذلک اداء الزکاة کتاب الزکاة)

ریاست نه دي، ددي قسم خبرو څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی:خلیل انورادینه صوابی....... ۲۷ شوال\۱۴۰۲ھ

الجواب: (۱) اسلامی حکومت دا اموالِ ظاهره نه د زکوة اخستلو مستحق دي (بدائع وغیره) ﴿۱﴾ او د حقوق تبدیلی په دي موجوده نظام تقسیم کښې نشته بلکه ددي معترض په نظام مجوزه کښې مظنون دي.اود حقوقو په ذواتو کښې تبدیلی نشی راتللي، البته د احکاماتو په اجراء کښې راتللي شی.(۲) دا خو د ساخته شرک دي. (۳) په پاکستان کښې د مسلمانانو حکومت دي خو اسلامی حکومت نشته او نه پکښې تر اوسه پورې د اسلامی نظام اجراء شوي ده. وهوالموفق

د کاغذی نوټ په ذریعې سره زکوة ادا کیږي

سوال: علمائې دین دي مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما یو فقیر ته د سلو روپو یو نوټ په زکوة کښې ورکړو د قبضه کولو نه پس هغه نوټ دهغه نه ورک شو یا اوسوزیدلو نودا خو مال نه دي رسیدي او سند دي آیا په دي سره څما زکوة اداشو؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولانا فضل غنی ډومیل بنون...... ۱۹۸۷\۳\۱۰ء

الجواب: نوټ ثمنِ عرفی اوثمنِ رائج دي د فلوسو پشان نوځنګه چه په دي

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: اما الظاهر فللامام ونوابه وهم المصدقون من السعادة والعشار ولایة الاخذ والساعی هو الذی یسعی فی القبائل لیأخذ صدقة المواشی فی اماکنها، والعاشر هو الذی یاخذ الصدقة من التاجر الذی یمر علیه والمصدق اسم جنس، والدلیل علی ان للامام ولایة الأخذ فی المواشی والاموال الظاهرة الکتاب، والسنة، والاجماع واشارة الکتاب. (بدائع الصنائع ۲:۱۳۵ فصل واما بیان من له المطالبة باداء الواجب فی السوائم والاموال الظاهرة کتاب الزکوٰة)

غنا حاصلیږی دغه شان پرې زکوة هم اداکیږی په جنس سره د تبادلې ضرورت نشته

لان الشخص الفقير كما يصير غنيا بالنوت لاستحقاقه الفضة فى خزانة الحكومة (سٹیٹ بینک) فكذلک الفقير يكون مالكا لهذا القدر من الفضة فى خزانة الحكومة بقبض النوت فى الزكاة فافهم ﴿۱﴾. وهو الموفق

---

(۱) دا مسئله د علماؤ په مينځ كښې مختلف فيه باتې شوې ده چه د كاغذى نوټ حيثيت د ثمن دې يا محض سند دې د حضرت تهانوي. مفتى شفيع صاحب ﷫ او نورو ډيرو علماؤ رائې ده چه ددې حيثيت محض د وثيقې او د قرض د سند دې او گويا ددې خبرې كاغذى ثبوت دې چه د روپو والا دومره مال د حكومت په ذمه قرض دي

(كما فى امداد الفتاوىٰ ۲:۵ كتاب الزكوة والصدقات، وآلات جديده كے شرعى احكام ۱۹۷)

او د حضرت مولانا عبدالحى لكهنوى ﷫ د بعضې فتاوى نه معلوميږى چه د هغوى ديته د قيمت او مستقل مال حيثيت وركوى مثلاً په كتاب البيع مسئله نمبر ۲۴ كښې فرمائي: نوټ اگرچه خلقة ثمن نه دې مگر عرفاً د ثمن په حكم كښې دې بلكه عين ثمن گڼلې كيږى په دې وجې سره كه څوک د سلو روپو نوټ هلاک كړى نو اصل مالک د سلو روپو تاوان اوچتوي. الخ (مجموعه الفتاوى ۲ ۱۳۲ كتاب البيوع)

چونكه په دې زمانه كښې د كاغذى نوټونو استعمال مروج دې نو د اكثرو علماؤ په نزد دا مروجه كرنسى نوټ د ثمن عرفي. فلوس نافقه او مستقل مال په حكم كښې دى او هم دا راجح دى حضرت مفتى اعظم شيخ الحديث دامت بركاته په منهاج السنن شرح جامع للترمذى ۳: ۱۲۷ باب ما جاء فى زكوة الذهب.. كښې فرمائى

اختلف الاكابر فى حقيقة النوت قال بعضهم انه قبالة الحوالة وليس بثمن فلا تتادىٰ به الزكوة مالم يستبدله الفقير بالجنس، وقال بعضهم هو ثمن رائج لانه يتوسل به الى حصول الاجناس مثل الدراهم المغلوبة الفضة والفلوس، وكذا لا يقصد به عند الاخذ والاعطاء الا ما يقصد عند اخذ الدراهم الرائجة والفلوس واعطائها ولا يخطر ببال احد ما يقصد من الحوالة والقبالة فافهم. واعلم انه لما كفى تملكه لوجوب الزكوة كفىٰ تمليكه لفراغ الذمة ايضا كما لا يخفىٰ، قلت ويؤيد كونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من اقترض عدداً من النوت لا يؤدى المقرض الا هذا العدد وان تفاوتت الدراهم فى قدر الفضة. ......(ازمرتب)

د کاغذی کرنسی په ادائیگئ سره زکوٰة ادا کیږی

سوال علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په امداد المفتین ص ۴۵ کښې دی په نوټ سره زکوٰة نه ادا کیږی ځکه چه نوټ بخپله مال نه دې بلکه د مال رسید دې لکه چه د بینک چیک وی الخ مګر بعضې علماء کرام فرمائی چه نوټ هم د سپینو زرو پشان دې تاسو خپله رائې اولیکئ مهربانی به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی ملا عبید الله تحصیل دکی بلوچستان ۳ ذی قعده ۱۴۰۴ھ

الجواب: نوټ د فلوسو پشان ثمن عرفی دې لکه څنګه چه په دې کاغذی نوټونو سره مالدار توب او وجوب د زکوٰة متحقق کیږی نو دغه شان ئې په ادائیګئ سره ذمه هم فارغه کیږی(۱) وفی کونها حوالة او قبالة اشکالات لاتنحل. وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة عبد الرحمن الجزیری: جمهور الفقهاء یرون وجوب الزکاة فی الاوراق المالیة (البنکنوت) لانها حلت محل الذهب والفضة فی التعامل ویمکن صرفها بالفضة بدون عسر، فلیس من المعقول ان یکون لدی الناس ثروة من الاوراق المالیة، ویمکنهم صرف نصاب الزکاة منها بالفضة، ولا یخرجون منها زکاة ولذا اجمع فقهاء ثلاثة من الائمة علی وجوب الزکاة فیها. (الفقه علی المذاهب الاربعة ۱ :۵۲۸ زکوٰة الاوراق المالیة)

وقال الدکتور وهبة الزحیلی: (الاوراق النقدیة والنقود المالیة) ان هذا النظام ظهر حدیثا بعد الحرب العالمیة الاولیٰ فلم یتکلم فیه فقهاء نا القدامی وقد بحث فقهاء العصر حکم زکوٰة هذه النقود الورقیة فقرر وا وجوب الزکاة فیها عند جمهور الفقهاء (الحنفیة، والمالکیة، والشافعیة) لان هذه النقود اما بمثابة دین قوی علی خزانة الدولة او سندات دین او حوالة مصرفیة بقیمتها دینا علی المصرف ــــ والحق وجوب الزکاة فیها لانها اصبحت هی اثمان الاشیاء، وامتنع التعامل بالذهب ولم تسمح ای دولة باخذ الرصید المقابل لای فئة من اوراق التعامل ولا یصح قیاس هذه النقود علی الدین، لان هذا الدین لا ینتفع به صاحبه وهو الدائن ولم یوجب الفقهاء زکاته الا بعد قبضه ــــ (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

مروجه کرنسی ثمن عرفی دې لهٰذا په دې سره زکوة ادا کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په زکوة کښې کاغذی نوټ ورکولې شی کوم چه د اصل مال قائم مقام دې یا د هغې رسید دې آیا په دې سره زکوة ادا کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی رحمان الدین شرینګل ضلع دیر ۳/۸/۱۹۷۷

الجواب: د نوټ متعلق اکابر مختلف رائې والا دی بعض دینه حواله یا رسید وائی او بعضې ئې ثمنِ عرفی ګرځوی.

وهو الراجح لانه المتعارف والمتفاهم ولان فی عکسه اشکالات لا تنحل کما فی الصورة القرض والودیعة اذا غلا السعر ولانه کما حصل به الغناء لکان الاداء به ایضا حاصلا فافهم وتدبر﴿۱﴾. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) لاحتمال عدم القبض، اما هذه النقود فینتفع بها حاملها فعلا کما ینتفع بالذهب الذی اعتبر ثمنا للاشیاء وهو یحوزها فعلا فلا یصح القول بوجود اختلاف فی زکاة هذه النقود والقول بعدم الزکاة فیها لا شک بانه اجتهاد خطأ الخ.
(الفقه الاسلامی وادلته ۳: ۱۸۲۴ زکاة النقود)

وقال الشیخ المفتی الاعظم محمد فرید: اختلف الاکابر فی حقیقة النوت، قال بعضهم انه قبالة الحوالة ولیس بثمن فلاتتادی به الزکاة مالم یستبدله الفقیر بالجنس وقال بعضهم هو ثمن رائج لانه یتوسل به الی حصول الاجناس مثل الدراهم المغلوبة الفضة والفلوس وکذا لا یقصد به عند الاخذ والاعطاء الا ما یقصد عند اخذ الدراهم الرائجة والفلوس واعطائها ولا یخطر ببال احد ما یقصد من الحوالة والقبالة فافهم، واعلم انه لما کفی تملکه لوجوب الزکاة کفی تملیکه لفراغ الذمة ایضا کما لا یخفی، قلت ویؤید کونه اثمانا رائجة ان المتعارف ان من اقترض عدداً من النوت لا یؤدی لمقرض الا هذا العدد وان تفاوتت الدراهم فی قدر الفضة. (منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۳: ۱۰۲ زکوٰة الذهب الورق)

﴿۱﴾ مر تفصیله قریباً فلیراجع.

شیعه ته د زکوة ورکولو یا د عامل جوړولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې څو کورونه د اهل سنت دی او عام طور سره دلته شیعه ګان آباد دی په دې علاقه کښې د زکوة وصول کولو د پاره شیعه چیئرمینان مقرر دی هغوی زمونږ نه زکوة وصول کوی او حکومت ته ئې ورکوی. اوبیا تری نه اهل تشیع ته هم ورکوی که مونږ ورکولو نه انکار اوکړو نو هغوی ئې په زور اخلي. اوس سوال دادې چه دې صورت کښې زمونږ زکوة ادا کیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ملک عبدالله کا هګړه ډی آئی خان. ۱۹۸۷،۳،۱۵

الجواب: شیعه ګان عام طور سره د اسلام نه خارج دی لهذا هغوی د زکوة چئرمینان (مشران) مقررکول زکوة ضائع کول دی (۱) ځکه چه عامل ته هم د زکوة نه حصه ورکولې کیږی (۲) وهوالموفق

د زکوة نه بچ کیدلو د پاره ځانته شیعه او جعفری وئیل اولیکل

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو صحیح العقیده سنی مسلمان بغیر د څه زور زیاتې نه په هوش او حواس کښې خالص د حکومتی زکوة کټ کولونه د بچ کیدو دپاره په بینک کښې خپل ځان شیعه یا جعفری لیکی. او په فارم باندې د شیعه مجتهد دستخط هم وی او د ګواهانو دستخطې پرې هم وی ددې سړی څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عطاء محمد شاه کند یا شریف میاں والی...... ۱۹۸۸،۲،۲۴

---

(۱) وفی الهندیة: ویشترط فی العامل ان یکون حراً مسلماً غیر هاشمی کذافی البحر ناقلا عن الغایة. (فتاوی عالمګیریة ۱: ۱۸۳ الباب الرابع فیمن یمر علی العاشر)

(۲) وفی الهندیة: واما اهل الذمة فلا یجوز صرف الزکاة الیهم بالاتفاق.
(فتاوی عالمګیریة ۱: ۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

الجواب: (۱) کوم کس چه د اسلام د دعوی باوجود د ضروریات دین نه منکر وی نو هغه ته مرتد وئیلې کیږی او هم په دې وجه باندې شیعه ګان کافران دی **﴿۱﴾** (۱) او کوم کس چه د شیعه کیدلو دعوی کوی نو که اعتقاداً وی او که په ټوقو سره وي، **﴿۲﴾** هغه هم کافر دې وهو الموفق

ګاډې که د تجارت د پاره نه وی نو د هغې په آمدنۍ کښې به زکوٰة واجب وی په قیمت کښې نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کوم رقم باندې کال نه وی تیر شوې او په هغې باندې د کرایه او آمدنۍ د پاره ګاډی واخستلې شو نو دې ګاډی کښې به زکوٰة څنګه ادا کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: رحمت الله ماړی پور کراچي

الجواب: د دې ګاډی په قیمت کښې زکوٰة واجب نه دې البته د حاصلاتو او آمدنۍ نه به باقاعده زکوٰة ادا کولې شی. **﴿۳﴾** وهو الموفق

د دوکان په عمارت او فرنیچر باندې زکوٰة واجب نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما تیر کال یو میډیکل

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: والكفر شرعاً تكذيبه ﷺ في شيء مما جاء به من الدين ضرورة. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۳۱۱ باب المرتد)

﴿۲﴾ قال القاری: وفی المحیط وفتاویٰ الصغریٰ ایضا: من لقن غیره کلمة الکفر لیتکلم بها کفر الملقن وان کان علی وجه اللعب والضحک.

(شرح فقه الاکبر ۱۸۲ فصل فی الکفر صریحا و کنایة)

وفی الهندیة: الهازل او المستهزئ اذا تکلم بکفر استخفافا واستهزاء ومزاحاً یکون کفرا عندالکل وان کان اعتقاده خلاف ذلک. (فتاویٰ عالمگیریة ۲: ۲۷۶ مایتعلق بتلقین الکفر الخ باب احکام المرتدین)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ولو اشتری قدوراً من صفر یمسکها ویؤاجرها لا تجب فیها الزکاة کما لاتجب فی بیوت الغلة (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۸۰ قبیل مسائل شتی کتاب الزکاة)

ستور جوړ کړو زمکه د بل چا ده دکان پرې ما جوړ کړو. فرنیچر هم ما جوړ کړو. اوس سوال دې چه په دې فرنیچر اود دوکان په عمارت باندې زکوة واجب دې یا نه؟ حال دا چه شل زره قرضدار هم یم؟ بینوا توجروا

المستفتی احسان الله یونیورسٹی میډیکوز زرعی یونیورسټی پشاور ۲۴\۲\۱۹۸۲

الجواب: د عمارت او فرنیچر یعنی الماریٔ وغیره په قیمت کښې زکوة فرض نه دې ﴿۱﴾ ته نقد زیورات ددوایانو قیمت. بینک کښې جمع شوې پیسې او قرضه تول جمع کړه او د حاصلِ جمع نه دا شل زره روپې منفی کړه باقی کښې څلویښتمه وزکړه ﴿۲﴾ وهو الموفق

د حولانِ حول نه پس د نور رقم راتللو صورت کښې دزکوة مسئله.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه چه یو سړې سره اګست ۱۹۲۸ نه واخلې تر اوسه پورې تقریباً دوسوه روپیٔ د حاجتونو نه پاتو پرتې دی او په اګست ۱۹۲۹ ء کښې تقریباً یو زر یا څه زیاتې لاس ته راغلې چه دا سړې ئې داګست دمیاشتې نه پس مالک شو نو دا سړې به د دوه سوو نه زکوة ادا کوی یا د زرو روپونه هم؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد عجب خان کهنډه صوابی ...... ۲۵\۹\۱۹۲۹

الجواب: که دادویم رقم په هغه وخت کښې لاس ته راغلې وی چه په اولنی رقم باندې حولانِ حول تیرشوې وو یعنی پوره کال پرې تیرشوې وو نو دا سړی به صرف ددوه سوو روپو زکوة ورکوی ﴿۳﴾ اوکه د حولانِ حول نه مخکښې دا

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: ولا في ثياب البدن واثاث المنزل ودور السكنى ونحوها...... وكذلك آلات المحترفين. (الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۸ كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ قال العلامة برهان الدين المرغيناني: ومن كان عليه دين يحيط بماله فلا زكاة عليه وان كان ماله اكثر من دينه زكى الفاضل اذا بلغ نصابا.

(هداية على صدر فتح القدير ۲: ۱۱۷، ۱۱۸ كتاب الزكاة)

﴿۳﴾ وفي الهندية: فان استفاد بعد حولان الحول فانه لا يضم ... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

دویم رقم ملاؤ شوې وی نو د دواړو رقمونو نه به زکوة ورکول ضروری وی
(والمسئله مذکورة فی جمیع کتب الفقه. وهو الموفق

د کال په مینځ کښې مال مستفاد به په حولان حول کښې د سابقه نصاب تابع وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه یو سړې په نقد مال کښې صاحب نصاب دې د حولان حول نه مخکښې هغه یو ټرک خرڅ کړو. په مشتری باندې قسط وار قرض پاتې شو. اوس دا قرض (د ټرک قیمت) د مال مستفاد قبیلې نه شو نو د مخکښې نه د موجود نصاب سره به یو ځائې کولې شی که نه ځانته حولان حول ورته شرط دې؟ بینوا توجروا

المستفتی قاری عبد الجلال دار العلوم حسینیه رزمک ۱۹ رجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: دا مالِ مستفاد د نورو مالونو سره ضم کول او زکوة ورکول ترنه لازمی دی په دې رقم (د ټرک په قیمت) باندې مستقل حولان حول ضروری نه دې.
کما فی الدر المختار ۲: ۳۱ المستفاد ولو بهبة اوارث ادخل فیه المفاد بشراء او میراث او وصیة وماکان حاصلا من الاصل کالاولاد والربح کما فی النهر وسط الحول یضم الی نصابه من جنسه فیزکیه بحول الاصل انتهیٰ ﴿۲﴾ وبمعناه فی الهندیة ۱: ۱۸۶ ﴿۳﴾
لیکن ددې قرضې زکوة به قسط وار ورکوی یعنی چه څومره رقم وصول کړی

(بقیه حاشیه) ویستانف له حول آخر بالاتفاق. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۵ الباب الاول فی تفسیرها وصفتها وشرائطها کتاب الزکوة)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالا من جنسه ضمه الی ماله وزکاه (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۵ الباب الاول فی تفسیرها وشرائطها کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۵ باب زکاة الغنم)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالا من جنسه ضمه الی ماله وزکاه سواء کان المستفاد من نمائه او لا وبای وجه استفاد (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د هغې زکوٰة به ورکوی.﴿۱﴾ وهو الموفق

د حولانِ حول نه مخکښې اخستلې شوی کاڼې باندې د زکوٰة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زید سره نقد مال دې او د څو نصابونو مالک دې هغه د حولانِ حول نه مخکښې په دې مال باندې د مزدورئې د پاره لارئې واخستلې نو دې لارئې د قیمت نه زکوٰة ادا کول لازمی دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی حاجی دلبر گندهاب ... ۱۹۷۹،۱۸۱۸۱

الجواب: په صورتِ مسئوله کښې زید باندې د لارئې د قیمت نه زکوٰة ادا کول د یو امام مذهب هم نه دې او نقد اموالِ زکوٰة دی لیکن په هغې حولانِ حول شرط دې او لارئې چه د اخستلو خرڅولو د پاره نه وی او د مزدورئې د پاره وی نو دا مالِ زکوٰة نه دې

ونظیره ما فی مجموعة الفتاوىٰ ۱:۳۶۳ ولو اشترىٰ قدورا من الصفر یمسکها ویوادع لایجب فیها الزکاة کما لا یجب فی بیوت الغلة کذا فی قاضی خان﴿۲﴾. وهو الموفق

د باقاعده هبې او تملیک په صورت کښې
به زکوٰة په موهوب له باندې فرض وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما د خپلو بچو بالغو

(بقیه حاشیه) ضمه سواء کان بمیراث او هبة او غیر ذلک.

(فتاوىٰ عالمگیریة ۱:۱۷۵ کتاب الزکاة)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: فتجب زکوتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فوراً بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعین درهما یلزمه درهم. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳۸ باب زکاة المال)

﴿۲﴾ مجموعة الفتاوى ۱:۳۶۳ کتاب الزکاة)

ماسرمایه مختص کړې ده او هغه سرمایه فی الحال څما په کاروبار کښې چلیږی. اوس به زکوة زه پخپله ادا کوم یا به ئې هغه ما شومه ادا کوي؟ او دا زکوة د هغې خپلو خویندو وروڼرو ته ورکول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المسفتی: محمد عارف نوشهره کینټ......... ۱۹\۱۱\۱۹۹۰

الجواب: که تا دا خپله لور ددې سرمائې باقاعده مالکه جوړه کړې وی نو ددې سرمائې زکوة ادا کول به په دې جینئ (لور) باندې با قاعده فرض وی. ﴿۱﴾ او داجینئ دغه زکوة غریبانانو رونړو خویندو ته ورکولې شی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

مهتمم د چندې ورکونکو وکیل وی د طالبانو نه وی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مهتمم کوم زکوة د خلقو نه وصول کوی او په طالبانو ئې تقسیم کوی آیا دا مهتمم د طلباؤ وکیل دې یا نه؟ او که دا رقم د مهتمم نه لاره کښې ضائع شی نو د هغې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبد الله مدرسه مفتاح العلوم هنګو ۲۳\ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا مهتمم د زکوة ورکونکو وکیل دې د طلباء نه دې، نو که ددې مهتمم نه د زکوة مال ضائع شی نو ضمان به پرې نه وی او دوباره به زکوة ادا کوی ځکه چه د زکوة ورکونکو ذمې د زکوة نه فارغې نه شوې. ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة المرغينانی: الزكاة واجبة على الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملك نصابا ملكا تاما وحال عليه الحول. (هداية على صدر فتح القدير ۲: ۱۱۲ كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: ولا الى من بينهما ولاد الخ. وقال ابن عابدين: وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولىٰ لانه صلة وصدقة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۹ باب المصرف)

﴿۳﴾ قال الحصكفی: او مقارنة بعزل ماوجب كله او بعضه ولا ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مختلفو مزكينو زكوة جمع كولو او خلط كولو په صورت كښې د حيله تمليك حكم

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه د رجب په مياشت كښې د دكاندارانو نه زكوة جمع كړيشي په يو مسكين مدرس يا طالب علم باندې ئې قبض كړى او د تمليك حيله كولې شي ليكن د هر يو كس د زكوة په جدا جدا طريقې سره تمليك نه كيږى بلكه خپل مينځ كښې ئې يو ځائې كړى او تمليك كولې شي آيا د تمليك دا طريقه د خلط په صورت كښې جائز ده؟ حالانكه د فتح المعين حاشيه كنز ۱: ۳۷۴ نه عدم جواز معلوميږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوى ولى داد سرائې نورنګ لكى مروت .... ۱۹۸۴\۸\۱۵

الجواب: دا جزيه صحيح ده ليكن دا حكم د خلط بلا اذن په صورت كښې دې او د اذن صريحاً يا عرفاً سره خلط كول د فراغت ذمې نه مانع نه دې. (شامي ۲\۱۰۷) (۱) وهو الموفق

فقير ته د زكوة رقم وركولو نه پس د واپسئ تقاضا كول جائز نه دى.

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائي چه زمونږه كلې په اتيا كورونو باندې مشتمل دې او مونږ ټول مهاجرين يو او ټول غريبانان دى څه پنځلس كاله مخكښې مونږ يو جمات جوړ كړو اوس د هغې كوټه غورځيدلو ته نږدې ده او د جمات د ليو او مرمت كولو هم سخت ضرورت دې ما سره د زكوة رقم وو د يو عالم دين نه تپوس كولو سره هغه او فرمائيل چه: مستحق

(بقيه حاشيه) يخرج عن العهدة بالعزل بل بالاداء للفقراء. قال ابن عابدين: قوله ولا يخرج عن العهدة بالعزل فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكاة ولو مات كانت ميراثا عنه بخلاف ما اذا ضاعت في يد الساعي لان يده كيد الفقراء. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۲ كتاب الزكاة)

(۱) قال العلامة ابن عابدين: ويتصل بهذا العالم اذا سال للفقراء شيا وخلط يضمن، قلت ومقتضاه انه لو وجد العرف فلا ضمان لوجود الاذن حينئذ دلالة والظاهر انه لا بد من علم المالك بهذا العرف ليكون اذنا منه دلالة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۲ مطلب في زكاة ثمن المبيع وفاء كتاب الزكاة)

زکوٰة په ملکیت کښې دې ورکړې شی بیا دغه سړې دا رقم په جمات باندې خرچ کولې شی دغسې شرعی جواز راوخی بهرحال زمونږ په کلی کښې ترکانې دی اتیا کلن. هغه پنځه وخته مونځ کوی دهغه دوه خامن حافظ قرآن دی ما ورته یو ورځ او وئیل که الله تعالی تا ته څه دولت درکړی نو ته به د جمات خدمت کوې؟ هغه وئیل ضرور. دوه درې ځلې داسې خبره اترې اوشوې بیا ما پنځه سوه روپئ د هغه د خوئې په مخکښې هغه ته ورکړې هغه پیسې په جیب کښې کیښودلې. څو ورځې پس ورته ما وعده ورپه یاد کړه نو هغه اووئیل ښه ده. که توفیق اوشو نو ورکووم به. او تر اوسه ئې یوه انه هم جمات ته نه ده ورکړې (۱) آیا اوس د هغه نه ددې رقم تقاضا کیدیشی ځما د طرفنه خو نشی کیدلې البته د کلی د جرګې د طرفنه داسې کیدلې شي؟ (۲) آیا ددې خبرې مشهورتیا کیدیشي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد چک نمبر ۵ کندیا میانوالی ۱۸۱۹۱۱۹۷۰

الجواب: ددې رقم تقاضا نه ته کولې شې او نه د کلی د جرګې د طرفنه دا مطالبه جائز ده ﴿۱﴾ بلکه ستا خاموشی بهتره ده. (قال الله تعالی لا تبطلوا صدقاتکم بالمن والاذیٰ ﴿۲﴾ وهوالموفق

یو مدرسې ته د زکوٰة ورکولو وعده اوشوه او زکوٰة بلې مدرسې ته ادا کړې شو؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه یو سړی اووئیل چه زه

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ان الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یأمره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره لم اره والظاهر نعم. قال ابن عابدین: لانه مقتضی صحة التملیک قال الرحمتی والظاهر انه لا شبهة فیه لانه ملکه ایاه عن زکاة ماله وشرط علیه شرطا فاسداً والهبة والصدقة لا یفسدان بالشرط الفاسد.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۹ باب المصرف)

﴿۲﴾ (سورة البقرة آیت: ۲۶۴ رکوع: ۴ پاره: ۳)

به په یکم جولائی باندې یوې مدرسې ته سل روپۍ زکوة ورکوم لیکن په یکم جولائې باندې ئې اوونیل چه ما هغه زکوة چرته بل خائې کښې ورکړې دې آیا دا عمل درست دې؟ بینوا توجروا

المستفتی الحاج غلام محمد صاحب ټیکسلا

الجواب: چه کله په نذر شرعی کښې د مکان او فقیر د تعین رعایت لازمی نه دې نو صرف په وعدې سره به په طریقی اولی لزوم نه وی.

کما فی ردالمحتار ۳:٦۷ والمراد انه یلزمه الوفاء باصل القربة التی التزامها لابکل وصف التزامه لانه لو عین درهماً او فقیراً او مکاناً للتصدق او للصلاة فالتعین لیس بلازم﴿۱﴾. وهوالموفق

په جماعتی زکوة فنډ کښې چه کله د تملیک لحاظ نه وی نو زکوة نه ادا کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جماعتی فنډ کښې د زکوة رقم ورکولو سره زکوة ادا کیږی یا نه؟ هر کله چه د هغې خرچ هم په جماعتی سطح باندې وی؟ بینوا توجروا

المستفتی امیربادشاه ناظم جمات اسلامی ملاکنډ ایجنسی

الجواب: د صحت د زکوة د پاره د فقیر تملیک شرط دې. نو که د دې مال خرچ کولو په وخت کښې د تملیک لحاظ کیدلې شی نو د مالکانو ذمه به فارغه شی کنې نه (ماخوذ از روح المعانی ﴿۳﴾

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۳ مطلب فی احکام النذر کتاب الایمان)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:٦۸)

﴿۳﴾ قال العلامة محمود الآلوسی: (انما الصدقات للفقراء والمساکین) الخ. یعنی ان الذی ینبغی ان یقسم مال الله علیه من اتصف باحدی هذه الصفات دون غیره الخ.
(روح المعانی ٦:۱۷۳ سورة التوبة آیت: ٦۰)

وبدائع الصنائع(۱) وهوالموفق

د زکوة فنډ په مضاربت کښې ورکول

او د هغې منافع خوړل حرام دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زکوة رقم چاته په مضاربت ورکول او د هغې نفع پخپله خوړل دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانا عجب نور وانا کیمپ وزیرستان ۱۳ شوال۱۴۰۱ھ

الجواب: نا جائز او حرام دی هذه المسئلة من الواضحات (۱) وهو الموفق

په ډاک باندې د زکوة لیږلو خرچ په لیګونکی دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د زکوة رقم خیل نزدې خپلوان ته ورکول غواړی چه ډیر غریب دې او په هندوستان کښې اوسیږی د پاکستان نه په سلو روپو دیرش روپۍ د ډاک خرچه را ځی یعنی هغه ته به په هندوستان کښې او یا ۷۰ روپۍ ملاویږی دې صورت کښې به د ډاک خرچ د زکوة نه منها کیږی او که خانته به ورکولې کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالحمید عباسی واه کینټ ۱۹۸۲ء۱۰،۱۲،۱

الجواب د زکوة دوصولۍ نه مخکښې دامرسل الیه مالک نه دې لهذا ددې سلوروپو لیږلوخرچ به په تاباندې وی که په پاکستان کښې هغه ته سل روپۍ

---

(۱) قال العلامة الکاسانی: جعل الله تعالیٰ الصدقات للاصناف المذکورین بحرف اللام وانه للاختصاص فیقتضی اختصاصهم باستحقاقها فلو جاز صرفها الی غیرهم لبطل الاختصاص وهذا لا یجوز. (بدائع الصنائع ۲: ۱۵۰ فصل واما الذی یرجع الی المؤدی)

(۲) قال العلامة الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ٦٨ باب المصرف)

ملاوشی نودهغې نه پس او یا جوړيدلو کښې نقصان نه وه (۱) وهو الموفق

د زکوٰة چیئرمین د پاره د زکوٰة نه تنخوا ه مقرر کول

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه حکومت زکوٰة کومه کتموتی کوی او په خلقو ئې تقسیموی څه هم په خپله حلقه کښې د زکوٰة چئرمین یم نو مانه د هغې نه سل روپئ د میاشتې تنخوا ملاویږی نو آیا د زکوٰة نه ما دپاره دا رقم اخستل جائز او صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا سید احمد لال قلعه ضلع دیر ۲۹۱۱۱۱۹۹۰

الجواب: بظاهره دا د زکوٰة مال دې سود نه دې او چیرمین په عاملینو کښې دې هغه دپاره دا تنخواه اخستل جائز دی. (۲) وهو الموفق

---

(۱) ملاحظه. چه کله د دوه ملکونو کرنسی جدا جدا وی او د بین الاقوامی مالیاتی نظام په لحاظ سره ددې په مینځ کښې دکمی بیشی فرق وی مثلاً ددې سلو پاکستانی روپو قیمت اویا هندستانئ وی یا ۱۳۰ روپئ هندستانئ وی نو د قیمت په دې کمی بیشی په لحاظ د مزکې په زکوٰة اثر نه غورزیږی لکه چه ددراهمو او د دنانیرو قیمت دپاکستانئ روپئ په لحاظ سره زیات دې مثلاً یو مزکی لس درهمه په زکوٰة کښې ورکړل او پاکستانی ته د پنځلسو روپو فی درهم په لحاظ سره یو نیم سل روپئ ملاؤ شوې نو دیکښې هیڅ څۀ مسئله نشته. والله اعلم بالصواب. (از مرتب)

(۲) وفی الهندیة: وهو من نصبه الامام لاستیفاء الصدقات والعشور ویعطیه ما یکفیه واعوانه بالوسط مدة ذهابهم وایابهم مادام المال باقیا الا اذا استغرقت کفایته الزکاة فلا یزاد علی النصف. (فتاوی عالمگیریة ۱:۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب زکوٰة الاموال

بسم الله الرحمن الرحيم

....قال الله تعالی....

خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا

.....(التوبة).....

....

...

باب الزكوٰة فى الاموال

د دوه سوو درهمو او چاندئ نصاب

سوال: علماء دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د سونې او چاندئ نصاب څه دې؟ او نن صبا دوه پنځوس نیمې تولې چاندی څنګه د دوه سوه درهمو برابر ده؟

المستفتی: مولانا عبد الغفور ګام میله ضلع دیر ۲۸/ صفر ۱۴۰۳ھ

الجواب: د سونې نصاب اووه نیمې تولې دې او د چاندئ دوه پنځوس نیمې تولې دې او دوه سوه درهمه په دې طریقې سره د دوه پنځوس نیمو تولو چاندي برابرېږي چه وزن ئې د سبعه په اعتبار سره لس درهمه د اووهٔ مثقالو سره برابر شي (۲)، نو دوه سوه درهمه به د یو سل څلویښتو مثقالو برابر شي او یو مثقال د څلور نیمو ماشو وي نو $140 \times 4\frac{1}{2}$=۶۳۰ ماشه شول او س تری نه تولې جوړې کړه نو په ۱۲ ئې تقیسم کړه هم دغه $52\frac{1}{2}$ تولې به جوړې شي وهو الموفق

د نصاب نه کم خالص سونا اود پنځوس روپو په صورت کښې دزکوٰة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د یوې ښځې سره شپږ

﴿۱﴾ قال العلامة برهان الدين: ليس فيما دون مائتى درهم صدقة..... فاذا كانت مائتين وحال عليه الحول ففيها خمسة دراهم ليس فيما دون عشرين مثقال من الذهب صدقة فاذا كانت عشرين مثقالا ففيها نصف مثقال. (هداية على صدر فتح القدير ۲:۱۵۸، ۱۶۲ باب زكاة المال)

﴿۲﴾ قال العلامة برهان الدين: والمعتبر فى الدراهم وزن سبعة وهو ان تكون العشرة منها وزن سبعة مثاقيل. (هداية على صدر فتح القدير ۲:۱۶۰ باب زكاة المال)

تولې سوناده او چاندۍ ورسره بالکل نشته او دضرورت دپاره یعنی دوائی، صابن، رانجه وغیره دپاره ورسره پنځوس روپۍ دی نودې صورت کښې چه سونا دشرعی نصاب نه کمه ددې رقم سره یو ځای کولو سره به زکوة او قربانی واجب وی یا د سونی نصاب ته رسول لازمی دی؟

المستفتی: مولوی افسرګل میرعلی شمالی وزیرستان ۴/۲/۱۹۷۵ء

الجواب: پاکستانی روپی نه فضه ده اونه غالب الفضه ده بلکه دسامان او عروض التجارة نه دی لهذا په صورت مسئوله کښې به دضم په وجه دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد زکوة او قربانی واجب وی.

نظیره ما فی ردالمحتار ۲ :۴۵ وفی النهر قال الزاهدی وله ان یقوم احد النقدین ویضمه الی قیمة العروض عند الامام وقالا لا یقوم النقدین بل العروض ویضمها، وفائدته تظهر فی من له حنطة للتجارة قیمتها مأة درهم وله خمسة دنانیر قیمتها مأة تجب الزکوة عنده خلافا لهما﴿۱﴾. وهوالموفق

د نصاب نه کمې سونې سره پیسې وی هغې کښې د زکوٰة مسئله اودَ بهشتي زیور د عبارت توضیح

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی سره څو تولې سونا ده چه دمقدار نصاب نه کمه ده او ورسره دوه سوه روپۍ نقد هم دې آیا داسړی به د دواړو زکوة ادا کوی حال داچه سونا نصاب ته نه ده رسیدلې؟ اوکه نه صرف دنقد مال زکوة به ادا کوی دغه شان دبهشتي زیور (صفحه ۲۳۷ باب الزکوة) مسئله (۹) په عبارت کښې څه التباس معلومیږی دهغې وضاحت اوکړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی شمس الحق سانګهړ سندھ

الجواب: چه دکوم کس سره دوه سوه (شرعی) روپۍ وی او یوه یادوه تولې

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲ :۴۷ باب زکاة المال)

سونا هم وی نودې صورت کښې د سونې په قیمت هم زکوة واجب دې (وهی مسئله الضم المذکورة فی سائر کتب الفقــه)﴿۱﴾ او د کوم عبارت متعلق چه په بهشتی زیور کښې شبه راغلې نو دهغې ازاله داده چه کله ددوه تولې سونې سره څه روپئ هم وی او د سونې نرخ مثلا ۲۵ روپئ فی تولـه وی او په یوه روپئ باندی 1½ توله چاندی ملاویږی نو زکوة واجب دې (لکونه نصاباً بعــد الضم فافهم) ﴿۲﴾ وهوالموفق

په غنمو او د سونې چاندۍ په زیوراتو کښې دزکوٰة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی (۱) دزید سره ۲۵ من غـنم تیول کال پراته وو دیکښې زکوة شته یانه؟ (۲) دسونې او چاندۍ په زیوراتـو کښې زکوة واجب دې یانه؟ بعضی خلق پکښې داستعمال شرط لګوې آیا داصحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ نورالحق دارالعلوم اشاعة التوحید والسنه

توروهیر ۱۹۷۵ء/۸/۲۴

الجواب: (۱) غنم چه کله دتجارت دپاره نه وی نـودا مـال نـامی نـه دې لهـذا دې کښې زکوة نشته ﴿۳﴾ (۲) دسونې چاندۍ زیورات که داستعمال دپاره وې

﴿۱﴾ قـال العلامة ابن عابدین: وفی النهرقال الزاهدی وله ان یقوم احد النقدین ویضمه الی قیمة العروض عند الامام، وقالا لا یقوم النقدین بل العروض ویضمها وفائدته تظهر فیمن له حنطة للتجارة قیمتها مائة درهم وله خمسة دنانیر قیمتها مائة تجب الزکاة عنده خلافا لهما.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۷ باب زکاة المال)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: فلو ضم حتی یؤدی کله من الذهب او الفضة فلا بأس به عندنا ولکن یجب ان یکون التقویم بما هو انفع للفقراء رواجا.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۷ باب زکاة المال)

﴿۳﴾ وفـی الهـندیة: ویشترط ان یتمکن من الاستنماء بکون المال فی یده او ید نائبه فان لم یتمکن من الاستنماء فلا زکاة علیه. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۴ الباب الاول کتاب الزکاة)

کډیل څه مقصد دپاره وی خو زکوة پکښې فرض دي چه کل دمقدارنصاب نه کم نه وی (۱) وهوالموفق

د تعمیری کار دپاره کینبودلې شوی رقم باندې به زکوٰة واجب وی

سوال: علمائې دین دمسئلې باره کښې څه فرمائی چه متاثرین تربیلاډیم ته دحکومت دطرفنه کوم رقم ملاؤشوې دې که هغه کال دوه کاله په بینک کښې پروت وی په دې خیال چه په دې باندې به تعمری کار کولې شی او کور خو په ضروریاتو کښې دې او تراوسه بل کور تعمیری کړې شوی هم نه دې نو آیا په دې رقم به زکوة واجب وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد حنیف خانپور هزاره...٢٧/٨/١٩٧٥ء

الجواب په دې زکوة فرض دی (خلافا لابن الملك (۲) فليراجع الى البدائع (۳) (وهوالموفق)

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: ان الزكاة تجب فى النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة وكذا فى البدائع فى بحث النماء التقديرى.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٧ مطلب فى زكاة ثمن المبيع كتاب الزكاة)

(٢) قال العلامة ابن عابدين: نعم تظهر الفائدة فى ذكر القيدين على ما قرره ابن ملك من ان المراد بالاول النصاب من احد النقدين المستحق الصرف اليها فيكون التقييد بالنماء احترازا عن اعيانها والتقييد بالحوائج الاصلية احترازا عن اثمانها فاذا كان معه دراهم امسكها بنية صرفها الىٰ حاجته الاصلية لا تجب الزكاة فيها اذا حال الحول وهى عنده لكن اعترضه فى البحر بقوله ويخالفه ما فى المعراج فى فصل زكاة العروض ان الزكاة تجب فى النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة وكذا فى البدائع فى بحث النماء التقديرى الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢:٧ كتاب الزكاة)

(٣) قال العلامة الكاسانى: وتجب الزكاة فى كل مال سواء كان نامياً فاضلاً عن الحاجة الاصلية او لا كثياب البذلة والمهنة والعلوفة والحمولة والعمولة من...

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

چه د نصاب نه کم سونا او چاندی وی او د مجموعې قیمت نصاب ته رسیږی نو زکوة به واجب وی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مثلاً ماسره د $7\frac{1}{2}$ تولو سونې نشته بلکه کمه ده او د چاندئ هم درې یا څلور تولې دې نقدی هم شته بغیر دجې پې فنډنه چه هغه دحکومت قبضه کښې دې او ماشاء الله پتې می هم شته دیکښې صورت کښې د سونې او چاندئ دزکوة څه طریقه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اکبر کلرك محمکه نقول مردان ۱۹۷۴ء|۶|۱۹

الجواب: چه کله سونا د $7\frac{1}{2}$ او چاندی د $52\frac{1}{2}$ تولونه کمه وی نو دواړه به د قیمت په اعتبار سره یوځائ کړېشی مثلاً تاسره څلور تولې چاندې ده او دوه تولې سونا ده چه په هغې سره پنځوس تولې چاندئ اخستلې کیږی نو ته د ۵۴ تولو چاندئ مالك جوړ شوې او په تا به زکوة واجب شې (۱) وهو الموفق

د سونې چاندئ قیمت کول او د هغې څلویښتمه حصه زکوٰة کښې ورکول جائز دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه د یو سړی سره څه سونا یاچاندئ ده او نقدنوټونه هم دی نو څنګه چه سونا په چاندئ کښې یا چاندې په سونا کښې بدلولې شی نو دغه شان دزکوة د پاره سونا او چاندئ په نوټونو کښې بدلولې شی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبید الله تحصیل وضلع کرك ۱۴ صفر المظفر ۱۴۰۳ھ

(بقیه حاشیه) المواشی وعبید الخدمة والمسکن والمراکب وکسوة الاهل وطعامهم.

(بدائع الصنائع ۲: ۹۱ کتاب الزکاة مراتب الدیون)

(۱) قال العلامة برهان الدین المرغینانی: ویضم الذهب الی الفضة للمجانسة من حیث الثمنیة ومن هذا الوجه صار سببا ثم یضم بالقیمة عند ابی حنیفة رحمه الله.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۱۶۹ فصل فی العروض کتاب الزکاة)

الجواب: په زکوة کښې قیمت ورکول جائز دی (۱) لهذا د سونې یا چاندی په نوټونو سره قیمت لګول او دهغې ځلوینښتمه حصه ورکول بغیر دشک او شبهې نه جائز دې (۲) وهو الموفق

که زکوٰة دخپلو پیسوسره ګډوډ شی نو نور رقم ورکولو سره ذمه فارغه کیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مزکی بل سړې وکیل جوړ کړو دزکوة رقم ئی ورته ورکړو هغه دخپلو پیسو سره یو ځائې خرچ کړې او س دا وکیل دخپلو پیسونه ددې زکوة درقم په مقدار مصارفو ته ورکولې شی؟ که نشې نو مالک هم دغه رقم واپس کولې شې یانه؟ او دا زکوة کیدلې شی یا په دویم ځل به ادا کول وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حضرت مولانا اسیدالله صاحب هزاروی

سابق مدرس جامعه هذا ... ۳۰ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: په عرف کښې داسې وکیل ته داختلاط او دخپل طرفه ادا کولو اجازت وی لهذا ددې مزکی ذمه فارغه ده﴿۳﴾ (ماخوذ از قواعد فقه) (هو الموفق)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وجاز دفع القيمة فی زكاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة غير الاعتاق. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۴ باب زكاة الغنم)

﴿۲﴾ قال عبدالرحمن الجزيری: الحنفية: قالوا! يعتبر فی المغشوش الغالب من الذهب او الفضة او غيرهما فالذهب المخلوط بالفضة ان غلب فيه الذهب زكی زكاة ذهب واعتبر كله ذهبا وان غلب فيه الفضة فحكمه كله حكم الفضة فی الزكاة فان بلغ نصابا زكی والا فلا اما ان كان الغالب النحاس فان راج فی الاستعمال رواج النقد وبلغت قيمته نصاباً زكی كالنقود وكذلک يزكی زكاة النقد ان كان الخالص فيه تبلغ نصاباً، فان لم يرج ولم يبلغ خالصه نصابا، فان نوی به التجارة كان كعروض التجارة فيقوم وتزكی القيمة والا فلا تجب فيه الزكاة. (كتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ۱: ۵۳۳ زكاة الذهب والفضة المخلوطين)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي: ولو تصدق (الوكيل) بدراهم نفسه اجزأ ان كان علی نية الرجوع وكانت دراهم الموكل قائمة وفی ردالمحتار ......

(بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د اصل زر او سود د مجموعې نه زکوٰة ادا کول

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائي چه نن صباحکومت د بانډو په سطح د زکوٰة کميټئ جوړې کړې دی او حکومت دا زکوٰة د سيونګ اکاونټس نه وصول کوی چه په هغې کښې د سود رقم هم راځی يعنی دهغې نه هم کټوتې کيږی آيا دا زکوٰة اداکيديشی يانه؟ اوکميټئ چه کوم زکوٰة تقيسموی دا کار ثواب دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی عبدالرؤف ويسه مسجد قبا اټک.... ۱۲ ۲ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: د سود او اصل زر دمجموعې نه زکوٰة ورکولو په وجې سره داصل زر په زکوٰة باندې هيڅ اثر نه غورزيږی (۱) البته په کميټئ باندې ضروری ده چه دعلماؤ په مشرئی کښې زکوٰة خرچ کوی (وهو الموفق)

(بقيه حاشيه) (قوله ولو تصدق) ای الوکيل بدفع الزکاة اذا امسک دراهم الموکل ودفع من ماله ليرجع ببدلها فی دراهم الموکل صح بخلاف ما اذا انفقها اولا علی نفسه مثلا ثم دفع من ماله فهو متبرع. (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۱۲ مطلب فی زکاة ثمن المبيع وفاء کتاب الزکاة)

وقال العلامة خالد الأتاسی: المعروف عرفاً کالمشروط شرطاً ای المعروف المعتاد بين الناس وان لم يذکر صريحاً...... المعروف بين التجار کالمشروط بينهم وفی ص۱۲۷ اذا بطل الاصل يصار الی البدل يعنی ان الذی يجب اداء ه هو الاصل فاذا تعذر ايفاء ه بالفوات او التفويت يصار الی البدل. (شرح المجله ۱: ۱۰۰، ۱۲۷ ماده: ۴۳، ۴۴، ۵۳)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: ان المراد ليس هو نفس الحرام لانه ملکه بالخلط وانما الحرام التصرف فيه قبل اداء بدله ففی البزازية قبيل کتاب الزکاة ما يأخذه من المال ظلماً ويخلطه بماله وبمال مظلوم آخر يصير ملکاً له وينقطع حق الاول فلايکون اخذه عندنا حراما محضاً نعم لا يباح الانتفاع به قبل اداء البدل فی الصحيح من المذهب.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۹ قبيل مطلب استحلال المعصية کفر)

وقال العلامة ابن نجيم: ولذا قالوا لو ان سلطانا...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

نصاب نه کمو زیوراتو او مهرموجل کښې د زکوٰة مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (۱) د سونې چاندئ په زیوراتو باندې چه د ښځې په استعمال کښې وی او د هغې وزن د $7\frac{1}{2}$ تولونه کم وی لیکن قیمت ئی د دوه سوه روپونه زیات وی آیا د یکښې هم زکوة واجب دې؟ یا د زیوراتو وزن د $7\frac{1}{2}$ تولونه زیات وی خو قیمت ئې د دوه سوه روپونه کم وی آیا په دې کښې بیا هم زکوٰة واجب دې؟ (۲) زید یوې ښځې سره په زر روپئ حق مهر باندې نکاح اوکړه واده او شو لیکن حق مهر د ښځې د دستور مطابق ادا نه کړو او د زید پخه اراده ده چه حق مهر ورکړم لیکن او س تراوسه پورې ئې نه شی ورکولې. آیا دې ښځې باندې د دې زکوة واجب دې؟ بینوا توجروا المستفتی: نامعلوم....

الجواب: (۱) په سونا چاندئ کښې د زکوة دارومدار په نصاب دې قیمت باندې نه دې لهذا په اووه تولو سونې کښې زکوة نشته اګر که قیمت ئی دوه زره روپئ وی او په $7\frac{1}{2}$ تولو سونا کښې زکوة واجب دې اګر که قیمت ئی هیڅ نه وی (۱) حق مهر چه ترڅو ښځې قبض کړې نه وی په هغې باندې زکوة فرض نه دې ﴿۲﴾ (رد المحتار) وهو الموفق

(بقیه حاشیه) غصب مالا وخلطه صار ملکاً له حتی وجبت علیه الزکاة وورث عنه علی قول ابی حنیفة لان خلط دراهمه بدراهم غیره عنده استهلاک اما علی قولهما فلا.
(البحر الرائق ۲:۲۰۵ کتاب الزکاة)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ومنها کون المال نصاب فلا تجب فی اقل منه هکذا فی العینی شرح الکنز. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۱۷۲ الباب الاول فی تفسیرها وصفتها وشرائطها کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: و اما المرأة فلان مهرها علی الزوج دین ضعیف وقد استحق الزوج نصفه قبل القبض فلا زکاة علیها ما لم یمض حول جدید بعد القبض.
(ردالمحتار ۲:۴۱ قبیل باب العاشر)

په بینکونو کښې جمع شوې رقوم داموال ظاهره په حکم کښې دي

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائی چه په بینکونو کښې کوم رقوم جمع کولې شی حکومت دهغې نه زکوة وصول کوی آیا دا اموال ظاهره دی یا باطنه؟ لکه چه په شامی ۲/۱۱ کښې دی.

فان مال الزکاة نوعان ظاهر وهو المواشی ویمر به التاجر علی العاشر وباطن وهو الذهب والفضة والاموال التی فی مواضعها وایضا فی الصفحة ۴۲ والاموال الباطنة بعد اخراجها من البلد لانها بالاخراج الحقت بالاموال الظاهرة فکان الاخذ فیها للامام الخ،

آیا په بینکونو کښې جمع کولو سره دا دحکومت په حمایت کښې داخلیدلې شي یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانامحبوب الله حقانی فاضل جامعه حقانیه ۱۹جمادی الاولیٰ ۱۴۰۳ھ

الجواب: بینکونو کښې جمع شوې مال په اموال ظاهره کښې شمارلې کیږی(۱) کما فی الشامیه ۲: ۳۲.......

---

(۱) بینکونو کښې چه کومې روپئ او نقد مالیت کیښودلې کیږی اګر چه دا اموال باطنه دې لیکن بینك سستم یو قسم دحکومت نظام دې چه دهغې حفاظت هم حکومتې انتظامیه کوی په دې وجه دې (بیوت الربا) کښې رقوم کیښودل اموال ظاهره جوړیږی.

قال الشامی: ان مال الزکاة نوعان ظاهر وهو المواشی ومایمر به التاجر علی العاشر وباطن وهو الذهب والفضة واموال التجارة فی مواضعها بحر ومراده هنا بالباطنة ما عداالمواشی بقرینة قوله المارین باموالهم والا فکل ما مر به علی العاشر فهو من نوع الظاهر وسماها باطنة باعتبار ما کان قبل المرور. (ردالمحتار ۲:۴۲ قبیل مطلب ما ورد فی ذم العشار).

اوکله چه حکومت والا ته دامعلومه شی چه عوام د اموال باطنه زکوة نه اداکوی نو حکومت د دې مطالبه کولې شی

قال الخوارزمی: وفی التفاریق ایضا ان وقف علی اهل بلدة لا یؤدون زکاة الاموال الباطنة طالبهم بها و کذا من عرف بذلک وطولب بالاداء. (کفایة فی ذیل فتح القدیر ۲: ۱۷۲ باب فیمن یمر علی العاشر) وقال الملا علی قاری: وهذا لا یسقط طلب الامام اصلا ولهذا لو علم ان اهل بلدة لا یؤدون زکاتهم طالبهم بها (مرقات ۴: ۱۳۶)

دغه شان حکومت وخت ته دا اختیار شرعاً حاصل دې اباقی حاشیه په راروانه صفحه

والاموال الظاهرة هی التی یاخذ زکاتها الامام وهی السوائم ومافیه العشر والخراج وما یمر به علی العاشر﴿۱﴾. وهوالموفق

د حج د پاره کینودې شوی رقم کښې زکوٰة واجب دې

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی دحج دپاره په بینك کښې پیسې کینبودلې نوکال تیریدلو نه پس په دې باندې دزکوة څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: شهبازخان حقانی بډه بیرپشاور ۲۶/ ۶/ ۱۹۸۶ء

[بقیه حاشیه] . چه دخلقو دمالونو نه زکوة وصول کړی او مستحقینوته ئی ورسوی. په مؤطا امام مالك کښې دی

كان ابوبكر اذا اعطى الناس عطياتهم يسأل الرجل هل عندک من مال قد وجبت فيه الزكوٰة فان قال نعم اخذ من عطاءه زكوٰة ذلک المال وان قال لا سلم اليه عطاءه قال محمد وبهذا نأخذ وهو قول ابی حنيفة. (موطا امام محمد ۱۷۰ باب الرجل يكون له الدين هل عليه فيه زكوٰة)

اوپه بل روایت کښې دی:

عن عائشه بنت قدامة عن ابيها انه قال كنت اذا جئت عثمان بن عفان اقبض عطائی سألنی هل عندک من مال وجبت فيه الزكاة؟ قال: فان قلت نعم اخذ من عطائی زكوٰة ذلک المال وان قلت لا دفع الی عطائی.

(موطا امام مالک ۲۷۲ الزكوٰة فی العين من الذهب والورق)

په دې وجه زمونږ دشیخ دامت برکاتهم په منهاج السنن شرح للترمذی کښې فرمائی

وحق الأخذ للامام فی الاموال الظاهرة وهی السوائم ومافيه العشر والخراج وما يمر به على العاشر كما فی ردالمحتار وغيره ولعل ما يوضع فی البنک يدخل فی ما يمر علی العاشر فی ردالمحتارعن مختصر الكرخی اذا اخذها الامام كرها فوضعها موضعها اجزء لان له ولاية اخذ الصدقات فقام اخذه مقام دفع المالک. (منهاج السنن شرح جامع السنن ۳: ۱۴۱ باب كراهية اخذ خيار المال في الصدقة)......(ازمرتب)

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۶ مطلب فيما لو صادر السلطان رجلا فنوی بذلک اداء الزكاة كتاب الزكاة)

الجواب: دا رقم تر او سه پورې د دې سړي د ملکیت نه بهر نه دې لهذا دې سړې باندې د دې رقم باقاعده زکوة فرض دې ﴿١﴾ وهوالموفق

موجوده کاغذی نوټونه او د چاندۍ نصاب

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو سړی سره د موجوده حکومت مُهر شوې روپو نوټونه موجود وی آیا دې باندې به زکوة واجب وی؟ که په موجوده نوټونو یاروپوسره سره زکوة ورکړې شی نو دهغې مطلب دا شو چه د څلور تولو چاندۍ نه ئی زکوة ورکړو نو دزکوة نصاب به څه وی دا نوټ که چاندی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........ ١٩٧٤ء/ ٢/ ٩

الجواب: واضحه دی وې چه موجوده روپۍ نه خالص الفضه ده اونه غالب الفضه دی لهذا دیته به د سامان حکم ورکولې شی لهذا په $52\frac{1}{2}$ تولو چاندۍ باندې چه څومره مهر شوې نوټونه جوړیږی هغه به دنصاب شرعی مقدار وی اونوټونه خو قائم مقام ددرهمو دی لهذا ددې به هم دغه حکم وی اونوټ عندالتحقیق وثیقه نه ده بلکه ثمن عرفی دې او که وثیقه هم تسلیم کړیشی نو دسرکاری نرخ او حساب موافق به قائم مقام جوړولې شی.﴿٢﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین: فی المعراج فی فصل زكاة العروض ان الزكاة تجب فی النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة وكذا فی البدائع فی بحث النماء التقديری.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢ :٧ مطلب فی زكاة ثمن المبيع وفاء كتاب الزكاة)

﴿٢﴾ قال العبد الرحمن الجزيری: جمهور الفقهاء يرون وجوب الزكاة فی الاوراق المالية لانها حلت محل الذهب والفضة فی التعامل...... الحنفية قالوا الاوراق المالية، البنكنوت، من قبيل الدين القوی الا انها يمكن صرفها فضة فوراً فتجب فيها الزكاة فوراً.

(الفقه على المذاهب الاربعة ١ :٥٢٧ زكاة الاوراق المالية البنكنوت)

د پاکستانی کرنسی په لحاظ سره نصاب د زکوٰة

سوال: علمائی دین دي باره کښي څه فرمائی چه په پاکستانئ کرنسئ نقد نوټونو، کښي نصاب د زکوٰة څنګه جوړيږی؟ آيا په دوه سوه روپو کښي به زکوٰة ادا کولي شی؟ بينوا توجروا

المستفتی مولوی عيان الحق دانشکول چارسده ۴/ ۷/ ۱۴۰۱هـ

الجواب: پاکستانئ روپي نه خالص الفضه ده او نه غالب الفضه بلکه عادم الفضه دی لهذا په دي کښي به دمال تجارت پشان قيمت معتبر وی

كمافی البدائع ۲:۱۷ وان كان الغالب هو الغش والفضة فيها مغلوبة فان كانت اثمانا رائجة او كان يمسكها للتجارة يعتبر قيمتها فان بلغت قيمتها مأتی درهم...... تجب فيها الزكوٰة والا فلا ﴿۱﴾

که دچاندئ نرخ مثلاً اويا روپئ فی توله وی نو پاکستانئ روپئ سره به نصاب وی 3675 = 105/2×70 اوددي څلويښتمه حصه به ورکول فرض وی﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ۲:۱۰۳ فصل واما صفة النصاب فی الفضة كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ قال الدكتور وهبة الزحيلی: ويقدر نصاب (الاوراق النقدية) كما ابنت بسعر صرف نصاب الذهب المقرر شرعا وهو عشرون ديناراً او مثقالاً، ونختار ان يكون وزنها ذهبا ۸۵ غراما، ومن الفضة ۵۹۵ غراما عملاً بالدرهم العربی وهو (۲،۹۷۵غم) والا صح تقدير النصاب الورقی بالذهب لانه المعادل لنصاب الانعام ولارتفاع مستوی المعيشة وغلاء الحاجيات، وان كان يری كثير من علماء العصر تقدير النصاب بالفضة لانه انفع للفقراء وللاحتياط فی الدين ولان نصاب الفضة مجمع عليه وثابت بالسنة الصحيحة وكان يساوی فی الماضی ستة وعشرين ريالا مصريا وتسعة قروش وثلثی قرش، ونحو خمسين ريالا فی السعودية ودولة الامارات ونحو ۶۰ او ۵۵ روبية فی باكستان والهند.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۸۳۳ زكاة الاوراق النقدية)

وقال الشيخ والمفتی الاعظم محمد فريد: ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

په صرف چاندۍ یا چاندۍ اوسونا کښې د زکوٰة طریقه

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې فرمائی چه دیو سړی سره چاندی ده او د نصاب نه زیاته ده لیکن دهغه سره روپۍ نشته نو په دې چاندی کښې به زکوة دقیمت په اعتبار سره په روپو کښې ورکولې شی یا هم دا چاندې به ورکولې شی او که چاندې ورکول وی نو دچاندۍ دنصاب نه به څومره چاندی ورکولې کیږی او که ورسره لږه شان سوناهم وی نو بیا به څنګه زکوة ورکولې کیږی په روپۍ کښې یا چاندۍ کښې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمن بنوں ۱۹۷۵ء/ ۳/ ۳۰

الجواب: په ½52 تولو کښې به ¼ توله چاندی یا دهغې قیمت ورکولی شی او چاسره چه سونا او چاندی دواړه وی نو دقیمت په حساب سره به د زکوة څلویښته حصه ورکولې کیږی (ماخوز از رد المحتار) ﴿۱﴾ وهو الموفق

په سونا چاندۍ کښې به د حولان حول دوخت قیمت معتبر وی

سوال: علمائی دین دې مسئله ئی باره کښې څه فرمائی سونا چه په سل روپۍ

(بقیه حاشیه) قوله فاذا بلغت مائتین ففیها خمسة دراهم) ارید من الدراهم ما تکون کل عشرة منها وزن سبعة مثاقیل، والمأتان منها بالوزن المعروف فی دیارنا اثنان وخمسون تولجة وست ما هجات، فالدراهم الخالصة الفضة وكذا الغالب الفضة من غیر وزن سبعة مثاقیل اذا بلغ وزنها اثنین وخمسین تولجة وست ما هجات تكون نصاباً.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۳: ۱۲۶ باب زکوة الذهب والورق)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین. فلو ضم حتی یؤدی کله من الذهب او الفضة فلا بأس به عندنا ولکن یجب ان یکون التقویم بما هو انفع للفقراء رواجا والا یؤدی من کل منهما ربع عشرة

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ۳۷ باب زکاة المال)

فی توله اخستلې شوې وی او اوس آته سوه روپئ فی توله ده نو زکوة به کوم حساب سره ادا کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: بشیراحمد شیخ.... ۲۸/۱/۱۹۷۵ء

الجواب: دحولان حول په وخت چه کوم نرخ وی هغه به معتبروی(۱) وهوالموفق

ښځې ته مهر نه علاوه ورکړې شوو زیوراتو کښې د زکوٰة حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه د واده په سلسلې کښې دغریب نه غریب سړې هم دحق مهر نه علاوه ددوه درې زرو روپو زیورات جوړوی او څه زیورات خو باقاعده په حق مهر کښې ورکوی اوس چه کله خاوند بدستور قرضدارې دې او زیورات دښځې سره په صندوق کښې محفوظ دی نو آیا دمهر نه علاوه په دغه نور زیوراتو کښې زکوة په ښځه باندې واجب دې که په خاوند؟ بینوا توجروا

المستفتی: یارمحمد عباس خیل ډاك اسماعیل خیل

نوشهره..... ۱۸| ذی قعده ۱۳۸۹ هـ

الجواب: که دا زیورات دښځې سره دعاریت په طورسره وی او مالك په حقیقت کښې خاوند وی نو په ښځه به زکوة واجب نه وی (۳) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا یوم الاداء.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۳ باب زکاة الغنم)

وفی الهندیة: وان ادی القیمة تعتبر قیمتها یوم الوجوب لان الواجب احدهما ولهٰذا یجبر المصدق علی قبوله وعندهما یوم الاداء الخ. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۸۰ الفصل الثانی فی العروض)

(۲) قال العلامة الحصکفی: وسببه ای سبب افتراضها ملک نصاب حولی نسبة للحول لحولانه علیه. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵،۴ کتاب الزکاة)

(۳) وفی الهندیة: (ومنها الملک التام) وهو ما اجتمع فیه الملک و الید واما اذا وجد الملک دون الید کالصداق قبل القبض او وجد الید......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

داستعمال د پاره ځلوینت پنځوس جوړو جامو کښې د زکوٰة مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی کوژدن او کړه اودجینۍ دپاره ئې ځلوینت پنځوس جوړې جامې اخستلې دی اودائې داستعمال په خیال سره ایښودې دی دتجارت دپاره نه دی آیا په دې کپړو باندې زکوة واجب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرزاق کهنډه صوابی..... ١٥ رمضان ١٤٠٣ھ

الجواب: په دې کپړو باندې زکوٰة واجب نه دې لعدم النماء﴿١﴾ البته په دې کپړو کښې قربانې او صدقه الفطر واجب ده اوددې په وجه دچانه زکوة هم نشی اخستلې﴿٢﴾ (شامی،بحر،هندیه) وهوالموفق

(بقیه حاشیه)دون الملک کملک المکاتب والمدیون لا تجب فیه الزکاة.

(فتاویٰ عالمگیریة ١:١٧٢ الباب الاول فی تفسیرها وصفتها وشرائطها کتاب الزکاة)

﴿١﴾قال العلامة الحصکفی: ولا فی ثیاب البدن المحتاج الیها لدفع الحر والبرد.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:٨ کتاب الزکاة)

وفی الهندیة: ومنها کون النصاب نامیا حقیقة بالتوالد والتناسل والتجارة او تقدیراً بان یتمکن من الاستنماء بکون المال فی یده او فی ید نائبه وینقسم کل واحد منهما الی قسمین خلقی وفعلی، فالخلقی الذهب والفضة...... والفعلی ما سواهما ویکون الاستنماء فیه بنیة التجارة او الاسامة.

(فتاویٰ عالمگیریة ١:١٧٤ کتاب الزکاة)

﴿٢﴾قال العلامة ابن عابدین: لا بأس ان یعطی من الزکاة من له مسکن وما یتأثث به فی منزله وخادم وفرس وسلاح وثیاب البدن وکتب العلم ان کان من اهله فان کان له فضل عن ذلک تبلغ قیمته مائتی درهم حرم علیه اخذ الصدقة.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ٢:٧٠ باب المصرف)

دَ کان په پیداوار کښې زکوٰة

سوال: علمائی دین دې مسئلې څه فرمائی چه دیو سړی کان دې چه په اجاره دې دهغې دامدنئ نه لاندې ټیکسونه ماهانه ادا کولې شی (١) د غرمالك ته د فی ټن په حساب سره رقم اداکولې شی.(٢) محکمه معدنیات ته دفی ټن په حساب سره رائلټی ټیکس ادا کولې شی (٣) اودکال په پوره امدنئ باندې حکومت آمدنی ټیکس اخلی ددې ټولې آمدنئ نه مذکوره بالا ټیکسونه ادا کولونه پس به په بقیه رقم باندې څه حساب سره زکوة اداکول وی؟ بینوا توجروا

المستفتی مولانا عبدالناصر مهتمم دارالعلوم عرفانیه شیروان ایبټ آباد . ۲۹ ۱ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: ددې سړی په نورو مالونو باندې چه کله حولان حول او شی نو دا سړې په ددې کان نه په خارج شوی جواهراتو باندې په دغه تاریخ زکوة ورکوی په دې شرط چه دا جواهرات فروخت شده وی هیڅ ټیکس به منها کیدلې نشی اوکه دا جواهرات فروخت شده نه وی نو دامعاف دی په دې زکوة واجب نه دی کمافی البدائع وغیره ﴿١﴾ وهوالموفق

د کور جوړولو د پاره کیښودې شوی رقم کښې د زکوٰة حکم

سوال: علمائی دین دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید دکرایئ په کور

﴿١﴾ قال الکاسانی: واماما لا یذوب بالاذابة فلا خمس فیه ویکون کله للواجد لان الزرنیخ والجص والنورة ونحوها من اجزاء الارض فکان کالتراب، والیاقوت والفصوص من جنس الاحجار الا انها احجار مضیئة ولا خمس فی الحجر (بدائع الصنائع ۲:۱۹۴ زکاة المعادن)

وقال الحصکفی: لا زکاة فی اللآلی والجواهر وان ساوت الفا اتفاقا الا ان تکون للتجارة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۵ قبیل باب السائمة)

کښې اوسیږی او دکور جوړولو دپاره ئی پنځوس زره روپئ جمع کړې دی اوس که دا رقم خرچ نکړی شی نو دحولان حول نه پس به پری زکوة واجب وی یانه؟ بعضی علماء دوجوب قائل دی او بعضی دعدم وجوب ځکه چه په درمختار کښې دی.

فاذا كان له دراهم مستحقة يصرفها الى تلك الحوائج صارت كالمعدومة (٢:٦)

اوپه درمختار ٢: ٧ باندې دی.

فاذا كان معه دراهم امسكها بنية صرفها الىٰ حاجة الاصلية لا تجب الزكوة فيها اذا حال الحول وهى عنده،

دا عبارت دابن ملك ذكر كړې شوې دی او ددې نه پس لیکی:

ما قاله ابن ملک موافقا لظاهر عبارات المتون،

ددینه معلومه سوه چه عدم وجوب دزکوة دمتونونه ثابت دی او وجوب د زکوة دشروحونه لهذا متونوته به ترجیح وی دغه شان په طحطاوی ٣٨٩ کښې دی.

فاذا كان عنده دراهم اعدها لهذه الاشياء وحال عليها الحول لا تجب فيها الزكوٰة.

دمذکوره عبارت نه عدم وجوب ثابتیږی.

بعضی علماء دوجوب زکوة دپاره دبحرالرائق ٢٠٦١١ عبارت پیش کوی.

ويخالفه ما فى المعراج فى فصل زكوٰة العروض ان الزكوٰة تجب فى النقود كيفما امسكه للنماء او لنفقة وكذا فى البدائع فى بحث النماء التقديرى،

بحر دعدم وجوب قول نقل کولو نه پس اخر کښې دمعراج او بدائع قول نقل کړې او وجوب د زکوة ته ئی ترجیح ورکړې لکه چه د "ويخالفه" لفظ نه ښکاره ده ځکه چه شامی لکن اعترضه البحر لیکلې دی دغه شان طحطاوی هم عدم وجوب د زکوة نقل کړې په آخر کښې:

وهو مخالف لما فى المعراج والبدائع ان الزكوة تجب فى النقد كيف امسكه للنفقة او للنماء،

سره دوجوب زکوة دقول ترجیح معلومیږی دغه شان په شامی کښې هم د وجوب زکوة ترجیح معلومیږی

فالاولى التوفيق بحمل ما فى البدائع وغيرها على ما اذا امسكه لينفق منه كل ما يحتاجه فى الحول وقد بمعنى معه منه نصاب فانه يزكى ذلك الباقى وان كان قصده الانفاق

منه ایضاً فی المستقبل لعدم استحقاق صرفه الی حوائجه الاصلیة وقت حولان الحول بخلاف ما اذا حال الحول وهو مستحسن الصرف الیها، شامی (۲:۷) ای بالفعل وهو محمل ما قاله ابن ملک تقریرات رافعی ۱۲۷،
دشامی په توفیق سره وجوب د زکوٰة بالاتفاق معلومیږی مذکوره رقم په کور جوړولو کښې فی الحال نه دې خرچ کړې شوې، نو په دې صورت کښې دابن الملك وغیره په نزد زکوة ورکول واجب وی نو دې صورت کښې متون او شروح موافق شول نو دترجیح سوال هم نه پیدا کیږی الخ د جواب او قول راجح تعین او کړئ ډیره مهربانی به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محبوب الله حقانی بن مولانا غریب الله فاضل دیوبند صوابی....۱۹۸۷ء | ۱۲ | ۹

الجواب: واضحه دی وی چه شیخ الحدیث مولانه نصیر الدین عرغشتوی قدس به وجوب د زکوة ترجیح ورکوله ځکه چه متونو والا ،،فارغاً عن الدین وعن الحوائج الاصلیة،،اولیس فی دور السکنٰی وثیاب البدن،،فرمائیلې دی(۱) اودا ئی نه دي وئیلې چه فارغاً عن قیمة الحوائج الاصلیه،،یالیس فی قیمة دورالسکنٰی،، پس په صورت مسئوله کښې په هرحال کښې زکوة ورکول پکاردی وهو الموفق

د ښځې د کالو نه بغیر د اطلاع نه د زکوة او فطرانه ادا کولو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه که خاوند د صاحب نصاب ښځې د طرفنه (چه کله ښځې سره نقدې نه وی صرف زیورات ورسره وي) بغیر د اطلاع نه او بغیر د ښځې د وئیلو نه زکوة یا فطرانه ادا کړی نو آیا د ښځې د طرفنه به دا آدائیگی اوشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق نشتر آباد راولپنډی......۳جون ۱۹۷۱ء

الجواب: فطرانه داذنِ صریح نه بغیرهم صحیح ده.(۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمختار ۲:۳۰۱) او د زکوة متعلق ئې په بنا یه او نها یه چه د هدایې شروحات

(۱) (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲:۱۱۸،۱۱۹ کتاب الزکاة)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولو ادی عنهما) ای عن.....(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دی باب صدقة الفطر کښې لیکلې دی چه بغیر د اجازت نه زکوة ورکول صحیح نه دی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

په گانړه کښې د کېښودې شوې زیور زکوة

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څما د ښځې زیورات تقریباً شل تولې سونا دې. ما د قرضې ختمولو دپاره هغه کالې د ښځې نه اخستې او په نیشنل بینک کښې مې گانړه لیکلې دی. تقریباً دوه کاله تیر شو چه ما درې زره روپې قرضه ددغې کالی په کفالت باندې راخستې دی آیا داسې زیورات چه په خپله قبضه کښې هم نه وی او بوج پرې هم وی نو دې باندې زکوة شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیف الرحمان آدم جی پیپر ملزامان گړه نوشهره.... ۸۱۹۱۱۹۷۴

الجواب: ته به هر کال ددې کالی دقیمت نه دقرضې په مقدار (که هغه دې د بینک نه اخستې وی یا دبل چا نه) اوباسی. اودباقی کالی نه به فی الحال زکوة اداکوی. په دې شرط چه دمقدار دنصاب نه کم شوې نه وی. ﴿۲﴾ وهو الموفق

د بینک وغیر نه اخستې شوې قرضې به هم د نصابِ زکوة نه منها کولې شي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه سرکاری ملازمین د

(بقیه حاشیه) الزوجة والولد الکبیر وقال فی البحر وظاهر الظهیریة انه لو ادی عمن فی عیاله بغیر امره جاز مطلقا بغیر تقیید بالزوجة والولد.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۸۲ باب صدقة الفطر)

﴿۱﴾ قال الامام اکمل الدین البابرتی: (الزکوٰة) عبادة محضة لا تصح بدون الاذن صریحاً.

(شرح العنایة علی هامش فتح القدیر ۲: ۲۲۱ باب صدقة الفطر)

﴿۲﴾ قال العلامة برهان الدین المرغینانی: ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکاة علیه وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصابا.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۱۱۷، ۱۱۸ کتاب الزکاة)

خکومت نه یا دبینک نه یا د کاپوریشن نه کومې قرضې اخلی او دهغې ادائیګی د مقررو قواعدو لاندې په قسطونو سره کوی ددې قسم قرضې د نصابِ زکوة نه د مِنها کولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مشتاق احمد سیکرټری صوبائی اسمبلی صوبه سرحد ۱۹۸۵ء۱۹/۷/۱

الجواب:دا قرضه به هم د نورو قرضو پشان مِنها کولې شی.﴿۱﴾ وهوالموفق

په زر ضمانت باندې د زکوة حکم

سوال:علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید د بکر نه په کرایه باندې دکان اخستې دې بکر ورله دکان ورکړو لیکن د کرائې نه علاوه اته زره ۸۰۰۰ روپئ ضمانت هم طلب کړې دې.او د دوکان پریخودلو په صورت کښې به دا رقم واپس کولې شی.او ددې اتهٔ زره روپو د زکوة څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبدالمتین تیمرګره کالج ضلع دیر... ۱۹۸۵ء ۱۹/۷/۱

الجواب:دا اته زره دزید د ملکِ نه وتلې نه دی او امانت یا قرض دې.د اجارې رقم نه دې نود وصولئ نه پس به زید ددې رقم د ټولو کلونو زکوة ادا کوی (الدرالمختار ۲\۴۸) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د دکان په زر ضمانت اوپګړئ د زکوة حکم

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې دکاندار په یو

﴿۱﴾وفی الهندیة: ومنها الفراغ عن الدین قال اصحابنا کل دین له مطالب من جهة العباد یمنع وجوب الزکاة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱۷۲:۱ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾قال ابن عابدین: (قوله ویعتبر ما مضی من الحول) ای فی الدین المتوسط لان الخلاف فیه واما القوی فلا خلاف فیه لما فی المحیط من انه تجب الزکاة فیه بحول الاصل لکن لا یلزمه الاداء حتی یقبض منه اربعین درهما و اما المتوسط ففیه روایتان الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳۹:۲ مطلب وجوب الزکاة فی دین المرصد)

دکان باندې مالک ته زر ضمانت ورکوی چه د مالکِ مکان سره محفوظ وی کله چه هم دا دکاندار دکان پریږدی دا رقم به ورته واپس کوی آیا په دې زر ضمانت کښې زکوٰة واجب دې؟ او یو صورت د پګړئ (پټکي) وی آیا دکال تیریدلو نه پس به دکاندار پټکی په رقم کښې هم زکوٰة اداکوی؟ بینوا توجروا
المستفتی: حکیم قاری مشتاق احمد طبیب همدرد مردان ۲۱\۴\۱۹۸۴

الجواب: زرِ ضمانت چونکه د مالکِ دکان سره امانت دې لهذا ددې زکوٰة ورکول ضروری دی. ﴿۱﴾ او پټکی مالِ ضمار یا پیشګی اجرت دې په دې باندې زکوٰة نه راځي، ﴿۲﴾ وهوالموفق

د کاروبار په پلاټونو او سرمایه کښې زکوٰة

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بنده د زمکو د اخستلو خرخولو کاروبار کوی آیا څما په خپله سرمایه او منافعو باندې د کال تیریدلو نه پس زکوٰة واجب کیږی؟
(۲) دکال تیریدلو نه پس چه کوم پلاټونه څما په قبضه کښې وی آیا ددې

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله فلو له بينة تجب لما مضى)...... والظاهر على القول بالوجوب ان حكمه حكم الدين القوى اى فتجب عند قبض اربعين درهما.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۰ مطلب فى زكاة ثمن المبيع وفاء كتاب الزكاة)
﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: واما زكاة الاجرة المعجلة عن سنين فى الاجارة الطويلة التى يفعلها بعض الناس عقود اويشترطون الخيار ثلاثة ايام فى رأس كل شهر فتجب على الأجر لانه ملكها بالقبض وعند الانفساخ لا يجب عليه رد عين المقبوض بل قدره فكان كدين لحقه بعد الحول...... وفى فتاوىٰ قاضى خان استشكل قول السرخكتى بانه لو اعتبر دينا عند الناس وهو اعتبار معتبر شرعا ينبغى ان لا تجب على الآجر والبائع لانه مشغول بالدين ولا على المستاجر والمشترى ايضا لانه وان اعتبر دينا لهما فليس بمنتفع به لانه لا يمكنه المطالبة قبل الفسخ ولا يملكه حقيقة فكان بمنزلة الدين على الجاحد وثم لا يجب ما لم يحل الحول بعد القبض انتهىٰ يعنى فيكون فى معنى الضمار.
(فتح القدير ۲:۱۲۱ كتاب الزكاة)

په قیمت به زکوة واجب کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد نواز خان پشته خره بالا پشاور ...... ٣٠\١٤\١٩٨٩

الجواب: (١) د زمکې په اخستلو خرخولو او کاروبار کولو کښې ددې پلاټونو په قیمت کښې باقاعده زکوة فرض دې، ﴿١﴾ (٢) ته به باقاعده د حولانِ حول نه پس د نقد او پلاټونو د قیمت نه زکوة ادا کوي. کما فی شرح التنویر، او فی عرض تجارة قیمته نصاب ما لیس بنقد ﴿٢﴾ وهوالموفق

د پلاټ په قیمت کښې د هر کال زیاتوالی په صورت کښې د زکوة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مثلاً زید د شپیته زرو روپو یو پلاټ واخستلو په نیمه کښې ئې کور جوړ کړو او باقی نیم ئې د خرڅولو دپاره ایسار کړو، یو کال تیریدلو باندې ددې حَصی قیمت څلویښت زره روپئ شو دویم کال نه شپیته زره او په دریم کال باندې ٩٠٠٠٠ زره روپئ شو. بیا ئې په ٩٠٠٠٠ روپئ خرڅ کړو. نو زید به د ړومبی او دویم کال قیمت زکوة ورکوی یا د دریم کال په تیریدلو باندې د ٩٠٠٠٠ روپو زکوة ورکوی؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد زما ن غربی چوک فتح جنګ اټک... ١٨ رمضان ١٤١٠ھ

الجواب: په دې قیمت یعنی ٩٠٠٠٠ هزار باندې چه کال تیرشی قصداً یا تبعاً نو ددینه به زکوة ادا کولې شی او د خرڅولو نه مخکښې به د هغې په پیداوار کښې عشر یا خراج وی. کما فی رد المحتار ٢ ٢٦٨ کما لو اشتری ارض خراج اوعشر للتجارة لم یکن علیه زکوٰة التجارة ﴿٣﴾

﴿١﴾ وفی الهندیة: واما الدلالة فهی ان یشتری عینا من الاعیان بعروض التجارة او یواجر داره التی للتجارة بعرض من العروض فتصیر للتجارة وان لم ینو التجارة صریحا. (فتاوی عالمگیریة ١: ١٧٤ الباب الاول فی تفسیرها وصفتها ومنها کون النصاب نامیا کتاب الزکاة)

﴿٢﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٣٣ باب زکاة المال)

﴿٣﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ١١ مطلب فی زکاة ثمن المبیع وفاء کتاب الزکاة)

نوټ: که دا پلاټ د تجارت په نیت نه وی اخستلي شوي نو په سابقه طریقه به زکوة ورکولې کیږي. وهو الموفق

په غیر منقوله جائیداد کښې د زکوة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جائیداد غیر منقوله کښې غِنا متصور کیږي یا نه؟ حال دا چه ددې جائداد نه د هغه د ژوند ضروریات خو راک کپړې وغیره هم نه پوره کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری عبدالرحمان مهتمم دارالعلوم تجوید القرآن واړی ضلع دیر ۲۵\۲\۱۹۸۹ء

الجواب: په جائیداد غیر منقوله کښې پیدا وار ته نظر کولې شی قیمت ته نه. (هندیه) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د اوسیدلو یا تجارت په نیت لره تعمیرکړې شوې کورکښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما د کور جوړولو د پاره څه زمکه واخستله په هغې مې تعمیر شروع کړو د نصف تعمیر نه پس ما اراده بدله کړه چه مکان به جوړ کړم په ګټه به ئې خرڅ کړم اوس په دې مذکوره مکان کښې د زکوة څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید احمد تاج چیر مین ټاؤن کمیټی پبی نوښهره ۱۵\۷\۱۴۰۱ه

الجواب: ددې کور زمکه او هغه آبادی چه د خرڅولو د نیت نه مخکښې وه د زکوة نه مستثنی ده. البته ددې د خرڅولو نیت نه پس د مزید آبادی قیمت به د نورو مالونو سره جمع کړی زکوة به ورکوی اګرچه مزید آبادئ باندې د نیت د وخت نه پوره کال هم نه وی تیر شوې. (ما خوذ از رد المحتار) ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولو اشتریٰ قدوراً من صفر یمسکها ویؤاجرها لا تجب فیها الزکاة کما لا تجب فی بیوت الغلة ولو دخل من ارضه خنطة تبلغ قیمتها قیمة نصاب ونوی ان یمسکها او یبیعها فامسکها حولاً لا تجب فیه الزکاة (قاضی خان).
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۸۰ الفصل الثانی فی العروض)

﴿۲﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: نیة التجارة حال الشراء:...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د اوسیدلو د پاره اخستلې شوې زمکه کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوزمکه دخپلو اوسیدلو دپاره په پنځوس زره روپئ واخستله، پنځلس زره روپئ اداکړې شوې دی د باقی رقم دپاره ما وئیل چه میاشت کښې دننه به ئې اداکوم لیکن د بدبختې ناخوښئ سره اوس هغه خرڅوم خوتراوسه پورې ئې رجسټریشن نه دې شوې او نه ئې مکمل قیمت ادا کړې شوې په اول د تجارت مسئله نه وه بلکه د ذاتی اوسیدلو دپاره مې اخستې وه.نواوس به پکښې دزکوة څه مسئله وي؟ بینواتوجروا

المستفتی: غلام حسین میر محله نیاریان راولپنډی

الجواب: تا د اخستلو نه پس د تجارت نیت کړیدې لهذا تا باندې د زکوة لازم

(بقیه حاشیه) ان ینوی المالک بالعروض التجارة حالة شرائها، اما اذا کانت النیة بعد الملک فلا بد من اقتران عمل التجارة بنیة، ویشترط ایضا عند الحنفیة ان یکون الشیئ المتجر فیه صالحا لنیة التجارة فلو اشترئ ارضا خراجیة للتجارة ففیها الخراج لا الزکاة ولو اشترئ ارضا عشریة وزرعها وجب فی الزرع الناتج العشر دون الزکاة.

(الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۸٦۸ شروط زکاة عروض التجارة)

وقال الحصکفی: وشرط مقارنة النیة لعقد التجارة وهو کسب المال بالمال بعقد شراء او اجارة او استقراض ولو نوی التجارة بعد العقد او اشترئ شیئا للقنیة ناویا انه ان وجد ربحا باعه لازکاة علیه کما لو نوی التجارة فیما خرج من ارضه کما مر و کما لو شری ارضا خراجیة ناویا التجارة او عشریة وزرعها او بذراللتجارة وزرعه لا یکون للتجارة لقیام المانع. (الدرالمختار ۲:۱٦ قبیل باب السائمة)

وقال : واما عدم صحة النیة فی نحو الارض الخراجیة فلقیام المانع کما قدمنا لا لان الارض لیست من العرض فتنبه. (۲:۳۳ باب زکاة المال)

کیدلو هیڅ وجه نشته او چه لا دا مبیعه غیرمنقوله هم وی. ﴿۱﴾ (شامی ۱۲\۲ کتاب الزکاة) وهوالموفق

په کرایه ورکړې شوو دکانونواو کورونو باندې زکوة نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کرایه ورکړې شوې کورونو یا دکانونو کښې زکوة واجب دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمدزمان هائی سکول پشاور صدر ۱۲\جمادی الثانی ۱۴۰۷ھ

الجواب: ددې کورونو او دکانونو په قیمت کښې زکوة واجب نه دې البته دهغې دکرایه نه به باقاعده زکوة ورکولې شی. کذا فی خزانة الروایات (ماخوذ از مجموعة الفتاوٰی ۱: ۳۶۳﴿۱﴾)وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو نوی التجارة بعد العقد او اشتری شیأ للقنیة ناویا انه ان وجد ربحا باعه لا زکاة علیه. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱٦ قبیل باب السائمة کتاب الزکاة)

وقال العلامة مرغینانی: من اشتریٰ جاریة للتجارة ونواها للخدمة بطلت عنها الزکاة لاتصال النیة بالعمل وهو ترک التجارة وان نواها للتجارة بعد ذلک لم تکن للتجارة حتی یبیعها فیکون فی ثمنها زکوٰة لان النیة لم تتصل بالعمل اذ هو لم یتجر فلم تعتبر.
(هدایه اولین ص۱٦٧ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال العلامةعبد الحی: وفی مجمع البرکات: رجل اشتریٰ اعیانا منقولة یواجرها میاومة ومشاهرة ومسانهة ویحصل له من المنقولات مال عظیم لا یجب الزکوٰة فیها لانها لیست بمال التجارة فانها یمسکها وینتفع بها نوع انتفاع فصار کالاستعمال فلم یجب فی ذلک شیئ کذا فی خزانة الروایات.

اوهم په دې کتاب کښې دویم ځائې کښې لیکلی شوی دی:

لو اشتریٰ الرجل داراً او عبداً للتجارة ثم آجره یخرج من ان یکون للتجارة ولو اشتریٰ قدوراً من الصفر یمسکها ویواجرها لا یجب فیها الزکاة کما لا یجب فی بیوت الغلة کذا فی فتاویٰ قاضی خان. (مجموعة الفتاویٰ ۱: ۳٦۳ کتاب الزکاة)

د تجارت په نیت سره اخستلې شوې زمکه یا دکان او مکان باندې زکوة واجب دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د تجارت د پاره زمکه دکان او کور اخلی چه اوس ئې په ملکیت کښې دې آیا دې څیزونو باندې زکوة واجب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: منصف علی میاں چنوں ملتان.....۱۴۰۱\۷\۲۲ھ

الجواب: که دا دکان، مکان زمکه وغیره د تجارت په نیت اخستلې شوې وی نو د نورو اموالِ تجارت پشان پرې زکوة واجب دې. ﴿۱﴾ او که د خپلو حوائجو او ضروریاتو پوره کولو په نیت سره ئې اخستلې وی نو په دې باندې زکوة واجب نه دې. ﴿۲﴾ دا د نورو اجناسِ خورد ونوش پشان د اموالِ تجارت د جنس نه خارج دی. وهو الموفق

د ټرک او بس په قیمت کښې نه بلکه په آمدنئ او حاصلاتو کښې به زکوة ادا کوی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما سره نقد رقم نشته په ټول رقم مې لارئ او ټرک اخستې دی نو اوس به د دې ټرک او لارئ په مالیت باندې زکوة واجب وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم.....۱۹۷۴\۸\۲۱

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: والاصل ان ما عدا الحجرین والسوائم انما یزکی بنیة التجارة بشرط عدم المانع المؤدی الی الثنی وشرط مقارنتها لعقد التجارة وهو کسب المال بالمال بعقد شراء او اجارة (قوله ما عدا الحجرین) الخ وما عدا ما ذکر کالجواهر والعقارات والمواشی العلوفة والعبید والثیاب والامتعة ونحو ذلک من العروض.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۱۵ مطلب فی زکاة ثمن المبیع وفاء کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: ولیس فی دور السکنیٰ وثیاب البدن واثاث المنازل ودواب الرکوب وعبید الخدمة وسلاح الاستعمال زکاة لانها مشغولة بحاجته الاصلیة ولیست بنامیة ایضاً. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷ کتاب الزکاة)

الجواب: د ټرک او بس په قیمت کښې زکوة واجب نه دي البته د دې په آمدنۍ او حاصلاتو به باقاعده زکوة واجب وي (کما في الهندية ۱:۱۹۱ ولو اشترى قدوراً من صفر يمسكها ويؤاجرها لا تجب فيها الزكاة(۱)). وهو الموفق

په قسطونو د خرڅ شوي ټرک په اقساطو باندې زکوة

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه ټرک یا لارۍ په قسطونو باندې خرڅه کړیشی نو د دې قسطونو زکوة واجب دې یا نه؟ او په بائع دې که په مشتري؟ بینوا توجروا

المستفتی وزیر محمد جامعه حقانیه اکوړه خټک ۲۹ ذی قعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: غیر مقبوضه قسطونه هم په دینِ قوی کښې داخل دي، (کما فی شرح التنویر مع الهامش ۲\٤٧ لهذا په بائع به قبل القبض زکوة واجب وي (۲) دې شرط چه حولانِ حول قصداً یا تبعاً شوې وي. کما فی ردا المختار ۲:۲۷ قوله وحال الحول ای ولو قبل قبضه فی القوی والمتوسط وبعده فی الضعیف (۳) وهو الموفق

په گاډي او تجارتي غنمو کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائي!

﴿۱﴾ (فتاوی عالمگیریة ۱:۱۸۰ الفصل الثانی فی العروض)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفي: واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة قوى ومتوسط وضعيف فتجب زكاتها اذا تم نصابا وحال الحول لكن لا فورا بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوى كقرض وفي ردالمحتار (قوله وحال الحول) اى ولو قبل قبضه في القوى. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۸ مطلب في وجوب الزكاة في دين المرصد كتاب الزكاة)

﴿۳﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۸ مطلب في وجوب الزكاة في دين المرصد كتاب الزكاة)

(١) يو سړي د غنمو تجارت کوي ليکن هغه پراته وي خرڅ نه شي نو دې صورت کښې به زکوة په رآس المال باندې واجب وي که په آمدنئ باندې؟
(٢) يو ګاډي (ټرک) دي. چه د هغې قيمت اتيا يا الس کم سل زره دي. (٨٠٠٠٠ يا ٩٠٠٠٠) د هغې نه د زکوة څه طريقه ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: اسلام ظهور صالح خانه چراټ نوشهره

الجواب: (١) ددې راس المال (تجارتي غنمو) نه به څلويښتمه حصّه په زکوة کښې ورکول وي. (هدايه وغيره) ﴿١﴾ (٢) د ټرک په قيمت کښې زکوة نشته د آمدنئ نه به باقاعده زکوة اداکول وي. (شامي) ﴿٢﴾ وهوالموفق

په تجارتي او کرايه والا ګاډو کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه د بس ټرک وغيره متعلق بعضې علماء فرمائي چه ددې په آمدني کښې زکوة دې او په ذات کښې نشته. او بعضې په دواړو کښې د زکوة خبره کوي. اوس که ګاډي نوي وي نو دهغې قيمت د يو لاکهـ خواؤ شا وي او د سيکنډ هينډ ګاډي قيمت کم وي نو دې صورت کښې د زکوة طريقه څه ده؟ اود بعضې تاجرانو طريقه چه دا ګاډي په قسطونو اخلي څه نقد او څه په قسطونو نو دې صورت کښې به د زکوة څه طريقه وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی احمد نور باجوړ ١٩٧٥

﴿١﴾ قال العلامة مرغيناني: الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذابلغت قيمتها نصابا من الورق او الذهب لقوله عليه السلام فيها يقومها فيؤدى من كل مائتى درهم خمسة دراهم ولانها معدة للاستنماء باعداد العبد فاشبه المعد باعداد الشرع وتشترط نية التجارة ليثبت الاعداد. (هداية على صدر فتح القدير ٢: ١٦٥ فصل فى العروض)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصفكى: ولا فى ثياب البدن واثاث المنزل ودور السكنى ونحوها...... وكذلك آلات المحترفين. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٩ كتاب الزكاة)

الجواب:کوم کس چه د ګاډو تاجر وی او د هغې اخستل خرڅول کوی هغه به د ګاډو قیمت نه باقاعده زکوة ورکوی. لکونها من اموال التجارة وسلعها﴿۱﴾او کوم کس چه لارئ واخلی په کرایه او اجرت ئې چلوی نو هغه به دمنافعو نه زکوة ورکوی او د لارئې په قیمت کښې به زکوة واجب نه وی.

لأنه استغلال كبيوت الكراء كما فى مجمع البركات رجل اشترىٰ اعيانا منقولة يواجرها مياومة ومشاهرة ومسانهة ويحصل له من المنقولات مال عظيم لا يجب الزكاة فيها لانها ليست بمال التجارة الخ﴿۲﴾(مجموعة الفتاوىٰ ۱:۳٦۳)

او په قسطونو باندې اخستلو په تقدیر به غیر اداشوی اقساط قرض وی دا مقدار به د نصاب نه کم کړی او زکوة به ادا کوی ﴿۳﴾ وهو الموفق

د کرایه د پاره یا ذاتی استعمال د پاره موټر کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه موټر وغیره چه د ذاتی استعمال دپاره وی یا ئې په کرایه چلوی هغې کښې زکوة شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:فدا محمد لوند خوړ مردان

الجواب:کوم موټر وغیره چه د استعمال دپاره وی د هغې په قیمت کښې به زکوة واجب نه وی. لعدم النماء اوکه د استغلال (ګټې) دپاره وی دهغې په آمدنئ کښې به باقاعده زکوة واجب وی او په قیمت کښې به زکوة واجب نه وی.ونظیره ما فى مجموعة الفتاوىٰ ۱:۳٦۳ رجل اشترىٰ اعيانا منقولة يؤاجرها

﴿۱﴾ وفى الهندية: الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ما كانت اذابلغت قيمتها نصابا. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۱۷۹ الفصل الثانى فى العروض)

﴿۲﴾ مجموعة الفتاوىٰ للعلامة عبد الحى اللكهنوى ۱:۳٦۳ كتاب الزكاة)

﴿۳﴾ قال المرغينانى: ومن كان عليه دين يحيط بماله فلا زكاة عليه وان كان ماله اكثر من دينه زكى الفاضل اذا بلغ نصابا. (هداية على صدر فتح القدير ۲:۱۱۷ كتاب الزكاة)

میاومة مشاهرة ومسانهة ویحصل له من المنقولات مال عظیم لا یجب الزکوٰة فیها لانها لیست بمال التجارة فانها یمسکها وینتفع بها نوع انتفاع فصار کالاستعمال فلم یجب فی ذلک شیئ کذا فی خزانة الروایات ﴿۱﴾ وفی قاضی خان ولو اشتریٰ قدوراً من الصفر یمسکها او یواجرها لا تجب فیها الزکاة﴿۲﴾. وهو الموفق

د پټکی په پیسو د زکوٰة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما یو دکان په کرایه اخستې دې مالک دکان زمانه پنځوس زره روپۍ پټکې هم اخستې دې. دا رقم به ماته دوباره ملاویږی. اوس ددې رقم د زکوة څه حکم دې؟ مالک دکان به ئې ادا کوی که څه؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل زاده روتهی پائې مرچنټ تیمرګره ضلع دیر ۱۹۸۹\۸\۱۴

الجواب: که دا مالک دکان ستا د امانت اقراری وی انکاری نه وی نو ددې رقم زکوة به ستا په ذمه واجب وی. ﴿۳﴾ وهو الموفق

د جی پی فنډ او په کال کښې دوه ځلې د زکوة د کټائۍ حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی بنده د مرکزی حکومت ملازم دې. جی پی فنډ جمع شوې وو متعلقه دفتر اې جی پی آر حکومت پاکستان اسلام آباد حساب مکمل کړو څما د جمعې شوی رقم نه ئې زکوة

﴿۱﴾ (مجموعة الفتاویٰ للکهنوی ۱:۳۶۳ کتاب الزکوٰة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱ : ۲۵۱ فصل فی مال التجارة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن الهمام: (تحت قوله ولو کان الدین علی مقر) ففی القوی تجب الزکاة اذا حال الحول ویتراخی الاداء الی ان یقبض اربعین درهما ففیها درهم.

(فتح القدیر ۲:۱۲۳ کتاب الزکاة)

لرې کړو باقی رقم ئې اسټیټ بینک آف پاکستان اسلام آباد ته اولیږلو، چه زما کهاته نیشنل بینک اسلام آباد ته اولیږلې شی. د اې جی پی آر دفتر اسټیټ بینک او نیشنل بینک اسلام آباد ته وئیلې وو چه مطلوبه زکوٰة ترې نه منها شوې دې. دهغې نه علاوه بنده هم د بینک منیجر خبر کړې وو. لیکن د بینک منیجر په یکم رمضان دوباره د زکوٰة رقم وصول کړو دې سلسله کښې ایډمنسټریټر زکوٰة حکومت پاکستان سره د خط په ذریعه رابطه قائمه شوه جواب کښې ئې دا کار صحیح اوګر ځولو او د زکوٰة آرډیننس د دفعاتو حواله راکړې شوه. بنده په دویم ځل رابطه اوکړه چه په یو کال کښې د څلورمیاشتو په لړه موده کښې دویم ځل باندې زکوٰة وصول کول د قران او سنت منافی دی. لیکن هغه په دویم ځل د آرډیننس حواله ورکړه او درقم نه واپس کولو جوازئې پیدا کړو. شریعت کښې ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی بشیر احمد اسلام آباد پنجاب ...... ۱۳ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: جی پی فنډ قبل از قبض کټ کولې شی. لهذا دا رقم په حکومت باندې د ملازم قرض دې او قرض د فقهائې کرامو په نزد په درې قسمه دې قوی، متوسط، ادنیٰ....اوپه ظاهره دا فنډ په دریم قسم کښې داخل دې.

لانه عوض خدمة الحر، وفی الدرالمختار دین ضعیف وهو بدل غیر مال کمهر ودیة وبدل کتابة وخلع (ردالمحتار مصطفی البابی ۲: ۳۰۶)﴿۱﴾

پس حکومت ددې فنډ نه د زکوٰة اخستلو حق نه لری او دحکومت دا اقدام یعنی په کال کښې دوه ځلې زکوٰة اخستل د زیاتی دپاسه زیاتې او خلاف شریعت کار دې. ﴿۲﴾ وهوالموفق

جی پی فنډ ظاهره کښې د دَین ضعیف په حکم کښې دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په جی پی فنډ باندې

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۹ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم: لقوله علیه الصلاة والسلام لا زکاة فی مال حتی یحول علیه الحول. (البحر الرائق ۲: ۲۰۳ کتاب الزکاة)

زکوة شته یا نه؟ او واضحه دې وی چه دا رقم په مرګ یا په ریټائرډ کیدلو باندې ملاویږی او دا رقم ددې سره هم نه دې نو آیا ددې زکوة به ادا کوي؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل رازق سارجنټ مین پی اې ایف کوهاټ

الجواب: په پراویډنټ فنډ کښې د وصولئ نه مخکښې زکوة ورکول واجب نه دې. ﴿۱﴾ البته احتیاط په زکوة واجب کیدلو کښې دې، لا نه دین ضعیف فی الظاهر ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ پراویډنټ فنډ د یومالِ تجارت معاوضه نه ده په دې وجه په دین قوی کښې داخل نه دې او دینِ متوسط هم د مال بدله وی نو په دې وجه دا په دینِ متوسط کښې هم داخل نه دې. او په مالِ ضمار کښې هم داخل نه دې. ځکه چه په مال ضمار کښې د حصول توقع نه وی. او دا فنډ خالص د خدمت او ملازمت عوض دې لهذا دا په دینِ ضعیف کښې شمار کیږی. او په دینِ ضعیف کښې د وصولئ نه مخکښې زکوة واجب نه دې؛ او دا دامام ابوحنیفه رحمه الله رائې ده. او مفتی به قول هم دې او دباقی امامانو په نزد ټولې قرض برابر دې، دیکښې هیڅ تقسیم نشته.

قال ابن عابدین: (قوله عند الامام) وعندهم الدیون کلها سواء تجب زکاتها ویؤدی متیٰ قبض شیئاً قلیلا او کثیرا. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳۸ قبیل مطلب فی دین المرصد) (وهکذا فی المبسوط للسرخسی ۲: ۱۹۰)

لیکن فتوی په دې باندې نه ده. البته دې باند ې عمل کولو کښې احتیاط دې. حضرت مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله فرمائي! ددې فنډ په رقم باندې د ایام ماضیه زکوٰة واجب نه دې. دغه شان د حضرات صاحبین رحمه الله په نزد په قرضونو کښې د قوی یامتوسط او ادنی څۀ تفصیل نشته دې بلکه هر قسم قرض باند ې د ایام ماضیه زکوة واجب دې، نو په دې وجه که څوک په احتیاط او تقوی باندې عمل کوی او د ایام ماضیه زکوة هم ادا کړی نو بهتره دهٔ.

(امداد الفتاویٰ ۲: ۴۸ سوال: ۶۷)......(ازمرتب)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: واعلم ان الدیون ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعین درهما یلزمه درهم.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۸ باب زکاة المال)

د حکومت د طرف نه په زوره کټ شوې رقم او تنخواه کښې زکوٰة

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې سرکاری ملازم دې دهغه په تنخواه کښې اضافه اوشوه لیکن هغه ته د مخکښې پشان تنخواه ملاویږی. او کومه اضافه چه شوې ده. هغه حکومت ددې ملازم دپاره ځان سره جمع کوي. ما څلور پنځه کاله پس دا رقم راویستلې شو نو آیا دیکښې زکوة واجب دې؟ دغه شان کومه تنخواه چه میاشتنۍ ملاویږی هغې کښې زکوة شته یا نه؟ مونږ اوریدلې دی چه شاه اشرف علی تهانوی رحمه الله په میاشتنۍ تنخواه کښې زکوة ثابت کړیدې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا حفیظ الحق فاضل حقانیه.........٥١٧١١٩٧٧

الجواب: (١) دا رقم په دینِ ضعیف کښې داخل دې لهذا د قبض نه مخکښې په پرې زکوة واجب نه وی البته بعد القبض به زکوة واجب وی یعنی د حولان حول قصداً یا تبعاً نه پس ﴿١﴾ (٢) تنخواه کښې زکوة باقاعده واجب دې چه کله حولانِ حول قصداً یا تبعاً شوې وی. وهوالموفق

په تجارتی او نقد مال کښې د حولانِ حول نه پس هر حال کښې زکوة واجب دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په تجارت کښې یو لاکھ روپې اولګولې. د کورنۍ خرچې په وجه کال تیریدلو نه پس ٩٥ هزار پاتې شوې یعنی نفع هم اونشوه او کمې هم واقع شو یا کال پس لس زره نفع هم اوشوه لیکن پنځلس زره خرج شوې یعنی منافع هم اوشوه او په اصل زر کښې کمې هم راغې نو په دواړو صورتونو کښې د زکوة ورکولو څه طریقه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی حاجی عمر خان بلی ټنګ کوهاټ......١٢٢شعبان ١٤١٠ھ

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي: واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة قوى ومتوسط وضعيف فتجب زكاتها اذا تم نصابا وحال الحول لكن لافورا بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوى كقرض وبدل مال تجارة فكلما قبض اربعين درهما...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: تاجر به د حولانِ حول وخت کښې د مالِ تجارت او منافع دواړو نه زکوٰة ورکوی مثلاً اولنی رمضان باندې تاجر د یو لاکهـ روپو زرمنه غنم واخستل په بل کال اولنی رمضان ورسره پنځه سوه منه غنم او شپیته زره روپۍ موجود وې او د کال په دورانیه کښې ئې په کور کښې لس زره خرچ کړې نو دې صورت کښې به تا جر د پنځه سوه منو غنو او شپیته زره روپو زکوٰة ادا کوی داسې نه چه د ۵۰۰ من غنمو او اویا زرو روپو. یا صرف د شپیته زره روپو یا صرف د اویا زرو روپو ﴿۱﴾ وهو الموفق .

په ذاتی کتابونو کښې د زکوٰة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو مولوی صاحب سره به تقریباً د اوو سوو روپو کتابونه وی چه ذاتی طور باندې د مطالعې دپاره دې دې کتابو نو کښې یا ددې د قیمت نه به زکوٰة ادا کولې شی یا نه؟ بینوا بالبرهان توجروا عندالرحمٰن

المستفتی: مولانا غلام حبیب صاحب هزاروی ویسه اټک ۱۱ شعبان ۱۳۹۴ه

الجواب: کوم کتابونه چه د تجارت دپاره نه وی نو په هغې کښې او دهغې په قیمت کښې هیڅ زکوٰة نشته خصوصاً چه کله د مطالعې او استعمال دپاره وی نو په هغې کښې زکوٰة خو څه کوې فطرانه او قربانی هم نشته.

اما الاول فلعدم النماء لان المال هو الذهب والفضة والسائمة ومال التجارة، وفی الهندية ۱ : ۲۰۱ وان كانت له كتب تساوی مأتی درهم الا انه يحتاج اليها للتدريس او التحفظ اوالتصحيح يجوز صرف الزكوٰة اليه كذا فی فتاویٰ قاضيخان ﴿۲﴾ فافهم

(بقيه حاشيه) يلزمه درهم الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۳۸ باب زكاة المال)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: وشرط افتراض ادائها حولان الحول وهو فی ملكه وثمنية المال كالدراهم والدنانير لتعينهما للتجارة باصل الخلقة...... او نية التجارة فی العروض اماصريحاً...... او دلالة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۱۱ كتاب الزكوٰة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ۱ : ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

واما الثانی فلانهم وان صرحوا بعدم اشتراط النماء ولکن صرحوا بکونه فارغاً من الحاجة الاصلیة ﴿۱﴾ والمسئلة من الواضحات فلاتحتاج الی نقل العبارات. وهوالموفق

صرف د غوایا میخې په صورت کښې د زکوة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یوې کونډې ښځې سره یوه غوا یا میخه یا دوه بیزې دی چه په هغې باندې خپله گزاره کوی ځکه چه د خرچې ئې بل څه ظاهری سبب نشته دې نو آیا دا ښځه به زکوة ادا کوی.؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولانا عبدالحسیب مسجد فردوس هوتی مردان۱۹۷۲\۸\۱۴

الجواب: په دې ښځه باندې زکوة واجب نه دې. (لعدم تحقق النصاب الشرعی ﴿۲﴾ او که ددې څناورو قیمت دومره وی چه د پوره کال خرچه پرې پوره کیږی او د هغې نه علاوه د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت باقی پاتې کیږی نو ورته زکوة اخستل جائزنه دې کنې نو جائز دی. (ونظیره مافی الهندیه ۱ :۲۰۰ ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندية: ومنها فراغ المال عن حاجته الاصلية فليس فی دورالسکنیٰ وثياب البدن واثاث المنازل...... وکذا کتب العلم ان کان من اهله وآلات المحترفين کذا فی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریة ۱ :۱۷۲ کتاب الزکاة)

وقال الطاهر البخاری: رجل له کتب العلم مايساوی مائتی درهم ان کانت ممايحتاج اليها فی الحفظ والدراسة والتصحيح لايکون نصابا وحل له اخذالصدقة فقها کان او حديثا او ادباً. (خلاصة الفتاویٰ ۱ :۲۴۰ الفصل السابع فی الکتب والعروض)

﴿۲﴾ وفی الهندية: ومنها کون المال نصابا فلاتجب فی اقل منه .
(فتاویٰ عالمگيرية ۱ :۱۷۲ الباب الاول کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ وفی الهندية: وکذالو کان عنده من المصاحف وهو ...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د نصاب د بقائې په شرط مال تجارت کښې د نقصان په صورت کښې هم زکوة فرض دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه کاروبار کښې کال تیریدلو باندې معلومه شوه چه نقصان شوې دې او دا سړې صاحبِ نصاب هم دې نو څنګه او د څه څه مال نه به زکوة ادا کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی بشیر احمد شیخ....١٥ محرم ١٣٩٥ھ

الجواب: په صاحبِ نصاب باندې زکوة فرض دې اګر که نقصان ئې کړې وی لهذا هغه به دِ سونې یا چاندئ، زیوراتو او سامانِ تجارت وغیره نه باقاعده زکوة ادا کوي. ﴿١﴾ وهو الموفق

د ګانړې په قرضه کښې د زکوة حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید مثلاً څلور زره روپۍ قرض واخستلې او خپله زمکه ئې د عمرو سره ګانړه کړه نو اوس به د مذکوره رقم نه په کال تیریدلو باندې وجوبی زکوة ادا کوی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی ګل شهزاده بټ خیله ملاکنډ ایجنسی....٢١١١٠١١٩٦٩ء

(بقیه حاشیه) یحتاج الیه وان کان لا یحتاج الیه وهو یساوی مائتی درهم لا یجوز صرف الزکاة ولا یجوز له اخذها، وکذا لو کان له حوانیت او دار غلة تساوی ثلاثة آلاف درهم وغلتها لا تکفی لقوته وقوت عیاله یجوز صرف الزکاة الیه فی قول محمد رحمه الله ولو کان له ضیعة تساوی ثلاثة آلاف ولا تخرج مایکفی له ولعیاله اختلفوا فیه قال محمد بن مقاتل یجوز له اخذ الزکاة الخ. (فتاویٰ عالمگیریة ١: ١٨٩ الباب السابع فی المصارف)

﴿١﴾ قال العلامة برهان الدین: الزکاة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملک نصابا ملکا تاما وحال علیه الحول.

(هدایة علی صدر فتح القدیر ٢: ١١٢ کتاب الزکاة)

الجواب: دا څلور زره روپی. دا راهن په ذمه د مرتهن قرضه ده لهذا په دې کښې به زکوة واجب وی فی الحال ئې هم ورکولې شی او د ګانړې خلاصولو نه پس ئې هم د ګانړې د ټولې مودې ورکولې شي. ﴿۱﴾ (صرح فی رد المحتار والهندیه) وهوالموفق

د قرضې په رقم کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د قرضې په رقم کښې زکوة واجب دې یا نه؟ که واجب وی نو وصولولو نه مخکښې یا روستو څکه چه کله کله قرضه ورکیږی هم؟ بینوا توجرو

المستفتی: غنی الله نور ډهیر صوابی ۳۰۱۷۱۱۹۶۹

الجواب: د قرضې په رقم کښې زکوة واجب دې لیکن ادا به هغه وخت واجب وی کوم وخت کښې چه کم نه کم څلویښت روپئ شرعی یعنی د نصاب پنځمه حصه قبض کړې ﴿۲﴾ او که ټول قرض ئې په یو ځائې وصول کړو نو د ټولو کالونو زکوة به هغه وخت اداکړې شی ﴿۳﴾ او دورکیدلو په صورت

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو کان الدین علی مقر ملئی...... فوصل الی ملکه لزم زکاة ما مضی. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۰، ۱۱ کتاب الزکاة) وفی الهندیة: واما سائر الدیون المقربها...... ووسط...... اذا قبض مأتین زکی لما مضی فی روایة الاصل وقوی...... اذا قبض اربعین زکی لما مضی. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۱۷۵ کتاب الزکاة باب الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: واعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال التجارة فکلما قبض اربعین درهما یلزمه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۳۸ باب زکاة المال)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: وافتراضها عمری ای علی التراخی وصححه الباقانی وغیره وقیل فوری ای واجب علی الفور وعلیه الفتویٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۳ کتاب الزکاة)

کښې په هغه باندې زکوة نشته ﴿۱﴾ وهو الموفق

د جمات فنډ باندې تجارت کول او هغې کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید سره د جمات فنډ دې هغه د ضرورت په وخت کښې جمات کښې خرچ کوی اوس دې رقم باندې تجارت کول جائز دې یا نه؟ او د حولانِ حول نه پس په دې زکوة واجب دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: احسان طوروي\مولوی نور احمد ټانک....۲۸\۲\۱۹۸۴

الجواب: د چندې ورکونکو یا دهغوی یو اعتماد والا کس په اجازت سره په دې رقم تجارت کول جائز دې او که چرې دا رقم متولی ته نه وی ورکړې شوې نو دا رقم د چندې ورکولو د ملکیت نه خارج شوې نه دې او د چندې ورکونکو حیثیت ته به کتلې شی که هغوی مالداروی نو ددې مال دنه وقف کیدلو په وجې سره به زکوة دهغوی په ذمه واجب الاداد وی ګنې نه ﴿۲﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ قال الحصکفی: لا زکاة فی مال الضمار وهو مالا یمکن الانتفاع به مع بقاء الملک. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۰۱ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ شاه اشرف علی التهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی ۲\۵۹۵ کتاب الوقف کښې لیکلې دی. چنده د چندې والا د ملک نه اوځی نه. په دې وجه ددغې خلقو نه اجازت اخستل ضروری دی البته کوم ورکونکی چه مجهول یا مفقود وی د هغوی د حصې د نسبت موافق په بل جمات کښې خرچ کول جائز دی. (سوال: ۷۲۲)

دغه شان ۲\۵۷۲ (سوال: ۲۹۵ کښې د چندې په باره کښې لیکی: دا وقف نه ده د ورکونکو مملوک ده که چندې والا صراحة یا دلالةً په انعام ورکولو رضا وی نو صحیح دی ګنې صحیح نه دی. انتهی. پس ددینه معلومه شوه چه د جمات فنډ د خرچ کیدلو نه مخکښې وقف عرفی وی شرعی نه وی په هدایه کښې دی.

قال ابو حنیفة لا یزول ملک الواقف عن الوقف الا ان یحکم به الحاکم او یعلقه بموته فیقول اذا مت فقد وقفت داری علی کذا وقال ابو یوسف یزول ملکه بمجرد القول وقال محمد لا یزول حتی یجعل للوقف متولیا ویسلمه الیه، قال ابن الهمام: بعد ذلک القول وبه اخذ مشائخ بخاری. (هدایة مع فتح القدیر ۵:۴۱۸ کتاب الوقف)

باب زکوٰة السوائم

د ګډو بیزو نصاب او زکوة

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ څلور رونړا یو دوه واده کړی دی اودوه نا واده کړي، او حال دا چه زمونږ د ټولو مالیت ۱۷۰ ګډې بیزی دی اوس سوال دادې چه آیا په مونږ باندې د اختر قربانی واجب ده؟ او آیا مونږ به دټولو څاروو زکوة ادا کوو؟ بینوا توجروا

المستفتی: حسن خان متعلم بحر العلوم کوئټه... ۱۴ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: څلویښت بیزې شرعی نصاب دې او د عارضی تقسیم په وخت تاسو کښې هر یو رور صاحبِ نصاب دې. لهذا تاسو ټولو رونړو باندې زکوة او قربانی واجب ده. ﴿۱﴾ وهو الموفق

د نصاب نه کم ګډو بیزو کښې زکوة نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی شل ګډې بیزې وی. دوه کاله پس دهغې نه شل بچی پیدا شول، اوس چه په دې شلو باندې کال تیر شوې دی نو دیکښې زکوة شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم... ۱۴۰۰/۷/۱۳ھ

جواب: لا یجب علی هذا الرجل الزکوٰة لعدم کمال النصاب فی الابتداء

﴿۱﴾ وفی الهندیة: فاذا کانت اربعین سائمة وحال علیها الحول ففیها شاة الی مائة وعشرین. (فتاوىٰ عالمگیریه ۱ :۱۷۸ الفصل الرابع فی زکاة الغنم الباب الثانی فی صدقة السوائم)

نعم اذا كانت اربعين عند الابتداء وصارت مائة وثلثين عند حولان الحول فيجب فيه الشاتان ﴿١﴾. وهو الموفق

د ګډو بيزو د مشتر که نصاب مسئله

سوال: علمائې دين د ې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د يو سړی شل ضأن دی او شل حملان دی ليکن ضأن باندې کال تير شوې دې او حملان باندې صرف پنځه ورځې تيرې شوې دی نو ديکښې د زکوة څه حکم دې؟ بينوا توجروا

المستفتی باران خان طالب علم.....١٩ربيع الثانی ١۴٠٢ھ

الجواب: د ګډو بيزو نصاب څلويښت دې كما صرحوا بـه، او پـه دې صورت کښې نصاب باندې حولانِ حول نه دې شوې نـه قصداً نـه تبعاً پس ديکښې زکوة نشته. بخلاف ما اذا ولدت الاربعون شاة تسعين حملا فى وسط الحول فتجب فيها شاتان لوجود حولان الحول على الحملان تبعاً ﴿٢﴾ وهو الموفق

د غواګانو او ميخو په زکوة باندې د چراګاه (ورشو) د کرائې هيڅ اثر نه پريوځي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه څناورو غواګانو ميخو

﴿١﴾وفى الهندية: ليس فى اقل من اربعين من الغنم السائمة صدقة. فاذا كانت اربعين سائمة وحال عليها الحول ففيها شاة الى مائة وعشرين فاذا زادت واحدة ففيها شاتان الى مائتين. (فتاوىٰ عالمگيريه ١ :١٧٨ الفصل الرابع فى زكاة الغنم الباب الثانى فى الصدقة السوائم)

﴿٢﴾قال العلامة برهان الدين المرغينانى: ليس فى اقل من اربعين من الغنم السائمة صدقة فاذا كانت اربعين سائمة وحال عليها الحول ففيها شاة الى مائة وعشرين ، فاذا زادت واحدة ففيها شاتان الى مائتين فاذا زادت واحدة ففيها ثلاث...... والضان والمعز سواء لان لفظة الغنم شاملة للكل. (هدايه على صدر فتح القدير ٢ :١٣٥ فصل فى الغنم)

وغیره کښې مثلاً چه د سلو نه زیاتې غواګانې او میښې دی چه د کال په اکثره حصه کښې د دریائې کابل په غاړه او مینځنو ځنګلونو او میدانو نو کښې څریږی.لیکن دا ځنګل او زمکه په ټهیکه اخستلې شوې دي،سالانه د غواسل روپۍ او دمیښې دوه سوه روپۍ ورکوی.آیا په دې ټهیکه شوې زمکه کښې څریدونکو څناورو باندې هم زکوة او صدقه لازم ده؟ بینواتوجروا

المستفتی:حاجی زمان خان سرحد ټیکسټائل ملز نوشهره۱۹۷۵،۱۰،۱۱،۱۴

الجواب:دا میښې څریدونکې دی په دیکښې باقاعده زکوة واجب دې.او ټهیکه دار ته دددې مخصوص رقم ورکولو سره هیڅ فرق نه پریوځی.(کما فی الدرالمختار، وشرعا المکتفیة بالرعی المباح ذکره الشمنی فی اکثر العام لقصد الدر والنسل (۲:۲۰)﴿۱﴾. وهوالموفق

د ګډو بیزو په زکوة کښې معیت فی الرعی شرط نه دې.

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د یو سړی سره څلویښت ګډې بیزې دی چه یو نوکر ئې څروی او دددې ګډو څلویښت بچی دی چه بل سړې ئې څروی اوس په هغې باندې کال تیر شوې دې.د بعضې علماؤ موقف دې چه په دې بچو کښې ځان له زکوة نشته دې ځکه چه دیکښې معیت فی الرعی شرط دې.او بعضی علماء فرمائی چه اعتبار ملکیت ته دې.لهذا په دواړو کښې زکوة فرض دې په دیکښې کوم مذهب مفتی به دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:ملنګ غزنوی ۲۰ رجب المرجب۱۴۰۳ھ

الجواب: زمونږ د امامانو په نزد ځان ځانته یا یو ځائې کښې څریدل برابر دی.﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۶ باب السائمة)

﴿۲﴾ قال الدکتور وهبة الزحیلی: ان یحول علیها حول کامل فی ملک صاحبها بان یمضی علی تملکها عام کامل من بدء الملکیة، ویبقی الملک فیها جمیع الحول، فلو لم یمض الحول فی ملکه، لم تجب علیه الزکاة الخ. الفقه...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په اجاره باندې ورکړې شوو ګډو بيزو کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو سړې ګډې بيزې يو مزدور ته درې کالو دپاره ورکړې دې، دې دوران کښې دا ګډې بيزې ډيرې شوې بيا مالک مزدور ته اوو ئيل چه دا ګډې او بيزې خو زمونږ مينځ کښې نيم په نيمه دی. په دې وجه د تقسيم نه پس به د خپلې خپلې حصې نه زکوة ادا کوو. ليکن مزدور د زکوة ورکولو نه انکار اوکړو چه زکوة هم نه ادا کوه، نو اوس به دا زکوة مزدور ادا کوی يا مالک؟ بينوا توجروا

المستفتی حاجی ساده ګل بازو خيل ژوب بلوچستان.۹رمضان ۱۴۰۲ھ

الجواب: دې صورت کښې دا اجاره فاسده ده.دا مزدور نه د ګډو بيزو مالک دې او نه پرې زکوة شته. البته مزدور ته به اجر مثل ملاويږی او صلح دغه شان هم کيدلې شي(ماخوذ از هدايه﴿۱﴾ شامي ﴿۲﴾)وهوالموفق

(بقيه حاشيه) الاسلامی وادلته ۳:۱۹۱۶ زکاة الحيوان اوالانعام)

قال العلامة ابن عابدين: (قوله بالرعى)...... لو اطلق الكلا على المنفصل ولقائل منعه بل ظاهر قول المغرب الكلأ هو كل مارعته الدواب من الرطب و اليابس يفيد اختصاصه بالقائم فى معدنه ولم تكن به سائمة لانه ملكه بالحوز فتدبر قلت لكن فى القاموس الكلأكجبل العشب رطبه ويابسه فلم يقيده بالمرعىٰ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۶ باب السائمة)

﴿۱﴾ قال العلامة برهان الدين المرغينانى: ومن دفع الى حائک غزلا لينسجه بالنصف فله اجر مثله وكذا اذا استأجر حمارا يحمل طعاما بقفيز منه فالاجارة فاسدة.

(الهداية على صدر فتح القدير ۸: ۳۹ باب الاجارة الفاسدة)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ولو دفع غزلا لآخر لينسجه له بنصفه اى بنصف الغزل او استأجر بغلا ليحمل طعامه ببعضه او ثور ليطحن .....فسدت فى الكل ، قال ابن عابدين: (قوله فسدت فى الكل) ويجب اجر المثل لا يجاوز به المسمى.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵: ۳۹: ۴۰ باب الاجارة الفاسدة)

زکوة کښې د څناور ورکولو په ځائې قيمت ورکول

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه چه يو سړې د څناورو په زکوة کښې يو څناور متعين کړو زوستو پکښې څه تاخير اوشو او اوس د هغې قيمت شپيته روپۍ مقرر شو نوهغه به څه ځيز په زکوة کښې ادا کوي؟ بينواتوجروا

المستفتی: فضل الدين متعلم دارالعلوم حقانيه......١٩٧٨ء١٠١١٣١

الجواب: په دې سړې باندې ګډه يا د ګډې قيمت واجب دې. ﴿١﴾ هغه قيمت چه روستو وی او په دې حکم کښې تغير نه کيږی. ګوياچه موجوده قيمت شپيته روپۍ به ورکوی. ﴿٢﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ قال العلامة ابن نجيم: ويجوز دفع القيمة فی الزکاة والکفارة وصدقة الفطر والعشر والنذر. (البحر الرائق ٢: ٢٢١ فصل فی الغنم کتاب الزکاة)


﴿٢﴾ قال الحصكفی: وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء وفی السوائم يوم الاداء اجماعاً وهو الاصح، قال ابن عابدين: ای کون المعتبر فی السوائم يوم الاداء اجماعاً وهو الاصح فانه ذکر فی البدائع انه قيل ان المعتبر عنده فيها يوم الوجوب وقيل يوم الاداء وفی المحيط يعتبر يوم الاداء بالاجماع وهو الاصح.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٢: ٢٣ باب زکاة الغنم)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب زکوة الزروع والثمار



بسم الله الرحمن الرحيم

....قال الله تعالى....

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اَنْفِقُوا مِن طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْاَرْضِ ص

......(البقرة)......

....

باب زکوٰة الزروع والثمار (العشر)

د عشر د وجوب د پاره غِنا اونصاب شرط نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه (١) زمونږ په علاقه کښې دریاب بهیږی چه د هغې نه خلقو واړه واړه نهرونه ویستلې دی او په مفت کښې زمکې اوبه کیږی دیکښې عشر دې یا نصفِ عشر؟ (٢) یو سړې انتهائی قرضدار دې او دهغه دومره غله کیږی چه صرف د روزانه خرچې دپاره کافی کیږی آیا د هغه د زمکې په حاصلاتو کښې عشر واجب دې؟ (٣) زمونږ په علاقه کښې د دهقانی رواج دې او دهقان پنځمه حصه اخلی چه په هغې سره د کال گزاره مشکل سره کیږی آیا په دې دهقان باندې هم عشر واجب دې؟ بینو اتوجرو

المستفتی: شیر بهادر بر شور سوات........ ١٩٧٥ء ٩١٢٢

الجواب: (١) دداسې زمکې د حاصلاتو نه لسمه حصه ورکول واجب کیږی. (درمختار) (٢) د عُشر د وجوب دپاره نه غِنا شرط ده اونه څۀ نصاب. لهذا په دې سړې باندې به عشر واجب وی. (شامي) ﴿٢﴾

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي: وتجب في مسقى سماء اى مطر وسيح كنهر. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٥٣، ٥٤ باب العشر)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله بلا شرط نصاب) وبقاء فيجب فيما دون النصاب بشرط ان يبلغ صاعا وقيل نصفه.

(ردالمحتار ٢: ٥٤ مطلب مهم فی حکم اراضی مصر والشام باب العشر)

ومثله فی الهندية: ويجب العشر عند ابی حنيفة رحمه الله تعالىٰ فی کل ما تخرجه الارض. (فتاویٰ عالمگیریه ١: ١٨٦ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار کتاب الزکاة)

(۳) د مفتی بـه قـول پـه بنـاء بـه زمینـدار د خپلې حصې نـه عـُشر ادا کـوی (درمختار) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د حنفی مسلک په رنړا کښې په زرعی پیداوار کښې نصاب نه دې مقرر

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د عشر د وجوب د پاره زرعی پیداوار کښې څه مقرر نصاب شته یا نه؟ او آیا خاص مقدار د عشر نه مستثنی دې یا نه؟ دنفی په صورت کښې حدیث دبخاری عن ابی سعید الخدری چه د دیرشو منونه کمه غله یا کجورو کښې عشر واجب نه دې. دغه شان په روایت د علی کښې چه په ترکاریانو کښې عشر واجب نه دې دا توضیح طلب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی:نا معلوم.........

الجواب: د امام ابوحنیفه په نزد د عُشر دپاره څه نصاب مقرر نه دې،

لعموم قوله تعالیٰ ولعموم الحدیث ﴿۲﴾ واما حدیث خمسة اوسق فمحمول علی حالة التجارة او علی ما یأخذه الامام، واما حدیث لیس فی الخضراوات صدقة فمعناه ای لا یأخذه العاشر ﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: وفی المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۱ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة الكاسانی: ولابی حنیفة عموم قوله تعالیٰ: یا ایها اللذین امنوا انفقوا من طیبات ما كسبتم ومما اخرجنا لكم من الارض(البقرة: ۲۶۷) وقوله عزوجل: وآتوا حقه یوم حصاده (البقرة ۲۶۷) وقول النبی ﷺ: ما سقته السماء ففیه العشر وما سقی بغرب اودالیة ففیه نصف العشر (اخرجه البخاری فی صحیحه۳: ۳۴۷ فی الزكاة باب العشر فیما یسقی من ماء السماء عن عبد الله بن عمر مرفوعا بلفظ قریب منه) من غیر فصل بین القلیل والكثیر ولان سبب الوجوب وهی الارض النامیة بالخارج لا یوجب التفصیل بین القلیل والكثیر. (بدائع الصنائع ۲: ۱۸۰ باب العشر شرائط المحلیة)

﴿۳﴾ قال المرغینانی: قال ابو حنیفة فی قلیل ما اخرجته...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د میوو په عشر کښې د یو کال ذخیره کیدلو شرط معتبر نه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بنده په یو کتاب کښې لوستلې دی چه د زمکې په پیداوار کښې داسې څیزونه چه د یو کال پورې نه ذخیره کیږی مثلاً ټماټر، پالک ساګ د سیب بعضې قسمونه په دې کښې عشر نشته بلکه څلویښتمه ده. آیا دا صحیح دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل الرحمان راولپنډی..... ۲۵\۸\۱۹۷۵

(بقیه حاشیه) الارض و کثیره العشر...... ولابی حنیفة قوله علیه السلام ما اخرجت الارض ففیه العشر من غیر فصل وتأویل ما روياه زكاة التجارة لانهم كانوا يتبائعون بالاوساق وقيمة الوسق اربعون درهما...... وله ما روينا ومرويهما محمول على صدقة يأخذها العاشر. وقال ابن الهمام: ما اخرجت الارض ففيه العشر اخرج البخارى عنه عليه السلام فيما سقت السماء والعيون او كان عثريا العشر وفيما سقى بالنضح نصف العشر وروى مسلم عنه عليه السلام فيما سقت الانهار والغيم العشر وفيما سقى بالسانية نصف العشر وفيه من الآثار ايضا ما اخرج عبد الرزاق اخبرنا معمر عن سماک بن الفضل عن عمر بن عبد العزيز قال فيما انبتت من قليل وكثير العشر واخرج نحوه عن مجاهد وعن ابراهيم النخعى واخرجه ابن ابى شيبة ايضا عن عمر بن العزيز ومجاهد وعن النخعى وزاد فى حديث النخعى حتى فى كل عشر دستجات بقل دستجة والحاصل انه تعارض عام وخاص فمن يقدم الخاص مطلقا كالشافعى قال بموجب حديث الاوساق ومن يقدم العام او يقول يتعارضان وبطلب الترجيح ان لم يعرف التاريخ وان عرف فالمتأخر ناسخ وان كان العام كقولنا يجب ان يقول بموجب هذا العام هنا لانه لما تعارض مع حديث الاوساق فى الايجاب فيما دون الخمسة الاوسق كان الايجاب اولىٰ للاحتياط فمن تم له المطلوب فى نفس الاصل الخلافى تم له هنا ولو لاخشية الخروج عن الغرض لاظهرنا صحته اى اظهار مستعيناً بالله تعالىٰ واذا كان كذلک فهذا البحث يتم على الصاحبين لا لتزامهما الاصل المذكور وما ذكره المصنف من حمل مرويهما على زكاة التجارة طريقة الجمع بين الحديثين ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دې ټولو سبزیانو کښې لسمه یا شلمه واجب ده. دهغوی په نزد یو کال پورې باقی پاتې کیدل شرط نه دې،

لعموم حدیث البخاری ای فیما سقته السماء الحدیث﴿۱﴾ واما الحدیث لیس فی الخضراوات صدقة فمحمول علی ما یأخذه العامل﴿۲﴾ وفی الدرالمختار: وبلا شرط بقاء وحولان حول. (هامش ردالمحتار ۲:۶۷)﴿۳﴾. وهوالموفق

پاکستانی زمکې عُشری دی خراجی نه دي

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دپاکستانئ او بالخصوص د پیښور او مردان ابادې شو و زمکو باندې د عُشر د زمکو اطلاق کیږی

(بقیه حاشیه) قیل ولفظ الصدقة یشعر به فان المعروف فی الواجب فیما اخرجت اسم العشر لا الصدقة بخلاف الزکاة.

(فتح القدیر مع الهدایة ۲: ۱۸۷، ۱۸۸ باب زکاة الزروع والثمار)

﴿۱﴾ (الصحیح البخاری ۱: ۲۰۱ باب العشر فیما یسقی من ماء السماء والماء الجاری کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ وفی المنهاج: قوله فقال لیس فیها شیئ: قال ابویوسف ومحمد لا عشر فی الخضراوات ای فیما لا یبقیٰ سنة من غیر معالجة، وقال ابوحنیفة یجب فیها العشر ونصف العشر وحجته عموم قوله تعالیٰ انفقوا من طیبات ما کسبتم ومما اخرجنا لکم من الارض وعموم حدیث الباب الآتی، ویؤیده ما رواه ابن ابی شیبة عن عمر بن عبد العزیز قال فیما انبتت الارض من قلیل او کثیر العشر، والجواب عن حدیث الباب انه علی تقدیر ثبوته محمول علی ما یأخذه العاشر کما فی الهدایة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۳: ۱۵۲ باب زکاة الخضراوات)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۴ باب العشر)

یا د خراجی زمکو په جواب مو مطمئن کړې ډیره مهربانی به وي؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی عبدالرحمان لوند خوړ مردان

الجواب: ددې علاقې بارانی زمکې او هغه نهری زمکې چه د هغې نهرونه مسلمانانو جوړ کړې وی د ابلاشک شبهې عشری دی.اوهغه نهرونه چه انګریزانو جوړ کړې وی نوپه هغې کښې هم د عَشری کیدوحکم صحیح او راجح دې ځکه چه د انګریز حکومت نه مخکښې دا زمکې عُشری وی. او بیا چه انګریزانو کوم نهرونه وغیره جوړ کړې وو. نو دغه انهار وغیره د مسلمانانو په لاسونو علی طریق المن والفئ داخل شوی دی.دا نه چه مسلمانانو په زور او غلبې سره اخستې دی.لهذا دا به خراجی نه وی.

قال العلامة الشامی ۲:۵۴ والحاصل ان ماء الخراج ما کان للکفرة ید علیه ثم حویناه قهراً وما سواه عشری لعدم ثبوت الید علیه فلم یکن غنیمة﴿۱﴾. وهو الموفق

د وقف زمکې د عُشر مسئله

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د وقف شوې زمکې په پیداوار کښې عُشر شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:لعل محمد بلوچستان.....۲۲\محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب:دوقف شوې زمکې دپیداوارنه به عُشرورکولې کیږی﴿۲﴾وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۷ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویجب مع الدین وفی ارض صغیر ومجنون ومکاتب ومأذون ووقف،قال العلامة ابن عابدین : (قوله ووقف) افاد ان ملک الارض لیس بشرط لوجوب العشر وانما الشرط ملک الخارج لانه یجب فی الخارج لافی الارض فکان ملکه لها وعدمه سواء. (الدرالمختارمع هامش ردالمحتار ۲: ۵۴ باب العشر)

انمه مساجد ته په ورکړې شوې سيرئ کښې عُشر واجب دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د جمات امامانو ته قوم کومه سيرى ورکړې وى دهغې په پيداوار کښې عُشرشته يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتى: محمد ابراهيم کنډ و بالا تيمر گره دير ....٢٧\٣\١٩٨٩

الجواب: کومه سيرى (زمکه) چه د جمات امامانو ته ورکړې شوې دى نو امامان د هغې مالکان دې دهغې دپيداوارنه باقاعده عُشرورکول ضرورى دى(١) اودا زمکه نه وقف ده او نه عاريت بلکه د عُمرىٰ پشان ده. وهوالموفق

د رهن شوې زمکې عُشر آو د رهن په پيسو کښې د زکوة مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه زمونږ په علاقه کښې خلق زمکې گانړا کوى.نوددې گانړا شوې زمکې د آمدنئ عُشر به راهن ادا کوى او که مرتهن او آيا د رهن نفع مرتهن دپاره جائز ده يا نه؟ او هغه روپئ چه د مرهو نې (گانړا شوې څيز) په عوض کښې اخستلې شوې دى دهغې زکوة به راهن ادا کوى که مرتهن؟ بينواتوجروا

المستفتى: غلام حسن شاه....٢\٩\١٩٧٧

جواب: عُشرپه مرتهن باندې دې.لانه مالك الغلة (٢) او د پيسو رهن کړې شوو زکوة هم په ده واجب دې.لانه دين قوي (٣) او د مرهونې نه انتفاع اخستل

---

(١) قال العلامة ابن نجيم: وكذا ملك الارض ليس بشرط للوجوب لوجوبه فى الارض الموقوفة. (البحر الرائق ٢:٢٣٧ باب العشر)

(٢) وفى الهنديه: اذا كان الرهن ارضا فاذن له فى زرعها او شجرا او كرما فاباح له ثمارها او بهيمة فاباح له شرب البانها فالحيلة فيه ان يبيح له ذلك على انه متى نهاه عن ذلك فهو ماذون له فى ذلك اذنا مستأنفا كذا فى خزانة المفتيين.

(فتاوىٰ عالمگيريه ٥:٤٦٧ تصرف الراهن والمرتهن فى المرهون)

(٣) قال العلامة الحصكفى: واعلم ان الديون عند الامام —— (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

مکر وه تحریمی دی که معروف وی او که مشروط(شامي)﴿۱﴾ وهو الموفق

په باغونو کښې د عُشر مسئله او د امام ابو يوسف د قول تشريح

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ د علاقه په ژورو زمکو کښې د سيب انار، انګور او خرمانو وغيره، باغونه دی. او په بعضې زمکو باندې آلوګان کرلې کيږی نو مذکوره ميوې او آلو ګان د منتفع کيدلو نه پس او پخيدلو نه مخکښې خرڅولې شی. په دومره ګران قيمت باندې خرڅولې کيږی مثلاً چه يو باغ ئې په لس زره باندې واخستلو نو مشتری ته پکښې پنځه سوه نه واخله تر اته سوه پورې ګټه پاتې کيږی. اوس يو عالم فتوی ورکړې چه عُشر په مشتری باندې دې چه د هغې په وجه اصل مالکانو عُشر ورکول پريخودې دی او مشتری وائی چه واه واه حضرت صاحب جيب دې بائع ډک کړې او څه دې د رآس المال او نفع ددواړو نه عشر ادا کړم؟ ګزارش دادې چه انجناب په علمی ژور والی سره د زمانې بدليدل مخې ته کيږدئ او راهنمائی اوکړی. دغه شان په امدادالفتاوىٰ ج۱ص۵۰ کښې ئې دامام ابو يوسف مذهب ته اعدل وئيلې دی ددې مطلب دادې چه عشر په دواړو باندې دې ليکن دابويوسف د مذهب تشريح ناقل غلطه کړې ده لهٰذا د مولانا موصوف د فتوی وضاحت اوکړئ؟بينوا توجروا

المستفتی:مولانا نور محمد وانا جنوبی وزيرستان. جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: په صورت مسئوله کښې عُشر په بائع دې.

لـمـا فی الـدرالمختار: ولو باع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر على المشترى ولو بعده فعلى البائع انتهىٰ وفی ردالمحتار ۲ :۷۴

(بقيه حاشيه)ثلاثة قوی ومتوسط وضعيف فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوی کقرض وبدل مال تجارة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۳۸ باب زکاة المال)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين : والغالب من احوال الناس انهم انما يريدون عند الدفع الانتفاع ولو لاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما يعين المنع. (ردالمحتارهامش الدرالمختار ۵ :۳۴۳ کتاب الرهن)

وعند ابی یوسف عشر قيمة الفصل على البائع والباقی علی المشتری ﴿١﴾
يعني د اخستلو وخت كښې به دا معلوم كړيشي چه دې وخت كښې ئې څه قيمت دې او د لـو (پريكولو) په وخت كښې ئې څومره قيمت دې. مثلاً د اخستلو وخت كښې يو زر (١٠٠٠) روپئ او د لو په وخت كښې ٣٠٠٠ روپئ دى. نو د زرو روپو عُشر به بائع ادا كوى او د دوه زرو به مشترى ادا كوى. وهو الموفق

د عُشر باره كښې د امام ابو يوسف په قول باندې دويم تپوس

سوال: جناب مفتي جامعه حقانيه اكوړه خټک!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! د عُشر په باره كښې راليږلې شوې فتوې ملاؤ شوه، جزاكم الله. د لاندينو څو جزئياتو باره كښې راهنمائى اوكړئ اجر دارين حاصل كړئ؟

(١) وقت الوجوب متى هو فعند ابى حنيفة عند ظهور الثمرة وعند ابى يوسف وقت الادراک وعند محمد وقت القضية وعنده يجب عشر ما اكل او اطعم . (فتح القدير ٢:٣). (٢) وفى البحر ان استهلكه غير المالک اخذ الضمان منه وادى عشره. (بحر الرائق ٢:٢٣٧). (٣) لو غصب ارضاً عشرية فزرعها ان نقصتها الزراعة كان العشر على صاحب الارض لانه يأخذ ضمان نقصانها فيكون بمنزلة نمائها عند ابى حنيفة . (فتح ٢:٨). (٤) اما طريق ابى حنيفة فهو ان الواجب اداء جزء من النصاب من حيث المعنى وهو المالية واداء القيمة مثل اداء الجزء من النصاب من حيث الزمان (بدائع الصنائع ٢:٢٦)
يا د دوې چه دا د بدائع جزئيه د زكوة سره خاص نه ده د عُشر هم دا حكم دې لكه چه د هدايه په دفع القيم كښې په دې تصريح ده دغه شان په بدائع ٢:٦٣ باندې تصريح ده ﴿٥﴾ فقهى قاعده: للبدل حكم مبدل منه
د پورتنو جزئياتو نه واضحه شوه چه د عُشر د وجوب سبب د بائع په حق كښې متحقق شو برابره خبره چه بيع قبل الادراک وى او كه بعد الادراک وى

﴿١﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ٢:٦٠ باب العشر)

خصوصاً که جزئیه نمبر ۴ چه هغې کښې ئې قیمت ته معنًی ما خرج وئیلې دی. اوس د بائع دبری الذمه کیدلو د وه صورتونه دی (۱) ادا ما وجب او کړی (۲) چه محل د وجوب د عشر عند البائع فوت شی. هم داثانی وجه ده چه مسئله بیع القصیل قبل الادراك ثم ترکه باذن البائع الی وقت الادراك، کښې ئې بائع د عشر نه بری کړې دې چه دې صورت کښې محل د وجوب د عشر بدل شو او چه کله محل فوت شو نو ما وجب هم ساقط شو.

ففی العنایة: فان قیل ینبغی ان یجب العشر فی التبن لانه کان واجباً وقت کون الزرع قصیلا والتبن هو القصیل ذاتاً الا انه زادت فیه الیبوسة وبها لا یتغیر الواجب، اجیب: بانه لا یجب العشر فی التبن لان العشر کان واجباً قبل ادراک الزرع فی الساق حتی لو قصله وجب العشر فی القصیل فاذا ادرک تحول من الساق الی الحب کما تحول الخراج من المکنة عند التعطیل الی الخارج. (عنایة علی هامش فتح القدیر ۲: ۵)

دعنایه دسوال اوجواب نه دمسئله دقصیل اصل مذهب ابو حنیفه سره د خاص کیدلو په وجه صفا ظاهره شوه. اوداهم معلومه شوه چه تبدل د ذات د محل عشر سره عشر ساقطیږی، په تبدل د وصف سره نه. او مسئله شما زمین کښې د ذات عشر (چه هغه سبب دې مثلاً) نه دې بدل شوې. بلکه صفت بدل شو چه د کچه کیدلو نه پخیدلو طرفته هر سبب منتقل شو. دغه شان علامه شامی د مدار تحول، عشر من ذمة الی ذمة دپاره ضرور واضح اصل ساتلې دې.

قوله: والعشر علی الموجر عنده وقالا علی المستاجر الخ، آگے لکھتا ہے: فان امکن اخذ الاجرة کاملة یفتی بقول الامام والا بقولهما لما یلزم علیه من الضرر الواضح الذی لا یقول به احد، (ردالمحتار ۲: ۶۰)

هم دا مدار د تحول مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په امداد الفتاوی جلد دویم کښې زیات واضح کړې دې. اوس به مسئله مذکوره کښې د الزام د ضرر علی المشتری په وجې سره که د ابو یوسف په مذهب باندې فتوی ورکړیشی نو څه حرج به وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا نور محمد جامع مسجد وانا جنوبی وزیرستان

الجواب: واضحه دې وي چه دلته دوه ځان ځانته مسئلې دي اول دا چه د عشر وجوب څه وخت کيږي؟ نو په دې کښې زمونږ امامان مختلف دي.

فليراجع الى ردالمحتار ٢: ٤٧﴿١﴾ والبدائع ٢: ٦٣﴿٢﴾ وفتح القدير ٢: ٣﴿٣﴾،
او دويم دا چه عشر په بائع دې که په مشترى باندې؟ نو دا هم مختلف فيها ده.

قاله فى البدائع ٢: ٥٧، ولو باع الارض العشرية وفيها زرع قد ادرک مع زرعها او باع الزرع خاصة فعشره على البائع لانه باعه بعد وجوب العشر وتقرره بالادراک (هو وقت الوجوب عند ابى حنيفة) ولو باعها والزرع بقل فان قصله المشترى للحال فعشره على البائع ايضاً لتقرر الوجوب فى البقل بالقصل وان تركه حتى ادرک فعشره على المشترى فى قول ابى حنيفة ومحمد لتحول الوجوب من الساق الى الحب، وروى عن ابى يوسف انه قال عشر قدر البقل على البائع وعشر الزيادة

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ويؤخذ العشر) قال فى الجوهرة واختلفوا فى وقت العشر فى الثمار والزرع فقال ابو حنيفة وزفر يجب عند ظهور الثمرة ...... وقال ابويوسف عند استحقاق الحصاد وقال محمد اذا حصدت وصارت فى الجرين.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ٢: ٥٨ باب العشر)

﴿٢﴾ قال العلامة الكاسانى: واما وقت الوجوب فوقته وقت خروج الزرع وظهور الثمر عند ابى حنيفة وعند ابى يوسف وقت الادراک وعند محمد وقت التنقية والجذاذ فانه قال اذا كان الثمر قد حصد فى الحظيرة وذرى البر، وكان خمسة اوسق ثم ذهب بعضه كان فى الذى بقى منه العشر فهذا يدل على ان وقت الوجوب عنده هو وقت التصفية فى الزرع ووقت الجذاذ فى الثمر. (بدائع الصنائع ٢: ١٨٦ فصل واما وقت الوجوب كتاب الزكاة)

﴿٣﴾ قال العلامة ابن الهمام: فعند ابى حنيفة عند ظهور الثمرة فلا يكون تعجيلا وعند ابى يوسف وقت الادراک وعند محمد عند تصفية وحصوله فى الحظيرة.

(فتح القدير ٢: ١٨٩ باب زكاة الزروع والثمار)

علی المشتری وکذلک حکم الثمار علی هذا التفصیل ﴿۱﴾،
لهذا په صورت مسئوله کښې د طرفینو په قول باندې فتوی ورکول او یا د شیخ ابو یوسف په قول فتوی ورکول په یو قول هم زمونږ اعتراض نشته.باقی ستا حوالې چه دی نو داولنۍ حوالې خو د صورت مسئله سره هیڅ تعلق نشته. دا ځان ځانته مسئلې دی اود دویم،دریم،څلورم او پنځم جواب دا دې چه د صریح جزئیه با وجود استنباط کول بې قاعدې خبره ده.
وهوالموفق

په عُشر کښې د وجوب د وخت قیمت معتبر دې

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه د یو سړی لس منه د زکوٰة چنړه د. د عُشر ادا کولو نه مخکښې ئې د ګرانۍ په وجه د ټولې چنړې سودا اوکړه مثلاً په جنوری ۱۹۷۵ کښې ئې ۸۰ روپۍ فی من په حساب سره ټوله چنړه خرڅه کړه. او عشر ئې ادا نکړو تر دې چه د مئ په میاشت کښې د چنړې قیمت ۴۰ روپۍ فی من شو. اوس که صاحبِ نصاب د اولنی قیمت وخت کښې عشر ورکولو نو فقیر ته زیاته فائده وه،اوس که د دویم قیمت په حساب سره عشر ورکوی نو د مخکښې په شان فائده فقیر ته نشته اوس مسئله داده چه د شریعت په رنړا کښې دواړو قیمتونو کښې کوم یو قیمت په زکوٰة کښې ورکول معتبر دې؟ بینوا توجرا

المستفتی: نامعلوم...۸ جون۱۹۷۵

الجواب: په دې سړی ضروری ده چه یو من چنړا ورکړی اویا دې د وجوب د زمانې د نرخ اعتبار اوکړی.(کما فی الدرالمختار وتعتبر القیمة یوم الوجوب (هامش رد المحتار ۲:۳۰) ﴿۲﴾ وبمعناه فی سائرالفتاویٰ ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ۲:۱۷۵ فصل فی الخراج والعشر کتاب الزکاة)
﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)
﴿۳﴾ وفی الهندیة: وان ادی القیمة تعتبر قیمتها یوم الوجوب.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۰ الفصل الثانی فی العروض)

په عُشر کښې د جنس د قیمت ورکولو په صورت کښې مقامی نرخ معتبر دې سرکاری نه

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائې چه په ملاکنډ ډویژن کښې حکومت اوس اوس عُشری نظام ختم کړې دې اوس بعضې خلق د جنس په صورت کښې ادائیګی کوی او بعضې د قیمت په صورت کښې لیکن د قیمت په صورت کښې علماء مختلف شوې دی. بعضې وائی چه سرکاری نرخ معتبر دې. ځکه په دا نرخ (همیشه) دې، او بعضې وائی چه د هرغټې کلی په دکانونو کښې چه کوم نرخ مقرر وی د هغې په حساب ئې ورکوئ. ځکه چه د عرفی نرخ دې. اوس مطلوب دادی چه په سرکاری او عرفی نرخ کښې کوم یو معتبر دې. دغه شان د جنس او قیمت په ادائیګئ کښې کوم څیز معتبر دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبیدالله چترالي (شهید)

الجواب: په صورت مسئوله کښې بهتره داده چه جنس ورکړیشی او د قیمت ورکولو په صورت کښې به مقامی نرخ معتبر وی سرکاری نۀ.

لان تسعير الحاكم غير معتبر ولذا قالوا ان الحاكم لا يسعر وانهم قالوا: ويقوم فى البلد الذى المال فيه ولو فى مفازة ففى اقرب الامصار اليه (هامش الرد ٢: ٣٥)﴿١﴾. وهوالموفق

د عشری زمکې نه د خراج اخستلو په صورت کښې ذمه نه فارغه کیږی.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه حکومت خلقونه خراج وصول کوی که زمکه خراجی وی او که عُشري؟ او حکومت هم د مسلمانانو دې، نو آیا عُشر اداکول نه دی پکار؟ بینوا توجروا

المستفتی: لعل مرجان کوهاټ... ۹۱۸۱۱۹۷۴

﴿۱﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۴ باب زکاة الغنم)

الجواب: د عُشر زمکې د پيداوار نه عُشر ورکول ضروري دی د خراج ورکولو سره ذمه نه فارغه کيږی. (کما فی رد المحتار ٣: ٣٢٥ وکذا لوکانت عشرية لايؤخذ منها خراج ﴿١﴾ قلت فالاجتماع جهل وظلم، وهوالموفق

د خور حصه زمکه باندې غاصب رور خور ته عُشر ورکولې شي

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کومې خورته د پلار په جائيداد کښې د ميراث حصه نه وی ورکړې شوې او زمونږ ځائې کښې د پښتو نه ښځو (زنانو) ته ميراث نه ورکولې کيږی تولـه به تولـه زمکه د رونړو سره وی نو دې صورت کښې دا رونړه ددې زمکې عُشر خپلې غريبې خور ته ورکولې شی يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: عبدالله کيملپوری......٣\٧\١٩٧٥

الجواب: دا پيدا وار درور (غاصب) مملوک دې. ﴿٢﴾ لهذا دا رور خپلې خور ته عُشر ورکولې شی.﴿٣﴾ وهوالموفق

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣: ٢٨٩ باب العشر والخراج والجزية كتاب الجهاد)

﴿٢﴾ قال الشيخ محمد امين (قوله والا فالخارج للزارع الخ) ای ان لم يكن عرف فی دفعها مزارعة ولا فی قسم حصة معلومة يكون الزارع غاصباً فيكون الخارج له وقوله وعليه اجر مثل الارض مشكل ولا تفيده النقول المارة لانها حينئذ ليست مما اعد للاستغلال حتی يجب عليه الاجر بل الواجب عليه نقصانها الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٥: ١٣٧ مطلب زرع فی ارض الغير يعتبر عرف القرية)

﴿٣﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله ولاالی من بينهما ولاد) وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة.

(ردالمحتار ٢: ٦٩ باب المصرف)

افغان مجاهدین عُشر اخستلې شي

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه افغان مجاهدین د افغانستان د زمکې عُشر په زُور یارضا اخستلې شي؟ او دا جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:عبد الله مجاهد فاضل حقانیه...۲۸ جمادی الثانی ۱۴۰۴ھ

الجواب: جاز اخذ العشور للمجاهدین بشرط صرفها فی المصارف الشرعیة والوجه فیه انهم لیسوا بالادنی عن البغاة(۱) وهوالموفق

په شرابو تماکو، افیمو او بنګو کښې د عُشر مسئله

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا حرام څیزونه مثلاً شراب،تماکوانو، آفیمو، او بنګو کښې عُشر واجب دې یا نه؟ که واجب دې نو دهغې د جنس به ورکوی یا د قیمت نه؟بینوا توجروا

المستفتی:محمد غنی سنګولئې دیر....۱۹۷۹ء۱۹۱۷۱

الجواب: په شرابو کښې عُشر واجب نه دې په تماکوانو او افیمو کښې واجب دې.(۲)

﴿۱﴾قال الحصکفی: اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکاة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف المأخوذ فی محله الآتی ذکره والایصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۶ قبیل مطلب فی مالو صادر السلطان رجلاً الخ)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ویجب العشر عند ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ فی کل ما تخرجه الارض من الحنطة والشعیر والدخن والارز واصناف الحبوب والبقول والریاحین والاوراد والرطاب وقصب السکر والذریرة والبطیخ والقثاء والخیار والباذنجان والعصفر واشباه ذلک مماله ثمرة باقیة او غیر باقیة قل او کثر. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۶ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

که جنس ورکوی او که قیمت ﴿۱﴾ د تماکو کرل مطلقاً جائز دی. ﴿۲﴾ او د افیمو کرل د دوایئ دپاره جائز دی. ﴿۳﴾ وهوالموفق

د غیر مملوک ځنګلاتو د آمدنئ او د عُشر او زکوة مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقه کښې د ځنګلاتو د قیمت څلور اخماسه د علاقې خلقوته ورکولې کیږی. او یو خُمس حکومت اخلی آیا دا یو خُمس د عشر او زکوة قائم مقام دې او که نه ددینه علاوه به عُشر اداکولې شی. دغسې تهیکه دار نهه روپئ فی فټ دغه علاقائی خلقو ته ورکوی نو آیا عُشر د تهیکدار په ذمه واجب دې یا په علاقائی خلقو باندې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عنایت الرحمان واشنګ آلائی.....۹رمضان ۱۴۰۲

الجواب: (۱) د مُباح او غیرمملوک زمکې په قدرتی ونو کښې عُشرواجب نه دې. البته دهغې دقیمت نه به د حولانِ حول نه پس باقاعده زکوة ورکولې کیږی. یدل علی الحکم الاول ما فی تنقیح الفتاویٰ ۱:۱۰ وفی محیط السرخسی کل شیئ یتبع الارض فی البیع بغیر شرط فلا عشر فیه لانه بمنزلة اجزاء الارض، وکل شیئ لا یتبع الارض الا بشرط ففیه العشر کالحبوب والثمر﴿۴﴾ وفی الخانیة ولا یجب العشرفی القنب والصنوبر والقصب

﴿۱﴾ قال الحصکفی: وجاز دفع القیمة فی زکاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وکفارة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: فانه لم یثبت اسکاره ولاتفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشیاء الاباحة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۳۲۶ کتاب الاشربة)

﴿۳﴾وفی الشامیة: (قوله ویحرم اکل البنج والحشیشة والافیون) وهو صریح فی حرمة البنج والافیون لا للدواء وفی البزازیة والتعلیل ینادی بحرمته لا للدواء. (فتاویٰ شامیه هامش الدر۵:۳۲۵ کتاب الاشربة)

﴿۴﴾ (تنقیح الفتاویٰ الحامدیه ۱:۱۰ باب الزکاة والعشر)

الفارسی ......و لو جعل ارضه مشجرة او مقصبة یقطعها ویبیعها فی کل سنة کان فیه العشر (هامش الهندیه ١:٢١٦)﴿١﴾.

(٢) دا زمکه مباح او غیرمملوک ده او دا وني قدرتي دی. لهذا ددې مالک شرعی کتې کونکې یعنی مزدوردې، خرڅونکې او تهیکدارنه دې دا صرف قانونی امور دی. ﴿٢﴾ وهوالموفق

د مملوك او غیر مملوك غرونو په چلغوزو کښې د عُشر حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې لوئې لوئې غرونه دی چه په هغې باندې چلغوزی هم دی. دا غرونه د چا مملوک کیدلې شی یا نه؟ اودا د غرونو تقسیم په خسنړی سره (قرعه اندازي) صحیح کیدلې شی یا نه؟ دغه شان د چلغوزو دا میوه خرڅول جائز دی یا نه؟ که جائز وی نو زکوة او عُشر به د چا په ذمه واجب وی په بائع یا مشتري؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید احمد جدرانی ١٧\١٢\١٩٨٥

الجواب: غرونه په دوه قسمه وی مملوک او غیر مملوک اودا تعین مقامی خلق کولې شی. نو دمملوک غرونو اومیوې به هم مملوک وي، دهغې اخستل خرڅول صحیح دی اود قواعدو په لحاظ سره دغې ونو کښې عُشر واجب نه دې. البته په میوو کښې واجب دې. ﴿٣﴾ اوچه کله په میوو کښې اخستل خرڅول

﴿١﴾ (فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیه ١:٢٧٦ فصل فی العشر کتاب الزکاة)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن الهمام: ولا تجوز الشرکة فی لاحتطاب والاصطیاد وکذا الاحتشاس والتکدی وسؤال الناس وما اصطاده کل واحد منهما او احتطبه او اصابه من التکدی فهو له دون صاحبه وعلی هذا الاشتراک فی کل مباح کاخذ الحطب والثمار من الجبال کالجوز والتین والفستق وغیرها الخ. (فتح القدیر ٥:٢٠٩ فصل فی الشرکة الفاسدة)

﴿٣﴾ قال العلامة برهان الدین: وما یوجد فی الجبال من العسل والثمار ففیه العشر. (هدایة علی صدر فتح القدیر ٢:١٩٣ باب زکاة الزروع والثمار)

دپوخوالی نه مخکښې شوی دی. عُشر به په مشتری واجب وی ګنې په بائع واجب دې ﴿۱﴾ اود غیر مملوک غرونو میوې او ونې به دهغه کس مملوک وی چا چه هغه پریکړې او حاصل کړې وی. (کما هو الاصل فی المباحات ﴿۲﴾ او عُشر صرف په میوو کښې خالص په هغه چا واجب کیږی چه څوک قابض وی که هغه بائع وی او که مشتری (ماخوذ از تنفیح الفتاوٰی ۱:۱۰ وشـــرح التنویر باب العشر) ﴿۳﴾ وهوالموفق

په غرانژه میوو کښې عُشر نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه غرانـزه علاقـو کښې ګهنګور (میوه) پیدا کیږي، دا قدرتی پیدا واردې. دیته نه څوک اوبه ورکوی اونه ئې څوک حفاظت کوی لیکن خلق ئې دغرونونه راوړی اوپه غنمو یا پیسو باندې ئې خرڅوي، نودیکښې (ګنګور میوې کښې) عشرشته یانه؟ بینوا توجروا

المسفتی: نا معلوم....۹\۲\۱۹۷۵

الجواب: حکومت ددې حفاظت نه کوي، لهذا دیکښې به عُشر واجب نه وی. کـمـا فـی الـدرالـمـختـار **ویجب العشر فی ثمرة جبل او مفازة ان حماه الامام لانه مال مقصود لا ان لم یحمه لانه کالصید** (هامش ردالمحتار ۲:۲۶) ﴿۴﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولوباع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتری ولو بعده فعلی البائع. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۰ باب العشر)

﴿۲﴾ قال ابوالبرکات عبد الله بن احمد النسفی: ولا تصح شرکة فی احتطاب واصطیاد واستقاء والکسب للعامل وعلیه اجر مثل ما للاخر الخ.

(کنز الدقائق علی هامش بحر الرائق ۵:۱۸۴ فصل فی الشرکة الفاسدة)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی محیط السرخسی کل شیئ یتبع الارض فی البیع بغیر شرط فلاعشر فیه لانه بمنزلة اجزاء الارض وکل شیئ لا یتبع الارض الابشرط ففیه العشر کالحبوب والثمر. (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱:۱۰ باب الزکاة والعشر)

﴿۴﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۳ باب العشر)

په قاشقاشو، او افیمو او دوده کښې د عُشر مسئله

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه عُشر صرف د قاشقاشو په تخم کښې واجب دې یاصرف په افیمو کښې او یا صرف په دوده کښې او که نه په درې وارو کښې یا دوو کښې وضاحت اوکړئ او خبر کړئ؟ بینوا توجروا
المستفتی: محمد نسیم قریشی ناوګئی چمله سوات...... ۲۲۱۷۱۱۹۷۴

الجواب: قاشقاش او افیم دواړو مقصود وی نو په دیکښې به عُشر واجب وي، په خلاف د دودې او تنه کښې.

يدل عليه ما فى البدائع ۲: ۵۸ ومنها ان يكون الخارج من الارض مما يقصد بزراعة نماء الارض وتستغل الارض به عادة فلا عشر فى الحطب......ويجب فى قصب السكر وقصب الزريرة لانه يطلب بهما نماء الارض فوجد شرط الوجوب فيجب هذا ولم اجده صريحاً ﴿۱﴾. وهوالموفق

د افیمو عشر د پخیدلو نه پس د زمکې په مالک باندې دی

سوال: علمائي دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائي چه زمونږ په مُلک کښې د افیمو فصل کرلې کیږي. چه کله دا پاخه شی نو زمیندار ئې په چا خرخوی نو ددې صورت کښې به د زمکې مالک عُشر ورکوی یا مشتري؟ بینواتوجروا

المستفتی: سعید اکبر ګدون صوابی:.....۱۷رمضان۱۴۰۳ھ

الجواب: که دا اخستل او خرخول د پخیدلو نه پس شوې وی نو عُشر د زمکې په مالک باندې واجب وی. (کما فى شرح التنوير على هامش ردالمختار ۲: ۳۳۳ باب العشر ولوباع الزرع ان قبل ادراكه فالعشر على المشترى ولو بعده فعلى البائع ﴿۲﴾ وهوالموفق.

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ۲: ۱۷۸ فصل واما شرائط المحلية فانواع كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۶۰ باب العشر)

د غرانزو وونو په ميوو كښې د عشر حكم

سوال:علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه يو سړې بل كس سره په غرانزو ونو كښې شريک کړى چه څومره ميوه ته ددې ونو نه جمع کړې نو نيمه ستا نيمه زما. اوس به د هغې عُشر په مالک باندې واجب وى يا په مزدور باندې؟ بينوا توجروا

المستفتى:مولوى هستى خان برمل شمالى وزيرستان۱۴رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: كه دا ونه ددې امر كونكى ملكيت وى نو دا اجاره د قفيز الطحان، د قبيلې نه ده او نا جائز ده. البته د بلخ علماء په بعضې صورتونو كښې د جواز فتوى وركوى. ﴿۱﴾ پس په دې صورت كښې د ټولو ميوو عُشرد ونو په مالک باندې دې.اوكه دا ونې مباح وى نو عشر په دې حاصل كونكى باندې دې، ځكه چه دې ئې مالک دې. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾وفى الهنديه: وهذا بخلاف ما لو اشتر كافى الاحتطاب فاحتطب احدهما و جمعه الآخر فانه يجب الاجر بالغا مابلغ عند محمد رحمه الله تعالىٰ كذا فى الكافى...... دفع غزلا الى حائک لينسجه بالنصف فالثوب لصاحب الغزل ومشائخ بلخ جوزوا هذه الاجارة لمكان الضرورة والتعامل والصحيح جواب الكتاب لانه فى معنى قفيز الطحان وللحائک اجر مثله لا يجاوزبه قيمة المسمىٰ. (فتاوىٰ عالمگيريه ۴:۴۴۵ الفصل الثالث فى قفيز الطحان)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجيم: (قوله ولاتصح شركة فى احتطاب واصطياد واستقاء) لان الشركة متضمنة معنى الوكالة والتوكيل فى اخذالمباح باطل لان امر الموكل به غير صحيح والوكيل يملكه بدون امره فلا يصلح نائباً عنه اشار بالثلاثة الى ان اخذ كل شيئ مباح كالاحتشاش واجتناء الثمار من الجبال والتكدى وسؤال الناس ونقل الطين وبيعه من ارض مباحة اوالجص او الملح اوالثلج اوالكحل او المعدن او الكنوز الجاهلية الخ. (البحر الرائق ۵:۱۸۳ فصل فى الشركة الفاسدة)

د مالټو د باغ یا نورو ونو مینځ کښې په غلې وغیره کښې د عُشر حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما په پټی کښې د مالټو باغ لګولې دې په مینځنۍ زمکه کښې غله هم پیدا کیږي. بوټی اوس ان شاءالله کامیابیږی. آیا ددې مالټو او فصل دوارو نه به عُشر ورکول لازمی وی یا د یو څیز نه؟ او زمونږ زمکه نهری ده چه په هغې باند آبیانه هم وصول کولې شی نو لسمه به لازمیږی یا شلمه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالکریم راولپنډی......١٠١٩١١٩٦٩

الجواب: ته بهٔ د میوې او غلې دوارو نه شلمه یا دهغې قیمت ورکوې په دې شرط چه زمکه دباران په اوبو نه اوبه کیږی ګنې نو لسمه پکښې ضروری ده. **قال رسول اللهﷺ فیما سقت السماء والعیون او کان عثر یا العشر وما سقی بالنضح نصف العشر، رواه البخاری﴿١﴾، وفی درالمختار وتجب فی مسقی سماء ای مطر وسیح کنهر ......ویجب نصفه فی سقی غرب ای دلو کبیر او دالیة ای دولاب انتهیٰ مختصراً ﴿٢﴾. وهوالموفق**

په میوه دارو اوغیر میوه دارو ونو کښې د عُشر مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کښې ونې دی او دا ونې د قومونو او خاصو کورونو ملکیت دی. د هر یو خپله حصه معلومه ده او داونې په دوه قسمه دی میوه دارې چه چلغوزی کوی په هغې کښې مونږ عُشر ورکوو اوس که مونږ داونې خرڅوو یائې خپلو کورونو ته راوړو نو په دې قسم ونو کښې به عُشر واجب وی او که نه؟ او بغیر میوو ونو کښې عُشر واجب دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی جهانګیر خان شین مینار دی آئی خان ...١٤٠٠١١٢١٢٢هـ

﴿١﴾ (الصحیح البخاری ١: ٢٠١ باب العشر فیما یسقی من ماء السماء والماء الجاری کتاب الزکاة)

﴿٢﴾ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٥٣، ٥٥ باب العشر)

الجواب: د ونو په ميوو او خاص قسم ځانګو کښې (چه د نيزو او کټونو په استعمال کښې راوستلې شي) عُشر واجب دې، ﴿۱﴾ البته د ونو تنو کښې عُشر د وونو تنو کښې عُشر واجب نه دې.

كما فى تنقيح الفتاوىٰ ١ :١٠ وفى محيط السرخسى كل شيئ يتبع الارض فى البيع بغير شرط فلا عشر فيه لانه بمنزلة الارض﴿۲﴾. وهو الموفق

د سيوانو په باغونو کښې د عشرويستلو طريقه

سوال: علمائې د ين دې مسئلې باره کښې څه فرمائى چه زمونږ زيارت علاقه کښې د منړو باغونه دى چه د هغې خرخول په دوه طريقو سره کيږى يو دا چه د زميندار او ټهيکدار سودا جوړه شى زميندار خپلې پيسې واخلى دهغې عشر ورکوى. ليکن کوم زميندار چه باغ نه خرڅوى هغوى دپاره دا مسئله جوړه شوې ده. چه مخکښې به زمونږ خلقو کله ټولې منړې خرڅې کړې او حساب به ئې اولګولو چه اوس دومره رقم جوړ شو بيا به ئې د ټرک کرايه. دلالى محصول، کريټ، ميخونو وغيره خرچه جُدا کړه او د باقى نه به ئې عشر ورکولو نودې باره کښې سوال دادې چه دې صورتونو کښې د عشر څه طريقه ده؟ بينوا توجروا

المستفتى: عبدالمجيد قذافى مارکيټ کوئټه.......٢٩ رجب ١۴٠۴ھ

الجواب: د باغونو مالکان دې ميوو پريکولو وخت کښې د لسمې حصې د معلومولو تکليف اوکړى او ددغې لسمې حصې د قيمت (مقامى قيمت) دې معلوم کړى او دغه قيمت دې حالاً يا بعد البيع اداکړى.

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: (تحت قوله وقصب) هو كل نبات يكون ساقه انا بيب و كعوبا والكعوب العقد والانبوب ما بين الكعبين واحترز بالفارسى عن قصب السكر وقصب الذريرة وهو قصب السنبل ففيهما العشر. ...... فلو استنمى ارضه بقوائم الخلاف وما اشبهه او بالقصب او الحشيش وكان يقطع ذلك ويبيعه كان فيه العشر.

(ردالمحتارهامش الدرالمختار ٢ :٥٥ باب العشر)

﴿۲﴾ (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ١ :١٠ باب الزكاة والعشر)

(ماخوز از هندیه شامي) ﴿١﴾ او یا پنجاب کراچئ وغیره کښې د خر څولو نه پس دې د ټول قیمت نه (بغیر کرایه خرڅ وغیره لرې کولو نه) لسمه ورکړې

كما فى شرح التنوير على هامش ردالمحتار ٢: ٣٠ ويقوم فى البلد الذى المال فيه وفى ردالمحتار فلو بعث عبداً للتجارة فى بلد آخر يقوم فى البلد الذى فيه العبد بحر ﴿٢﴾ وفيه ايضاص ٦٩ قوله بلا رفع مؤن اى يجب العشر فى الاول ونصفه فى الثانى بلا رفع اجرة العمال ونفقة البقر...... بل يجب العشر فى الكل ﴿٣﴾. وهوالموفق

د ګیا د پاره کرلې شوو شړشمو کښې عشر واجب دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ خاې کښې په غنمو یا جوارو کښې شړشم کرلې کیږی چه د څاروو د ګیا د پاره استعمالیږی او مقصود غنم یا د جوارو فصل وی. نو آیا په دې شړشمو کښې عُشر واجب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل عظیم دفترپولیټکل ایجنټ

خار باجوړایجنسی.... ۱۶ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا شړشم مقصود با لاستغلال دی قدرتی ګیا نه ده په دې وجه دیکښې عُشر واجب دې (ما خوذ از هندیه) ﴿١﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ وفى الهندية: ولو باع العنب اخذ العشر من ثمنه وكذلك لو اتخذه عصيرا ثم باعه فعليه عشر ثمن العصير كذا فى محيط السرخسى ولا تحسب اجرة العمال ونفقة البقر وكرى الانهار واجرة الحافظ وغير ذلك فيجب اخراج الواجب من جميع ما اخرجته الارض عشرا او نصفا. (فتاوىٰ عالمگيريه ١: ١٨٧ قبيل باب السابع فى المصارف)

﴿٢﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٢٣ باب زكاة الغنم)

﴿٣﴾ (ردالمحتارهامش الدرالمختار ٢: ٥٢ باب العشر)

﴿٤﴾ وفى الهندية: وان يكون الخارج منها مما يقصد بزراعته..... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د حکومتی حفاظت نه بهر د غرونو په میوو کښې د عُشر مسئله

سوال: مایقول العلماء فی هذه المسئلة الفقهیة هل یجب العشر فی الجبل الذی لم یحم الامام؟ وقال صاحب الدرالمختار یجب العشر فی العسل وان لم یکن فی الارض العشری کالجبال والمفازاة ان لم یکن خراجیة، ویجب العشرفی ثمرة الجبل ان حماه الامام، فالمطلوب ان فی وطننا جبال لا یتصرف الامام فیها ولا خمایته للامام ولکن الحمایة لاهل القریة، وقد عین نصیب کل من اهل القریة واهلها یبایعون حصصهم فیما بینهم فهل یصح التملیک والبیع لهم؟ وان صح البیع فالعشر علی البائع اوالمشتری وان لم یصح البیع فعلی ای منهما العشر؟ وایضا قال الشامی فی عشر الثمار ان باع قبل الادراک فعلی المشتری وان کان بعد الادراک فعلی البائع؟ اطلب منکم تشریح المسائل مفصلاً لعموم البلویٰ وان اجبتم بالاردیة فلکم الشکر. بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم متعلم دارالعلوم حقانیه..... ۱۹۸۳\۵\۱۷

الجواب: په صورت مسئوله کښې دې میوه جاتو (چلغوزو وغیره) کښې عُشر واجب دې. البته که یومالک خپله حصه د ادراک نه مخکښې خرڅه کړې نو دا عُشر به د مشتری په ذمه وی. په اصل مالک باندې به نه وی. (یدل علیه ما فی شرح التنویر کما ذکره المستفتی﴿۱﴾ واضحه دې وی چه کومو ښارونو

(بقیه حاشیه) نماء الارض...... حتی لو استنمی بقوائم الخلاف والحشیش والقصب وغصون النخل او فیها دلب او صنوبر ونحوها وکان یقطعه ویبیعه یجب فیه العشر.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱ :۱۸٦ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولو باع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتری ولو بعده فعلی البائع والعشر علی المؤجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۰ باب العشر)

كښې تبول غرونه اوځنګلات ملكيت مشترکه ګڼرلې کیږی نه داچه موات یا غیرمملوك،نودداسې علاقو میوه جاتو كښې وجوب دعشر واضحه خبره ده. په دې كښې دامام دحفاظت شرط د هچا په نزد معتبرنه دې. ﴿۱﴾ وهوالموفق

په غرائزو وونو او لرګو كښې د عُشر مسئله

سوال: یوه رساله ستاسو خدمت كښې درلیږم چه په هغې كښې د ونو په ځانګو كښې د عُشر وجوب نفی کړې شوې دې حال دا چه ونې په دې غرونو كښې مقصود وی او اقوام باقاعده د هغوی تقسیم کوی او حفاظت ئې کوی او دا لرګی ډیر قیمتی وی دهغې متعلق تاسو صاحبان د خپلې رائې نه مونږ خبر کړئ چه دیكښې عُشر شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی:مولانا سردار صاحب مفتی ومدرس دارالعلوم
تل۱۹۸۶\۱۱\۲۹

الجواب: په دې ونوكښې عُشر واجب نه دې.(كما فى تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ۱:۱۰وفى محيط السرخسى كل شيئ يتبع الارض فى البيع بغيرشرط فلاعشرفيه﴿۲﴾ البته ددې غرائزو ونوپه میوه جاتو كښې بعضې وختونو كښې عُشر واجبیږی (هدايه)﴿۳﴾ دغه شان دكومې ونې ځانګه چه د نیزې وغیره دپاره ښکاریږی

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: (ان حماه الامام) الضمير عائد الى المذكور وهو العسل والثمرة والظاهران المراد الحماية من اهل الحرب والبغاة وقطاع الطريق لا عن كل احد فان ثمر الجبال مباح لا يجوز منع المسلمين عنه وقال ابويوسف لا شيئ فيما يوجد فى الجبال لان الارض ليست مملوكة ولهما ان المقصود من ملكها النماء وقد حصل.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۳ باب العشر)

﴿۲﴾ (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ۱:۱۰ باب الزكاة والعشر)

﴿۳﴾ قال العلامة برهان الدين: ومايوجد فى الجبال من العسل والثمار ففيه العشر.
(هداية على صدر فتح القدير ۲:۱۹۳ باب زكاة الزروع والثمار)

نو دهغې په تنه کښې عُشر نشته.لیکن په دغه څانګو کښې عُشر واجب دې. لان قوائمها کالثمرات (بدائع) ﴿۱﴾ وهوالموفق

په فصل او میوه جاتو کښې د عُشر مسئلې

سوال:علمائې دين دې مسئلو باره کښې څه فرمائي! (۱) په میوو کښې دادراک مصداق کوم حالت دې؟ (۲) په میووباندې عُشرکله واجب کیږي؟ (۳)دا عُشر په مشتری واجب کیږی یا په بائع باندې؟ (۴) څه میوه جات خرڅول هلاک دې که استهلاک؟ (۵) د میوه جاتو او فصل په عُشر کښې فرق شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی:محمدعلی مدرسه کریمیه لورالائی بلوچستان۱۹۸۷ء۱۷\۱۲۹

الجواب: (۱) کوم وخت چه دا میوه جات د مرضونو او فصادونو نه محفوظ شی نو هغې ته وخت ادراک وئیلې کیږی.(کمافی رد المحتار ۴: ۳۸، لکن بدوالصلاح عندنا ان تومن العاهة والفساد ﴿۲﴾ (۲) دا مختلف فیه مسئله ده البته د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دادراک او ظهور صلاح په وخت کښې عُشر واجب کیږی.

کما فی ردالمحتار ۲: ۷۲ قال فی الجوهرة واختلفوا فی وقت العشر فی الثمار والزرع فقال ابو حنیفة وزفر یجب عند ظهور الثمرة والا من

﴿۱﴾ قال العلامة الكاساني: ومنها ان يكون الخارج من الارض مما يقصد بزراعته نماء الارض وتستغل الارض به عادة فلاعشر فی الحطب، والحشيش والقصب الفارسی لان هذه الاشياء لاتستنمى بها الارض ولا تستغل به عادة لان الارض لا تنمو بها بل تفسد فلم تكن نماء الارض حتى قالوا فى الارض اذا اتخذها مقصبة وفى شجرة الخلاف التى يقطع فى كل ثلاث سنين او اربع سنين انه يجب فيها العشر لان ذلک غلة وافرة.

(بدائع الصنائع ۲: ۱۷۸ فصل واما شرائط المحلية فانواع كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴: ۳۲ مطلب فی بيع الثمر والزرع والشجر مقصوداً كتاب البيوع)

عليها من الفساد (۱) (۳) دا مروجه بیع، بیع فاسده ده، او بیع فاسد قبل القبض مفید ملک نه وی او عُشر به په بائع واجب وی. البته که بائع مُشتری ته قبضه ورکړه نو په مشتری به واجب وی

کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۴ ولو باع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتری ولو بعده فعلی البائع ﴿۲﴾ فافهم.

(۴) نه دي ﴿۳﴾ (۵) ددې په احکامو کښې هیڅ فرق نشته. وهو الموفق

د نشې والا څیزونو کرلو باندې عُشر واجب دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو زمیندار خپله زمکه باندې داسې څیز اوکرلو چه د هغې نه نشې والا څیزونه مثلاً چرس، بهنګ، افیم او هیروئن وغیره جوړیږی. ایا ددې حرام مال نه به هم عُشر ادا کولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: خیال اکبر افریدی پی اې ایف پشاور .... ۱۹۸۲\۱\۱۹

الجواب: دا څیزونه ددوایئ دپاره هم استعمالیږي. لهذا ددینه لسمه یا شلمه ورکول پکاردی. ﴿٤﴾ په عشر یا نصف عُشر سره به مال پاک شی حلالیږی نه لکه د غلا جامې یا د ریښمو جامې په صابن باندې پاکیږی حلالیږی نه. وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۸ باب العشر)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۰ باب العشر)

﴿۳﴾ وفی الهندية: واستبدال مال التجارة بمال التجارة ليس استهلاكاً بلا خلاف سواء استبدلها بجنسها او بخلاف جنسها. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۰ مسائل شتیٰ کتاب الزکاة)

﴿۴﴾ قال العلامة برهان الدين: قال ابو حنيفة فی قليل ما اخرجته الارض و كثيره العشر. (هداية علی صدر فتح القدير ۲: ۱۸۶ باب زكاة الزروع والثمن)

د تماکو استعمال او د عُشر مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ ورجینا تماکوان کرو، اود کرلونه ترسنبهالولو پورې پرې کافی خرچ راځی مثلاً د مزدور مزدوری، کیمیاوی خاوره بیا په بټۍ کښې پخولو وخت کښې د سوزؤلو د لرګو خرچ وغیره اوس سوال دادې چه مونږه کله دا فصل حاصل کړو او مکمل طور سره ئې خرڅ کړو او دهغې نقدې وصول کړو نو مخکښې ترې نه عُشر ادا کړو او بیا ترې نه قرضې وغیره ورکړو اوکه نه مخکښې ترې نه خرچې لرې کړودباقی نه عُشر ادا کړو؟ اود تماکو استعمال خو ناجائز دې نو ددې تجارت او زراعت جائز دې؟ او زمونږ زمکې نهری دی چه دهغې مونږ حکومت ته باقاعده آبیانه ورکوو نو دیکښې عُشر دې یا نصفِ عُشر؟ بینوا توجروا

المستفتی: ریدی ګل تخت بهائی...۱۹۷۵ء۱۲۱۷

الجواب: واضحه دې وی چه د تماکوانو استعمال مباح دې.

کما فی ردالمحتار ٥: ٣٠٦ فانه لم یثبت اسکاره و لا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشیاء الاباحة ﴿۱﴾

لهذا په دېکښې د عُشر واجب کیدل څه لرې خبره نه ده دغه شان ددې پاڼرو به د شجرالخلاف د څانګو پشان د میوو په حکم کښې وی.(فتامل مافی ردالمحتار۲۸:۲ فلو استنمیٰ ارضه بقوائم الخلاف وما اشبهه اوبالقصب او الحشیش وكان یقطع ذلک ویبیعه کان فیه العشر (غایة البیان)﴿۲﴾ اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ادراک په وخت عُشر واجب کیږی نو چه کله دا پاڼرې دپریکولو قابلې شی نوددې پاڼرونه یاددې دقیمت نه به عُشر ادا کول وی. پس کله چه

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ٥: ٣٢٦ کتاب الاشربة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲: ٥٥ باب العشر)

د یو کنال کچه تماکوانو قیمت پنځه سوه (۵۰۰) روپې وی او په بهتیځ کښې د پخیدلو نه پس د هغې قیمت دوه زره روپی وی نود قاعدې مطابق به د ۵۰۰ روپو نه عُشر ورکول وی. (یدل علیه ما فی الدر المختار ویؤ خذ العشر عند الامام عند طهور الثمر وبدو صلاحها (۱) فافهم. دغه شان مزدوری او خاوره وغیره به نشی لرې کولې صرح به فی الهندیة، ورد المحتار وغیره. (۲) او د ډیرو خرچو په وجه به د نهری زمکې د حاصلاتو نه شلمه ورکول وی. چه کله ددې نهری زمکه سره اوبه کیږی. (۳) وهو الموفق

پ گوړه کښې د عُشر حکم

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې د خپلې زمکې نه گنی حاصل کړل. بیا ئې د هغې نه گوړه جوړه کړه بیا ئې هغه گوړه خرڅه کړه نو ددې رقم نه به عُشر ادا کوی که زکوٰة ؟ اود زکوٰة په صورت کښې حولانِ حول شرط دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: تنگی ملا شریک دوره حدیث...... ۱۴\۲\۱۹۷۳

الجواب: دې سړې باندې به د گوړې نه لسمه یا شلمه ورکول وی.

کما یشیر الیه ما فی الهندیة ۱ : ۱۹۹ ولوباع العنب اخذ العشر من ثمنه وکذلک لو اتخذه عصیراً ثم باعه

---

(۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۸ باب العشر)

(۲) قال العلامة الحصکفی: بلارفع مؤن ای کلف الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۶ باب العشر)
وفی الهندیة: ولا تحسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیر ذلک فیجب اخراج الواجب من جمیع ما اخرجته الارض عشراً او نصفاً.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱ :۱۸۷ قبیل باب المصارف)

(۳) قال العلامة الحصکفی: ویجب نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر ودالیة ای دولاب لکثرة المؤنة (قوله لکثرة المؤنة) علة لوجوب نصف العشر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۵ باب العشر)

فعلیه عشر ثمن العصیر کذا فی محیط السرخسی ﴿١﴾.
او واضحه دې وی چه د عشر یا نصف عشر نه پس باقی رقم کښې حولانِ حول قصدًا یا تبعًا تیریدلو نهِ پس زکوٰة (رُبع العشر) ورکول دی. وهوالموفق

په ګنو او ګوړه کښې د عشر حکم

سوال: علمائې دین دی، مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ګنو کښې څومره زکوٰة واجب دې. ما په موطا امام محمد کښې لیدلې دی چه په زیتون کښې عشر شته زکوٰة نه. دا مسئله واضحه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد زئې

الجواب: د ګنو او ګوړې دواړو نه عُشر یا نصف عُشر ورکول صحیح دی.

ونظیره ما فی الهندیة ١:١٩٩ ولو باع العنب اخذ العشر من ثمنه وکذلک لو اتخذه عصیراً ثم باعه فعلیه عشر ثمن العصیر کذا فی محیط السرخسی ﴿٢﴾ فافهم. وهوالموفق

تماکوانو کښې د عُشر مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د تماکوانو عُشر به د هغې د شنو پاڼو نه ورکولې کیږی که د هغې د قیمت نه. حال دا چه د تماکوانو په پخولو باندې د بهتئ. لرګو وغیره خرچې هم راځي؟ بینوا توجروا

المستفتی: غاور خان اوګی مانسهره..... ١٢\١١\١٩٧٥

الجواب: د تماکوانو په دې پاڼو کښې عُشر یا نصف عُشر ورکولو سره یا د هغې قیمت ورکولو سره (په بهتئ کښې اوچوالی نه مخکښې) به ستا ذمه فارغه شی ځکه چه د زمکې پیداوار هم دادې ﴿٣﴾ وهوالموفق

﴿١﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ١:١٨٧ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

﴿٢﴾ (فتاویٰ عالمګیریه ١:١٨٧ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

﴿٣﴾ قال العلامة الحصکفی: ویؤخذ العشر عند الامام عند ظهور الثمرة وبدو صلاحها. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢:٥٨ باب العشر)

د تورو مچو په شهدو کښې عُشر واجب دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه ما د شهدو مچۍ قیمتًا اخستلې او ساتلې دی په کال کښې د یوې بکسې نه دوه پیتۍ جوړیږی د هغې دپاره پیتۍ، چته او د موم تخته قیمتًا حاصلوم په کال کښې دوو نه پنځه څلو پورې شهد حاصلوم. په کال کښې ئې د موسم په لحاظ سره ګلونو دپاره مختلفو ځایونو ته وړو چه کافی کرایې پرې خرچ کیږی. په بعضې ځایونو کښې ځائې هم په کرایه اخستل پریوځی په دې شهدو کښې عُشر واجب دې یا نه؟ او که په عُشر کښې قیمت ورکړې شی نو جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام نبی........ ١٩٩٠ء١٨١٦

الجواب: که تا دا پیتۍ په غیر خراجی زمکه کښې ایخی وی نو په تا باندې عُشر واجب دې ګنې نه. او په عُشر کښې شهد او قیمت دواړو ورکول جائز دی. ﴿٢﴾ ماخوذ از شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ٢: ٦٦ باب العشر ......وهوالموفق

د فصل په تخم کښې عُشر نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زموږ علاقه کښې خلق د ګیا د پاره شوتل (ریشقه) کری. آخره کښې مې لږ شوتل د تخم دپاره پریخودلو آیا اوس به ددې تخم نه هم عُشر ویستلې کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد منیر.... ١٩٧٦\١٦\٢

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي: يجب العشر في عسل وان قل ارض غير الخراج ولو غير عشرية كجبل ومفازة بخلاف الخراجية لئلا يجتمع العشر والخراج.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٥٣ باب العشر)

﴿٢﴾ قال الحصكفي: وجاز دفع القيمة في زكاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٢٣ باب زكاة الغنم)

الجواب: کوم څیز چه صرف د تخم او دوایئ دپاره استعمالیږی نو په هغې کښې به عُشر نه وی. ﴿۱﴾ وهو الموفق

په بهوسو کښې عُشر احوط دې واجب نه دې.

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د غنمو یا جوارو په بهوسو کښې عُشر واجب دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل حنان کوهاټ

الجواب: په بهوسو کښې عُشر احوط دې. عملاً علی المروی عن محمد. البته واجب نه دې ﴿۲﴾ وهو الموفق

په قدرتی ونو کښې عُشر واجب نه دې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ونو کښې د عُشر څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: جمعه خان کند یا کوهستان ... ۱۴۰۱\۶\۱۴هـ

الجواب: قدرتی وانبه نه مملوک دی او نه پکښې عُشر واجب دی. لانه لا یقصد به استغلال الارض ﴿۳﴾ وهو الموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیه: ولایجب فی البزور التی لا تصلح الا للزراعة والتداوی کبزر البطیخ والنانخواه والشونیز. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۶ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: الا فیما لا یقصد به استغلال الارض نحو حطب وقصب فارسی وحشیش وتبن وسعف ...... حتی لو اشغل ارضه بها یجب العشر. قال ابن عابدین: قوله وتبن: قال فی الفتح غیر انه لو فصله قبل انعقاد الحب وجب العشر فیه لانه صار هو المقصود وعن محمد فی التبن اذا یبس العشر.

(الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲:۵۵ باب العشر)

﴿۳﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۵ باب العشر)

د ونو په پاڼرو کښې دعُشر حکم

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چې ونو په پاڼرو کښې عُشر واجب دې یا نه؟ حال دا چه دا پاڼرې خرڅولې شی زمونږ په علاقو کښې د شهتوتانو پاڼرې خرڅولې شی او د علماؤ په مینځ کښې په دې مسئله کښې ډیر اختلاف دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید اسید الله بکا خیل بنوں.....۱۲ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب:د ونو په پاڼرو کښې هرحال کښې عُشر واجب نه دې که په بازار کښې خرڅیږی یا نه، ځکه چه د عُشر د وجوب دارومدار قصداً استنماء باندې دې.

کما فی البحر ۲:۲۳۷ واما شرائط المحلیة فان تکون عشریة وان یکون الخارج منها مما یقصد بزراعته نماء الارض﴿۱﴾

البته که د توت ونې لګولو نه مقصود هم دا پاڼرې وی نو په هغې کښې به عُشر واجب وی. (کما فی تنقیح الفتاوٰی ۱:۱۱ ﴿۲﴾ فلیراجع. وهوالموفق

د توت په پاڼرو. ونو او څانګوکښې عُشر واجب نه دې

سوال: څه فرمائی علمائې دین دې مسئلې باره کښې چه د توت په پاڼرو. ونو او څانګو کښې عُشرواجب دې یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالخالق دته خیل شمالی وزیرستان... ۱۹۹۱ء | ۵ | ۲

﴿۱﴾ (البحر الرائق ۲:۲۳۷ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: قال فی صور المسائل نقلا عن الزاهدی ما صورته قلت یمکن ان یلحق به اغصان التوت عندنا واوراقها لانه یقصد بها الاستغلال بخوارزم وخراسان وقد نص علیه فی درر الفقه فقال یجب العشر فی اوراق التوت واغصان الخلاف التی تقطع فی اوان تعلیم الکروم وغیر ذلک. (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱:۱۱ باب الزکاة والعشر)

الجواب: ددې ونو په تنو کښې عُشر واجب نه دې، کما فی تنقیح الفتاوىٰ الحامدیه ۱: ۱۰ وفی محیط السرخسی کل شیئ یتبع الارض فی البیع بغیر شرط فلا عشرفیه لانه بمنزلة اجزاء الارض ﴿۱﴾ انتهٰی، وبمعناه فی عشر فتح القدیر شرح الهدایه ﴿۲﴾ البته کله چه په پتی کښې ونې اوکرلې شی او زمکه کښې پیداوار اوشی نوپه هغې کښې عشر واجب دې

کما فی قاضیخان، ولو جعل ارضه مشجرة او مقصبة یقطعها ویبیعها فی کل سنة کان فیه العشر، هامش الهندیة ۱: ۲۷۶ ﴿۳﴾

او د توت په پاڼړو کښې عشر واجب نه دې د کهجورو د نباخونو په شان،

لعدم قصد الاستغلال ﴿۴﴾ **یدل علیه مافی الخانیة فی الحوالة السابقة وکذا صرح به الفقهاء باسرهم** ﴿۵﴾. **وهوالموفق**

د نهر په غاړو باندې کرلې شوې ونو کښې عشر واجب نه دې

سوال: څه فرمائی علمائې کرام ددین دې مسئلې باره کښې چه زمونږ په علاقو

﴿۱﴾ (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱: ۱۰ باب الزکاة والعشر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن الهمام: ولا یجب فیما یخرج من الاشجار کالصمغ والقطران ولا فیما هو تابع للارض کالنخل والاشجار لانها کالارض ولذا تستتبعها الارض فی البیع ولا فی کل بزر لا یطلب بالزراعة کبزر البطیخ والقثاء لکونها غیر مقصود فی نفسها.
(فتح القدیر ۲: ۱۸۷ باب زکاة الزروع والثمار)

﴿۳﴾ (فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ۲۷۶ فصل فی العشر)

﴿۴﴾ قال العلامة فخر الدین الاوزجندی: ولا یجب العشر فی التبن ولا فی الحطب والحشیش والقنب والصنوبر والقصب الفارسی ولا فی سعف النخل ولا فی الطرفاء. (فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۱: ۲۷۲ فصل فی العشر)

﴿۵﴾ قال العلامة الحصکفی: الا فیما لا یقصد به استغلال ....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

کښې د نهرونو نظام دې ددې لختو په غارو باندې ونې کرلې شی په دی وونو کښې عشر واجب دې که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق پیر سنگ پشاور... ۲۳| ذی قعده ۱۳۹۷ھ

الجواب: په دې وونو کښې عشر واجب نه دې.

کما فی تنقیح الفتاویٰ ۱ : ۱۰ کل شیئ یتبع الارض فی البیع بغیر شرط فلا عشر فیه لانه بمنزلة اجزاء الارض ﴿۱﴾

البته ددې زمکو دحاصلاتو نه به عُشر یا نصف العشر ورکول وی. وهو الموفق

په تهریشر گټلې شوې غنمو کښې عشر نشته

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه تهریشر باندې گټلې شوې غنمو کښې عُشر واجب دې یا نه؟ ځکه چه هغه خو مزدوری وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود دوسیره پشاور

الجواب: کوم غنم چه په اجرت کښې ورکړیشی د هغې عُشر په مُوجر باندې واجب دې په مالکِ د تهریشر باندې نه (شامي) ﴿۲﴾ وهو الموفق

په غرانزو قدرتی ونو کښې عُشر واجب نه دې.

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ علاقو کښې غرونو باند قدرتی ونې راخیژی او خلق دا ونې تقسیموی په د ېکښې د عُشر څه حکم دې؟ بینو اتورجروا

المستفتی: نامعلوم متعلم دارالعلوم حقانیه...... ۱۴۰۱۱۹۱۷ھ

(بقیه حاشیه) الارض نحو حطب وقصب وحشیش وتبن وصمغ وقطران وخطمی واشنان وشجر قطن الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۵ باب العشر)

﴿۱﴾ (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱ : ۱۰ باب الزکاة والعشر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: بلا رفع مؤن ای کلف الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۵۶ باب العشر)

الجواب: په دې ونو کښې عُشر واجب نه دې (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ١ : ١٠) ﴿١﴾

وهوالموفق

د کور په ميوه دارو اونو او سبزو وغيره کښې عشر نه دې واجب

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کور کښې دننه کومې ميوه دارې ونې يا سبزيانې وغيره دی آيا په دې کښې عُشر واجب دې؟ بينوا توجروا

المستفتی: غلام نبی..... ۱۴ محرم ۱۴۱۱ھ

الجواب: په کور کښې دننه ميوه داراونو او سبزيانو وغيره کښې عُشر واجب نه دې. ځکه چه دا د کور تابع شماريږی. (وفی الشامية ٢ : ٦٦ وخرج ثمر شجر فی دار رجل ولو بستانا فی داره لانه تبع للدار كذا فی الخانية ﴿٢﴾ وهوالموفق

کټکونکی. تهريشر والا. لوهار او ترکاڼ ته ورکونکو غنمو کښې عُشر په زميندار دې

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله غنم تيار شی نو تهريشر والا د کټايئ حصه اخلی لوهار او ترکاڼ ته د هغوی حصه ورکولې شی دامام مسجد او استاذ حصه هم ورکولې شی دې ټولو ته ورکونکو غنمو

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدين: وفی محيط السرخسی كل شيئ يتبع الارض فی البيع بغير شرط فلاعشر فيه. (تنقيح الفتاوىٰ الحامدية ١ : ١٠ باب الزكاة والعشر)

وقال ابن نجيم: وكذا لا عشر فيما هو تابع للارض كالنخل والاشجار لانه بمنزلة جزء الارض لانه يتبعها فی البيع الخ. (البحر الرائق ٢ : ٢٣٨ باب العشر)

وفی الهندية: ولا عشر فيما هو تابع للارض كالنخل والاشجار. (فتاوىٰ عالمگيريه ١ : ١٨٦ الباب السادس فی زكاة الزروع والثمار)

﴿٢﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢ : ٥٣ باب العشر)

کښې عُشر په مونږ واجب دي یا په دوي؟ بینواتوجروا

المستفتی: شاد محمد اخوروالی کوهاټ......۲۳ رمضان ۱۴۰۳ھ

الجواب: کوم غنم چه کټائی والا درمن ته وړلو والا، لوهار ترکاڼ وغیره ته بطور اجرت ورکولې کیږي په دغه ټولو کښې عُشر په دې زمیندار باندې دي، په نور چا باندې نه (هندیه، شامي، هدایه، وغیره) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د زمکې پیداوار په زمکه خرچ کول او قرض د عُشر مانع نه دي.

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی زمکه شاړه ده. ددې شاړې زمکې نه چه څه حاصلیږي هغه واپس په دې شاړه زمکه باندې لګی نو آیا په دې باندې عُشر واجب دې یا نه؟ بله دا که یو سړې د چا نه قرض واخلی زمکه پرې واخلی ددغې زمکې نه حاصل شوی امدن باندې مخکښې د ادائیګۍ د قرض نه عُشر لازم دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد جان سپین کوټ چارسده......۲۱۷۱۱۹۶۹

الجواب:د زمکې په پیداوار کښې عُشر یا نصفِ عشر بهرحال واجب دې برابره

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا تحسب اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ وغیر ذلک فیجب اخراج الواجب من جمیع ما اخرجته الارض عشرا.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۷ الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)

وفی الشامیة:بلا رفع مؤن ای کلف الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل خارج. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۶ باب العشر)

وقال المرغینانی: وکل شیئ اخرجته الارض مما فیه العشر لا یحتسب فیه اجرالعمال ونفقة البقر، قال ابن الهمام: وکری الانهار واجرة الحارس وغیر ذلک یعنی لا یقال بعدم وجوب العشر فی قدر الخارج الذی بمقابلة المؤنة بل یجب العشر فی الکل.

(هدایة مع فتح القدیر ۲:۱۹۳ باب زکاة الزروع والثمار)

خبره ده چه دغه پیداوار ددغی زمکې په آبادئی باندې خرچ کړې یا ئې په نورو ضروریاتو کښې خرچ کړې او که دا مالک مقروض وی او که غیر مقروض وی. ځکه چه د عُشر تعلق د خارج شوې څیزاو پیداوار سره دې د مالک سره نه. (وفی الدرالمختار (یجب) بلا شرط نصاب وبلا شرط بقاء وحولان حول لان فیه معنی المؤنة ولذا کان للامام اخذه جبرًا ویؤخذ من الترکة ویجب مع الدین﴿۱﴾ وهوالموفق

د پیداوار نه به د اجارې رقم نه شی منها کولې

سوال: علمائې دین دې مسلې باره کښې څه فرمائی چه بنده تقریباً شپږ کناله زمکه شپږ سوه روپئ اجاره کړې ده. په هغې تقریباً د پنځه څلویښت سوه روپو د غنی فصل کیږی اوس به څه د مذکوره رقم نه عُشر ادا کوم او که نه شپږ سوه به ترنه منها کړم نو باقی نه به عشرادا کوم؟ بنیو اتوجروا

المستفتی:شمشاد نوشهره.....۲۳ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: په دې کښې زکوة الارض (عشر) لازم دې. چه په ټول پیداوار باندې به بغیر د خرچې منفی کولو نه لازمیږی. (کما فی شرح التنویر بلا رفع مؤن ای کلف الزرع وبلااخراج البذرلتصریحهم بالعشر فی کل الخارج﴿۲﴾ وهوالموفق

د زمکې پیداوار کښې به د یوې وغیره خرچه نه منها کیږی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړې په زمکه کښې کروندہ اوکړه اوشل منه فصل ئې حاصل کړولیکن په تیارو لوئې پنځه نه پنځه سوه روپۍ خرچه هم راغله اوس به عُشر د پوره شلو منو ورکول وی یا به ترې پنځه سوه روپۍ منفی کړی باقی نه به عُشر اداکړي؟ بینوا توجروا

المستفتی: امیر نوشاد بټ خیله ملاکنډ ایجنسی......۲۳\۲\۱۹۸۲

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۳ باب العشر)

﴿۲﴾ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۲:۵٦ باب العشر)

الجواب عُشر او نصف العشر به د ټول پیداوارنه ورکولې کیږی په یوه. کرونده وغیره چه کومه خرچه شوې ده هغه به ترې نه نه منفی کیږی ﴿۱﴾ وهو الموفق

د باغونو عُشر په بائع دې که په مشتري؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه میوه جات د پخیدلو نه مخکښې خرڅولې شی او د پخیدلو نه پس پریکولې شی دې صورت کښې عُشر په بائع باندې واجب دې یا مشتری باندې؟بینوا توجروا

المستفتی عبدالرحمن کوئټه...... ۵۱۸۱۱۹۷۵

الجواب: واضحه دې وی چه مو جوده وخت کښ د باغونو سوداګانې باطلې دی یا فاسدې دی. د میوه جاتو ظاهریدلو نه مخکښې باطل ده او د میوه جاتو د پخیدلو نه مخکښې فاسده ده ځکه چه په ونو باندې باقی پاتې کول معروف عامه دی چه د عقد دپاره مفسد دې (صرح به الشامي) ﴿۲﴾ او په عقد فاسد کښې ملک په قبض سره حاصل او ثابتیږي ﴿۳﴾ په صورتِ مسئوله کښې که مشتری د پخیدلو نه مخکښې قبض اوکړو نو په مشتری باندې عُشر

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: بلا رفع مؤن ای کلف الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج. (الدر المختار علیٰ هامش ردالمحتار ۲: ۵۶ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: قوله ظهر صلاحها او لا: قال فی الفتح لا خلاف فی عدم جواز بیع الثمار قبل ان تظهر ولا فی عدم جوازه بعد الظهور قبل بدو الصلاح بشرط الترک ولا فی جوازه قبل بدو الصلاح بشرط القطع فیما ینتفع به ولا فی الجواز بعد بدو الصلاح لکن بدو الصلاح عندنا ان تومن العاهة والفساد...... قال فی الفتح ولو اشتراها مطلقا ای بلا شرط قطع او ترک فاثمرت ثمراً آخر قبل القبض فسد البیع..... الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴: ۳۲ مطلب فی بیع الثمر والزرع والشجر مقصوداً)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: واما الفاسد...... فانه ینعقد البیع بقیمة المبیع ویملک عند القبض کذا فی محیط السرخسی. (فتاویٰ عالمگیریه ۳: ۱۴۷ الباب الحادی عشر فی احکام البیع الغیر الجائز)

واجب دي کښې په بائع به واجب وی.﴿١﴾ وهوالموفق

د اجارې په صورت کښې عُشر په چا واجب دې؟

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو مالک خپله زمکه په لس منه اجاره باندې په دې شرط ورکړه چه د کال تیریدلو نه پس به ماته لس منه راکوې. اوس یو کال پس به په دې لس منه غنمو عُشر څوک ادا کوی د زمکې مالک یا اجاره دار؟ بینواتوجروا

المستفتی: ملت خان متعلم حقانیه اکوړه...... ۲۹۱۱۱۱۹۹۰

الجواب: غالبًا مستاجرته بچت زیات کیږی لهذا د ټول پیداوار عشر یا نصف عشر په مستاجر باندې واجب دې. نو که دا لس منه ددې اجاره شوې پټې پیداوار وی نو ددې عُشر یا نصف العشر به ددې مستاجر په ذمه واجب الاداء وی. ﴿٢﴾ وهوالموفق

د عُشر او اجاره مختلفې مسئلې

سوال: علمائې دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کله مستاجر موجر ته تقریبا ۵۰۰ روپۍ مخکښې ورکړې او دا خبره ورسره او کړې چه د یو کال برابر به پنځوس روپۍ سوزی. ﴿١﴾ اول د جواب طلب خبره چه د پنځه سوه روپو زکوة او قربانی په مستاجر واجب کیږي؟ حال دا چه رقم د هغه د قبضې نه وتلې دې او که نه په موجر باندې واجب کیږي؟ ځکه چه پیشګی رقم د هغه په قبضه کښې دې. ﴿٢﴾ چه کله مستاجر ته د پنځوس روپو سوزیدلو نه

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفي: ولو باع الزرع ان قبل ادراكه فالعشر على المشترى ولو بعده فعلى البائع. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٦٠ باب العشر)

﴿٢﴾ قال العلامة الحصكفي: والعشر على المؤجر كخراج موظف وقالا على المستاجر كمستعير مسلم وفى الحاوى وبقولهما ناخذ.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٦٠ باب العشر)

علاوه پنځوس روپۍ نفع ملاؤ شی چه د مجموعي حاصل سل روپۍ راځی نو عُشر په سلو ټولو روپو کښې واجب دي یا د سوزیدلو پنځوسو نه علاوه نورو پنځوسو کښې والا روپو کښې؟ (۳) دا عُشر په مؤجر باندې واجب کیږي، یا په مستاجر باندې؟ (۴) مطلق مزارعت چه په نیمه نیمه باندې وی نو عُشر به په مزارع باندې خپله نیمه کښې واجب الاداء وی او مالک باندې خپله نیمه کښې او که نه؟ (۵) حکومت وخت ته مالیه (آبیانه) ورکولو سره عُشر کښې څه تخفیف شته یا نه؟ (۶) په رهن او کاشت رهن کښې ممانعت یوشان دې او که څه فرق پکښې شته؟ حال دا چه عرفاً په دواړو کښې دا فرق دې چه په رهن کښې مرتهن د نقصان ذمه دار نه وی بلکه د نفع د پاره دا معامله کوی. او د کاشت رهن صورت دا وی چه د زمکې مالک د مزارع (زمیندار) نه رقم مخکښې واخلی او زمکه مزارع ته د فصل او کروندې د پاره حواله کړی او د مزارع سره په نیم پیدا وار اخستلو باندې معامله اوکړی او چه کله د زمکې مالک اوغواړی چه دده نه زمکه واخلی بل مزارع ته ئې ورکړی نو مالک مزارع ته هغه پیشګی رقم پوره واپس کوی. (۷) چه کله یو ګوجر دوکاندار نه دوه سوه روپۍ پیشګی واخلی او دا مصالحت اوکړی چه څه به تا ته روزانه دوه سیره پۍ درکوم آیا دا معامله صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالسمیع حقانی...... ۱۷۱۱۱۹۷۲

الجواب: (۱) دا پیشګی رقم په حقیقت کښې قرض دې لهذا د سوزیدلې شوې مقدار نه د علاوه رقم زکوة په مستاجر باندې واجب دې﴿۱﴾ (۲) عُشر د مجموعه حاصلات نه ادا کول ضروری دی. ﴿۲﴾ په دې کښې مقدار د اجرت (مثلاً پنځوس روپۍ) مستثنی نه دی. صرح به فی جمیع الکتب. (۳) مفتی به د صاحبینو قول دې (صرح به فی الدرالمختار) دغه شان غالباً مستاجر

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: واعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکاتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لا فورا بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة فکلما قبض اربعین درهما یلزمه درهم.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۳۸ باب زکاة المال)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: بلا رفع مؤن ای کلف ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

نه بچت او نفع ډیره وی لهذا عشر به په مستاجر واجب وی (۴) مفتی به قول د صاحبینو دې لهذا په هر یو باندې به د خپل خپل نصف نه عُشر ادا کول وی (درمختار) ﴿۲﴾ (۵) هیڅ تخفیف نه کیږی ځکه چه نه د عُشر نیت وی او نه د مصرف لحاظ ساتلې کیږی.

(۶) که دا رقم په عقد د مزارعت کښې مشروط نه وی نو په د ې جدید معامله کښې هیڅ نقصان نشته (صرح به فی البحر ۶ \ ۱۸۵) ﴿۳﴾

(۷) دا رقم قرض دې و دیعت نه دې او دا معامله جائز ده هره ورځ به بیع تعاطی منعقد کیږی. ﴿٤﴾ ونظیره ما فی ردالمحتار ۴ \ ۱۳ ـ

ملاحظه: که د تفصیل ضرورت وی نو صرف یو سوال راولیږه. اووه سوالونه نهٔ. وهو الموفق

(بقیه حاشیه) الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۵٦ باب العشر)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والعشر علی المؤجر کخراج موظف وقالا علی المستأجر کمستعیر مسلم وفی الحاوی وبقولهما ناخذ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ٦۰ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ٦۱ باب العشر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن نجیم: بان قال زارعتک ارضی علی ان تقرضنی کذا او ان قدم فلان لانها اجارة فلا یصح تعلیقها بالشرط کالاجارة...... ثم قال بعد تفریعات کثیرة هذا کله فی الشرط النافع لاحدهما وان شرطا لا ینفع کما لو شرط ان لا یسقی احدهماحصته لا تفسد المزارعة وفیما اذا کان شرطا مفسدا لو ابطلاه ان الشرط فی صلب العقد لا ینقلب جائزا والاعاد جائز الی آخر ما فیها. (البحر الرائق ٦ : ۱۸۵ باب المتفرقات)

﴿۴﴾ قال العلامة ابن عابدین: ومن بیع التعاطی تسلیم المشتری ما اشتراه الی من یطلبه بالشفعة فی موضع لا شفعة فیه. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۴ : ۱۳ مطلب البیع بالتعاطی کتاب البیوع)

د اجارې او مزارعت په مختلفو صورتونو کښې د عشر د وجوب مسئله

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په ریاست سوات کښې به عُشر د سوات والی جهانزیب عبدالحق صاحب وصول کولو. اوس د حکومت ختمیدلو سره د عُشر نظام هم ختم شوې دې. اوس زمونږ د پاره لاندینی مسئلې نوې دی دوضاحت ضرورت ئې دی. (۱) بعضې خلق د ټول کال دپاره خپله زمکه په معلومو روپو باندې ورکوی اوس به عُشر مالک ورکوی که زمیندار (کِسان)؟ (۲) بعضې خلقو زمکه د یو کال په فصل باندې ورکړې ده مثلاً څلور منه جوار او دوه منه غنم به مالک ته ورکوی نو دې صورت کښې به عُشر څوک ادا کوي؟ (۳) بعضې خلقو زمکې په نیم فصل ورکړې دی یعنی چه کوم فصل اوشی نیم ستا اونیم زما اوس به عُشر څوک ادا کوي؟ (۴) بعضې خلق زمکه په پنځه حصه باندې ورکوي. مالک هم کار کوی او کسان هم اوس په وزن کونکې کسان او مالک باندې مجموعی طور سره عُشر دې یا خان خانته او یا صرف مالک باندې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد ارشاد دیولئ سوات .... ۲۹\۲\۱۹۷۴

الجواب: (۱-۲) دا دواړو داجارې صورتونه دی او مستاجر ته غالباً ډیربچت کیږی لهذا عُشر به هغه باندې واجب وی مالک باندې نه. (درمختار مع رد المحتار)(۱) (۳) داد مزارعت صورت دې په دې کښې عُشر په مالک اومزارع

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: والعشر علی المؤجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر، قال العلامة ابن عابدین قلت: لکن فی زماننا عامة الاوقاف من القریٰ والمزارع لرضا المستاجر بتحمل غراماتها ومؤنها یستاجرها بدون اجرا لمثل بحیث لاتفی الاجرة ولا اضعافها بالعشر او خراج المقاسمة فلا ینبغی العدول عن الافتاء بقولهما فی ذلک لانهم فی زماننا یقدرون اجرة المثل بناء علی ان الاجرة سالمة لجهة الوقف ولاشیئ علیه من عشر وغیره اما لو اعتبر دفع العشر من جهة الوقف وان المستاجر لیس علیه سوی الاجرة فان اجرة المثل تزید اضعافا کثیرة کما لا یخفیٰ فان امکن اخذ الاجرة کاملة..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

دواړو باندې د خپلو خپلو حصونه ورکول واجب دي. (در مختار) ﴿۱﴾ (۴)
مذکوره صورت نه اجاره ده او نه مزارعت، بلکه دا کسان مزدور دی لهذا
دا ټول پیدا واربه د مالک وی او د ټول عُشر به د هغه په ذمه واجب الا دا وی
او د عقد فاسد په وجه به ټول ګنهګاران وي(هدایه، درمختار، شامي)او دې
مزدورا و وزن کونکی ته به اجر مثل ورکولې شی ﴿۲﴾ (لکون الاجارة فاسدة
لجهالة الاجرة) او که د اجرمثل په عوض کنبې په دې خاص غله باندې طرفین
راضی شی نو دا هم جائز ده. وهوالموفق

په مستاجر باندې د عُشر اشتراط مفسد د عقد نه دې

سوال:علمائې دین دې مسئلې باره کنبې څه فرمائی چه زمونږ په علاقه کنبې
زمکې په اجاره ورکولې کیږی دهغې عُشر په مالک دې که په مستاجر؟ که
په مالک باندې وی نو بیا د زمکې مالک په مستاجر باندې دا شرط
اولګوی چه ددې زمکه عُشر به ته ادا کوې او که نه بالعکس شرط اولګوی.
نو ددې قسم شرط لګولو سره د مالک ذمه ماخوذ ده یا نه؟بینوا توجروا

المستفتی: سمیع الله کا لام ضلع سوات.... ۲۰\۱۲\۱۹۷۱

الجواب: غالبًا مستاجر ته ډیر بچت کیږی په دې وجه د مفتی به قول په بنا د

(بقیه حاشیه) یفتی بقول الامام والا فبقولهما لما یلزم علیه من الضرر الواضح الذی لا یقول به احد. (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲: ۷۰ باب العشر)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۱ باب العشر)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی شرح درر البحار عشر جمیع الخارج علی رب الارض عنده لان المزارعة فاسدة عنده فالخارج له اما تحقیقا او تقدیرا لان البذر ان کان من قبله فجمیع الخارج له وللمزارع اجر مثل عمله. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۱ مطلب هل یجب العشر علی المزارعین فی الاراضی السلطانیة باب العشر)

عُشر وجوب په مستاجر باندې کیږی. ﴿۱﴾ لهذا په مستاجر باندې ددې شرط لګول عقد لره مفسد نه دې. وهوالموفق

د مزارعت په صورت کښې د عُشر حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د مزارعت په صورت کښې عُشر په چا باندې واجب دې په مزارع که په مالک باندې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحیم باجوړ ایجنسی.......۱۹۷۹ء۲۱\۱۷\۲۱

الجواب: د مزارعت په صورت کښې به مالک او مزارع هر یو د خپلې خپلې حصې نه عشر ادا کوی (لان الفتوٰی علی قول ابی یوسف ومحمد فی باب المزارعة ﴿۲﴾ او د اجارې په صورت کښې عُشر په مستاجر باندې واجب دې په موجر باندې نه. خصوصاً چه هر کله مستاجر ته بچت هم زیات کیږی. (وتمام الکلام فی شرح التنویر مع رد المحتار باب العشر ﴿۳﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر مسلم وفی الحاوی وبقولهما ناخذ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۰ ۶ باب العشر)

﴿۲﴾ قال ابن عابدین: والحاصل ان العشر عند الامام علی رب الارض مطلقا وعندهما کذلک لو البذر منه ولو من العامل فعلیهما وبه ظهر ان ما ذکره الشارح هو قولهما اقتصر علیه لما علمت من ان الفتویٰ علی قولهما بصحة المزارعة فافهم...... ان العشر علی رب الارض عنده علیهما عندهما من غیر ذکر هذا التفصیل وهو الظاهر لما فی البدائع من ان المزارعة جائزة عندهما والعشر یجب فی الخارج والخارج بینهما فیجب العشر علیهما. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲ : ۱ ۶ باب العشر)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: (والعشر علی المؤجر وقالا علی المستاجر) ای لو اجرالارض العشریة فالعشر علیه من الاجرة کما فی التتارخانیة وعندهما علی المستأجر قال فی فتح القدیر لهما ان العشر منوط بالخارج وهو للمستاجر...... (قوله وفی الحاوی وبقولهما ناخذ)...... قلت لکن فی زماننا عامة الاوقاف من القریٰ ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د مشين په ذريعې اوبه شوې فصل كښې شلمه واجب ده

سوال:علمائې دين دې مسئلې باره كښې څه فرمائى چه كومه زمكه چه په غويانو وغيره (يعنى ارهټ) سره اوبه كيږى په هغې كښې شلمه واجب ده اوس كه په دې كوهى باندې مشين ولګولې شى نو آيا ديكښې به هم شلمه واجب كيږى؟ بينوا توجروا

المستفتى: دوست محمد ميان منډى پشاور....۲۵ رمضان۱۴۰۲ھ

الجواب په مشين كښې هم مؤنت او مشقت موجود دې نو په دې سره اوبه شوې زمكه كښې به هم شلمه واجب وي(۱)وهو الموفق

په كاريز سره اوبه شوې زمكه كښې د عُشر مسئله

سوال: علمائې دين دې مسئلې بارد كښې څه فرمائى چه زمونږ په علاقه كښې

(بقيه حاشيه)والمزارع لرضا المستأجر بتحمل غراماتها ومؤنها يستأجرها بدون اجر المثل بحيث لا تفى الاجرة ولا اضعافها بالعشر او خراج المقاسمة فلا ينبغى العدول عن الافتاء بقولهما فى ذلك لانهم فى زماننا يقدرون اجرةالمثل بناء على ان الاجرة سالمة لجهة الوقف ولا شيئ عليه من عشر وغيره اما لو اعتبر دفع العشر من جهة الوقف وان المستأجر ليس عليه سوى الاجرة فان اجرة المثل تزيد اضعافا كثيرة كما لا يخفىٰ فان امكن اخذالاجرة كاملة يفتى بقول الامام والا فبقولهما لما يلزم عليه من الضرر الواضح الذى لا يقول به احد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۰ مطلب هل يجب العشر على المزارعين فى الاراضى السلطانية)

(۱) وفى الهندية: وما سقى بالدولاب والدالية ففيه نصف العشر وان سقى سيحا وبدالية يعتبر اكثر السنة فان استويا يجب نصف العشر.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۱۸۶ الباب السادس فى زكاة الزرع والثمار)

کاریزونه دی چه په هغې باندې لکهونه روپئ خرچه کیږی او په کلیزه صفایئ باندې ئې هم زرګونه روپئ خرچه کیږی په دې اوبو سره حاصل شوې پیداوار کښې به عُشر لازم وی که نصف عُشر؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ حبیب الرحمان وانا کیمپ.............. ۹\۱۲\۱۹۷۴

الجواب: ظاهری طور سره کاریز باندې د اوبه شوې زمکې په پیداوار کښې عُشر واجب کیږی.

لحدیث البخاری او کان عثریا﴿۱﴾ وقالوا العاثور شبه نهر یحفر فی الارض یسقی به البقول والنخل والزرع، ولانه لم یشق بآلة کما اشار الیه کلام البحر ۲:۲۳۸ فلیراجع﴿۲﴾ ویمکن ان یقال ان المدار علی کثرة المؤنة کما اشار الیه صاحب الدرالمختار انتهیٰ﴿۳﴾. وهوالموفق

د مالئې په نهری زمکو د عُشر اونصف عُشر په مسئله کښې مناظره اوفیصله

سوال: د سلامونو او آدابونو نه پس عرض کونکې یم! چه علاقه لوند خوړ مقام

﴿۱﴾ عن عبد الله بن عمر عن النبی ﷺ قال فیما سقت السماء والعیون او کان عثریا العشر وما سقی بالنضح نصف العشر، رواه البخاری، وعلیٰ هامش المشکوة فی حاشیة الغرغشتویة: قوله او کان عثریا: العثری ما سقتها السماء وکذا ذکره التور پشتی وبعض الشراح ولا یخفیٰ انه یلزم منه التکرار وعطف الشیئ علی نفسه فالحق ما ذکره بعض آخرون من ان العثری ما سقی بالعاثور والعاثور شبه نهر یحفر فی الارض یسقی به البقول والنخل والزرع والعثری یجیئ بمعنی الفارغ من الدنیا والآخرة، لمعات.

(هامش مشکوة المصابیح حاشیة غرغشتویة ۱:۱۷۳ کتاب الزکاة فیما تجب فیه)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجیم: ای ویجب نصف العشر فیما سقی بآلة للحدیث.

(البحر الرائق ۲:۲۳۸ باب العشر)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر ودالیة ای دولاب لکثرة المؤنة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۵ باب العشر)

دوپیز کښې یوه اجتماع د شرعي مسئلې په غرض منعقد شوه. چه په هغې کښې ددوه لويو علماؤ مینځ کښې مناظره اوشوه په دې خبره چه موجوده نهري زمکو باندې حکومت مالیه اخلي عُشر دې یا نصفِ عشر؟ يو مولانا صاحب د جامع الرموز وغیره کتابونو نه معتبر عبارتونو سره او بالخصوص د علامه شامي جلد دویم دې عبارت لان المعتمد عندنا ان شراء الشرب لایصح سره ئې د عُشر ثبوت او وجوب ثابتولو او د دویم فریق مولانا صاحب ددې عبارت په بناء چه ,,وقیل ان تعارفوه صح،، دې سره ئې د نصف العشر وجوب ثابتولو. په مذکوره اجتماع کښې دریم کړې او جج حضرت مولانا شفیع الله ! فاضل حقانیه مقررشوې وو نو د مبحث نه پس مولانا شفیع الله د فیصلې اعلان اوکړو چه، لان المعتمد عندنا سره د عُشر افضلیت ثابتیږی او په قیل ان تعارفوه،، سره نصف عُشر خو بیا هم مسئله مجمله پاتې شوه. تاسو صاحبان دا اختلافات، شکونه او وهمونه ختم کړی ددې مسئلې متعلق خپله رائې واضحه کړئ؟ بینوا توجروا

المستفتی:مولانا عبدالرحمان لوند خوړ مردان

الجواب:دا مسئله په کتب الفروع کښې صراحةً نشته په دې وجه پکښې علماء خپل مینځ کښې اختلاف لری. زمونږ په قاصره رائې کښې د نصف العشر وجوب راجح معلومیږی. ځکه چه دا آبیانه ثمن نه دې. ,,لعدم صحة بیع الماء الغیر المحرز فلیراجع الی باب الشرب﴿١﴾ بلکه دا آبیانه په مؤنت کښې داخل ده. ځکه چه حکومت په دې سره باقاعده دنهر انتظام کوی او دا د پټو والاؤ نه د یو قانون په طور سره وصول کوی او د ډیرې خرچې دعلت په وجې سره د نصفِ عُشر وجوب ظاهر دې.

یدل علیه تعلیل الفقهاء قال فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢ : ٦٩ نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر ودالیة ای دولاب لکثرة المؤنة انتهیٰ﴿٢﴾ قلت ولا فرق بین الاصالة

﴿١﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولا یصلح الماء) ای ماء الشرب الغیر المحرز. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٥: ٣١٧ فصل الشرب)

﴿٢﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٥٥ باب العشر)

كما فى البير وبين الوكالة كما فى النهر فافهم﴿١﴾. وهوالموفق

په بارانی او د مالنې والا نهری زمکو په عشر کښې فرق

سوال: علمائې دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د عُشر په باره کښې د امام ابو حنيفه رحمه الله قول دې (ماخرج الارض ففيه العشر ليکن د گنې يا تماكوانو په فصل باندې ډير زياته خرچه راځی مثلاً ماليه، خاوره وغيره. آيا ددې خرچې په وجې سره د عُشر په حکم کښې تغير راځی حال دا چه دا زمکې نهری دی. او فقهاء وائی چه په نهری زمکو کښې عُشر دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: سيد گل بادشا کوټک ترناب چارسده..... ۱۳ ذی الحجه ۱۳۸۹ھ

الجواب: که دا زمکې د کوهئ په اوبو باندې اوبه کيږی نو په هغې کښې نصف العشر يعنی شلمه واجب ده يعنی دټول پيداوار لمارواه البخاری مرفوعا فيما سقت السماء والعيون اوكان عثريا العشر وما سقى بالنضح نصف العشر (مشكوٰة ١٧٤)﴿٢﴾ اوټولو فقهاؤ په دې باندې تصريح کړيده. او که دا زمکې نهری وی نو په دیکښې لسمه حصه ورکول بهتر دی. او د آبيانې په صورت

﴿١﴾ وفى المنهاج: اعلم ان ما سقته الانهار التى يأخذ الحكومة بالسقى منها الخراج ما يقال له بالفارسية " آبيانه" قيل يجب فيه العشر لانه سقى بالانهار والعاثور دون النضح وقيل الوجه فى وجوب العشر انه سقاه بماء اشتراه وفيه الماء الغير المحرز لا يصح بيعه وشراءه، وقال شيخنا (الغرغشتوى) يكفى فيه آداء نصف العشر لان منشأ وجوب نصف العشر كما فى شرح التنوير كثرة المؤنة وهى هٰهنا متحققة بلاريب، وبالجملة ان المأخوذ منهم هى المؤنة دون الثمن لان ارباب الحكومة انما يأخذونها لبقاء هذا النظام لا يخطر ببالهم معنى البيع والشراء فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ٣: ١٥٣ باب الصدقة فيما يسقى بالانهار)

﴿٢﴾ (مشكوٰة المصابيح ١: ١٥٩ باب ما يجب فيه الزكوٰة الفصل الاول كتاب الزكاة)

کښې شلمه ورکول هم کافی دی (لما فی الدرالمختار: وفی کتب الشافعیة او سقاه بماء اشتراه وقواعدنا لاتاباه(۱)) او واضحه دې وی که په نهری زمکه کښې آبیانه د شرب ثمن وی او د بیع شرطونه موجود وی نو د نصف العشر په وجوب کښې هیڅ اشتباه نشته. او که دا آبیانه د نهر داصلاح او حفاظت دپاره وی نو بیاهم دنصف العشر حکم صحیح دې ځکه څنګه چه د بیع په اوبو باندې اوبه شوې فصل کښې د نصف العشر وجوب منصوصی نه د بلکه د ډیرې خرچې په وجه سره دې نو دغه شان په دیکښې هم کثرت مؤنت موجود دې. (۲) وهوالموفق

عشر به په مالیه کښې نشی ورکولې

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی د عشر غنم دی او حکومت دهغه نه د ټول جائیداد مالیه (ټیکس) هم وصول کوی آیا دا سړې دغې عُشر لره په حکومتی مالیه کښې ورکولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ....

الجواب: عُشر په مالیه کښې ورکول خلافِ احتیاط دی. او په عبادتونو کښې احتیاط باند ې عمل کول ضروری دی.

(وفی الهدایة ۱: ۱۷۲) وقیل اذا نوی بالدفع التصدق علیهم سقط عنه وکذا الدفع الی کل جائر لانهم بما علیهم من التبعات فقراء والاول احوط انتهی(۳). وهوالموفق

(۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۵ باب العشر)

(۲) قال العلامة الحصکفی: ویجب نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر ودالیة ای دولاب لکثرة المؤنة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۵۵ باب العشر)

(۳) (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۱۵۰ فصل ولیس فی الفصلان والحملان والعجاجیل صدقة کتاب الزکاة)

د اجارې په عُشرکښې د امامانو اختلاف او د نهری زمکو حکم

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زمکې مالک او زمیندار کښې کوم یو باندې عُشر واجب دې؟ امام صاحب رحمه الله فرمائی چه عُشر په زمکې والا باندې دې. او صاحبین فرمائی چه په کاشتکار باندې دې. بله دا امام صاحب په دې خبره کښې د صاحبینو قول ته رجوع کړیده یعنی په مذهبِ احناف کښې غالبًا متفق علیه مسئله دا شوه چه عُشر په مزارع باندې دې او خلقو دا مسئله جوړه کړیده چه په زمکې والا باندې عُشر ورکول لازمی کوی. بله دا چه دا خلق شلمه حصه ورکوی. او وائی چه زمونږ خرچه ډیره ده. مالیه او آبیانه ورکوو. حال دا چه ددغې خرچو هیڅ اعتبار نشته. ځکه چه دا زمکې اصل کښې نهری نه دی بلکه د اول نه بارانی دی او که نهر راغلې دی نو ددې دپاره (وما کراه العجم فهو کالسیح) په حکم کښې کیدل پکار دی. بله دا چه په دغه نهری زمکو کښې اګر چه خرچه ډیره ده لیکن امدن ئې هم د حد نه ډیر دې او په رکعت (ارهټ) کښې خرچ ډیر دې او آمدن کم نو نهری زمکې په ارهټی زمکو باندې قیاس کول دحق نه بعید دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید غلام قیس خطیب مرهټی طورو مردان ۱۳۹۳/۲/۲۵ھ

الجواب: واضحه دې وی چه د اجارې په صورت کښې به عُشر په مستاجر واجب وی ځکه چه غالبًا هغه ته بچت زیات کیږی او که مستاجر ته کم بچت اوشو نود امام ابو حنیفه په قول باندې به فتوی ورکولې شی.

کما فی الدرالمختار وردالمحتار ۲: ۸۵ والعشر علی الموجر وقالا علی المستاجر وفی الحاوی وبقولهما نأخذ، قلت ولکن افتیٰ بقول الامام جماعة من المتأخرین قلت لکن فی زماننا عامة الاوقاف من القریٰ والمزارع لرضاالمستاجر یتحمل غراماتها ومؤنها یستاجرها بدون اجر المثل فلا ینبغی العدول عن الافتاء بقولهما فی ذلک (الی ان قال)

فـان امكـن اخـذ الاجـرة كـاملة يـفتـى بقول الامـام والا فبقولهمـا (بحذف)﴿١﴾
او کوم نهرونه چه کافرانو کنستلي وی او مفتو کښې مسلمانانو ته ملاؤ شوي دی نو دهغې اوبه عشری دي.

كما يدل عليه ما فى ردالمحتار ٣: ٣٥٩باب العشر والخراج﴿٢﴾
پس د آبیانی په صورت کښې ددې د پیداوار نه نصف العشر ورکول کافی دی.

كـما يدل عليه تعليل درالمختار ونصفه فى مسقى غرب ودالية لكثرة المؤنة﴿٣﴾ لان مـا يأخـذه الـحـكـومة ليـس بثـمن لعدم ارادتهم بيع الماء ولعدم صحة بيع الماء الغير المحرز بل هو مؤنة وسبب لبقاء هذا الماء وهذا النظام نظام الانهار. وهوالموفق

په مشترکه نهر باندی ظالمانه قبضه اودآبیانې په صورت کښې دعشر مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی (١) یو نهر دپخو انه مشترک راروان دی لیکن یوقوم د قومیت د تعصب او زور په وجه دغه نهر باندې قبضه اچولې ده او دنورو خلقو نه دجریب په سر دوه منه کم و بیش اخلی یعنی داوبو ئی باقاعده قیمت مقرر کړی دی اوس په علماؤ کښې اختلاف دی بعضی عشراو بعضی دخرچې په وجه نصف عشر وائی او دپخوا نه دا علاقې والا عشر ورکوی نو آیا مونږ عُشر ورکوو که نصف عشر؟ (٢) دغه شان دا اوبه دالله په قدرت دچینو او غرونو نه راځی او نهر نه چا جوړ کړې

﴿١﴾ (الدرالمختار مع ردالمحتار ٢: ٦٠ مطلب هل يجب العشر على المزارعين فى الاراضى باب العشر)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن عابدين: (قوله بماء العشر) والحاصل انه ما كان عليه يد الكفرة ثم حويناه قهرا وما سواه عشرى. (ردالمحتار ٣: ٢٨٤ مطلب فى خراج المقاسمة باب العشر والخراج والجزية كتاب الجهاد)

﴿٣﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢: ٥٥ باب العشر)

دی او نه حقیقتاً دچا ملکیت دی آیا دې خاص قوم لره په دې نهر باندې قبضه کول اوغریبانانو باندې اوبه خرڅول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمدهاشم چغرزی... ١٩٧٥ء | ٥| ١٢

الجواب: اگر چه دډیری خرچی په وجه نصف عشر دکتابونو دقواعدو موافق دی لیکن په مسئوله صورت کښې دا رقم مونث نه دی

لانه لیس سببا لبقاء هذا النظام بل هو ظلم او بیع الماء الغیر المحرز﴿١﴾ والمظلوم لا یظلم بخلاف انهار دیارنا (ای انهار الحکومیة) لان لها حافرین وقاسمین وحاکمین لا یبقیٰ هذا النظام الابهم والرقم الماخوذ من اهل المزارع یصرف علیهم. وهوالموفق

د سرکاری نهر دآبیانې په صورت کښې د نصف عشر مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه زمونږ علاقه دورسك په نهر سره اوبه کیږی ددې آبیانه دنورو نهرونو په نسبت سره لږه ډیره ده ددې آبیانې پیش نظر یوعالم فتوی ورکړی چه په دی زمکو کښې شلمه حصه واجب ده آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: سیف الرحمٰن تیله بند پشاور... ١٩٧٠ء |١| ١٦

الجواب: دبعضی علماؤ په نزد په دېکښې شلمه حصه واجب ده ځکه چه دا اوبه په بیعه دی

والدلیل علیه ما فی الدرالمختار وفی کتب الشافعیة او سقاه بماءٍ اشتراه

﴿١﴾ قال ابن عابدین: ان العلة فی العدول عن العشر الی نصفه فی مسقی غرب ودالیة هی زیادة الکلفة کما علمت وهی موجودة فی شراء الماء ولعلهم لم یذکروا ذلک لان المعتمد عندنا ان شراء الشرب لا یصح وقیل ان تعارفوه صح وهل یقال عدم شرائه یوجب عدم اعتباره ام لا تأمل نعم لو کان محرز ابانائه فانه یملک الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢: ٥٥ باب العشر)

وقواعدنا لا تاباه(هامش ردالمحتار ۲:۶۹)﴿۱﴾

لیکن اخستل خرڅول په ماء محرز کښې صحیح کیږی او په صورت مسئوله کښې احراز بالحوض حاصل دی اګر چه دا بیع او شراء فاسد ده او بعضی فرمائی چه آبیانه حقیقت کښې ثمن نه دی بلکه دامؤنت دی سرکار ئې دتجارت دپاره نه أخلي بلکه دنهر دبقاء او انتظام دپاره ئی اخلي او دامؤنت دکوهی دمؤنت نه کم نه دي لهذا په دې کښې به نصف العشر واجب وی لوجود علة وجوب نصف العشر وهی کثرة المؤنة وزیادة الکلفة یدل علیه ما فی الدرالمختار نصفه فی مسقی غرب ودالیة لکثرة المؤنة، وفی ردالمحتار ۲:۶۹ لان العلة فی العدول عن العشر الی نصفه فی مسقی غرب ودالیة هی زیادة الکلفة﴿۲﴾ انتهیٰ فافهم ولا تعجل والاخیر هو المختار عندی وهذا ما عندی لعل عند غیری احسن من هذا ﴿۳﴾. وهو الموفق

﴿۲،۱﴾ (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲:۵۵ باب العشر)

﴿۳﴾ وفی المنهاج: اعلم ان ما سقته الانهار التی یأخذ الحکومة بالسقی منها الخراج ما یقال له بالفارسیة" آبیانه" قیل یجب فیه العشر لانه سقی بالانهار والعاثور دون النضح وقیل الوجه فی وجوب العشر انه سقاه بماء اشتراه وفیه ان الماء الغیر المحرز لا یصح بیعه وشراء ه وقال شیخنا (الغرغشتوی رحمه الله) یکفی فیه اداء نصف العشر، لان منشأ وجوب نصف العشر کما فی شرح التنویر کثرة المؤنة وهی هٰهنا متحققة بلا ریب وبالجملة ان المأخوذ منهم هی المؤنة دون الثمن لان ارباب الحکومة انما یأخذونها لبقاء هذاالنظام لا یخطر ببالهم معنی البیع والشراء فافهم.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۳:۱۵۳ باب الصدقة فیما یسقی بالانهار)

....

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب صدقة الفطر

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

ادوا عن كل حر وعبد

صغير وكبير نصف صاع من بر

او صاعًا من شعير

....(ابو داؤد)....

...

باب صدقة الفطر

د صدقة الفطر مقدار

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه دناپ تول په حساب سره دصدقة الفطر څه مقدار دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید احمد خان چارسده.. ۱۰ ذی قعده ۱۳۹۵ھ

الجواب: دصدقة الفطر مقدار تقریباً دوه سیره انګریزی او د پوخ سیر په حساب سره دیو سیر او دریمې حصې په مقدار دې (۱) وهو الموفق

---

(۱) د علمائی احناف په نزد غنمو کښې نیم صاع واجب دی او دامام ابو حنیفه او امام محمد رحمهما الله په نزد دصاع نه مراد اته رطله عراقی صاع دې.

قال الدکتور وحبة الزحیلی: الصاع عند ابی حنیفة ومحمد ثمانیة ارطال بالعراقی والرطل العراقی مئة وثلاثون درهما ویساوی ۳۸۰۰ غراماً، لانه علیه السلام کان یتوضأ بالمد رطلین ویغتسل بالصاع ثمانیة ارطال وهکذا کان صاع عمر وهو اصغر من الهاشمی وکانوا یستعملون الهاشمی (الفقه الاسلامی وادلته ۳:۲۰۴۴)

اود یو رطل مقدار ۹۰ مثقال دی نو په ضرب ورکولو سره ۷۲۰ مثقاله دصاع وزن شو او یو مثقال $4\frac{1}{2}$ ماشې دی نو پوره صاع ۳۲۴۰ ماشه شو او د دولسو ماشو یوه توله وی نو په دولسو باندې تقیسمولو سره تقسیم دحاصل ۲۷۰ توله راځی نو نیم صاع ۱۳۵ توله شو اوس په دنیا کښې اعشاری نظام جاری دی نو په دی لحاظ سره اوس دتولې نه وزن ګرامونو ته منتقل کولې شی د اوزان شرعیه (مفتی محمد شفیع رحمه الله) په اخره کښې مولانا محمد اشرف قریشی د ۱۳۲.۵ تولو په حساب سره د نصف صاع وزن ۱.۵۹۲۱۳۶ کلوګرام لیکلی دی مولانه خالد سیف الله رحمانی دپاؤ کم دوه سیرو په لحاظ سره ۶۶۴ یو کلوګرام.

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په صدقه فطر کښې مقامي نرخ معتبر دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه صدقه فطر به ذحکومتی نرخ مطابق ورکولې کیږی یا دعوامی نرخ مطابق؟ بینوا توجروا
المستفتی: سرفرازخان میان والی...۱۹۷۵ء|۱۰|۱۴

الجواب: دحکومت نرخ حاوی نه وی نو لهذا مقامی نرخ به معتبروی (۱)
وهوالموفق

صرف په درې تولې سونې باندې صدقة الفطر اوقربانی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو ښځې سره صرف

[بقیه حاشیه] حساب لګولې دی مولانا مفتی عبدالرحیم لاهوری رحمه الله نصف صاع لره یو کلو ۵۷۵ ګرام لیکلې دی.بنده (مرتب) هم دیو زرګر دکان ته لاړه اوپه هر پهلو سره ئې د رتئ ماشه او توله حساب او په هندوستان کښې مختلف رائج الوقت وزنونو په باره کښې اطمینان حاصل کړو.اودا معلومه شوه چه زمونږ د سرحدی علاقې توله ۱۵، ۱۲ ګرام ده،او دویمه توله کومه چه پنجابی تولې سره زمونږ په علاقو کښې مشهوره ده،هغه ۶۶۴، ۱۱ګرام وی نو ۱۳۵توله لره د صوبه سرحد په اعتبار سره یو کلو ۲۵_ ۶۴۰ ګرام جوړیږی او دپنجابی تولې نه یو کلو ۶۴-۵۷۴ ګرام جوړیږی او غالباً هم داحساب مولانا لاجپوری صاحب هم کړی دی چه پوره ۵۷۵ ګرام ئې اخستلې دی بهرحال دیو وطن ناپ تول چه کله دبل وطن په ناپ تول کښې اچولې کیږی نو دواړه د بنیاد دمختلف کیدلو په وجی سره مکمل انطباق او صحیح کیږی نه په دې وجه دبرقی مشینانو په ذریعې سره خصوصی اوزان لازم ګرځول اوپه هغې باندې صحت د ادا معلق کول صحیح نه دی په دې وجه د نحن امة امية لانكتب ولا نحسب، په موجب چه نې په احکام شرعی سره په اسانئ څنګه هم ادا کړی صحیح دی نو هم ددې وجی نه به ددې حسابی باریکو باوجود هم دتولو واجب ادائیګی صحیح او معتبر منلې کیږی (ازمرتب)

(۱) قال العلامة الحصكفي: ويقوم في البلد الذي المال فيه.
(الدرالمختار على صدر ردالمحتار ۲: ۲۴ باب زكاة الغنم) (بقیه حاشیه اګلے صفحه پر)

درې تولې سونا ده دهغې نه علاوه ورسره څه مال موجودنه دې آیا په دې
ښځه به صدقه الفطر او قربانی واجب وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا نجم الدین صاحب... ۱۹۸۸ء|۳|۱۴

الجـواب: پـه دومـره مقـدار سـونې سـره دوه پنځـوس نیمـې تـولې چانـدی حاصلیدلې شی لهذا پـه دې ښځه باندې قربانی او صدقة الفطر دعلامه مرغینانی او وهبانیه د روایت په بنا واجب ده (فلیراجع الی رد المحتار ۲:۸۹
﴿۱﴾ واضحیة الهندیه ﴿۲﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه) وفی الهندیة: ویقومها المالک فی البلد الذی فیه المال حتی لو بعث عبداً للتجارة الی بلد آخر فحال الحول تعتبر قیمته فی ذلک البلد ولو کان فی مفازة تعتبر قیمته فی اقرب الامصار الی ذلک الموضع. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۰ الفصل الثانی فی العروض)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: (قوله لکن اعتمد فی الشرنبلالیة الخ)...... قال فی العنایة ولا یجوز دفع الزکاة الی من ملک نصابا سواء کان من النقود اوالسوائم اوالعروض...... تقدیر النصاب بالقیمة سواء کان من العروض اوالسوائم لما ان العروض لیس نصابها الا ما یبلغ قیمته مأتی درهم وقد صرح بان المعتبر مقدار النصاب فی التبیین وغیره واستدل له فی الکافی بقولهﷺ من سأل وله ما یغنیه فقد سأل الناس الحافا قیل وما الذی یغنیه قال مأتا درهم او عدلها فقد شمل الحدیث اعتبار السائمة بالقیمة لاطلاقه وقد نص علی اعتبار قیمة السوائم فی عدة کتب من غیر خلاف فی الاشباه والسراج والوهبانیة وشرحیها والذخائر الاشرفیة وفی الجواهرة قال المرغینانی اذا کان له خمس من الابل قیمتها اقل من مائتی درهم تحل له الزکاة وتجب علیه وبهذا ظهر ان المعتبر نصاب النقد من ای مال کان بلغ نصابا من جنسه اولم یبلغ الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۷۱ بعید مطلب فی جهاز المرأة هل تصیر به غنیة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: والموسر فی ظاهر الروایة من له مائتادرهم او عشرون دیناراً او شئ یبلغ ذلک سوی مسکنه ومتاع مسکنه ومرکوبه وخادمه فی حاجته التی لا یستغنی عنها فاما ما عدا ذلک من سائمة او رقیق او خیل او متاع لتجارة او غیرها فانه یعتد به من یساره الخ. (فتاویٰ عالمگیریه ۵:۲۹۲ کتاب الاضحیة)

د ليونى او پاګل دطرفنه به باقاعده فطرانه ادا كولې شى

سوال: علماء دين دې مسئلې څه فرمائى چه يو تندرست سړې وو چه ټول عمر به ئى روژه ساتله ناڅاپه پاګل شو اوس نه مونځ پيژنى او نه روژه دده دطرفنه به صدقه فطر ادا كولې شى يانه؟ بينوا توجروا

المستفتى: ماسټر سرفراز كردكالا باغ..۱۸ شوال ۱۳۹۵ھ

الجواب: دليونى او پاګل دطرفنه به باقاعده فطرانه اداكولې شى (هنديه ۱/۲۰۴) ﴿۱﴾ يعنى دوه سيره (انګريزى سيرونونه) غنم يا دهغې قيمت او دروژى وغيره فديه به نه ادا كوى.وهوالموفق

د قيدى په جرمانه كښې فطرانه وركول

سوال: علمائى دې مسئلې باره كښى څه فرمائى چه په الحرج كښې غټ جيل دې په هغې كښې كافى پاكستانيان قيديان دى دلته يو پاكستانى قيدى څه حادثه شوى وه چه په هغې سره يو سعودى او سيدونكى مړ شوى وو قاضى ديولاكهـ ريال جرمانې اداكولو فيصلې وا وروله دهغې فيصلې نقل ئى زمونږ كمپنئ ته را او ليږلو چه دفطرانى رقم ددغه سړى په جرمانه كښې اداكړئ آيا مونږ فطرانه په دى مد كښې وركولې شو؟ څكه چه ډيرو ملګرو فطرانې جمع كړيدى؟ بينوا توجروا

المستفتى: فضل رحمٰن سعودى عرب.... ۱۹۸۶ء|۶|۲۶

الجواب: كه دا قيدى غريب وى نو دهغه په وينا سره حكومت ته دا فطرانه وركول جائز دى. ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ وفى الهندية: والمعتوه والمجنون بمنزلة الصغير سواء كان الجنون اصليا او عارضيا وهو الظاهر من المذهب كذا فى المحيط.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۱۹۲ الباب الثامن فى صدقة الفطر)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: وصدقة الفطر...... (بقيه حاشيه اګلې صفحه)

صدقة الفطر څو مسکینانو ته ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائی چه صدقه فطر یو نه زیات مسکینانو باندې تقسیم کول جائزدی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد آیاز یارحسین مردان... ۳۰ا جمادی الثانی ۱۳۹۹ھ

الجواب: یوه صدقه الفطر څو مسکینانو ته ورکول جائز دی (شـــرح التنـــویر هامش رد المحتار ۲: ۱۰۷)﴿۱﴾ وهو الموفق

په اجرت کښې فطرانه ورکول جائز نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائی چه یوصاحب جائیداد مالدار امام دی آیا هغه ته فطرانه ورکول جائز دی؟ لکه چه عام رواج دی؟

المستفتی: محمد ارشاد ګړهی افغانان راولپنډی... ۱۹۷۵ء|۱۰|۱۴

الجواب:امام ته داجرات په طورسره فطرانه ورکول جائزنه دی ټولو فقهاؤلیکلې

(بقیه حاشیه) کالزکاة فی المصارف وفی کل حال . (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۸٦ قبیل کتاب الصوم)...... وفی الهندیة: ولو قضی دین الفقیر بزکاة ماله ان کان بامره یجوز وان کان بغیر امره لا یجوز وسقط الدین.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۹۰ باب المصارف)

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: وجاز دفع کل شخص فطرته الی مسکین او مسکین علی ماعلیه الاکثر وبه جزم فی الولوالجیة ..... هو المذهب کتفریق الزکاة والامر فی حدیث اغنوهم للندب فیفید الاولویة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۸۵ باب صدقة الفطر)۔

دی چه ددې مصرف مسکینان اوفقیران دی ﴿۱﴾ البته دتصدق او صلې په طور ئی امام ته ورکول جائزدی ﴿۲﴾ وهوالموفق

د صدقه فطر مقدار

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څهٔ فرمائی چه دصدقه فطر صحیح مقدار څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرقیب تاجك لال قلعه میدان دیر... ۱۷ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: په غنمو کښې دصدقة الفطر مقدار دوه انګریزی سیرونه دی احتیاطاً ﴿۳﴾ وهوا لموافق

د تنخواه دار امام فطرانه اخستل

سوال:علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو پیش امام دانجمن نه اتیاروپئ ماهانه تنخواه اخلی دا تنخواه ده ته په امامت کښې ملاویږی آیا دی امام دپاره خلقو نه فطرانه اخستل او خپل ځان باندې خرچ کول جائزدی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حکیم سید اخترحسین کیملپور

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: وصدقة الفطر کالزکاة فی المصارف وفی کل حال الا فی جواز الدفع الی الذمی. (الدرلمَختار علی هامش ردالمحتار ۲:۸۶ باب صدقة الفطر)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولو نوی الزکاة بما یدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستاجره ان کان الخلیفة بحال لو لم یدفعه یعلم الصبیان ایضا اجزأه والا فلا و کذا ما یدفعه الی الخدم من الرجال والنساء فی الاعیاد وغیرها بنیة الزکاة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۹۰ باب المصارف)

﴿۳﴾ داحنافو په نزد دصاع نه مراد عراقی صاع دی چه اته رطله وی اویو رطل د ۹۰ مثقالو وی نو ضرب ورکولو سره ۷۲۰ مثقاله دصاع وزن شو او یود مثقال $4\frac{1}{2}$ ماشو وی نو پوره صاع د ۳۲۴۰ ماشو یعنی ۲۷۰ تولې وی نونصف صاع د ۱۳۵ تولو شواوس دسیر په مقدارکښې فرق دی انګریزی ابقیه حاشیه په راروانه صفحه

الجواب: که دا امام غریب وی نو فطرانه اخستل ورله جائز دی (لانه مصرف من المصارف) ﴿۱﴾ وهوالموفق

[بقیه حاشیه]... سیر اتیا تولې وی، او زمونږ د سرحدی علاقو سیر یوسل اتۀ تولې وی، نو اتیا تولې انګریزی سیرپه حساب سره درې سیره شپږ چټاکئ پوره صاع شو اویو نیم سیر دری چټاکئ نصف صاع شو پس مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله ډېر تحقیق او تلاش نه پس دا ثابت کړی دی چه نصف صاع پاؤکم دوه سیرو برابر دی او حضرت تهانوی رحمه الله تحقیق یوسیر $12\frac{1}{2}$ چټاکئ دی (امداد الفتاوی ۸۵/۲) بهر حال دبرطانوی نظام لاندې نصف صاع تقریباً د ۱۳۶ تولو وی او داعشاری نظام لاندې یو کلو ۶۶۶ ګرام یا یو کلو ۵۹۲۱۳۶ ګرام یا یو کلو ۵۷۵ ګرام جوړیږی حضرت تهانوی رحمه الله لیکلې دی چه داحتیاط دپاره پاؤکم دوه سیره یا لږ نور ډېر ورکول پکار دی ځکه چه په زیاتیدلو کښې څۀ حرج نشته بلکه بهتر دی (بهشتی زیور ۲۴۰ صدقه کابیان)

او بعضی حسابونو کښې ئی دمذکوره مقدار نه هم ډیر حساب لګولې دی په دې وجه زمونږ شیخ دامت برکاتهم عام طور سره پاؤ باندې دوه کلو هم وائی او فرمائی چه دیکښې ثواب دې اسراف نه دی (ازمرتب)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وصدقة الفطر كالزكاة في المصارف وفي كل حال.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۸٦ قبيل كتاب الصوم)

باب صدقة التطوع

د نابالغه د مال نه د تصدق او تبرع حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه مړی وصیت هم نه وی کړې او بالغ اولاد دهغه دمال نه خیرات وغیره کوی او چه په وارثانو کښې نابالغه هم موجود وی ددی قسم خیرات شرعی حکم څۀ دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: وزیر ملا وزیرستان

الجواب: دنابالغه دمال نه تصدق او تبرع حرام دی﴿۱﴾ پس که دی بالغانو دا خیرات او اسقاط د مشترکه مال نه کړی وی. نو د هغې اخستل او ورکول حرام دی.

قال الله تعالیٰ: ان الذین یأکلون اموال الیتمی ظلما(بغیر حق) انما یأکلون فی بطونهم نارا وسیصلون سعیراً. الآیة﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: وان اتخذ طعاماً للفقراء کان حسنا اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ذلک من الترکة کذا فی التتارخانیة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۵: ۳۴۴ باب فی الهدایا والضیافات کتاب الحظر)

﴿۲﴾قال الجلال: (ان الذین یأکلون اموال الیتمی ظلما) بغیر حق (انما یأکلون فی بطونهم) ای ملأها (ناراً) لانه یؤول الیها (وسیصلون سعیراً) ناراً شدیدة یحترقون فیها. (تفسیرجلالین ۱: ۷۸ النساء آیت: ۱۰ پاره: ۴)

وقال العلامة ابن کثیر: (ان الذین یأکلون الخ الآیة) ای اذا اکلوا اموال الیتامیٰ بلا سبب فانما یأکلون ناراً تأجج فی بطونهم یوم القیامة. (تفسیر ابن کثیر ۲: ۹۹)

حرام مال د تصدق په نیت سره ورکول او د معطیٰ له معطی د پاره دعاء کولو حکم

سوال: علمائی دین ئی مسئلې باره کښې څه فرمائی که یو سړی د تصدق په نیت سره حرام مال ورکړی او اخستونکې دا او وائی چه الله تعالی دی ستا خیرات قبول کړی او ورکونکې آمین او وائی نو ددې څۀ حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالوهاب متعلم حقانیه

الجواب: حرام مال (چه مستحق ئی معلوم نه وی) واجب التصدق دی خو بلا قصد الثواب﴿۱﴾ اوسره د پوهې نه دثواب قصد کول یا دقبولیت دعا کول مکفر دی البته فقیر دپاره ئی اخستل جائز دی

کما فی ردالمحتار عن الظهیریة رجل دفع الی فقیر من المال الحرام شیأ یرجو به الثواب یکفر ولو علم الفقیر بذلک فدعا له وامّن المعطی کفرا جمیعاً ﴿۲﴾ (ردالمحتار ۲: ۳۵) وفی الحموی شرح الاشباه ۲ ۱ ۱ وینبغی ان یستثنیٰ الاخذ بالربا للمحتاج فانه لا یحرم کما صرح به المصنف فی البحر ویحرم علی الدافع الاعطاء بالرباء﴿۳﴾. وهو الموفق

دصدقې نه په خله خوړل او د مصیبتونو دفع کولو دپاره ذبحه کول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه دصدقې څناور ذبحه کړی اودهغې غوښه په مسکینانو تقسیم کړې نوپخپله ترې نه خوړلې شی یانه؟ او

﴿۱﴾ قال الشیخ محمد کامل: من یملک نصابا من حرام لا تجب علیه فیه الزکاة بل یلزمه التصدق بجمیعه علی الفقراء لا بنیة الثواب ان لم یکن صاحب المال موجوداً.

(فتاویٰ کامیله ص۱۵ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۸ مطلب فی التصدق من المال الحرام کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ (غمز عیون البصائر شرح الاشباه ۱: ۳۴۹ القاعدة الرابعة عشرة)

مصیبتونو دفع کولو دپاره ذبحه کول صحیح دی یا نور صدقات لکه نقد او جنس هم جائز دی؟ بینوا توجروا
المستفتی: حضرت کلیم الله شاه صاحب مسکین پورشریف مظفر گړه ۷۳|۳|۱۵

الجواب: دصدقات غیرواجبه نه پخپله هم خوړلې شی البته دغه مقدار به تصدق کښې شمارنه وی او دمصیبت دفع کولو دپاره ذبحه کول ممنوع نه دی البته دفدئی په طور ذبحه کول بی اصله کار دی

لان الاقتداء لایدرک بالعقل والقیاس ، وقال الله تعالیٰ وفدیناه بذبح عظیم﴿۱﴾. وهوالموفق

د مشترکه مال نه صدقات ادا کول

سوال: علمائی دین مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه مونږ شپږ سکه رونړه یو او دوه دتره څامن او زمونږ والدین وفات شوې دی مونږ کښې دوه رونړه مزدوری کوی جائیداد مو ټول مشترکه دی دتره ځوی هم کور کښې نشته اودغه رونړو یو رور مشر کړی دی او اجازت ئی ورکړې دی چه دمشترکه جائیداد نه ته صدقه کولې شی دلته بعضی کسانو وئیلې دی چه دمشترکه جائیداد نه صدقه جائز نه ده آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل صاحب شاه صورتی کلې ضلع کرك... ۳۰|۶|۱۴۰۱ھ

الجواب: داسی مروجه صدقات غالباً په اباحت کښې داخل وی لهذا شیوع ورته ضرر ورکونکې نه دی او که دا صدقات په تملیك کښې داخل وی نو دجامع صغیر دروایت په رنړا کښې شیوع هغې ته ضرر ورکونکی نه دی (فلیراجع الی هبة الهدایة) ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (سورة الصّفٰت پاره:۲۳ رکوع:۷ آیت:۱۰۷)

﴿۲﴾ قال المرغینانی: وفی الجامع الصغیر اذا تصدق علی محتاجین بعشرة دراهم او وهبها لهما جاز ولو تصدق بها علی غنیین او وهبها لهما لم یجز وقالا یجوز للغنیین ایضا جعل کل واحد منهما مجازا عن الآخر والصلاحیة ثابتة لان کل واحد منهما تملیک بغیر بدل.
(هدایة علی صدر فتح القدیر ۷:۴۹۷ باب الهبة)

دینی طلبانو لره د کورونو نه دروږی سالن جمع کولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه دبعضو مدرسو ماشومان چنړیان دمحلی والو نه ډوډئ او سالن (انګلې) جمع کوی او دینی طالبان هغه خوری آیا دا جائز دی؟ آیا داسوال او ذلت نه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله چارسده.... ۱۹۸۲ء

الجواب: دطالبانو دپاره دا وظیفه جمع کول جائز دی او خلق ئی هم په خوشحالئ سره ورکوی ددینی طالبانو کفالت په عوامو باندې لازم دی او داسوال او ذلت هم نه ګنړلې کیږی (کما هوالمعروف) ﴿۱﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلی بن سلطان المعروف بملا علی قاری: واما سوال صدقة التطوع فمن لا یقدر علی کسب لکونه زمناً او ذاعلة اخری جاز له السوال بقدر قوت یومه ولا یدخر وان کان قادراً علیه فترکه لاشتغال العلم جازت له الزکاة وصدقة التطوع فان ترکه لاشتغال صلاة التطوع وصیامه لا تجوز له الزکاة ویکره له صدقة التطوع فان جلس واحد او جماعة فی بقعة واشتغلوا بالطاعة ورياضة الانفس وتصفية القلوب يستحب لواحد منهم ان يسأل صدقة التطوع وكسرات الخبز لهم واللباس لا جلهم.

(مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ۴: ۱۷۲ باب من لا تحل له المسئلة ومن تحل له)

فتاوی دیوبند پاکستان المعروف به

فتاوی فریدیه دریم جلد

باب المصارف



بسم الله الرحمن الرحيم

.....قال الله تعالى.....

إِنَّمَا الصَّدَقَٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسَٰكِينِ
وَالْعَٰمِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ
وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ
اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ ط فَرِيضَةً مِّنَ
اللَّهِ ط وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝٦٠

........(التوبة)........

باب مصارف الزکوٰة

مارغان او ځناور د عشر او زکوٰة مصرف نه دی

سوال: علماء دین دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید مرغو ځناورو وغیره ته غنم جوار وغیره غورځوی آیادا په عشر کښې حساب کیدئ شی؟ آیا دعشر غنم وغیره مرغوته غورځولو سره دعشر نه ذمه فارغ کیدیشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود کوهاټ.... ۱۹۷۶ء | ۳ | ۲۳

الجواب: مرغی دعشر او زکوٰة مصرف نه دی ﴿۱﴾ لهذا په دې طریقې سره ثواب حاصلیږی لیکن دفریضې نه ذمه نه فارغه کیږی لکه چه یو سړی نفل مونځ کوی اوفرض نه کوی. وهوالموفق

په مال او متاع کښې شریک فقیر ته زکوٰة ورکول

سوال: علماء ئی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه دځان سره بعضې مالونو کښې شریك فقیر ته زکوٰة ورکول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل الدین متعلم دارالعلوم حقانیه.۷۸ء | ۱۰ | ۳۱

﴿۱﴾ قال العلامة ابن رشد: فاما عددهم فهم الثمانية الذین نص الله علیهم فی قوله تعالیٰ انما الصدقات للفقراء والمساکین الخ، الآیة.

(بداية المجتهد ۱: ۲۰۰ الفصل الاول فی عدد الاصناف) وقال الامام علی بن عثمان سراج الدین الاوشی: لا یجوز صرف الزکوة الی اهل الذمة ولا الی الکلاب والطیور.

(فتاویٰ سراجية ۲۸ باب مواضع الصدقات)

الجواب: دی شریك فقیر ته د استقلال په طریقې سره زکوة ورکول جائزدی ﴿۱﴾ او داشتراك په صورت کښې ناجائز دی ﴿۲﴾ وهو الموفق

د مړی په قرضه کښې د زکوة رقم ورکولو سره زکوة نه ادا کیږی

سوال: علماءئی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زید دبکر ورارهٔ وو او دده په ذمه دبکر درې زره (۳۰۰۰) روپئ دې اوس زید ډیری غریبئ په حالت کښې مړ شو بکر ورته خپله قرضه معاف کړه او په زید باندې دبل چاهم زر روپئ قرض وو هغه بکر دزکوة درقم نه ادا کړې آیا په دې سره دبکر زکوة ادا شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن مشین محله شهر جهلم... ۱۹۷۲ء|۱۰|۲۵

الجواب: په صورت مسئوله کښې دزید ذمه دقرض نه فارغه شوی ده لیکن د بکر ذمه دزکوة نه فارغه نه ده ځکه چه زید تاته ددې اجازت نه وو کړې

یدل علیه ما فی الهندیة ۱: ۲۰۲ ولو قضی دین الفقیر بزکوٰة ماله ان کان بامره یجوز وان کان بغیر امره لا یجوز وسقط الدین انتهیٰ﴿۳﴾. وهو الموفق

ایا زکوٰة په کوهی جوړولو او هغې باندې مشین لګولو باندې خرج کولې شی؟

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی که دیو کوهی په جوړولو

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: ویشترط ان یكون الصرف تملیكا لا اباحة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: ای بینه وبین المدفوع الیه لان منافع الاملاک بینهم متصلة فلا یتحقق التملیک علی الکمال هدایة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۹ قبیل مطلب فی الحوائج الاصلیة)

﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۹۰ الباب السابع فی المصارف)

او هغې باندې مشين لګولو دپاره دزکوة پېسې استعمال کړيشى نو آيا دا خرچ کول صحيح دي؟ بينوا توجروا

المستفتى: مياں بهادرشاه زيارت كاكاصاحب نوشهره يكم ذى الحجه ۱۳۹۷ھ

الجواب: په دې مد کښې زکوة نشى خرچ کېدى ځکه چه دزکوة دپاره تمليک شرط دې چه هغه په صورت مسئوله کښې موجود نه دې ﴿۱﴾ هاں په دې کښې هسې خيراتونه (شکرانې) صرف کيدلې شى لهذا دزيارت کاکا صاحب دشکرانو نه دې څه رقم باقاعدګۍ سره مقرر کړيشى ځکه چه دمزار ونو په معطل کيدلو سره دين ته نقصان نه رسيږى. بخلاف المدارس العربيه. وهوالموفق

د زکوٰة او مصارفو بعضې مسئلې

سوال: علماء ئى دين دى مسئلو کښې څه فرمائى (۱) آيا زکوة رشته دار فقير ته ورکول جائز دى او آيا ورکونکى ته دزکوة وئيل ضرورى دى؟ (۲) آياد زکوة په رقم سره د ګنډلو مشين وغيره اخستل او ورکول جائز دي؟ ﴿۳﴾ آيا ديو مقروض دقرض ختمولو دپاره قرض خواه ته د زکوة مال ورکول جائز دى؟ (۴) آيا زکوة په يو وخت کښې ورکول پکاردى اوکه نه دکال په مختلفو حصو کښې هم ورکول جائز دى؟ (۵) دزکوة بهترين مصرف کوم دې رشته داران يا فقيران؟ بينوا توجروا

المستفتى: كشميرخان مردان... ۱۲ رمضان ۱۴۰۸ھ

الجواب: داصول او فروعو او د خپلې ښځې نه علاوه نورو رشته دارانو ته زکوة ورکولې شى په دې شرط چه مسکينان وى ﴿۲﴾ (۲) په زکوة کښې

﴿۱﴾ وفى الهندية: ولايجوز ان يبنى بالزكاة المسجد وكذا القناطر والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الانهار والحج والجهاد وكل مالا تمليك فيه.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱: ۱۸۸ الباب السابع فى المصارف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ولا الى من بينهما ولاد...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

داضروری نه ده چه د زکوٰة نوم واخلې په زړه کښې اراده کافی ده(۱) (۳) دمقروض په اجازت سره قرض خواه ته دمال زکوة نه ورکولې شی (عالمگیری)(۲) (۴) ته دکال په مینځ کښې پیشگی زکوة ورکوه او د حولان حول په وخت زکوة دمقدار نه پیشگی اداشوې زکوة منفی کړه (۳) (۵) په مصارفو کښې بهترین مصرف هغه بال بچه دار عالم دین دې چه چا خپل عمر ددین دخدمت دپاره وقف کړې دی (عالمگیری) (۴) وهو الموفق

هغه زمکه موجب غنا نه ده چه دهغې نه دټول کال یا ددې نه کمه غله حاصلېږی

سوال: علماء ئی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو سړی دومره زمکه ده چه دهغې پیداوار ټول کال پورې نه رسیږی دزمکې قیمت پنځوس شپیته زره روپئ دې آیا مذکوره سړی ته زکوة ورکول جائز دې یانه؟ او ده باندې حج فرض دې یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد جنید شالفین سوات... ۱۹ جون ۱۹۷۵ء

الجواب: داسړې زکوة اخستلې شی او په ده حج فرض نه دې او نه دحج دپاره زمکه خرڅول فرض دی کمافی ردالمحتار ۲ | ۸۸ سئل محمدعمن له الارض یزرعها اوحانوت

(بقیه حاشیه) قال ابن عابدین: وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۹ باب المصرف)

(۱) وفی الهندیة: ومن اعطی مسکینا دراهم وسماها هبة او قرضا ونوی الزکاة فانها تجزیه وهو الاصح. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۷۱ کتاب الزکاة)

(۲) وفی الهندیة: ولو امر فقیرا بقبض دین له علی آخر ونواه عن زکاة عین عنده جاز. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۷۱ کتاب الزکاة)

(۳) قال العلامة ابن الهمام: وان قدم الزکاة علی الحول وهو مالک للنصاب جاز. (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۱۵۴ فصل ولیس فی الفصلان والحملان والعجاجیل صدقة کتاب الزکاة)

(۴) وفی الهندیة: التصدق علی الفقیر العالم افضل من التصدق علی الجاهل. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۷ الباب السابع فی المصارف)

یستغلها او دار غلتها ثلثة آلاف ولا تکفی لنفقته ونفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزکوٰة وان کانت قیمتها تبلغ الوفا وعلیه الفتویٰ وعندهما لا یحل ﴿۱﴾ وفی الهندیة ۱:۲۳۱ وان کان صاحب ضیعة ان کان له من الضیاع ما لو باع مقدار ما یکفی الزاد والراحلة ذاهبا وجائیاً ونفقة عیاله واولاده ویبقی له من الضیعة قدر ما یعیش بغلته الباقی یفترض علیه الحج والا فلا ﴿۲﴾. وهو الموفق

غریبې طلاقې شوې ښځې ته زکوٰة ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې ددې ښځې سره دهغې بچې هم دی چه سبق وائی آیا دې مطلقه ښځې ته زکوٰة ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: طاهرجواد حضرو اټک.... ۱۲ رمضان ۱۴۰۸ھ

الجواب: که دا طلاقه شوې ښځه د زکوٰة مصرف وی او محتاجه وی نو ته هغې ته زکوٰة ورکولې شې ﴿۳﴾ وهو الموفق

په مالدار مجاهدینو باندې زکوٰة نشې خرچ کیدلې

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مالدار مجاهدینو ته

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۱۷ مطلب فی الحوائج الاصلیة کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۲۱۸ کتاب المناسک)

﴿۳﴾ قال العلامة عبد الله بن احمد النسفی: المصرف هو الفقیر والمسکین وهو اسوء حالاً من الفقیر والعامل والمکاتب والمدیون ومنقطع الغزاه وابن السبیل فیدفع الی کلهم او الی صنف. (کنز الدقائق ۱:۶۴ باب المصرف)

زکوة ورکول جواز لری یانه؟ که جواز وی نو تحریر طورئی راولیږئ او مونږ مطمئن کړی والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

المستفتی: ح.خ ټریډنګ هاوس فردوس منزل پښاور ښهر ۱۹۸۸ء|۱|۲۵

الجواب: دفقهاؤ په نزد مالدارو باندې زکوة خرچ کول جائز نه دی (۱) دعاملینو نه علاوه البته هغه کس چه په خپل کور کښې غنی وو لیکن دجهاد نه پس دهغه مال دراتلونکو ضروریاتو دپاره ناکافی دې نو زکوة اخستلې شی (ماخوذ از بدائع) (۲) وهو الموفق

د زکوة په رقم څه څیز پخول او نورو باندې خوړلو سره د ذمې د فراغت مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې بارد کښې څه فرمائی چه دیو سړی سره دزکوة رقم دی آیا په هغې باندې خیرات کول جائزدی یعنی چه څه پاخه کړې او نورو باندې ئی او خوروی؟ بینوا توجروا

المستفتی: شادولی خان کیماړی کراچی..... ۱۹۹۰ء |۳| ۹

الجواب: چونکه په دې عرفی خیرات کښې تملیك نه وی صرف اباحت وی (۳)

---

(۱) قال العلامة برهان الدین: ولا تدفع الی غنی لقوله ﷺ لا تحل الصدقة لغنی. (الهدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۲۰۸ باب مایجوز دفع الزکاة وما لا یجوز)

(۲) قال العلامة الکاسانی: واما استثناء الغازی فمحمول علی حال الحدوث الحاجة وسماه غنیا علی اعتبار ماکان قبل حدوث الحاجة وهو ان یکون غنیا ثم تحدث له الحاجة بان کان له دار یسکنها ومتاع یمتهنه وثیاب یلبسها وله مع ذلک فضل مائتی درهم حتی لا تحل له الصدقة ثم یعزم علی الخروج فی سفر غزو فیحتاج الی آلات سفره وسلاح یستعمله فی غزوه ومرکب یغزو علیه وخادم یستعین بخدمته علی مالم یکن محتاجاً الیه فی حال اقامته فیجوز ان یعطی من الصدقات ما یستعین به فی حاجته التی تحدث له فی سفره. (بدائع الصنائع ۲: ۱۵۵ فصل المؤلفة قلوبهم کتاب الزکاة)

(۳) قال الحصکفی: وهی شرعا تملیک خرج الاباحة..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

لهذا په دې طریقې سره دزکوة نه ذمه نه فارغ یږي په دویم خلې ادا کول ضروری دی وهوالموفق

مقروض اوکور جوړونکی فقیرته د نصاب نه د زیات زکوة ورکولو حکم

سوال: علمائی دین لاندینو مسئلو باره کښې څه فرمائی چه (۱) فقیرته زیات نه زیات څومره رقم ورکول جائزدی؟ (۲) که یو فقیر د زرو روپو مقروض دې خو آیا هغه ته زر روپې په یو ځائی ورکول جائز دی؟ (۳) دیو سړی آمدنی دومره ده چه په مشکله سره دبال بچ ساتنه کوی هغه سره داوسیدلو کور نشته آیا هغه ته د زکوة دومره رقم ورکول چه هغه پری کور جوړ کړی دا جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد خورشید دته روډ راولپنډی

الجواب: (۱) دومره مقدار زکوة ورکول چه هغه پری شرعی غنی جوړ شی مکروه دی ﴿۱﴾ (۲) جائز دی بلکه ددینه زیات هم ورکول جائز دی خوچه دا زیاتی دمقدار د نصاب نه کم وی (۳) دی سړی ته دمکان دپاره رقم ورکول جائزدی.

والدليل على هذه المسائل ما فى الدرالمختار ، وكره اعطاء فقير نصابا او اكثر الا اذا كان المدفوع اليه مديونا او كان صاحب عيال بحيث لو فرقه عليهم لا يخص كلا او لا يفضل بعد دينه نصاب انتهىٰ، فيه لف ونشر غير مرتب (ردالمحتار ۲ :۹۳)﴿۲﴾ وجه الدلالة على السوال الثالث عدم الفرق بين النفقة والسكنى

(بقيه حاشيه) فلو اطعم يتيما ناويا الزكاة لا يجزيه الا اذا دفع اليه المطعوم، قال ابن عابدين: لانه بالدفع اليه بنية الزكاة يملكه فيصير آكلا من ملكه بخلاف ما اذا اطعمه معه الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲ :۳ كتاب الزكاة) وقال العلى بن عثمان الاوشى: ويشترط التمليك ولا يجوز التغدية والتعشية. (فتاوىٰ سراجية ۲۸ باب مراضع الصدقات)

﴿۱﴾ وفى الهندية : ويكره ان يدفع الى رجل مائتى درهم فصاعدا وان دفعه جاز.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱ :۱۸۸ الباب السابع فى المصارف)

﴿۲﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲ :۷۳ باب المصرف)

فی الوجوب والحاجة نعم الاحتیاط فی الاعطاء بعد البناء ﴿۱﴾ وهوالموفق

فقیر په زکوٰة سره غنی جوړول مکروه دی

سوال: علمای دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دزکوة صحیح مصرف کوم دې؟ دغه شان په نزدې رشته دارانو کښې چه کوم فقیر وی هغه ته څومره رقم ورکولې شی؟ دبعضې علماؤ نه مواوریدلې دی چه ډیر رقم په زکوة کښې نه دی ورکول په کار؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالغفار چیف کیمسټ منګوره سوات ...۱۴ شعبان ۱۳۹۲ھ

الجواب: دزکوة صحیح مصرف فقیر او محتاج دې خصوصاً چه کله عالم یا متعلم (طالب العلم) او یا مجاهد وی ﴿۲﴾ البته یو محتاج غنی جوړول مکروه دی مثلاً په کوم فقیر چه دپنځه کسانو خرچه واجب وی او مقروض نه وی نو هغه ته $52\frac{1}{2}$ تولې چاندئ په حساب سره دشپږو کسانو یعنی ۳۱۵ تولې چاندی ($52\frac{1}{2}\times 6 = 315$) ورکول مکروه دی او ددی نه کم جائز دی ﴿۳﴾ (ماخوذ از هندیه). وهوالموفق

﴿۱﴾ وجه الدلالة فیه ان السکنیٰ من الحوائج الاصلیة کما یدل علیه ما فی الهندیة ۱: ۱۸۹ والشرط ان یکون فاضلا عن حاجته الاصلیة وهی مسکنه واثاث مسکنه الخ، وقال بعد اسطر، رجل له دار یسکنها یحل له الصدقة وان لم یسکن الکل هو الصحیح کذا فی الزاهدی وقال ابن عابدین: فارغ عن حاجته قال فی البدائع قدر الحاجة هو ما ذکره الکرخی فی مختصره فقال لابأس ان یعطی من الزکاة من له مسکن وما یتأثث به فی منزله وخادم وفرس وسلاح وثیاب البدن وکتب العلم ان کان من اهله فان کان له فضل عن ذلک تبلغ قیمته مائتی درهم حرم علیه اخذ الصدقة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۰ مطلب فی الحوائج الاصلیة)......(ازمرتب)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: التصدق علی الفقیر العالم افضل من التصدق علی الجاهل.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۷ الباب السابع فی المصارف)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ویکره ان یدفع الی رجل مائتی درهم ......(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

په زکوٰة سره د کتاب طباعت کول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی ددینی کتاب دچاپ کولو اراده اوکړه لیکن هغه غریب دې دخلقو نه زکوة اخلی په دې طریقې سره داکتاب چاپ کول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: صاحب زاده باجوړ عنایت کلې.... ١٩٨٥ء | ٣١ | ١٢

الجواب: که دا سړی دزکوة مصرف وی یائی دزکوة ورکونکو په اجازت سره دچاپ کولو نه پس دا کتابونه دتملیك په طور سره مصارفوته ورکوی نو دیکښې څۀ خبره نشته.﴿١﴾ وهوالموفق

د٢٥ غواګانو یا ٣٥ بیزو مالک زکوٰة اخستلې شی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دیو سړی سره پنځویشت (٢٥) غواګانې دی یا پنځه دیرش (٣٥) بیزی دی نو آیا دا سړی دنورو خلقو نه زکوة اخستلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ١٩٨٥ء | ٣ | ١٠

الجواب: که نور اجناس ورسره نه وی نو دا سړی زکوة اخستلې شی (رد المحتار ٢/٨٩)﴿٢﴾ وهوالموفق

(بقیه حاشیه)فصاعداً وان دفعه جاز. کذا فی الهدایة: هذا اذا لم یکن الفقیر مدیونا فان کان مدیونا فدفع الیه مقدار ما لو قضی به دینه لا یبقی له شیئ او یبقی دون الما ئتین لا بأس به وکذا لو کان معیلا جاز ان یعطی له مقدار مالو وزع علی عیاله یصیب کل واحد منهم دون المائتین کذا فی فتاویٰ قاضی خان.

(فتاویٰ عالمگیریه ١:١٨٨ الباب السابع فی المصارف)

﴿١﴾قال العلامة الحصکفی: یشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة لا یصرف الی بناء مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢:٦٨ باب المصرف)

﴿٢﴾قال العلامة ابن عابدین: (قوله جزم به فی البحر)...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د حاجت اصليه څيزونو نه لرلو والا صاحب نصاب د پاره زكوة اخستل حرام دي

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو مسافر په يو جمات کښې مقيم وی اودهغه خپل داوسيدلو کور نه وی او واده وغيره اودکور نور ضروريات ئی هم نه وی او دنقد په حساب سره صاحب نصاب وی او بيا دا مذکوره سړی په دې نيت سره چه دحج بيت الله شريف دپاره پيسې جمع کوم نو دهغه دپاره زکوة اخستل جائز دی يانه؟ دغه شان چه دنصاب رقم ئی په څه مزدورئ سره ګټلې وی او څهٔ خلقو په صدقاتو او خيراتونو کښې ورکړی وی؟ بينوا توجروا

المستفتی: ګل شير جمرود خيبر ايجنسی

الجواب: دی سړی دپاره زکوة اخستل حرام دی ﴿۱﴾ البته که دا سړی دحولان حول نه مخکښې داسې جنس واخلی چه دحاجات اصليه نه وی مثلاً کور وسله. غله نو په دې سړې باندې به دغنی احکامات نه جاری کيږی

يدل عليه ما فی ردالمحتار ۲:۸ ان الزكاة تجب فی النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة وكذا فی البدائع فی بحث النماء التقديری﴿۲﴾ قلت وصرح العلامة العينی : وهو فاضل عن حوائجه الاصلية كالدين فی النقود﴿۳﴾ فقط، فافهم وهو الصواب

(بقيه حاشيه) حيث قال ودخل تحت النصاب النامی الخمس من الابل فان ملكها او نصابا من السوائم من ای مال كان لا يجوز دفع الزكاة له سواء كان يساوی مائتی درهم او لا وقد صرح به شراح الهداية عند قوله من ای مال كان.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۱ مطلب فی الحوائج الاصلية)

﴿۱﴾ وفی الهندية: ولا يجوز دفع الزكاة الی من يملك نصابا ای مال كان دنانير او دراهم او سوائم او عروضا للتجارة او لغير التجارة فاضلا عن حاجته فی جميع السنة.

(فتاویٰ عالمگيريه ۱: ۱۸۹ باب فی المصارف)

﴿۲﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۱۱ كتاب الزكاة)

﴿۳﴾ (العناية علی هامش فتح القدير ۲: ۲۱۵ باب من يجوز دفع الصدقة اليه ومن لايجوز)

د حج د پاره پیسې جمع کونکی غنی ته زکوة ورکول جائز نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه زما دوه دماما لونړه دی ما به هغوې ته زکوة ورکولو لیکن اوس هغوی وائی چه مونږ مالدار یو اوس پکښې یوې اووئیل چه ماته زکوة راکوه چه زه ئی دحج دپاره جمع کړم داجائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: بیګم علی حسن پشاور روډپنډی ۱۹۸۱ء|۳|۲۴

الجواب: چه کله داخوئندې داقرار مطابق مالدارې دی نوهغوی ته زکوة ورکول که دحج دپاره وی اوکه دبل مقصد دپاره وی جائز نه دی﴿۱﴾ وهوالموفق

بال بچه دار او مقروض فقیرته دمقدار نصاب هومره زکوة ورکول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زکوة زر(۱۰۰۰) روپئ یو مستحق ته ورکول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: ګل افضل بن مرسلین ډاك اسماعیل خیل نوشهره

الجواب: بال بچه دار او مقروض ته هغه بال بچه دار چه هغه با لفرض دا زر روپئ په خپل ځان او بچو باندې تقسیم کړی اود هر یو حصه دنصاب نه کمه وی او هغه مقروض چه کله هغه مقدار د قرض لری کړی نو باقی مقدار دنصاب نه کم پاتې کیږی ورکول بغیر دکراهت نه جائز دی او غیر مقروض غیر عیالدار ته جائز مع الکراهت دی.

وفی الهندیة: ویکره ان یدفع الی رجل مائتی درهم فصاعداً وان دفعه جاز کذا فی الهدایة هذا اذا لم یکن الفقیر مدیونا فان کان مدیونا فدفع الیه مقدار مالو

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا یجوز دفع الزکاة الی من یملک نصابا ای مال کان دنانیر او دراهم او سوائم او عروضا للتجارة فاضلا عن حاجته فی جمیع السنة.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

قضی به دینه لا یبقی له شیئ او یبقی دون المأتین لا بأس به و کذا لو کان معیلا جاز ان یعطی له مقدار ما لو وزع علی عیاله یصیب کل واحد منهم دون المائتین کذا فی فتاویٰ قاضی خان (هندیه ۱: ۲۰۰)﴿۱﴾. وهو الموفق

د سودی کاروبار کونکی زکوٰة په غریبانانو طالبانو باندې خرچ کول

سوال: علمائی دین دې باره څهٔ فرمائی چه دې ورځو کښې داکثرو مدرسو سفیران یا دهغوی خطونه د زکوة اخستلو دپاره راځی فرض کړه که یو سړی د سود کاروبار کوی او هغه زکوة هم ادا کوی ددی څهٔ مسئله ده ځکه چه زما خواته چه کوم خطونه راغلې دی په هغې کښې ددی قسم څه وضاحت نشته؟ بینوا توجروا

المستفتی: اقبال منیر فیصل آباد

الجواب: سودی مال په غریبانانو طالبانو باندې خرچ کیدیشی ﴿۲﴾ اکثر اهل مدارس دعطیاتو په لفظ سره دیته هم اشاره کوی وهوالموفق

د سودی کاروبار کونکی نه دزکوة رقم اخستل جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه سودی کاروبار کولو والا سړې وی او دهغه دګټې دحلالو حرامو پته نه لګی نو داسی کس نه زکوة اخستل جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حامد انور اکوړه خټک.... ۱۹۸۵ء | ۱۲ | ۳۱

﴿۱﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

﴿۲﴾ قال ابن البزاز الکردری: ولو بلغ المال الخبیث نصابا لا یجب فیه الزکاة لان الکل واجب التصدق والعبرة لنیة الدافع لا لعلم المدفوع الیه.

(فتاویٰ بزازیه علی هامش الهندیة ۴: ۸۶ الثانی فی المصرف)

الجواب: د زکوٰة مصرف سړي د سود خورنه زکوٰة او خیرات اخستلې شي (حموی) (۱) وهوالموفق

نا بالغه ته د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی (۱) داسې نابالغه ته چه والدین ئې غریبانان وی هغه ته زکوٰة ورکول جائز دی؟ (۲) که پلار مالدار وی او خوئ یا لور ئې بالغ وی او دپلار په کفالت کښې وی نو آیا دوی ته زکوٰة ورکول جائز دی؟ چه دابالغ ځوی پخپله مالدارنه وی؟ (۳) که دزیر کفالت بچی پلار غریب وی او مورئې مالداره وی نو هغه ته زکوٰة ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل عظیم نوشهره..... ۱۹۷۸ء | ۷ | ۲۷

الجواب: (۱) دکوم نابالغه چه والدین غریبانان وی اودا نابالغه پخپله هم غریب وی نو هغه ته زکوٰة ورکول جائز دی (هندیه)

(۲) بالغ چه مالدار نه وی نو هغه ته زکوٰة ورکول صحیح دی اګر که په والدینو کښې صرف پلار یا صرف مور په اغنیاؤ کښې وی (۲)

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدین: وفی حاشیة الحموی عن الذخیرة سئل الفقیه ابو جعفر عمن اکتسب ماله من امراء السلطان وجمع المال من اخذا لغرامات المحرمات وغیر ذلک هل یحل لمن عرف ذلک ان یاکل من طعامه قال احب الی ان لا یاکل منه ویسعه حکما ان یاکله ان کان ذلک الطعام لم یکن فی یدالمطعم غصباً او رشوة الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۸ مطلب التصدق من المال الحرام) وقال ابن البزاز الکردری: وقوله ارفق بالناس لان مالاً مالا یخلو عن مغصوب لکنه قبل اداء البدل خبیث واجب التصدق فلا یاخذه لا من یجوز له اخذ الصدقة والاخذ والاعطاء اولیٰ اذا کان لا یشوبه العجب. (فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ۳:۸۸ الباب الثانی فی المصرف کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولا یجوز دفعها الی ولدالغنی الصغیر ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

﴿۳﴾ او جائز دی ﴿۱﴾ هو الموفق

عاقل او مراهق نا بالغه ته زکوٰة ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه نابالغه بچی ته زکوٰة ورکول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحمٰن لکی مروت.... ۱۹۷۷ء | ۷ | ۳۰

الجواب: چه کله صبی مراهق وی یا عاقل نو هغه ته زکوٰة ورکول کافی دی. **کما فی الهندیة ۱: ۲۰۲ ولو قبض الصغیر وهو مراهق جاز لو کان یعقل القبض بان کان لا یرىٰ ولا یخدع عنه﴿۲﴾. وهوالموفق**

د مالدار سړی غریب بالغ ځوی دزکوٰة مصرف دی

سوال: علمائې دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه دایف اې سی طالب العلم یم دیو زمیندار پلار ځوی یم دامدنئ یوه ذریعه صرف زمکه دی زما په نوم هیڅ جائیداد نشته په دی وجه والدصاحب می زمکه خرخوی او زما د تعلیم اخراجات پوره کوی په دغه زمکه کښې زما دنور رونړو خوئیندو هم حصه ده کوم چه زه خرچه کوم په دی صورت کښې زه دزکوٰة فنډ نه د وظیفې اخستلو

(بقیه حاشیه) ولو کان کبیرا فقیرا جاز ویدفع الی امرأة غنی اذا کانت فقیرة وکذا الی البنت الکبیرة اذا کان ابوها غنیا لان قدر النفقة لا یغنیها وبغنی الاب والزوج لا تعد غنیة کذا فی الکافی ویجوز صرفها الی الاب المعسر وان کان ابنه موسرا.

(فتاوىٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۹ باب المصارف)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ولا الی طفله بخلاف ولده الکبیر وابیه وامرأته الفقراء وطفل الغنیة فیجوز لانتفاء المانع. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۷ باب المصرف)

﴿۲﴾ (فتاوىٰ عالمگیریه ۱: ۱۹۰ باب المصرف)

دپاره درخواست اوکړم آیا زما دپاره دازکوة اخستل جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: میراکبرخان اسلامیه کالج پشاور ۱۵ ۱۱ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: ته دزکوة مصرف ئی دزکوة فنډ نه زکوة حاصلولې شی دمالدار سړی غریب بالغ ځوی غنی نه وی (۱) البته داوظیفه په خلاف شریعت کارونو یعنی نشو تماشو کښې خرج کول قابل اعتراض دی وهوالموفق

د پلار او ځوی مشترکه زکوة نه وی نو انګور ته ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه انګور ته زکوة ورکول جائز دی یانه؟ حال داچه هغه ښځه ددې سړی سره او سیږی البته دچائی او جامو انتظام پخپله کوی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبیدالله خان زنګی خیل بنوں ۱۹۷۴ء|۷|۶

الجواب: انګور ته عشر او زکوة ورکول جائز دی چه کله مالداره نه وی او پلار او د خاوند مشترکه زکوة نه وی (۲) وهوالموفق

دوکیل ځپلې ښځې ته زکوة ورکولو او زوم ته دزکوة ورکولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څهٔ فرمائی چه یو سړې صاحب نصاب دې مګر

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: ان الطفل یعد غنیا بغنی ابیه بخلاف الکبیر فانه لا یعد غنیا بغنی ابیه ولا الاب بغنی ابنه ولا الزوجة بغنی زوجها ولا الطفل بغنی امه.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲ے باب المصرف)

(۲) قال العلامة الحصکفی: ولا الی من بینهما ولاد قال ابن عابدین: وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولی لانه صلة وصدقة وفی الظهیریة ویبدأ فی الصدقات بالاقارب ثم الموالی ثم الجیران...... ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته تاتارخانیة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۹ باب المصرف)

دهغه ښځه غریبه ده نو کهٔ خاوند دیو مؤکل زکوة خپلې ښځې ته ورکړی آیا داجائز دی؟ د دغه شان زوم ته دزکوة ورکولو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: اکرام الحق راوالپنډی... ۱۹۷۶ء|۳|۲۴

الجواب: داوړه صورتونو کښې دزکوة اخستل او ورکول جائز دی.

لعدم التهمة فی الاولیٰ﴿۱﴾ ولعدم المانع فی الثانیة﴿۲﴾. وهوالموفق

غریب مور پلار، خور، ورور ته زکوة ورکول مسئله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مور، پلار، خور یا رور چه مسکینان فقیران وی هغه ته زکوة ورکول جائز دی یانه؟

بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم..... ۱۲ شعبان ۱۳۹۴ھ

الجواب: په رونړو خوئیندو باندی زکوة خرچ کیدلې شی چه کله مسکینان وی﴿۳﴾

﴿۱﴾وقال ابن البزاز الکردری: الوکیل باداء الزکاة اذا صرفه الی ولده الکبیر او الصغیر او امرائته وهم محاویج جاز ولا یمسک لنفسه شیأ.

(البزازیة علی هامش الهندیة ۴:۸۶ الثانی فی المصرف)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجیم: قید باصله وفرعه لان من سواهم من القرابة یجوز الدفع لهم وهو اولیٰ لما فیه من الصلة مع الصدقة کالاخوة والاخوات والاعمام والعمات والاخوال والخالات الفقراء ولهذا قال فی الفتاویٰ الظهیریة ویبدأ فی الصدقات بالاقارب.

(البحر الرائق ۲:۲۴۳ باب المصرف)

وقال العلامة ابن عابدین: ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته تاترخانیة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹ باب المصرف)

﴿۳﴾ وفی الهندیه: والافضل فی الزکاة والفطر والنذر ..... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

البته په مور پلار باندې زکوة نشی صرف کیدلې. ﴿۱﴾

والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات. وهوالموفق

اِنګوریانو ته زکوٰة ورکول جائزدی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه دلته یو سړی په خپلو انګوریانو باندې زکوة تقسیم کړې دی دغه زنانو کښې دهغه لونړه هم شاملې دی آیا دا زکوة په صحیح طریقې باندې ورکړې شوی دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: توکل خان پاړه چنار کرم ایجنسی کوهاټ ۱۹۷۴ء|۸|۲۷

الجواب: که دا انګوریانې مالدارې نه وی او دا زکوة خالص دخپل مال وی د زامنو دشرکت نه خالی وی نوددې زکوة په صحیح والی کښې هیڅ شك نشته. **بـخلاف الاصـول والـفـروع، کما لایخفی علی من راجع الی باب المصارف فی کتب الفتاویٰ ﴿۲﴾. وهوالموفق**

عزیز یا رشته دار ته څومره رقم پوری زکوة ورکولې شی؟

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه عزیز یا رشته دار ته دزکوة

(بـقیه حاشیه) الصرف اولا الی الاخوة والاخوات ثم الی اولادهم ثم الی الاعمام والعمات ثم الی اولادهم ثم الی الاخوال والخالات ثم الی اولادهم ثم الی ذوی الارحام ثم الی الجیران ثم الی حرفته ثم الی اهل مصره او قریته کذا فی السراج الوهاج.

(فتاوی عالمگیریه ۱:۱۹۰ الباب السابع فی المصارف)

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا یدفع الی اصله وان علا وفرعه وان سفل کذا فی الکافی.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

﴿۲﴾ قـال الـعـلامة ابـن عـابـدیـن: ویـجـوز دفـعـهـا لـزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته تاتر خانیة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹ باب المصرف)

ورکولو څومره رقم پوری اجازت دی چه دهغه خپل مکان هم نه وی او واده ئی هم نه دې کړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی نظیر بادشاه کوهاټ.... ۱۲ صفر ۱۳۹۲ھ

الجواب: بالفرض که ستا داعزیز ددری زره (۳۰۰۰) روپو کور جوړ کړی او درې زره (۳۰۰۰) په واده خرچ کړی او داټولې ئی قرض اخستلې وی نو ده ته شپږ زرو (۶۰۰۰) روپئ بلکه دهغې نه زیات ورکولې شی﴿۱﴾ وهو الموفق

که پلار مالك نه وی صرف تصرف کوی نو ځامن خور ته زکوة ورکولې شی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د یو سړی ځوی سعودئ عرب ته لاړو او مزدوری ئې او کړه مال ئی او ګټلو پلار او ځوی په ټول مال کښې شریك دی او تصرف ئی دځامنو دی یو ځوئی څۀ زکوة خپلې خور ته ورکړو آیا داصحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شفیق دادصده بازارکرم ایجنسی.. ۲۴| رمضان ۱۴۰۸ھ

الجواب: که دی ځامنو خپل پلار ددې مال مالك جوړ کړی وی نو دازکوة صحیح نه شو (شامی، بحر) ﴿۲﴾ او که ځامن ځانته دمال مالکان وائی او پلار ته صرف دتصرف اختیار دی نو دې صورت کښې خور ته زکوة ورکول صحیح دی ﴿۳﴾ ځکه چه د رونړو دمال داپلار عُرفی مالك دی شرعی مالك نه دی وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: وكره اعطاء فقير نصابا او اكثر الا اذا كان المدفوع اليه مديونا او كان صاحب عيال بحيث لو فرقه عليهم لا يخص كلا او لا يفضل بعد دينه نصاب فلا يكره. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲: ۷۴ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن نجيم: لا يجوز الدفع الى ابيه وجده وان علا ولا الى ولده وولد ولده وان سفل. (البحر الرائق ۲: ۲۴۳ باب المصرف)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصكفي: ولا الى من بينهما ولاد الخ وقال ابن عابدين: وقيد بالولاد لجوازه لبقية الاقارب كالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

لور او نوسا نوسی د زکوٰۃ مصرف نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه زما یوه جینئ واده کړې ده چه دهغې څلور بچی دی او خاوند ئی مړشوی دی او اوس ما سره اوسیږی دهغوئ دامدنئ ذریعه هیڅ نشته آیا زه هغې ته زکوة ورکولې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدامین غله ډهیر مردان... ۲۱|۶|۱۳۹۶ھ

الجواب: په خپلې لور او نوسو باندې عشر او زکوة نه شی خرچ کیدې (۱)
والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات. وهوالموفق

د عاقل نابالغه بچی خپل ځان د پاره او نابالغو رونړو د پاره زکوٰة اخستل جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه یو یتیم هلك چه دهغه عمر دولس (۱۲) دیارلس (۱۳) کاله دې اودهغه دری څلور واړه واړه رونړه هم دی هغه ته زکوة ورکول څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: میرآدم خان وانا کیمپ ساوتهـ وزیرستان... ۳۰|۹|۱۹۷۷ء

الجواب: کوم نابالغ چه مال پیژنی نه ئی غور زوی او نه ورته څوك دهوکه ورکولې شی (مثلاً چه دا څه بې کاره څیز دی اوغور زوه) نو هغه ته زکوة ورکول جائز دی خپل ځان دپاره ئی هم اخستلې شی او غیر عاقل رونړو دپاره هم قبض کولې شی. کمافی ردالمختار ۲: ۳ قوله بشرط ان یعقل القبض قید فی

(بقیه حاشیه) بل هم اولی لانه صلة وصدقة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۹ باب المصرف)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا الی من بینهما ولاد، قال ابن عابدین: ای اصله وان علا کابویه واجداده وجداته من قبلهما وفرعه وان سفل...... کاولاد الاولاد.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۹ باب المصرف)

الدفع الکسوة کلیهما وفسره فی الفتح وغیره بالذی لا یرمی به ولا یخدع عنه فان لم یکن عاقلا فقبض عنه ابوه او وصیه او من یعوله قریبا او اجنبیا او ملتقطه صح ﴿۱﴾ وفی الهندیة ۱:۲۰۲ ولو قبض الصغیر وهو مراهق جاز ﴿۲﴾. وهوالموفق

مور او غیرشرعی نکاح کښې دښځې خاوند

پشان ژوند تیرونکو ته زکوة ورکول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه زما مور صاحبه سخته بیماره ده اودمالی امداد سخت حاجت لری او زما په ګاونډ کښې داسې کسان او سیږی چه ډیر په غربت کښې دی هغه یوی ښځې خپل شرعی خاوند پرینښودو اودغیر شرعی خاوند سره ازدواجی ژوند تیروی اوددغې خاوند نه ئی ناجائزه بچی هم پیدا شوی دی آیا زه دوی ته دزکوة رقم چه ورکړم نو بری الذمه کیدلې شم؟ بینوا توجروا

المستفتی: ماسټر همت علی شاه جمال ګړهی مردان

الجواب: مورته زکوة ورکول صحیح نه دی ﴿۳﴾ باقی دغې نوروته زکوة وغیره ورکول صحیح دی ځکه چه دافقیران او مسلمانان دی په کفر کښې نه دی داخل شوی ﴿۴﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۹۰ الباب السابع فی المصارف)

﴿۳﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا الی من بینهما ولاد، قال ابن عابدین: والولاد بالکسر مصدر ولدت المرأة ولادة ولاد مغرب ای اصله وان علا کابویه واجداده وجداته من قبلهما وفرعه وان سفل. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۹ باب المصرف)

﴿۴﴾ قال الملا علی قاری: ولا نکفر مسلماً بذنب من الذنوب ای بارتکاب معصیة وان کانت کبیرة ای کما یکفر الخوارج مرتکب الکبیرة اذا لم یستحلها ای لکن اذا لم یکن یعتقد حلها...... ولا نزیل عنه اسم الایمان.

(شرح فقه الاکبر للقاری ۷۱ الکبیرة لا تخرج المؤمن عن الایمان)

میرنئ مورته زکوٰة ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین ئی مسئلې باره کښې څهٔ فرمائی چه زید خپلې میرنئ مور ته دزکوة مال ورکولې شی یانه؟ که پلارئی ژوندې وی یانه؟بینوا توجروا

المستفتی: محمدمسکین موزه ساز ټهټه شهر پنډی گیپ

الجواب: میرنئ مورته هر حالت کښې زکوة ورکول جائز دی.

فی ردالمحتار ۲:۶۵ ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته (تاترخانیة) ﴿۱﴾. وهوالموفق

دصاحب نصاب خاوند غریبی ښځې دپاره دزکوة اخستلو اوپه غیر معجل مهر سره دمالدارې نه جوړیدلو مسئله

سوال:علمائی دین دی مسئلې باره څه فرمائی (۱) دکومی ښځی خاوند چه صاحب نصاب وی او غنی وی لیکن دهغه ښځه فقیره او مسکینه وی آیا هغه دچانه زکوة اخستلې شی؟ (۲) مؤجل مهر تراوسه ښځه ته نه دی ادا کړې شوی او دخاوند سره دی آیا په دی مهر سره دا ښځه مالداره اوصاحب نصاب جوړیدلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا فخرالدین ابن شیخ الحدیث واستاذالعلماء مولانا غورغشتوی رح

الجواب: (۱) دغنی ښځه (غیر غنیه) زکوٰة اخستلې شی.

کما فی شرح التنویر ولا الی طفله بخلاف ولده الکبیروابیه وامرأته الفقراء وطفل الغنیة (۲:۹۰) ﴿۲﴾.

(۲) ښځه په غیر معجل مهر سره مالداره نشی جوړیدلې البته په مهر معجل سره به مالداره شی که خاوند ئی غنی وی.

کما فی ردالمحتار ۵:۲۷۲ والمرأة مؤسرة بالمعجل لوالزوج ملیا وبالمؤجل لا﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹ باب المصرف)
﴿۲﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۲ باب المصرف)
﴿۳﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۲۱۹ کتاب الاضحیة)

بال بچه دار عالم او طالب علم به په خپلوانو مخکښې کولې شي

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په مدرسو کښې علماء اوغریبانانو طالبانو ته زکوة ورکولو کښې ډیر ثواب دې او که په رشته دارانو کښې تقسیمولو سره ډیر ثواب دی؟ دغه شان په بعضی مدرسو کښې دطالبانو دطرفنه قبض نه متحقق کیږی. بلکه دطالبانو په خرچو باندې ئی مهتمم او مدرسو والا خرچ کوی آیا په دې سره زکوة ادا کیږی؟ دغه شان دنه ادا کیدلو په صورت کیدلو په صورت کښې به صاحب نصاب لره په دویم ځل زکوة ورکول وی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبدالغفار چیف کیمسټ مین بازار منګوره سوات ۴ | شعبان ۱۳۹۶هـ

الجواب: بال بچه دار عالم او طالب علمان به په رشته دارانو باندې مخکښې کولې شی (هندیه) ﴿۱﴾ په کومو مدرسو کښې چه طالبانو ته روټی، صابن وغیره ورکولې شی نو دهغوی مهتممینو ته دتوکیل په طور سره (په استبدال او تملیك کښې) ورکول جائز او کافی دی ددینه علاوه واجب الاعاده دی. (جمیع الفتاوی) ﴿۲﴾ وهوالموفق

د مدرسی د پاره عشر او زکوٰة بطور صله اخستل جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه زما ورځ او شپه ماشومانو ته په قرآن کریم ناظره سبق خودلو کښې تیریږی ځما دخپل معاشی ضروریاتو دکفالت دپاره بل وخت نشته خلقو زما لپاره دټول عشر نه

﴿۱﴾ وفی الهندیة: التصدق علی الفقیر العالم افضل من التصدق علی الجاهل.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱ :۱۸۷ الباب السابع فی المصارف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: یصرف المزکی الی کلهم او الی بعضهم...... ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کما مر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ :۶۸ باب المصرف)

نیمه حصه او دتهولي فطرانې راکولو بندوبست کړې دی آیا ما دپاره داخیزونه اخستل حلال دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حبیب الرحمٰن مانسهره..... ۱۵|۱۱|۱۹۷۹ء

الجواب: که ته مسکین ئی نو عشر او زکوٰة دصلې په طور سره اخستلې شی.

قال الله تعالیٰ: هل جزاء الاحسان الا الاحسان (الآیة)﴿۱﴾

او داجرت او معاوضی په طور ئی نشې اخستلې.

لفوات الشرط وهو کونها لله تعالیٰ ﴿۲﴾ والمعتبر نیة الدافع دون الآخذ کما صرح به فی التکملة ۱:۳۵۹ ﴿۳﴾. وهوالموفق

فقیر امام مسجد ته زکوٰة بطور ترحم او صله جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه کوم سړې امام وی او فقیر هم وی هغه ته دزکوٰة پیسې ورکول څنګه دی؟ او که هغه سړې امامت نه کوی نو بیا خلق هغه ته څۀ نه ورکوی نو آیا په دې صورت کښې داقضیه نه ثابتیږی چه (المعروف بالعرف کالمشروط بالشرط الخ)؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ګل منان امدادالعلوم درویش مسجد پشاور ۱۹۸۵ء|۱۰|۳۰

﴿۱﴾ (سورة الرحمن پاره: ۲۷ رکوع: ۱۳ آیت: ۶۰)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: هی تملیک جزء مال عینه الشارع من مسلم فقیر غیر هاشمی ولا مولاه مع قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ قال ابن عابدین: متعلق بتملیک ای لاجل امتثال امره تعالیٰ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۳،۴ کتاب الزکاة)

﴿۳﴾ قال العلامة علاء الدین افندی: القول للدافع لانه اعلم بجهة الدفع.

(تکملة ردالمحتار ۱:۳۹۱ مطلب واقعة الفتویٰ)...... وفی ردالمحتار: وفی التعبیر ثم اشارة الی انه لو امره اولا لا یجزی لانه یکون وکیلا عنه فی ذلک وفیه نظر لان المعتبر نیة الدافع الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹ باب المصرف)...... وقال ابن البزاز الکردری: والعبرة لنیة الدافع لا لعلم المدفوع الیه. (فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ۴:۸۶ باب المصرف)

الجواب: دجمات امام چه کله فقیر وی هغه ته زکوة ورکول جائزدی (۱) خود أجرت او معاوضې په صورت کښې جائز نه دی.

وهذا نادرجداً. والمتعارف هو الاعطاء له على وجه الترحم او الصلة ولذا ينوى المعطون الثواب والتقرب الى الله والاجير لا يكون كذلك وبالجملة ان منع الاعطاء مطلقا خراب نظام اكثر المساجد. وهوالموفق

د جماتونو امامانو ته زکوة او صدقات ورکول

سوال:علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه زمونږ په ملك کښې د پخوا زمانې نه دا رواج راروان دې چه دجماتونو امامانو ته زکوة، عشر، فطرانه او صدقات امامت یا بغیر اجرت نه تصور کړی دخلقو دینی احکام مثلاً جماعت کول جنازې کول،درس وتدریس کول وغیره کارونه سرته رسوی اوسه پورې هیڅ مسئله نه وه لیکن اوس اعتراض شوی دی که واجب صدقات د امامت داجرت دپاره ورکړی نو دامام مسجد دپاره صحیح نه دی اود اداکونکو ذمه هم فارغه نه ده اوبعضې علماؤ فتوی ورکړې ده چه کله د جماتونو امامان دبیت المال دوظیفونه هم محروم دی اوپخپله په دینی کارونو کښې مشغوله دی نو ددوی دپاره واجب صدقات اخستل حلال او طیب دی برابره خبره ده په اجرت ئې ګنړی اوکه غیر اجرت په بانډو کښې خونه دتللو راتللو ذرائع وی اونه تجارتی کارو بار نشته تهول دار ومدار په غله

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: وفى المعراج التصدق على العالم الفقير افضل قال ابن عابدين: قوله افضل اى من الجاهل الفقير. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۷۵ باب المصرف)

﴿۲﴾ وفى الهندية: ولو نوى الزكاة بما يدفع المعلم الى الخليفة ولم يستأجره وان كان الخليفة بحال لو لم يدفعه يعلم الصبيان ايضا اجزأه والا فلا.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۱:۱۹۰ الباب السابع فى المصارف)

باندې دی کلې والا امام ته دیوې روپۍ ورکولو نه هم عاجزدی او بعضې علماء داټول هر څۀ حرام ګرځوی دقران اوسنت نه چه کومه خبره هم صحیح وی او لیکئ او موږ ته ارسال کړئ چه دحق اظهار اوشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی فضل الرحمٰن امام مسجد غل ایبټ آباد هزاره ۱۹۶۹ء|۲|۲

الجواب: کوم د جماتونو امامان چه مالداران وی نو هغوی دپاره دصدقات واجبه اخستل او ورکول حرام دی او کوم چه مالداران نه وی هغوی ته که دا واجب صدقات دامامت په عوض کښې ورکړې شی نو دورکونکو ذمه فارغه نه شوه او که دامامت په خاطر اوصله کښې ئی ورکوی نو بغیرشك اوشبهې نه جائزدی قال الله تعالیٰ: انما الصدقات للفقراء (الآیة)﴿۱﴾ وقال رسول الله ﷺ تؤخذ من اغنیائهم فترد علی فقراءهم ﴿۲﴾ وفی الهندیة ۱: ۱۸۱ اما تفسیرها فهی تملیک المال من فقیر مسلم غیر هاشمی ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ ﴿۳﴾ وعن انس رضی الله عنه ان رجلاً من کلاب سأل النبی ﷺ عن عسب الفحل فنهاه فقال یا رسول الله انا نطرق الفحل فنکرم فرخص له فی الکرامة﴿۴﴾. وهوالموفق

د زکوة او عشر مصارف فقراء او مساکین دی هغه که ائمة المساجد وی او که علماء وی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه دپاکستان په باندو کښې عشر او زکوة دجماتونو امامانوته ورکولې شی ددینه علاوه داعام طور سره علمائی کراموته ورکولې شی دهغوی دقول مطابق چه داد دین اسلام دخدمت کونکو حق دی آیا داحکم لګول صحیح دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ممتازحسین شاه ایبټ آباد مانسهره.... ۱۹۶۹ء | ۹| ۳۰

الجواب: دعشر اوزکوة مصارف فقیران اومسکینان وغیره دی هغه که دجماتونو

﴿۱﴾ (سورة التوبة پاره: ۱۰ رکوع: ۱۴ آیت: ۶۰)
﴿۲﴾ متفق علیه. (مشکواة المصابیح ۱: ۱۵۵ الفصل الاول کتاب الزکاة)
﴿۳﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۷۰ الباب الاول کتاب الزکاة)
﴿۴﴾ (جامع الترمذی ۱: ۱۵۳ باب ماجاء فی کراهیة عسب الفحل)

امامان وی او که نور علماء وی یا بل څوك وی بې شکه فقهائی کرامو دا لیکلې دی بال بچه دار علماء چه کله صاحب نصاب نه ویّ نو خدمت دین ته دفارغ کیدلو په ارادې سره هغوی ته ورکول موجب د ډیر اجردې ﴿۱﴾

د روافضو په علاقه کښې داهل سنت داقلیت په بنیاد باندې زکوة او عشر سره ددینی مدرسې قیام

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ څائی کښې یوه داسې علاقه ده چه هلته روافض اسماعلیان او اثنا عشریه په مقابله کښې اهل سنت والجماعت پنځه فی صده دی او هغه هم ددینی شعور د معدومیت او ددینی علومونه دناواقفیت په وجې سره اودهغوې سره میل جول ساتلو او ژوند تیرولو په وجې سره دهغوې دینی حالت انتهائی کمزورې او مرشوی دی اوپه ټولو سرکاری او تعلیمی ادارو کښې د روافضو استاذانو عملاً قبضه ده چرته چه ددینی تعلیم هیڅ انتظام نشته اونه په دغه سکولونو کښې داهل سنت علماؤ ددینیات معلم په حیثیت سره مقررتیا کیدلې شی اوپه داسې علاقه کښې څهٔ علم والا ملګری د تنظیم اهل سنت بنیاد کیږدی او ټول مسلمانان په یو پلیټ فارم جمع کړی اوپه هر کلې کښې باقاعده امیر مقرر کړی اود ټولې علاقې دپاره یو مرکزی امیرمقرر کړې شی اودټولو جهګړو وغیره فیصلې ددغې تنظیم لاندې کیږی په دې حیثیت سره که دا تنظیم دعلم دین اشاعت اود قوم ماشومان دالله تعالی احکاماتو نه خبرول اود رافضیت او شیعه توب دحفاظت کولو دپاره دیوې دینې مدرسې بنیاد کینودلو کوشش اوکړې او دهغې دپاره دعشر غلې جمع کولو انتظام اوکړی په دې طریقې سره چه په هر کلی کښې تنظیم دخپل طرفنه دوه دری کسان عاملان مقرر کړی او هغه عشر او زکوة جمع کړی او دمدرسی بیت المال ته ئی راوړی نو دا طریقه شرعاً جائز ده یانه؟ اودا جمع

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفی: وفی المعراج التصدق علی العالم الفقیر افضل، قال ابن عابدین: (قوله افضل) ای من الجاهل الفقیر.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۵ باب المصرف)

شوی غله یا دهغې قیمت په مدرسه کښې کومو کومو مصارفو باندې خرچ کیدیشی او په دې سره مدرسې دپاره کتابونه اخستل او په تعمیر کښې لګول جائز دی یا نه؟ او دغه شان د اسلامی حکومت نه کیدلو په وجې سره په یوه علاقه کښې چه مسلمانان منظم شی بیت المال جوړ کړی نو د زکوٰة او عشر د جمع کولو او تقسیم کولو اختیار لرلې شی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: سید عبدالجلیل پهکوره ګلګت بلتستان

الجواب: واضحه دی وی چه عشر او زکوٰة که هغې لره مالکان پخپله ادا کوی یا په وساطت دیو مسلمان حاکم، دهغوی مصارف هغه دی کوم چه په قران مجید کښې منصوص دی.(انما الصدقات للفقراء...الآیة،(۱)) او په دی ټولو کښې تملیك حقیقی شرط دی. کما صرح به صاحب البدائع ۲: ۳۹ (۲) وسائر الفقهاء فلیراجع، دغه شان دا خبره هم ده چه عامل هر زکوٰة وصول کونکی ته نشی وئیلې بلکه عامل هغه محصل زکوٰة ته وئیلې شی چه هغه باقاعده حکومت مقرر کړی وی. کما فی الهندیة ۱: ۱۹۹ (۳) وهکذا فی غیر واحد من الکتب، پس ددې تفصیل په بناء تاسو د زکوٰة او عشر په مدّ سره تعمیر نشئ کولې او نه پرې کتابونه اخستلې شئ او نه ددې مدّ نه تنخواه ورکولې شئ او نه ستاسو سفیر عامل شرعی کیدلې شی. (٤)

نعم جاز اعطاء الرزق للمدرس الفقیر قدر مایکفی له ولعیاله اکلاً وشربا ولبساً من غیر تعین الاجرة وجاز ان یعطی ذلک العشر والزکاة للطلبة المساکین اللین وضع علیهم الاجرة

---

(۱) (سورة التوبة پاره: ۱۰ رکوع: ۱۴ آیت: ۶۰)

(۲) قال العلامة الکاسانی: وتسلیم ذلک الیه یقطع المالک یده عنه بتملیکه من الفقیر وتسلیمه الیه. (بدائع الصنائع ۲: ۱۴۲ فصل واما رکن الزکاة کتاب الزکاة)

(۳) وفی الهندیة: ومنها العامل وهو من نصبه الامام لا ستیفاء الصدقات والعشور کذا فی الکافی. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)

(۴) قال العلامة الحصکفی: یصرف المزکی الی کلهم او الی بعضهم تملیکا لا اباحة لا یصرف الی بناء نحو مسجد وفی هامشه کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات ...... وکل مالا تملیک فیه. (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

المخصوصة للمعلم ثم يعطونها على وجه الاجرة وايضا جازت الحيلة عند الضرورة الشرعية ولا بد من التمليک جداً دون الهزل مثلا اذا اعطى القيم الى الطالب المسكين مأة على وجه القرض اى من ملک القيم فيعطيها الطالب الى القيم على وجه العطية يشترى بها الكتب ثم يعطيه القيم مأة من الزكاة والعشر فيعطيه الطالب الى القيم لاداء القرض فافهم ولا تعجل فى العمل ﴿۱﴾. وهو الموفق

دینی مدرسو ته د زکوٰة وغیره ورکولو حکم

سوال: علمائی دین دی مسئلې باره څۀ فرمائی چه ددینی مدارسو دضروریاتو پوره کولو دپاره دعوام الناس نه زکوة، نذر، فطرانه او دقربانئ څرمنی وصول کولې شی بیا دا پیسی طالبانو یا استاذانو ته تملیکاً ورکړی په دویم ځل ئی خپلې مرضئ سره مهتمم یا ناظم ته داداری چلولو دپاره ورکوی روستو دغه رقومات دمدرسینو په تنخواګانو تعمیر او کتابونو وغیره کښې خرچ کولې شی آیا دا طریقه جائز ده؟ اوآیا په دې طریقې سره ددی خلقو زکوة ادا کیدلې شی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی الله داد...... ۱۹۷۸ء|۹|۱

الجواب: که دمالکانو غریب طالبانو ته ذاتی طور سره ملکیت باندې ورکول مسلم او محقق وی نو په دغه طریقی سره به دمالکانو ذمی دزکوة وغیره نه فارغه شی.﴿۲﴾ لیکن په عرف باندې نظر کولو سره معلومیږی چه طلب او ادا کول دواړه دمدرسی په نوم باندې کیږی وهو الموفق

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفى: ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره بفعل هذه الاشياء وهل له ان يخالف امره لم اره والظاهر نعم، قال ابن عابدين: قوله ثم يامره ويكون له ثواب الزكاة وللفقير ثواب هذه القرب. (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲ ۹۰ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ويشترط ان يكون الصرف تمليكا لا اباحة.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۸ باب المصرف)

که یو فقیر مسکین ته د زکوٰة مال ملاؤشو نو استاذانو ته ئی په اجرت کښی ورکولې شی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چۀ یو فقیر مسکین ته دزکوة مال ملاؤ شو هغه دمدرسې دمعلمینو دتنخواګانو چنده ددغې مال د زکوة نه ورکړه آیا دا جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدعتیق الرحمٰن سیالکوټ... ۱۲ ربیع الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: که دافقیر او مسکین دزړه په خوشحالئ سره داټول یا بعضې مال د زکوٰة لره دمعلمینو په اجرت کښې ورکړی نو دیکښې هیڅ حرج نشته.

وهذا هو المراد من التمليک حقيقةً عند الحيلة لتبدل الملک ﴿۱﴾ يدل عليه حديث بريرة رضى الله عنها هو لها صدقة ولنا هدية﴿۲﴾ وكذا وقعت الاشارة اليه فى حديث رواه مالک وابوداؤد، لا تحل الصدقة لغنى الا لخمسة لغاز فى سبيل الله او العامل عليها او الغارم او لرجل اشتراها بما له او لرجل كان له جار مسكين فتصدق على المسكين فاهدى المسكين للغنى ﴿۳﴾. وهو الموفق

تملیک بالذات یا دمهتمم په واسطې سره مدرسو ته زکوة ورکول جائز دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه مدرسو ته عشر او زکوة

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: ويجب الاحتراز من ان يلاحظ الوصى عند دفع الصرة للفقير الهزل اوالحيلة بل يجب ان يدفعها عاز ما على تمليكها منه حقيقة لا تحيلا ملاحظا ان الفقير اذا ابى عن هبتها الى الوصى كان له ذلک ولا يجبر على الهبة.

(رسائل ابن عابدين ۱: ۲۲۵ منة الجليل لبيان اسقاط ما على الذمة الخ)

﴿۲﴾ (سنن ابى داؤد ۱: ۲۲۱ باب الفقير يهدى للغنى من الصدقة كتاب الزكوٰة)

﴿۳﴾ رواه ابوداؤد ۱: ۲۳۸ باب من يجوز له اخذ الصدقة وهو غنى، واحمد ۳: ۵۶ وابن ماجة ۱۸۳۹ والحاكم ۱: ۴۰۷، ۴۰۸ وقال هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه لارسال مالک بن انس اياه عن زيد بن اسلم.

ورکول جائز دی یانه؟ که جائز وی نو طریقه ئی څۀ ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالله مقام نادان شهید پشاور ۱۹۷۴ء | ۷ | ۷

الجواب: دینی مدرسو ته عشر او زکوة په دې طریقې جائز دی چه بالذات یا بواسطه مهتمم دې رقم بعینه یا داجناسو په صورت کښې تملیك اوکړې شی﴿۱﴾ مختصر داچه په مهتمم باندې دی اعتماد اوکړی شی وردې کړې وهوالموفق

د حکومتی زکوة کمیټئ نه دینی مدرسو دپاره دزکوة اخستلو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څۀ فرمائی چه دحکومتی زکوة کمیټئ دطرفنه چه کوم امداد دینی مدرسو ته ورکولې کیږی دا امداد اخستل صحیح دی یانه؟ یعنی یونیم سل روپئ او سیدونکی (مقیم) طالب علم ته ورکولې شی او پنځه اویا روپئ غیر رهائشی طالبانو ته ورکولې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری محمد عمر مدرسه تعلیم القرآن بیرون گنج گیټ پشاور

الجواب: طالب علم دپاره دا امداد اخستل جائز دی البته مهتمم دپاره اخستلو نه پس مصرف ته نه رسول جائز نه دی ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن نجیم: (قوله هی تملیک المال من فقیر مسلم..... بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ) لقوله تعالیٰ واتوا الزکاة والایتاء هو التملیک ومراده تملیک بجزء من ماله وهو ربع العشر او ما یقوم مقامه..... لان الزکاة یجب فیها تملیک المال.

(بحر الرائق ۲: ۲۰۱ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: والواجب علی الائمة ان یوصلوا الحقوق الی اربابها ولا یحبسونها عنهم ولا یحل للامام واعوانه من هذه الاموال الا ما یکفیهم وعائلتهم ولا یجعلونها کنوزا..... فان قصر الائمة فی ذلک فوباله علیهم.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۹۱ فصل ما یوضع فی بیت المال اربعة انواع)

د مدرسې د پاره د زکوٰة په مد کښې د باقاعده حیلې صورت

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دمدرسې په فنډ کښې زکوة، فطرانه اودقربانی دڅرمنو وغیره رقم وی په تنخواګانو کښې ددې زکوة رقم ادا کول شرعاً صحیح نه دی لیکن د نورو مدّاتو نه داخرچ نه پوره کیږی نو ددې دپاره څه طریقه اختیار کړیشی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی عبدالرشید مسجدبازارایبټ آباد.... ۱۹۹۰ء|۱۰|۲۳

الجواب: دعندالضرورت باقاعده حیله کول جائزدی یعنی اول دی چرته عاقل، بالغ اودعلم دین خیرخوا مسکین پوهه کړی شی چه زمونږ دطرفنه چه کوم دزکوة رقم تاته در کړیشی نو ته به دهغې بلاخوف وخطرمالك ئی ته به په خپل ذات خرچ کولو او مدرسې ته واپس کولو کښې مجاز ئې که ته دا رقم مدرسی ته واپس کړی نو داټول ثواب به ستاوی (۱) ددینه پس به هغه ته لږ رقم ورکړې شی او د واپسئ په صورت کښې به بیا لږلږ رقم ورکړې شی.وهوالموفق

په حیله زکوة کښې تملیك حقیقی ضروری دی توقو سره نه کیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه بعضې علمائی داخبره کوی چه په زکوة کښې دمعلیمنو او استاذانو دپاره باقاعده حیله جائزده او بعضې خلق دانه منی نو شرعاً دا جائز ده یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمدعتیق الرحمن کچهری روډ سیالکوټ. ۱۹۶۹ء|۵|۲۰

---

(۱) قال العلامة الحصكفی الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره لم ـ ٥. قال ابن عابدین: (قوله ثم یامره) ویکون له ثواب الزكاة وللفقیر ثواب هذه القرب.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۹ باب المصرف)

الجواب: چه کله دا حیله باقاعده وی یعنی دتملیك حقیقی په طریقې سره یو متوسط سړی ته ورکړې شوی وی او دتوقو په طریقې سره نه وی نوبې د شك شبهې نه جائز ده

صرح به الفقهاء مثل العلامة الشامی فی ردالمحتار ٢: ٨٦ ﴿١﴾ وصاحب البحر فی ٢: ٢٤٣ ﴿٢﴾ وذكرت فی الهندیه ٦: ٣٩٢ ﴿٣﴾ وغیرهم واما عدم صحة الهزل فصرح به العلامة التهانوی فی امداد الفتاویٰ ﴿٤﴾ والعلامة الشامی فی رسائل ابن عابدین فی مسئلة حیلة الاسقاط ﴿٥﴾. وهو الموفق

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفی: الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یامره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره لم اره والظاهر نعم، قال ابن عابدین: (قوله ثم یأمره) ویكون له ثواب الزكاة وللفقیر ثواب هذه القرب. (الدرالمختار علی هامش ردالمتار ٢: ٦٩ باب المصرف)

﴿٢﴾ قال العلامة ابن نجیم: ان یتصدق بمقدار زكاته علی فقیر ثم یأمره بعد ذلک بالصرف الی هذه الوجوه فیكون لصاحب المال ثواب الزكاة وللفقیر ثواب هذه القرب. (البحر الرائق ٢: ٢٤٣ باب المصرف)

﴿٣﴾ وفی الهندیة: والحیلة له ان یتصدق بمقدار زكاته علی فقیر ثم یأمره بعد ذلک بالصرف الی هذه الوجوه فیكون للمتصدق ثواب الصدقه ولذلک الفقیر ثواب بناء المسجد والقنطرة. (فتاویٰ عالمگیریه ٦: ٣٩٢ كتاب الحیل الفصل الثالث)

﴿٤﴾ قال الشاه اشرف علی التهانوی: دتقوی نه قطع نظر زما په نزد دقاعده فقهیه په رڼا كښې هم دا زكوة نه ادا كیږی ځكه چه تملیك دزكوة ركن دی او په تملیك كښې چه كله عاقدین توقو والاوی نو تملیك نه كیږی او په دې متعارف صورت كښې دواړه په مضبوطو قرینو سره ددی معترف دی چه تملیك مقصود نه دی

(امداد الفتاویٰ ٢: ١٣ كتاب الزكاة والصدقات مسئله: ٢٧)

﴿٥﴾ قال العلامة ابن عابدین: ویجب الاحتراز من ان یلاحظ الوصی عند دفع الصرة للفقیر الهزل او الحیلة بل یجب ان یدفعها عازما علی تملیكها منه حقیقة لا تحیلا.

(رسائل ابن عابدین ١: ٢٢٥ منة الجلیل لبیان اسقاط ما علی الذمة من كثیر وقلیل)

د حکومت نه مدرسو د پاره په حیله رقم اخستل جائز دی

سوال: د حکومت پاکستان زکوٰة کمیټۍ چه اسلامی مدرسو ته کوم رقم لیږی هغه د اوسیدونکو طالبانو د پاره وی او د خرچ شپږ میاشتۍ ګوشوار (ریکارډ) هم غواړی په بعضې مدرسو کښې بهرنی طالبان نه او سیږی مقامی طالبان په ډیر تعداد کښی راځی او سبق وائی بیا کور ته ځی د مدرسې خرچونه ډیر وی تنخواګانې، تعمیرات وغیره پس که زکوٰة کمیټۍ ته رشتیا خبره اولیکلې شی نو هغوئ پیسی نه رالیږی او که نه د اوسیدونکو طالبانو لسټ جوړ کړی شی او اوسیدونکی ئی فرض کړی نو دا دروغ دی او د مدرسی د امدنئی بله ذریعه نشته چه په هغې سره خرچې پوره شی او که د محمود مقصود د پاره دروغو سهاره واخستلې شی نو شائد چه په دې باندې نیول نه وی لکه چه په روح البیان کښې سورة الصافات د آیت: فنظر نظرة فی النجوم فقال انی سقیم، د لاندې د عزالدین بن سلام قول منقول دی:

قال عز الدین بن سلام الکلام وسیلة الی المقاصد فکل مقصود محمود یمکن التوصل الیه بالصدق والکذب جمیعا فالکذب فیه حرام فان امکن التوصل الیه بالکذب دون الصدق فالکذب فیه مباح ان کان تحصیل ذلک المقصود مباحاً وواجب ان کان ذلک المقصود واجباً فهذاه ضابطة انتهیٰ.

ستاسو صاحبانو دې باره کښې څه رائی ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالجلیل هنډوه ضلع کرك.... ۱۹۷۰ء | ۷ | ۲۸

الجواب: په حکومت باندې د دنیوی او دین دواړو علومو انتظام واجب دی نو څنګه چه حکومت د دنیاوی علومو د پاره د تعمیر او متعلقه استاذانو ته د تنخواګانو انتظام خپل منصبی فرض ګڼړی نو هم دغسې د دینی علومو د پاره هم د تعمیر او مشاهراتو انتظام د ده منصبی فرض دی نو که د دې حقوقو د حصول د پاره څۀ حیله او کړیشی نو ناجائز به نه وی وهو الموفق

په زکوة کښې د باقاعده حیلې نه بغیر د ذمې فراغت نه کیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه یو سړی ته چا لس زره (۱۰۰۰۰) روپئ ورکړی چه دا په غریبانانو تقسیم کړه او هغه پخپله غنی دی لیکن فقیر ته وائی تاته به پنځوس روپئ دزکوة درکړم ته ئی قبولې کړه او ماته ئی واپس کړه آیا دا حیله صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد نګین مدرسه نصیریه غورغشتی
۲۷ا جمادی الاولی ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا حیله باقاعده حیله نه ده لهذا په دې سره دذمې نه فراغت نه حاصلیږی. **یجب ان یدفعها الی الفقیر عازما علی تملیکها منه حقیقة لا تحیلا کما فی رسائل ابن عابدین﴿۱﴾. وهوالموفق**

د مدرسی په مطبخ کښې د زکوٰة خرچ کولو او تنخواه کښې د زکوٰة د پاره عجیبه حیله

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه یو حاجی صاحب مدرسه جوړه کړه او په طالبانو کښې ئی یو وکیل جوړ کړو اوچه کله وړه وغیره راځی نو وکیل ته دقبض کولو دپاره وئیلې شی.اوکله کله ئې دحاجی نوکر راوړی اومطبخ کښې ئې غورزوی په هغې کښې صرف اخذ تعاطی کیږی او باقاعده ایجاب او قبول نه وی او کله نقدر قم څما لاسونو ته رسوی زه وکیل راوغواړم نو هغه وکیل ئی واخلی اوس په دې کښې دحاجی صاحب دطرفه حالاً او قالاً تقاضی ده چه دا رقم او وړه د میاشتی پوره کیدلو پوری خلاص نه شی که دمیاشت نه مخکښې ختم شی نو شکایت کوی نوحاجی صاحب دا رویه د عدم تملیك حقیقی نخښه ده آیا په دې طریقې سره ذمه فارغه کرځی؟ (۲) زه په دی مدرسه کښې مدرس یم دتنخواه دپاره ئې داحیله جوړه کړه چه زه به تنخواه او وظیفه نه اخلم بس فی سبیل الله به درس کوم په دی نفی سره چونکه اجاره

﴿۱﴾ (رسائل ابن عابدین ۱: ۲۲۵ منة الجلیل لبیان اسقاط ما علی الذمة من کثیر وقلیل)

منتفی شوه نو آیا په دی صورت کښې دحاجی صاحب دزکوة ذمه فارغیږی؟ بینوا توجروا المستفتی: مولوی عبیدالله.... ۱۹۷۵ء|۷|۲۶

الجواب: واضحه دی وی چه کوم طالبان دزکوة مصرف دی نو هغه یو کس وکیل مقرر کولې شی او ته دحاجی صاحب دطرفنه وکیل شوی تملیك کوه په دی طریقې سره دزکوة دضائع کیدلو هیڅ خطره نشته او دحاجی صاحب شکایت به انتظام باندې محمول کولې شی په عدم دتملیك باندې نهٔ. او ستاسو دتصریح باوجود به ستاسو معامله د اجارې وی.

لان الدلالة لا تعارض بالعبارة والاشارة، والمعروف من قبيل الدلالة صرح به فی كتب الاصول. وهوالموفق

د بیت المال او د زکوة د حیلې حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلو باره څه فرمائی (۱) زمونږ په کلی کښې دبیت المال په نوم سره زکوة صدقه فطر او عشر وغیره په دې غرض سره جمع کولې شی چه په دې رقم سره دامام مسجد د تنخواه کمې پوره کړیشی ددې بیت المال شرعی حکم څهٔ دی؟ (۲) که څوك اعتراض او کړی چه حقدارانو ته دهغوی حق ددینه په وخت باندې ملاویدل ګران دی اودغه شان امام ته تنخواه ورکول ددې مال نه جائز نه دی نوآیا دحیلې نه پس به هم داحکم وی؟ (۳) که دحیلې په وخت کښې بیا بیا یو سړی ته دا رقم ورکړی شی نو آیا هم په یو سړی باندی دا حیله کول جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد تاج بازارګې اوګی مانسهره

الجواب: (۱) دا بیت المال بذات خودنه مطلوب شرعی دی اونه ممنوع شرعی دی لیکن عوام نه دزکوة مصارف پیژنی او نهٔ ئې دخرچ کولو په طریقه پوهیږی لهٰذا دا بیت المال به خطراتو نه خالی نه وی (۲) اګر چه حیله عند الضرورت

(۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي: العاملون وهم السعاة لجباية الصدقة ويشترط فيهم العدالة والمعرفة بفقه الزكوة. (الفقه الاسلامي وادلته ۳:۱۹۵۳ مبحث مصارف الزكاة)

جائز ده ليکن حيله کول د هر سړي کار نه دی په حيله کښې دا ضروري دی چه متوسط سړی حقيقي مالك جوړ کړی ثوقی او تش دژبې تمليك کافي نه دی دباقاعده حيله کولو نه پس هم يو سړی ته رقم ورکول او حيله بيابيا په يو سړی سره کول جائز دی البته دی حقيقي تمليك نه بغير دا حيله حيله نه ده بلکه دهوکه ورکول دی ﴿۱﴾ وهوالموفق

د مالدار عالم او متعلم دپاره دزکوة اخستلو حکم

سوال: علمائی دې دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په دينی مدرسو کښې بعضې طالبان صاحب نصاب او مالداران وی او خلق ورته دزکوة رقم هم ورکوی اووائی چه عالم او متعلم که مالدار وی او که فقير وی دهغوی دپاره زکوة اخستل جائز دی ددې متعلق وضاحت او کړی چه آيا دا مسئله صحيح ده؟ بينوا توجروا

المستفتی: محمد شريف اشرف خيل وانا ډی آئی خان...۱۹۸۸ء| ۶| ۷

الجواب: بعضې فقهاء فرمائی چه کوم عالم او متعلم خپل عمر دتعليم او تعلم دپاره وقف کړی نو دحاجتونو د زياتوالی په وجه دزکوة مصرف دی ليکن فقهاؤ په دی باندې اعتماد نه دی ظاهر کړی.

فليراجع الی ردالمحتار ۲: ۸۱ باب المصرف ﴿۲﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ قال العلامة ابن عابدين: ويجب الاحتراز من ان يلاحظ الوصی عند دفع الصرة للفقير الهزل او الحيلة بل يجب ان يدفعها عازما علی تمليكها منه حقيقة لا تحيلا ملاحظا ان الفقير اذا ابی عن هبتها الی الوصی كان له ذلک ولايجبر علی الهبة.

(رسائل ابن عابدين ۱: ۲۲۵ منة الجليل لبيان اسقاط ماعلی الذمة من كثير وقليل)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفی: ان طالب العلم يجوز له اخذ الزكاة ولو غنيا اذا فرغ نفسه لافادة العلم واستفادته لعجزه عن الكسب والحاجة داعية الی مالابد منه، قال ابن عابدين: وهذا الفرع مخالف لاطلاقهم الحرمة فی الغنی ولم يعتمده احد.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۶۵ باب المصرف)

د مدرسو استاذان وغیره په (وَالعاملین علیها) کښې داخل نه دی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه دزکوة مصرفونه الله تعالی اته (۸) ښودلې دی آیا دمدرسو استاذان په (والعاملین علیها) کښې داخل دی؟ یو عالم دین فرمائیلې دی چه دعربئ دطالبانو استاذان په دیکښې داخل دی اوهغوی ته دزکوة دمد نه تنخواګانې ورکولې شی اوس زما دپاره داشکال باعث شو چه مولانا مفتی کفایت الله مرحوم دهلوی په تعلیم الاسلام جلد څلورم کښې فرمائی: څومره زکوة واجب چه......دیو خدمت یایو کار په اجرت کښې زکوة ورکول جائز نه دی لیکن دزکوة عامل ته دهغوی تنخواه دمال زکوة نه ورکول جائز دی او طالب علمانو ته د زکوة مال ورکول جائزدی او مهتممینو ته په دې وجه چه هغوی ئی په طالبانو خرچه کړی نو جائز دی څهٔ خبره پکښې نشته. اوس سوال دادی که مهتمم ئی په طالبانو خرچ کړی نو جائز دی لیکن که په استاذانو ئی خرچ کړی چه ددغې طالبانو استاذان دی نوجائز به وی یانه؟ زمونږ په جمات کښې یو قاری دپاره چنده ناکافی کیږی نو بیا دزکوة دمد نه تنخواه پوره کولې شی بعضې کسانو اووئیل چه زکوة په تنخواه کښې ورکول جائز نه دی بهر حال مونږ ته تفصیلې مسئله او لیکئ مهربانی به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی:محمدابوالخیرامام مسجدمدنی نظام آبادګوجرانواله ۱۹۶۹ء| ۴|۲۸

الجواب: (الف) علمائی کرام په (والعاملین علیها) کښې داخل نه دی په دیکښې صرف عامل اودهغوی تعاون کونکی داخل دی صرح بــه فی الهدایــة (۱) او علماء نه کوشش کونکی دی اونه عاشر دی اونه حاشراونه کاتبان دی لهذا هغوی ته دعمل په حیثیت سره ورکول قابل اعتماد نه دی (ب) په اجرت کښې

(۱) قال العلامة برهان الدین: والعامل یدفع الامام الیه ان عمل بقدر عمله فیعطیه ما یسعه واعوانه غیر مقدر بالثمن.

(هدایة ۱:۱۸۷ باب من یجوز دفع الصدقات الیه ومن لایجوز کتاب الزکوٰة)

زکوٰة ورکولو سره ذمه نه فارغیږی ځکه چه دیکښې لِلّٰهیت نشته ﴿۱﴾
(ج) پس استاذانو ته په اجرت اوتنخواه کښې د زکوٰة مال ورکول غیرصحیح او ناکافی دی.﴿۲﴾ (د) دضروت په وخت کښې حیلې کولو سره اجرت او تنخواه کښې زکوٰة ورکولو سره محتاط علماؤ جائز کړی دی خو چه باقاعده وی که دزکوة نه علاوه چنده نه کافی کیږی نو حیله دی اوکړی شی ﴿۳﴾ وهوالموفق

د زکوٰة رقم د مدرسی په استاذانو او طالبانو خرچ کول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه دمدرسې بنیاد کیښودلې شو اوس حاصل شوی دزکوة رقم په استاذانو او طالبانو باندې خرچ کول څنګه دی؟ اوپه مدرسه کښې فقیر اوامیر طالب علمانوباندې د زکوٰة رقم څنګه خرچ کړې شی؟دغه شان مثلاً داستاذ تنخواه دفنډ نه ورکولې شی نو آیا دا استاذ دطالبانو سره زکوة فنډنه خوراك کولې شی؟ بینوا توجروا
المستفتی: مولانا عجب نور وانا کیمپ وزیرستان.... ۱۹۸۵ء|۷|۱۰

﴿۱﴾قال العلامة ابن نجیم: (قوله : بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ) بیان لشرط آخر وهو النیة وهی شرط بالاجماع فی العبادات کلها المقاصد.
(بحرالرائق ۲ : ۲۰۲ کتاب الزکاة)

﴿۲﴾قال العلامة سید احمد الطحطاوی: (قوله لشخص مخصوص) هو ان یکون فقیراً ونحوه من بقیة المصارف غیر هاشمی ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ. (الطحطاوی علی مراقی الفلاح ۴۱۷ کتاب الزکاة)

﴿۳﴾قال العلامة الحصکفی: الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم یأمره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره لم آره والظاهر نعم،قال ابن عابدین: (قوله ثم یأمره) ویکون له ثواب الزکاة وللفقیر ثواب هذه القرب.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۶۹ باب المصرف)

الجواب: دزکوة دفنډ نه بغير دباقاعده حيلې نه داحاجات پوره کول مشکل دی ﴿۱﴾ دباقاعده حيلې نه دا مراد دی چه يو فقير طالب علم داول نه ښه پوهه کړی چه زه تاته پنځه سوه روپۍ زکوة درکوم اوته به ئی مالك شی او مختار به ئی ځان له ئی اخلې او که دارالعلوم ته ئی واپس کوی او دا ورکونکې دی دا اراده او کړی که دا طالب علم دغه پيسې واخلی نو زه به څۀ اثر نه اخلم البته بل قسط به ورته نه ورکوم ﴿۲﴾ وهوالموفق

صاحب نصاب طالب علم کله دزکوة مصرف جوړيدلې شی

سوال: علمائی دين دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه يو طالب علم صاحب نصاب دی ليکن دهغه ضروريات هم ډير دی هغه دخپلو خرچو دپاره دا نصاب محفوظ ساتلې دی کنې نو هغه ته خو دکتابونو اخستلو ضرورت دی آيا دا سړی دزکوة مال اخستلې شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: رياض احمد وزيرستانی..... ۱۹۹۰ء|۵|۹

﴿۱﴾ وفى الهنديه: مذهب علمائنا رحمهم الله تعالىٰ ان كل حيلة يحتال بها الرجل لا بطال حق الغير او لادخال شبهة فيه اولتمويه باطل فهى مكروهة و كل حيلة يحتال بها الرجل ليتخلص بها عن حرام اوليتوصل بها الى حلال فهى حسنة والاصل فى جواز هذا النوع من الحيل قول الله تعالىٰ وخذ بيدك ضغثا فاضرب به ولا تحنث، وهذا تعليم المخرج لايوب عليه وعلى نبينا الصلاة والسلام عن يمينه التى حلف ليضربن امرأته مائة عود وعامة المشائخ على ان حكمها ليس بمنسوخ وهو الصحيح من المذهب كذا فى الذخيرة.

(فتاوىٰ عالمگيريه ۶: ۳۹۰ كتاب الحيل الفصل الاول)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصكفى: ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يأمره بفعل هذه الاشياء وهل له ان يخالف امره لم اره ، قال ابن عابدين: (قوله ان الحيلة) اى فى الدفع الى هذه الاشياء مع صحة الزكاة (قوله ثم يأمره) ويكون له ثواب الزكاة وللفقير ثواب هذه القرب.

(الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲: ۶۹ باب المصرف)

الجواب: چه کله مالدار کس دطلب علم یا جهاد اراده او کړی نو دهغه ضروریات ډیریږی او ډیر کرته دا مالدار سړی هم دزکوة مصرف جوړیږی (اشار الیه الکاسانی) ﴿۱﴾ وهو الموفق

د طالب علم او احوج د پاره بل ښار ته زکوة لیږل

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه بل ښار کښې یو مستحق یا اداری ته زکوة لیږل جائز دی یانه؟ حالانکه حدیث کښې (الحق للقریب ثم للبعید)؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود قصه خوانی پشاور..... ۱۹۷۴ء | ۸ | ۲۷

الجواب: دطالب علم اوزیات حاجتمند دپاره بل ښارته دزکوة لیږل جائزدی ﴿۲﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الکاسانی: واما استثناء الغازی فمحمول علی حال حدوث الحاجة وسماه غنیا علی اعتبار ماکان قبل حدوث الحاجة، وهو ان یکون غنیا ثم تحدث له الحاجة بان کان له دار یسکنها ومتاع یمتهنه وثیاب یلبسها وله مع ذلک فضل مائتی درهم حتی لا تحل له الصدقة ثم یعزم علی الخروج فی سفر غزو فیحتاج الی آلات سفره وسلاح یستعمله فی غزوه ومرکب یغزو علیه وخادم یستعین بخدمته علی ما لم یکن محتاجا الیه فی حال اقامته فیجوز ان یعطی من الصدقات ما یستعین به فی حاجته التی تحدث له فی سفره.
(بدائع الصنائع ۲:۱۵۵ فصل المؤلفة قلوبهم کتاب الزکاة) قال الدکتور وهبة الزحیلی: الصنف السابع فی سبیل الله وهم الغزاة المجاهدون الذین لاحق لهم فی دیوان الجند لان السبیل عند الاطلاق هو الغزو...... فیدفع الیهم لا نجاز مهمتهم وعونهم ولو کانوا عند الجمهور اغنیاء لانه مصلحة عامة، واما من له شئ مقدر فی الدیوان فلا یعطی لان من له رزق راتب یکفیه فهو مستغن به. (الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۹۵۷ مبحث مصارف الزکاة)
﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: وکره نقلها الا الی قرابة بل فی الظهیریة لا تقبل صدقة الرجل وقرابته محاویج حتی یبدأ بهم فیسد حاجتهم او احوج او اصلح او اورع او انفع للمسلمین. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۵ باب المصرف)

او ,,الحق للقریب..الخ حدیث نه دی البته معنی ئی صحیح ده ﴿۱﴾ وهوالموفق

مالدار معلم او متعلم ته زکوٰة ورکول او د علامه شامی قول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو معلم مالداره دی نو دعلامه شامی د جزئې په حوالی سره چه که معلم او مدرس مالدار هم وی هغوی دپاره زکوة اخستل جائز دی یا هغه ته دکتابونو ضرورت وی نو خلق هغوی لره کتابونه هم دزکوة په نیت سره واخلې او ورکوی اوس دا مسئله صحیح ده یانه؟ او دده دپاره زکٰوة اخستل اوهغه ته ورکول صحیح دی یا نه؟بینوا توجروا

المستفتی: گل فراز...... یکم فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: مالدار معلم او متعلم ته زکوة ورکول صحیح نه دی.

کما صرحوا به واما مانسب الی الواقعات فروی الشامی عن الطحطاوی انه لم یعتمد علیه احد وما قیل انهم من العاملین فممنوع لان الامام لم ینصبهم﴿۲﴾ ولان المصرف هو العامل علیها لا مطلق العامل﴿۳﴾. وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: والافضل فی الزکاة والفطر والنذور الصرف اولا الی الاخوة والاخوات ثم الی اولادهم ثم الی الاعمام والعمات ثم الی اولادهم ثم الی الاخوال والخالات ثم الی اولادهم ثم الی ذوی الارحام ثم الی الجیران ثم الی اهل حرفته ثم الی اهل مصره او قریته، کذافی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۹۰ باب المصارف)

﴿۲﴾ قال الحصکفی: العاشر هو حر مسلم غیر هاشمی قادر علی الحمایة نصبه الامام علی الطریق. (الدرالمختار ۲:۴۲ باب العاشر)

﴿۳﴾ قال العلامة ابن عابدین: وهذا الفرع مخالف لا طلاقهم الحرمة فی الغنی ولم یعتمده احد، قلت وهو کذلک والاوجه تقییده بالفقیر...... ثم قال الاتفاق علی ان الاصناف کلهم سوی العامل یعطون بشرط الفقر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۵ باب المصرف)

د زکوٰة په رقم سره دطالبانو ضروریات پوره کول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه مونږ دحفظ او ناظرې یوه دینی مدرسه جوړه کړې ده دمدرسې په چنده کښې مو دوه فنډونه قائم کړی دی (۱) دعطیاتو (۲) د زکوة او عطیاتونه مونږ قاری ته تنخواه ورکوو اوصدقاتو واجباؤ زکوة نه دطالبانو اخراجات پوره کوو مثلاً جامې چپړې وغیره ځکه چه دبعضې طالبانو مور پلار ډیرغریبانان وی که مونږ غریب نانو طالبانو ته جامې وغیره دزکوة نه ورکوو نو آیا د مالدارانو بچو ته ورکولې شو چه یو شان شی یعنی مساوات قائم شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمداسلم پی او ایف واه کینټ...۱۷ ربیع الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: دعطیاتو مصرف وسیع دی البته نقد یا دکپړو په شکل کښې زکوة غریب طالب علم ته ورکولې شی (۱) چه مسکین او بالغ وی یا دمسکین ځوئ اونابالغه وی (۲) وهوالموفق

د کالج مسکین طالب علم دزکوة نه وظیفه اخستلې شی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه یو کالجی سټوډنټ (متعلم) یم دحکومت دطرفنه چه طالبانو ته کوم سکالر شپ مقرر شوی وی هغه دعشر او زکوة وغیره نه ورکولې شی زه صاحب نصاب نه یم صرف دیو کنال زمکې مالک یم زما دپاره ددې وظیفې اخستل څنګه وی؟ که زه دا وظیفه نه اخلم نو دفترکلرک وغیره ئې پخپله را اوباسی او ځان له ئې اخلې

(۱) قال العلامة ابن عابدین: قال فی التاترخانیة عن المحیط اذا کان یعول یتیما ویجعل مایکسوه ویطعمه من زکاة ماله ففی الکسوة لاشک فی الجواز لوجود الرکن وهو التملیک. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۳ کتاب الزکوٰة)

(۲) ولا یجوز دفعها الی ولد الغنی الصغیر ولو کان کبیراً فقیرا جاز الخ. (فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

اوس کـه زه داچرتـه غریـب تـه ورکړم یا پـه دې سره خپل فـیس ادا کړم نـو داځنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ محمد عمران ډیره اسماعیل خان....۱۹۷۴،۱۲،۷

الجواب: ته ظاهری طورسره مسکین ئې، ته د مد زکوة نه وظیفه اخستلې شی اوپه خپلو حاجتونو کښې ئی خرچ کولې شی﴿۱﴾ وهوالموفق

ساداتو ته د زکوة ورکولو حکم

سوال: ساداتو ته د زکوة ورکولو څۀ حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا رحیم الله باچا اضاخیل نوشهره....۲۳ ذی قعده ۱۴۰۱ﻫ

الجواب: ساداتو ته هدیه او تحفی ورکولې شی او عشر نه البته کـه پـه موجوده زمانـه کـښې زکـوة اوعـشر ورکـړیشی نـو اخستل اوورکـول قابـل اعتـراض نـه دی﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ویجوز دفعها الی من یملک اقل من النصاب.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱: ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

﴿۲﴾ دظاهر روایت مطابق بنو هاشم او ساداتو ته زکوة یانور صدقات واجبه ورکول جائز نه دی البته په ظاهر الروایت کښې دجواز قول هم منقول دی خمس الخمس چه بنو هاشم ته به دزکوة او صدقات واجبه پـه عـوض کـښې ملاویده او دپیغمبر علیه السلام او خلفاء راشدین نه پس بند شو اوپه تحفو کښې ورته هم خلق خیال نـه کوی نو امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دجواز قول او فرمائیلو چه نادر الروایت دی.

والفتویٰ بنادر الروایة عند الضرورة لم یکن بعیداً عن الاصول لان اخذ الزکاة اهون من ذل السوال،

اوددې ضرورت او حاجت پـه وجـه امـام الطحاوی او نـورو احنـافو فقهـاؤ دی نـادر الروایت ته ترجیح ورکړې ده او بعضې شـوافعو حنابلـه او مـالکیـه فقهـاؤ هـم دحـالا تو او ضرورت په وجه دجواز فتـوی ورکـړی زمـونږ شیخ دامت برکـاتهم پـه (منهـاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۳/۱۲۹) کښې فرمائی:

اعلم ان ما مر من حرمة الصدقة الواجبة علی بن هاشم هذا ظاهر الروایة.....

(بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

سادات اوبنو هاشم ته د زکوة ورکولو شرعی حیثیت

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یو سړی دی دهاشمی خاندان سره تعلق لری اوپه جمات کښې اتیا روپئ میاشت باندی دامامت فرائض سرته رسوی دجائیداد خاوند هم دی آیا مذکوره سید هاشمی امام ته زکوة او فطرانه ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: راجه سلطان محمد اینډ کمپنی ګندم راولپنډی ۲۲|۱۰|۱۹۶۹ء

(بقیه حاشیه) وروی ابو عصمة عن ابی حنیفة انه یجوز فی هذا الزمان وان کان ممتنعا فی ذلک الزمان لان عوضها وهو خمس الخمس لم یصل الیهم لاهمال الناس امر الغنائم وایصالها مستحقیها، واذا لم یصل الیهم العوض عادوا الی المعوض کما فی البحر، قالوا والمعمول به هو ظاهر الروایة ورد ابن الهمام علی روایة ابی عصمة بما ملخصه ان حدیث عوضکم منها خمس الخمس لم یثبت وان سلمنا علی التنزل حمل الکلام علی ان ذلک حکمة لا علة فان العلة هی کون الزکوة من اوساخ الناس، وان سلمنا علی التنزل کونه علة ایضا لا یثبت المطلوب فانها علة لاصل التشریع لابقاء ه کما فی الرمل، فزوال العوض لا یستلزم عود المعوض انتهیٰ قلت لو اضطروا الی السوال لکان ذل اخذ الزکوة اهون من ذل السوال علی ان الاوساخ لیست بانجاس فلو افتی المفتی بنادر الروایة عند الضرورة لم یکن بعیداً عن الاصول.

علامه انورشاه کشمیری رحمه الله په (فیض الباری شرح صحیح البخاری ۳/۵۲) کښی فرمائی:

ونقل الطحاوی عن امالی ابی یوسف انه جاز دفع الزکوٰة الی آل النبی ﷺ عند فقد ان الخمس فان فی الخمس حقهم فاذا لم یوجد صح صرفها الیهم وفی البحر عن محمد بن شجاع الثلجی عن ابی حنیفة ایضا جوازه وفی عقد الجید ان الرازی ایضا افتی بجوازه قلت واخذ الزکوٰة عندی اسهل من السوال فافتی به ایضا.

علامه وهبة الزحیلی الفقه الاسلامی وادلته ۳:۱۹۷۸ کی فرمائی: هذا وقد نقل عن ابی حنیفة وعن المالکیة وبعض الشافعیة جواز اعطاء الهاشمین من الزکوة...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

الجواب: ددی جائیداد او تنخواه باوجود که داسړی صاحب دنصاب نه وی هغه ته زکوة ورکول او دهغه اخستل جائز نه دی دظاهر الروایت دی او په بعضي غیر ظاهر الروایت کتبي دجواز فتوی هم منقول ده لهذا احتیاط په نه ورکولو او نه اخستلو کښې دی.

لما فی الدر المختار: ولا الی بن هاشم ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع، وفی ردالمحتار ۲: ۱ ۹ وروی ابو عصمة عن الامام انه یجوز الدفع الی بنی هاشم فی زمانه لان عوضها وهو خمس الخمس لم یصل الیهم لاهمال الناس امر الغنائم و ایصالها الی مستحقیها واذا لم یصل الیهم العوض عادوا الی المعوض کذا فی البحر﴿۱﴾ انتهیٰ ما فی ردالمحتار، قلت والحرمة معللة بوجهین الاول ما مر والثانی کونها اوساخ الناس ومزیلها کما فی الحدیث الصحیح ﴿۲﴾ وهو باق کما کان فالراجح هو المنع والضرورة تبیح المحظورات ﴿۳﴾. فافهم. وهو الموفق

(بقیہ حاشیہ) لانهم حرموا من بیت المال سهم ذوی القربیٰ منعاً لتضییعهم ولحاجتهم...... واعطاء هم کما قال الدسوقی المالکی حینئذ افضل من اعطاء غیرهم.

امام طحاوی فرمائی:

وقد اختلف عن ابی حنیفة فی ذلک فروی عنه انه قال لا بأس بالصدقات کلها علی بنی هاشم. (طحاوی ۱: ۳۵۲ کتاب الزکاة)

لیکن ددي صفحي په آخر کښې دوی داهم فرمائیلی دی:

قال ابو جعفر فهذه الآثار کلها قد جاء ت بتحریم الصدقة علی بنی هاشم ولا نعلم شیئاً نسخها ولا عارضها.

او علامه سید احمد الحموی فرمائی:

وفی شرح الاثار عن ابی حنیفة: ان الصدقات کلها جائزة علی بنی هاشم والحرمة کانت فی عهد رسول الله ﷺ لوصول خمس الخمس الیهم فلما سقط ذلک بموته ﷺ حلت لهم الصدقة قال الطحاوی رحمه الله وبالجواز نأخذ. (حموی علی الاشباه و النظائر ۲: ۵۳ کتاب الزکاة)

﴿۱﴾ (الدر المختار مع ردالمحتار ۲: ۷۲ مطلب فی جهاز المرأة هل تصیر به غنیة باب المصرف)

﴿۲﴾ عن عبد المطلب بن ربیعة قال قال رسول الله ﷺ ان هذه الصدقات انما هی اوساخ الناس وانها لا تحل لمحمد ولا لآل محمد رواه مسلم.

(مشکواة المصابیح ۱: ۱۶۷ باب من لا تحل له الصدقة الفصل الاول)

﴿۳﴾ قال العلامة الآلوسی: الضرورات تبیح المحظورات...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

ساداتو ته د زکوٰة ورکولو او اخستلو حکم

سوال: ساداتو ته زکوٰة ورکول څنګه دی (۲) د ساداتو زکوة ساداتو دپاره څنګه دی (۳) دساداتو فدیه، اسقاط، صدقة الفطر او دقربانو دڅرمنو پیسې اخستل څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فیض الله بند روډ کوئټه... ۱۳؍۱ شوال ۱۳۹۷ھ

الجواب: محترم مولوی فیض الله صاحب! اتاه الله فی الدارین حسنة، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، اما بعد! واضحه دی وی د ظاهر الروایت په بنا ساداتو ته زکوٰة ورکول ممنوع دی البته په دې زمانه کښې چه نه هغوی ته تحفې ورکولې کیږی اونه ورته خمس الخمس ورکولې کیږی نو ددې په ځای چه هغوې دسوال په ذلت کښې مبتلا کړیشی دا سان دی چه دابو عصمة په روایت عمل او کړیشی

کما فی ردالمحتار ۱:۱۹ وروی ابوعصمة عن الامام انه یجوز الدفع الی بنی هاشم فی زمانه الخ﴿۱﴾ قلت و کونها من (مزیل) اوساخ الناس یقتضی الخباثة کالماء المستعمل دون الحرمة فافهم،

نوچه کله دزکوة خرچ کول په هغوی جائز شو نو دنورو واجباتو خرچ په طریقه اولی جائز دی وهوالموفق

د بنوهاشم نه علاوه نورو قریشیانو باندی زکوة لګولو کښې اختلاف نشته

سوال: علمایی دین دې مسئلې باره څهٔ فرمائی چه قریشی قوم باندې زکوة خرچ کول جائز دی یانه؟ اودجواز دپاره بعضې خلق دادلیل پیش کوی چه قریش او نضربن کنانه اولاد دی چه دنبی ﷺ نه ډیر مخکښې وو لهذا دا عام دی او زکوة صرف دبنی هاشم په اولاد ممنوع دی چه روستو جوړشوی دی لهذا هر

(بقیه حاشیه) هذه قاعدة اصولیةماخوذة من النص وهو قوله تعالیٰ: الا ما اضطررتم الیه، والاضطرار الحاجة الشدیدة والمحظور المنهی عن فعله یعنی ان الممنوع شرعا یباح عند الضرورة. (شرح المجلة ۱:۵۵ المادة: ۲۱)

﴿۱﴾ (ردالمحتار ۲:۷۲ مطلب فی جهاز المراة هل تصیر به غنیة باب المصرف)

سید (بنی هاشم) قریشی دی لیکن هر قریشی بنی هاشم نه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: امین الحق متعلم حقانیه.... ۲۹|۴|۱۹۷۵ء

الجواب: دبنوهاشم نه علاوه باقی قریشی باندې زکوة صرف کولې شی په دی کښې دچا اختلاف نشته. ﴿۱﴾

والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات. وهوالموفق

د ساداتو په مسئله کښې د حضرت تهانوی او مفتی شفیع (رحمهما الله) رائی بالکل صحیح ده

سوال: علمائی دین دی مسئلې باره کښې څه فرمائی چه امداد الفتاوی کښې حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه بنو هاشم ته زکوة ورکول جائز نه دی او مولانه مفتی محمد شفیع رحمه الله هم داسې قول نقل کړې دی او فرمائیلی ئې دی:

ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع قال الشامی سواء فی ذلک کل الزمان،

ستاسو حضراتو نه ددې تصدیق مطلوب دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: احقرالعباد عبدالعلی مدرسه تعلیم القرآن

زیارت بلوچستان..... ۱۳|۱۰|۱۹۸۴ء

الجواب: دامسئلې صحیح دی ظاهر الروایت بغیر شك شبهې نه حرمت دی لیکن دضرورت (حالت اضطرار) په وخت نادر الروایت وغیره باندې فتوی ورکول ددې مسئلو سره ټکراؤ نه خوری ﴿۲﴾ وهوالموفق

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا یدفع الی بنی هاشم وهم آل علی وعباس وجعفر وعقیل وحارث بن عبد المطلب ویجوز الدفع الی من عداهم من بنی هاشم کذریة ابی لهب.
(فتاویٰ عالمگریه ۱: ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)

﴿۲﴾ قال العلامة ابن عابدین: وقد ذکر صاحب البحر فی الحیض فی بحث الوان الدماء اقوالا ضعیفة ثم قال وفی المعراج عن فخر الائمة لو افتی مفت بشئ من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا للتیسیر کان حسناً وبه علم ان المضطر له العمل بذلک لنفسه کما قلنا وان المفتی له الافتاء به للمضطر فما مر من انه لیس له العمل بالضعیف ولا الافتاء به محمول علی غیر موضع الضرورة کما علمته من مجموع ما قررناه والله اعلم.
(شرح عقود رسم المفتی من رسائل ابن عابدین ۱: ۵۰ شعر آخر)

عیسائی او ټولو غیرمسلموته زکوة ورکولو سره ذمه نه فارغیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه عیسائړی ښځی ته دزکوة رقم ادا کولو سره ذمه فارغه کیږی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: چوهدری عبدالستار لائل پور.. ١٩٧٢ء|٩| ١٩

الجواب: عیسائی او غیرعیسائی ټولو کافرانو ته زکوة ورکولو سره ذمه نه فارغه کیږی (فتاوی هندیه ١/٢٠٠ و رد المحتار ٢/٩٢) وهوالموفق

شیعه ته د زکوة ورکولو سره فریضه نه ادا کیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زه پاکستانې ډاکتریم اوپه ایران کښې داسې ځائې کښې کارکوم چرته چه ټول شیعه ګان خلق دی آیا په شیعه ګانو مسلمانانو باندی زمونږ زکوة کیدلې شی یانه؟ که زه په مستحق شیعه ګانو باندې تقسیم کړم یا ئی دهغوی امام امام خمینی ته ورکړم نوبیا به زمافریضه اداشی یانه؟ اوآیاهغوی ته دا اوویم چه زه اهل سنت یم؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټرجوهرشاه اداره بهداری شهر کردایران. ١٩٧٩ء|٧|١٩

الجواب: د زکوة او عشر مصرف مسلمانان دی (٢) په کافر باندې ددې لګول

﴿١﴾ قال العلامة الحصكفی: واما الحربی ولو مستأمنا فجميع الصدقات لا تجوز له اتفاقا. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢ :٧٣ باب المصرف)...... وفی الهندية: واما الحربی المستأمن فلا يجوز دفع الزكاة والصدقة الواجبة اليه بالاجماع.

(فتاویٰ عالمگیریه ١ :١٨٨ الباب السابع فی المصارف)

﴿٢﴾ وفی الهندية: فهی تمليک المال من فقير مسلم.

(فتاویٰ عالمگیریه ١ :١٧٠ كتاب الزكاة الباب الاول فی تفسيرها وصفتها وشرائطها)

کافی نه دی البته صدقة الفطر، نذر خیرات وغیره په کافرانو هم خرچ کیدیشی (هدایه ﴿۱﴾ شرح التنویر ﴿۲﴾) ایرانی شیعه ګان اکثری طور سره دضروریات دین نه منکر دی په دې بنا هغوی داسلام نه خارج دی ﴿۳﴾ پس ددی قول په بنا ته دزکوة مال شیعه ګانو یا دهغوی امام ته نشی ورکولې وهوالموفق

ظالم بادشاه ته زکوة ورکولو سره د ذمې فارغیدل او ددې مالونو په ټهیکه اخستلو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه په کوم ملك کښې ظالم بادشاه دخلقو نه دځناورو زکوة اودپیداوار عشر اخلې اوپه شرعی مصرفونو کښې ئی نه خرچ کوی او دغه شان بعضې سرمایه داران زکوة عشرد ظالم بادشاه نه په ټهیکه اخلی اوخپل ځان دپاره ئی جمع کوی او بادشاه ته هغه محصوص رقم ورکوی په کوم چه ورسره خبره شوی وی نو دې صورتونو کښې دمالك ذمه فارغیږی یانه؟ افتونابالتفصیل مع حوالة الکتب.. بینوا توجروا

المستفتی: مولانا (شیخ الحدیث) رحیم الله
محکمه قضاریاست سوات ۱۹۶۹ء | ۱۲ | ۱۰

﴿۱﴾ قال المرغینانی: ولا یجوز ان یدفع الزکاة الی ذمی لقوله علیه الصلاة والسلام لمعاذ رضی الله عنه خذها من اغنیائهم وردها فی فقرائهم قال ویدفع ماسوی ذلک من الصدقة. (هدایة علی صدر فتح القدیر ۲: ۲۰۷ باب من یجوز دفع الصدقة الیه ومن لا یجوز)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا تدفع الی ذمی لحدیث معاذ وجاز دفع غیرها وغیر العشر والخراج الیه ای الذمی ولو واجبا کنذر و کفارة وفطرة خلافاً للثانی. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۳ باب المصرف)

﴿۳﴾ قال ابن عابدین: نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق او اعتقد الالوهیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۲۱ مطلب فی حکم سب الشیخین)

الجواب: درنړاورخ پشان دا خبره معلومه ده چه په ریاستونو کښې زکوٰة اوعشر مصارفوته نه رسولې کيږی بلکه دریاست دملازمینو په تنخواه گانو کښې خرچ کيږی لهذا دمالك ذمه بالکل نه فارغه کیږی

الا فی صورة واحدة وهی ما اذا نوی الصدقة علیهم عند الدفع، (فی الدرالمختار علی هامش ردالمختار ۲:۲۵) اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکوٰة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الآتی ذکره والایصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخراج انتهی﴿۱﴾.

او د بعضې فقهاؤ په نزد چه کله په دوی باندې دخیرات نیت او کړی نو ذمه فارغیږی او دبعضې علماؤ په نزد مطلقاً فارغیږی:

فی ردالمحتار ۲:۲۵ قال فی التجنیس والولوالجیة السلطان الجائر اذا اخذ الصدقات قیل ان نوی بادائها الیه الصدقة علیه لا یومر بالاداء ثانیا لانه فقیر حقیقة...... واذا لم ینو منهم من قال یؤمر بالاداء ثانیا وقال ابو جعفر لا یکون له سلطان له ولایة الاخذ فیسقط عن ارباب الصدقة فان لم یضعها موضعها لا یبطل اخذه وبه یفتی وهذا فی صدقات الاموال الظاهرة﴿۲﴾.

(۲) دا ټهیکه حرامه ده ځکه په دا په حقیقت کښې (شراء الصدقات) او (مبادلة المال بالصدقات) ده او غالباً داسې ده چه ټهیکدار روستو د ټهیکې رقم حکومت ته ورکوی نو په دې کښې دعدم وصول الی المصارف نه علاوه بیع الکالی بالکالی موجود ده چه ناجائز ده...وهوالموفق

په عُشر او زکوٰة کښې ټهیکداری نظام او مشاهرات په ملازمینوکښې د ورکولو حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی (۱) په ریاست سوات کښې

﴿۱﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲٦ باب زکاة الغنم)

﴿۲﴾ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲٦ باب زکاة الغنم)

حکومت عشر او زکوة اخلی او دفوجیانو او پولیس په تنخواگانو کښې خرچ کوی یا ریاست ته دا ولایت حاصل دی او که نه دا ظلم دی؟ (۲) دعشر اوزکوة د وصولئ طریقه داده چه یو سړی دحکومت تهیکدار وی. نفع اونقصان دهغه په ذمه باندې وی حکومت صرف مقرر کړی شوی رقم تهیکدار نه اخلی آیا په دې سره زمه فارغیدلې شی یانه؟ ردّ المحتار ۲/۴۲) په دی مسئله کښې اوگورئ (۳) دی باره کښې حکومت دعلماؤ نه فتوی طلب کړی چه حکومت شرعاً ددی حق لری یانه؟ او دفتوی صحیح کیدلو نه پس حکومت په قوم باندې زور کولې شی یانه؟ که زور (جبر) ثابت نه وی نو حکومت ته دقوم په د ذمې په فراغت باندې فتوی ورکول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولاناعبدالحلیم صاحب موضع پټن کوهستان سوات ۱۹۶۹ء|۱۲|۲۰

الجواب: (۱) حقیقت دادې چه په ریاستونو کښې عشر او زکوٰة خپل شرعی مصرفونو ته نه رسئ بلکه په تنخواگانو وغیره کښې خرچ کولې شی لهذا په مالکانو باندې د احتیاط په باب کښې ضروری دی چه عشر او زکوة دوباره ادا کړی اودحکومت دپاره ضروری دی چه یا دې عشر او زکوة اخلی نه او یا دی په مصارف شرعیه کښې خرچ کوی (۱) واضحه دی وی چه په عشر او زکوة کښې دمالك فعل او ادا ضروری ده لهذا بغیر دمالکانو درضا او اجازت نه حکومت ته داخستلو حق نشته (۲) تهیکدار په حقیقت کښې اجاره دارنه دې بلکه مشتری دی یعنی داعشر او زکوة دحکومت نه اخلی او غالباً د وصولئ نه پس حکومت ته دتهیکې پیسې رسوی لهذا تهیکدار عاشرنه دی.

﴿۱﴾ وفی الهندیة: زکاة السوائم والعشور وما اخذه العاشر من تجار المسلمین الذین یمرون علیه ومحله ما ذکرنا من المصارف...... والواجب علی الائمة ان یوصلوا الحقوق الی اربابها ولا یحبسونها عنهم...... فان قصر الائمة فی ذلک فوباله علیهم.
(فتاویٰ عالمگیریه ۱:۱۹۰، ۱۹۱ فصل ما یوضع فی بیت المال)

بلکه مشتری دی نوده ته زکوة وغیره ورکولو سره ذمه نه فارغه کیږی او دا بیع هم فاسد ده ځکه چه دجهالت نه علاوه مبیعه او ثمن دواړه مؤجل دی صرح بهذه المسائل ردالمحتار والهداية. وهوالموفق

د سیلاب زیلو د پاره چنده کښې زکوة ورکول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره څه فرمائی چه دموجوده حکومت افسران دسیلاب زیلو دپاره چنده جمع کوی آیا په دې کښې مونږ خلق دزکوة رقم ورکولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی نظیر بادشاه... ۱۹۷۷ء| ۹| ۱

الجواب: دصحت زکوة دپاره تملیك شرط دی ﴿۱﴾ لهذا که تاسو ته په ظن غالب یا جزوی طور سره معلومه وی چه چنده حاصلونکی دا رقم باقاعده مصارفو پورې تملیکاً رسوی،نوتاسو په دې چنده کښې د زکوة رقم ورکولې شئ،اوکه دا اُمید نه وی نو زکوة او واجب صدقاتو نه علاوه په نورو مالونو سره امداد اوکړئ وهوالموفق

د زکوة مال به په دفاعی آلاتو او وسلو باندې نه شی خرچ کولې

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه داستاذانو دټرینڼګ پرچه کښې زمونږ نه یو سوال او کړې شو چه دزکوة مصارف اولیکئ اودا هم اووایئ چه آیا په موصول شوی زکوة سره دفاعی آلات او وسلې اخستلې کیدیشې؟ کافی حضراتو په (انماصدقات) کښې دفی سبیل الله لفظ سره دا جواز دلیل لیکلې دې لیکن مونږ څو ملګرو عدم جواز لیکلې دی دلائل مو ورسره لیکلې دی لیکن او دنورو دلیلو ضرورت دې لهذا ددې مسئلې وضاحت سره دحوالو او لیکئ او اِرسال ئې کړئ مهربانې به وی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی اشرف الدین فاضل حقانیه اکوړه خټك... ۱۳۹۰هـ

﴿۱﴾ قال العلامة الحصكفي: ويشترط ان يكون الصرف تمليكاً لا اباحة. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

الجواب: په زکوة کښې قبض او تمليك شرط دی لهذا په دې مال سره دفاعی آلات نشي اخستلې کیدې هم داد احنافو مذهب دې او من حيث الدلائل مضبوط دی.

قال صاحب الهداية وفی سبيل الله منقطع الغزاة عند ابی يوسف لانه المتفاهم عند الاطلاق وعند محمد منقطع الحاج لماروی ان رجلا جعل بعيراً له فی سبيل الله فامره رسول الله ﷺ ان يحمل عليه الحاج ﴿١﴾ (رواه ابو داؤد والنسائی وغيرهما بهذا المعنی)﴿٢﴾ ولايبنی بها مسجد ولا يكفن بها ميت لانعدام التمليک وهو الركن ١٨٥:١ ﴿٣﴾. وفی الاموال لابی عبيد٦٠٨ عن ابراهيم قال لا يعطی من الزكوٰة دين ميت ولا فی كفنه وفيه ايضاً ص٦١٠ فاما قضاء الدين عن الميت والعطية فی كفنه وبنيان المساجد واحتفار الانهار وما اشبه ذلک من انواع البرفان سفيان واهل العراق وغيرهم من العلماء مجمعون علی ان ذلک لا يجزی من الزكوٰة لانه ليس من الاصناف الثمانية انتهی.

وقال ابن حزم فی المحلی ٥: ٢٤٧ قلنا نعم وكل فعل خير فهو من سبيل الله تعالیٰ الا انه لا خلاف فی انه تعالیٰ لم يرد كل وجهه من وجوه البر فی قسمة الصدقات فلم يجز ان توضع الا حيث بين النص وهو الذی ذكرنا (يعنی الجهاد والخمسة والحج) فافهم. وفی العينی شرح الهداية ١٢٦٦:١ وكذا لا تبنی بها القناطر والسقايات ولايحفر بها الآبار ولا تصرف فی اصلاح الطرق وسد الثغور والحج والجهاد مما لا يملک فيه فان قلت روی عن انس والحسن ما اعطيت من الجسور

﴿١﴾ (هداية ١٨٧:١ باب من يجوز دفع الصدقات اليه ومن لا يجوز كتاب الزكوٰة)
﴿٢﴾ (نصب الراية لاحاديث الهداية ٢: ٣٩٥،٣٩٦ باب من يجوز دفع الصدقات)
﴿٣﴾ (هداية ١٨٨:١ باب من يجوز دفع الصدقات اليه ومن لا يجوز كتاب الزكوٰة)

والطريق صدقة ماضية ، قلت هذا وهم عليهما وليس مرادهما عمارة الجسور والطريق بلا معناه اعطاء الزكوٰة لمن يبنى الجسور والطريق الخ، وما فى القرطبى ٨: ١٨٦ وقال محمد بن عبد الحكيم ويعطى من الصدقة فى الكراع والسلاح وما يحتاج اليه من الآلات لحرب وكف العدو عن الحوزة فليس المراد به وقف هذه الاشياء لعدم مساعدة اللفظ لغة وعرفا بل المراد اعطاء الصدقة للغازى يشترى بها الآلات او المراد شراء هذه الآلات بالصدقة ثم صرفها الى الغزاة كما لا يخفى على من راجع الى اللفظ وتعامل هذا القرن. وكذا يحمل ما رواه البيضاوى وغيره على ماذكرنا، وكذا فى البدائع ٢: ٣٥ واما قوله تعالىٰ وفى سبيل الله عبارة عن جميع القرب فيدخل فيه كل من سعىٰ فى طاعة الله وسبيل الخيرات اذا كان محتاجاً ظاهر فى التمليك ﴿١﴾ وقد صرح به قبل ٢: ٣٩ واما ركن الزكوٰة فركن الزكوٰة هو اخراج جزء من النصاب الى الله تعالىٰ وتسليم ذلک اليه يقطع المالک يده عنه بتمليکه من الفقير وتسليمه اليه او الى يد من هو نائب عنه وهو المصدق الى ان قال بعد اسطر وعلى هذا يخرج صرف الزكوٰة الى وجوه البر من بناء المساجد والرباطات والسقايات واصلاح القناطير وتكفين الموتى ودفنهم انه لا يجوز لانه لم يوجد التمليک اصلا ﴿٢﴾ انتهى باختصار يسير. وهو الموفق

د زکوة په رقم سره فری هسپتال جلول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه د زکوة په رقم سره فری

﴿١﴾ (بدائع الصنائع ٢: ١٥٣ فصل المؤلفة قلوبهم)

﴿٢﴾ (بدائع الصنائع ٢: ١٣٢ فصل واما ركن الزكاة)

هسپتال چلول یا په هغې کښې زکوة جمع کول جائز دې یانه؟ بینوا توجروا
المستفتی: نامعلوم..... ٢٣|٨|١٩٧٨ء

الجواب: په دې هسپتالونو کښې عشر او زکوة ورکول اضاعت د عُشراو زکوة دې ځکه چه دیکښې دعشر اوزکوة شرطونه نه پوره کیږی.(١) وهوالموفق

زکوة فنډ او د تعلیم فنډ په تعمیر مسجد کښې لګول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه یوه درسګاه په جامع مسجد کښې قائم کړی شوپه تعلیمی فنډ کښې د زکوة مال جمع کړې شو.کم نه کم لس زره روپئ جمع شوی کار شروع شومګرطالبانو باندې صرف ٢٥ روپئ خرچ شوی او دمدرسی نظام درهم برهم کړی شو او زکوة فنډ باندې دجمات

(١) په قران مجید کښې مخصوص مصارف په صراحت سره موجود دې اوزکوة صرف په دغه مخصوص مصارفو باندې خرچ کیدې شی اود تجربې نه ثابت دی چه موجوده خیراتی ادارو او هسپتالونو کښې ددی مصارفو څه رعایت نه کیږی بلکه دنورو عطیاتو پشان زکوة هم خرچ کولې شی ځکه چه داخلق نه د احکام زکوة نه واقف وی اونه ئی مصارف پیژنی.

قال الدکتور وهبة الزحیلی: ولا یبعث الامام الاساعیا حراً عدلاً ثقة لان هذا ولایة وامانة والعبد والفاسق لیسا من اهل الامانة والولایة ولا یبعث الا فقیهاً لانه یحتاج الی معرفة ما یؤخذ وما لایؤخذ ویحتاج الی الاجتهاد فیما یعرض له من مسائل الزکاة واحکامها. (الفقه الاسلامی وادلته ٣:١٩٧٢)

حال داچه په زکوة کښې داضروری ده چه مصرف ته دی تملیګا ورکړیشی دهسپتال په بلډنګ یا دعملې په تنخوا ګانو او بجلئ بل وغیره کښې نشی خرچ کیدلې **وفی الهندیة ولا یجوز ان یبنی بالزکاة المسجد وکذا القناطیر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالاتملیک فیه.** (فتاویٰ عالمګیریه ١:١٩٧)

او که دهسپتال عمله دزکوة داحکامو پوره رعایت کوی اود زکوة په فنډ باقاعده دوائی اخلی او فقیرانو ته ئې تملیکا ورکوی نودې کښې هیڅ خبره نشته. وهذا نادر جداً........ (ازمرتب)

توسیع شروع شوه اوپه تعلیمی فنډ سره هم آیا دادواړه فنډونه په جمات کښې لګول صحیح دی

المستفتی: خطیب جامع مسجد مین بازار جنډ پنډی ګهیپ

الجواب: واضحه دی وی چه د زکوة په مال سره دجمات جوړول صحیح نه دی. **كما فی البدائع ۲: ۳۹ وعلىٰ هذا يخرج صرف الزكوٰة الى وجوه البر من بناء المساجد والرباطات والسقايات واصلاح القناطر وتكفين الموتى ودفنهم انه لا يجوز لانه لم يوجد التمليك ﴿۱﴾**

اوپه تعلمی فنډ سره دچندې ورکونکو په اجازت سره دجمات تعمیرصحیح دی. **لبقاء ملكهم الآن كما كان فلا بد من اذنهم صريحاً او دلالةً﴿۲﴾ فافهم. وهو الموفق**

د هائی سکول جوړولو د پاره په قومی چنده کښې عشر او زکوة ورکول صحیح نه دی

سوال: علمائی دین مسئلې باره کښې څه فرمائی چه زمونږ دکلې مډل سکول ته دهائی درجه ورکړې شوی ده دسکول دتعمیر دپاره خلق خپل تعاون سره جوړولو دپاره چنده جمع کوی نو آیا په دې قومی چنده کښې دزکوة عشر صدقه او خیرات رقم ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالحنان دکاندار

﴿۱﴾ (بدائع الصنائع ۲: ۱۴۲ فصل واما ركن الزكاة كتاب الزكاة)

﴿۲﴾ وفی الهندية: الوقف فی الشرع عند ابی حنيفة حبس العين على ملك الواقف والتصدق بالمنفعة على الفقراء ...... فلايكون لازما وله ان يرجع ويبيع ولا يلزم الا بطريقين احدهما قضاء القاضی بلزومه والثانی ان يخرج مخرج الوصية...... وقال محمد لا يزول حتى يجعل للوقف وليا ويسلم اليه وعليه الفتوىٰ كذا فی السراجية وبقول محمد يفتى كذا فی الخلاصة، وفی الصفحة ۳۶۲ واما وقف مالاينتفع به الابا لاتلاف كالذهب والفضة والمأكول والمشروب فغير جائز فی قول عامة الفقهاء والمراد بالذهب والفضة الدراهم والدنانير ومالیس بحلی كذا فی فتح القدير الخ. (فتاوىٰ عالمگیریه ۲: ۳۵۰، ۳۶۲ كتاب الوقف)

الجواب: محترم المقام دام عزکم السلام علیکم نه پس داخبره دی واضحه وی چه عشر زکوة اوفطرانه په دی مد کښې مه خرچ کوئ (۱) اوخیرات وغیره په کښې خرچ کولې شی په هغې کښې تملیك شرط نه دی (بخلاف الاول) وهوالموفق

د زکوة په رقم سره ټرسټ جوړول

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه آیا دزکوة په رقم سره ټرسټ قائمولې شی؟ او ددې ټرسټ حیثیت او نوعیت څه پکار دی؟ او آیا د ټرسټ په اخراجاتو کښې دزکوة رقم خرچ کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ارشد صدیقی راولپنډی.... ۱۹۸۶ء | ۷ | ۱

الجواب: بغیر دعلم او تقوی نه دا ټرسټ او ادارې قائمول داضاعت زکوة مترادف دی دعلم دین او تقوی نه بغیر نه حقیقةً تملیك کیدلې شی اونه حیله(۲) ، وهو الموفق

زکوة فنډ لره د بینك په سودی یا غیرسودی کهاته کښې دکینودلو حکم

سوال: علمائی دین دی مسئلې باره څه فرمائی چه دیوې کمیټی سره دزکوة رقم جمع دی چه کالوسر په مصارفو کښې دیو طریقه کار مطابق خرچ کیږی اوس ظاهره ده چه دا رقم به په بینك کښې پروت وی اودهغې څلور شکلونه دی (۱) سیونګ اکاونټ چه په هغې پسې سود هم ورکولې شی (۲) سیونګ اکاونټ

﴿۱﴾ وفی الهندیة: ولا یجوز ان یبنی بالزکاة المسجد وکذا القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالا تملیک فیه.

(فتاویٰ عالمگیریه ۱ :۱۸۸ باب المصارف)

﴿۲﴾ ځکه چه جاهلان خلق نه د زکوة مصرف پیژنی او نه ئی شرائط او غیرمتقی نه دمصرف لحاظ او اعتبار کوی نه د شرائطو. لهذا په داسې ټرسټونو کښې د واجب صدقاتو ورکولو نه ځان ساتل پکار دی کوم چه جاهلان یاغیرمتقیان خلق چلوی (سیف الله حقانی)

چه په هغې کښې بینك ته اولیکلې شی چه دې باندې دې سود جمع نکړې شی (۳) کرنټ اکاونټ په کوم چه سود نه ورکولې کیږی (۴) پې ایل ایس نفع نقصان دی دوارو احتمالاتو سره ئی په کاروبار کښې جمع کړی

اوس دویم اودریم شکل ظاهری طوربې ضرره دې مګر بینك ئی یقینی طور سره په سودی کاروباره کښې استعمالوی او په څلورم شکل کښې دنقصان احتمال دی اګر چه احتمال برائې نام دی که ددې برائې نام احتمال ختمولو دپاره یو دریم ګړی یا پخپله حکومت دا ذمه داری واخلې چه دنقصان په صورت کښې به تلافی اوکړیشی نو آیا دا صورت جائز کیدیشی؟ خواهش دې که ددې څلورم صورت دجواز څۀ شکل وی نو دنورو مستحقینو به هم مدد او شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالقدوس کاکاخیل
پلوسی روډ پشاور...۱۴۰۱/۶/۱۷ھ

الجواب: په څلورم صورت کښې که دامعامله دشرکت وی نو دنفع دشرح دعدم تعین په صورت کښې دې معامله کښې څۀ خبره نشته دغه شان دحکومت وغیره دطرفنه دتلافی ذمه اخستل هم موجب د حرج نه دی چه داشتراط په طور سره نه وی

کما فی شرح المجلة ۳ ۱/۷ ماده:۱۳۳۷ ليشترط ان تكون حصص الربح التی تنقسم بين الشركاء جزءً شائعا كالنصف والثلث والربع فاذا اتفق الشركاء على اعطاء احدهم قدراً معينا كانت الشركة باطلة انتهی، وقال بعد سطر وعلة الفساد ماذكر من قطع الشركة ﴿۱﴾ فافهم، وفيه ۲۲/۷ ماده:۱۳۶۹ الضرر والخسارة الواقع بلا تعد ولاتقصير ينقسم فی كل حال على قدر رأس المال واذا شرط على وجه آخر فلا يعتبر الشرط انتهی ﴿۲﴾، قلت فالمفسد هو الاشتراط دون التبرع. وهو الموفق

﴿۱﴾ (شرح المجلة لسليم رستم باز ۱۳/۷ قبيل الفصل الثالث فی شرائط المخصة بشركة الاموال)

﴿۲﴾ (شرح المجلة لرستم باز ۲۲/۷ الفصل السادس فی شركة العنان البحث الاول)

د زکوة په رقم سره د دینی کتابونو اجرت کتابت اود کاغذ اخستلوحکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه مصارف د صدقات عند الشرع واضح دی په دې کښې دینی مدرسې او ادارې هم شامل دی چه داعلائی کلمة الحق دپاره مفت رسالې تقسیموی آیا دزکوة، صدقاتو، قربانی څرمنو، نذر، عقیقه وغیره رقم سره دکاتبانو اجرت دکاغذ قیمت او دچاپ خرچې وغیره ادا کولې شو؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمداسلم ایمپائرانډسټری کراچی ۳....۱۴۰۱/۶/۲۸ھ

الجواب: په واجب صدقاتو، زکوة، نذر او صدقة الفطر کښې تملیك شرط دی(۱) (تملیك بلا معاوضه) اوپه صورت مسئوله کښې یا تملیك موجود نه دی. کما عند الایتـاء لاهـل الادارة، اویا تملیك بلا معاوضه موجود نه دی. کماعندالایتاء الی الکاتب وبائع الکاغذ وغیرهما، لهذا داسې اداروته زکوة ورکول د ذمې دفراغت دپاره کافی نه دی. وهوالموفق

د زکوٰة دوایانې حاصلونکو مریضانونه ددوه (۲) روپۍ پرچې په ځائی پنځه روپۍ اخستل

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه په سول هسپتال کښې ډاکټر کیدلو په وجه دزکوة په رقم دهسپتال دمریضانو علاج کول غواړم ددې دپاره دا طریقه خپلوم چه په ګورنمنټ هسپتال کښې دهر مریض نه دوه ورپۍ معائنه فیس وصول کیږی لیکن داسې مریض چه دزکوة دوایانې حاصلول غواړی دهغه دپرچې فیس پنځه روپۍ کول غواړم په دې کښې بعضې خلق انتهائی غریبانان وی مستثنی کیدې شی داپنځه روپۍ فیس یا خود زکوة

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکاً لا اباحة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸ باب المصرف)

دوایانې ورکونکې سړی په تنخواه کښې استعمالیږی یا دهسپتال په نوروا اخراجاتو کښې مثلاً په وارډونو کښې صابون، تولیه، کاغذ وغیره کښې استعمالیږی او ددې ډېر فیس یوه وجه داهم ده چه فیشن دپاره چیک کونکی مریضان بندشی اوغیر مستحق مریضان دزکوة دوایانو اخستلو نه لری پاتې شی آیا دا طریقه اختیارول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: ډاکټرمحمدنعیم چلډرن سپیشلسټ
سول هسپتال هری پور ۱۹۹۰ء|۱۱|۲۰

الجواب: ته د زکوة په رقم دوایانې اخله او مریضانو ته ئې ورکوه (۱) چه هغوی ئې باقاعده استعمالوی (۲) یا دزکوة په رقم سره دوایانې واخله په هغوئ ئې استعمال کړه اودپرچی والافیس کمې زیاتې یا ملازم ته ورکول اونه ورکول ستا په صوابدید باندې موقوف دی دا زکوة ته نقصان نه ورکوی.وهوالموفق

د مړی وارثانو او مصیبت زده خلقو دپاره دزکوة وغیره فنډ حکم

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څۀ فرمائی چه یوې محلې والا یا نهه لس خاندانو نه ملاؤشی دیو بل په مصیبت او مړی باندې مشترکه رقم خرچ کوی هغه رقم دزکوة، صدقاتو، خیرات، نذر او منختو او عام امدادی فنډ وی په دې مداتو کښې دکوم کوم مد رقم په دغه طریقه کار کښې استعمالیدلې شی او نګران او خزانچی دپاره دکومو کومو خبرو خیال ساتل پکار دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم........ ۱۹۶۹ء|۵|۶

﴿۱﴾قال العلامة الحصکفی: وجاز دفع القیمة فی زکاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وکفارة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۴ باب زکاة الغنم)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

الجواب: دمیت وارثان یا مصیبت زپلي کسان که مسکینان او فقیران وی نو ددي ټولو مداتو نه دهغوئ امداد کول جائز دی که نقدوی او که جنس وی چه بطور تملیك وی﴿۱﴾ او که داخلق مسکینان نه وی نو ددوی په زکوة، نذر او نور واجب مداتو سره امداد نشي کیدلي (۲) نور مدات مثلاً امدادی فنډ وغیره ورکول جائز دی په داسي کمیټو کښي دیو عالم دین دمشوری نه پس څۀ عمل او اقدام کول انتهائی ضروري دی وهوالموفق

د زکوة مال بل ځائی ته انتقال او په مال د زکوة سره دوایانې اخستل اود ورکولو حکم

سوال: علمائی دین دي مسئلي باره کښي څۀ فرمائی چه آیا مال د زکوة یوځائي نه بل ځائی ته انتقال جائز دي یانه؟ او په مال د زکوة سره دوایانې اخستل او ورکول جائز دی یانه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم...... ۱۹۷۶ء|۱|۲۱

الجواب: (۱) بهتره داده چه کوم ځائی مال وی دهغي زکوة دی هلته خرچ کریشي (کما فی الهندیة ۱: ۲۰۲) ﴿۳﴾ (۲) په زکوة کښي قیمت ورکول جائز دی کما صرحوا به ﴿۴﴾

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: مصرف الزکاة والعشر واما خمس المعدن فمصرفه کالغنائم هو فقیر وهو من له ادنی شیئ ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة...... ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لااباحة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۴: ۶۸ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ولا الی غنی یملک قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلیة.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۷۰ باب المصرف)

﴿۳﴾ وفی الهندیة: ثم المعتبر فی الزکاة مکان المال حتی لو کان هو فی بلد وماله فی بلد آخر یفرق فی موضع المال. (فتاوی عالمگیریه ۱: ۱۹۰ الباب السابع فی المصارف)

﴿۴﴾ قال العلامة الحصکفی: وجاز دفع القیمة فی ...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

نو لهذا په زکوة کښې دوائی بطور تملیك ورکول جائز دی ﴿۱﴾ وهوالموفق

د جمات په تعمیر کښې زکوة ورکولو سره ذمه نه فارغیږی

سوال: علمائی دین دې مسئلې باره کښې څه فرمائی چه دجمات په تعمیر باندې زکوة خرچ کول جائز دی یانه؟ ځکه چه قوم غریب دی؟ بینوا توجروا
المستفتی: مولوی نصرالله جان شریف آباد گړهی کپوره مردان ۱۹۷۹ء|۱۱|۱۶

الجواب: دجمات په تعمیر باندې زکوة خرچ کولو سره دزکوة والا (مزکی) ذمه نه فارغیږی لعدم التملیك والتملك ﴿۲﴾ او خلاف سنت حیله کولو نه موافق سنت خاکی (خاورین کچه) جمات جوړول په دوارو جهانو کښې افضل دې. وهوالموفق

(بقیه حاشیه) زکاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وکفارة غیر الاعتاق.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۲۴ باب زکاة الغنم)

﴿۱﴾ قال العلامة الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکاً لا اباحة.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

﴿۲﴾ قال العلامة الحصکفی: ویشترط ان یکون الصرف تملیکاً لااباحة کما مر لا یصرف الی بناء نحو مسجد ولاالی کفن میت وقضاء دینه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۸ باب المصرف)

مسائل شتی

ددې عنوان لاندې هغه مسائل راجمع کړې شوی دی کوم چه به حضرت مفتی صاحب دامت برکاتهم لیکل او په سه ماهی الفرید کښې به شاملیدلې، د سه ماهی الفرید جلد: ۲ شماره: ۱ نه جلد: ۲ شماره: ۴ پورې مسائل راجمع کړې شو او د مسائل شتی عنوان سره دې فتاوٰی کښې شامل کړې شوې. (ازمرتب)

د مسافر په مقیم امام پسې د مونځ د فساد په وجه د رکعاتو د اعادې مسئله

سوال: که مقیم امام پسې مسافرمقتدی اقتداء اوکړی او د مونځ په دوران کښې مونځ فاسد شی نو دا مسافربه څومره رکعته اعاده کوی؟

الجواب: دا مسافربه د اقتداء د فساد په وجه دوه رکعته اعاده کوی،

کما فی الشرح الکبیر ص: ۵۴۲ اما لو افسد صلاته بعد ما اقتدیٰ بالمقیم فی الوقت فانه یصلی رکعتین لزوال الاقتداء﴿۱﴾.

صدقة الفطر په دوه مسکینانو باندې تقسیمول جائز دی

سوال: آیا صدقة الفطر دوه مسکینانو باندې تقسیمول جائزدی؟

الجواب: جائزدی.

کما فی شرح التنویر علی ردالمحتار ص: ۳٦٧ جاز دفع

﴿۱﴾ (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۰۰ فصل فی صلاة المسافر)

کل شخص فطرته الی مسکین او مسکینین﴿۱﴾ وکذا فی البحر ص: ۲۵۶ ﴿۲﴾.

د موجوده کرنسۍ په اعتبار سره د مهر فاطمی مقدار

سوال: د مهر فاطمی مقدار څومره دې ؟

الجواب: مهر د بی بی فاطمې دولس نیم اوقیه دې (ابوداؤد) ﴿۳﴾ چه دا یوسل یودیرش توله او درې ماشې سپین زردی.﴿۴﴾ او شپږشلې روپۍ فی توله حساب سره پنځلس زره اووه سوه او پنځوس روپۍ تقریبًا جوړیږی.

﴿۱﴾(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۸۵ باب صدقة الفطر)

﴿۲﴾قال العلامة ابن نجيم: قال فی الفتاویٰ الظهيرية ولا يكره التاخير ولم يتعرض فی الكتاب لجواز تفريق صدقة شخص علی مساكين وظاهر مافی التبيين وفتح القدير ان المذهب المنع وان القائل بالجواز انما هو الكرخی وصرح الولوالجی وقاضی خان وصاحب المحيط والبدائع بالجواز من غير ذكر خلاف فكان هو المذهب كجواز تفريق الزكاة واما الحديث المأمور فيه بالاغنياء فيفيد الاولوية وقد نقل فی التبيين الجواز من غير ذكر خلاف.

(البحر الرائق ۲:۲۵۶ قبيل كتاب الصوم)

﴿۳﴾عن ابی سلمة قال سألت عائشة عن صداق رسول الله ﷺ فقالت ثنتا عشرة اوقية ونش فقلت وما نش قالت نصف اوقية. (سنن ابی داؤد ۱:۲۹۴ باب الصداق) وعن ابی سلمة بن عبد الرحمن رضی الله عنه انه قال سألت عائشة رضی الله عنها: كم كان صداق رسول الله ﷺ؟ قالت كان صداقه لا زواجه اثنتی عشرة اوقية ونشأ، قالت: اتدری ما النش؟ قال: قلت: لا، قالت: نصف اوقية، فتلک خمس مأة درهم، فهذا صداق رسول الله ﷺ لازواجه. (الصحيح لمسلم ۱:۴۵۸ باب الصداق كتاب النكاح)

(۴) حضور ﷺ خپلې لور سیدة النساء فاطمة الزهرا رضی الله عنها له کوم مهر مقرر کړې وو هغې ته مهرفاطمی وائی د عهدرسالت د اوزانو مطابق دا دولس نیم اوقیه سپین زرو باندې شوې وو.....

[بقیه حاشیه په راروانه صفحه]

په شریکینو کښې یوته میراث یا هدیه او هبې سره ملاؤ شوی رقم کښې به دویم کس شریک نه وی

سوال: زید او عمرو دواړه شریك وو، اچانك زید ته په میراث کښې څه مال ملاؤ شو یا سلطانی جائزه یا هبه یا هدیه سره څه مالونه ملاؤ شو. اوس به دا مالونه صرف د زید وی یا په دې کښې به عمرو هم شریك وی؟

الجواب: دا مالونه به صرف د زید وی په دې کښې به دواړه شریك نه وی.

کما فی المبسوط ص: ۱۸۹ جلد ۱۱ ﴿۱﴾ ولا یشارک احدهما صاحبه فیما یرث من میراث ولا جائزة یجیزها السلطان له او هبة او هدیة﴿۲﴾.

[بقیه حاشیه] ....اویو اوقیه د څلویښتو درهمو برابروی دغسې دولس نیم اوقیه پنځه سوه درهم شو، یو اوقیه ۵، ۱۰ توله وی نو دولس نیم اوقیه د ۲۵، ۱۳۱ تولو برابرشو، یعنی یوسل یودیرش تولې او درې ماشه. اوس پنجابی توله ۶۶۴، ۱۱ گرام وی، نو په دې حساب سره مهرفاطمی تقریباً ۵۳۱ گرام سپین زرجوړیږی. او زمونږ سرحدی توله چه دا ۱۵، ۱۲ گرام وی. په دې حساب سره تقریباً ۵۹۵ گرام سپین زر جوړیږی او دا احوط دی. ددې نه علاوه په مهرفاطمی کښې نوراقوال هم شته، دمولانا مفتی محمود حسن صاحب گنگوهی د تحقیق مطابق مهرفاطمی ۴۰۰ مثقال چه دا یونیم سل توله سپینو زرو برابردی. (ماهنامه نظام جولائی ۱۹۲۵ء) داقول د مولانا سید احمد رضا بجنوری هم دې (انوارالباری شرح بخاری ۴: ۷۱) اود بعضې محققینو په نزد د (۱۴۰) توله سپینو زرو برابردې (نظام الفتاوی ۲: ۲۰۸) اود ۱۳۱ توله درې ماشې قول دحضرت مفتی عزیزالرحمن دیوبندی رحمه الله اود مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله دې اوهم دا زمونږ په نزد ماخوذ به دې پس دومره سپین زرچه زمونږ په زمانه کښې په څومره کاغذی روپو کښې ملاویږی دغومره روپئ به په مهرفاطمی کښې ورکولې شی..... (ازمرتب)

﴿۱﴾ (المبسوط للسرخسی ۱۱: ۱۸۹ باب خصومة المفاوضین فیما بینهما)

﴿۲﴾ وفی الهندیة: ولا یشارکه فیما یرث من میراث ولا جائزة یجیزها السلطان ولا الهبة ولا الصدقة کذا فی فتاویٰ قاضی خان ولا الهدیة هکذا فی المبسوط.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲: ۳۰۹ الفصل الثانی فی احکام المفاوضة)

په قرض مؤجل باندې مصالحت کولوسره د معجل په صورت کښې دکم رقم اخستلو مسئله

سوال: دزید په عمر باندې زر روپئ قرض مؤجل وې.زید په دې باندې مصالحت اوکړو چه عمرو دې ماته پنځه سوه روپئ فی الحال راکړی نوعمرو به بری شی.آیا دا مصالحت جائزدې؟

الجواب: دا مصالحت دامام ابویوسف رحمه الله د قول مطابق جائزدې.

کما فی تکملة ردالمحتار ص۱۷۹ جلد۲ ذکر فی شرح الکافی للاسبیجابی جواز هذا الصلح مطلقا علی قیاس قول ابی یوسف لانه احسان من المدیون فی القضاء بالتعجیل واحسان من صاحب الدین فی الاقتضاء بحط بعض حقه﴿۱﴾.

د تعلیقی طلاق یو صورت او د هغې نه د خلاصی طریقه

سوال: که څوې خپل پلار ته اووائی چه که زه ستا کورته راغلم نوپه ما به خپله ښځه په درې طلاقو طلاقه وی.نودې نه به د خلاصی لارڅه وی؟

الجواب: که پلار دا کورخرڅ کړی نوځوې دې کورته داخلیدې شی.

کما فی الهندیة ص ۷۱ جلد۲ لو حلف لا یدخل دار فلان هذه فباع فلان الدار فدخل الحالف لا یحنث عند ابی حنیفة وابی یوسف﴿۲﴾.

﴿۱﴾(تکملة ردالمحتار ۲: ۱۹۹ فصل فی دعوی الدین)

﴿۲﴾(فتاویٰ عالمگیریة ۲: ۷۱ الباب الثالث فی الیمین علی الدخول)

قال ابن عابدین: وفی الخانیة حلف لا یدخل دار زید ثم حلف لا یدخل دار عمر وفباعها زید من عمرو وسلمها الیه فدخلها الحالف حنث فی الیمین الثانیة عنده لان عنده المستحدث بعد الیمین یدخل فیها لو مات مالک الدار فدخل لا یحنث لانتقالها للورثة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۹۱ مطلب لا یدخل دار فلان کتاب الایمان)

طلاق، طلاق، طلاق، د مور خور.. ونيلو حكم

سوال: كه يو سړي خپلې ښځې ته اووائی: طلاق طلاق طلاق مورې خورې.. په دې سره طلاق واقع كيږی او كه نه؟

الجواب: په طلاق، طلاق، طلاق.. كښې حكم (دې) يا (نه دې) نه دې ذكرشوې، په دې وجه دې سره طلاق واقع كيدل بې قاعدې امردې اوكه په عرف كښې حكم (دې) مرادوی نودا معلومه نه ده چه د تكرار نه تاكيد مراددې اوكه استئناف اوتكثير. نود تكرار په تقدير باندې به يوطلاق رجعی واقع كيږی اود تكثير په تقدير باندې درې طلاقه واقع كيږی، او ښځې ته مور يا خور وئيلوسره طلاق نه واقع كيږی.

كما فی ردالمحتار ۳: ۴۷۰ او حذف الكاف لغابان قال انت امی﴿۱﴾.

ښځه خپل خاوند ته يا خپل ځان ته د طلاق وركولو مسئله

سوال: ښځه خپل خاوند ته طلاق وركولې شی او كه نه؟ اوخپل ځان ته طلاق وركولې شی يا نه؟

الجواب: دطلاق اختيارمند صرف خاوند دې:

لحديث ابن ماجة والدارقطنی، الطلاق لمن اخذ بالساق﴿۲﴾

البته كه خاوند ښځې ته د طلاق وركولو اختياروركړی نوخپل ځان ته طلاق وركولې شی.﴿۳﴾

﴿۱﴾قال ابن عابدين: قوله: او حذف الكاف لغا: بان قل انت امی ومن بعض الظن جعله من باب زيد اسد درمنتقی عن القهستانی قلت ويدل عليه ماذكره عن الفتح من انه لا بد من التصريح بالاداة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۲۶ باب الظهار)

﴿۲﴾عن ابن عباس قال اتی النبی ﷺ رجل فقال يا رسول الله سيدی زوجنی امته وهو يريد ان يفرق بينی وبينها قال فصعد رسول الله ﷺ المنبرفقال يا ايها الناس ما بال احدكم يزوج عبده امته ثم يريد ان يفرق بينهما انما الطلاق لمن اخذ بالساق.

(سنن ابن ماجة ۱: ۱۵۲ باب طلاق العبد)

﴿۳﴾ قال الحصكفی: قال لها اختاری او امرک بيدک...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د طلاق په نیت سره ښځې ته مور، خور یا ترور ونیل

سوال: که خاوند ښځې ته د طلاق په ارادې سره مور، خور، یا ترور اووائی نودا طلاق واقع کیږی یا نه؟

الجواب: دا الفاظ ښځې ته وئیل مکروه دی لیکن طلاق پرې نه واقع کیږی وفی ردالمحتار ۳: ۴۷۰ وینبغی ان یکون مکروها﴿۱﴾.

ښځې سره لواطت د حرمت مصاهرت موجب نه دې

سوال: ښځې سره لواطت د حرمت مصاهرت موجب دې یا نه؟

الجواب: دا د حرمت مصاهرت موجب نه دې.

وكذا لو وطى فی دبرها لا تثبت به الحرمة كذا فی التبيين ، هنديه ۱: ۲۷۵﴿۲﴾.

(بقیه حاشیه) ینوی تفويض الطلاق او طلقی نفسک فلها ان تطلق، قال ابن عابدين: قوله او طلقی نفسک، هذا تفويض بالصريح ولا يحتاج الى نية والواقع به رجعی وتصح فيه نية الثلاث. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۱۵ باب تفويض الطلاق)

﴿۱﴾ قال ابن عابدين: (قوله يكره) جزم بالكراهة تبعا للبحر والنهر والذی فی الفتح وفی انت امی لا يكون مظاهراً وينبغی ان يكون مكروها فقد صرحوا بان قوله لزوجته يا اخية مكروه وفيه حديث رواه ابوداؤد ان رسول الله ﷺ سمع رجلا يقول لامرأته يا اخية فكره ذلک ونهی عنه ومعنی النهی قربه من لفظ التشبيه ولو لاهذا الحديث لامكن ان يقال هو ظهار لان التشبيه فی انت امی اقویٰ منه مع ذكر الاداة ولفظ يا اخية استعارة بلاشک وهی مبنية على التشبيه لكن الحديث افاد كونه ليس ظهاراً حيث لم يبين فيه حكما سوى الكراهة والنهی فعلم انه لا بد فی كونه ظهارا من التصريح باداة التشبيه شرعا ومثله ان يقول لها يا بنتی او يا اختی ونحوه. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۲۲ باب الظهار)

﴿۲﴾ (فتاویٰ عالمگيرية ۱: ۲۷۵ الباب الثالث القسم الثانی المحرمات بالصهرية)

خيني سره زنا کولوسره ښځه نه حراميږي

سوال: د خپلې ښځې خورسره زنا کولوسره ښځه حراميږي يا نه؟

الجواب: خپله ښځه نه حراميږي.

كما في محرمات الدر المختار ۲۳ وطئ اخت امرئته لا تحرم عليه امرئته﴿۱﴾.

بغير لاسونو او خپو والا او په خوله باندې د زخمي سړي د مونځ حکم

مسئله: دکوم سړي لاسونه او خپې چه پريکړې شوي وي اوپه خوله باندې ئې زخم وي نو داسې سړې به بغير اودسه او بغيرتيمم مونځ کوي اود مونځ اعاده به نه کوي.(هنديه ۱ : ۳۱ هذا اصح ظهيرية) ﴿۲﴾

د فاقد الطهورين قيدي د مونځ حکم

مسئله: کوم قيدي ته چه اوبه او پاکه خاوره ملاؤ نه شي نود طرفينو په نزد به مونځ نه کوي.(هنديه ۱ : ۱۳) ﴿۳﴾

﴿۱﴾ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲: ۳۰۵ فصل في المحرمات) (وهكذا في خلاصة الفتاویٰ ۲: ۱۷ الفصل الثاني فيمن يكون محلا للنكاح)

﴿۲﴾وفي الهندية: قال الشيخ الامام محمد بن الفضل رحمه الله رأيت في الجامع الصغير للكرخي ان مقطوع اليدين والرجلين اذا كان بوجهه جراحة يصلي بغير طهارة ولا تيمم ولا يعيد وهذا هو الاصح كذا في الظهيرية. (فتاویٰ عالمگيرية ۱ : ۳۱ الفصل الثالث في المتفرقات)

﴿۳﴾ وفي الهندية: ولو ان المحبوس لم يجد ماء ولا ترابا نظيفا لا يصلي في قول ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالیٰ كذا في فتاویٰ قاضي خان، وهذا اذا لم يمكنه ان ينقر الارض اوالحائط بشيئ فان امكنه يستخرج التراب ويتيمم كذا في الخلاصة.

(فتاویٰ عالمگيرية ۱ : ۳۱ الفصل الثالث في المتفرقات)

د اودس په وجه د سلس البول مرض جاري کیدونکې سړي به تیمم کوي

مسئله: یو سړي چه کله اودس کوی نو د سلس البول بیماری ئې شروع کیږی لیکن د تیمم په صورت کښې صحیح وی نو داسې سړي به په تیمم سره مونځ کوي.(سراج وهاج) (۱)

د نکاح فاسد په صورت کښې مطلقه مغلظه سره دوباره نکاح بغیرتحلیل جائزده

مسئله: کله چه نکاح فاسد اوکړی او دغې منکوحې ته طلاق ثلاثه ورکړی نو هغې سره دوباره نکاح بغیر دتحلیل نه جائزده.(هندیه ۱: ۴۷۴) (۲)

په قراءت کښې فحش غلطی کونکې که دوباره صحیح اووائی نو مونځ صحیح دې

مسئله: کوم سړي چه د مونځ په قراءت کښې فحش غلطي اوکړی او دوباره ئې صحیح اووائی نو دهغه مونځ صحیح دې.(هندیه ۱: ۸۲) (۳)

د حرام گټې والا سړی د خوراک په دعوت کښې شرکت

سوال: یو تبلیغی سړي د بینك منیجر سره میلمه شو او منیجر ددغه میلمه

---

(۱) قال العلامة النظام: وفی الایضاح اذا کان لو توضأ سلس بوله وان تیمم لا یسلس جاز له التیمم کذا فی السراج الوهاج. (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۳۱ الفصل الثالث فی المتفرقات)

(۲) وفی الهندیة: ولو تزوج امرأة نکاحاً فاسداً وطلقها ثلاثا جاز له ان یتزوجها ولو لم تنکح زوجاً غیره کذا فی السراج الوهاج.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۴۷۴ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

(۳) وفی الهندیة: ذکر فی الفوائد لو قرأ فی الصلاة بخطاء فاحش ثم رجع وقرأ صحیحا قال عندی صلاته جائزة وکذلک الاعراب الخ.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۸۲ قبیل الباب الخامس فی الامامة)

دپاره د بازار نه طعام او خوراك راوړلو او په تبليغی باندې ئې اوخوړلو. آيا تبليغی دپاره دا خوراك جائز دې؟

الجواب: فقهائې كرامو د امام كرخی په قول باندې د جواز فتوٰی وركړې ده:

كما فی ردالمحتار (٥:٢٣٥) قوله اكتسب حراماً، توضيح المسئلة ما فی التتارخانية حيث قال رجل اكتسب مالاً من حرام ثم اشترىٰ فهذا على خمسة اوجه اما ان دفع تلك الدراهم الى البائع اولاً ثم اشترى منه بها او اشترى قبل الدفع بها ودفعها، او اشترىٰ قبل الدفع بها ودفع غيرها او اشترى مطلقاً ودفع تلك الدراهم او اشترى بدراهم آخر ودفع تلك الدراهم وقال الكرخی فی الوجه الاول والثانی لا يطيب وفی الثلاث الاخيرة يطيب وقال ابوبكر لا يطيب فی الكل لكن الفتوىٰ الآن على قول الكرخی دفعاً للحرج على الناس وههنا تحقق الشق الرابع﴿١﴾.

د فصل نه د عشر جداكيدو نه بغير دهغې د خوړلو حكم

مسئله: دكومې غلې اوفصل نه چه عُشر نه وی وركړې شوې دهغې نه به خوراك نه خوړلې كيږی اوكله چه عُشر د غلې نه جدا كړې شی نود باقی غلې نه خوراك كولې شی. (عالمگيری وغيره) ﴿٢﴾

﴿١﴾(ردالمحتار هامش الدرالمختار ٢٤٤:٤ مطلب اذا اكتسب حراما ثم اشترىٰ فهو على خمسة اوجه باب المتفرقات)

﴿٢﴾وفی الهندية: ولا ياكل شيأ من طعام العشر حتى يؤدى عشره كذافی الظهيرية وان افرز العشر يحل له اكل الباقی وقال ابوحنيفة رحمه الله تعالىٰ ما اكل من الثمرة اواطعم غيره ضمن عشره كذافی محيط السرخسی فی باب ما يحتسب لصاحب الارض.

(فتاوىٰ عالمگيرية ١٨٧:١ قبيل الباب السابع فی المصارف)

د پیداوار نه د عشر ورکولوپه وخت د کرایه مزدورئ څوکیدارئ وغیره د رقم حکم

مسئله: عشربه دټول پیداوار نه ورکولې شي مزدوری، څوکیداری، کرایه او تخم وغیره به د عشر نه نشي جدا کولې بلکه د ټولو نه اول به عشر ورکولې شي.﴿۱﴾

د اجارې په صورت کښې د عشر مسئله

مسئله: د اجارې په صورت کښې عشر په مستاجر (زمیندار) باندې دې په مؤجر (د زمکې په مالک) باندې نه دې، او دا مفتی به قول دې. (رد المحتار)﴿۲﴾

﴿۱﴾وفی الهندية: ولا تحسب اجرة العمال ونفقة البقر وكرى الانهار واجرة الحافظ وغيرذلك فيجب اخراج الواجب من جميع ما اخرجته الارض عشراً. (فتاویٰ عالمگیرية ۱:۱۸۷ زكاة الزروع والثمار)...... وقال العلامة ابن عابدين: بلا رفع مؤن اى كلف الزرع وبلا اخراج البذر لتصريحهم بالعشر فى كل خارج.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۵۶ باب العشر)

وقال المرغينانى: وكل شيئ اخرجته الارض مما فيه العشر لا يحتسب فيه اجر العمال ونفقة البقر، قال ابن الهمام: وكرى الانهار واجرة الحارس وغير ذلك يعنى لا يقال بعدم وجوب العشر فى قدر الخارج الذى بمقابلة المؤنة بل يجب العشر فى الكل.

(هداية مع فتح القدير ۲:۱۹۴ باب زكاة الزروع والثمار)

﴿۲﴾ قال الحصكفى: والعشر على الموجر...... وقالا على المستاجر...... وفى الحاوى وبقولهما نأخذ. وقال ابن عابدين: قلت لكن فى زماننا عامة الاوقاف من القرىٰ والمزارع لرضا المستأجر بتحمل غراماتها ومؤنها يستأجرها بدون اجر المثل بحيث لا تفى الاجرة ولا اضعافها بالعشر او خراج المقاسمة فلا ينبغى العدول عن الافتاء بقولهما فى ذلك لانهم فى زماننا يقدرون اجرة المثل بناء على ان الاجرة سالمة لجهة...... (بقيه حاشيه په راروانه صفحه)

د مزارعت په صورت کښې د عشر مسئله

مسئله: د مزارعت په صورت کښې به مالك او مزارع هريو د خپلې خپلې حصې نه عشر اداكوی كله چه تخم د مزارع د طرفه وی (الدرالمختار) (۱)

د عاریت په صورت کښې د عشر مسئله

مسئله: مسلمان ته د عاریت په صورت کښې به عشر په مستعیرباندې وی (۲)

(بقیه حاشیه) الوقف ولا شیئ علیه من عشر وغیره اما لو اعتبر دفع العشر من جهة الوقف وان المستأجر لیس علیه سوی الاجرة فان اجرة المثل تزید اضعافا کثیرة کما لا یخفیٰ فان امکن اخذالاجرة کاملة یفتی بقول الامام والافبقولهما یلزم علیه من الضرر الواضح الذی لا یقول به احد. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۶۰ مطلب هل یجب العشر علی الزارعین فی الاراضی السلطانیة)

(۱) قال الحصکفی: وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة، قال ابن عابدین: ولو دفع الارض العشریة مزارعة ان البذر من قبل العامل فعلی رب الارض فی قیاس قوله لفسادها وقالا فی الزرع لصحتها وقد اشتهر ان الفتویٰ علی الصحة وان من قبل رب الارض کان علیه اجماعاً...... وفی البدائع من ان المزارعة جائزة عندهما والعشر یجب فی الخارج والخارج بینهما فیجب العشر علیهما. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱: ۶۱ مطلب هل یجب العشر علی المزارعین فی الاراضی السلطانیة)

(۲) قال الحصکفی: وقالا (العشر) علی المستأجر کمستعیر مسلم، قال ابن عابدین: واوجبه زفر علی المعیر لانه لما اقام المستعیر مقامه لزمه کالمؤجر قلنا حصل للمؤجر الاجر الذی هو کالخارج معنی بخلاف المعیر وقید بالمسلم لانه لو استعارها ذمی فالعشر علی المعیر اتفاقا لتفویته حق الفقراء بالاعارة من الکافر کذا فی شرح درر البحار ای لکونه لیس اهلا للعشر لکن فی البدائع لو استعارها کافر فعندهما...... (بقیه حاشیه په راروانه صفحه)

د فصل د خرخولو په صورت کښې د عشر مسئله

مسئله: که فصل د پوخوالی په صورت کښې خرڅ کړې نو عشر به په بائع باندې وی او که د پوخوالی نه مخکښې ئې خرڅ کړی نو عشر به په مشتری باندې وی.(الدرالمختار) ﴿۱﴾

د اهل حرب د پاره معاون او جاسوسی کونکی منافق مسلمانانو حکم

سوال: که منافق مسلمان د مال دولت حاصلولو دپاره داهل علم او اهل اسلام په خلاف کافرانو دپاره جاسوسی کوی او اهل اسلام ته ضرر او نقصان رسولو باندې راضی وی نو دهغوی څه حکم دې؟

الجواب: دا د اهل حرب په حکم کښې دې او مباح الدم او مباح الاموال دې.(کما فی فتاوٰی الکاملیة ۶۵۱_ ﴿۲﴾

(بقیه حاشیه) العشر علیه وعن الامام روایتان فی روایة کذلک وفی روایة علی المالک. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۷۰ مطلب هل یجب العشر علی الزارعین فی الاراضی الخ)

﴿۱﴾ قال الحصکفی: ولو باع الزرع ان قبل ادراکه فالعشر علی المشتری ولو بعده فعلی البائع. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۰ ملطب هل یجب العشر علی الزارعین الخ)

﴿۲﴾ قال الشیخ محمد کامل ابن مصطفی: فی فتح الثغر الوهر انی لمادعی الناس سلطان الجزائر الی جهاد الکفار الذین استولوا علی ثغر وهران جاؤا الیه من کل فج عمیق وکان هذا غیر حال القبائل العامریة واما بنو عامر فانهم کانوا فی ذلک علی فرق منهم من لجأ لحصون العدو مدافعا عن نفسه ومعیناً للعدو بسیفه وفلسه فکانوا یقاتلون المسلمین مع عدوهم ویدفعون عنه ویغزون علی الحجلة المنصورة بالله تعالیٰ حتی انهم کانوا علی المسلمین اشد ضرراً من الکافرین وهکذا کان بعض القبائل، والظاهر ان حکم هؤلاء حکم اهل دارالحرب فی قتلهم واخذ مالهم واما اولادهم فلا یقتلون ولا یکونون فیئا وانما ابیح قتل البالغین منهم لکونهم ردا للعدو الحرب ومعینون له بانفسهم. (الفتاویٰ الکاملیة فی الحوادث الطرابلسیة ۲۵۱ کتاب الجنایات)

جهاد مقدس عبادت او انسداد فساد دي

سوال: کفارحکمرانان او ددوی د اثرلاندې حکمرانان جهاد ته دهشت گردی وائی آیا دا صحیح ده؟

الجواب: جهاد یو مقدس عبادت دې دا د فساد بندولو دپاره اکسیر (مجرب) دې.بخلاف الکفار چه دوی د فساد په خورلو کښې مبتلادی.(۱)

﴿۱﴾قال الامام ولی الله الدهلوی: اعلم ان اتم الشرائع واکمل النوامیس هو الشرع الذی یؤمر فیه بالجهاد وذلک لان تکلیف الله عباده بما امر ونهی مثله کمثل رجل مرض عبیده فامر رجلا من خاصته ان یسقیهم دواءً، فلو انه قهرهم علی شرب الدواء وأوجره فی افواههم لکان حقا لکن الرحمة اقتضت ان یبین لهم فوائد الدواء یشربوه علی رغبة فیه، وان یخلط معه العسل لیتعاضد فیه الرغبة الطبیعیة والعقلیة ثم ان کثیراً من الناس یغلب علیهم الشهوات الدنیة والاخلاق السبعیة ووساوس الشیطان فی حب الریاسات ویلصق بقلوبهم رسوم آبائهم فلا یسمعون تلک الفوائد ولا یذعنون لما یأمربه النبی ﷺ ولا یتاملون فی حسنه فلیست الرحمة فی حق اولئک ان یقتصر علی اثبات الحجة علیهم بل الرحمة فی حقهم ان یقهروا لیدخل الایمان علیهم علی رغم انفهم بمنزلة ایجاد الدواء المر ولا قهر الا بقتل من له منهم نکایة شدیدة وتمنع قوی او تفریق منعتهم وسلب اموالهم حتی یصیروا لا یقدرون علی شیئ...... فالرحمة التامة الکاملة بالنسبة الی البشر ان یهدیهم الله الی الاحسان وان یکبح ظالمهم عن الظلم وان یصلح ارتفاقاتهم وتدبیر منزلهم وسیاسة مدینتهم ، فالمدن الفاسدة التی یغلب علیها نفوس سبعیة ویکون لهم تمنع شدید انما هو بمنزلة الاکلة (هو مرض معروف) فی بدن الانسان لا یصح الانسان الا بقطعه، والذی یتوجه الی اصلاح مزاجه واقامة طبیعته لا بد له من القطع والشر القلیل اذا کان مفضیا الی الخیر الکثیر واجب فعله. (حجة الله البالغة ۲ :۱۷۰ مبحث الجهاد)

البشرى لأرباب الفتوى

تالیف

الشيخ العلامة الكبير والمحدث الشهير المفتى الاعظم

العارف بالله مولانا مفتى **محمد فريد** المجددى النقشبندى الزروبوى

ومعه

موجز عن الإجتهاد والتقليد والأئمه الأعلام

☆

منظومة عقود رسم المفتى للعلامة ابن عابدين الشامى

تحقیق وترتیب وترجمہ

مفتی محمد وہاب منگلوری

دارالافتاء دارالعلوم صدیقیہ زروبی (صوابی)

الفريد اكادمى دارلعلوم صديقيه زروبى ضلع صوابى

عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ
اِنَّ اَوْلَی النَّاسِ بِیْ یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ اَکْثَرُھُمْ عَلَیَّ صَلٰوۃً (رواہ الترمذی)

اَوْرَادُ الْفَرِیْد

مجموعۂ دلائل الخیرات، حزب البحر، قصیدہ بردہ اور مناجات مقبول

حسب الارشاد

فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ شیخ الحدیث حضرت مولانا مفتی محمد فرید زروبوی رحمۃ اللہ علیہ

ترتیب
مولانا محمد رقیب محمدی دیوبندی
مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

باہتمام
حضرت مولانا خواجہ حافظ حسین احمد صدیقی
نقشبندی جانشین حضرت مولانا مفتی محمد فرید رحمۃ اللہ علیہ

الفرید اکیڈمی دار العلوم صدیقیہ زروبی صوابی

﴿ أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴾

تجلیاتِ فریدی

محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ

حضرت مولانا **مفتی محمد فرید** صاحب زروبوی مجددی دامت برکاتہم

کے بعض احوال ومقامات، احکام ومعارف پر مشتمل نادر علمی مضامین اور افادات وملفوظات کا مجموعہ

مرتب

مولانا محمد رقیب مجددی دیوبندی

مدرس دار العلوم صدیقیہ زروبی

پیش لفظ

مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی

خانقاہِ فریدیہ زروبی

الفرید اکیڈمی دار العلوم صدیقیہ زروبی صوابی

جواب: دې ته په کار دي چې په ناستي لمونځ وکړي، ځکه قیام د یوشمېر عذرونو په وجه پرېښوولی سي او کله نه کله يې له عذره هم پرېښوولی سي لکه په نفلو کي او د عورت پټول د شرعي عذر څخه پرته بل هیڅ ځای کي يې پرېښوول جائز نه دئ.
نو په درېدلو کي د ستر عورت په نسبت اساني ده نو چې مقابله يې راسي د قدرت په اندازه د عورت پټولو ته ترجیح ورکول کیږي، لکه څنګه چې په فتاوی قینیه[٢٠] کي د زیادات او بزازیې څخه نقل سوی دئ.
سوال: یو زخمي دئ که په درېدو لمونځ کوي نو وینه ورڅخه بهیږي او که په ستوني ستغ پرېوځی نو بیا يې له زخم څخه وینه نه بهیږي آیا ده ته په ملاستي لمونځ کول روا دي؟
جواب: ده ته په کار دي چې په ولاړي لمونځ وکړي اګر که يې د زخم څخه وینه بهیږي ځکه په ولاړه لمونځ د ویني او یا زوو د بهېدو سره او په ستوني ستغ لمونځ د ضرورت او د عذر څخه پرته په عدم جواز او نه کېدو کي برابر دي.
نو بیا درېدل په کار دي تر څو په لمانځه کي یو رکن اعظم تر سره سي په خلاف د ناستي څخه ځکه په ناستي لمونځ کله بلاضرورت جایز دئ، نو که په ناستي يې زخم نه بهېدئ بیا په ناستي لمونځ ورته اولی دئ، لکه څنګه چې په شرح زیادات کي له عتابې څخه نقل سوی دئ.
سوال: یو شیخ فاني وي که درېږي قرائت نه سي لوستلای او که کښېني نو لوستلای يې سي آیا دی به په ولاړه لمونځ کوي او که په ناسته؟
جواب: په ناسته به د قرائت سره لمونځ کوي ځکه قیام کله د اختیار سره ساقط کیږي اما قرائت په هیڅ حال کي نه ساقطیږي دا جزئیه د هغه قاعدې یوه فرعه ده چې ویل سوي دي.
من ابتلي ببليتين يختارا هو نهما .الخ. څوک چې په دوو بلاوو اخته سي اسانه به ورڅخه غوره کوي، لکه څنګه چې په الاشباه والنظائر کي راغلي دي.[٢١]
او ددې قاعدې نور زیات فروع دي د مثال په ډول یو هغه دئ چې په کنز الدقایق[٢٢] کي راغلي دي چې که بربنډ سړی داسي یو جامه پیدا کړي چې څلورمه برخه يې پاکه او درې ربع يې مردار وي دی به په دغو جامو کي لمونځ کوي او بربنډ لمونځ يې روا نه دئ.

---

(٢٠) «قنية المنية» (ق ١٤/ب).
(٢١) «الأشباه» (ص ١٧٠).